د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نیټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نیټه یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه ړرباندې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني، تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ، ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.


## څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



## د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړیکو پتې:

۱) برېښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸٤٦۳٥۱)، (۰۰۹۲۳۱٦٥۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹٦۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹٦۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲٥٦٥٥۳۸)


Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَا وَسُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَـٰمَـٰنَ وَقَـٰرُونَ
فَقَالُوا۟ سَـٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ ٱقْتُلُوٓا۟ أَبْنَآءَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ وَٱسْتَحْيُوا۟ نِسَآءَهُمْ ۚ وَمَا كَيْدُ ٱلْكَـٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَـٰلٍ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ
فِرْعَوْنُ ذَرُونِىٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُۥٓ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ
فِى ٱلْأَرْضِ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّى عُذْتُ بِرَبِّى وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ
بِيَوْمِ ٱلْحِسَابِ ﴿٢٧﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَـٰنَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا
أَن يَقُولَ رَبِّىَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَـٰذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُۥ ۖ
وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ ٱلَّذِى يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ
﴿٢٨﴾ يَـٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ظَـٰهِرِينَ فِى ٱلْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ
قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ ﴾

[۲۳] او يقيناً مونږ موسی عليه السلام په خپلو معجزاتو او په ښکاره برهان سره لېږلی وه.

[۲۴] (البته) فرعون او هامان او (هم) قارون ته؛ نو دوی وويلې چې: دا (موسی عليه السلام) سخت دروغژن کوډګر دی.

[۲۵] نو کله چې موسی عليه السلام زمونږ د نزده فرعونيانو ته په حقه سره ورغی (چې خپل نبوت يې ورته په معجزاتو سره په اثبات ورساوه) نو هغوی وويلې چې: د هغو خلکو زامن ووژنئ کومو چې موسی عليه السلام سره ايمان راوړی دی، او ښځې (لورګانې) يې ژوندی پرېږدئ.

(ای پيغمبره!) د کفارو پټ تدبير نه دی مګر په ګمراهۍ کښې دی (مطلوبه نتيجه ورباندې نه مرتبېږي).

[۲۶] او فرعون وويلې چې: (ای د حکومت اراکينو!) ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او (زه ترې نه دارېږم) هغه دې خپل رب ﷻ راوبلي (چې زما څخه يې خلاص کړي)، يقيناً زه دارېږم چې موسی به ستاسو (سپېڅلی) دين (په باطل دين باندې) عوض کړي، او يا به په ځمکه کښې فساد ښکاره کړي (ستاسو دنياوي نظام به ګډ وډ کړي).

[۲۷] او موسی عليه السلام وويلې چې: (ای بني اسرائيلو!) يقيناً زه په خپل رب ﷻ او ستاسو په رب ﷻ سره (د فرعون په شمول) د هر متکبر (د شر) څخه پنا غوارم چې د حساب په ورځ ايمان نه راوړي، (نو تاسو هم زما غوندې پنا وغواړئ او وارخطا کېږئ مه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۸] او د فرعون د ټبر (قبطیانو) څخه یوه ایماندار سړي چې: خپل ایمان یې پټاوه (پټ مؤمن وه) وویلې چې:

(ای فرعونیانو!) ایا تاسو یو سړی فقط د همدې کبله وژنئ؛ چې هغه وایي چې یقیناً زما رب الله ﷻ دی (او بس)، حال دا چې همدغه سړي تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه (د خپلې خبرې په اثبات باندې) څرګند دلایل هم دروړي دي، او که دغه سړی (په خپله خبره کښې) دروغژن وي نو د ده د دروغو (ضرر) په همده باندې دی (چې ډېر به شرمنده شي)، او که ربښتینی وي نو ضرور به تاسو ته د هغه عذاب ځینې برخه ورسېږي (او پرې به هلاک شئ) د کوم چې ستاسو سره یې وعده کوي (او تاسو وربانډې ډاروي).

یقیناً الله ﷻ هغه چاته سمه (د نجات) لاره نه وربښايي کوم چې (د شرعي چوکاټ څخه) تجاوز کوونکی (او) سخت دروغژن وي.

[۲۹] ای زما قومه! نن ورځ پاچاهي تاسو ته په داسې حال کښې ده چې په ځمکه کښې څرګند یاست (هیڅوک درسره سیالي او مقابله نه شي کولی)، نو (دا راته ووایاست چې) زمونږ سره به د الله ﷻ د عذاب څخه څوک نصرت وکړي که مونږ ته همدا (ذکر شوی موعود) عذاب راشي؟ (ایا الله ﷻ هم ستاسو د مقابلې څخه عاجز دی؟).

(ای پیغمبره! په جواب کښې) فرعون وویلې چې: زه تاسو ته نه درلیده کوم (نه دربښیم) مګر هغه څه چې زه یې (ګټور) ونیم، او زه تاسو ته هدایت نه کوم مګر سمه (روغه) لار، (زما نصائح ستاسو په ګټه دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ او فرعونیانو قیصې ته اشاره شوې ده، او د وړاندېنیو ایتونو دمضمون دپاره پکښې یو ښه څرګند مثال نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د پخوانیو هلاکو شوو کفارو قومونو د جملې څخه په خپل اُمت باندې د فرعونیانو قیصه قرائت کړه چې د موسی ﷺ سره یې په څه ډول کړنلاره غوره کړه او عاقبت یې په څه تمام شو. هغه دا چې:

۱ـ یقیناً مونږ موسی ﷺ د معجزاتو او څرګند دلیل (منطق) سره یوه کافر قوم ته لېږلی وه، چې د هغوی په سر کښې فرعون، هامان او قارون واقع وه، همدغو درېواړو یې مشري کوله، که بالفرض دوی دعوت قبول کړی وی نو ټول خلک به په ایمان باندې مشرف شوي وی.

خو ذکرو شوو درېواړو د خپلو خانونو څخه اصالتاً او د نور قوم څخه کفالتاً د موسی ﷺ دعوت قبول نه کړ، چې دا جادوګر دی او په دروغو سره یې خپل ځان پیغمبر تراشلی دی چې د پیغمبر لقب یې ځان ته ورکړی دی.

۲ـ لنډه دا چې کله زمونږ د پلوه هغوی ته حق ورغی او موسی ﷺ ورته ابلاغ کړ او هم یې ورته په اثبات ورساوه، نو هغوی په داسې ډول رد کړ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره خپل قوم په جنګ اخته شي تاسو د دسیسي په هغوی ټولو وویلې: د دې چې د موسی ﷺ
توګه د هغو کسانو نارینه اولادونه ووژنئ کومو چې په موسی ﷺ باندې ایمان راوړی دی او د پیغمبر
په حیث یې منلی دی، او ښځینه اولادونه یې ژوندي پرېږدئ. اما پخپله موسی ﷺ ژوندی پرېږدئ
او هیڅ غرض ورباندې مه کوئ، چې اخر به ستړی (ستومانه) شي او د دعوت څخه به لاس واخلي.

۳_ ای پیغمبره! د کفارو دسیسه شنډه شوه او د مؤمنانو په ایمان باندې یې څه اثر ونه غورزاوه
چې اضطراب او بې اتفاقي پکښې رامنځته کړي، او دا څکه چې د کفارو ټولې دسیسې او پټ
تدبیرونه په ګمراهۍ او تباهۍ کښې دي، نتیجه نه ورکوي.

فرعون څه وویلې؟:

۴_ فرعون خپلو قومیانو ته وویلې چې: د هغوی د نارینه اولادونو په وژلو باندې مطلب لاس ته
نه راغي او د موسی ﷺ د شر څخه نه شو بچ کېدلی نو بهتر تدبیر دا دی چې:
تاسو ما پرېږدئ او اجازه راکړئ چې زه موسی ﷺ ووژنم او د فساد بېخ او بنیاد وباسم، تاسو د
موسی ﷺ د رب څخه مه ډارېږئ چې څه مصیبت به رانازل کړي او یا به موسی ﷺ ته د وژلو څخه
نجات ورکړي، د موسی ﷺ د رب مقابله فقط زما په غاړه ده.
ما څکه ذکر شوی تدبیر (وژل) خوښ کړ چې زه د دغو کارونو څخه ډارېږم:
الف: که موسی ﷺ ژوندی پاتې شي نو ستاسو دین به خراب کړي او په ګمراهۍ کښې به مو
وغورزوي. یا په بل عبارت ستاسو پلرنی حق دین به د منځه یوسي.
ب: او یا به په ځمکه کښې فساد او بې نظمي څرګنده کړي، چې موجوده ښکلی نظام به مو د
منځه لرې کړي او پخوانی یوسفي نظام به بېرته راژوندی کړي.

د موسی ﷺ جواب:

۵_ موسی ﷺ د ذکرو شوو دواړو تدبیرونو په مقابل کښې هغوی ته جواب ورکړ چې:
ای فراعنه وو! ستاسو ذکر شوي دواړه تدبیرونه د تکبر څخه استازیتوب کوي، او زه په الله ﷻ
سره _چې زما رب هم دی او ستاسو حقیقي رب هم دی_ ستاسو په شمول د هر هغه متکبر د
ضررونو څخه پنا غواړم چې د حساب کتاب (د قیامت) په ورځ ایمان او عقیده نه خپلوي او زما د
وژلو یا زما د قوم د وژلو پسې زیار باسي.
موسی ﷺ خپل قوم (بني اسرائیل) هم مخاطب کړه چې: زه خو په الله ﷻ سره د هر متکبر کافر
د شر څخه پنا غواړم، نو تاسو هم په الله ﷻ باندې (چې زما او ستاسو رب ﷻ دی) پنا وغواړئ او د
فرعونیانو په تهدیداتو سره وارخطا کېږئ مه.

د مؤمن سړي نصیحت:

۶_ د فرعونیانو د نظرونو په مقابل کښې هغه مؤمن سړي په نصیحت شروع وکړه کوم چې د فرعون
د مربوطینو څخه وه او هم یې ایمان راوړی وه خو د فرعونیانو څخه یې پټ کړی وه. هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای زما قومه! تاسو موسی ﷺ مه وژنئ خکه چې د مرګ او وژلو حق وربانديې نه لرئ او کوم جنایت یې نه دی کړی. ایا تاسو هغه سړی وژنئ کوم چې فقط همدومره وایي چې: زما رب فرعون نه بلکې زما رب الله ﷻ دی چې ټول عالمونه یې پیدا کړي؟ ایا تاسو ذکر شوی سړی وژنئ حال دا چې نوموړی تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه د معجزو سره راغلی دی او خپل نبوت یې درته په اثبات رسولی دی؟.

ب: ای زما قومه! دې ته څه اړتیا نشته چې نوموړی د نبوت مدعي تاسو ووژنئ، خکه چې که بالفرض نوموړی دروغژن وي نو همدغه دروغ به همده ته مصیبت جوړ شي او ډېر ژر به یې الله ﷻ رسوا او شرمنده کړي، او که بالفرض نوموړی دروغژن نه وي او رښتیانی پیغمبر وي نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او د حقاني پیغمبر وژلو ته تکل مه کوئ چې ضرور به تاسو ته د هغو عذابونو څخه ځینې په دنیا کښې ورسېږي، د کومو وعده چې تاسو ته د نوموړي د پلوه درکولی کېږي او تاسو وربانديې ډاروول کېږئ.

نو ضرور به ستاسو دپاره ستاسو کفر یو مصیبت جوړ شي او د پیغمبر وژل به درته بل مصیبت وګرځي، او په دنیا او آخرت کښې به د شرم او خجالت سره مخامخ شئ.

ج: ای زما قومه! یقینًا الله ﷻ هغه چاته سمه او د نجات لاره نه ورښایي، کوم چې د شریعت د حدودو څخه تجاوز کوونکی وي، او کوم چې سخت دروغژن وي حتی چې په الله ﷻ پورې هم دروغ تړي چې ماته یې نبوت راکړی دی.

د: ای زما قومه! دا خبره یقیني ده چې نن ورځ په ځمکه کښې واکداري او پاچاهي ستاسو په برخه ده او هیڅوک ستاسو د مقابلې توان نه لري (تاسو په هر چا برلاسي یاست)، خو دا راته ووایاست چې ایا تاسو په الله ﷻ باندې هم برلاسي یاست؟ ایا داسې څوک شته چې زمونږ سره نصرت وکړي او د الله ﷻ د عذابه نجات راکړي البته په هغه صورت کښې چې دغه عذاب په مونږ نازل کړی شي؟

**فرعون خپل جهالت تکرار کړ:**

۷ـ د ذکر شوي پټ مؤمن سړي د نصائحو په مقابل کښې یو ځل بیا فرعون خپله جهلي او کفري خبره تکراره کړه چې:

الف: زه ستاسو د خیر دپاره بله لاره نه درلیده کوم مګر هغه لاره چې پخوا مې په خپلو خبرو کښې درلیده کړې (درښودلې) ده، هغه دا چې ماته اجازه راکړئ ترڅو موسی ﷺ ووژنم او ژوند ته یې خاتمه ورکړم.

ب: ای زما قومه! زه ستاسو دپاره د خیر او هوسایۍ لاره ښوونه کوم، او زه تاسو ته هغه برابره لار درښیم چې ستاسو دین وربانديې سالم پاتې شي او نظام مو د خطره بچ شي.

## توضیحات

۱ـ د دې ایتونو څخه نیولې آن تر [المؤمن:۴۶] ایت پورې څوارلس (۱۴) ایتونه د فرعون او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ده د ګمراه قوم په ارتباط نازل شوی دی.

۲ـ په دې مقام پورې اړونده لاندې مطالب وړاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ:

الف: په [الأعراف: ۱۳۰] ایت کښې د هغو نهو معجزاتو بیان تېر شوی دی کومو ته چې دلته په ﴿ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ سره اشاره شوې ده.

ب: د ﴿ وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴾ کلمات د [هود: ۸۶] ایت لاندې په درې ډوله تفسیر شوی دی، چې یو تفسیر یې د قوي دلیل او قوي منطق څخه عبارت دی.

ج: د [القصص: ۶] ایت لاندې د "هامان" څه لنډه پېژندنه ذکره شوې ده چې د فرعون دپاره یې د لومړي وزیر حیثیت درلود.

د: [القصص: ۷۶] ایت په تفسیر کښې د قارون لنډ سوانح لیکلی شوي دي، چې د مشهور قول په بنیاد د موسی ؑ د تره زوی او د فرعون ملاتړی وه.

هـ: د [البقرة: ۴۹] ایت لاندې ذکر شوي دي چې فرعون اول ځل د بني اسرائیلو د نارینه اولادونو په وژلو د دې کبله شروع کړې وه چې د خپلې پاچاهۍ د ړنګېدلو خطر ورته پیدا شوی وه چې د دوی د پلوه به صورت ونیسي.

خو په دې مقام کښې وړباندې اضافه کوو چې فرعون ذکرې شوې اولاد وژنې ته تر څه وخته پورې ادامه ورکړه خو بیا یې بس کړه، اما کله چې موسی ؑ نوموړي ته د پیغمبر په صفت ورغی نو د دوهم ځل دپاره یې بني اسرائیل د نارینه اولادونو په وژلو تهدید کړه[1]، مګر پوره ښکاره نه ده چې دا ځل به یې وړباندې خپله تهدیدي نقشه عملي کړې وي او که نه، والله ﷻ اعلم.

و: همدا موضوع د [الأعراف: ۱۲۷] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## سوالونه او جوابونه

۳ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: د فرعون څه مطلب وه چې بني اسرائیل یې د دوهم ځل دپاره په اولاد وژنه تهدید کړه؟

مونږ وایو چې: په دغه ځل تهدید کښې نوموړي لاندې مطالب په نظر کښې نیولي وه:

اول: ترڅو موسی ؑ وهڅوي چې په خپل قوم زړه وسوزي او د دعوت څخه لاس واخلي.

دوهم: ترڅو په موسی ؑ باندې بني اسرائیل په غُصه کړي چې ایمان پرې رانه وړي، چې ستا د لاسه زمونږ نارینه اولادونه وژل کېږي او بنیاد مو ویستل کېږي.

دریم: ترڅو عوام وډار کړي چې ایمان راوړلو ته زړه ښه نه کړي.

ب: که څوک وایي چې: فرعون د بني اسرائیلو د دوهم ځل اولاد وژنې په اړه خپله غوڅه فیصله

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۷۶؛ تفسیر الطبري ج۲۴ ص۵۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۳۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اعلانه کړه چې: ﴿ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ ﴾ [الأعراف:۱۲۷] يعنې ده‌ر ژر به مونږ د بني اسرائيلو نارينه اولادونه د دوهم ځل دپاره ووژنو.

اما د موسى ﷺ د وژنې په هکله زړه نا زړه وه چې: ﴿ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ ﴾ [المؤمن:۲۶] يعنې اى مشاورينو! تاسو ما پرېږدئ چې زه موسى ﷺ ووژنم.

نو پوښتنه دا ده چې په څه وجه يې د موسى ﷺ د قتل په هکله غوڅ تصميم ونه نيوه؟

مونږ وايو چې: فرعون د موسى ﷺ د معجزانه اژدها څخه سخت ډار شوى وه او باور يې درلود، كه زه موسى ﷺ ته څه اذيت ورسوم نو د موسى ﷺ رب ﷻ به مې بې انتقامه پرېنږدي، خو غوښتل يې چې په خپل ډار باندې پرده واچوي نو ويې ويلې چې اى مشاورينو! زه د موسى ﷺ د وژلو څخه فقط تاسو ايسار كړى يم كه نه نو زما پرېكړه دا ده چې بايد ووژلى شي. او د خپل جرئت او شجاعت د ښودانې دپاره يې خپله خبره په ﴿ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓ ﴾ سره اوږده كړه، چې زه د موسى ﷺ د رب څخه نه ډارېږم په ما دا خيال ونه كړئ، نوموړى دې خپل رب زما مقابلې ته راوبلي چې كومك ورسره وكړي.

ج: كه څوک وايي چې: په ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم ﴾ كښې په "كُم" سره څوک مخاطب دي، فرعونيان كه بني اسرائيل؟

مونږ وايو چې: ځينې مفسرين كرام[1] په دې نظر دي چې كله د فرعون د پلوه موسى ﷺ په قتل سره تهديد شو نو موسى ﷺ هغوى مخاطب كړه چې: زه په الله ﷻ سره (چې زما رب دى او ستاسو هم حقيقي رب دى) ستاسو په شمول د هر متكبر د شر څخه پنا غواړم كوم چې د قيامت په ورځ عقيده نه لري.

مګر ظاهره دا ده چې په ذكر شوي "كُم" سره به موسى ﷺ خپل قوم مخاطب كړى وي[2] چې كله ورته د فرعون تهديدات رسېدلي وي، چې: اى زما قومه! زه په خپل رب او ستاسو په رب ﷻ سره د فرعونيانو په شمول د هر كافر متكبر د شر څخه پنا غواړم، نو تاسو هم ترې پنا وغواړئ او وارخطا كېږئ مه.

په همدې مضمون باندې په بل ايت كښې صراحت شوى دى چې: ﴿ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْ ﴾ [الأعراف:۱۲۸] يعنې موسى ﷺ وويلې چې اى زما قومه! تاسو په الله ﷻ سره كومک او مدد وغواړئ او ثبات او استقامت خپل كړئ (وارخطا كېږئ مه) الله ﷻ زمونږ ملګرى دى.

په دې باندې علاوه ذكر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات هم نه لري، كه د بدليت په لحاظ دواړه اراده كړى شي هم څه باک يې نشته چې موسى ﷺ يو ځل فرعونيان مخاطب كړي وي او بيا يې خپل قوم ته خطاب متوجه كړى وي.

د: كه څوک وايي چې: هغه مؤمن سړى څوک وه كوم ته چې په ﴿ وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۳۱؛ تفسير الطبري ج۲۴ ص۵۷

(۲) تفسير ابن كثير ج۴ ص۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ ﴾ کښې اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي مؤمن سړي په تشخیص کښې مفسرین کرام په لاندې دوه وو ډلو وېشلي شوي دي:

اول: ځینې وایي چې په ﴿ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ ﴾ کښې د ﴿ مِّنۡ ﴾ توری په ﴿ يَكۡتُمُ ﴾ پورې تعلق نیسي، او حاصل یې داسې راځېږي چې: د موسی ﷺ د قوم څخه یوه مؤمن سړي وویلې کوم چې د فرعونیانو څخه خپل ایمان پټاوه او پخپله سبطي وه[١].

دوهم: ځینې نور وایي چې ذکر شوی سړی د فرعونیانو څخه وه او قبطي وه[٢]، ځینې لا وایي چې د فرعون د تره زوی وه[٣]. نو د ﴿ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ ﴾ کلمات د متعلق په لحاظ سره د ﴿ رَجُلٌ ﴾ دپاره دوهم صفت ګرځوي او د ﴿ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ ﴾ جمله ترې حال واقع کوي. یعنې داسې یوه مؤمن سړي وویلې چې د فرعون د قوم څخه وه، البته په داسې حال کښې چې په موسی ﷺ باندې یې ایمان راوړی وه خو د فرعونیانو څخه یې پټ کړی وه.

مونږ ته همدغه دوهم قول د لاندې وجوهو د کبله د زړه پورې برېښي:

اوله وجه: د ذکر شوي مؤمن سړي د جرئت څخه څرګندېږي چې هغه به قبطي وه. او دا ځکه چې سبطیانو خو د فرعون په مقابل کښې نه دغسې جرئت درلودلی شو او نه ورته فرعون فرصت ورکاوه چې خبرې یې واورې.

دوهمه وجه: فرعون د ذکر شوي سړي په جواب کښې وویل چې: ﴿ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ ﴾ یعنې تاسو ته نه درلیده کوم مګر هغه شی کوم چې زه ستاسو دپاره ګټور وینم، چې موسی ﷺ ووژنئ. پوره واضحه ده چې دغه جواب د قبطیانو دپاره مناسب برېښي، نه د سبطیانو دپاره.

درېیمه وجه: که څه هم عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) وایي[٤] چې د فرعون د قوم څخه درې کسانو ایمان راوړی وه او بس، یو همدغه سړی دی چې بحث پکښې روان دی، بل هغه سړی دی د کوم ذکر چې په [القصص: ٢٠] ایت کښې تېر شوی دی او دریم کس د فرعون مېرمن وه چې ذکر یې په [التحریم: ١١] ایت کښې راروان دی.

خو داسې معلومېږي چې د ساحرانو د ایمان راوړلو څخه وروسته به د ایمان راوړونکو تعداد اضافه شوی وي. د همدې کبله په همدې ارتباط څه نور اقوال هم شتون لري چې تفصیل یې د [الأعراف ١٢١] او د [یونس: ٨٣] ایتونو لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

ه: که څوک وایي چې: نوموړي مؤمن سړي خو لوی جهاد وکړ لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي

(١) تفسیر القرطبي ج١٥ ص٣٠٦
(٢) تفسیر الکشاف ج٤ ص١٦٢
(٣) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٧٧
(٤) الدر المنثور ج٧ ص٢٨٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: «إِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْجِهَادِ كَلِمَةَ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»[١] یعنې یقینًا د ډېر لوی جهاد څخه د یوه ظالم پاچا په وړاندې د عدل (او انصاف) خبره کول هم دي.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د نوموړي سړي مثال په دې اُمت کښې شته؟

مونږ وایو چې: الحمد لله ﷻ په دې (آخر الزمان) اُمت کښې یې ډېر مثالونه تېر شوي دي او د قیامت تر ورځې پورې به پکښې -ان شاء الله ﷻ- ډېر نور پیدا شي، خو ښه بارز مثال یې آبو بکر الصدیق ؓ دی چې همدغه لوی جهاد یې کړی دی، هغه دا چې:

یوه ورځې د مکې مشرکانو -چې په سر کښې یې عقبه بن ابي مُعَیط واقع وه- د نبي کریم ﷺ په غاړه کښې څادر واچاوه او په شدت سره یې ورباندې زندی کړ، په همدغه حال کښې آبو بکر الصدیق ؓ راغی او د نبي کریم ﷺ غاړه یې د زندی څخه خلاصه کړه او مشرکان یې په عین هغې خبرې سره مخاطب کړه په کومې سره چې مؤمن سړي فرعونیان مخاطب کړي وه چې: ﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمْ﴾[٢] یعنې ایا تاسو یو سړی صرف د دې کبله وژنئ چې هغه وایي: یقینًا زما رب الله ﷻ دی (نوره هیڅ ګناه نه لري)، حال دا چې نوموړي تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه څرګند معجزات هم راوړي دي (او خپل نبوت یې درته په اثبات رسولی هم وي).

و: که څوک وایي چې: د دې خبرې څه باعث وه چې نوموړي سړي وویلې چې: ﴿يُصِبْكُم بَعْضُ ٱلَّذِى يَعِدُكُمْ﴾ یعنې که موسی ؑ د نبوت په دعوه کښې صادق وی نو تاسو ته به د هغو وعیدانو ځینې برخه ضرور ورسېږي په کومو باندې چې تاسو ډاروي.

په کار وه چې نوموړی د صدق په تقدیر سره په خپل کلام کښې د ﴿بَعْضُ﴾ کلمه نه وی استعماله کړې ترڅو یې ټولو وعیداتو ته شمول موندلی وی؟

مونږ وایو چې: د دغو سوال دپاره خو مفسرینو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي[٣]، خو کوم جواب چې مونږ ته بې تکلفه برېښي هغه دا دی[٤] چې: د نوموړي مؤمن سړي یوازې دنیاوي وعیدات مطلب وه چې د آخرت د وعیداتو په شمول د ټولو وعیداتو ځینې برخه تشکیلوي.

په همدې مطلب باندې د نوموړي وروستنی کلام ﴿يَٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ﴾ الآیة دلالت کوي.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٤٠

(٢) صحیح البخاري ج١ ص٥٢٠؛ ج٢ ص٧١١

(٣) اللباب في علوم الکتاب ج١٧ ص٤١؛ تفسیر القرطبي ج١٥ ص٣٠٧؛ زاد المسیر ج٧ ص٤١

(٤) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٧٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم
بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ
مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا
عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۳۰] او هغه سړي وويلې کوم چې (پټ) ایمان راوړی وه چې:
ای زما قومه! یقینًا زه د (پخوانیو هلاکو شوو) ډلو (د عذاب) غوندې (عذاب څخه) په تاسو باندې ډارېږم (چې د تکذیب د ادامې په صورت کښې په درباندې نازل شي).

[۳۱] (زه په تاسو باندې د داسې حال د درتللو څخه ډارېږم) لکه د نوح ﷺ د قوم حال او د عادیانو او ثمودیانو او (هم) د هغو کسانو (حال) کوم چې د دوی څخه وروسته (تېر شوي) دي (چې په عذابونو سره د ټولو بنیادونه وویستلی شو). او الله ﷻ د خپلو بندګانو دپاره د ظلم (او تېرۍ) اراده (قدرې هم) نه لري (چې بدون د استحقاقه درباندې عذاب ورنازل کړي).

[۳۲] او ای زما قومه! یقینًا زه په تاسو باندې یو بل ته د اواز کولو د ورځې څخه ډارېږم (چې د قیامت د ورځې څخه عبارت ده).

[۳۳] کومه ورځ چې تاسو به (پکښې د دوزخ څخه) په داسې حال مخونه واړوئ چې بېرته به ځغاسته کوونکې یاست خو تاسو ته به د الله ﷻ څخه هیڅ ساتونکی نه وي (چې نجات درکړي).
او الله ﷻ چې هرڅوک ګمراه کړي نو هغه لره هیڅ (د سمې لارې) ښودونکی نشته (چې د ګمراهۍ څخه نجات ورکړي).

[۳۴] ای (ای زما قومه!) یقینًا تاسو ته د موسی ﷺ څخه مخکښې یوسف ﷺ په دلایلو سره درغلی وه، نو تاسو په هغه شي کښې په دائمې توګه په شک کښې پراته وئ کوم یې چې تاسو ته دروستلی (دروړی) وه (تاسو درباندې باور ونه کړ)، آن تر دې چې کله یوسف ﷺ هلاک (مړ) شو نو تاسو وویلې چې: هیڅکله به د ده څخه وروسته الله ﷻ بل رالېږلی شوی مبعوث نه کړي (مونږ بل پیغمبر هم نه منو).
(ای پیغمبره!) دغه رنګه الله ﷻ هغه څوک ګمراه کوي کوم چې د حد څخه تجاوز کوونکي شک کوونکي وي (همدا یې عادت ګرځېدلی وي).

[۳۵] (دا ګمراه کړی شوي) هغه کسان (دي) کوم چې د الله ﷻ په ایتونو (معجزاتو) کښې بدون د داسې دلیل څخه جګړې کوي چې دوی ته ورغلي وي (او د اعتبار او اعتماد وړ وي)، دا (بلا دلیله جګړه) د الله ﷻ په نزد او د هغو کسانو په نزد کومو چې ایمان غوره کړی دی د غضب د حیثه ډېره لویه ده (او ډېر درباندې په غضب کېږي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) الله ﷻ د دغه (اضلال) غوندې د هر متکبر (او) سرکشه په زړه باندې مهر لګوي.

## د مطلب خلاصه

د فرعون د جواب څخه وروسته نومړي مؤمن سړي د دوهم ځل دپاره فرعونیانو ته په نصیحت شروع وکړه، چې د یو پلوه یې په خپلو پخوانیو نصیحتونو او دنیاوي وعیداتو باندې د مثالونو په ضمن کښې رڼا واچوله او د بله پلوه یې ورته د آخرت وعیدات هم وروپه یاد کړه، چې تیاري ورته ونیسي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د فرعون د متکبرانه جواب څخه وروسته ذکر شوي پټ مؤمن سړي یو ځل بیا هغوی مخاطب کړه چې:

۱_ ای زما قومه! په دې تقدیر چې موسی ؑ رښتینی وي او تاسو یې تکذیب وکړئ، نو زه په تاسو باندې ډارېږم چې په تاسو باندې به په دنیا کښې داسې مصیبت درنازل شي او د داسې بدې ورځې سره به مخامخ شئ لکه څنګه چې پخواني کفري قومونه ورسره مخامخ شوي وه، او داسې بد حال به درباندې درشي لکه چې په هغوی باندې ورغلی وه. مثلاً:

الف: الله ﷻ د نوح ؑ قوم غرق کړ او ټوله مسکونه ځمکه یې ورته دریاب جوړه کړه.

ب: په عادیانو باندې الله ﷻ مسلسل تېز باد وچلاوه او ټول یې پوپنا کړه.

ج: ثمودیان د الله ﷻ د پلوه د ځمکې په جړقېدلو او تېز اواز سره د ځرمې هلاک شوه.

د: همدارنګه د دغو قومونو څخه وروسته هم الله ﷻ د کفارو ډېر قومونه په ډول-ډول عذابونو سره پوپنا کړي دي لکه نمرودیان، د لوط ؑ قوم او داسې نور.

ټول کفري قومونه د خپلو جنایتونو د کبله هلاک کړی شوي دي چې د پیغمبرانو تکذیب ته به یې ادامه ورکوله او معجزات او دلایل به یې د پښو لاندې کول. الله ﷻ اراده نه لري چې په خپلو بندګانو باندې ظلم وکړي او بدون د استحقاقه یې بنیادونه وباسي.

نو تاسو ته په کار دي چې د ذکرو شوو هلاکو شوو قومونو په قدم باندې لاړ نه شئ ترڅو د هغوی غوندې د بنیادي هلاک سره مخامخ نه شئ.

۲_ ای زما قومه! په دنیاوي عذاب باندې علاوه زه په تاسو باندې ډارېږم، چې د قیامت په ورځ به د تکذیب په صورت کښې د ډېرو سختو عذابونو سره په دائمي توګه لاس او ګرېوان شئ، هغه داسې ورځ ده چې:

الف: په هغې کښې به جنتیان دوزخیانو ته او دوزخیان جنتیانو ته اوازونه کوي، چې د دوزخیانو حسرت به وربانديې اضافه کېږي او څه ګټه به ورته نه رسېږي.

ب: په دغې ورځ کښې چې کله تاسو _د نورو کفارو په شمول_ دوزخ وګورئ نو ډېر زیات به وډار شئ او مخونه به ترې په داسې حال کښې تاو کړئ چې مخ ببرته به تښتېدونکي یاست. خو نه به تاسو د تښتېدلو ځای مونده کړئ او نه به درته د الله ﷻ د عذاب څخه کوم نجات درکوونکی او حفاظت کوونکی په لاس درشي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای زما قومه! تاسو د الله ﷻ د پلوه راغلی پیغمبر قبول کړئ او په ګمراهۍ پسې تاند مه وهئ چې الله ﷻ به مو ګمراهان وګرځوي، او هرڅوک چې الله ﷻ يې ګمراه وګرځوئ نو هغه ته هيڅ لارښودونکی نشته چې هغه د ده ﷻ څخه پرته ورته هادي او لارښود جوړ شي.

۴_ يقيناً تاسو ته د موسی ﷺ څخه وړاندې يوسف ﷺ هم درغلی وه او خپل نبوت يې درته په دلايلو او معجزاتو سره په اثبات رسولی وه. خو:

الف: تاسو د پيغمبر په صفت قبول نه کړ او عقيده مو ورباندې خپله نه کړه.

ب: تاسو ذکرې شوې کفري عقيدې ته تر هغه وخته پورې ادامه ورکړه ترڅو چې يوسف ﷺ وفات شو، نو په دغه وخت کښې ستاسو کفري عقيده لا پخه او کلکه شوه، حتی چې ستاسو ګومان وه چې هيڅکله به الله ﷻ د يوسف ﷺ څخه وروسته تاسو ته بل کوم د نبوت دعوه کوونکی دروانستوي او د حجت اتمام به درباندې ونه کړي.

يا په بل عبارت، تاسو لا چه هماغه وخت کښې کلکه اراده کړې وه چې د يوسف ﷺ غوندې به په بل پيغمبر باندې هم ايمان نه راوړئ او په کفر به کلک دربېږئ.

دغه دی چې الله ﷻ بل پيغمبر درته راولېږه چې معجزات يې درته ښکاره کړه او خپل نبوت يې درته په اثبات ورساوه، نو تاسو د توحيد عقيده قبوله کړئ او د کفري عقيدې څخه لاس واخلئ که نه نو د الله ﷻ په غضب به اخته شئ چې حجت درباندې اتمام ته رسېدلی دی.

۵_ ای پيغمبره! که څه هم فرعونيانو ته نوموړي پټ مؤمن سړي په ډېره څرګنده او اغېزمنه لهجه ويناوې او اُخروي نصائح واورول مګر هغوی قبول نه کړه. دا ځکه چې الله ﷻ هغوی ګمراه کړي وه او په زړونو باندې يې ورته مهر لګولی وه دا د دې کبله چې:

الف: هغو ی په هر يو کار کښې حتی په ظلم او بغاوت کښې هم د حد څخه تجاوز کوونکي وه.

ب: لکه څنګه چې هغوی د يوسف ﷺ د نبوت په هکله په شک کښې پراته وه همدارنګه هغوی په هر شي کښې شک کوونکي وه حتی چې شک کول يې عادت ګرځېدلی وه.

ج: برسېره په دې، هغوی د الله ﷻ په معجزاتو کښې بدون د داسې برهانه چې ورته ورغلی وي او يا ورته رسېدلی وي، په ناحقه جدال او جګړو اخته وه، او ورسره عادت شوي وه.

حال دا چې دغسې بې برهانه او بې دليله جګړې کول د الله ﷻ په نزد او هم د مؤمنانو په نزد د حيثه ډېره لويه او غټه ګناه ده، چې هم د الله ﷻ د غضب سبب جوړېږي او هم ورباندې مؤمنان په غُصه کېږي.

نو هرڅوک چې ذکر شوي درېواړه صفات د عادت په توګه خپل کړي هغوی د ايمان راوړلو استعداد د لاسه ورکوي او په نتيجه کښې يې الله ﷻ ګمراه کوي.

۶_ ای پيغمبره! لکه څنګه چې الله ﷻ د فرعونيانو په زړونو باندې د هغوی د بدو عادتونو په سبب مهر لګولی وه او د ايمان استعداد يې ترې اخستی وه همدغه ډول مهر الله ﷻ د قيامت تر ورځې پورې د هر متکبر او سرکشه په زړه باندې هم لګوي او د ايمان راوړلو استعداد ترې اخلي چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تکبر او سرکشي يې عادت ګرځېدلې وي بلکې دا ورته مرغوب صفتونه برېښي.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي: کوم نصائح چې الله ﷻ په دغو ايتونو کښې د پټ مؤمن سړي د خولې څخه حکايت کړې دی هغه خو د ايمان د پټولو سره منافي برېښي، نو ايا نوموړي مؤمن خپل ايمان په ډاګه کړ که څنګه؟

مونږ وايو چې: د دغو نصائحو د ويونکي د تعيين په هکله علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو ويشلې شوي دي[1]:

الف: ځينې علماء کرام ذکر شوی اعتراض په نظر کښې نيسي او وايي چې د دغو نصائحو قائل پخپله موسی ؑ دی خو الله ﷻ ترې په ﴿ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ﴾ سره تعبير کړی دی.

ب: جمهور علماء کرام وايي چې د دغو نصائحو ويونکی نوموړی پټ مؤمن سړی دی خو دلته يې خپل ايمان په ډاګه کړی دی.

## تبصره

۲ـ مونږ ته د جمهورو علماوو کرامو نظر د لاندې وجوهو د کبله په زړه پوری برېښي:

الف: د ايتونو سوق همدا غوښتنه کوي چې د ﴿ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ﴾ څخه دې نوموړی سړی مطلب شي.

ب: نوموړي سړي خو خپل ايمان د کمزورۍ د کبله نه وه پټ کړی بلکې يو مصلحت يې په نظر کښې نيولی وه چې په فرعون باندې به يې نصائح ګټور تمام شي، خو کله چې دغه مصلحت لاس ته ورنغی نو خپل ايمان يې علني کړ ترڅو نور عوام خلک ايمان راوړلو ته ترغيب کړي.

ج: دغه نصائح د وړاندېنيو ايتونو غوندې د ﴿يَٰقَوۡمِ﴾، ﴿يَٰقَوۡمِ﴾ په کلماتو سره مشتمل دي، او پوره واضحه ده چې دغه کلمات د نوموړي مؤمن سړي سره ښه مناسب برېښي چې قبطي وه او د فرعون د قوميانو څخه وه، نه د موسی ؑ سره چې سبطي وه او د هغوی د قوميانو څخه نه وه.

د: د نوموړي مؤمن سړي د ايمان په ډاګه کولو باندې هغه جمله هم د اشارې په توګه دلالت کوي کومه چې د دغو نصائحو په پای کښې قرار لري چې: ﴿وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِ﴾ [المؤمن:۴۴] يعنې: زه خپل ايمان په ډاګه کوم او خپل کار الله ﷻ ته سپارم (په همده ﷻ مې توکل دی اُميد دی چې د ظالمانو څخه نجات راکړي).

## "يَوۡمَ ٱلتَّنَادِ" کومه ورځ ده؟

۳ـ په ﴿إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ ٱلتَّنَادِ﴾ کښې د "تَنَاد" کلمه (چې په اصل کښې "تَنَادِي" ـلکه "تَضَارُب"ـ وه) د تفاعل د باب څخه مصدر ده او مجرد يې "نِدَاء" ده چې د اواز کولو معنی ورکوي، خو د دغه باب په ملحوظ يې معنی دا ده چې دوه طرفونه يا دوه کسان يو بل ته اواز وکړي.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۳۵؛ روح المعاني ج۲۴ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه دا خبره چې د قيامت ورځې ته دا لقب په څه مناسبت ورکړی شوی دی؟، نو د دې په جواب کښې مفسرينو کرامو زښت ډېر مناسبتونه ليکلي دي چې تقريبًا اوو مناسبتونو ته رسېږي[1]. خو کوم مناسبت چې متبادر برېښي هغه دا دی چې په دغې ورځ کښې چې کله دوزخيان او جنتيان خپلو-خپلو ځايونو ته لاړ شي نو جنتيان به دوزخيانو ته او دوزخيان به جنتيانو ته اوازونه کوي او يو تربله به سره سوال جواب کوي. لکه چې همدغه مضمون په [الأعراف:۴۴_ ۴۹] ايتونو کښې نازل شوی دی.

## هېر مو نه شي

۴_ هېر مو نه شي چې په ﴿ يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ﴾ کښې د ﴿ تُوَلُّونَ ﴾ کلمه د "تَوْلِيَة" _لکه "تَكْرِمَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د مخ تاوولو معنی ورکوي، او د ﴿ مُدْبِرِينَ ﴾ کلمې د "إِدْبَار" _لکه "إِكْرَام"_ څخه اشتقاق موندلی دی، "إِدْبَار" يوه شي ته د شا ورګرځولو دپاره وضعه شوی دی.

نو د ځينو علماوو کرامو د نظر مطابق د دواړو کلمو د معناوو حاصل د تښتېدلو او د ځغلېدلو څخه عبارت ګرځي[2]، يعنې ای فرعونيانو! کله چې تاسو د محشر په ميدان کښې دوزخ په خپلو سترګو وګورئ نو مخونه به ترې واړوئ او په ځغاسته به پيل وکړئ، ګوندې په تښتېدلو سره د خپلو ځانونو دپاره د نجات ځای مونده کړئ، خو دا کار به تاسو ته هيڅ ګټه ونه رسوي چې نه به ساتونکی وموميْ او نه به د نجات ځای په لاس درشي.

همدا مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ يَقُولُ ٱلْإِنسَـٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴾ [القيامة: ۱۰] يعنې د قيامت په ورځ به کافر انسان وايي چې د تښتېدلو ځای چرته دی؟ چې زه ورو‌ځغلم او نجات مونده کړم.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: موسی ﷺ خو د يوسف ﷺ څخه ډېر وروسته مبعوث شوی وه حال دا چې د ﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ ﴾ غوښتنه دا ده چې موسی ﷺ دې هغو خلکو ته مبعوث شوی وي کومو ته چې يوسف ﷺ ورمبعوث شوی وه؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو ذکره شوې پوښتنه په غير متبادرو لارو سره جوابه کړې ده[3]، لکه:

الف: دلته د ﴿ يُوسُفُ ﴾ څخه "ابن يعقوب ﷺ" مراد نه دی ترڅو اعتراض وارد شي بلکې دلته د

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۴۸؛ التفسير الكبير ج۲۷ ص۶۱؛ نظم الدرر ج۶ ص۵۱۱
(۲) البحر المحيط ج۹ ص۲۵۶؛ تفسير الطبري ج۲۴ ص۶۲؛ تفسير البغوي ج۴ ص۹۷
(۳) التفسير الكبير ج۲۷ ص۶۲؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۳۸؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۱۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوسف په نوم بل پیغمبر مطلب دی چې د یعقوب ﷺ د خوځات څخه وه.

ب: کوم فرعون ته چې موسی ﷺ د پیغمبر په حیث ورغلی وه هغه د یوسف ﷺ د زمانې اوږد عمري سړی وه، حتی چې د موسی ﷺ د زمانې پورې ژوندی وه او څلور سوه او څلوېښت (۴۴۰) کاله عمر یې درلود.

مګر متبادره دا ده چې: دلته د ﴿ يُوسُفُ ﴾ څخه یوسف بن یعقوب ﷺ مراد دی[۱]. او فرعون هم د یوسف ﷺ د زمانې سړی نه وه بلکې د "الریان" په نامه بل سړی وه[۲]. نو په ایت شریف کښې د پلرونو حال اولادونو ته نسبت شوی دی[۳]، لکه چې د نبي کریم ﷺ د زمانې یهودان د هغه قول قائلین ګرځولي شوي دي کوم چې د هغوی پلرونو کړی وه چې: ﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ ﴾ [البقرة: ۶۱] یعنې او تاسو هغه وخت یاد کړئ کله چې تاسو وویلې چې: ای موسی! مونږ به هیڅکله په یو ډول طعام (مَن او سَلوی) باندې صبر ونه کړو (مونږ ته د خپل رب ﷻ څخه نور ډولونه خوراکونه وغواړه).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶- که څوک وایي چې: د ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ﴾ د جملې څخه د چا ته ذهن ته ورځي چې فرعونیان د یوسف ﷺ د وفات څخه وروسته په تکذیب باندې پښېمانه او په نبوت باندې یې قائل شوه؛ نو ایا د ذکرې شوې جملې څخه دغه ډول مفهوم اخستل صحت لري؟

مونږ وایو چې: دغه ډول مفهوم اخستل ترې ځکه صحت نه لري چې د یو پلوه دا مفهوم د سیاق څخه مخالف دی چې د فرعونیانو شدید انکار دی؛ او د بله پلوه د دغه مفهوم سره په ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴾ جملې باندې تعقیب ښه سلښښت نه نیسي.

نو په کار دي چې د ذکرې شوې جملې مفهوم داسې واخستل شي چې:

ای زما قومه! تاسو تر هغه وخته پورې د یوسف ﷺ د نبوت څخه په شک کښې وئ ترڅو چې هغه ﷺ وفات شو، بیا تاسو د راتلونکي پیغمبر د تکذیب دپاره هم بنیاد کېښود او بلا دلیله مو حکم وکړ چې هیڅکله به الله ﷻ هغه څوک مبعوث نه کړي کوم چې د رسالت دعوه ګیر وي، او په مونږ باندې به هیڅکله د دوهم ځل دپاره د حجت اتمام ونه کړي.

یا په بل عبارت: تاسو تصمیم ونیوه چې مونږ به په راتلونکي کښې هم بل پیغمبر نه منو. نو نن ورځ په همدغه بنیاد تاسو د موسی ﷺ تکذیب کوئ، او د جادوګر لقب ورباندې ږدئ.

لنډه دا چې تاسو هغه خلک یاست کومو چې په کفر کښې د حد څخه تجاوز کړی دی او شک (اشتباه) یې عادت ګرځېدلی دی، او پوره واضحه ده چې الله ﷻ دغه ډول خلک ګمراه کوي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۴ ص۶۳
(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۶۸
(۳) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مونږ ته داسې برېښي

٧_ مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ أعلم_ چې: د مؤمن سړي د کلام دغه مجموعه به په ذکره شوې جمله ﴿ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ﴾ باندې ختمه شوې وي، او په متباقي کلام سره به آن تر ﴿ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾ پورې الله ﷻ د نوموړي د کلام تصديق او تائيد نازل کړی وي او نبي کريم ﷺ به يې ورباندې مخاطب ګرځولی وي.

که بالفرض متباقي کلام د مؤمن سړي په حکايت کښې شامل وی نو د ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ﴾ او ﴿ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ ﴾ په عوض به "كَذَلِكُمْ يُضِلُّ الله" او "كَذَلِكُمْ يَطْبَعُ الله" د حرفي خطابي کلمه په جمعيت سره نازله شوې وی، ځکه چې د نوموړي مؤمن سړي د خپل ټول قوم سره محاوره او خبرې اترې جارې وې، نه د يوه فرد سره. د همدې کبله په ﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ ﴾ کښې د "كُمْ" ضمير په جمعيت سره راحکايت شوی دی.

﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ۝٣٦ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِى تَبَابٍ ۝٣٧ ﴾

[٣٦] او فرعون وويلې چې: ای هامانه! ماته يوه لوړه (دنګه) ماڼۍ جوړه کړه شايد چې زه (ورباندې) لارو (او دروازو) ته ورسېږم.

[٣٧] (د بل شي لارو او دروازو ته نه بلکې) د اسمانونو لارو (او دروازو) ته، نو چې د موسی ﷺ معبود ته وروخېژم (او پخپله ورسره وګورم). او يقيناً زه په موسی ﷺ باندې ګومان (اټکل) کوم چې هغه دروغژن دی (او په دروغو يې خپل ځان پيغمبر تراشلي دي).

او (ای پيغمبره!) په دغه ډول سره فرعون ته خپل بد عمل ښايسته کړی شوی وه او (هم) د حقې لارې ځخه اړولی شوی وه، او د فرعون پټ تدبير نه وه مګر په دوامداره تاوان کښې وه (چې د أبد دپاره يې په ضرر تمام شو).

## د مطلب خلاصه او توضيحات

١_ په دې مقام کښې بايد لاندې څو نکات په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: وړاندېنې ايتونه د ﴿ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴾ په جملې سره باندې ختم شوي وه، او په دې ايتونو کښې د فرعون تکبر او جباريت (سرکشي) ډېره ښه تمثيله شوې ده.

ب: کله چې فرعون د مؤمن سړي د استدلال په ميدان کښې ماتې وخوړه او د جواب توان ورسره پاتې نه شو، نو د نوموړي د خبرو ځخه يې مخ وګرځاوه او خپل وزير (هامان) يې مخاطب کړ، چې هله ژر شه ماته يوه دنګه ماڼۍ جوړه کړه چې زه د موسی ﷺ د رب سره پخپله وګورم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ کښې د "أَسْبَاب، أَسْبَاب" دواړه کلمې د سبب جمعې دي، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:٨٤] ایت لاندې لیکلي دي چې سبب د هر هغه شي نوم دی کوم چې د مطلوب دپاره ذریعه او وسیله جوړېږي.

خو په دې مقام کښې ذکرې شوې کلمې علماوو کرامو په لارو او دروازو سره تفسیرې کړې دي[١].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه فرعون خپل وزیر یو خل د ﴿ أَسْبَٰبَ ﴾ په کلمې باندې په اجمال سره مخاطب کړ او بیا یې همدغه اجمال په ﴿ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ سره توضیح کړ ترڅو یې په ذهن کښې ښه واضحه شي چې زه په څمکه کښې د ګرځېدلو لارې چارې نه غواړم بلکې اسمان ته د ختلو لارې چارې زما مطلب دی.

د: فرعون خپل وزیر (هامان) د دې دپاره د دنګې مانۍ په جوړولو مکلف کړ چې د یو پلوه عوام اغفال کړي چې تاسو وارخطا کېږئ مه، زه به درته خبره سپینه کړم. او د بله پلوه هغوی په غوږ ووهي چې په څمکه کښې خو زما څخه په غیر بل معبود نشته نو که د موسی ﷺ معبود حقیقت ولري نو هغه به ضرور په اسمان کښې شتون ولري.

ه: فرعون په دې غرض د ﴿ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ ﴾ جمله د ﴿ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ﴾ په جملې سره تعقیبه کړه چې څوک ګومان ونه کړي چې نوموړی د موسی ﷺ د معبود په حقیقت باندې قائل دی. یعنې ای هامانه! ته دا کار وکړه چې زه د موسی ﷺ معبود ته وروخېژم او پخپله ورسره خبره وکړم که بالفرض دغه معبود هلته موجودیت ولري، خو زه ګومان کوم چې موسی ﷺ دروغژن دی.

و: ذکره شوې خیالي مانۍ د الله ﷻ په توفیق د [القصص:٣٨] ایت لاندې د هر حیثه څېړلې شوې ده نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

٢ـ د فرعون د پلوه د خپل وزیر خبرې په ذکرې شوې تعقیبي جملې سره ختمې شوې دي، نو د ﴿ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ ﴾ الآیة- جملو سره الله ﷻ خپل پیغمبر (محمد ﷺ) مخاطب ګرځولی دی چې حاصل یې داسې راخېژي: ای پیغمبره! په دغه ذکر شوي ډول سره فرعون ته خپل بد عمل او بده کړنلاره ښایسته کړی شوې وه او د سمې لارې څخه اړولې شوې وه، چې خپل وزیر (هامان) ته یې د خیالي مانۍ د جوړولو فرمایش ورکړی وه.

٣ـ په ﴿ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِى تَبَابٍ ﴾ کښې د ﴿ تَبَابٍ ﴾ کلمه د هغه خسران او تاوان څخه عبارت ده کوم چې مستمر او دوامداره وي[٢]. یعنې د فرعون پټ تدبیر په دائمي تاوان او خسران کښې وه چې د ګټې په ځای یې ورته زیان واړاوه او دوزخ یې ورته ابدي کور جوړ کړ.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ

(١) روح المعاني ج٢٤ ص٦٩؛ تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٨٠

(٢) مفردات الراغب ص٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا مَتَٰعٌ وَإِنَّ ٱلْءَاخِرَةَ هِىَ دَارُ ٱلْقَرَارِ ﴿٣٩﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا
مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ
ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾ وَيَٰقَوْمِ مَا لِىٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِىٓ
إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾ تَدْعُونَنِى لِأَكْفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ
إِلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّٰرِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَلَا فِى
ٱلْءَاخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُونَ مَآ
أَقُولُ لَكُمْ ۚ وَأُفَوِّضُ أَمْرِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ ﴾

[٣٨] او هغه سړي وويلې کوم چې (پټ) ايمان راوړی وه: ای زما قومه! تاسو زما پېروي وکړئ ترڅو تاسو ته سمه لاره دروښايم (تاسو ته فرعون سمه لاره نه ښيي).

[٣٩] ای زما قومه! يقيناً دغه نژدې (حقير) ژوند لږه ګټه ده (چې ډېر ژر د زوال سره مخامخ کېدونکې ده) او بې شکه وروستنی کور چې دی همدا د دوام کور دی (چې زوال ورباندې نه ورځي).

[٤٠] هرڅوک چې بد عمل وکړي نو هغه ته به جزا ورنه کړی شي مګر د بد عمل په مثل (ظلم به پرې ونه کړی شي)، او هر هغه څوک چې صالح (نېک) عمل وکړي چې د نارينه څخه عبارت وي او که د ښځينه څخه، په داسې حال چې هغه مؤمن وي، نو همدغه کسان به جنت ته داخل شي چې په جنت کښې به بې حسابه روزي ورکړی شي.

[٤١] او ای زما قومه! ما لره څه دي چې زه تاسو نجات ته رابولم، حال دا چې تاسو ما اور (دوزخ) ته بولئ (زه ستاسو کلک دوست يم او تاسو مې کلک دښمنان ياست دا عجيبه کيفيت دی).

[٤٢] تاسو ما دربولئ چې په الله ﷻ سره کفر غوره کړم او (په عبادت کښې) ورسره داسې شريک (يا شريکان) ودروم چې ما لره پرې (د هغو په ثبوت) علم نشته (بلکې اصلاً ثبوت نه لري)، او زه تاسو د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر ښښونکي (الله ﷻ) ته رابولم.

[٤٣] (دا خبره) حقه (او رښتيا) ده چې يقيناً هغه شي (باطل معبود) ته چې تاسو ما دربولئ، هغه ته نه په دنيا کښې د بللو (اجابت) کول شته او نه په آخرت کښې (هغه په يوه ځای کښې هم په درد نه خوري)، او يقيناً زمونږ (د ټولو) بېرته ورتاوېدل خاص الله ﷻ ته دي (ځانونه ترې نه شو بچ کولی)، او يقيناً د حده تېرېدونکي کسان چې دي همدوی د اور (دائمي) ملګري دي.

[٤٤] نو ژر ده چې تاسو به هغه (نصائح) ياد (قبول) کړئ کوم چې زه يې تاسو ته وايم (خو په هغه وخت کښې به درته څه ګټه ونه شي رسولی).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او زه خپل کار الله ﷻ ته سپارم (په همده ﷻ توکل کوم)، یقینًا الله ﷻ په بندګانو باندې بینا دی (د هر چا کړه وړه ګوري).

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې مؤمن سړی د فرعون جاهلانه او متکبرانه خبرې واورېدې او اُمید یې قطعه شو چې څه نصیحت به قبول کړي، نو په دریم ځل سره یې زیاته توجه د فرعون خواصو او عامه خلکو ته واړوله او ویې ویل چې:

۱_ ای زما قومه! د فرعون پیروي مه کوئ چې تاسو ته د غلطې لارې ښودونکی دی او غواړي چې په دنیا او آخرت دواړو کښې د خسران او تاوان سره مخامخ شئ، بلکې زما پیروي وکړئ او نصائح مې قبول کړئ چې زه تاسو ته سمه او ګټوره لاره ښیم، هغه دا چې د موسی ﷺ په نبوت عقیده خپله کړئ او د غیر الله د عبادت څخه لاس واخلئ.

۲_ ای زما قومه! د فرعون په دنیاوي ساز او سامان باندې مه غولېږئ، یقینًا دغه دنیوي ژوند د لږ وخت دپاره دی او ډېره کوچنۍ متاع ده، چې ډېر ژر به د فنا او زوال سره مخامخ شي. تاسو خپل آخرت او بیا ژوندون په نظر کښې ونیسئ چې دائمي ژوند دی او د همېشه دپاره د قرار نیولو او اوسېدلو ځای دی، تاسو هوښیار شئ او په فاني دنیا باندې باقي کور مه ورانوئ.

۳_ ای زما قومه! ستاسو د راتلونکي باقي ژوند ځینې کیفیات په لاندې ډول دي:

الف: هلته به په ډېر عدل او انصاف سره محاسبه صورت ونیسي، نو هر چا چې څه بدي کړې وي هغه ته به د همغې بدۍ د جزا څخه په غیر د کومې چې نوموړی مرتکب شوی وي، هیڅ جزا ورنه کړی شي.

ب: هرڅوک چې په داسې حال کښې صالح عمل وکړي چې نوموړی مؤمن وي او د الله ﷻ په پیغمبرانو باندې یې عقیده کړې وي، برابره خبره ده چې نارینه وي او که زنانه، نو دغو کسانو ته به لږ تر لږه لس چنده عوضونه ورکړی شي.

په دې باندې علاوه، همدغه کسان به دائمي جنت ته په داسې حال ورننوځي چې هلته به ورته بې شمېره او بې اندازې خوراک او څښاک او هم نور نعمتونه او روزۍ ورپېرزو کړی شي، دغه نعمتونه به د دنیاوي نعمتونو غوندې هیڅکله د زوال سره مخامخ نه شي.

۴_ ای زما قومه! عجیبه خبره خو دا ده چې زه تاسو په دنیا او آخرت کښې نجات او خلاصون ته بولم، حال دا چې تاسو مې اور ته دربولئ، زه تاسو ته رحمت غواړم او تاسو ماته د غضب غوښتونکي یاست، زه تاسو ته د دوستۍ خبرې کوم او تاسو ماته د دښمنۍ په خبرو اخته یاست. هغه داسې چې:

الف: تاسو ماته دعوت راکوئ چې د الله ﷻ په وحدانیت کافر او انکاري جوړ شم او هغه شیان ورسره په عبادت کښې شریکان وګڼم د کومو په ثبوت باندې چې ماته علم نشته بلکې هیڅ ثبوت نه لري یا په بل عبارت. تاسو غواړئ چې زه د الله ﷻ عبادت پرېږدم او د فرعون په عبادت لګیا شم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: حال دا چې زه تاسو ته دعوت درکوم چې د فرعون عبادت پرېږدئ چې ستاسو غوندې يو مخلوق دی، تاسو د الله ﷻ په سوچه عبادت باندې مشغول شئ چې د کلکې ارادې درلودونکی دی او هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، او ښښونکی هم دی، نو که تاسو په ايمان باندې مشرف شئ په هغو ګناهونو باندې به مو ونه نيسي د کومو چې تاسو د کفر په حال کښې مرتکب شوي ياست.

۵_ ای زما قومه! دا هم واورئ چې:

الف: په دې کښې هيڅ شک او شبهه نشته چې د کومو شيانو چې تاسو بلنه او عبادت کوئ هغوی د دې صلاحيت نه لري چې ستاسو بلنه قبوله کړي او اړتيا مو پوره کړي، هغوی تاسو ته نه په دنيا کښې او نه په آخرت کښې په درد خوري، هغوی په هر ځای کښې ناتوانه او بې وسې دي، حال دا چې الله ﷻ ستاسو احتياجات په دنيا او آخرت کښې درپوره کوي.

ب: دا هم ضروري خبره ده چې ستاسو په شمول زمونږ د ټولو بېرته ورتاوېدل فقط الله ﷻ ته دي چې هلته به راسره محاسبه کوي، غير الله به هيڅکله مونږ د بېرته ورتاوېدلو څخه بچ نه کړی شي چې د الهي محاسبې څخه بچ پاتې شو.

ج: دا خبره هم يقيني ده چې د شريعت د چوکاټ څخه تجاوز کوونکي خلک _چې د توحيد او نبوت څخه انکاري وي_ همدوی په دوامداره توګه د اور (دوزخ) اندېوالان دي چې هيڅکله به يې ورسره اندېوالي زوال ونه مومي.

د: که څه هم نن ورځ تاسو زما خبرې نه منئ خو داسې ورځ ضرور راتلونکې ده چې هرو مرو به پکښې زما نصائح درته په زړه شي او په افسوس سره به ووايئ چې ای کاش! چې مونږ نصائح قبول کړي وی، خو د هغه وخت قبول به تاسو ته هيڅ ګټه ونه شي رسولی.

هـ: زه موحد يم او د موسی ﷺ په نبوت باندې هم معتقد يم چې په حقه پيغمبر دی، او همدارنګه ما هغه مسئوليت هم د الله ﷻ په توفيق اداء کړ کوم چې ستاسو په ارتباط زما په غاړه وه. نور نو خپل کار الله ﷻ ته سپارم په همده ﷻ باندې اعتماد او توکل کوم، يقيناً چې الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بينا دی، زما هلې ځلې يې هم ولېدلې او ستاسو لجاجت او په کفر باندې کلکوالی هم ګوري.

## توضيحات

۱_ فرعون د خپل قوم د غولونې دپاره ويلي وه چې: ﴿ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴾ [المؤمن: ۲۹] يعنې زه تاسو ته نه ښيم مګر سمه لاره چې مطلب ته ورباندې ورسېږئ.

مؤمن سړي په خپلو نصائحو کښې د فرعون خبره رده کړه چې: ﴿ ٱتَّبِعُونِ أَهۡدِكُمۡ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴾ يعنې ای زما قومه! د فرعون پيروي مه کوئ چې تاسو ته غلطه لاره ښيي، زما پيروي وکړئ او نصائح مې قبول کړئ چې زه درته سمه لاره وښيم، ترڅو ورباندې په دنيا او آخرت کښې مطلب ته ورسېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۲_ په ﴿لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ﴾ كښې د ﴿لَا جَرَمَ﴾ كلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [هود: ۲۲] ايت لاندې ښه تحليله كړې ده چې د يقين او (حق) معنى وركوي.

## سوال جواب

۳_ كه څوك وايي: دا جمله ﴿لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَلَا فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ﴾ څه معنى؟

مونږ وايو چې: دغه جمله مفسرينو كرامو په څو معناوو سره تفسيره كړې ده، لكه:

الف: دلته عبارت د مضاف په حذف سره دى چې په "لَيْسَ لَهُ اِسْتِجَابَةُ الدَّعْوَةِ" سره ترې تعبير كولى شو[۱]، يعنې: يقينًا هغه بوتان چې تاسو ما د هغو عبادت ته وربلئ چې خپل احتياجات ترې وغواړم، هغوى نه په دنيا كښې د بلنې اجابت كولى شي چې د بلونكي د ضرر مخه ونيسي او يا ورته ګټه جلبه كړي، او نه په آخرت كښې د بلنې اجابت كولى شي چې د بلونكي د شفاعت وكړي.

ب: دغه باطل معبودان په دنيا كښې د خپلو خانونو دپاره بلنه نه شي كولى چې هلئ زمونږ عبادت وكړئ[۲]، او په آخرت كښې خو د بلنې په عوض د خپلو عابدينو څخه خپله بېزارې اعلانوي[۳]. اما په حقه معبود ضرور د خپلو بندګانو څخه خپل عبادت غواړي.

زمونږ په فكر ذكر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري كه دواړه د بدليت په لحاظ اراده كړى شي هم څه باك يې نشته.

برسېره په دې، دغه ايت ته ورته مضمون په بل ايت كښې داسې نازل شوى دى چې: ﴿إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُواْ دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُواْ مَا ٱسْتَجَابُواْ لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ﴾ [فاطر:۱۴] يعنې اى مشركانو! كه تاسو بوتان وبلئ نو هغوى به ستاسو بلنه وانه وري، او كه بالفرض ستاسو بلنه واوري نو ستاسو دپاره به د بلنې استجابت ونه كړي، په هر تقدير، هغوى به د قيامت په ورځ ستاسو په شرك (عبادت) سره كافر (منكر) شي.

## داسې معلومېږي

۴_ د ﴿وَأُفَوِّضُ أَمْرِىٓ إِلَى ٱللَّهِ﴾ د جملې څخه داسې معلومېږي چې نوموړي مؤمن سړي ته به د فرعونيانو د پلوه څه اخطار وركړى شوى وي او ده (عليه الرحمة) به په دغې جملې سره جواب وركړى وي.

شايد چې نوموړي به دغه جمله د موسى ؑ د كلام څخه زده كړې وي چې كله فرعون په قتل سره تهديد كړ نو وويلې چې: ﴿إِنِّى عُذْتُ بِرَبِّى وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ﴾ [المؤمن:۲۷] يعنې يقينًا په خپل رب او ستاسو په رب ﷻ سره د هر متكبر (كافر) څخه پنا غواړم.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۱۷
(۲) تفسير الكشاف ج۴ ص۱۶۹
(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَوَقَنٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ (٤٥) ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ (٤٦) ﴾

[۴۵] نو الله ﷻ هغه (مؤمن سړی) د هغه پلان د بدیو څخه وساته کوم چې ورته فرعونیانو پټ سنجولی وه. او (بالمقابل) د فرعون د پیروانو (او ټبر) څخه بد عذاب راچاپېر شو (او ټول د څرمې د قلزم په بحیره کښې غرق شوه).

[۴۶] (په برزخ کښې د هغوی دا حال دی چې) اور د دوزخ چې دی په هغوی باندې سبا او بېگا (همېشه) وروړاندې کولی کېږي، او د قیامت په ورځ (به پرښتو ته امر وکړی شي چې) د فرعون پیروان سخت عذاب ته ورداخل کړئ (چې همېشه پکښې واوسېږي).

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ ظاهره دا ده چې په ﴿ فَوَقَنٰهُ ٱللَّهُ ﴾ کښې به بارز ضمیر مؤمن سړي ته راجع وي چې نژدې بحث په همده کښې راروان دی او هم نژدې مذکور دی.

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْ ﴾ کښې د ﴿ مَكَرُواْ ﴾ کلمه د "مَکْرٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پټ تدبیر معنی ورکوي. نو پوښتنه دا ده چې هغه څه ډول پټ تدبیر وه کوم چې فرعونیانو د نوموړي مؤمن سړي د وژلو دپاره پلان کړی وه؟

مونږ وایو: ځینو مفسرینو کرامو د همدغه بد او پټ تدبیر د څرنګوالي په هکله ښه اوږده قیصه لیکلې ده[1]، چې نوموړی سړی د هغوی څخه غره ته وتښتېد او کومو پولیسو او فرعونیانو چې تعقیب کړ هغوی ټول الله ﷻ هلاک کړه او مؤمن سړي ته یې نجات ورکړ.

مګر بهتره دا ده چې په همدومره خبره باندې اکتفاء وکړو کومه چې د ایت شریف څخه په ثبوت رسېدلې ده، چې الله ﷻ ورته نجات ورکړ، او د نجات د څرنګوالي په هکله خوله پټ کړو چې یقیني ثبوت یې نشته.

۳ـ په ﴿ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ ﴾ کښې د فرعون په پیروانو او ټبر باندې صراحت شوی دی چې عذاب ترې راچاپېر شو، خو پخپله فرعون هم په دلالت النص سره پکښې شامل دی او صراحت ته یې څه اړتیا نه وه، نو ځکهورباندې صراحت نه دی شوی.

۴ـ د ﴿ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ ﴾ کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په لاندې دوه وو تفسیرونو سره تفسیره کړې ده[2]:

الف: ځیني وایي: ﴿ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ ﴾ "بد عذاب" دلته د اُخروي عذاب څخه عبارت دی او د متصل

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۷۳

(۲) تفسیر الطبري ج۲۴ ص۷۱؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ايت په سر کښې د ﴿ ٱلنَّارُ ﴾ کلمه د همدغه عذاب دپاره بيان واقع شوې ده او د ﴿ يُعْرَضُونَ ﴾ جمله مستأنفه جمله ده[١].

ب: ځينې وايي: دلته ﴿ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴾ "بد عذاب" د دنياوي عذاب په معنی سره دی چې د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې ښه پوره شرحه شوي دي[٢] چې الله ﷻ بني اسرائيل د قلزم د بحيرې څخه سالم پورېويستل او فرعونيان يې پکښې غرق کړه.

په دې تفسير سره د متصل ايت په سر کښې د ﴿ ٱلنَّارُ ﴾ کلمه مبتدا ګرځي او د ﴿ يُعْرَضُونَ ﴾ جمله ورته خبر جوړېږي.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې برېښي چې د اول تفسير څخه پکښې إفاده ډېره ده او دنياوي او أخروي دواړو عذابونو بيان ته شموليت لري.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ مؤمن سړی د فرعونيانو د پلان کړی شوي بد او پټ تدبير څخه وساته او د وژلو څخه يې بچ کړ، خو په نتيجه کښې د فرعون په شمول د ټولو فرعونيانو څخه بد او ناکاره عذاب احاطه وکړه او د ځرمې په درياب کښې غرق شوه.

٥ـ په ﴿ ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ﴾ کښې د "غُدُو، عَشِي" دواړه کلمې په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيري کړې دي[٣]:

الف: دغه دواړه کلمې د دوام څخه کنايه دي. يعنې فرعونيانو په عالم برزخ کښې د قيامت تر ورځې پورې په دوامداره توګه په دوزخ باندې وروړاندې کولی کېږي.

ب: دغه دواړه کلمې په خپلو اصلي معناوو باندې پاتې دي. يعنې هغوی د قيامت تر ورځې پورې په برزخ کښې سبا او بېګا په دوزخ باندې ور وړاندې کولی کېږي.

نو په دې تفسير سره د سبا او د بېګا ترمنځ متباقي وختونه په سکوت کښې پاتې دي، څه لرې نه ده چې په دغو وختونو کښې په بل ډول عذاب باندې معذب کړی شي او يا يې پکښې تعذيب وقفه ولري، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## د قبر عذاب حق دی

٦ـ د دغه وروستني ايت څخه په ډاګه په اثبات رسېږي چې د مرګ څخه وروسته او د قيامت څخه وړاندې په عالم برزخ کښې تعذيب شته دی. او دا څکه چې:

د ايت د وړاندېنی برخې څخه ځرګندېږي چې فرعونيانو ته په دوامداره توګه او يا سبا او بېګا اور ته وړاندې کول شته دي، او د ايت شريف دوهمه جمله په صراحت سره دلالت کوي چې د قيامت په ورځ به د همغوی په هکله امر صادر شي چې ډېر شديد عذاب ته يې ورداخل کړئ.

---

(١) تفسير ابن كثير ج۴ ص٨١

(٢) زاد المسير ج٧ ص۴۶

(٣) روح المعاني ج٢۴ ص٧۴؛ تفسير القاسمي ج١۴ ص٢٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض د اولنۍ جملې څخه هم د قیامت د ورځې عذاب مطلب وي نو د یو پلوه به د دوهمې جملې نزول ته څه اړتیا نه وی، او د بله پلوه به هلته د ﴿يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا﴾ کلمات نه وی نازل شوي چې عرض او ادخال بېلې معناوې لري.

مونږ غواړو چې په همدغې موضوع باندې په لاندې کرښو کښې د الله ﷻ په توفیق لږه زیاته رڼا واچوو:

الف: په ذکر شوي ایت شریف کښې د فرعونیانو دپاره د برزخ عذاب په اثبات رسېدلی دی، خو څرنګه چې د مورد خصوص ته اعتبار نشته او په احکامو کښې د مفهوم عموم ته کتلی کېږي نو مونږ ویلی شو چې په همدغه ایت سره ټولو کفارو ته برزخي عذاب په اثبات رسېږي.

ب: په دې باندې علاوه برزخي عذاب ځینو عاصیانو مؤمنانو ته هم په احادیثو کښې روایت شوی دی، خو دوی د کفارو سره دومره توپیر لري چې د کفارو برزخي عذاب د قیامت تر ورځې پورې دوام لري او د عاصیانو مؤمنانو په هکله یې دوام ضرور نه دی.

لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ تَيْبَسَا»[١] نبي کریم ﷺ د مؤمنانو عاصیانو په دوه وو قبرونو باندې دوه لښتې کېښودلې او بیا یې وفرمایل: شاید شان دا دی چې د دغو دواړو قبرونو څخه عذاب تخفیف (لږ) کړی شي، ترڅو چې دغه دواړه لمدې لښتې نه وي وچې شوې.

ج: د قبر عذاب لکه څنګه چې په وړاندېنی ایت شریف سره په اثبات ورسېد د ټولو مسلمانانو په نزد په اجماع سره هم ثابت دی[٢]. او په دې باندې علاوه په همدې موضوع کښې زښت ډېر احادیث هم روایت شوي دي چې د هغو د جملې څخه یو حدیث وړاندې ذکر شو، او بل حدیث هم لاندې لوستلی شئ:

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ... ثُمَّ يُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ الَّذِي تُبْعَثُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٣] یعنې کله چې یو سړی مړ شي نو سبا او بېګا ورباندې په جنت یا دوزخ کښې خپل د کېناستلو ځای ورووړاندې کېږي (وربښودل کېږي) بیا ورته ویل کېږي چې دغه ستا د کېناستلو (او دائمي اوسېدلو) هغه ځای دی کوم ته به چې ته د قیامت په ورځ د خپل قبر څخه ورپورته (ژوندی) کړی شي (نو خوشاله اوسه).

## د قبر یا برزخ عذاب په دوه ډوله دی

د: برزخي عذاب په دوه ډوله صورت نیسي، یو صرف روحي عذاب دی چې د کافر سړي روح ته سبا او بېګا د دوزخ دورې ورکړی شي او وروښودل شي چې ستا اصلي او دائمي استوګنځای دغه

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص٣٥

(٢) تفسیر المظهري ج٨ ص٢٦٢؛ شرح المقاصد ج٢ ص٢٢٠

(٣) صحیح مسلم ج٢ ص٢٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی، او بالمقابل په برزخ کښې مؤمنانو ته روحي خوشالي هم صورت نیسي، د ښه وضاحت دپاره د عبد الله بن مسعود ﷺ د حدیث مضمون ولولئ[١]:

اول: نوموړی صحابي وايي چې د شهیدانو ارواګانې په عالم برزخ کښې د شنو مرغانو په ګېډو کښې د جنت دورې کوي او چرته یې چې خوښه شي هلته به پکښې ګرځي راګرځي.

دوهم: د مؤمنانو د ماشومانو ارواګانې به د چرچڼو په جوجورو کښې جنت ته ځي راځي.

دریم: د فرعون د پیروانو ارواګانې به د تکو تورو مرغانو په جوجورو کښې دوزخ ته تلل راتلل کوي، همدغه عذاب ته په ایت شریف کښې د ﴿يُعْرَضُونَ﴾ په کلمې سره اشاره شوې ده.

بل روحي او بدني عذاب دی چې مړی به ورسره په خپل قبر (برزخ) کښې معذب ګرځي، همدغه عذاب ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې چې: «إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ»[٢] یعنې بې شکه قبر یا د جنت د باغچو څخه یوه باغچه ده او یا د دوزخ د کندو څخه یوه کنده ده.

نو برزخي عذاب په ایت شریف سره په اثبات رسېدلی دی[٣] او بدني او روحي ګډ عذاب په احادیثو ثابت دی چې شهرت ته رسېدلی دی او ټول مسلمانان ورباندې قائل دي إلا من شاء الله.

ه: لنډه دا چې د قبر عذاب ممکن دی او په قرآن کریم او احادیثو سره په اثبات رسېدلی دی نو انکار ترې د جهالت او بې عقلۍ څخه په غیر بل شی نه دی.

یا په بل عبارت: په شریعت کښې هغه احکام ثبوت نه لري کوم چې ممکن نه وي او محال وي خو هغه احکام پکښې شته دي کوم چې عقل پکښې حیرانېږي[٤] او ممکن وي.

د قبر عذاب د همدغې دوهمې قبیلې څخه دی، د همدې کبله په خینو صورتونو کښې هغه کسان متحیر دي کوم چې فقط په عقل باندې اتکاء لري، لکه:

اول: کوم مړی چې وسوزول شي او ایره یې په دریاب کښې واچولی شي، او یا په تېز باد سره وشیندله شي.

دوهم: چې لېوان مړی وخوري او یا یې مرغان تالا ترغه کړي.

دریم: چې د مړي د هډوکو څخه صابون جوړ کړی شي او یا داسې نور.

## د خپل بدن سره د روح تعلقات

و: د برزخي عذاب یا خوشالۍ دپاره د بدن او روح یوځای والی ضرور نه دی خو یو خاص ډول تعلق یې سره ضرور دی ترڅو عذاب یا خوشالي حس کړی شي، که څه هم اجزاء یې خواره واره وي.

د ښه وضاحت دپاره د روح سره د خپل بدن تعلقات په لاندې ډول ولولئ[٥]:

---

(١) الدر المنثور ج٧ ص٢٩١

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٧٣

(٣) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص٨١

(۴) شرح المقاصد ج٢ ص٢٢١

(٥) شرح العقیدة الطحاویه ص٥٧٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د مور په ګېډه (رحم) کښې روح د خپل بدن سره ډېره خاصه علاقه لري چې بدن ورباندې ژوندی کېږي حال دا چې رحم ډېر تنګ او بند خای دی، که بالفرض المحال څوک په دوهم خل په رحم کښې ایسار کړی شي نو سمدستي به مړ شي.

دوهم: کله چې څوک د رحم څخه بهر شي نو د روح علاقه یې په بل ډول صورت نیسي چې د رحم د تعلقې سره بالکل منافي ده. یا په بل عبارت: هلته په تنګ خای کښې خوشاله وي خو دلته په تنګ خای کښې خپه کېږي او مړ کېږي، هلته د رطوبت په ډنډ کښې ژوندی وه خو دلته یې د رطوبت په ډنډ کښې تنفس بندېږي.

دریم: د خوب په حال کښې د روح علاقه د خپل بدن سره په بل ډول صورت نیسي چې د ویښتیا سره بالکل منافی ده.

څلورم: د مرګ څخه وروسته او د قیامت د قیام څخه وړاندې هم هر یو روح د خپل بدن سره خاصه اړیکه لري چې خپل بدن د انحلال څخه نه شي ساتلی مګر برزخي عذاب ورباندې حس کولی شي، که څه هم جزونه یې خواره واره وي. لنډه دا چې د دغه عذاب د حس کولو دپاره د بدن اجتماع ضرور نه ده.

پنځم: د روح ډېره قوي اړیکه او علاقه هله صورت نیسي کله چې د دوهم خل دپاره د قیامت په ورځ د قبرونو څخه مړي راژوندي کړی شي، نو په دغې علاقې سره نه د أبد دپاره په چا باندې خوب ورځي او نه یې د أبد دپاره بدن د انحلال سره مخامخ کېږي.

## د برزخي عذاب یا خوشالۍ نظایر

ز: د دې دپاره چې د عذاب القبر ثبوت اذهانو ته ورنژدې شي باید لاندې نظایر ولولئ:

اول: داسې ډېر شوي دي چې نبي کریم ﷺ ته د صحابه وو کرامو ﷺ په منځکښې وحې راغلې ده خو نه جبرائیل ﷺ چا لېدلی دی او نه یې چا اواز اورېدلی دی.

دوهم: په سړي باندې په خوب کښې خوشالي او خفګان تېرېږي خو حاضرین یې نه شي حس کولی.

دریم: ډېر کرته داسې هم کېږي چې یو سړی په خپل زړه ډېر خفه یا ډېر خوشاله شي مګر حاضرین یې نه د خفګان په اندازه پوهېږي او نه د خوشالۍ او داسې نور.

﴿ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا
فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ
إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ
يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ۖ قَالُوا۟
بَلَىٰ ۚ قَالُوا۟ فَٱدْعُوا۟ ۗ وَمَا دُعَـٰٓؤُا۟ ٱلْكَـٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَـٰلٍ ﴿٥٠﴾ ﴾

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۷] او هغه وخت یاد کړه چې په اور (د دوزخ په داخل) کښې دوزخیان (کفار) یو تربله جګړې کوي، نو کمزوري کفار به هغو کسانو ته ووايي کومو چې (په دنیا کښې) تکبر کړی وي (او کفر یې په نورو تحمیل کړی وي) چې: یقیناً مونږ ستاسو دپاره (په دنیا کښې) تابعان (پیروان) وو. نو ایا (نن ورځ) تاسو زمونږ څخه د دوزخ د اور څخه د څه برخې دفعه کوونکي یاست (چې مخه یې راڅخه واړوئ)؟

[۴۸] هغه کسان به (ورته په جواب کښې) ووايي کومو چې (په دنیا کښې) تکبر کاوه چې: یقیناً مونږ ټول (ستاسو په شمول) په همدې (دوزخ) کښې یاستو (د خلاصون او نجات لاره نشته) یقیناً الله ﷻ د خپلو بندګانو ترمنځ (حقه) فیصله کړې ده (چې د بهرته ماتولو هیڅ احتمال یې نشته).

[۴۹] او هغه کسان به کوم چې په اور کښې وي (کشران وي او که مشران) د دوزخ خازنانو (پرښتو) ته ووايي چې: تاسو خپل رب ﷻ ته (زمونږ په هکله) دعاء (سوال) وکړئ چې زمونږ څخه (د دوزخ) د عذاب څخه (فقط) یوه ورځ (عذاب) کم کړي.

[۵۰] پرښتې (خازنان) به (په جواب کښې) ووايي چې: ایا تاسو ته پیغمبران په معجزو (او دلایلو) سره نه وه درغلي؟ دوزخیان به ووايي چې ولې نه (مونږ ته راغلي وه خو مونږ ونه منل).
پرښتې به ووايي چې: تاسو (پخپله خپل رب ﷻ ته) دعاء (سوال) وکړئ. حال دا چې د کافرانو دعاء (سوال) نه دی مګر په ګمراهی کښې دی (څه نتیجه نه ورکوي د قبول اُمید یې مه کوئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې آن د [۲۳] ایت څخه راپه دېخوا دنیاوي غیوب نازل شوي وه چې د نبي کریم ﷺ په صداقت باندې څرګند دلایل وه، او په دې ایتونو کښې برسېره په دې چې د ﴿ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ ﴾ هغه کلمه پکښې شرحه شوې ده په کومه باندې چې وړاندېنې ایتونه ختم شوي دي، ځینې اُخروي غیوب هم پکښې نازل شوي دي چې قرائت یې د نبوت په حقانیت باندې په ډېره واضحه توګه دلالت کوي.

او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ نه د فرعون په زمانه کښې ژوندي وه چې د نومورې حالات یې پخپله لیدلي وي او نه د آخرت څخه راغلی دی، حال دا چې وړاندېني او وروستني غیوب هوبهو او کټ مټ بیانوي، نو معلومه شوه چې نبوت یې حقیقت لري او په حقه پیغمبر دی.

یعنې ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې څه نور مطالب هم قرائت کړه ترڅو دوی ته بنه څرګنده شي چې ته په حقه پیغمبر یې، او هم ورته جوته شي چې د دوزخ عذاب څومره دروند او سخت دی:

۱ـ خپل اُمت ته هغه وخت وریه یاد کړه په کوم کښې به چې د کفارو مشران او کشران یو تربله د عذاب د شدت د کبله جګړې کوي او ځینې به په ځینو نورو باندې پړه اچوي هغه دا:

الف: دنیاوي کمزوري او پیروان به هغه کسان مخاطب وګرځوي کومو چې په دنیا کښې تکبر او د کفر مشري کړې وي چې: ای مشرانو! مونږ خو په دنیا کښې ستاسو پیروان وو او ستاسو په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاربښوونه سر کفر غوره کړی وه، نو ایا نن ورځ تاسو د دوزخ د عذاب څه مخه نیولی شئ چې مونږ
ته تري نجات راکړئ؟
ب: مشران به جواب ورکړي چې زمونږ هیڅ شی د لاسه پوره نه دی، مونږ د خپلو ځانونو څخه د
عذاب مخنیوی نه شو کولی نو ستاسو څخه به یې څه مخنیوی وکړو، نو حقیقت دا دی چې مونږ او
تاسو به ټول په همدغه عذاب کښې د همېشه دپاره یاستو، همدغه فیصله بل چا نه وه کړې بلکې
الله ﷻ ورته د خپلو بندګانو په هکله صورت ورکړی دی چې مخنیوی یې ممکن نه دی.
۲ـ د اُخروي عذاب د شدت یو مثال دا دی چې د نااُمیدۍ په حال کښې به ټول کفار (مشران او
کشران) د دوزخ د خازنانو سره لاندې سوال جواب وکړي:
الف: دوی ټول به خازنان مخاطب کړي چې زمونږ په فریاد او واوېلا باندې خو هیڅ مرتب نه
شوه، نو مونږ له تاسو نه هیله کوو چې زمونږ دپاره د خپل رب ﷻ څخه وغواړئ ترڅو زمونږ څخه
فقط یوه ورځ عذاب تخفیف کړي، ایا تاسو به دغه کار وکړئ؟
ب: هغوی به بېرته دوزخیانو ته پوښتنه راجع کړي چې: مونږ خو تاسو ته د یوې ورځې لا څه چې
د یوې دقیقې دپاره هم د عذاب د تخفیف شفاعت نه شو کولی، مګر تاسو مونږ ته ووایاست چې ایا
تاسو ته په دنیا کښې پیغمبران درغلي وه او معجزات یې دروړي وه چې ایمان مو ورباندې راوړی
وی او د دغه سخت عذاب څخه مو نجات موندلی وی؟.
ج: دوزخیان به په جواب کښې ووایي چې: ولې نه، مونږ ته پیغمبران راغلي وه خو مونږ قبول نه
کړه او دروغژنان مو وبلل.
د: بیا به نو خازنان جواب ورکړي چې د نجات وخت ستاسو د لاسه وتلی دی، نن ورځ نه تاسو
ته خلاصون شته او نه اعتذار وړاندې کولی شئ، مونږ ته هم دا محاله ده چې ستاسو دپاره د سوال
لاسونه پورته کړو، نو په همدې بنیاد تاسو پخپله سوالونه او زاري وکړئ، خو دومره پوه شئ چې
تاسو کفار یاست او نن ورځ د کفارو په سوالونو باندې هیڅ نتیجه نه شي مرتبه کېدلی.

## توضیحات

۱ـ د دغو څلورو ایتونو څخه په لومړنیو دواړو ایتونو کښې هغو جګړو ته اشاره شوې ده کومو
چې د قرآن کریم په نورو دېرو ایتونو کښې نزول موندلی دی، چې یو مثال یې په [سبأ: ۳۱ـ ۳۳]
ایتونو کښې تېر شوی دی.
۲ـ په ﴿ قَالُواْ فَٱدۡعُواْ ﴾ الآیة- کښې هغه جواب ته اشاره ده کوم به چې کفارو (دوزخیانو) ته د
پرښتو د پلوه ورکړی شي چې مونږ یې د الله ﷻ په توفیق په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:
الف: مونږ ستاسو دپاره د یوې ورځې د عذاب د تخفیف شفاعت هم نه شو کولی ځکه چې د یو
پلوه مونږ ته د شفاعت کولو اجازه نه ده شوې، او د بله پلوه تاسو په دنیا کښې په خپلو پیغمبرانو
باندې عقیده نه وه کړې، حال دا چې دغه دواړه (اجازه او ایمان) زمونږ د شفاعت دپاره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضروري شرطونه دي او دغو دواړو تحقق نه دی موندلی.

ب: نو تاسو پخپله مستقیمًا الله ﷻ ته سوالونه وکړئ، خو په دې باندې پوه شئ چې دغه سوالونه به هم درته هیڅ ګټه ونه شي رسولی، او دا ځکه چې نن ورځ د کفارو غوښتنه په ګمراهی کښې ده او څه نتیجه نه ورکوي، ستاسو څخه د اجابت وخت د لاسه وتلی دی.

تقریبًا د پرښتو او کفارو (دوزخیانو) ذکر شوی سوال جواب په راتلونکو [الملك:٨، ٩] ایتونو کښې هم نازل شوی دی، باید هلته مراجعه وکړی شي.

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ (٥١) يَوْمَ لَا
يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ (٥٢) وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ
وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ (٥٣) هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُوْلِى ٱلْأَلْبَٰبِ (٥٤) فَٱصْبِرْ إِنَّ
وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ (٥٥) إِنَّ
ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا
هُم بِبَٰلِغِيهِ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ (٥٦)﴾

[۵۱] یقینًا مونږ د خپلو پیغمبرانو او د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی په نژدې (حقیر) ژوند کښې نصرت کوو او په هغې ورځ کښې هم چې شاهدان ودرېږي (او حساب کتاب پیل شي).

[۵۲] په کومه ورځ کښې چې ظالمانو (کفارو) ته خپل معذرت وړاندې کول څه ګټه نه شي رسولی او چې دوی لره (پکښې) د الله ﷻ د رحمت څخه لرې کېدل دي او چې دوی لره (پکښې) د بد بد (ناکاره) کور (دوزخ) دی.

[۵۳] او یقینًا مونږ موسی ﷺ ته (د تورات په شمول) لارښوونکي (معجزات) هم ورکړي وه او په بني اسرائیلو کښې مو (دغه) کتاب (د موسی ﷺ د وفات څخه وروسته هم) باقي پرېښي وه.

[۵۴] (البته دا) د دې دپاره چې (هغوی ته د ژوند په اوږدو کښې) لارښوونکي وګرځي او (هم) د سوچه عقلونو خاوندانو ته پند (او عبرت) جوړ شي.

[۵۵] نو (ای پیغمبره!) ته صبر کوه (او خپل ثبات د لاسه مه ورکوه ځکه چې) یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده (ستا کامیابي واقع کېدونکي ده)، او ته د خپلو ګناهونو (نه بهتر کارونو) دپاره مغفرت (او بښنه) غواړه، او بېګا او سبا د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبیحات هم ضمیمه کوه.

[۵۶] یقینًا هغه کسان کوم چې د الله ﷻ په ایتونو کښې بدون د داسې دلیل (برهان) د درلودلو څخه جګړې کوي چې ورته ورغلی وي (او ثبوت لري)، د دوی په زړونو کښې نه دی مګر داسې تکبر دی چې دوی یې مقتضی ته (هیڅکله) رسېدونکي نه دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ته په الله ﷻ سره (د همدغې جگړې څخه) پنا وغواړه (واخله)، یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ اورېدونکی (او) لیدونکی دی (ستاسو خبرې اوري او کړه وړه مو ګوري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د [المؤمن:۲۳] ایت څخه راپه دېخوا الله ﷻ د موسی ﷺ او د پټ مؤمن سړي د قیصې وړاندې څخه څه عبرتي ټکي نازل کړي وه چې په نتیجه کښې بری د همدوی په برخه شوه او فرعونیان د برزخي عذاب په شمول په دنیا او آخرت کښې د عذابونو سره مخامخ شوه.

په دې ایتونو کښې د همدغې قیصې عبرتي درسونو ته اشاره شوې ده او په همدې اړه څه ارشادات هم نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په دې مقام کښې په خپل اُمت باندې څه مطالب قرائت کړه او پخپله هم څه ارشاداتو ته متوجه اوسه ترڅو په تا پسې د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان اقتداء وکړي، هغه دا چې:

۱ـ زمونږ د پلوه خپل اُمت ته ورسوه چې زمونږ نصرت د موسی ﷺ او پټ مؤمن سړي پورې خاص نه وه، بلکې:

الف: مونږ په دغې نژدې ژوند کښې هم د خپلو پیغمبرانو سره په خپلو-خپلو وختونو کښې نصرت کړی دی او په دېښمنانو باندې مو غلبه ورکړې ده، چې د ځینو قیصې مو په تاباندې نازلې کړې دي او د ځینو مو نه دي درنازلې کړې. همدارنګه مونږ د پیغمبرانو د ملګرو (مؤمنانو) سره هم نصرتونه کړي دي او د دېښمنانو د تعذیبونو څخه مو وخت په وخت نجاتونه ورکړي دي.

ب: په دې باندې علاوه زمونږ نصرت او مرسته د قیامت په ورځ هم یقیني ده او هیڅ شک شبهه پکښې نشته، یا په بل عبارت: مونږ به د خپلو پیغمبرانو او مؤمنانو سره په هغې سخته ورځ کښې هم نصرت وکړو او دېښمنان به یې د ذلت سره مخامخ کړو، په کومه کښې چې:

اول: حساب کتاب شروع شي او شهادت ورکوونکي ودرېږي او هر چا ته پکښې د خپلو کړو وړو سزا یا جزا پوره ورکوله کېږي.

دوهم: په کومه کښې به چې ظالمانو (کفارو) ته د هغوی معذرت وړاندې کول هیڅ ګټه ونه شي رسولی او هیڅ شفاعتګر به ورته مونده نه شي.

دریم: بلکې په هغوی باندې به په دغې ورځ کښې د الله ﷻ لعنت ورېږي او ساټ په ساټ به د ده ﷻ د رحمت څخه لرې کېږي او هم به ورته ناکاره کور (دوزخ) په أبدي توګه په برخه وي.

ج: نو مونږ به د همدغه خپل سنت په مطابق ستا او ستا د اُمتیانو (مؤمنانو) سره هم نصرت او کومک وکړو او دېښمنان به مو په دنیا او آخرت کښې د عذابونو او کړاوونو سره مخامخ کړو، تاسو ډاډه اوسئ او وارخطا کېږئ مه.

۲ـ ای پیغمبره! برسېره پر دې چې مونږ د پټ مؤمن په شمول بني اسرائیلو ته د فرعونیانو څخه نجات ورپه برخه کړ. موسی ﷺ ته مو څه نوري معجزې هم ورکړې ترڅو ورباندې د ده ﷺ قوم حقه لاره مونده کړي او د ضلالت څخه ورباندې بچ پاتې شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه مونږ موسی ﷺ ته یو کتاب (تورات) هم ورنازل کړ، چې د ده ﷺ د وفات څخه وروسته په بني اسرائیلو کښې د لارښود په حیث باقي پاتې شي. بې شکه دا کتاب (تورات) هدایت کوونکی کتاب وه او هم د پخو عقلونو خاوندانو دپاره سراسري ګټې او پند وه.

همدارنګه به مونږ تاته په خپلو معاندینو باندې په خارق العاده توګه بری درکړو او اسلام به ټولې دنیا ته ورسوو، او هم به مونږ تاته د قرآن کریم نزول بشپړ کړو او ستا په اُمت کښې به یې باقي پرېږدو ترڅو ستا د وفات څخه وروسته ترې هم مؤمنان د قیامت تر ورځې پورې د لارښود کار واخلي او عقیدةً او عملاً یې قبول کړي.

٣ـ ای پیغمبره! ته د څو نورو ارشاداتو تعمیل ته هم ادامه ورکړه ترڅو درپسې د قیامت تر ورځې پورې خپل اُمتیان اقتداء وکړي او خپل ځانونه د الله ﷻ د نصرت او کومک مستحقین جوړ کړي هغه دا چې:

الف: ته د هغو مشقتونو او مصیبتونو په تحمل باندې صبر کوه کوم چې تاته د دعوت او ابلاغ په لاره کښې رسېږي، نو خپل استقامت مه خرابوه او اضطراب مه خپلوه، او دا ځکه چې د الله ﷻ د نصرت د وعدې په شمول ټولې وعدې حقې دي، بریالیتوب او کامیابي هرومرو همدا ستا په برخه ده او په عاقبت کښې همدا ته منصور جوړېږې.

ب: د همدې لارې په اوږدو کښې چې ستا د پلوه کومه ګناه (خلاف الأَولی کار) صورت نیسي د هغې په هکله د خپل رب ﷻ څخه مغفرت غواړه چې د نصرت مخه دې ونه نیسي او یا یې د تاخیر سبب ونه ګرځي.

ج: په دې باندې علاوه، بېګا او سبا په دوامداره توګه د خپل رب ﷻ د حمد (ثناء) سره تسبیحات هم وایه او د خپل رب ﷻ په ذکر باندې مشغول اوسه، ترڅو ستا اُمتیان هم ستا په قدم لاړ شي او ستا تګلاره خپله کړي.

د: کوم کسان چې تا سره د الله ﷻ په ایتونو او احکامو کښې پرته د کوم سنده جګړې کوي چې نه عقلي دلیل په لاس کښې لري او نه ورسره نقلي دلیل شته چې د الله ﷻ د پلوه ورته ورغلی وي، هغوی هیڅکله ستا د نصرت مخه نه شي بندولی او د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

په هغوی باندې د ناحقه جګړو دپاره بل لامل نشته بلکې هغوی فقط تکبر او غرور نیولي دي چې زړونه یې ورباندې ډک دي، او د همدغه تکبر د کبله په غُصه دي. خو په یاد ولره چې هغوی به هیڅکله د تکبر مقتضی ته ونه رسېږي او ستا د دعوت مخنیوی به ونه کړی شي (زړونه به یې ډک پاتې شي).

هـ: د ذکرو شوو ناحقه جګړه کوونکو په مقابل کښې ته فقط په الله ﷻ سره پنا اخله او په همده ﷻ سره د هغوی د شرونو څخه امان غواړه. یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ اورېدونکی او لیدونکی دی. ستاسو ټولې خبرې اوري او ټول کړه وړه مو ګوري، نو د حکمت په مقتضی به درسره چال چلند وکړي.



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ ـ كه څوک وايي چې: الله ﷻ په ﴿ إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا ﴾ الآية- كښې خپلو پيغمبرانو ته د دنياوي نصرت وعده وركړې ده حال دا چې دوی د ګناه د ارتكاب څخه په عصمت كښې دي چې د وعدې د پوره كېدلو په وړاندې خنډ وګرځي، خو د دې سره-سره د تاريخ په اوږدو كښې ځينې پيغمبران د كفارو د لاسه شهيدان شوي دي؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا د دوی شهادت د نصرت د وعدې سره منافات نه لري؟، د دغې پوښتنې لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴾ [البقرة:٨٧] يعنې اى يهودانو! ايا نو هر كله چې تاسو ته په هغه شي سره پيغمبر درغلی دی كوم چې ستاسو نفسونو نه خوښاوه، نو تاسو د هغه د قبول څخه تكبر كړی دی، نو يوه ډله مو د هغوی تكذيبه كړې ده او يوه ډله وژنئ؛ (يوه ډله مو وژلې ده).

ب: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ قَتَلَهُ نَبِيٌّ أَوْ قَتَلَ نَبِيًّا»[١] يعنې د قيامت په ورځ به د عذاب د حيثه په خلكو كښې داسې سړی ډېر سخت وي چې پيغمبر وژلی وي او يا يې پيغمبر شهيد كړی وي (چې د پيغمبر قاتل يا مقتول وي).

ج: د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې بني اسرائيلو په يوه ورځ كښې اويا كسه پيغمبران شهيدان كړه[٢]، او بيا يې خپل عادي كارونه كول (تا به ويل چې هيڅ يې نه دي كړي).

د: آبو سفيان د هرقل پاچا په وړاندې وويلې چې: «تَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالًا يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ»[٣] يعنې زمونږ او د محمد ﷺ ترمنځ جنګ د بوقو مثال لري چې نوموړی زمونږ د پلوه مطلب ته رسېږي او مونږ د هغه طرفه مطلب حاصلوو (كله مونږ غلبه مونده كوو او كله هغه).

مونږ وايو چې: د پورتنۍ پوښتنې دپاره مفسرينو كرامو[٤] زښت ډېر جوابونه كړي دي، خو كوم جواب چې بهتر برېښي هغه دا دی چې: د شهادت په صورت كښې د پيغمبرانو د نصرت وعده په دوه وو ټكو كښې نغښتې ده: يو دا چې د دوی استقامت او ثبات ته د نقصان او كمزورۍ رسېدلو احتمال نشته، خو د دې سره-سره د شهادت لوړ مقام ترلاسه كوي. او بل دا چې الله ﷻ د پيغمبرانو قاتلين بې انتقامه نه پرېږدي، په همدې بنياد باندې يې د يحيى ﷺ په قاتلينو باندې بخت نصر كافر مسلط كړ چې بېخ او بنياد يې ور ورو ويست[٥].

د دې جواب د تائيد دپاره لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٧٥
(٢) تفسير ابن كثير ج١ ص٣٩٧
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص٩٧
(٤) تفسير الطبري ج٢٤ ص٤٧، التفسير الكبير ج٢ ص٧٦؛ تفسير ابن كثير ج٤ ص٨٣
(٥) المحرر الوجيز ج١٤ ص١٤٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[محمد:٧] يعنې ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! که تاسو د الله ﷻ (د دین) سره نصرت وکړئ نو الله ﷻ به ستاسو سره نصرت وکړي او قدمونه به مو ثابت وګرځوي (ایمان به مو محکم کړي).

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ يَظْلِمُنِي وَخُذْ مِنْهُ بِثَأْرِي»[1] يعنې ای الله! او ما ته په هغه چا باندې نصرت راکړې کوم چې په ماباندې یې ظلم کړی دی او زما انتقام ترې واخلې.

دریم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې عبد الله بن عمرو بن حرام ﷺ (د أحد په غزا کښې) د شهادت څخه وروسته خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: «يَا رَبِّ تُحْيِينِي فَأُقْتَلُ فِيكَ ثَانِيَةً»[2] يعنې ای ربه! ته ما بېرته ژوندی کړې چې ستا په لاره کښې دوهم ځل ووژلی (شهید) شم.

څلورم: کله چې حرام بن ملحان ﷺ د شهادت غشی په سینه باندې وخوړ، نو په الله أکبر سره یې اواز اوچت کړ او بیا یې وویل چې: «فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ»[3] يعنې د کعبې شریفې په رب ﷻ مې د سوګند وي چې زه کامیاب شوم (او نصرت مې ملګری شو).

پنځم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د یوه جنتي سړي د خولې څخه حکایت کړی دی چې: «أَسْأَلُكَ أَنْ تَرُدَّنِي إِلَى الدُّنْيَا فَأُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ عَشْرَ مَرَّاتٍ»[4] يعنې یو جنتي به الله ﷻ ته سوال وکړي چې: ای زما ربه! زه ستا څخه غواړم چې ما بېرته دنیا ته ورتاو کړې، ترڅو ستا په لاره کښې لس ځله شهید شم (نو شهادت هم یو ډول نصرت دی چې درجات ورباندې لوړېږي).

شپږم: همدغه الهي نصرت یوه پښتون شاعر هم په خپل یوه شعر کښې رانغښتی دی چې[5]:

د قیامت په ورځ به یې بیا له تا قربان کړم :: چې صورت مې خدای معاد کړ په محشر بیا

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ذکر شوي سوال په ارتباط برسېره په ورانديني جواب باندې څه نور جوابي وضاحتونه ورانديې هم د الله ﷻ په توفیق تېر شوي دي، لکه د [آل عمران:١٣٩_ ١٦٥] او د [الصافات:١٧٢_ ١٧٣] ایتونو لاندې. نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## أشهاد څوک دي؟

٢_ په ﴿ وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ ﴾ کښې د "أَشْهَاد" کلمه د "شَهِيد" جمعه ده، چې وړاندې په [الزمر: ٦٩] ایت کښې په "الشُّهَدَاء" سره جمعه شوې ده، دا کلمه مونږ هلته د الله ﷻ په توفیق ښه پوره شرحه کړې ده، چې ټولو شهادت ورکوونکو ته شامله ده لکه پیغمبران، پرښتې او داسې نور؛ نو بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٢٠١
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٣٠؛ سنن ابن ماجه ص٢٠١
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٣٩٢
(٤) سنن النسايي ج٢ ص٦١
(٥) د عبد الرحمن مومند ديوان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۳ـ په ﴿ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په دې ایت کښې نبي کریم ﷺ مامور شوی دی چې د خپلې ګناه (خلاف الآولی کار) د ارتکاب څخه مغفرت وغواړې، نو د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان عموماً او ټول مشران خصوصاً مکلفیت لري چې د خپلو ګناهونو د مغفرت غوښتنه وکړي ترڅو دوی ته د فلاح او کامیابۍ دروازه پرانستې پاتې وي. همدا موضوع د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال:۳۳] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې ښه پوره شرحه شوې ده.

ب: د نبي کریم ﷺ د استغفار په هکله زښت ډېر احادیث روایت شوي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ»[۱] یعنې زه په هره ورځ کښې سل کرته د الله ﷻ څخه بښنه غواړم.

دوهم: عبد الله بن عمر ﷺ وایي چې: «كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ فَسَمِعْتُهُ اسْتَغْفَرَ مِائَةَ مَرَّةٍ»[۲] یعنې زه د نبي کریم ﷺ په حضور کښې ناست وم، نو ما ترې واورېدل چې یو سل کرته یې د الله ﷻ څخه د مغفرت غوښتنه وکړه.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَاللهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً»[۳] یعنې په الله ﷻ سوګند دی چې زه د الله ﷻ څخه په یوه ورځ کښې د اویا کرتو څخه زیات مغفرت غواړم او توبه ورته وباسم.

ج: په ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴾ کښې د "سَبِّحْ" کلمه د "تَسْبِيح" څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام کښې ترې ځینو علماء کرامو[۴] لمونځونه مراد کړي دي، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په اطلاق سره پرېښودله شي ترڅو ټولو تسبیحاتو ته شمولیت ولري، برابره خبره ده چې په لمانځه کښې صورت نیسي او که په غیر د لمانځه څخه.

د: اما په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴾ دواړه کلمې په بل ایت کښې داسې تفسیرې شوې دي چې: ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴾ [ق:۳۹] یعنې ای پیغمبره! او د لمر خاته څخه وړاندې او هم د لمر پرېواته څخه وړاندې (بلکې په ټولو اوقاتو کښې او په هر حال) د خپل رب ﷻ د حمد (ثناء) سره تسبیحات ضمیمه کوه.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ﴿ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ ﴾ کښې د "بَالِغِيهِ" بارز ضمیر خو په ﴿ إِن فِي صُدُورِهِمْ

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۴۸
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۳۳
(۴) زاد المسیر ج۷ ص۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِلَّا كِبْرٌ ﴾ کښې "کِبْرٌ" ته راجع دی، يعنې کفار هغه تکبر ته رسېدونکي نه دي کوم چې ورسره ضميمه دی او په زړونو کښې ورته قرار لري. نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغسې مضمون پورته کول صحت لري، حال دا چې هغوی تکبر ته لا پخوا رسيدلي دي؟

مونږ وايو چې: دلته په عبارت کښې مضاف مقدر دی چې ظهور يې داسې صورت نيولی شي چې: "وَمَا هُمْ بِبَالِغِي مُقْتَضَاهُ" يعنې کفار د خپل تکبر مقتضی ته رسېدونکي نه دي. د مثاله په توګه:

الف: هغوی د تکبر د کبله غوښتل چې هر يوه ته اسماني کتاب ورکړی شي. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴾ [المدثر:٥٢] يعنې بلکې د مشرکانو هر يو سړی غواړي چې (د نبي کريم ﷺ غوندې) ورته خورې کړی شوې صحيفې ورکړی شي (او وحې ورباندې نازله شي).

ب: د تکبر د کبله يې غوښتل چې د فقيرانو مومنانو څخه دې د نبي کريم ﷺ مجالس خالي کړی شي چې مونږ د هغوی سره په ناسته پاسته شرمېږو.

الله ﷻ د همدغې غوښتنې په رد کښې نبي کريم ﷺ مخاطب کړی دی چې: ﴿ وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ ﴾ [الکهف:٢٨] يعنې ای پيغمبره! ته خپل ځان د هغو مومنانو (فقيرانو) سره کلک کړه (او د خپلو مجالسو څخه يې مه شړه) کوم چې سبا او بېګا خپل رب ﷻ بلي (او په اخلاص سره يې عبادت کوي).

ج: د هغوی د تکبر مقتضی دا هم وه چې په اسلام باندې غلبه مونده کړي او د ترقی مخه يې بنده کړي. الله ﷻ د هغوی د خولو څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسْمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَٱلْغَوْاْ فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ [حم السجدة:٢٦] يعنې او کفار (خپلو پيروانو ته) وايي چې: دغه قرآن کريم ته غوږ مه نيسئ او د قرائت په وخت کښې يې شور کوئ، شايد چې تاسو ورباندې غلبه مونده کړئ او د قبول مخه يې بنده کړئ.

﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلْمُسِيٓءُ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأَتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ
يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا
وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ
فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾ هُوَ ٱلْحَىُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ
ٱلدِّينَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٥﴾ قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِىَ ٱلْبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّى وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۵۷] د اسمانونو او ځمکو پیدا کول (د مرګ څخه وروسته) د خلکو د (بیا) پیداکولو څخه ضرور ډېر لوی دي. مګر اکثره خلک (مشرکان) نه پوهېږي (چې د هغو ډ پیدا کولو څخه انکار نه کوي او د خلکو د بیا پیدا کولو څخه انکاري دي).

[۵۸] او ړوند او بینا سره یو برابر نه دي، او (نه) هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او صالح عملونه یې کړي دي او نه بدکاره کس (سره برابر دي. ای خلکو!) تاسو (د دغو دلایلو څخه) ډېر لږ پند اخلئ.

[۵۹] یقینًا د قیامت ورځ ضرور راتلونکې ده چې هیڅ شک پکښې نشته، مګر اکثره خلک (وربانديې) ایمان نه راوړي (او دلایل یې د پښو لاندې کوي).

[۶۰] او (ای خلکو!) ستاسو رب ﷻ (تاسو ته) وایي (او امر درته کوي) چې تاسو خاص زما عبادت وکړئ (او خاص زما څخه سوال وکړئ) چې تاسو ته ثوابونه درکړم (او اړتیاوې مو پوره کړم). یقینًا هغه کسان کوم چې زما د عبادت (او زما د سوال جواب) څخه تکبر کوي ډېر ژر به دوزخ ته په داسې حال کښې ورداخل شي چې د ذلت (او سپکوالي) درلودونکي به وي.

[۶۱] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې شپه (تیاره) ګرځولې ده چې تاسو پکښې ارام وکړئ، او ورځ (یې درته) روښانه (ګرځولې ده ترڅو پکښې تاسو د حلالې روزۍ تالاش وکړئ). بې شکه الله ﷻ په خلکو بانديې د لوی فضل خاوند دی مګر اکثره خلک شکرګزاري نه کوي (او خپل انقیاد سوچه نه جوړوي).

[۶۲] (ای خلکو!) دغه الله ﷻ (چې د ذکرو شوو صفاتو درلودونکی دی) ستاسو رب دی چې د هر شي پیداکوونکی (هم) دی، (په حقه) معبود نشته مګر همدې ﷻ دی (او بس)، نو تاسو (د دغو دلایلو سره-سره) څنګه اړولې کېږئ (چې سوچه عبادت یې نه کوئ).

[۶۳] (ای پیغمبره!) په دغه (عجیب) ډول سره هغه کسان (د حقاني دلایلو څخه) اړولی کېږي کوم چې دوی دي چې د الله ﷻ په ایتونو سره انکار کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۴] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ځمکه يې ستاسو دپاره ارامګاه ګرځولې ده (چې سکونت ورباندې کوئ) او اسمان يې (درته) چت (ګرځولی دی)، او هم يې ځېرې درکړې دي نو ستاسو ځېرې يې ښايسته جوړې کړې دي، او تاسو ته يې د پاکيزه (او سپېڅلو) شيانو څخه روزي هم درکړې ده.

(ای خلکو!) دغه الله ﷻ ستاسو (حقيقي) رب دی (تاسو خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ)، نو د ټولو عالمونو پالونکی (او روزونکی) الله ﷻ برکتناک دی (هر خير د همده ﷻ په اختيار کښې دی).

[۶۵] همدا (الله ﷻ) همېشه ژوندی (او باقي) دی، (په حقه) معبود نشته مګر يوازې همدی ﷻ دی، نو تاسو يوازې همدی ﷻ په داسې حال کښې وبلئ (عبادت يې وکړئ) چې د خپلو غاړو د اېښودلو ورته سوچه ګرځوونکي ياست. (او دا ځکه چې:) ټولې ستاينې خاص الله ﷻ لره دي چې د ټولو عالمونو پالونکی دی.

[۶۶] (ای پيغمبره! خلکو ته) ووايه چې: يقيناً زه د دې څخه منعه کړی شوی يم چې د هغو (بوتانو) عبادت وکړم کوم چې تاسو يې د الله ﷻ څخه په غير بلئ (او عبادت يې کوئ، البته) کله چې ماته د خپل رب ﷻ د پلوه واضحه دلايل راغله، او ماته امر کړی شوی دی چې زه خاص رب العالمين ته (په اخلاص) خپله غاړه کېږدم.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنې متصل ايت کښې دې ته اشاره شوې وه چې کفار (جګړه ماران) تکبر نيولي دي چې د الله ﷻ په ايتونو کښې په ناحقه جګړې کوي. په دې ايتونو کښې د يو پلوه د هغوی د جګړو څو مثالونه ښودلی شوي دي، او د بله پلوه د هغوی په جګړه مارۍ او تکبر باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! که بالفرض ناحقه جګړه ماران ړانده تکبر نه وی نيولي نو دوی به د خلکو د بيا راژوندي کولو په موضوع کښې جګړې نه وی کړې او دا ځکه چې:

١ــ د اسمانونو او ځمکو پيداکول د مشرکانو په نزد هم د خلکو د پيداکولو څخه لوی دي او کامل قدرت ته اړتيا لري.

ځرنګه چې هغوی په دې اعتراف کوي چې اسمانونه او ځمکې الله ﷻ پيدا کړي دي، نو بايد چې د خلکو په بيا پيداکولو باندې اعتراف وکړي، چې لوی قدرت ته اړتيا نه لري او د ابتداء څخه اعاده هم اسانه ده. مګر اکثره خلک نه پوهېږي او د ذکر شوي ځرګند استدلال څخه ګټه نه پورته کوي بلکې په ناحقه جګړو کښې اخته دي.

٢ــ په دې باندې علاوه د قيامت قيام ضروري هم دی ترڅو د الله ﷻ عدل ځرګند او په ډاګه شي که نه نو:

الف: په زړه باندې ړوند به په زړه باندې د بينا سره يو برابر وګرځي، حال دا چې دوی دواړه سره يو برابر نه دي.

ب: هغه کسان به چې ايمان يې راوړی دی او نېک اعمال يې کړي دي، د هغه کس غوندې جوړ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي د کوم چې نه عقیده سمه وي او نه عمل، حال دا چې هغوی د دغه غونډې نه شي ګرځېدلی او لیاقت نه لري چې دواړه یو برابر شي.

۳ـ کفار د بوتانو په هکله په ناحقه جګړې کوي چې دوی د عبادت مستحق دي، که بالفرض رښتیا همداسې وی نو اقلاً د همدې غرض دپاره خو به یې دعوت چلولی شوی چې زمونږ عبادت وکړئ.

حال دا چې: ـای خلکو!ـ ستاسو رب ﷻ تاسو ته امر کوي او وایي چې:

الف: تاسو زما عبادت وکړئ چې درته قبول یې کړم او زما څخه خپل احتیاجات وغواړئ چې درپوره یې کړم. ایا بوتان خپلو عابدینو ته د اجابت وعده ورکولی شي؟.

ب: هغه کسان به ضرور هرومرو دوزخ ته داخل شي کوم چې زما د عبادت او زما د سوال څخه ډډه کوي او تکبر خپلوي.

۴ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې شپه توره تیاره ګرځولې ده ترڅو پکښې تاسو ارام وکړئ، او ورځ یې درته روښانه پیدا کړې ده چې تاسو پکښې لیدل کولی شئ او د کارو بار زمینه درته پکښې برابرېږي.

یقینًا چې الله ﷻ په خلکو باندې د لوی فضل خاوند دی خو اکثره خلک ناشکري کوي او د هغو شیانو عبادت کوي کوم چې نه په ورځ کښې تصرف کولی شي او نه په شپه کښې.

۵ـ ای خلکو! دغه الله ﷻ ستاسو رب دی چې د هر شي پیداکوونکی دی، په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی او بس. نو تاسو کوم لور ته اړولی کېږئ؟ چې د بوتانو عبادت کوئ حال دا چې هغوی نه په څه شي کښې تصرف کولی شي او نه کوم شي ته وجود ورکولی شي.

ای پیغمبره! په دغسې عجیب ډول اړولو سره هغه کسان د حقې لارې څخه اړولی کېږي کوم چې د الله ﷻ د ایتونو څخه د استمرار په توګه انکار کوي او عنادًا ترې غاړې غړوي، لکه چې په څېونو باندې یې چا قبضه لګولې وي.

۶ـ ای خلکو! د الله ﷻ د حق معبودیت څه نور دلایل هم ولولئ:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې ځمکه ارامګاه ګرځولې ده چې تاسو پکښې استوګنه وکړئ، که بالفرض الله ﷻ د ځمکې اضطراب او تزلزل نه وی ختم کړی نو تاسو به ورباندې ارام نه وی کړی.

ب: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې اسمان ښه لوړ چت جوړ کړی دی او د راغورزېدلو څخه یې ساتلی دی چې تاسو لاندې کړي، او هم یې دغه چت ستاسو دپاره په ستورو، لمر او سپوږمۍ باندې روښانه کړی دی چې ستاسو ژبنتې ډېرې ګټې وتې پکښې نغښتې دي.

ج: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې خاصې څېرې درکړې دي چې په همدغو ښایسته څېرو باندې یې تاسو ډولې ګرځولې یاست.

د: په دې باندې یې علاوه تاسو ته ډېر پاکیزه او سپېڅلې شیان در روزي کړي دي چې خوراک او څښناک ترې وکړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: د دغو کارونو کوونکی الله ﷻ ستاسو حقیقي رب دی، نو ایا د الله ﷻ څخه په غیر نور معبودان د ذکرو شوو کارونو د جملې څخه کوم یو کار کولی شي؟

و: ای خلکو! نو د بوتانو په عبادت کښې څه خیر نشته، فقط الله ﷻ برکتناک دی چې د ټولو عالمونو رب دی او د ټولو ارتیاوې پوره کوي.

ز: همدغه الله ﷻ ازلي او ابدي او همېشه باقي دی چې هیڅ زوال ورباندې نه شي ورتلای.

ح: همدغه الله ﷻ په حقه معبود دی چې واقعاً د عبادت لایق نشته مګر یوازې همدی ﷻ دی.

ط: نو ای خلکو! تاسو د ناحقه جګړو څخه خپل ځانونه بچ وساتئ او خاص همده ﷻ ته خپل انقیاد سوچه وګرځوئ او د شرکیاتو څخه ځانونه بچ کړئ. او دا څکه چې: ټول حمدونه او ثناګانې په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې د ټولو عالمونو مربي او د احتیاجاتو یې پوره کوونکی دی، یوازې همدی ﷻ د ستاینې وړ دی او بس.

۷_ ای پیغمبره! په پای کښې یو ځل بیا خلکو ته ووایه او خپل دریځ ورته اعلان کړه، چې:

الف: کله چې ماته د خپل رب ﷻ د پلوه واضحه دلایل رانازل شوه او په حقه پیغمبر وګرځولی شوم نو زه د دې څخه منعه کړی شوی یم چې زه د هغو بوتانو عبادت وکړم د کومو چې تاسو عبادت کوئ او په عاجزۍ سره یې بلئ؛

ب: زه په دې مامور شوی یم چې خاص د خپل رب ﷻ دپاره خپل انقیاد سوچه وګرځوم چې زما په شمول د ټولو عالمونو رب دی او د ټولو د احتیاجاتو او ارتیاوو پوره کوونکی دی.

دا زما دریځ دی، زه په همدې دریځ باندې کلک ولاړ یم، تاسو ته په کار دي چې زما د دریځ ملاتړ او پیروي وکړئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ الآية- مضمون په بل ایت کښې داسې خای په خای شوی دی چې: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْۦِىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ [الأحقاف:۳۳] یعنې ایا مشرکان دې ته نه ګوري چې هغه الله ﷻ چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي او په پیدا کولو سره یې ستومانه (ستړي) شوي هم نه دي، په دې باندې قادر دی چې مړي راژوندي کړي او د قبرونو څخه یې راپورته کړي.

## ایا دلته دجال ته اشاره شته؟

۲_ ځینې خلک په ذکر شوي ایت شریف کښې د ﴿ ٱلنَّاسِ ﴾ کلمه په هغه "دجال" سره تفسیروي کوم چې د یهودانو څخه دی او د قیامت په قرب کښې به راڅرګند شي، نوموړی به د مهدي علیه الرحمه سره په جنګ وي چې عیسی ﷺ به د اسمان څخه رابښکته شي او په قتل به یې ورسوي[1].

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۸

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



نو په دې تفسير سره به يې حاصل داسې راوځېږي چې: د اسمانونو او ځمکو پيدا کول د دجال د پيدا کولو څخه ډېر لوی دي مګر اکثره خلک (يهودان) نه پوهېږي چې افتخار ورباندې کوي. که څه هم د "دجال" ظهور په احاديثو کښې په اثبات رسېدلی دی چې ځينو مفسرينو کرامو د نوموړي مربوط احاديث راغونډ کړي دي(۱)، مګر دغه ډول تفسير مونږ ته په دې مقام کښې بعيد وبرېښېده چې د ايت شريف سره چندان ارتباط نه لري، نو ځکه مو خوښ نه کړ.

## دعاء څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱدۡعُونِيٓ ﴾ کلمه د "دُعَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په دوه ډوله سره تفسيره کړې ده:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول ځينې علماء کرام وايي چې: دلته "دُعَاء" د عبادت معنی ورکوي(۲). يعنې ای زما بندګانو! تاسو عقيدةً او عملاً زما عبادت وکړئ چې تاسو ته اجرونه او ثوابونه درکړم.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې: دغه کلمه "دُعاء" په دې مقام کښې د سوال کولو او غوښتلو په معنی سره ده(۳). يعنې ای زما بندګانو! تاسو د ناتوانه بوتانو څخه سوال مه کوئ او څه ترې مه غواړئ بلکې زما څخه د خپلو احتياجاتو غوښتنه وکړئ چې احتياجات مو درپوره کړم.

## تبصره

۴ـ مونږ ته داسې ښکاري ـ والله ﷻ أعلم ـ چې ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري، نو په کار دي چې د ﴿ ٱدۡعُونِيٓ ﴾ کلمه د هغه "دُعَاء" څخه مشتقه وګڼله شي کومه چې د ما يطلق علي الدعاء (هر هغه شی چې د دعاء اطلاق پرې کېږي) په ملحوظ ذکرو شوو دواړو تفسيرونو ته شموليت لري. د ښه وضاحت دپاره د نبي کريم ﷺ لاندې څو احاديث ولولئ:

الف: يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ»(۴) يعنې دعاء (سوال) عبادت دی. او بيا يې ذکر شوی ايت شريف د استشهاد په توګه ولوست.

ب: «مَنْ لَمْ يَدْعُ اللهَ سُبْحَانَهُ غَضِبَ عَلَيْهِ»(۵) يعنې هرڅوک چې الله ﷻ نه بلي (سوال ترې نه کوي) نو په هغه باندې الله ﷻ په غضب کېږي.

ج: «سَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ انْتِظَارُ الْفَرَجِ»(۶) يعنې تاسو د الله ﷻ څخه فضل وغواړئ او سوال ترې وکړئ او دا ځکه چې الله ﷻ دا خوښوي چې سوال ترې وکړی شي،

---

(۱) تفسير الخازن ج۵ ص۳۶۰؛ تفسير البغوي ج۴ ص۱۰۲؛ الدر المنثور ج۷ ص۲۹۴

(۲) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۲۷؛ الدر المنثور ج۷ ص۳۰۱

(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۸۵

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۰

(۵) سنن ابن ماجه ص۲۷۱

(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۲۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بهتر عبادت چې دی پراخې ته انتظار ویستل دي. یا په بل عبارت: تاسو د سوال په قبول کښې عجله (تادي) مه کوئ او ورته منتظر اوسئ چې دغه انتظار په عبادت سره محاسبه کېږي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: څه وجه ده چې د الله ﷻ څخه سوال کول عبادت ګڼلی کېږي او د بنده څخه سوال کول عبادت نه دی؟

مونږ وایو چې: وړاندې د [البقرة: ۲۱] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي چې عبادت په شریعت کښې د هغه فعل یا قول څخه عبارت دی کوم چې په کاملې تواضع سره د کامل ډار او کامل اُمید په بنیاد صورت ونیسي. او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ څخه سوال کول د ذکر شوي کیفیت څخه استازیتوب کوي.

اما د بنده یا غیر الله څخه سوال کول د ذکر شوي کیفیت څخه استازیتوب نه کوي او که څوک ورته د همدغه کیفیت په ملحوظ صورت ورکړي نو هغه ورباندې سمدستي مشرک ګرځي، لکه چې مشرکان د خپلو بوتانو په سبب مشرکان ګرځېدلي دي.

## یادونه

۶ـ د الله ﷻ په توفیق مونږ د [البقرة: ۱۸۶] ایت لاندې د دعاء (سوال) په ارتباط زښت ډېر خوندور مطالب لیکلي دي، لکه:

الف: کومه یوه دعاء (سوال) بنه قبلېږي، او د قبول اداب یې څه دي.

ب: الله ﷻ د بنده سوال په مختلفو شکلونو کښې قبلوي.

ج: سوال کله د حال په ژبه او کله د قال په ژبه صورت نیسي.

د: کوم کوم شیان د سوال د قبول دپاره موانع جوړېږي.

ه: د الله ﷻ په نومونو کښې کوم یوه نامه ته د "الإسم الأعظم" لقب ورکړی شوی دی.

نو هیله ده چې په دې مقام باندې د ښه پوهېدلو دپاره هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

﴿هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوٓاْ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾﴾

[۶۷] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د خاورو څخه پیدا کړي یاست، بیا یې د نطفې څخه، بیا یې د پرنډ (نه بهېدونکې) وینې څخه، بیا تاسو (د رحمونو څخه) په داسې حال کښې بهر راوباسي چې تاسو ماشومان یاست، (او) بیا (تاسو باقي پرېږدي) ترڅو تاسو قوت ته ورسېږئ (او) بیا (مو هم باقي پرېږدي) ترڅو تاسو بوډاګان وګرځئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ستاسو لا ځيني هغه کسان دي چې (د دغو مراحلو د تېرولو څخه) وړاندې وفات شي.
او (ای خلکو! الله ﷻ تاسو د دې دپاره د استمرار په توګه په دغو مرحلو سره پيدا کوي) ترڅو تاسو ټاکلې نېټې (د قيامت قيام) ته ورسېږئ. او شايد چې تاسو د عقلونو څخه کار واخلئ (او د بيا ژوندي کېدلو په مرحله باندې هم عقيده خپله کړئ).

[۶۸] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ژوندي کول کوي او (هم) مړه کول کوي. نو کله چې د يو کار (کول) فيصله کړي نو يقينًا هغه ته وايي چې: شه!، نو هغه شي، (هر ډول امر چې ورته وکړي نو هماغسې کېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې څه آفاقي دلايلو ته اشاره شوې وه چې په ناحقه جګړمارانو د پښو لاندې کړي وه، او په دې ايتونو کښې څه انفسي دلايلو ته اشاره کېږي چې هغوی يې د پښو لاندې کوي او تکبر ورباندې خپلوي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې څه انفسي دلايل قرائت کړه ترڅو په ناحقه جګړماران د جګړو څخه لاس واخلي او د توحيد عقيده خپله کړي هغه دا چې:

١ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو پيدايښت ته يې په متعددو مرحلو سره صورت ورکړی دی، د مثال په توګه:

الف: الله ﷻ تاسو د آدم ﷺ په اعتبار سره د خاورو څخه پيدا کړي ياست، او همدارنګه ستاسو د مور او پلار نشوء او نما د غذا او خوراکونو څخه منشاٴ اخلي چې په نتيجه کښې ترې ستاسو تومنه (توخم) موجوديت خپلوي.

ب: بيا الله ﷻ تاسو ته د نطفې څخه شتون درکړی دی چې ستاسو دپاره د تومنې (توخم) مثال لري، البته کله چې دغه نطفه تر څه وخته پورې ستاسو د ميندو په رحمونو کښې قرار ولري.

ج: بيا الله ﷻ د همدغې نطفې څخه پرنډ (نه بهېدونکې) وينه جوړوي او همدلته ورباندې څو نورې مرحلې هم تېروي ترڅو د جنين مرحلې ته ورسېږئ.

د: بيا الله ﷻ تاسو د ماشومانو په شکل د مورګانو د رحمونو څخه په قدرتي توګه بهر ته راوباسي او په څمکه کښې مو اوسوي.

هـ: بيا الله ﷻ تاسو ته بقاء درکوي ترڅو تاسو په ورو ورو خپل قوت ته ورسېږئ او د زلميتوب خاوندان وګرځئ.

و: بيا تاسو ته نور اضافه عمر هم در اوږدوي ترڅو تاسو بوډاګان جوړ شئ.

٢ـ ای خلکو! بيا ستاسو ځينې کسان د قوت (زلميتوب) څخه وړاندې او ځينې کسانو مو د بوډاتوب څخه وړاندې د مرګ سره مخامخ کېږي او مړه کېږي. يا په بل عبارت: ستاسو ځينې کسان د يوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته د ورتېرېدلو څخه وړاندې خپل موجوديت د لاسه ورکوي او وروستنۍ مرحلې ته نه رسېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای خلکو! الله ﷻ ستاسو مرحلوي پیداکولو ته ادامه ورکوي ترڅو تاسو تر ټاکلې نېټې پورې ورسېږئ او د قیامت تر ورځې پورې شتون ولرئ. او هم ترڅو تاسو د خپل موجودیت په هره مرحله کښې د عقل څخه کار واخلئ او په ناحقه جګړو اخته نه شئ، او خپل رب ﷻ وپېژنئ هغه دا چې:

۴_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، او هم یې تاسو ته په مرحلوي توګه موجودیت درکړی دی، او په هر شي باندې د کامل قدرت خاوند دی. نو کله چې د یوه کار په هکله څه فیصله وکړي نو فقط همدومره ورته ووایي چې: وشه، نو همغه کار سمدستي د فیصلې مطابق موجود شي او هیڅ ځنډ پکښې نه پېښېږي.

یا په بل عبارت: په هر ډول سره یې چې فیصله شوې وی په همغه ډول سره موجودېږي، برابره خبره ده چې په مرحلوي توګه وي او که په غیر مرحلوي توګه.

## توضیحات

۱_ په ﴿ هُوَ ٱلَّذِی خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ الآية- کښې د بنیادم مرحلوي موجودیت ته اشاره شوې ده ترڅو د حشر منکران د مرګ څخه وروسته د بلې مرحلې په راتګ باندې هم عقیده خپله کړي، د دغو مرحلو بیان په [الحج:۵] ایت کښې مفصل نازل شوی دی.

## څو نُکات

۲_ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ کښې د "طِفْل" کلمه اسم جنس ده خو دلته ترې اطفال مراد دي[۱].

ب: په ﴿ ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمْ ﴾ کښې د "ل" توری په مقدر فعل پورې تعلق نیسي چې مونږ ترې په "يُبْقِيكُمْ" سره تعبیر کولی شو. یعنې بیا تاسو د ماشومتوب په حال کښې باقي پرېږدي ترڅو تاسو قوت او زلمیتوب ته ورسېږئ.

ج: همدارنګه په ﴿ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخًا ﴾ کښې هم د "ل" توری د "يُبْقِيكُمْ" په کلمه پورې تعلق نیسي چې په عبارت کښې ورته مقدره ده. یعنې الله ﷻ بیا تاسو ته نوره بقاء هم درکوي ترڅو تاسو بوډاګان وګرځئ.

د: په ﴿ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ﴾ کښې د ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ کلمه د وړاندېنیو ټولو مراحلو سره پیوستون لري. یعنې او ستاسو ځینې کسان د هغه څخه وړاندې وفات کېږي چې بلې مرحلې ته ورتېر شي.

هـ: په ﴿ وَلِتَبْلُغُوٓاْ أَجَلًا مُّسَمًّى ﴾ کښې د "ل" توری په مقدرې جملې پورې تعلق لري چې په "يَفْعَلُ اللهُ تِلْكَ الأَفْعَالَ" سره ترې مونږ تعبیر کولی شو، دا د یو پلوه.

و: او د بله پلوه که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ أَجَلًا مُّسَمًّى ﴾ څخه د مرګ نېټه مراده کړې ده[۲]،

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۸۴

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۰۴؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر بهتره دا ده چې دلته د قیامت د قیام وخت مراد کړی شي[۱].

لنډه دا چې دغه جمله په ﴿ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ جمله باندې عطفه ده چې حاصل يې داسې راخېژي چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو په مرحلوي توګه پیدا کوي او همدغو مرحلوي پیدا کولو ته مو د استمرار په توګه ادامه ورکوي ترڅو تاسو تاکلي وخت (د قیامت قیام) ته ورسېږئ او تر هغه مو نسل ختم نه شي، نو هلته به بیا هرڅوک د خپلو کړو وړو د سزا یا جزا سره پیوسته شي.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِيٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن نَّدْعُواْ مِن قَبْلُ شَيْـًٔا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ تَفْرَحُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ فَإِذَا جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾

[۶۹] ایا ته هغو کسانو ته نه ګورې کوم چې د الله ﷻ په ایتونو کښې (په ناحقه) جګړې کوي (ترڅو ته تعجب وکړې چې) هغوی (د حقایقو څخه) څنګه اوړلی کېږي؟

[۷۰] (هغوی) هغه کسان (دي) کوم چې (د قرآن کریم په شمول) د الله ﷻ هر کتاب ته د دروغو نسبت کوي، او هغه شریعتونه هم تکذیبوي په کومو سره چې مونږ (په هره زمانه کښې) خپل پیغمبران لېږلي دي. نو ډېر ژر به هغوی پوه شي (چې تکذیب یې غلط دی).

[۷۱] (البته دا) په هغه وخت کښې کله چې د هغوی په غاړو کښې غوراښونه او زنځيرونه (اچول شوي) وي (او په عین حال کښې) راښکودلی کېږي.

[۷۲] (البته په بل شي کښې نه بلکې) په ډېرو ګرمو (خوټېدونکو) اوبو کښې (راکشول کېږي او) بیا په اور کښې سوزولی کېږي (د یوه عذاب څخه بل عذاب ته انتقالېږي).

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۲۸۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٧٣] (او) بیا ورته (د تخجیل دپاره) وویلی شي چې (ستاسو) هغه معبودان چرته دي کوم به چې تاسو (د الله ﷻ سره په عبادت کښې) شریکول.

[٧٤] (کوم چې تاسو) د الله ﷻ ځخه په غیر (خپل معبودان ګرځولي وه، نو هغوی دروبولئ چې نجات درکړي).

کفار به (په جواب کښې) وایي چې: هغوی زمونږ ځخه (د استفادې په ملحوظ) ورک شوه، (د هغوی د لاسه هیڅ پوره نه دي) بلکې مونږ وړاندې (په دنیا کښې) نه وو چې د څه (ګټور) شي بلنه (او عبادت) مو کړی وي.

(ای پیغمبره!) په دغه ډول سره الله ﷻ کافران ګمراه کوي (چې په لوی لاس خپل ځانونه په عذاب اخته کوي).

[٧٥] (دا) به هم ورته وویلی شي چې: ای کفارو!) دغه عذابونه په دې سبب (تاسو ته درکول کېږي) چې تاسو وئ چې په ځمکه کښې به مو ناحقه خوشالی کولې (او حقایق به مو د پښو لاندې کول)، او هم په دې سبب چې تاسو (هلته) وئ چې (په واقعیاتو باندې) به مو تکبر کاوه.

[٧٦] (نو) تاسو د دوزخ (د عذابونو) په ډولونو کښې په داسې حال ورداخل شئ چې دلته به تل یاست. نو د تکبر کوونکو د اوسېدانې ځای ډېر بد (او ناکاره) دی (چې د دوزخ ځخه عبارت دی).

[٧٧] نو (ای پیغمبره!) ته صبر کوه چې یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده (نصرت ستا په برخه دی) نو که چرته مونږ تا ته هغه (وېناوې) عذاب هرو مرو درولید کړو د کوم وعده چې مونږ د هغوی سره کوو (او) یا تا وفات کړو (درویې نه لید کړو) نو (په دواړو تقدیرونو سره) به هغوی خاص مونږ ته راجع کړی شي (او په اُخروي عذاب باندې به اخته شي).

[٧٨] او یقینًا مونږ ستا ځخه مخکښې ډېر پیغمبران (خپلو-خپلو قومونو ته) لېږلي وه، چې د دوی ځخه ځینې هغه پیغمبران دي چې په تاباندې مو (د هغوی) قیصې درنازلې کړې دي، او ځینې یې هغه دي چې (د هغوی) قیصې مو درباندې نه دي درنازلې کړې.

(په هر تقدیر) هیڅ پیغمبر ته دا نه وه چې څه (فرمایشي) معجزه راوړي مګر د الله ﷻ په اجازه (تاته هم د دغې معجزې راوړل نشته).

نو کله چې (د کفارو د دنیاوي یا اُخروي عذاب په هکله) د الله ﷻ حکم راشي نو په حقه فیصله به وکړی شي او (هم) هلته به د باطلو خاوندان زیان (او تاوان) وکړي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د افاقي او انفسي دلایلو څه بیان نازل شوی وه تر څو په ناحقه جګړماران د ناحقه جګړو ځخه لاس واخلي او د توحید عقیده خپله کړي. په دې ایتونو کښې د یو پلوه د هغوی عکس العمل ته اشاره کېږي چې په مقابل کښې یې په اُخروي عذاب باندې هم څه رڼا اچولې شوې ده، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د صبر (ثبات) توصیه کېږي او د پخوانیو اُمتونو په ذکر سره ورته داډ او تسلي هم ورکوله کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! ایا ته هغو کسانو ته په تعجب سره نه ګورې کوم چې د الله ﷻ په ایتونو کښې په ناحقه جګړې کوي، او انفسي دلایل او هم افاقي دلایل د پښو لاندې کوي؟.

ته د هغوی څخه تعجب وکړه چې د دغو ګڼو دلایلو سره-سره څنګه د حقې لارې څخه اړولی کېږي او څه باعث دی ورباندې، چې ذکره شوې غلطه کړنلاره یې په ډېر کلکوالي سره خپله کړې ده؟

۲_ ای پیغمبره! د ذکرې شوې کړنلارې د خپلولو باعث دا دی چې هغوی هغه کسان دي کوم چې زمونږ نازل کړی شوي کتاب (قرآن کریم) ته د دروغو نسبت کوي او د حقاني کتاب په نظر ورته نه ګوري. همدارنګه هغوی هغه کسان دي کوم چې د مطلقې وحې تکذیب کوي او هغه ټول شریعتونه ورته دروغ برېښي کوم چې مونږ خپلو پیغمبرانو ته ورکړي او وراستولي وه.

۳_ ای پیغمبره! ذکر شوي په ناحقه جګړماران نن ورځ عناد نیولي دي او سترګې یې ورباندې پټې کړې دي چې خپله ګټه د خپل تاوان څخه نه شي بیلولی. خو ضرور داسې وخت راتلونکی دی چې هغوی به په خپلو غلطیاوو باندې پوه شي خو د هغه وخت پوهه به ورته هیڅ ګټه ونه رسولی شي.

یا په بل عبارت: کله چې قیامت قائم شي نو هغوی به د لاندې حالاتو سره مخامخ شي:

الف: هلته به یې په غاړو کښې د اور غورابونه او د اور زنځیرونه واچلولی شي، چې د یو پلوه به ډېر سخت درانه وي او د بله پلوه به سوزوونکي وي.

ب: هلته به په ګرمو او خوټېدونکو اوبو کښې راکشولی کېږي، چې غوښې به یې د هډوکو څخه جدا کوي.

ج: په دې باندې علاوه هغوی به په اور باندې سوزول کېږي هم. لنډه دا چې هغوی به په دوزخ کښې د رنګارنګ عذابونو سره مخامخ شي او د خپلو دنیاوي غلطیو میوه به وخوري.

د: بیا به هغوی د تخجیل او توهین دپاره مخاطب کړی شي او ورته به وویلی شي چې: ای مشرکانو جګړمارانو! ستاسو هغه باطل معبودان نن ورځ چېرته دي کوم به چې تاسو د استمرار په توګه د الله ﷻ څخه په غیر معبودان ګرځول او په عبادت کښې به مو ورته اشتراک ورکاوه؟

ه: هغوی به په جواب کښې ووایي چې: زمونږ معبودان نن ورځ زمونږ څخه لادرکه دي او د استفادې د حیثه راڅخه ورک دي. بلکې اصلي خبره دا ده چې مونږ په دنیا کښې د څه اعتمادي او ګټور شي عبادت نه دی کړی، چې نن ورځ مو په درد وخوري او څه ګټه راته ورسولی شي، مونږ ته نن ورځ د خپلو معبودانو ناتوانی ډېره ښه څرګنده شوه.

ای پیغمبره! الله ﷻ په دغه ډول سره عنادي کفار او جګړماران ګمراه کوي، چې نه په دلایلو کښې فکر کوي او نه د ناصح نصیحت اوري، خو بې وخته په خپلو غلطیاوو باندې اعتراف کوي.

و: د ذکر شوي جواب څخه وروسته به کفار او جګړماران مخاطب کړی شي چې: ای کفارو! نن ورځ دغه عذابونه ستاسو څخه ځکه راتاو شوي دي او د نجات هیڅ لاره ترې نه شئ موندلی چې:

اول: تاسو په دنیا کښې وئ چې په خمکه کښې به مو په ناحقه توګه خوشالۍ کولې او حقایق به مو د پښو لاندې کول او نه به مو حقاني دعوت ته غوږ نیوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: تاسو به هلته د استمرار په توګه تکبر کاوه او شریعت ته به مو په سپک او حقیر نظر کتل.

ز: بیا به ذکر شوي دوزخیان د دوزخ په داخل کښې مخاطب کړی شي چې: ای دوزخیانو! تاسو د دوزخ په دروازو کښې د دوام په توګه ورداخل شئ. یا په بل عبارت، ستاسو هر یو کس او هر یوه ډله دې هغه ځای ته ورننوځي کوم چې ورته ټاکلی شوی دی ترڅو پکښې د همېشه دپاره معذب وګرځي.

نو د تکبر کوونکو د اوسېدانې ځای ډېر بد ځای دی چې د دوزخ د هغه ځای څخه عبارت دی کوم چې په رنګارنګ عذابونو باندې مشتمل دی.

۴_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه تاته توصیه او ارشاد دی چې:

الف: د جګړمارانو (کفارو) په ستغو او سپورو خبرو باندې مه بې حوصلې کېږه او خپل ثبات مه خرابوه. او دا څکه چې:

ب: یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده نو هرو مرو به تاته په هغوی باندې نصرت درکړي.

ج: نو په همدې بنیاد به مونږ یا هغه څینې عذابونه وروليږد کړو او ستا په ژوند به یې ورباندې نازل کړو کوم چې مونږ ورته وعده کړې دي (په خپل علم کښې مو ورته ټاکلي دي) او یا به مونږ تا وفات کړو او بیا به یې په موعودو عذابونو باندې اخته کړو. یا په بل عبارت: د کفارو تعذیب یقیني دی، برابره خبره ده چې ستا په ژوند صورت ونیسي او یا ستا د وفات څخه وروسته.

د: په هر تقدیر هغوی به مونږ ته د قیامت په ورځ راجع کړی شي او هلته به د اُخروي عذابونو سره هم مخامخ شي.

ه: ای پیغمبره! ته د کفارو د اذیتونو په ارتباط یوازې نه یې، بلکې مونږ ستا څخه وړاندې ډېر پیغمبران خپلو‐خپلو قومونو ته استولي وه چې د څینو حالات مو په تاباندې قرائت کړي دي او د څینو حالات مو لانه دي درنازل کړي. دغو پیغمبرانو د کفارو څخه ډېر اذیتونه لیدلي دي او خپلې حوصلې یې ورباندې نه دي خرابې کړې نو ته هم هغوی پسې اقتداء وکړه.

و: هغوی ته به هم د وخت کفارو د معجزاتو فرمایش ورکاوه خو د یوه سره هم دا صلاحیت نه وه چې بدون د الله ﷻ د اجازې څخه څه معجزه وړاندې کړی شي او خلک ایمان راوړلو ته مجبور کړي.

نو ته هم نه شې کولی چې د مشرکانو او عنادي کفارو د معجزاتو فرمایش پوره کړې او نه دا کار ستا په صلاحیت کښې شته.

۵_ ای پیغمبره! کله چې د الله ﷻ د پلوه د تعذیب فرمان راشي برابره خبره ده چې په دنیا کښې وي او که په آخرت کښې، نو په کفارو به حقه فیصله تطبیق کړی شي، چې په نتیجه کښې به د باطلو او ناروااوو خاوندان د داسې تاوان سره مخامخ شي چې نه به جبیره لري او نه به یې مخنیوی شونی وي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ ﴾ کښې د "سَلاسِل" کلمه د "سَلْسَلَة" جمعه ده چې د زنځیر معنی ورکوي او بیان یې ـ ان شاء الله ﷻ ـ د [الحاقة:۳۲] ایت لاندې راروان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د څو لغاتو معناوي

۲_ په ﴿ يُسۡحَبُونَ ۝ فِي ٱلۡحَمِيمِ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسۡجَرُونَ ﴾ کښې د لاندي لغاتو معناوي ولولئ:

الف: د ﴿يُسۡحَبُونَ﴾ کلمه د "سَحْب" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د کشولو معنی ورکوي، د همدې کبله وريځې ته د "سَحَاب" نوم ايښودلی شوی دی چې په هوا کښې د يوه ځای څخه بل ځای ته کشولی کېږي[1]، او هم په ځمکه باندې اوبه خوروي (شيندي).

ب: د ﴿ ٱلۡحَمِيم ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [الحج:۱۹] ايت لاندې د يوه حديث په رڼا کښې تفسيره شوې ده، چې د خوټېدونکو اوبو دپاره وضعه شوې ده.

ج: د ﴿يُسۡجَرُونَ﴾ کلمې د "سَجْر" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق موندلی دی چې د اور بلولو او د تنور ګرمولو معنی ورکوي[2].

نو د ذکرو شوو کلماتو د معناوو مضمون داسې راځېږي چې: کفار به په خوټېدونکو اوبو کښې معذبېږي او بيا به پکښې راښکودلی کېږي، ترڅو سوزونکي اور ته ورسولی شي چې هلته به ورباندې د تناره د خاشاکو غوندې د دوزخ اور بلېږي او پکښې به سوزولی کېږي.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ يَطُوفُونَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴾ [الرحمن:۴۴] يعني کفار به د سوزونکي اور ترمنځ او د زياتو ګرمو ايشېدلو (خوټېدونکو) اوبو ترمنځ تاوېږي او راتاوېږي، أعاذنا الله ﷻ منها ومن سائر أنواع العذاب.

## دا اعتراف دی انکار نه دی

۳_ ځينو علماوو کرامو دا جمله ﴿ بَل لَّمۡ نَكُن نَّدۡعُواْ مِن قَبۡلُ شَيۡـٔٗاۚ ﴾ په انکار سره تفسيره کړې ده چې مشرکان به د خپلو بوتانو د عبادت څخه انکار وکړي[3]، لکه چې په [الأنعام:۲۳] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د دغې جملې مضمون به انکار نه وي بلکې اعتراف به وي، يعنې: کفار به د دوزخ په داخل کښې پرښتو ته جواب ورکړي چې: بوتان زمونږ په درد دوا نه شوه او د استفادې د حيثه زمونږ څخه ورک شوه، بلکې اصلي خبره دا ده چې مونږ وراندې (په دنيا کښې) نه وو چې د کوم ګټور شي عبادت مو کړی وي. مونږ دغسې تفسير ځکه بهتر وګاڼه چې:

الف: دغه سوال جواب خو په دوزخ کښې دننه صورت نيسي لکه چې په [المؤمن:۷۲] ايت کښې ورته لږ وړاندې اشاره وشوه، او د انکار وخت خو به د حشر ميدان وي چې حساب کتاب پيل شي.

ب: انکار د وړاندې جملې ﴿ ضَلُّواْ عَنَّا ﴾ سره هم تناسب نه لري چې اعتراف ترې معلومېږي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۰

(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۵۲۲؛ مفردات الراغب ص۲۲۹

(۳) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکر شوی سوال جواب به د دوزخ څخه بهر صورت ونیسي او بیا به کفارو ته امر وکړی شي چې د دوزخ په دروازو کښې ورداخل شئ؛ نو ایا دا مضمون د وړاندېني [المؤمن:٧٢] ایت سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې دغه سوال ځینو مفسرینو کرامو په دوه ډوله جواب کړی دی[١]:

الف: دلته د ﴿ أَبۡوَٰبَ ﴾ څخه هغه دروازې مطلب نه دي کومو ته چې په [الحجر:۴۴] ایت کښې اشاره شوې ده ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دلته ترې د عذابونو ډولونه مراد دي، او یا ترې هغه خاص ځایونه مطلب دي کوم چې د هر کافر دپاره د دوزخ په داخل کښې ځانګړي کړی شوي وي.

یعنې ای کفارو! تاسو د دوزخ ډول-ډول عذابونو ته ورداخل شئ او مزه یې وڅکئ او یا تاسو هر یو خپل ځای ته ورننوځئ او هلته پکښې مېشت شئ.

ب: په ﴿ ٱدۡخُلُوٓاْ ﴾ سره به کفار د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ په ملحوظ مخاطب کړی شي، نه د اصلي دخول په ملحوظ چې ذکر شوي ایت سره منافات ولري. ته به وایې چې کفارو ته به وویلی شي چې اوس نو د دوزخ په داخل کښې د همېشه دپاره اوسېږئ او خپلې استوګنې ته پکښې ادامه ورکړې.

## یاذونه

۵ـ په ﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ ﴾ الآیة- کښې په اجمالي توګه ټولو پیغمبرانو ته اشاره شوې ده خو تعداد یې نه دی ښودلی شوی چې څو تنو ته رسېږي، مونږ د الله ﷻ په توفیق همدغه تعداد د [النساء:۱۶۴] ایت لاندې د یوه حدیث شریف په رڼا کښې لیکلي دي چې یو لک څلېرشت زرو (۱۲۴۰۰۰) تنو شاوخوا ته رسېږي، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمَ لِتَرۡكَبُواْ مِنۡهَا وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٧٩ وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَلِتَبۡلُغُواْ عَلَيۡهَا حَاجَةٗ فِي صُدُورِكُمۡ وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ٨٠ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَأَيَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ٨١ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَأَشَدَّ قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٢ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٨٣ فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥ

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَـٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ
ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ فِى عِبَادِهِۦ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

[۷۹] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې د دې دپاره څاروي پیدا کړي دي چې په خینو څارویو باندې سواره شئ، او د ځینو څارویو څخه (د غوښو) خوراک وکړئ (او بالآخره د خینو څخه دواړه مطلبونه ترلاسه کړئ).

[۸۰] او تاسو ته په څارویو کښې ډېرې ګټې (وټې) شته. او (همدارنګه) د دې دپاره (یې درته څاروي پیدا کړي دي) چې تاسو ورباندې خپل داسې حاجت ته ورسېږئ چې ستاسو په سینو (زړونو) کښې (پټ) وي (خو ور رسېدلی نه شئ). او (په دې باندې علاوه) تاسو په څارویو باندې او هم په بېړیو باندې سوروَلی کېږئ (البته په هغه صورت کښې چې پخپله د سورېدلو توان ونه لرئ).

[۸۱] او الله ﷻ تاسو ته (د قیامت د ورځې پورې په مستمره توګه) خپل (د قدرت) دلایل دربېده کوي (دربنیي)، نو تاسو د الله ﷻ د کومو دلایلو څخه انکار کوئ؟ (ایا د ټولو دلایلو څخه انکار کول بې عقلي نه ده؟).

[۸۲] ایا نو (د کفارو په شمول ټول) خلک په ځمکه کښې نه ګرځي راګرځي نو چې وګوري (او پوه شي) چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شو کومْ چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي (چې په جګړه ماری او عنادي کفر باندې اخته وه، ایا هغوی د ځرمې هلاک نه شوه؟).

حال دا چې هغوی د دوی څخه (په عدد او هم په ثروت کښې) زیات وه، او (هم ترې) د قوت د حیثه او په ځمکه کښې د نښو نښانو د حیثه ډېر کلک وه. نو (د دې سره-سره الله ﷻ پوښنا کړه او) هغه شي ترې (د عذاب) مخنیوی ونه کړ کوم چې هغوی وه چې کسب کول به یې (او جوړول به یې).

[۸۳] خو هر کله چې هغوی ته خپل پیغمبران په معجزاتو سره ورغله، نو (سمدستي) هغوی په هغه شي باندې خوشاله شوه کوم چې د هغوی په نزد وه چې هغه د دنیاوي علم (او مهارت) څخه عبارت دی، (او هم یې د پیغمبرانو په علم پورې خندنی پیل کړې چې په نتیجه کښې هلاک شوه) او هغه عذاب ترې راچاپېر شو په کوم سره چې هغوی وه چې مسخرې به یې (پرې) کولې.

[۸۴] نو هر کله یې چې زمونږ عذاب ولید سمدستي یې وویلې چې: مونږ یوازې په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او په هغو (بوتانو) سره کافر شوي یاستو په کومو سره چې مونږ مشرکان ګرځېدلي وو (مونږ شرکي عقیده په توحیدي عقیدې سره عوض کړه).

[۸۵] کله یې چې زمونږ عذاب په سترګو ولید نو (په دغه وخت) دا نه وه چې دوی ته خپل ایمان ګټه ورسوي.

(الله ﷻ دا طریقه جاري ساتلې ده) د الله ﷻ طریقه جاري ساتل، (البته دا) هغه طریقه ده چې د ده ﷻ په بندګانو کښې تېره شوي (پاتې) ده. (چې په دغه وخت کښې ایمان د قبول درجې ته نه رسېږي) او په دغه ځای کښې کفار د لوی خسران (تاوان) سره مخامخ کېږي (چې جبران نه لري).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

څرنګه چې د [المؤمن:۳] ایت څخه راپه دېخوا د ناحقه جګړمارانو د جګړو د ختمولو دپاره په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه په رنګارنګ اسالیبو سره دلایل پیل شوي دي، نو په دې ایتونو کښې هم همدغه موضوع تعقیب شوې ده، او څه نورو دلایلو پکښې نزول موندلی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د ناحقه جګړمارانو په شمول ټول خلک د الله ﷻ د پلوه مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای خلکو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې شاروي پیدا کړي دي، چې تاسو ترې زښتې ډېرې استفادې کوئ. لکه:

الف: په دغو شارویو کښې تاسو په ځینو باندې سورېږئ، لکه په اوښانو باندې او داسې نور، او د ځینو لا غوښې خورئ لکه ګډې او داسې نور.

ب: په دغو شارویو کښې الله ﷻ ستاسو دپاره نور زښت ډېر منافع پیدا کړي دي، چې د وړیو څخه یې سامانونه جوړوئ او د پوستکو څخه یې، ګټې اخلئ او داسې نور.

ج: په دغو شارویو سره تاسو هغو مطالبو ته رسېږئ کوم چې تاسو په زړونو کښې نیولي وي، خو که بالفرض د شارویو شتون نه وی نو هغه به ستاسو په زړونو کښې پاتې شوي وی او هیڅکله به مو ورته رسېدنه نه وی کړې.

د: په دغو شارویو سره تاسو ډېر درانه سامانونه د یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالولی شئ که نه نو انتقال به یې صورت نه وی نیولی.

هـ: که بالفرض تاسو په شارویو باندې د سورلۍ توان نه لرئ چې یا ماشومان او یا بوډاګان او مریضان یاست، نو تاسو د همدغو شارویو په شاګانو باندې د سامانونو غوندې بارولی کېږئ او مطلوب ته ورباندې رسولی کېږئ.

لنډه دا چې لکه چې تاسو په دریابونو کښې په بېړیو کښې سورول کېږئ (بارول کېږئ) او مطلوبو ځایونو ته پرې رسېږئ همدارنګه په وچه کښې همدغه کار د شارویو څخه اخلئ، نو شاروې ستاسو دپاره په وچه کښې د بېړیو حیثیت لري.

۲ـ ای خلکو! که الله ﷻ شاروي نه وی پیدا کړي او یا یې ستاسو دپاره نه وی ایل کړي نو تاسو به د ذکرو شوو ګټو څخه بې برخې پاتې شوي وی او اړتیاوې به مو نه وی پوره شوې، نو په همدغه کامل قدرت سره الله ﷻ وپېژنئ او په توحید کښې یې بې دلیله جګړې مه کوئ.

۳ـ ای خلکو! په آینده کښې به الله ﷻ تاسو ته د خپل کامل قدرت څه نور دلایل هم درولیده کړي، ترڅو تاسو د شرکیاتو او جګړو څخه لاس واخلئ.

څرنګه چې د حقانیت دلایل زښت ډېر دي، چې ځینې تاسو سمدستي په سترګو ګورئ او ځینې به په آینده کښې وګورئ، نو تاسو د الله ﷻ د کومو دلایلو څخه انکار کوئ او د پښو لاندې کوئ یې؟ ایا د ټولو دلایلو د نظره غورزول د بې عقلۍ او سادګۍ نښه نه ده؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! ایا نو د دې زمانې مشرکان او په ناحقه جګړماران په ځمکه کښې نه ګرځي راګرځي، ترڅو وګوري او پوه شي چې:

الف: چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شو کوم چې د دوی څخه په وړاندېنيو زمانو کښې تېر شوي دي؟

ب: ایا هغوی په بنیاد ویستونکي عذاب سره هلاک نه کړی شوه؟

ج: ایا هغوی د عدد د حیثه د دوی څخه زیات نه وه؟

د: ایا هغوی د دوی څخه د قوت د حیثه ډېر قوتناک نه وه؟

ه: ایا هغوی د دوی څخه په ځمکه کښې د ابادیو او حفریاتو (مصنوعاتو) د حیثه د زیات قوت درلودونکي نه وه؟

هغوی د دوی څخه د هر حیثه لوړ وه، خو د دې سره-سره کله چې هغوی ته بېخ ویستونکی عذاب ورغی نو هغو شیانو ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او د عذاب مخه یې ترې وانه شوه اړولی، کوم چې هغوی کسب کول او کوم چې هغوی درلوده.

نو ایا د دې زمانې د جګړمارانو سره دومره قوت شته چې د الله ﷻ د عذاب مخه پرې ونیسي؟!

۵_ ای پیغمبره! کله چې پخوانیو جګړمارانو کفارو ته پیغمبران د معجزاتو سره ورغله او خپل رسالتونه یې ورته په اثبات ورسول، نو هغوی ورپورې ملنډې او مسخرې شروع کړې او په دنیاوي وسائلو او هم په دنیاوي پوهې او مهارتونو باندې خوشاله شوه، چې مونږ ستاسو څخه د مصنوعاتو او وسائلو د حیثه په لوړه درجه کښې یاستو او تاسو نه څه لرئ او نه ورباندې پوهېږئ.

نو د ذکرې شوې کړنلارې نتیجه دا شوه چې پیغمبرانو ته الله ﷻ نجات ورکړ او د هغوی څخه د خپلو ملنډو او مسخرو دنیاوي سزا ورچاپېره شوه.

۶_ مونږ ځکه په هغوی باندې بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل کړ چې هغوی د عذاب د لیدلو پورې خپله تګلاره بدله نه کړه او په خپلو کفریاتو باندې کلک پاتې شوه. اما کله یې چې زمونږ عذاب په سترګو ولید او د هلاکت وخت ورته په باوري توګه ورسید نو په دغه وخت کښې یې د توحید کلمه خپله کړه، چې مونږ یوازې په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او د هغو بوتانو څخه بېزار یاستو کومو ته به چې مونږ په دوامداره توګه په عبادت کښې اشتراک ورکاوه.

۷_ خو په دغه وخت کښې به هغوی نه وه چې ایمان یې د الله ﷻ په نزد مقبول وګرځي او د عذاب د مخنیوي په هکله ورته څه ګټه ورسولی شي.

۸_ نو ای پیغمبره! د دې زمانې په ناحقه جګړماران به هم د عذاب د لیدلو په وخت کښې د هغوی غونډې د توحید کلمه خپله کړي او ایمان به راوړي خو هیڅکله به ورته په درد ونه خوري. او دا ځکه چې: الله ﷻ د خپلو بندګانو په هکله سنت او قانون ټاکلی دی چې د عذاب د لیدنې په وخت کښې یې ایمان نه قبلوي، د همدې کبله په دغه وخت کښې پخواني کفار د زیات تاوان او زیان سره مخامخ شوه په کوم کښې چې هغوی په خپلو سترګو د عذاب لیدنه وکړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په راتلونکي کښې به هم په دغسې وختونو کښې د جګړمارانو ایمان د قبول درجې ته ونه رسېږي او د دېر زیان سره به مخامخ شي.

## توضیحات

١ـ په ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمَ ﴾ کښې د ﴿جَعَلَ﴾ کلمه د "خَلَقَ" په معنی سره ده، لکه چې په بل ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَٱلْأَنْعَٰمَ خَلَقَهَا لَكُمْ ﴾ [النحل:٥] یعنې او څاروي چې دي الله ﷻ ستاسو (د منافعو) دپاره پیدا کړي دي.

٢ـ دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته په ﴿ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ کښې هغه مضمون ته اشاره شوې ده کوم چې په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [النحل:٨] یعنې الله ﷻ به په آینده کښې داسې څیزونه پیدا کړي (او د خپل وحدانیت دلایل به یې وګرځوي) په کومو باندې چې تاسو نن ورځ علم او پوهه نه لرئ.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَرِحُوا۟ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ کښې د "عِلْم" کلمه د کوم علم څخه عبارت ده. یا په بل عبارت: هغه کوم علم وه چې مشرکان ورته خوشاله شوه او په خپلو پیغمبرانو باندې یې پرې استهزاوې پیل کړې، چې تاسو زمونږ د علم څخه محروم یاست؟

مونږ وایو چې: د دغه علم په تعین کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي[١]، خو کوم تفسیر چې مونږ ته په زړه پوری برېښي او د وړاندېنیو ایتونو سره دېر ښه سلښت نیسي هغه دا دی چې: دلته د علم څخه هغه پوهه او مهارت مطلب دی د کوم په ذریعه چې هغوی په ځمکه کښې اثار او ابادۍ پرېښې دي، لکه مختلف صنعتونه، د غلو دانو د زیادت مهارتونه، د جامدو او مایعو معدنیاتو راویستنه، د اوسپنې څخه آلات او سامان جوړول او داسې نور.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: د پخوانیو زمانو کفارو د پیغمبرانو د ورتګ سره سم د هغوی علومو ته د حقارت په نظر وکتل او ملندې یې ورباندې پیل کړې چې تاسو د هغو ګټورو علومو څخه بې برخې یاست د کومو چې مونږ درلودونکي یاستو.

ذکر شوي مضمون ته په [الزمر:٤٩] ایت کښې هم اشاره شوې ده، چې دېر وړاندې نه دی تېر شوی او یو ځل کتل یې چندان درانه نه تمامېږي.

**اللهمَّ إنَّا نعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُسْرَانِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَة.**

**د "المؤمن" سورت د الله ﷻ په مرسته د پښتو ترجمې او تفسیر د حیثه ختم شو والحمد لله ﷻ.**

**١٤٢٣/١/٢٠ هـ ق - ١٣٨١/١/١٤ هـ ش.**

---

(١) روح المعاني ج٢٤ ص٩١؛ تفسیر المظهري ج٨ ص٢٧٨

Scanned by CamScanner

# حم السجدة (٤١)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت متعدد نومونه لري[۱]، چې په همدې نومونو سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: يو نوم يې "السَّجْدَة" دی، چې په [۳۸] ایت کښې د تلاوت په سجده باندې مشتمل دی.

ب: بل نوم يې "حمٓ السَّجْدَة" دی، چې د هغو سورتونو څخه دی کوم چې په ﴿ حمٓ ﴾ باندې شروع شوي دي او يوازې په همدې سورت کښې يې د تلاوت سجده موجوديت لري او بس.

ج: بل نوم يې "اَلْمَصَابِيح" دی، چې همدغه کلمه يې په [۱۲] ایت کښې نازله شوې ده.

د: د "اَلْاَقْوَات" په نامه هم نومولی شوی دی، چې په [۱۰] ایت کښې يې نزول موندلی دی.

ه: بالآخره بل نوم يې "فُصِّلَتْ" دی، چې همدغه کلمه د دې سورت په [۳] ایت کښې موجوده ده.

۲_ د دې سورت د ایتونو ټوله شمېره فقط څلور پنځوس (۵۴) ده[۲].

۳_ د دې سورت د کلماتو او حروفو تعداد په لاندې ډول دی[۳]:

الف: د کلماتو تعداد يې اوو سوو او شپږ نويوو (۷۹۶) ته رسېږي.

ب: او د حروفو شمېره يې درې زرو درې سوو او پنځو سوو (۳۳۵۰) ته پوره شوې ده.

۴_ دا سورت د ټولو مفسرینو کرامو په اجماع سره مکي سورت دی[۴]، او ټول ایتونه يې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي.

۵_ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې د شرعي عقيدې دلايل نازل شوي دي، لکه د الله ﷻ د وحدانيت دلايل، د قيامت د ورځې د قيام دلايل، د نبي کريم ﷺ د نبوت اثبات او داسې نور.

۶_ دا سورت د وړاندېني سورت سره ښه قوي ارتباط لري. د مثال په توګه:

الف: دواړه سورتونه د ﴿ حمٓ ﴾ په کلمه پيل شوي دي.

ب: دواړه مکي سورتونه دي او په دواړو کښې عقيدوي احکام زيات بيان شوي دي.

ج: په دواړو کښې د عنادي کفارو د عناد مثالونو ته اشارې شوې دي او هم يې پکښې د رد دلايل نازل شوي دي.

د: بالآخره دا سورت لکه څنګه چې د هغه سورت په تعقيب قرائت کېږي همدارنګه د هغه په تعقيب نازل شوی هم دی[۵]. يا په بل عبارت: د دواړو سورتونو د نزول ترتيب او د قرائت ترتيب څه فرق نه لري.

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۹۴؛ تفسير الخازن ج۵ ص۳۷۰؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۶۱
(۲) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۱۵۴
(۳) تفسير الخازن ج۵ ص۳۷۰
(۴) تفسير الطبري ج۲۴ ص۹۰
(۵) تفسير الكشاف ج۴ ص۱۸۴؛ زاد المسير ج۷ ص۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ (١) تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ (٢) كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ
يَعۡلَمُونَ (٣) بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ (٤) وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ
أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ
(٥) قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ
وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ (٦) ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ
(٧) إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ (٨) ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

[۲] (دا قرآن کریم) د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی.

[۳] (دا قرآن کریم) داسې کتاب دی چې ایتونه یې (د هر ضروري شي دپاره) تفصیل ګرځولی شوي دي، په داسې حال کښې چې په عربي ژبې لوستلی شي، د داسې قوم دپاره (کتور ګرځولی شوی دی) کوم چې پوهېږي (او خپل خیر او شر سره بهلولی شي).

[۴] په داسې حال کښې چې (نېکوکارانو ته) زېرې ورکوونکی او (بدانو ته د الله ﷻ د عذابه) ډاروونکی دی، خو (د دغو عالي صفاتو سره‐سره) د خلکو اکثریت (ترې بلا دلیله) اعراض کوي نو دوی چې دي (ورته) غوږونه نه ږدي (نه یې قبلوي).

[۵] او د خلکو اکثریت (د استهزاء او تکبر د کبله د مبالغې په توګه تاته) وایي چې: زمونږ زړونه د هغه شي څخه په پردو کښې دي کوم ته چې ته مونږ وربلې (چې قبول یې کړو)، او زمونږ په غوږونو کښې (د هغه د قبول څخه) دروندوالی دی، او زمونږ ترمنځ او ستا ترمنځ ډېره قوي پرده (پرته) ده، نو ته (خپل) کار کوه، او یقیناً مونږ (د خپل کار) عمل کوونکو یاستو.

[۶] (ای پیغمبره!) ته (ورته) ووایه چې: یقیناً زه خو ستاسو غوندې بنیادم یم خو ماته دا خبره (د الله ﷻ د پلوه) وحې کېږي چې بې شکه ستاسو (حقیقي) معبود یو معبود دی (او بس). نو تاسو (اخوا دېخوا مه کېږئ او) خاص همده ﷻ ته (په اخلاص سره) متوجه شئ او د همده ﷻ څخه (د پخوانیو کفریاتو) مغفرت وغواړئ. او (دا څکه چې) هلاکت (او افسوس) مشرکانو لره دی (چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې غیر الله شریکان ګڼي).

[۷] (البته) هغه مشرکان چې زکات نه ورکوي (د بندګانو حق نه اداء کوي) او په وروستنی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځې سره (باندې) همدوی کافران (او ناشکران) دي.

[٨] (بالمقابل) يقيناً هغه کسان کومو چې (په قرآن باندې) ايمان راوړی دی او (په رڼا کښې يې) صالح عملونه کوي (نو) خاص همدوی لره داسې اجر دی چې پرې کړی شوی نه دی (دائمي دی څه زوال نه لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په کوم مضمون باندې چې وړاندېنی سورت (المؤمن) تمام شوی وه، په همغه مضمون باندې دا سورت (حمٓ السَّجْدَة) شروع شوی دی. هغه دا چې:

د دې زمانې عنادي کفارو او په ناحقه جګړمارانو د پخوانيو هلاکو شوو عناديانو خاصيت خپل کړی دی او د هغه انجام څخه نه ډارېږي د کوم سره چې هغوی مخامخ شوي وه. هغوی به د خپلو پيغمبرانو په معجزاتو پورې ملنډې وهلې خو کله به يې چې د الله ﷻ عذاب په سترګو وليد، نو بيا به يې د "آمَنَّا" چيغې پورته کړې چې مونږ ايمان راوړی دی، خو د دغه وخت ايمان به ورته هيڅ ګټه نه شوه رسولی، او نجات به يې نه شو ورکولی.

د دې زمانې کفار د هغوی په خط السير باندې روان دی، نو په کار دي چې د هغوی د عاقبت څخه وډار شي. نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل امت باندې دا مطالب ولوله:

١ـ ته د پخوانيو پيغمبرانو غوندې يو پيغمبر يې او هم تاته د هغوی د معجزاتو غوندې معجزات درکړی شوي دي، بلکې ستا معجزات د قرآن کريم په عظيم الشانه معجزه باندې هم مشتمل دی چې لاندې اُمتيازات او خاصيتونه لري:

الف: که څه هم دغې معجزې (قرآن کريم) د هغو تورو څخه ترکيب موندلی دی د کومو تورو څخه چې د خلکو کلامونه روزمره ترکيب مومي، لکه "ح، م" او داسې نور، مګر دا معجزه به د قيامت تر ورځې پورې باقي پاتې وي او په يوه زمانه کښې به هم ورسره څوک سيالي ونه شي کړی.

ب: نو دغه اعجاز د دې خبرې ځرګند دليل دی چې قرآن کريم د نبي کريم ﷺ خپل تاليف نه دی بلکې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، هغه الله ﷻ چې په هيڅ شي کښې سيال او مثل نه لري، او هغه الله ﷻ چې په خپلو بندګانو باندې ډېر زيات مهربان دی، که بالفرض همدغه عالمي او دائمي معجزه يې نه وی نازله کړې نو خلکو به نه د دنيا سمه لاره او نه د آخرت سمه لاره موندلې وی.

ج: دا معجزه يو داسې کتاب دی چې برسېره په اعجاز د ټولو ضروورياتو په تفصيل سره بيانوونکی دی او هيڅ شی پکښې پټ پاتې نه دی، وړاندېني او وروستني ټول حالات پکښې ځرګند دی.

د: دا کتاب په عربي ژبه لوستلی کېږي چې لومړني مخاطبين يې د همدې ژبې درلودونکی دی، چې فقط په اورېدلو سره يې په مطلب باندې ډېر ښه پوهېږي.

هـ: دا کتاب د داسې قوم دپاره نافع او ګټه رسوونکی ګرځولی شوی دی کوم چې پوهېږي او د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خیر لاره او د شر لاره یوه د بلې څخه جدا کولی شي (همدوی ترې استفاده کوي او عنادیان او جهال ترې محروم پاتې کیږي).

و: دا کتاب هغه چاته د دواړو دنیاوو په سعادت باندې زیری ورکوونکی دی کوم چې دا کتاب د خپل ځان دپاره کړنلاره وګرځوي.

ز: او د هغه چا دپاره په دواړو دنیاوو کښې د الهي عذاب څخه ډاروونکی دی کوم چې ورباندې عقیده خپله نه کړي او د عمل په میدان کښې یې هم د پښو لاندې کړي.

۲_ ای پیغمبره! تاته د نورو معجزاتو سره- سره! د قرآن کریم عالي شانه ذکره شوې معجزه هم درکړه شوې ده خو ستا د زمانې عنادي کفار ورباندې ایمان نه راوړي، او د پخوانیو عنادي کفارو غوندې ورباندې ملنډې وهي او تاته خطاب کوي چې:

الف: ای محمده! ته نه شې کولی چې خپل دعوت په مونږ باندې قبول کړې او مونږ خپل دین ته دراواړوې. او دا ځکه چې:

اول: زمونږ زړونه ستا د دعوت څخه په پرده کښې دي، ته پکښې خپل دعوت ته ځای نه شې ورکولی چې پکښې ورداخل یې کړې.

دوهم: زمونږ په غوږونو کښې دروندوالی دی، مونږ ستا دعوت نه اورو او نه یې قبلوو.

دریم: لنډه دا چې زمونږ او ستا ترمنځ ښه قوي حجاب او پرده موجوده ده چې یو تربله یې سره جدا کړي یاستو (زمونږ او ستا اختلاط غیر ممکن کار دی).

ب: نو په همدې بنیاد مونږ تاته فقط یوه خبره کوو چې ته خپل کار کوه او مونږ به خپل کار کوو، ته په یو دین یې او مونږ په بل دین، زمونږ څخه تمه مه کوه چې ستا دین ته به دراواوړو.

۳_ ای پیغمبره! نو ته کفار مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: په تاسو باندې څه باعث دی چې ما د خپلو ځانونو څخه بالکل جدا ګڼئ او دعوت ته مې غوږ نه ږدئ؟ زه خو بل څوک نه یم بلکې ستاسو غوندې یو بشر یم، که بالفرض ستاسو غوندې بشر نه وی ـ چې یا پرښته وی او یا د جنیاتو څخه وی ـ نو تاسو به حق درلودی چې د خپلو ځانونو څخه مو جدا ګڼلی وی، او زما دعوت ته مو غوږ نه وی ایښی.

ب: زه خو ستاسو څخه همدومره فرق لرم چې ماته الله ﷻ وحي کړې ده او پیغمبر یې ګرځولی یم او مامور کړی یې یم چې توحید ته دعوت وچلوم او تاسو پوه کړم چې یقیناً ستاسو حقیقي معبود نه دی مګر یو الله ﷻ دی چې هیڅ شریک نه لري.

ج: د توحید کلمه خو څه عجیبه کلمه نه ده چې تاسو ترې نفرت کوئ بلکې د همدې کلمې په واقعیت او صداقت باندې خو ټول کائنات دلالت کوي او د زمانو په اوږدو کښې ورته یو لک څلورشت زره ـ زیات یا کم ـ پیغمبرانو دعوت چلولی دی.

د: زه یو ځل بیا تاسو د همدې کلمې قبول ته رابولم چې الله ﷻ ته په اخلاص سره مخه کړئ او اخوا او دا خوا په شرکیاتو کښې مه اخته کیږئ. او الله ﷻ ته په سمه لاره ورشئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: زه تاسو ته توصیه کوم چې د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړئ او په اخلاص سره ورته توبه تائب وګرځئ ترڅو تاسو ته د پخوانیو کفریاتو او شرکیاتو ببښنه وکړي.

و: که نه نو د الله ﷻ د پلوه هغو مشرکانو او کفارو ته هلاک او دوزخ ټاکلی شوی دی کوم چې زکات نه ورکوي او په فرضیت باندې یې عقیده نه لري حال دا چې هغوی د آخرت (بعث بعد الموت) څخه انکار کوونکي دي او باورورباندې نه لري.

ز: خو بالمقابل هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي او نېک اعمال یې ورسره ملګري کړي وي نو د همدوی دپاره داسې اجر او ثواب ټاکلی شوی دی چې هیڅکله به د انقطاع او پرېکون سره مخامخ نه شي، چې هغه د جنت څخه عبارت دی.

## توضیحات

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو په ارتباط د نبي کریم ﷺ څخه په متعددو طریقو سره یو حدیث روایت شوی دی[۱] چې مونږ یې لنډ مضمون په لاندې ټکو کښې لیکو:

الف: یوه ورځې د مکې مشرکانو یوه لویه غونډه وکړه او په دغې غونډه کښې یې یوه فصیح او بلیغ سړي (عتبه بن ربیعه) ته وظیفه ورکړه، چې محمد ﷺ وهڅوه ترڅو خپل دین پرېږدي او د پخوانیو پلرونو دین ته راواوړي.

ب: نوموړي (عتبه بن ربیعه) د نبي کریم ﷺ په حضور کښې ښه مست تقریر وکړ چې د خپل دعوت څخه لاس واخله نور نو چې هر څه غواړې مونږ به یې درکړو او تا به خوشاله کړو.

ج: د نوموړي د تقریر په پای کښې نبي کریم ﷺ د ذکرو شوو ایتونو په قرائت باندې پیل وکړ او نوموړي ورته غوږ نیولی وه، نوموړی عربي ژبی وه او د ایتونو په مطالبو باندې ښه پوهېده.

د: کله چې نبي کریم ﷺ د دې سورت [۱۳] ایت ته ورسېد او هغه یې تلاوت کړ نو نوموړي "عُتبه" ورته په خوله لاس کېښود، چې بس کړه، او په خپل قوم باندې رحم وکړه چې د عادیانو او ثمودیانو غوندې عذاب ورباندې نازل نه کړی شي.

هـ: بیا په تلو-تلو کښې نوموړي "عتبه بن ربیعه" وویلې چې: "وَاللهِ لَقَدْ سَمِعْتُ شَيْئًا مَا هُوَ بِالشِّعْرِ وَلَا بِالسِّحْرِ وَلَا بِالكَهَانَةِ، وَلَقَدْ ظَنَنْتُ أَنَّ صَاعِقَةَ الْعَذَابِ عَلَى رَأْسِي"[۲] یعني په الله ﷻ باندې مې سوګند دی چې ما داسې شی واورېد چې نه شعر دی، نه جادو دی او نه جوګیتوب دی، او یقینًا ما ګومان وکړ چې د عذاب تندر مې په سر باندې رانښکته شو، چې محمد ﷺ دروغژن سړی نه دی.

## تفصیل څه معنی؟

۲ـ په ﴿ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ﴾ کښې د ﴿فُصِّلَت﴾ کلمه د "تفصیل" څخه اشتقاقه شوې ده چې د

(۱) مصنف ابن ابي شیبه ج۷ ص۳۳۰؛ مسند عبد الحمید ج۱ ص۳۳۷؛ مسند ابي یعلی ج۳ ص۳۴۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۹۰؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۱۱۰؛ الدر المنثور ج۷ ص۳۰۸؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۳۳۸

(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تبيين[1] او توضيح معنی ورکوي. يعنې قرآن کريم داسې کتاب دی چې ايتونه يې د ټولو ضرورياتو دپاره بيانوونکی ګرځولی شوی دی، برابره خبره ده چې دنياوي ضروريات وي او يا اُخروي.

همدا مضمون په نورو ايتونو کښې هم نازل شوی دی لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ﴿ مَّا فَرَّطْنَا فِي ٱلْكِتَٰبِ مِن شَيْءٍ ﴾ [الأنعام:٣٨] يعنې مونږ په قرآن کريم کښې د هيڅ ضروري شي قصور نه دی کړی چې د وجوهو څخه مو په يوه وجه نه وي بيان کړي.

ب: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [النحل:٨٩] يعنې ای پيغمبره! او مونږ په تاباندې په داسې حال کښې قرآن کريم درنازل کړی دی چې د هر ضروري شي د ښه بيانوونکی دی.

## څو نکات

٣_ په ﴿ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:٢٥] ايت لاندې ليکلي دي چې د ﴿ أَكِنَّةٍ ﴾ کلمه د "كِنَان" _لکه "عِنَان"_ جمعه ده، چې د پردې معنی ورکوي، خو دلته ورباندې وراضافه کوو چې د "قُلُوب" کلمه هم جمعه ده او جمعه د بلې جمعې په مقابل کښې توزيع فائده کوي.

نو حاصل يې داسې راځېژي چې: زمونږ د هر يوه زړه په خپله-خپله پرده کښې پټ دی، د دعوت د قبلولو ورته هيڅ لاره نشته.

ب: په ﴿ وَفِىٓ ءَاذَانِنَا وَقْرٌ ﴾ کښې د ﴿ وَقْرٌ ﴾ کلمه د غوږونو د درندوالي دپاره وضعه شوې ده[2] او په هغه حال باندې يې هم اطلاق کېږي چې د چا د اورېدلو قوت بالکل د منځه لاړ شي.

په هر تقدير څرنګه چې ذکره شوې کلمه مصدر ده[3] او مصدر بې موجبه نه جمعه کېږي نو ځکه دلته مفرده نا: له شوې ده که څه هم په مقابل کښې يې د "آذان" کلمه جمعه ده.

ج: په ﴿ وَمِنۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ ﴾ کښې د "مِن" توری د حجاب او پردې په قوت باندې دلالت کوي[4]، يعنې کوم حجاب چې زمونږ او ستا ترمنځ شتون لري هغه يو جانبه نه دی بلکې هغه د هر يوه جانب څخه شروع او په بل جانب ختم شوی دی چې د منځ ټوله مسافه يې اشغاله کړې ده.

د: مشرکانو د تکبر د مبالغې په توګه د دعوت د عدم قبول څخه په ذکرو شوو درېوو ډولونو سره تعبير وکړ ترڅو نبي کريم ﷺ نااُميده کړي چې د دعوت څخه لاس واخلي او قرارې غلی کښني.

د همدې کبله هغوی ذکر شوي دربواړه تعبيرونه په ﴿ فَٱعْمَلْ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴾ سره تعقيب کړه چې ته خپل کار کوه او مونږ به خپل کار کوو، لکه څنګه چې ته د خپلې تګلارې پرېښودونکی نه يې همدارنګه مونږ هم خپله تګلاره نه پرېږدو.

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٥٢٢

(٢) مفردات الراغب ص٥٦٧

(٣) القاموس المحيط ج٤ ص٦٤١

(٤) تفسير الكشاف ج٤ ص١٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ﻫ: د مشركانو ذكره شوې متكبرانه مبالغه د يهودو متكبرانه مبالغې ته ورته ده چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ﴾ [البقرة:٨٨] يعنې او يهودان د دعوت د عدم قبول په هكله وايي چې: زمونږ زړونه په پوښ كښې دي، او يا زمونږ زړونه د علومو جوالونه دي (مونږ ستا علم ته څه اړتيا نه لرو او ته نه شې كولى چې په مونږ باندې خپل دعوت قبول كړې).

و: مشركان په ذكره شوې مبالغه كښې دروغژن وه، د همدې كبله كله چې د هغوى څخه ځينې كسان په ايمان مشرف شوه نو د نبي كريم ﷺ سره يې لاندې سوال جواب وكړ:

نبي كريم ﷺ: تاسو خو پرون هغسې خبرې كولې او نن په ايمان مشرف شوې؟

تازه مسلمانان: "يَا رَسُولَ اللهِ! كَذَبْنَا وَاللهِ بِالأَمْسِ"(١) يعنې اى د الله ﷻ پيغمبره! په الله ﷻ سوګند دى چې مونږ پرون دروغ ويلې، كه بالفرض مونږ پخپله په دغه خبره كښې رښتيني وى نو مونږ به هيڅكله په ايمان نه وى مشرف شوي.

## سوالونه او جوابونه

۴ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ الآية- كښې د سړي په ذهن كښې لاندې پوښتنې ګرځي:

الف: كه څوک وايي چې: ايا په دې مقام كښې د ﴿ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ د كلمې څخه لغوي زكات مطلب دى لكه چې ځينو علماوو كرامو ورباندې قول كړى دى؟(٢). يعنې مشركان هغه كسان دي كوم چې خپل ځانونه د توحيدي عقيدې په خپلولو سره نه تزكيه كوي چې د شركياتو او كفرياتو څخه پاک شي.

مونږ وايو چې: دلته د لغوي زكات اراده كول متبادر نه دي، كه نه نو د ﴿ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴾ په جمله به نه وى تعقيب شوې چې د ځانونو د تزكيه كولو معنى وركوي (تكراراً به نه وى نازل شوى) بلكې دلته شرعي زكات مطلب دى(٣)، يعنې هغوى د خپلو مالونو زكات هم نه وركوي.

ب: كه څوک وايي چې: كفار خو يو شرعي حكم هم نه عملي كوي نو په دې كښې څه حكمت دى چې د زكات د نه وركولو ذكر دلته خاص كړى شوى دى؟

مونږ وايو چې: زكات يو مالي عبادت دى چې فقيران ترې ګټه پورته كوي، نو شايد چې د تخصيص وجه به يې دا وي چې هغوى هغه كسان دي چې نه حقوق الله اداء كوي او نه بندګانو ته خپل حقوق وركوي.

ج: كه څوک وايي چې: دا سورت خو مكي سورت دى او د زكات فرضيت خو په مدينه منوره كښې نازل شوى دى نو په كار دي چې دلته لغوي زكات اراده كړى شي نه شرعي زكات؟

مونږ وايو چې: د زكات فرضيت په مكه معظمه كښې نازل شوى دى لكه څنګه چې د عشر فرضيت همدلته نازل شوى دى، الله ﷻ په مكي سورت كښې دا آيت هم نازل كړى دى چې: ﴿ وَءَاتُواْ

(١) روح المعاني ج٢۴ ص٩٧
(٢) تفسير القاسمي ج١۴ ص٢٥۶
(٣) تفسير الطبري ج٢۴ ص٩٣

Scanned by CamScanner

د ميرويس الياسين لخوا سکين شو



حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦ ﴾ [الأنعام:١٤١] يعنې او تاسو د خمکې د حاصل حق د لو کولو او درمند کولو په ورځ کښې ورکړئ.

اما د زکات نصابونو او نورو تفصيلاتو يې په مدينه منوره کښې نزول موندلی دی[١].

د: که څوک وايي چې: رئيس المفسرين (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) خو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ د کلمې څخه طيبه کلمه اراده کړې ده[٢]. يعني مشرکان هغه کسان دي کوم چې په "لا إله إلّا الله" باندې قول نه کوي. نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه تفسير عين د زکات لغوي معنی نه ده؟

مونږ وايو[٣]: شايد چې ذکر شوی روايت به صحت نه لري او يا به د رئيس المفسرين ﷺ په قرائت کښې د ﴿ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ په عوض "لَا يَأْتُونَ الزَّكَاةَ" وي چې د إتيان څخه يې اشتقاق موندلی دی. يعني مشرکان د خپلو ځانونو تزکيه کولو ته ورتګ نه کوي. که نه نو د هغې "إيتاء" څخه ذکر شوې معنی اراده کول ډېر لرې برېښي د کومې څخه چې د ﴿ لَا يُؤۡتُونَ ﴾ کلمې اشتقاق موندلی دی او د (ورکولو) دپاره وضعه شوې ده.

## مَنٌّ څه معنی؟

۵_ په ﴿ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٍ ﴾ کښې د ﴿ مَمۡنُون ﴾ کلمه د "مَنٌّ" _لکه "كَبٌّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پرېکولو او قطعه کولو معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې معناوو سره تفسيره کړې ده:

الف: الله ﷻ مؤمنانو ته داسې اجر ټاکلی دی چې قطعه کړی شوی نه دی او دائمي دی. الله ﷻ فرمايي: ﴿ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ﴾ [هود:١٠٨] يعنې جنتيانو ته الله ﷻ داسې نعمتونه ورکوي چې پرېکړی شوي نه دي بلکې دائمي دي.

ب: الله ﷻ هغوی ته د داسې أجرونو او نعمتونو وعده کړې ده چې د بندګانو د حساب او شمېرلو لاندې نه شي راتلای، الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴾ [المؤمن:۴٠] يعنې نو دغه کسان به جنت ته په داسې حال کښې داخل شي چې هلته به پکښې بې حسابه (بې اندازې) روزي (نعمتونه) ورکړی شي.

ج: ځينې علماء کرام وايي چې دلته د اجر څخه د نېکو اعمالو ثواب مطلب دی. همدې مضمون ته په لاندې حديث شريف کښې اشاره شوې ده:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا كَانَ عَلَى طَرِيقَةٍ حَسَنَةٍ مِنَ الْعِبَادَةِ ثُمَّ مَرِضَ قِيلَ لِلْمَلَكِ الْمُوَكَّلِ بِهِ اكْتُبْ لَهُ مِثْلَ عَمَلِهِ إِذَا كَانَ طَلِيقًا حَتَّى أُطْلِقَهُ أَوْ أَكْفِتَهُ إِلَيَّ»[۴] يعنې يقينًا کله چې يو بنده د

---

(١) تفسير ابن كثير ج۴ ص٩٢؛ اضواء البيان ج٢ ص١٨٩
(٢) الدر المنثور ج٧ ص٣١٣
(٣) روح المعاني ج٢۴ ص٩٩
(۴) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص۶۴٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبادت څخه په ښایسته (ښکه) طریقه روان وي، بیا مریض شي (او د مرض په سبب سره ترې عبادت پاتې شي) نو د الله ﷻ د پلوه هغې پرښتې ته وویل شي کومه چې د نومړي د اعمالو په لیکلو سره ټاکلې شوې ده چې: نومړي ته د هغه عمل مثل لیکه کوم به چې نومړي د خلاصوالي (روغوالي) په حال کښې کاوه، ترڅو چې زه یې د مرض څخه خلاص کړم او یا یې خپل اقدس ذات ته ضمیمه کړم (روح یې قبض کړم).

## تبصره

۶_ که څه هم د مقام په لحاظ سره لومړي دواړه تفسیرونه ښه مناسب برېښي خو که په عبارة النص سره _د بدلیت په لحاظ_ هغه دواړه اراده کړې شي او په اشارة النص سره دریم تفسیر مراد کړې شي هم څه باک یې نشته، بلکې ګټور به پرېوځي.

﴿ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾ ﴾

[۹] (ای پیغمبره!) ته (کفارو ته) ووایه چې: ایا یقیناً تاسو ضرور په هغه اقدس ذات سره کافر کېږئ (انکار ترې کوئ) چې ځمکه یې په دوه وو ورځو کښې پیدا کړې ده؟ او تاسو همدغه اقدس ذات ﷻ ته (په عبادت کښې) سیالان ګرځوئ (شریکوئ)؟!

رب العالمین ﷻ دغه اقدس ذات دی (همدې د عبادت لایق دی او بس، نه هغه بوتان چې تاسو ورباندې معتقد یاست).

[۱۰] او الله ﷻ په ځمکه کښې یې د همدې دپاسه (غرونه) مېخونه ګرځولي دي (چې د دې اضطراري حرکت یې پرې د منځه وړی دی)، او په ځمکه کښې یې برکتونه ایښي دي (د ګټو وټو څخه یې ډکه کړې ده) او په همدې ځمکه کښې یې (د اوسېدونکو دپاره) په داسې حال کښې روزۍ په اندازه کړې دي چې د سوال کوونکو (محتاجانو) دپاره برابرې (او مطابقې) دي، (البته د ځمکې پیدا کول او نور کارونه یې ټول) په څلورو ورځو کښې (تمام کړي دي).

[۱۱] بیا الله ﷻ (د پیداکولو سلسله) اسمان ته په داسې حال متوجه کړه چې اسمان د یوه لوګي په شکل موجودیت درلود (نو اسمان یې پیدا کړ چې د تکثر دپاره قابل وه).

نو الله ﷻ اسمان او ځمکې (دواړو) ته وویلې چې: تاسو دواړه (په هغو منافعو سره) په خوښه او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ناخوښه راتګ وکړئ (کوم چې په تاسو کښې خای په خای شوي دي).
نو دواړو (په جواب کښې) وویلې چې مونږ (ورباندې) په داسې حال کښې راتلل وکړه چې مونږ خوښ یاستو (زور ته اړتیا نشته).
[١٢] نو الله ﷻ په دوه وو ورځو کښې اسمانونه (بالفعل) فیصله (جوړ) کړه، اوه اسمانونه، او هم یې په هر اسمان کښې خپل-خپل کار (په تسخیر سره) جاري کړ. او مونږ نژدې اسمان (د ستورو) په ډیوو سره ښایسته کړ او (د شیطانانو څخه مو ورباندې وساته) ساتل.
(ای پیغمبره!) دغه (چې وړاندې بیان شوه) د کلکې ارادې (او) ډېرې پوهې درلودونکي (الله ﷻ) تقدیر (او اندازه کول) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو کښې دا مضمون هم شامل وه چې مشرکان د قرآن کریم شکریه نه کوي چې د الله ﷻ لوی فضل او عالي شانه معجزه ده، نو د دعوت د قبول څخه په متکبرانه توګه په شدید انکار کښې واقع دي او د توحید عقیده نه خپلوي. په دې ایتونو کښې ځینو دلایلو ته اشاره شوې ده ترڅو هغوی خپله متکبرانه وینا ببرته واخلي او د توحید عقیده خپله کړي ترڅو یې د دنیا او آخرت سعادت په برخه شي.

نو حاصل یې داسې راځېژي چې: ای پیغمبره! د توحید منکرانو ته څه دلایل واوروه ترڅو شرکي عقیده پرېږدي او توحیدي عقیده خپله کړي. هغه دا چې:

١_ هغوی ته ووایه او په تعجب آمېزه لهجه باندې یې مخاطب کړه چې:

الف: ای مشرکانو! ایا تاسو په بل چا باندې نه بلکې په هغه اقدس ذات باندې کفر خپلوئ چې ځمکه یې په کامل قدرت او کامل اختیار سره په دوه ورځو کښې پیدا کړې ده؟

ب: او داسې مخلوقات ورته په عبادت کښې سیالان او شریکان ګرځوئ د کومو د لاسه چې هیڅ شی پوره نه دي بلکې پخپله د ځمکې پیدا کوونکي ته احتیاج دي؟

ج: ای مشرکانو! دغه اقدس ذات چې ځمکه یې پیدا کړې ده د ټولو عالمونو پالونکی او د ټولو احتیاجاتو یې پوره کوونکی دی، نو یوازې همدی ﷻ د عبادت لیاقت لري او بس.

د: د عبادت لیاقت هغه اقدس ذات لري چې په ځمکه باندې یې د همدې ځمکې د جنس څخه د غرونو میخونه وهلي دي او د سکونت جوګه یې ګرځولې ده، که بالفرض غرونو موجودیت نه درلودی نو د ځمکې اضطراري حرکت به نه وی ورک شوی او د دوامداره زلزلې سره به مخامخه وي.

هـ: رب العالمین ﷻ په ځمکه کښې برکتونه کېښودل او په ډول-ډول کانو باندې یې ډکه کړه، او هم یې پکښې جامد او مایع معدنونه پټ کړه چې وخت په وخت تري خلک ګټې پورته کوي.

و: دغه اقدس ذات په ځمکه کښې د همدې ځمکې هغه ټولې روزۍ مقدرې او په اندازه کړې د کومو څخه چې په همدې کښې اوسېدونکي ساکښان استفاده کوي او خپل ژوند ورباندې ساتي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: الله ﷻ د ټولو هغو شیانو احتیاجات او اړتیاوې په همدې ځمکه کښې یو برابر ونغښتلې کوم چې د حال په ژبه سوال کوونکي وه، او د ټولو ضروریات یې پکښې ځای په ځای کړه چې د قیامت تر ورځې پورې به ادامه لري او ختم به نه شي.

ز: څرنګه چې الله ﷻ اراده کړې وه چې د ځمکې مربوط ټول ذکر شوي کارونه په څلورو ورځو کښې سرته ورسوي نو د خپلې ارادې مطابق یې په همدغو څلورو ورځو کښې ترسره کړه.

۲ـ بیا الله ﷻ د پیدا کولو لړۍ اسمان ته متوجه کړه، خو د کوم مخلوق څخه یې چې د اسمان د پیدا کولو اراده کړې وه هغه مخلوق تردې وخته پورې د یوه لوړې په شکل موجود کړی شوی وه نو بیا یې ورته اسماني شکل ورکړ او اسمان یې ترې جوړ او پیدا کړ چې د تکثر قابل وه.

۳ـ مګر د دې څخه وړاندې چې الله ﷻ یو اسمان متعدد اسمانونه وګرځوي، اسمان او ځمکه یې دواړه مخاطب کړه چې تاسو دواړه په هغو منافعو باندې آن ترقیامته پورې راتګ وکړئ کوم چې په تاسو دواړو کښې د ساکښانو دپاره ایښودلی شوي دي، تاسو دواړه دا کار وکړئ برابره ده چې ستاسو خوښه وي او که خوښه مو نه وي.

نو اسمان او ځمکې دواړو په جواب کښې وویلې چې: ای زمونږ ربه! مونږ دواړه په خوښۍ سره دغه منافع میدان ته راوباسو، (بلکې مونږ د دغو منافعو راویستل داسې ګڼو لکه چې سمدستي مو راویستلي وي).

۴ـ بیا الله ﷻ د خپل حکمت په مطابق اراده او فیصله وکړه چې د اسمانونو تعداد اوو (۷) ته پورته کړي، نو دغه کار یې هم وکړ، چې د ټولو اسمانونو پیدا کول یې په دوه ورځو کښې د خپلې ارادې په بنیاد تمام کړ.

۵ـ ای پیغمبره! په دغو دوه ورځو کښې الله ﷻ لاندې کارونه هم انجام کړه چې:

الف: هر یو اسمان ته یې د هغه کار وحې کړه او ورته مسخر یې وګرځاوه کوم چې پکښې تدبیر شوی وه.

ب: مونږ په همدغو دوه وورځو کښې ځمکې ته نژدې اسمان په ستورو سره ښایسته کړ چې د شپې د پلوه لیدونکو ته د ډیوو په شکل ځرګند پړي.

ج: په همدغو ستورو سره مونږ د شیطانانو د ختلو مخنیوی هم وکړ چې اسمان ته وخېژي او هلته د پرښتو څخه څه واوري او بیرته یې جوګیانو ته راښکته کړي، چې هغوی ورسره ښه پرېمانه دروغ ملګري کړي او خلک ورباندې تېر باسي.

د: په دې باندې علاوه مونږ ستوري داسې نښې وګرځول چې په ډاګونو او دریابونو کښې ورباندې مسافرین لارې موندې کوي او شپېنې سفرونه پرې کوي.

۶ـ نو که د اسمان د پیدا کولو دوه ورځې د ځمکې د پیدا کولو د څلورو ورځو سره یوځای کړی شي ټولې به شپږ ورځې جوړې شي.

۷ـ ای پیغمبره! د ځمکو او اسمانونو (په ذکر شوي تفصیل سره) پیدا کول د الله ﷻ کار دی او بس

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د همدغه ﷻ اندازه کول دي چې د کلکې او نه بدلېدونکې ارادې خاوند او په هر شي باندې د کاملې پوهې درلودونکی دی.

٨_ نو نظر پورتنیو دلایلو ته باید مشرکان د الله ﷻ سره هغه باطل معبودان په عبادت کښې شریکان ونه ګڼي کومو چې نه د دنیا په پیدا کولو کښې برخه اخستې ده او نه د برخې اخستلو جوګه دي، او هم نه په روزمره کارونو کښې څه تصرف کولی شي او نه په څه شي پوهه او علم لري.

## توضیحات

١_ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب په ذهن کښې وساتل شي:

الف: په دې ایتونو کښې د هغو شپږو ورځو تفصیل بیان شوی دی کومو ته چې په [الأعراف:٥٤] ایت کښې اشاره شوې ده. هغه دا چې: الله ﷻ په څلورو ورځو کښې ځمکه پیدا کړې ده او په دوه ورځو کښې یې اُوه اسمانونه پیدا کړي دي، چې ټولې شپږ ورځې کېږي.

ب: که څوک وایي چې په دې مقام کښې د ﴿فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ﴾ څخه څرګندېږي چې په شپږ ورځو کښې یوازې ځمکه او د هغې مربوطات پیدا کړی شوي وه، او دا ځکه چې همدغه عبارت د ﴿خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ﴾ په تعقیب نازل شوی دی، نو که د اسمان د پیدا کولو دوه ورځې ورسره ضمیمه کړی شي د خلقت د ټولو ورځو تعداد به اَتو ورځو ته ورسېږي چې په دې باندې هیڅ مسلمان قول نه دی کړی. نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه ایتونه د ذکر شوي ایت شریف تفصیل او تفسیر واقع کېدلی شي حال دا چې د دوارو ترمنځ د ورځو په تعداد کښې تفاوت دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ﴾ عبارت د مضاف په تقدیر سره دی چې د "فِي تَتِمَّةِ أَرْبَعَةِ أَيَّام" ترې جوړېږي[١]، نو په دغو څلورو ورځو کښې هغه دوه ورځې هم شاملې دي کومو ته چې په ﴿خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ﴾ کښې اشاره شوې ده، یعنې: الله ﷻ په دوه ورځو کښې ځمکه پیدا کړه او په نورو دوه وو ورځو کښې یې د هغې مربوطات پیدا کړه چې مجموعه یې څلور ورځې جوړېږي، او د اسمان د پیدا کولو د دوه ورځو په انضمام سره یې تعداد شپږو ورځو ته پوره کېږي.

ج: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ﴾ په عوض "فِي يَوْمَيْنِ" نازل نه کړی شو ترڅو په مقصودي معنی باندې صراحت شوی وی؟

مونږ وایو چې: په دې ډول نزول کښې _والله ﷻ اعلم_ لاندې حکمتونه مرموز دي:

اول: ترڅو الله ﷻ د قرآن کریم تفسیر کوونکو ته اجرونه اضافه کړي چې د مطلوبې معنی په موندلو پسې زیار باسي او متشابهات ایتونه محاکماتو ایتونو ته راجع کوي.

دوهم: ترڅو د قرآن کریم د نه منلو دپاره کفارو ته بهانه په لاس ورنه شي چې مونږ ځکه د قرآن کریم سره سیالي نه شو کولی چې په دې کښې زمونږ د محاورې خصوصیت د نظره غورزولی شوی دی.

---

(١) تفسیر روح المعاني ج٢٤ ص١٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كه نه نو يو ايت لا څه چې ډېر ايتونه به مونږ جوړ كړي وي او د قرآن د اعجاز مخه به مو نيولې وې.

دغه ډول استعمال په عربي محاوره كښې موجوديت لري لكه چې وايي: "سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ إِلَى بَغْدَادَ فِيْ عَشْرَةِ أَيَّامٍ وَإِلَى الْكُوْفَةِ فِيْ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا"[١] يعني زه د بصرې څخه بغداد ته په لسو ورځو كښې ورسېدم او كوفې ته په پنځلسو ورځو كښې لاړم. يا په بل عبارت: زه د بصرې څخه كوفې ته په پنځلسو ورځو كښې ورسېدم چې لس ورځې مې د بصرې او بغداد ترمنځ مسافه ووهله، او پنځه ورځې مې د بغداد او كوفې ترمنځ مسافه طې كړه.

## د دنيا لومړۍ ورځ كومه ورځ ده؟

د: كه څوك وايي چې: د دنيا وروستنۍ ورځ خو د جمعې ورځ ده چې نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ»[٢] يعني او قيامت به قائم نه شي مگر د جمعې په ورځ. نو پوښتنه دا ده چې د دنيا د ابادۍ لومړۍ ورځ كومه ورځ ده؟

مونږ وايو چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه په متعددو اسنادو سره روايت شوى دى چې دنيا په «يَوْمُ الأَحَدِ» يكشنبې سره پيل شوې ده او همدا يې لومړنۍ ورځ ده[٣].

كه څه هم ذكر شوى حديث موقوف دى مگر حكمًا مرفوع گڼلى كېږي ځكه چې دا موضوع د هغو موضوعاتو څخه ده په كومو كښې چې څوك په عقل سره څه نه شي ويلى، نو شايد چې نوموړي صحابي ﷺ به د نبي كريم ﷺ څخه اورېدلي وي.

ه: كه څوك وايي چې په اوږده حديث كښې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خَلَقَ اللهُ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ»[٤] يعني الله ﷻ د خالي (شنبې) په ورځ خاوره (ځمكه) پيدا كړې ده؛ نو پوښتنه دا ده چې: په تاسو باندې څه باعث دى چې په دغه حديث باندې مو استدلال ونه نيوه او د دنيا لومړۍ ورځ مو يكشنبه (اتوار) وبنودله؟

مونږ وايو چې: دغه حديث د محدثينو په نزد كمزورى دى او د اعتبار قابل نه دى، دوى دا هم وايي چې دا حديث اصلاً د كعب الأحبار څخه روايت شوى دى خو راوي د توهم د كبله نبي كريم ﷺ ته منسوب گرځولى دى او د مرفوع لقب يې ورپېرزو كړى دى[٥].

و: كه څوك وايي چې د ورځو موجوديت خو د لمر د طلوع او غروب سره پيل شوى دى نو په كار دي چې د دنيا د پيدا كولو اولنۍ ورځ د يكشنبې ورځ ونه گڼله شي، چې په هغه وخت كښې خو نه طلوع وه او نه غروب ترڅو ورځو تحقق موندلى وى او په هغو نومونو باندې نومولې شوې وې چې اوسورباندې نومولې شوې دي؟

---

(١) تفسير القرطبي ج١٥ ص٣٤٣
(٢) صحيح مسلم ج٢ ص٢٨٢
(٣) الدر المنثور ج٧ ص٣١٥
(٤) صحيح مسلم ج٢ ص٣٧١
(٥) تفسير ابن كثير ج٤ ص٩٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حکمي مرفوع حدیث مطلب دا دی ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د دنیا موجودیت په داسې موده کښې صورت نیولی دی که بالفرض په هغې موده کښې طلوع او غروب موجود وی او ورځو تحقق موندلی وی نو د شروع ورځ به یې د یوم الاحد (یکشنبې) ورځ وی[1].

لنډه دا چې د هغو شپږو ورځو ټولو کیفیات یوازې الله ﷻ ته معلوم دي او بس، نو په کار دي چې هغو ورځو ته د دنیاوي ورځو په نظر ونه کتلی شي. همدې موضوع ته د [الأعراف ۵۴] ایت لاندې څه اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## په پیدایښت کښې ځمکه مخکښې ده او که اسمان؟

ز: که څه هم په پیدایښت کښې د اسمان او ځمکې مخکې والی او وروسته والی د بندګانو په مکلفیت باندې څه اثر نه اچوي ترڅو پکښې زیات تحقیق وکړی شي مګر د ایتونو د تفسیر په لحاظ پکښې تحقیق ضرور دی. او دا خکه چې په دې موضوع کښې دوه ډوله ایتونه نازل شوي دي:

اول: یو ډول یې دلالت کوي چې ځمکه په خلقت کښې مخکښې ده، لکه همدغه اینونه چې بحث پکښې روان دی چې د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ﴾ جمله هم پکښې نازله شوې ده، همدغسې یوې جملې په [البقرة: ۲۹] ایت کښې هم نزول موندلی دی، یعنې الله ﷻ ځمکه پیدا کړه بیا یې د پیداکولو مخ اسمان ته واړاوه. دا خکه چې: د "ثُمَّ، ثُمَّ" توري د زماني په تراخي (وروستوالي) باندې دلالت کوي.

دوهم: د بل ایت څخه څرګندېږي چې خبره بالعکس ده اسمان په خلقت او پیدایښت کښې د ځمکې څخه وړاندې دی. الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴾ [النازعات: ۳۰] یعنې الله ﷻ د اسمان د خلقت څخه وروسته ځمکه خوره (پیدا) کړه.

ح: ځینو علماوو کرامو ـ چې په سر کښې یې عبد الله بن عباس ﷺ واقع دی ـ دېته ترجیح ورکړې ده چې ځمکه په خلقت کښې د اسمان څخه مخکښې ده.

دوی د ﴿ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴾ [النازعات: ۳۰] تفسیر داسې کوي چې: «أَنْ أَخْرَجَ مِنْهَا الْمَاءَ وَالْمَرْعَى وَخَلَقَ الْجِبَالَ»[2] یعنې:

اول: الله ﷻ په دوه وو ورځو کښې ځمکه پیدا کړه او د ضروریاتو استعداد یې پکښې کېښود.

دوهم: بیا یې په دوه وو ورځو کښې اسمانونه پیدا کړه او شماره یې ورته اوو ته پوره کړه.

دریم: بیا یې ځمکه وغوړوله چې اوبه یې پکښې وبهولې او څرخایونه یې پکښې موجود کړه او هم یې پکښې غرونه او غونډۍ نصبې کړي او داسې نور. یا په بل عبارت کوم شیان چې د ځمکې په استعداد کښې ایښودل شوي وه هغو ته یې عملي بڼه ورکړه.

لنډه دا چې د دې ایتونو او د هغه ایت ترمنځ څه تناقض نشته، فقط په نزول کښې دلته د ځمکې

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۲۵۵
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د غوړولو دوه ورځې د اسمانونو د پيداكولو د دوه وو ورځو څخه وړاندې نازل شوي دي كه څه هم په موجوديت كښې وروسته دی.

ط: ځينو نورو علماوو كرامو راجحه ګڼلې ده چې د اسمان پيدايښت د ځمكې د پيداكولو څخه وړاندې دي. دوی وايي چې د "ثُمَّ، ثُمَّ" توري په دواړو ايتونو كښې د حقيقي تراخي (وروستوالي) دپاره نه دی چې اعتراض وارد شي بلكې دواړه په ذكري شوې تراخي (وروستوالي) باندې دلالت كوي. يعنې ای پيغمبره! د ځمكې د پيدايښت د ذكر څخه وروسته اوس د اسمان پيدايښت هم ذكر كړه چې الله ﷻ يې پيداكولو ته اراده وكړه نو اسمان ته يې هم موجوديت وروبښه او شماره يې ورته اوو ته پوره كړه.

## تبصره

ي: مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلم بحقيقة الحالـ چې د ځمكو او اسمانونو په پيداكولو باندې متعدد مراحل تېر شوي دي چې په ځينو مرحلو كښې اسمانونه مخكښې دي او په ځينو نورو كښې ځمكې وړاندې دي، نو په ځينو ايتونو كښې يوې مرحلې ته كتلی شوي دي او د اسمان خلقت مخكښې ګڼلی شوې دي او په ځينو نورو ايتونو كښې د بلې مرحلې په لحاظ ځمكې ته د وړاندېوالي لقب وركړی شوی دی، چې تفصيل يې دا دی:

اول: الله ﷻ اسمان د لوګي په شكل پيدا كړ چې په دغه وخت كښې لا ځمكه نه وه پيدا كړې شوې نو د اسمان پيدايښت مخكښې شو.

دوهم: بيا الله ﷻ ځمكه پيدا كړه او مختلف استعدادونه يې پكښې ونغښتل خو عملاً يې لا په كار باندې نه وه اچولي، نو په دې لحاظ سرّه ځمكه د اسمان څخه وړاندې ده چې په دغه وخت كښې لا اسمان خپل اسماني شكل نه وه خپل كړی.

دريم: بيا الله ﷻ اسمان ته اسماني شكل وركړ او شمېره يې هم ورته اوو ته وخېژوله، خو په دغه وخت كښې لا د ځمكې استعدادونه پټ وه، نو د اسمان خلقت د وړاندېوالي لقب وګاټه.

څلورم: بيا الله ﷻ د ځمكې استعدادونو ته عملي بڼه وركړه چې اوبه يې پكښې جاري كړې او غرونه يې ورباندې ودرول او داسې نور، نو په دې لحاظ د ځمكې خلقت وروسته ګڼلی كېږي.

## كوچنۍ مناسبت

٢ــ په ﴿ أَقْوَاتَهَا ﴾ كښې د "أَقْوَات" د كلمې اضافت د ځمكې ضمير (هَا) ته د كوچني مناسبت د كبله صورت نيولی دی چې ځمكه د "أَقْوَات" روزيو دپاره ظرف ده[١].

نو كه مونږ ترې په "أَقْوَاتَ أَهْلِهَا" سره تعبير وكړو هم څه بده نه ده. يعنې الله ﷻ د ځمكې د اوسېدونكي دپاره په همدې ځمكه كښې روزۍ مقدرې او په اندازه كړې.

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## نحوي تحليل

۳ـ مفسرينو كرامو د ﴿ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ﴾ په ارتباط متعدد تحليلونه كړي دي[١]، خو كوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه په لاندې ټكو كښې راخلاصه كوو:

الف: د ﴿ سَوَآءً ﴾ كلمه د "مستوية" په تاويل سره د "أقْوات" د كلمې څخه حال واقع شوې ده.

ب: په ﴿ لِّلسَّآئِلِينَ ﴾ كښې د "ل" توری په همدغې ﴿ سَوَآءً ﴾ كلمې پورې تعلق نيسي.

ج: د "سَائِلِينَ" كلمه د محتاجانو څخه كنايه ده چې د حال په ژبه او يا د قال په ژبه د الله ﷻ څخه خپلې اړتياوې غواړي.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: الله ﷻ په ځمكه كښې په داسې حال روزي ګانې نغښتې دي او ځمكه يې ورته مستعده ګرځولې ده چې د ټولو محتاجانو او سوالګرو سره برابره ده، چې د قيامت تر ورځې پورې پكښې كمبود نه واقع كېږي او هم يو د بل روزي نه شي خوړولی، د هر چا برخه معلومه ده.

همدا مضمون په بل ايت كښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ﴾ [إبراهيم:۳۴] يعنې او الله ﷻ تاسو ته د هرې هغې نوعې نعمتونو څخه دركړي دي كوم چې تاسو يې تړې (د حال او يا د قال په ژبه) غواړئ، او كه تاسو يې شمار كړئ (د شمېرلو نيت يې وكړئ) نو وبه يې نه شئ شمېرلی.

## سوالونه او جوابونه

۴ـ په دې مقام كښې د سړي په ذهن كښې لاندې سوالونه ګرځي راګرځي:

الف: كه څوك وايي چې: په ﴿ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا ﴾ كښې اسمان او ځمكه په ﴿ ٱئْتِيَا ﴾ سره مخاطب او مامور ګرځولي شوي دي حال دا چې دغه دواړه د جماداتو څخه دي، د خطاب صلاحيت پكښې نشته؟

مونږ وايو: ځينو مفسرينو كرامو ذكر شوی خطاب په حال باندې محمول كړی دی (نه په قال باندې)[٢]، ته به وايې چې دواړو ته ذكر شوی خطاب متوجه كړی شوی دی. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذكر شوی خطاب په حقيقت باندې حمل كړی شي، او دا ځكه چې اسمان او ځمكه د جماداتو څخه دي خو د الله ﷻ په نزد هيڅ جماد ګونګ نه دی. لكه چې پوره بيان يې [الإسراء:۴۴] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

ب: كه څوك وايي چې: د ﴿ ٱئْتِيَا ﴾ د كلمې مضمون خو داسې راوخي چې تاسو دواړه راشئ (موجود شئ)، حال دا چې د خطاب په وخت كښې خو دواړو موجوديت درلود، نو ايا د موجود شي بيا موجوديت صحت لري؟

---

(١) تفسير ابي السعود ج۸ ص۵؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۱۸۸

(٢) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ﴿ ٱئْتِيَا ﴾ معنى دا نه ده چې تاسو دواړه موجوديت قبول کړئ، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې معنى يې دا ده چې په هغو منافعو باندې راتګ وکړئ کوم چې په تاسو دواړو کښې ځاى په ځاى شوي دي[1]. يا په بل عبارت: اى اسمانه! ته د لمر او سپوږمۍ او نورو ستورو په طلوع او غروب باندې پيل وکړه او نور هغه کارونه راڅرګند کړه د کومو دپاره چې ته مستعد ګرځولى شوى يې لکه باران اورول او داسې نور، او اى ځمکې! ته نباتات رازرغون کړه او معادن راښکاره کړه او رنګارنګ ميوجاتو ته وده ورکړه او داسې نور.

ج: که څوک وايي چې: په ﴿ قَالَتَآ ﴾ کښې "السَّمَاء، الأَرْض" دواړو کلمو ته مونث ضمير راجع کړى شوى دى حال دا چې په دغو دواړو کښې د تانيث علامه نشته؟

مونږ وايو چې: ذکرې شوې دواړه کلمې حقيقي مونثې نه دي بلکې سماعي مونثې دي چې په استعمال کښې مونثې اوربهدلې شوې دي.

د: که څوک وايي چې: د ﴿ طَآئِعِينَ ﴾ په کلمه کښې مستتر ضمير ذکرو شوو دواړو کلمو ته راجع دى نو په کار دي چې "طَائِعَتَيْنِ" نازل شوى وى ترڅو يې ورسره په تانيث کښې توافق موندلى وي؟

مونږ وايو چې: ذکره شوې کلمه په ﴿ أَتَيْنَا ﴾ کښې د "نَا" څخه حال واقع شوې ده چې تانيث پکښې نشته، که څه هم په دې مقام کښې دغه د "نا" کلمه په مصداق کښې د اسمان او ځمکې سره متحده ده، مګر سماعي مونثه نه ده.

ه: که څوک وايي چې: په کار وه چې د ﴿ طَآئِعِينَ ﴾ د کلمې په عوض "طَائِعَيْنِ" په مثنى سره نازله شوې وى ځکه چې د "السَّمَاء، الأَرْض" دواړه کلمې خو دوه دي، درې نه دي؟

مونږ وايو چې: په اسمان او ځمکه کښې د معنى په لحاظ جمعيت شته دى چې د اسمانونو تعداد اوو ته رسېږي او ځمکې هم اُوه دي، نو دلته همدغه معنوي جمعيت ته کتلى شوي دي.

و: که څوک وايي چې: د ﴿ طَآئِعِينَ ﴾ کلمه سالمه جمعه ده چې په عربيت کښې د ذو العقولو صفات ورباندې جمعه کېږي، حال دا چې اسمانونه او ځمکې خو ذو العقول نه دي؟

مونږ وايو چې: دواړه په ﴿ ٱئْتِيَا ﴾ سره مخاطب کړى شوه او هم په ﴿ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ سره موصوف وګرځولى شوه نو داسې وګڼل شوه لکه چې دوى دواړه ذو العقول وي.

## د همدې ايت يو نظير

د همدغه ډول جمعيت يو نظير د [يوسف:۴] ايت لاندې شرحه شوى دى، والحمد لله ﷻ.

۵ـ په کار دي چې په دې ايتونو کښې لاندې يادونې په ذهن کښې وساتلى شي:

الف: په ﴿ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ ﴾ کښې د "قَضَى" کلمه د "قَضَاء" څخه اشتقاقه ده چې د يوه کار د فيصلو کولو معنى ورکوي، برابره خبره ده چې د کار فيصله کول په قول سره وي چې په کولو

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۱۰۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته عملي بڼه ورکړې شي(١)، په بانديې يې قطعي حکم وکړې شي، او يا په فعل سره وي چې يوه کار ته عملي بڼه ورکړې شي(١)، په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده.

ب: د "هُنَّ" ضمير د "السَّماء" کلمې ته راجع دی خو د معنی په لحاظ سره چې تعدد پکښې ملحوظ دی.

ج: د ﴿ سَبْعَ ﴾ په اعراب کښې مفسرينو کرامو متعدد احتمالات ليکلي دي(٢)، خو بهتره دا برېښي چې دا به د "هُنَّ" ضمير دپاره عطف بيان واقع شوی وي کوم چې محلاً منصوب دی.

نو پورتنيو ملحوظاتو ته په پام سره به يې حاصل داسې راوځېږي چې: نو الله ﷻ اسمانونه په موجودولو سره فيصله کړه (عملي بڼه يې ورکړه) اوه اسمانونه.

د: په ﴿ وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ﴾ کښې د "أَوْحَى" کلمه اصلاً د "وحي" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:١٦٣] ايت لاندې بڼه پوره شرحه کړې ده چې يوه معنی يې تسخير دی. په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

هـ: او په ﴿ أَمْرَهَا﴾ کښې د "أَمْر" کلمه د هر هغه کار څخه عبارت ده د کوم استعداد چې الله ﷻ په هر اسمان کښې اېښی دی، چې يوازې همدی ﷻ ورباندې ډېر ښه پوهېږي. يعنې الله ﷻ هر يو اسمان د خپل-خپل کار دپاره مسخر وګرځاوه او په هر يوه کښې يې خپل-خپل کار جاري کړ.

و: په ﴿ وَحِفْظًا ﴾ کښې د "حِفْظًا" کلمه په مقدر فعل سره منصوبه ده چې مونږ تري په "حَفِظْنَاهَا" سره تعبير کوو. يعنې او مونږ نژدې اسمان د ستورو په ډيوو سره ښايسته وګرځاوه او په همدې ستورو سره مو د شيطانانو د ورختلو څخه بچ وساته، چې د ورختلو او غوږ نيولو په وخت کښې ورباندې ويشتلی کېږي.

﴿ فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَـٰعِقَةً مِّثْلَ صَـٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذْ جَآءَتْهُمُ
ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۖ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ
مَلَـٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَـٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ
وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا۟
بِـَٔايَـٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِىٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ
عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا

(١) مفردات الراغب ص٤٢١
(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١١٣؛ البحر المحيط ج٩ ص٢٩٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَٰعِقَةُ ٱلْعَذَابِ ٱلْهُونِ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿۱۸﴾ ﴾

[۱۳] نو که مشرکانو (د توحید څخه) اعراض وکړ نو (ته ورته) ووایه چې: زه تاسو د داسې هلاکوونکي عذاب څخه ډاروم لکه د عادیانو او ثمودیانو عذاب.

[۱۴] کله چې هغوی ته پیغمبران د وړاندې خوا او د شا د خوا (بلکې د هره طرفه) ورغله (او په مختلفو دلایلو سره یې ترغیب کړه) چې تاسو (د هیچا) عبادت مه کوئ مګر یوازې د الله ﷻ (او بس). هغوی (د پیغمبرانو په جواب کښې) وویلې چې (تاسو په دروغو د نبوت دعوه کوونکي یاست): که بالفرض زمونږ د رب ﷻ اراده شوې وی (چې مونږ ته پیغمبران راولېږي) نو هرومرو به یې پرښتې رالښکته کړې وی، نو یقیناً مونږ په هغه شي سره کافران (نامنونکي) یاستو په کوم سره چې تاسو (په خپل خیال) را استولی شوي یاست.

[۱۵] نو هر چې عادیان وه نو هغوی په ځمکه کښې په ناحقه تکبر وکړ او ویې ویلې چې هغه څوک دی چې زمونږ څخه د قوت (او زور) د حیثه سخت (او کلک) وي؟

(هغوی دا خبره کوله) او نه یې لیده (نه پوهېده) چې یقیناً هغه الله ﷻ چې هغوی یې پیدا کړي وه همغه ﷻ ترې د قوت (او زور) د حیثه سخت (او کلک) وه. حال دا چې هغوی په زړه کښې د پوهېدلو سره-سره زمونږ په ایتونو سره (په عنادي توګه) انکار کاوه.

[۱۶] نو مونږ په هغوی باندې په شومو ورځو کښې زورور سوزوونکی باد د دې دپاره ورولېږه ترڅو مونږ هغوی ته په نړدې (او حقیر) ژوند کښې د شرمندګي (او رسوایي) عذاب وروڅکو، او د آخرت (دوزخ) عذاب خو هرومرو ډېر زیات شرموونکی (او رسواکوونکی) دی حال دا چې هلته به ورسره (د هیڅ طرفه) نصرت هم ونه کړی شي (چې نجات ورکړي).

[۱۷] او هر چې ثمودیان وه نو مونږ هغوی ته (ښې او بدې دواړه لارې) وښودلې خو هغوی د هدایت په قبول باندې ړوندوالی (ګمراهي) خوښه کړه. نو هغوی لره هم هلاکوونکي (او) سپکوونکي عذاب د دې کبله ونیول چې دوی وه چې (په دوامداره توګه) به یې (د جنایتونو) کسب کاوه.

[۱۸] او مونږ (د پیغمبر په شمول) هغو کسانو ته نجات ورکړ کومو چې ایمان راوړی وه او وه چې (په دائمي توګه د الله ﷻ څخه) ډارېدل.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ څه دلایل نازل کړي وه ترڅو مشرکان د عنادي اعراض څخه لاس واخلي او د توحید عقیده خپله کړي. په دې ایتونو کښې څه تهدید ته اشاره شوې ده چې د دلایلو د عدم قبول په صورت کښې د الله ﷻ د عذاب څخه وډار شئ چې بنیاد به مو داسې وباسي لکه چې د پخوانیو قومونو بنیاد یې چې ویستلی وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! که مشرکانو د توحید دلایلو ته غوږ کېنښود او خپل عنادي اعراض ته یې ادامه ورکړه نو هغوی په عذاب سره تهدید کړه او ورته ووایه چې:

۱_ ای مشرکانو! زه تاسو د داسې عذابي تندر څخه ډاروم لکه څنګه چې په عادیانو او ثمودیانو باندې د عذاب تندر د الله ﷻ د پلوه ورنازل شوی وه او ټول یې پوپنا کړه.

۲_ دا څکه چې ذکرو شوو کفارو ته د هرې خوا څخه پیغمبران ورغله او په هر ډول نصائح یې ورته ورلنډې کړه، نه یې ورځ پرېښودله او نه شپه، نه انفرادي مجالس او نه اجتماعي، حتی نه پټ او نه ښکاره، بلکې په ټولو حالاتو کښې یې د توحید دعوت ورکړ مګر هغوی ورته هیڅ اعتناء ونه کړه او دعوت یې قبول نه کړ. دعوت دا وه چې تاسو د بل هیچا عبادت مه کوئ مګر یوازې د الله ﷻ، چې یوازې همدی ﷻ د عبادت مستحق دی او بس.

۳_ هغوی د شرک څخه لاس وانخست او بهانه یې دا ونیوه چې کوم سړي چې مونږ ته د پیغمبرانو په نامه راغلي دي هغوی دروغژنان دي او په ناحقه یې د نبوت دعوې کړې دي، دا څکه چې که بالفرض زمونږ د رب ﷻ اراده شوې وی چې مونږ ته پیغمبر راولېږي نو ضرور به یې دا کار د پرښتو څخه اخستی وی، ایا مونږ هغه څوک د پیغمبر په حیث قبول کړو کوم چې زمونږ په شان بنیادم دی؟ نو په همدې بنیاد مونږ تاسو ته غوڅ جواب درکوو چې ای د نبوت مدعیانو! مونږ په هغه څه باندې کافران یاستو او نه یې قبلوو کوم چې تاسو ورباندې (په خپل خیال) رالېږلی شوي یاست.

۴_ ای پیغمبره! هر چې عادیان وه نو هغوی لاندې کړنلاره خوښه کړه:

الف: هغوی په ناحقه تکبر وکړ او دعوت ته یې شا کړه حال دا چې هغوی د ځمکې اوسېدونکي وه او په کار وه چې تواضع یې کړې وی او تکبر ته یې لاس نه وی اچولی.

ب: هغوی خپل تکبر ښه په ډاګه کړ او ویې ویلې چې: مونږ د هیچا د عذابه نه ډارېږو، ایا زمونږ څخه د قوت د حیثه زیات قویان او زوروران شته؟ په مونږ باندې د هیچا زور د پاسه نه دی، مونږ د عذاب د نزوله هیڅ نه ډارېږو.

۵_ ای پیغمبره! هغوی ذکرې شوې متکبرانه خبرې تکرارولې حال دا چې هغوی نه لیده او نه پوهېده چې:

الف: یقیناً هغه الله ﷻ چې هغوی یې د نشت څخه پیدا کړي وه او د بنیادمانو څېرې یې ورکړې وې، همغه الله ﷻ د هغوی څخه د قوت د حیثه زیات وه او هر څه یې د واکه پوره وه.

ب: بلکې هغوی هم په خپلو زړونو کښې پوهېده چې د الله ﷻ قوت په دوی باندې دپاسه دی، خو د عناد د کبله یې پوهه پټه ساتلې وه او د تکبر خبرې یې کولې.

۶_ نو د هغوی د ذکرې شوې کړنلارې نتیجه دا شوه چې مونږ ورباندې اوه شپې او اته ورځې ډېر توند باد وچلاوه چې دغه شپې او ورځې د هغوی دپاره ډېرې شومې او د ناکاره پایلو درلودونکې وې چې د ټولو بنیاد پکښې د څرمې وویستلی شو.

۷_ ذکر شوی عذاب د هغوی دپاره نهایي عذاب نه وه بلکې دا یو ابتدایي عذاب وه چې مونږ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وربانديې په همدغه نړۍ او حقير ژوند کښې ورنازل کړ ترڅو هغوی په دنيا کښې وشرمولی شي او د قيامت تر ورځې پورې ترې د همدوی غوندې عنادي کفار د عبرت درس واخلي.

هوا د هغوی نهايي عذاب د آخرت عذاب دی چې د قيامت په ورځ به وربانديې پيل کېږي، چې هغه ډېر رسواکوونکی او شرموونکی عذاب دی او په دې باندې علاوه هلته به د هغوی سره هيڅ نصرت هم ونه شي کړی چې نجات ترې ومومي او نه به انتهاء ولري بلکې ابدي به وي.

۸ـ ای پيغمبره! هر چې ثموديان وه د هغوی حال هم عاديانو ته ورته وه، چې مونږ ورته د هدايت اسباب ورواستول او توحيد ته مو دعوت کړه، خو هغوی په څمکه کښې د تواضع په عوض تکبر وکړ او خپل ځانونه ورته ډېر زيات قوي وبرېښېدل، نو نتيجه يې دا شوه چې د ګمراهۍ لاره يې خپله کړه او همدا ورته محبوبه ځرګنده شوه.

۹ـ ثموديان هم د تندر سپکوونکي عذاب ونيول او تول يې پوپنا کړه، البته چې دغه عذاب د هغوی د خپلو کسبي جنايتونو نتيجه وه او هيڅ تېری وربانديې نه وه شوی.

۱۰ـ ای پيغمبره! مونږ د عاديانو او ثموديانو د هلاک په وخت کښې يوازې په همدوی باندې عذابونه ورنازل کړه او په دواړو صورتونو کښې مو هغه کسانو ته نجات ورکړ کومو چې د پيغمبرانو دعوت قبول کړی وه او د کفرياتو او شرکياتو څخه يې خپل ځانونه بچ کړي وه.

نو که ستا د زمانې کفار هم د هغوی غوندې خپلو کفرياتو ته ادامه ورکړي او د توحيد دلايلو ته شا کړي نو مونږ به په دوی باندې هم دنياوي سپکوونکی عذاب ورنازل کړو او خپلو دوستانو ته به نجات ورکړو، البته چې اُخروي عذاب خو لا ورته په وړاندې پروت دی.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ صَـٰعِقَةً مِّثْلَ صَـٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴾ کښې د ﴿ صَـٰعِقَةً ﴾، ﴿ صَـٰعِقَةِ ﴾ کلمې د هغه اور څخه عبارت دي کوم چې د وريځې څخه د باران په وخت کښې کله-کله راښکته کېږي[1] چې په پښتو کښې ورته تندر وايو، خو په مهلک او بنياد ويستونکی عذاب باندې يې هم اطلاق کېږي[2] چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

يعنې ای پيغمبره! د خپلې زمانې کفارو ته د اعراض په سورت کښې ووايه چې زه خو تاسو د داسې مهلک او بنياد ويستونکي عذاب څخه ډاروم لکه څنګه چې په عاديانو او ثموديانو باندې ورنازل شوی وه، چې په تاسو باندې به هم درنازل کړی شي.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په ﴿ إِذْ جَآءَتْهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ ﴾ کښې د سړي په ذهن کښې لاندې سوالونه ګرځي راګرځي:

---

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۸۲۴

(۲) تفسير الخازن ج ۵ص۳۷۶؛ مفردات الراغب ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د "هُمْ، هِمْ، هِمْ" درېواړه ضميرونه دوه وو قومونو ته راجع دي نو په کار وه چې د "هُمَا، هُمَا، هُمَا" ضميرونه نازل شوي وی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوي دواړه قومونه د زښتو ډېرو ډلو درلودونکي وه چې د همدغو ډلو په ملحوظ ورته د جمعي ضمائر راجع کړی شوي دي.

په دې باندې علاوه، کله-کله په عربيت کښې د مثنی څخه هم په جمعه تعبير صورت نيسي[١]، او دلته د عربيت همدغه استعمال په نظر کښې نېولی شوی دی، والله ﷻ أعلم.

ب: که څوک وايي چې: په همدغه عبارت کښې د ﴿ ٱلرُّسُلُ ﴾ کلمه جمعه ده حال دا چې ذکرو شوو دواړو قومونو ته دوه پيغمبران (هُود ؑ، صالح ؑ) وراستولی شوي وه؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه ده چې هغوی ته ډېر پيغمبران ورغلي وي، خو په قرآن کريم کښې مونږ ته فقط د همدغو دواړو په نومونو باندې صراحت شوی دی.

ج: که څوک وايي چې: د ذکر شوي عبارت څخه په ظاهره څرګندېږي چې پيغمبران عاديانو او ثموديانو ته نه وه ورغلي بلکې د هغوی څخه په وړاندې او وروسته زمانو کښې يې لېږلو صورت نيولی وه؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو د دغه اعتراض د جوابولو دپاره ډېر جوابونه کړي دي[٢]، خو کوم جواب چې مونږ ته په زړه پوری برېښېدلی دی هغه دا دی چې: په دې مقام کښې پخوانی زمانې او وروستنی زمانې مطلبې نه دي ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دلته د ﴿ مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ ﴾ کلمات د ټولو جهاتو څخه کنايه دي[٣].

يعني عاديانو او ثموديانو ته د دعوت په جريان کښې د هرې خوا څخه پيغمبران ورغله او د ژوند په هر ا. خ باندې يې ورته رڼا واچوله او هم يې په مختلفو اساليبو او طريقو سره ورته دلايل اقامه کړه، خو هغوی خپل کفري خط السير تبديل نه کړ.

## څه قرآني نظاير

٣ـ د دې دپاره چې ذکر شوی جواب ښه واضحه شي لاندې قرآني نظاير يې هم ولولئ:

الف: الله ﷻ د همدې قرآن کريم په هکله فرمايلي دي چې: ﴿ لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦ ﴾ [فصلت:٤٢] يعني قرآن کريم داسې کتاب دی چې باطل نه د وړاندې خوا او نه د وروسته خوا ورتلای شي (د هيڅ لارې څخه پکښې غلطه خبره نه موندله کېږي).

ب: الله ﷻ د شيطان د خولې څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ ﴾ [الأعراف:١٧] يعني ای ربه! سوګند دی چې زه به بيا بنيادمانو ته د وړاندې خوا او د دوی د ېېرته

---

(١) روح المعاني ج٢٤ ص١٠٩

(٢) تفسير البغوي ج٤ ص١٠٩؛ البحر المحيط ج٩ ص٢٩٣؛ المحرر الوجيز ج١٤ ص١٧٠

(٣) تفسير الكشاف ج٤ ص١٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوا څخه ورشم (په هرې ممکنې طريقې او حيلې به يې تېر باسم او په هيڅ وسيله به صرفه ونه کړم).

ج: همدې ته ورته مضمون الله ﷻ د نوح ﷺ د پلوه هم مونږ ته نازل کړی دی چې: ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴾ [نوح: ۵] يعنې نوح ﷺ وويلې چې ای زما ربه! ما خپل قوم د شپې او ورځې توحيد ته دعوت کړ (او په همدې هکله مې هيڅ لاره پرېښنبودله خو هغوی زما دعوت قبول نه کړ).

## د دوه وو لغاتو معناوې

۴ـ په ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ ﴾ کښې د "صَرْصَر" کلمه يا د شديد اوازکوونکي ګرم باد نوم دی او يا د اوازکوونکي سوړ باد لقب دی[۱].

او د ﴿ نَّحِسَاتٍ ﴾ کلمه د "نَحْسَة" ـلکه "نَظْرَة"ـ جمعه ده چې د صفت مشبه صيغه ده او د "نَحْس" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده[۲]. "نحس" دې ته ويل کېږي چې د اسمان څنډې تکې زيړې وګرځي، لکه د اور لمبې چې لوړی ورسره شتون ونه لري[۳]، خو په عربي محاوره کښې د "نَحْسَة" لقب هغې ورځې ته ورکول کېږي کومه چې سراسري په غمونو او مشکلاتو باندې ډکه وي، دغې ورځې ته په پښتو کښې سپېره ورځ او شومه ورځ وايي.

د دغو ورځو تعداد ته الله ﷻ په [الحاقة: ۷] ايت کښې اشاره کړې ده چې اوه شپې او اته ورځې ورباندې توند او سخت باد چلېدلی وه، او د دغه باد سختوالي ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ مَا تَذَرُ مِن شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴾ [الذاريات: ۴۲] يعنې دغه باد هيڅ شی نه پرېښنود چې ورباندې به ورغی، مګر د ايرو غونډې به يې ګرځاوه.

نو د مضمون حاصل يې داسې کېږي چې: نو مونږ په عاديانو باندې په ډېرو شومو او سپېرو ورځو او شپو کښې داسې توند سوزونکی باد وچلاوه چې ټول يې ايره کړه او د ټولو بنياد يې ور وويست.

## د دې زمانې عاديان

۵ـ نن ورځ[۴] امريکايانو د عاديانو خاصيت خپل کړی دی او غواړي چې د ټولې دنيا څخه د اسلام نوم ورک کړي، د همدې کبله په هر مملکت کښې په مسلمانانو باندې نظامي عمليات کوي چې ځينې وژني او ځينې اسيران ګرځوي.

نن ورځ امريکايان هم وايي چې "مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً" هغه څوک دی چې د قوت د حيثه زمونږ څخه کلک او زيات دی؟ زمونږ مقابله هيڅوک نه شي کولی، مونږ په ټولې نړۍ باندې برلاسي ياستو. د هر چا چې مرګ زړه غواړي نو زمونږ مقابلې ته دې راوړاندې شي.

---

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۸۱۲؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۶۴؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۱۲۰
(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۱۱۲
(۳) مفردات الراغب ص۵۰۶
(۴) ۱۴۲۳/۲/۱۴ هق - ۱۳۸۱/۲/۶ هش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نن ورځ دوی په ډېر تکبر سره ټولې نړۍ ته د اخطار په توګه وايي چې: هر ملت او هر مملکت باید د دغو دوه لارو څخه یوه د خپل ځان دپاره غوره کړي، چې یا زموږ مرستندویان شي زموږ مشري او رياست قبول کړي، او يا زموږ په مقابل کښې زموږ د دښمنانو او تروريستانو په څنګ کښې ودرېږي، دوی حقيقي مسلمانانو مجاهدينو ته د خپلو دښمنانو لقب ورکوي او بس.

نن ورځ که څه هم اسلامي هيوادونه ډېر دي خو افسوس چې د خپلې بې اتفاقۍ د کبله ـ د ایران د اسلامي دولت څخه پرته ـ یو هم په اسلام او مسلمانانو باندې غيرت نه کوي، او نه خپله خپلواکي څرګندولی یا غوښتلی شي.

الله ﷻ ته سوال کوو چې د اوس وخت په عاديانو باندې هم د پخوانيو زمانو د عاديانو غوندې قدرتي آفت ورنازل کړي، او داسې يې تبت پرک کړي لکه څنګه يې چې د افغان مجاهدينو په مقابل کښې روسان تيت پرک کړل، آمين يا رب العالمين.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّواْ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ﴾ کښې د ﴿ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ﴾ په عوض "عَلَى الْهِدَايَة" نازل نه کړی شو، حال دا چې دواړه (هداية، هدی) د ﴿ فَهَدَيْنَٰهُمْ ﴾ دپاره مصدرونه دي؟

موږ وايو چې: که څه هم دغه دواړه مصدرونه د لغت په لحاظ څه فرق نه لري مګر د استعمال په لحاظ دا فرق لري[1] چې: د "هداية" کلمه مطلق لارښوونې ته وضعه شوې ده برابره ده چې لارښوول شوی کس په لارښوونه موصوف شوی وي او که نه (لارښوول يې قبول کړي وي او که نه).

اما د "هدی" کلمه د هغې لارښوونې څخه عبارت ده په کومې سره چې يوازې د الله ﷻ د پلوه لارښوول شوی کس په لارښوولو سره موصوف ګرځولی شوی وي (مطلب ته رسولې شوې وي).

يعنې او موږ ثموديانو ته "هداية" وکړه چې عقلونه مو ورکړي وه او شريعت مو د پيغمبرانو په ذريعه ورنازل کړی وه، خو هغوی زموږ "هداية" د "هُدَی" مقام ته ونه رساوه چې قبول کړی يې وي بلکې د عدم قبول خوا يې غوره کړه او خپل ځانونه يې ورباندې ړانده واچول.

همدې مضمون ته ورته مضمون الله ﷻ په بل ايت کښې داسې نازل کړی دی چې ﴿ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴾ [البلد: ١٠] يعنې او موږ انسان ته دواړه لارې وښودلې (چې دا د خير لاره ده او دا د شر لاره ده، خو کافر انسان د شر لاره خوښه کړه).

## يادونه

۷ـ موږ د الله ﷻ په مرسته د [الأعراف: ۷۸] ايت لاندې ښه تحقق کړی دی چې ثموديان په څه ډول عذاب سره هلاک کړی شوي دي، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ
سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُوا۟ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ
قَالُوٓا۟ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنطَقَ كُلَّ شَىْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا
كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ
لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ
ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصْبِرُوا۟ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا۟ فَمَا هُم مِّنَ ٱلْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾ ﴾

[١٩] او هغه ورځ یاده کړه چې د الله ﷻ دښمنان به (یکښې) دوزخ ته ورغونډ کړی شي، نو دوي به (یکښې د خوربدلو او بې نظمیو څخه) را ایسارولی کېږي.

[٢٠] آن تردې چې کله په کامل انتظام سره دوزخ ته ورشي نو خپل غوږونه او خپلې سترګې او (هم) خپل پوستکي به ورباندې په هغو جنایتونو سره شهادت ورکړي کوم چې دوی دي چې (په دنیا کښې) یې کوي.

[٢١] او د الله ﷻ دښمنان به خپلو پوستکو ته ووایي چې تاسو په مونږ باندې ولې شهادت اداء کړ؟ (حال دا چې مونږ خو ستاسو د نجات دپاره انکاري شوی وو).

پوستکي به یې (په جواب کښې) ووایي: مونږ هغه الله ﷻ چې هر (غږېدونکی) شی غږوي وغږولو، او همده ﷻ تاسو اول ځل پیدا کړي یاست (او حواس یې درکړي وه)، او (همدارنګه تاسو ته په دنیا کښې ویل شوي وه چې) خاص همده ﷻ ته به تاسو راجع کړی شئ (خو تاسو ورباندې باور نه کاوه).

[٢٢] او تاسو (په دنیا کښې) نه وئ چې (خپل جنایات) مو پټول چې په تاسو باندې به خپل غوږونه او خپلې سترګې او (هم) خپل پوستکي شهادتونه ورکړي (ستاسو ګومان نه وه چې دا کار به صورت ونیسي)، مګر تاسو (په دنیا کښې) ګومان کاوه چې یقینًا الله ﷻ د هغو کارونو څخه چې تاسو یې عملي کوئ په ډېرو باندې نه پوهېږي (البته کومو ته چې په پرده کښې صورت وکړی شي).

[٢٣] او (ای مشرکانو!) دغه ستاسو هغه ګومان دی چې تاسو (په بل چا باندې نه بلکې) په خپل رب ﷻ کاوه همدغه (ګومان) تاسو هلاک کړئ (او ابدي دوزخ ته یې ورغورزولئ) نو (په دائمي توګه) د زیانکارانو څخه وګرځېدئ.

[٢٤] نو (ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې) که کفار صبر وکړي (او که صبر ونه کړي) نو (په دواړو
صورتونو کښې) ورته دوزخ استوګنځای دی. او که دوی (په دغې ورځ) د الله ﷻ د راضي کولو هڅه 11 6
وکړي (چې ایمان راوړي او توبه وباسي) نو دوی به د رضایت قبول کړی شوو څخه نه وي (الله ﷻ به
ترې راضي نه شي او نه به یې بېرته دنیا ستانه کړي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحید د دلایلو څخه اعراض کوونکو کسانو ته په دنیاوي عذاب سره تهدید ورکړی شوی وه او په دې ایتونو کښې په اُخروي عذاب سره تهدید ورکولی کېږي چې د توحید عقیده خپله کړئ که نه نو په آخرت کښې به د دائمي عذاب سره مخامخ شئ. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د دنیاوي عذاب د تهدید څخه وروسته مشرکانو او کفارو ته په اُخروي عذاب سره تهدید ورکړه او په خپل اُمت باندې قرائت کړه چې:

۱ـ په کومه ورځ چې د الله ﷻ دښمنان او کفار اور او دوزخ ته ورټول کړی شي او د دې دپاره چې په اجتماعي صورت سره پکښې وروغورزولی شي نو دوی به ټولګی-ټولګی وګرځولی شي او هر یو ټولګی به داسې راغونډ کړی شي چې وړاندېني او وروستني به سره په یوه اجتماع کښې صورت ونسي.

۲ـ آن تر دې چې هغوی دوزخ ته ښه ډېر ورنژدې کړی شي او د دوزخ عذابونه په سترګو وګوري نو سمدستي به د خپلو جنایتونو او کفریاتو څخه انکار وکړي او په سوګند سره به ووایي چې: په الله ﷻ سوګند دی چې مونږ په دنیا کښې مشرکان نه وو، او هیڅکله مو کفر او شرک نه وه غوره کړی.

۳ـ په دغه وخت کښې به الله ﷻ د هغوی په خولو باندې مهر ولګوي او د اختیاري خبرو کولو قوت به ترې واخلي او د هغوی اندامونو ته به امر وکړي چې تاسو واقعیات بیان کړئ. یا په بل عبارت: په دنیا کښې چې ستاسو په وړاندې کوم جنایات واقع شوي دي هغه هوبهو څرګند کړئ او شاهدي ورباندې ورکړئ.

۴ـ نو سمدستي به په کفارو باندې د دوی غوږونه، سترګې، پوستکي او نور اندامونه په هغو جنایتونو سره شهادتونه ورکړي کوم چې دوی په دنیا کښې دي چې عملي بڼه ورکوي او په کسب باندې یې اخته دي.

۵ـ په دې وخت کښې به کفار هک پک حیران شي چې د دوی د خپلو ځانونو څخه ورباندې شاهدان تېر شوه، نو د همدې کبله به خپلو اندامونو او خپلو پوستکو ته په عتاب او غُصې سره ووایي چې: تاسو ولې په مونږ باندې شهادتونه ورکړه؟ تاسو خو زمونږ سره په عذابونو کښې شریکان یاست، مونږ خو په دې غرض د خپلو جنایتونو څخه انکار غوره کړی وه چې تاسو ته نجات درکړو، نو په تاسو څه باعث وه چې په ټولو جنایتونو باندې مو ټکي په ټکي شهادتونه ورکړه؟

۶ـ د کفارو پوستکي او نور اندامونه به جواب ورکړي چې:

الف: مونږ پوهېږو چې تاسو زمونږ د نجات دپاره دروغ وایاست او په دې هم پوهېږو چې زمونږ شهادتونه زمونږ په ضرر تمامېږي، مګر مونږ هغه الله ﷻ ګویان کړو او په خبرو یې راوستلو چې هر شی ګویانوي او هر شی په خبرو باندې راولي، د ده ﷻ د ګویانولو قدرت په ژبو پورې محدود نه دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: الله ﷻ هر خبرې کوونکي شي ته د خبرو کولو قوت ورکړی دی، او دا توان هم لري چې هر غیر ناطق شی ناطق وګرځوي، چې مونږ هم د همدغې جملې څخه یاستو. د مثال په توګه: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د خاورو څخه اول خل پیدا کړي یاست او ستاسو ژبه یې په خبرو سره ناطقه ګرځولې ده نو همدغه اقدس ذات مونږ (ستاسو اندامونه) هم ناطق وګرځولو.

ب: ای مشرکانو! تاسو ته خو د الله ﷻ د پلوه د پیغمبرانو په ذریعه ویل شوي وه چې هرومرو به تاسو الله ﷻ ته راجع کړی شئ او د همده ﷻ په حضور کښې به د درباندې خپل اندامونه هم شاهدي اداء کړي، خو تاسو ورباندې باور نه کاوه او انکار مو درباندې خپل کړی وه.

ج: د همدې کبله تاسو په دنیا کښې نه وئ چې خپل جنایات مو د خپلو اندامونو څخه پټ کړي وی چې د قیامت په ورځ به درباندې شهادت اداء کړي. یا په بل عبارت: که بالفرض تاسو همدغه ډار درلودی نو په دنیا کښې به د جنایتونو نه وی مرتکب شوی او اجتناب به مو تری کړی وی.

د: په دې باندې علاوه ستاسو غلط ګومان دا وه چې یقینًا الله ﷻ ستاسو په ډېرو کارونو باندې نه پوهېږي. یا په بل عبارت: الله ﷻ ته هغه جنایات معلوم نه دي کوم چې په پټه وکړی شي.

ه: دغه ګومان ستاسو هغه ګومان وه چې تاسو یې هلاک کړئ او د دوزخ کندې ته یې ورواچولئ؛ تاسو په خپل رب ﷻ باندې دغسې غلط ګومان کاوه چې نن ورځ تاسو د زیانکارانو او تاوانیانو د جملې څخه وګرځېدلئ چې د خلاصون چاره درباندې د هره طرفه درولی شوې ده.

۷_ ای پیغمبره! کله چې مشرکان او کفار د خپلو اندامونو د پلوه هم ملامت کړی شي نو په دغه وخت کښې به ورته هیڅ د تمې خای پاتې نه شي. نو:

الف: که په دغه وخت کښې هغوی صبر وکړي، صبر به ورته ګټه ونه شي رسولی او د دوزخ څخه به نجات ورنه کړی شي بلکې همدغه دوزخ به یې استوګنځای وي او بس.

ب: او که اراده وکړي چې خپل رب ﷻ د خپلو ځانونو څخه په توبو او سوالونو سره راضي کړي نو هغوی به د دغه کار کوونکي هم نه وي او نه به یې د توانه پوره شي.

لنډه دا چې په دغې ورځ کښې به په کفارو باندې د نجات ټولې دروازې وتړلی شي، نو دوی ته په کار دي چې نن ورځ د خپل نجات غم وخوري.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا ﴾ کښې د ﴿ يُوزَعُونَ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [النمل:۱۷] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده چې د بې نظمۍ د مخنیوي معنی ورکوي. او د ﴿ حَتَّىٰٓ ﴾ توری په ذکر شوې کلمې پورې تعلق نیسي او هم پکښې د "ما" توری د تاکید دپاره دی[1] لکه څنګه چې په ﴿ عَمَّا قَلِيلٍ ﴾ [المؤمنون: ۴۰] ایت کښې د "ما" توری د تاکید دپاره نازل شوی دی.

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۱۱۵؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: هغه ورځ چې د الله ﷻ دښمنان (کفار) د ډېرو کلکو تدابیرو لاندې دوزخ ته ورټول کړی شي نو هیڅوک به بې نظمي ونه کړی شي چې خواره واره او تیت پرک شي، آن تردې چې کله د پوره نظم لاندې هلته ور ورسېږي، نو د خپلو کفریاتو څخه به انکاري شي ترڅو نجات ومومي، مګر سمدستي به د خپلو اندامونو د شهادت سره مخامخ شي او انکار به ورته بې ګټې وګرځي.

## د اندامونو شهادتونه

۲ـ په ﴿ شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم ﴾ الآية- کښې دېته اشاره ده چې د قیامت په ورځ به په کفارو باندې خپل خپل اندامونه شهادت ورکړي چې دا یې راباندې کړي دي او دا یې راباندې ویلي دي او داسې نور.

مونږ د الله ﷻ په توفیق همدا موضوع د احادیثو په رڼا کښې د [النور:۲۴] او [یس:۶۵] ایتونو لاندې ځېړلې ده چې بیا ځېړل یې د کتاب د اوږدولو څخه پرته څه ګټه نه لري، نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي، خو د دې مقام په لحاظ ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: د دغو ایتونو لاندې ځینو مفسرینو کرامو ښه پرېمانه احادیث راغونډ کړي دي[1] چې یو ځل لوستل یې ګټور تمامېږي.

ب: په دې مقام کښې الله ﷻ د غوږونو او سترګو او هم د پوستکو شهادت نازل کړی دی خو دغه نزول د حصر په توګه نه دی بلکې د قیامت په ورځ به د لاسونو او پښو په شمول ټول اندامونه شهادتونه ورکړي، لکه چې په نورو نصوصو کښې ورباندې صراحت شوی دی.

ج: ځیني علماء کرام په دې مقام کښې د ﴿ لِجُلُودِهِمْ ﴾ څخه د کنایې په توګه غلیظ عورتونه مراد ګڼي[2]، خو مونږ ته بهتر برېښي چې خپله حقیقي معنی (پوستکي) ترې اراده کړی شي، ضرورت نشته چې غیر متبادرې معنی ته لاس واچولی شي.

د: که څوک وایي چې: په دې کښې څه وجه ده چې د شهادت څخه وروسته به مشرکان یوازې پوستکو ته سوال متوجه کړي او ګیله به ورته وکړي چې دا کار مو ولې وکړ، حال دا چې شهادت خو به ټولو اندامونو ورکړی وي؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې پوستکي تقریبًا په ټولو اندامونو باندې مشتمل دی او د تعذیب لومړي څکونکي هم دي نو پوستکو ته ګیله داسې وګڼله شوه لکه ټولو اندامونو ته یې چې ګیله کړې وي او سوال یې ورته متوجه کړی وي.

په دې باندې علاوه دا هم څه لرې نه ده چې سوال جواب به هلته د ټولو شهادت ورکوونکو اندامونو سره صورت ونیسي خو الله ﷻ به د مثال په توګه یوازې د پوستکو د سوال جواب په ذکر

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۹۵؛ تفسیر الطبري ج۲۴ ص۱۰۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۲۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې اکتفاء کړې وي، والله ﷻ أعلم.

ه: ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د پوستکو جواب په ﴿ أَنطَقَ كُلَّ شَىْءٍ ﴾ باندې تمام شوی دی او متباقي کلام په جواب کښې شامل نه دی[1]، بلکې الله ﷻ د پوستکو د جواب تائيد نازل کړی دی.

مونږ ته بهتره دا برېښي چې د پوستکو جواب به په ﴿ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴾ باندې تمام شوی وي، چې په همدغه طرز تفسير سره مو د مطلب په خلاصه کښې د ايتونو مضمون ليکلی دی.

و: که څوک وايي چې: د ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ جملې مضمون داسې راخېژي چې ای مشرکانو! او تاسو به يوازې الله ﷻ ته راجع کړی شئ، حال دا چې په دغه وخت کښې به مشرکان الله ﷻ ته راجع کړی شوي وي او قيامت به قائم وي؟

مونږ وايو چې: ذکره شوې جمله د مقدر (قِيلَ) دپاره مقوله ده، يعني ای مشرکانو! او تاسو ته په دنيا کښې ويل شوي وه چې د قيامت په ورځ به يوازې الله ﷻ ته راجع کړی شئ خو تاسو درباندې عقيده نه خپلوله او باور مو درباندې نه کاوه.

ز: يوه ورځې د کعبې شريفې ترڅنګ درېوو کسانو لاندې خبرې اترې وکړې:

يوه پوښتنه وکړه چې ايا الله ﷻ زمونږ خبرې اترې اوري؟

بل جواب ورکړ چې که خبرې په جهر سره وکړو نو الله ﷻ يې اوري او که نه نو نه يې اوري.

درېم کس په جواب کښې وويلې چې که بالفرض الله ﷻ زمونږ خبرې اترې اوري نو ټولې به اوري (برابره خبره ده چې پټې وي او که ښکاره) او که نه يې اوري نو يو ډول خبرې به مو هم نه اوري.

عبد الله بن مسعود ﷺ د دوی خبرې واورېدې او نبي کريم ﷺ ته يې ورسولې چې دغو کسانو داسې خبرې کولې، «فَأَنْزَلَ اللهُ ﴿ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ ﴾ إِلَى قَوْلِهِ ﴿ فَأَصْبَحْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ »[2] يعني نو الله ﷻ دغه دوه ايتونه د ﴿ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ ﴾ څخه تر ﴿ مِّنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴾ پورې نازل کړه.

ح: مفسرينو کرامو په ﴿ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ ﴾ کښې د نحويت په لحاظ متعدد تحليلونه کړي دي[3]، خو کوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی[4]، هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

اول: ﴿ وَذَٰلِكُمْ ﴾ مبتداء ده او هغه ګومان ته اشاره ده کوم چې په وړاندېنې ايت کښې ذکر دی چې الله ﷻ په ډېرو کارونو علم نه لري، العياذ بالله.

---

(١) زاد المسير ج٧ ص٥٩: تفسير البغوي ج٤ ص١١٢

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٦٠: صحيح البخاري ج٢ ص٧١٢

(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١٢٨

(٤) تفسير ابي السعود ج٨ ص١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: ﴿ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمۡ ﴾ د همدغې مبتداء دپاره لومړی خبر دی.

دریم: ﴿ أَرۡدَىٰكُمۡ ﴾ د همدغې مبتداء دپاره دوهم خبر دی.

نو حاصل یې داسې راځي چې: د قیامت په ورځ به پوستکي مشرکان مخاطب کړي او ورته به ووايي چې: ای مشرکانو! تاسو په بل څه باندې نه بلکې په خپل رب ﷻ دغه ګومان وه چې ستاسو په ډېرو اعمالو باندې علم نه لري. همدغه ګومان تاسو هلاک کړئ، د تل دپاره یې په دوزخ کښې وغورزولئ چې د نجات ټولې دروازې درباندې تړلې دي.

## څو نکات

۳ـ په ﴿ فَإِن يَصۡبِرُواْ فَٱلنَّارُ مَثۡوًى لَّهُمۡ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د ﴿ فَإِن يَصۡبِرُواْ ﴾ څخه وروسته به "أَوۡلَا يَصۡبِرُوا" جمله مقدره وي. یعنې نو که په دغې ورځ کښې کفار صبر وکړي او که صبر ونه کړي په دواړو صورتونو کښې ورته ابدي دوزخ استوګنځای ټاکلی شوی دی، په آخرت کښې په صبر سره مشکلات نه حل کېږي لکه څنګه چې په دنیا کښې درباندې حل کېږي.

مونږ ځکه ذکره شوې جمله مقدره وګڼله چې د بل ایت څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې: ﴿ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٖ ﴾ [إبراهیم:۲۱] یعنې مشران کافران به کشرانو او پیروانو کفارو ته د قیامت په ورځ ووايي چې: په مونږ ټولو باندې نن ورځ برابره ده چې بې صبري (جزعي فزعي) وکړو یا صبر وکړو (په دواړو صورتونو کښې) مونږ ته خلاصون او نجات نشته.

ب: د ﴿ إِن يَسۡتَعۡتِبُواْ ﴾، ﴿ ٱلۡمُعۡتَبِينَ ﴾ دواړه کلمې اصلاً د "عُتۡبی" ـ لکه "بُشۡرَی" ـ څخه اشتقاقي شوې دي چې د رضامندۍ معنی ورکوي[1] او څه بیان یې د [النحل:۸۴] ایت لاندې تېر شوی دی.

نو حاصل یې داسې راځي چې: که کفار د قیامت په ورځ د الله ﷻ د رضامندۍ حاصلولو هڅې وکړي او وغواړي چې یا یې هملته د محشر په میدان کښې ایمان او توبه قبول وګرځي او یا بېرته دنیا ته ورتاو کړی شي چې هلته د ایمان او توبې سره صالح اعمال ملګري کړي ترڅو د مشکلاتو څخه خلاص او د دوزخ څخه نجات مونده کړي، نو دوی به په دغې ورځ کښې د هغو کسانو د جملې څخه ونه ګرځولی شي کومو ته چې د ذکرو شوو دواړو غوښتنو څخه یوه غوښتنه منظوره کړی شوې وي. او دا ځکه چې په مرګ سره د ایمان او توبې د قبول دروازه تړله کېږي او فرصت د لاسه وځي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَا يَتَمَنَّى أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ فَإِنَّهُ عِنْدَ انْقِطَاعِ عَمَلِهِ وَلَا يُرَدُّ فَيَسْتَعْتِبُ»[2] یعنې ستاسو یو کس دې هم د مرګ آرزو نه کوي ځکه چې همدغه مرګ د عمل

(۱) لسان العرب ج۱ ص۵۷۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د انقطاع په وخت کښې صورت نيسي (د عمل انقطاع ورسره ملګري ده) او بيا دنيا ته نه شي راګرځولی کېدی چې ترڅو ترې د الله ﷻ د رضامندي حاصلولو غوښتنه وکړی شي چې د ګناهونو څخه توبه تائب جوړ شه او د ایمان سره صالح اعمال ملګري کړه.

﴿وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوا۟ لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَـٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَسْمَعُوا۟ لِهَـٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَٱلْغَوْا۟ فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعْدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُ ۖ لَهُمْ فِيهَا دَارُ ٱلْخُلْدِ ۖ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيْنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٢٩﴾﴾

[۲۵] او مونږ کفارو ته ملګري (شيطانان) ټاکلي دي نو هغوی ته هغه جنايات ښايسته کوي کوم چې د هغوی په وړاندې دي (چې نه جنت شته او نه دوزخ شته او داسې نور) او هغه جنايات هم کوم چې هغوی د خپلو ځانونو څخه وروسته پرېږدي (او روزمره پکښې لګيا دي، ترسره کوي يې).
او د عذاب خبره وربانديې په داسې حال کښې په اثبات رسېدلې ده چې هغوی په هغو اُمتونو کښې (شامل) دي کوم چې ترې وړاندې تېر شوي دي، چې د پيريانو او انسانانو څخه عبارت دي. (او دا خکه چې) يقيناً هغوی (ټول) زيانکاران (او تاوانيان) دي (چې د تاوان جبران ورته امکان نه لري).

[۲۶] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی (يو تربله او هم پيروانو ته) وايي چې: تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ او په دې کښې (د قرائت پر وخت) شورماشور کوئ شايد چې تاسو وربانديې غلبه مونده کړئ (او په خپله عقيده کلک پاتې شئ).

[۲۷] نو هرومرو (او ضرور) به مونږ هغو کسانو ته سخت عذاب ور وڅکو کومو چې کفر غوره کړی دی (او کفر ته دعوت چلوي)، او هرومرو (او ضرور) به مونږ ورته د هغو بدو اعمالو جزا ورکړو کوم چې دوی دي چې (روزمره) يې کوي.

[۲۸] (ای پيغمبره!) دغه د الله ﷻ د دښمنانو جزا ده چې د اور (دوزخ) څخه عبارت ده، همدوی لره به په دوزخ کښې (د عذابونو) د تلپاتې کېدو کور وي (د دوزخ په داخل کښې به ورته بنديخانه وي).
(الله ﷻ به ورته جزا ورکړي) په دې سبب جزا ورکول چې دوی په دوامداره توګه زمونږ په ايتونو سره جحود (انکار) کوي (او په زړونو کښې وربانديې باور لري).

[۲۹] او هغه کسان به ووايي کومو چې کفر غوره کړی دی (او د شيطانانو دعوت يې قبول کړی دی) چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته هغه دوه کسان راوښيې (راولېد کړې) کومو چې مونږ د سمې لارې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه اړولي ياستو چې د پيريانو او بنيادمانو څخه عبارت دي، ترڅو يې مونږ د خپلو قدمونو لاندې د دې دپاره وګرځوو چې د ښکته خلکو (ذليلانو) د جملې څخه جوړ شي.

## ارتباطونه

١ـ د وړاندېنيو ايتونو په مضامينو کښې دا خبره هم شامله وه چې د توحيد څخه د اعراض کوونکو کفارو دپاره د هغوی بدګوماني د هلاکت سبب جوړه شوې ده چې الله ﷻ په پټو شيانو باندې نه پوهېږي. په دې ايتونو کښې د هغوی د هلاکت خارجي سبب ته اشاره شوې ده چې إنسي او جني شيطانان يې د هلاکت کندې ته ورغورزوي.

٢ـ هلته د کفارو د ګمراهۍ بيان نازل شوی وه او دلته يې د ګمراه کولو بيان نازل شوی دی. او هم د ګمراه کوونکو او ګمراهانو عاقبت ته اشاره شوې ده، چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د عنادي سرغړوونکو په هکله څه نور مطلب هم قرائت کړه چې:

١ـ ذکرو شوو اعراض کوونکو (چې د الله ﷻ دښمنۍ ته يې په کلکه ملاوې تړلې دي) د نېکيو استعداد د لاسه ورکړی دی او د زړه سترګې يې ړندې دي (هيڅ بصيرت نه لري). نو د همدې کبله ورته مونږ داسې انډيوالان ټاکلي دي چې روزمره يې بدې لارې ته اړوي حال دا چې دغه اعراض کوونکي ګومان کوي چې په ډېره ښه لاره باندې روان دي چې ډېر ژر به ورباندې مطلب ته ورسېږي.

يا په بل عبارت: دغه شيطانان انډيوالان ورته لاندې کارونه ښايسته کوي:

الف: هغه کارونه ورته ښايسته کوي په کومو کښې چې اعراض کوونکي کفار لګيا دي او روزمره يې د مخې تېرېږي، او ورته وايي چې د بوتانو عبادت، د اسلام د پرمختګ مخنيوی او داسې نور ډېر ښه کارونه دي.

ب: د آخرت په هکله يې ورته هم عقيده ښکلې ګرځوي، چې نه حساب شته او نه کتاب، نه بيا راژوندي کېدل حقيقت لري او نه به مونږ د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شو او داسې نور.

٢ـ په دغو عنادي کفارو باندې ـ چې په زړونو باندې يې مهر لګېدلی دی ـ د تعذيب خبره ثبوت ته رسېدلې ده چې مونږ به ورباندې ضرور دوزخ ډک کړو، خو عنادي اعراض کوونکي به د دوزخ په ډکولو کښې يوازې نه وي بلکې دوی به په هغو ډېرو کفري اُمتونو او ډلو کښې شامل وي کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، برابره خبره ده چې د پيريانو کفري ډلې دي او يا د انسانانو، او دا خکه چې دوی ټول زيانکاران او تاوانيان دي.

٣ـ ای پيغمبره! ذکر شوي عنادي اعراض کوونکي کفار په همدې اکتفاء نه کوي چې پخپله يې حقه لاره خطا کړې ده او د جني او انسي شيطانانو په لمسون په باطله لاره باندې روان دي، بلکې هغوی نور خلک هم د لارې څخه اړوي او د خپلو شيطانانو دپاره کومکيان واقع کېږي چې د نورو خلکو په ګمراه کولو کښې ورسره لاس کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مثال په توګه: دغه اعراض کوونکي عنادي کفار عوامو ته او هم يو تربله دا توصيه کوي چې:
تاسو دغه قرآن کريم ته غوږ مه ږدئ چې په ناڅاپي ډول سره به مو په زړونو څه اغېز وکړي، او همدارنګه د تلاوت په وخت يې کښې شور او غوغا اچوئ چې نور څوک يې هم وانه وري.
که تاسو دغه دوه کارونه وکړئ شايد چې وربانديې به زورور شئ او تاثير به دربانديې ونه کړي، او که نه نو هره ګړۍ دا وېره شته چې زړونه مو د اغېز لاندې راولي او عقيده وربانديې وکړئ.

۴ـ نو ای پيغمبره! مونږ به همدغه کسانو ته په دنيا او آخرت کښې ډېر شديد عذاب وروڅکو چې دا ستاسو د شديد کفر نتيجه ده. او همدارنګه به هرومرو مونږ ورته د هغو عملونو جزا هم ورکړو کوم چې دوی دي چې روزمره يې کوي او وربانديې لګيا دي چې خلک د قرآن کريم د اورېدلو څخه منعه کوي او د قرائت په وخت کښې يې شور او غوغا خپلوي.

۵ـ ای پيغمبره! دغه د الله ﷻ د دښمنانو (عنادي اعراض کوونکو کفارو) جزا ده چې په آخرت کښې د اور (دوزخ) څخه عبارت ده. همدوی لره په همدغه دوزخ کښې د همېشوالي کور دی چې هيڅکله به ترې رابهر نه شي او نه به وربانديې دوزخ سوړ جوړ شي. او دا ځکه چې:
ذکره شوې جزا ورته د دې کبله ټاکلې شوې ده چې دوی روزمره د دوام په توګه زمونږ د ايتونو څخه په داسې حال کښې انکار کوي چې په زړونو کښې وربانديې باوري دي، خو فقط د عناد د کبله په خپل کفر کلک دي.

۶ـ ای پيغمبره! نن ورځ خو ذکر شوي عنادي کفار د خپلو انډيوالانو سره مينه او محبت لري او په اطاعت کښې يې څغلي، برابره خبره ده چې جني انډيوال يې وي او که انسي، خو داسې ورځ راتلونکې ده چې همدغه محبت کوونکې ډلې به د خپل رب ﷻ څخه وغواړي چې:
ای زمونږ ربه! مونږ ته هغه دوه کسان راوليده کړه کوم چې د پيريانو او انسانانو څخه دي او مونږ يې بې لارې کړي ياستو، ترڅو يې مونږ د پښو لاندې کړو او خپله غُصه وربانديې سړه کړو. ای زمونږ ربه! همدغو ګمراه کوونکو کسانو ته په دوزخ کښې زمونږ څخه لاندې ټيټه طبقه ورکړه ترڅو د سخت عذاب څکونکي وګرځي او د ضلالت او د اضلال دواړو جنايتونو سزا وګوري.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ ﴾ کښې د "قَيَّضْنَا" کلمه اصلاً د "قَيْض" ـلکه "بَيْع" ـ څخه اشتقاق شوې ده، "قَيْض" د هګۍ پوټکي ته وضعه شوې ده چې د ټولو خواوو څخه يې په هګۍ باندې احاطه کړې وي[1]. يعني مونږ ذکرو شوو عنادي کفارو ته چې بصيرت يې د لاسه ورکړی دی داسې شرير انډيوالان ټاکو کوم چې وربانديې د هر حيثه مسلط وي او ټول حواس يې په خپله خوښه ځرخوي (همدا د طبعې او مهر لګولو معنی ده).
همدې مضمون ته په نورو ايتونو کښې هم اشاره شوې ده. لاندې مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) لسان العرب ج۷ ص۲۲۴؛ مفردات الراغب ص۴۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴾ [مریم:٨٣] یعنې ایا ته نه ګورې چې مونږ په کفارو باندې شیطانان مقرروو (مسلطوو) چې د میچنې غوندې یې چورلوي او اواز ترې باسي اواز ویستل.

ب: ﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴾ [الزخرف:٣٦] یعنې او هرڅوک چې د ډېر مهربان الله ﷻ د ذکر څخه ړوند شي او خپل ځان د بې بصیرته خلکو په قطار کښې ودروي، نو د هغه دپاره مونږ شیطان ټاکو چې ورسره انډیوال (ملګرى) وي او څه چې ورته وایي همغه ورته هدایت برېښي.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَزَيَّنُوا۟ لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ کښې د "ما، ما" دواړه توري په دې مقام کښې د څه شي څخه کنايي دي؟

مونږ وایو چې: د دغو دواړو تورو په تفسير کښې مفسرينو کرامو متعدد اقوال کړي دي[١] لکه:

الف: ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ﴾ د هغو کارونو څخه عبارت دى کوم چې په آخرت پورې اړه لري. يا په بل عبارت: دوى ورته بنایسته کوي چې نه جنت شته، نه دوزخ، نه حساب او نه بیا راژوندي کېدل.

او د ﴿ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ کلمات د هغو کارونو څخه عبارت دي کوم چې کفار یې روزمره اجراء کوي او خپلو شاوو ته یې پرېږدي، لکه کفريات، شرکيات، د شهواتو پيروي او داسې نور.

ب: ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ﴾ د دنياوي أمورو معنی ورکوي او ﴿ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ د أخروي أمورو څخه عبارت دى (دا قول د وړاندې قول په عکس دى).

ج: ﴿ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ﴾ د هغو کارونو څخه کنايي دى کوم چې د هغوى په وړاندې دي او پکښې اخته دي، او ﴿ وَمَا خَلْفَهُمْ ﴾ د هغو کارونو څخه عبارت دى کومو ته چې هغوى قصد لري چې په راتلونکي کښې به یې ترسره کړي.

زمونږ په فکر ذکر شوي اقوال سره چندان منافات نه لري که د بدليت په لحاظ درېواړه اراده کړى شي نو هم څه باک یې نشته.

## القول څه معنی؟

٣ـ خینو مفسرينو کرامو[٢] په ﴿ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْقَوْلُ ﴾ کلمه دلته په ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ [الأعراف:١٨] سره تفسيره کړې ده، یعنې الله ﷻ ابلیس مخاطب کړ چې هرومرو او ضرور به ستا او ستا د پیروانو (ستاسو) ټولو څخه دوزخ ډک کړم.

خو په دې مقام کښې مونږ ته دا هم بده نه برېښي چې ذکره شوې کلمه په عین ایت کښې د ﴿ إِنَّهُمْ

(١) روح المعاني ج٢٤ ص١١٨؛ تفسير القرطبي ج١٥ ص٣٥٤؛ البحر المحيط ج٩ ص٣٠١
(٢) تفسير ابي السعود ج٨ ص١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿كَانُواْ خَٰسِرِينَ﴾ څخه عبارت شي، یعنې. په هغو کفارو باندې په کومو باندې چې شیطانان مسلط کړی شوي دي، دا خبره په اثبات رسېدلې ده چې یقینًا دوی زیانکاران او تاوانیان دي.

## د قرآن کریم د حقانیت بل دلیل

۴ـ په ﴿لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ﴾ کښې د "اَلْغَوْا" کلمه د "لَغْو" ـ لکه "قَوْل" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "لَغْو" په عبثو کارونو او عبثو قولونو دواړو کښې استعمالېږي. لکه د خولې غومبر او شپېلي وهل، د تخرګونو څخه اوازونه ویستل او د لاسونو پړقول، د مرغانو چنهار او چغار او داسې نور[1].

د قرآن کریم د حقانیت یو دلیل دا دی چې د خپل ځان دپاره په زړونو کښې پخپله ځای پیدا کوي او څوک چې عناد نه وي نیولي او په عربي ژبه باندې پوهېږي د هغه د ایمان راوړلو دپاره د ایتونو محض اورېدل کفایت کوي.

د همدې کبله الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ﴾ [الأعراف: ۲۰۴] یعنې او کله چې قرآن کریم لوستل کېږي نو تاسو ورته غوږ کېږدئ او چپ شئ شاید چې په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه مهرباني وکړی شي (او نېکمرغتیا مو په برخه شي).

د مکې مشرکانو همدغه اثرات په خپلو زړونو کښې حس کول نو ځکه یې قرآن کریم ته د جادو لقب ورکاوه او هم یې یو تربله توصیه کوله چې د قرائت په وخت کښې شورماشور جوړ کړئ او د لغو څخه کار واخلئ[2]، که نه نو مغلوب به واقع شئ او په زړونو کښې به مو ایمان ځای ونیسي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ﴾ کښې ﴿دَارُ ٱلۡخُلۡدِ﴾ د دوزخ څخه عبارت دی حال دا چې د ﴿فِيهَا﴾ ضمیر هم دوزخ ﴿ٱلنَّارِ﴾ ته راجع دی، نو حاصل یې باید داسې راوخېژي چې مشرکانو ته د دوزخ په داخل کښې دوزخ دی. نو ایا دا معنی صحت لري؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی کلام د تجرید په بنیاد نازل شوی دی، چې په علم المعاني کښې د بدیعي محسناتو څخه ګڼلی کېږي. د دغه علم په اصطلاح تجرید دې ته ویل کېږي چې یو صفت درلودونکی شی د صفت د مبالغې او قوت د کبله غبرګ اټکل کړی شي[3].

په دې مقام کښې د عذابونو د شدت د حیثه دوزخ داسې اټکل شوی دی لکه چې په داخل کښې یې بالمثل دوهم دوزخ موجودیت ولري او همدغه دوهم (غبرګ) دوزخ د مشرکانو دپاره د تعذیب دائمي کور ګرځولی شوی دی.

---

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۱۵۵؛ مفردات الراغب ص۴۷۲

(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۷۹

(۳) مختصر المعاني في البدیع ص۴۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه ډوله تفسير

۶ـ د ﴿ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا ﴾ جمله په لاندې دوه وو ډولونو تفسيره شوې ده:

الف: يو دا چې دلته حقيقتاً تر پښو لاندې کول مطلب دي[1]. يعنې اى زمونږ ربه! کومو دوه کسانو چې مونږ په دنيا کښې بې لارې کړي ياستو هغوى زمونږ د پښو لاندې وغورزوه چې ورباندې وخېژو او د توهين دپاره يې په لغتو ووهو.

ب: بل دا چې ذکره شوې جمله د عذابونو د شدت څخه عبارت ده[2]. يعنې اى زمونږ ربه! هغوى دواړه زمونږ د قدمونو لاندې (د دوزخ په ټيټه طبقه کښې) معذب کړه او زمونږ د عذاب په نسبت غبرګ عذاب ورکړه چې په دنيا کښې يې مونږ ګمراه کړي ياستو.

## تبصره

۷ـ زمونږ په نظر ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې هغوى د خپلو ګمراه کوونکو دپاره دوه ډوله توهين وغواړي چې هم يې د پښو لاندې کړي او هم د دوزخ په ټيټه طبقه (شديد عذاب کښې) وغورزولى شي.

پاتې شوه دا خبره چې د دغو کفارو غوښتنې ته به د الله ﷻ د پلوه د "هو" جواب ورکړى شي او که د "نه"؟، نو په دې ارتباط مونږ په احاديثو کښې څه شى مونده نه کړ، اما د متکبرانو په هکله مو پکښې يو حديث مونده کړ چې د توهين دواړو ډولونو ته پکښې اشاره شوې ده. هغه دا:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ يُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ تَعْلُوهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ»[3] يعنې د قيامت په ورځ به متکبران د سريو په څېرو کښې د سړو مېږتنو غوندې حشر کړى شي چې د هرې خوا څخه به ذلت پټ کړي وي (چې خلک به يې د پښو لاندې کړي) بيا به په دوزخ کښې يوې بنديخانې ته سوق کړى شي چې بولس نومېږي چې د پاسه به ورباندې د اورونو اور وي (د ډبل اور لاندې به وي) دوى ته به د دوزخيانو د زوو او خيرو څخه ورڅښول کېږي، چې فساد د ختو څخه عبارت دي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴿٣٢﴾ ﴾

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۵۷
(۲) تفسير ابن كثير ج۴ ص۹۸؛ تفسير الطبري ج۲۴ ص۱۱۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۰] یقینًا هغه کسان کوم چې وايي زمونږ رب الله ﷻ دی (موحدین وي) بیا (په همدې توحیدي عقیده باندې) کلک ودرېږي، نو په دوی باندې (موقع په موقع) پرښتې ورنازلېږي چې تاسو مه دارېږئ او مه غمژن کېږئ او تاسو په هغه جنت سره زېری قبول کړئ کوم چې تاسو وئ چې وعده یې درکړه شوې وه.

[۳۱] مونږ په نږدې (او حقیر) ژوند کښې او په آخرت (وروستني کور) کښې ستاسو دوستان (او ملګري) یاستو، او تاسو ته په آخرت (جنت) کښې هغه نعمتونه شته کومو ته چې ستاسو نفسونه (زړونه) مینه کوي، او (همدارنګه) ستاسو دپاره په جنت کښې هغه څه شته دي کوم چې تاسو یې آرزو وکړئ.

[۳۲] په داسې حال کښې چې (دا ټول نعمتونه ستاسو دپاره) د بښونکي (او) مهربان (الله ﷻ) د پلوه مېلمستیا ده (تاسو ته د اعزاز او اکرام په توګه درکولی کېږي).

## ارتباط او توضیحات

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې د اعداء الله (کفارو) حالات بیان شوي وه چې شیطانان ورباندې مسلط کړی شوي دي او روزمره یې ضلالت او ګمراهۍ ته راکاږي.

په دې ایتونو کښې د أولیاء الله (مؤمنانو) حالاتو ته اشاره کېږي چې پرښتې ورسره په دوامداره توګه په استقامت کښې امداد کوونکی دی او د ضلالت څخه په اجتناب کښې ورسره لاس کوي.

### استقامة څه معنی؟

۲_ په ﴿ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ ﴾ کښې د ﴿ٱسۡتَقَٰمُواْ﴾ کلمه د "اسْتِقَامَة" څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۱]، خو کومه معنی یې چې په زړه پورې برېښي هغه دا ده چې: دلته په ایمان باندې استقامت مطلب دی چې بېرته کفر ته وانه وړي. او دا څکه چې:

الف: د ﴿ رَبُّنَا ٱللَّهُ ﴾ جمله د توحید د کلمې معنی ورکوي او متبادره دا ده چې د ﴿ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ ﴾ جمله کښې به د همدغې جملې په مضمون باندې استقامت (او کلکوالی) مطلب وي.

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د یوه صحابي ؓ په جواب کښې هغه ته توصیه وکړه چې: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ»[۲] یعني ووایه چې په الله ﷻ باندې مې ایمان راوړی دی، او بیا په همدغې عقیدې سره کلک شه (او کفر ته مه اوړه).

ج: یو ځلې نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف قرائت کړ او بیا یې وفرمایل چې: «قَدْ قَالَ النَّاسُ ثُمَّ كَفَرَ أَكْثَرُهُمْ فَمَنْ مَاتَ عَلَيْهَا فَهُوَ مِمَّنْ اسْتَقَامَ»[۳] یعني خلکو ذکره شوې د توحید کلمه ویلې ده خو

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۹۸، روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۰
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۴۸
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا یې اکثریت کافر شوي دي، نو هرڅوک (چې کافر نه شي او) په همدغې توحیدي کلمې باندې مر شي نو فقط همدغه کس د هغو خلکو څخه شمېرل کېږي د کومو چې استقامت په برخه شوی دی.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: یقینًا د الله ﷻ د پلوه د اطمنان او ډاډینې دپاره په هغو کسانو باندې پرښتې ورنازلېږي کومو چې ایمان راوړی وي او بیا په خپل ایمان باندې د مرګ تر وخته پورې کلک ولاړ وي او بېرته کفر ته ورستانه نه شي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په مؤمنانو باندې په کومو وختونو کښې پرښتې ورنازلېږي چې ډاډ او اطمنان ورکوي؟

مونږ وایو چې: د پرښتو د نزول دپاره مفسرینو کرامو متعدد صورتونه ښودلي دي، لکه:

الف: په روزمره ژوند کښې ورته په مشکلاتو کښې عمومًا او په جهادي حالاتو کښې خصوصًا الهام کوي او حتی د سړیو په څېره کښې ورته توصیه کوي او کفار ورسره تعقیبوي، چې د بدر او اُحد په غزاګانو کښې یې څه مثالونه تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

ب: د روح د قبض په وخت کښې هم مؤمن سړي ته زیری ورکوي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې صالح سړي ته د ځنکدن په وخت کښې پرښتې حاضرېږي او ډاډ ورکوي چې: «اخرُجِي أيّتُهَا النَّفسُ الطَّيِّبَةُ»[١] یعنې ای پاکېزه روحه! د پاک جسد څخه راووځه، چې الله ﷻ درڅخه راضی دی او د مخې دې رڼا ده.

ج: همدارنګه به مؤمنانو ته د قیامت په ورځ (چې د قبرونو څخه پورته شي) موقع په موقع پرښتې ډاډ ورکوي چې وارخطا کېږئ مه او ډارېږئ مه، ستاسو څخه الله ﷻ راضي دی او هیڅکله به درته په غضب نه شي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ [الأنبياء:۱۰۳] یعنې مؤمنانو لره به د قیامت په ورځ لوی ډار غمژن نه کړي او سات په سات به ورسره پرښتې ملاقات کوي، چې مه غمژن کېږئ او په هغه جنت سره زېری قبول کړئ د کوم چې ستاسو سره یې په دنیا کښې وعده کړې شوې وه.

## یادونه

۴_ ځینو مفسرینو کرامو[٢] جائزه ګڼلې ده چې د پرښتو د کلام حکایت په ﴿ تُوعَدُونَ ﴾ باندې ختم شي او د ﴿ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ ﴾ تر ﴿ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴾ پورې د هغوی د کلام په حکایت کښې شامل ونه ګڼلی شي، خو ظاهره دا ده[٣] چې دا ټول د پرښتو د کلام حکایت وګڼلی شي.

---

(١) سنن ابن ماجه ص۳۰۴
(٢) تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۳۵۹
(٣) البحر المحیط ج۹ ص۳۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې پرښتې به مؤمنانو ته ووايي چې: مونږ په دنيا کښې ستاسو دوستان او نژدې کسان وو، نو په آخرت کښې هم ستاسو انډيوالي او دوستي نه پرېږدو ترڅو چې تاسو جنت ته داخل شئ، چې هلته ستاسو دپاره هر نعمت موجوديت لري او هرڅه چې ستاسو زړونه په رغبت او اشتهاء سره وغواړي نو هغه به درته درکولی کېږي.

لنډه دا چې د مؤمنانو سره به د پرښتو دوستي د قيامت په ورځ هم ادامه ولري او هلته به لا قوت مونده کړي. دا دوستي د کفارو او د شيطانانو د دوستۍ غوندې نه ده چې په مرګ سره ختمېږي بلکې د مرګ څخه وروسته په دښمنۍ سره بدلون مومي، لکه چې څه تفصيل ته يې لږ وړاندې په [فصلت:٢٩] ايت کښې اشاره شوې ده.

## هېر مو نه شي

٥ـ په ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴾ کښې د ﴿تَدَّعُون ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [يس:٥٧] ايت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده چې د "ادعاء" څخه يې اشتقاق موندلی دی او د طلب معنی ورکوي.

خو څرنګه چې دلته همدغه معنی د وړاندېنۍ جملې ﴿ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ ﴾ څخه معلومېږي، نو ځينې مفسرينو کرامو ذکره شوې کلمه په "مَا تَتَمَنَّوْا" سره تفسيره کړې ده[1] يعنې اى جنتيانو! تاسو ته په جنت کښې هغه نعمتونه شته دي او درکولی کېږي چې تاسو يې آرزو وکړئ او محض ستاسو په اذهانو کښې خطور وکړي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «...فَيُقَالُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ الَّذِي تَمَنَّيْتَ وَعَشْرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا»[2] يعنې هغه جنتي ته به وويل شي کوم چې د ټولو څخه وروسته جنت ته داخل کړی شي چې آرزو وکړه ستا زړه څه غواړي، نو نوموړی به په زړه کښې آرزوګانې وکړي (الله ﷻ پوهېږي چې څومره ارزوګانې به وکړي)، بيا به ورته وويلی شي چې څومره ارزوګانې چې تا وکړې هغه ټولې تاته درکړی شوې او په دې باندې علاوه د دنيا په پراخۍ سره لس چنده پراخه ساحه هم درکړه شوه (چې د نعمتونو څخه به ډکه وي).

## يو نحوي تحليل

٦ـ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مَا تَدَّعُونَ ﴾ کلمات (د موصول او صلې په لحاظ) مبتدأ ده او د "لَكُمْ" کلمات د متعلق (ثابت) په لحاظ يې خبر دی. اما د ﴿ نُزُلاً مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴾ کلمات د هغه ضمير څخه حال واقع شوی دی کوم چې په مقدر (ثابت) کښې مستتر دی[3].

دا د يو پلوه، او د بل پلوه د "نُزُل" کلمه هغه خوراک او څښاک او فرش ظرف ته وضعه شوې ده

(١) تفسير الخازن ج٥ ص٣٨٤؛ تفسير البغوي ج٤ ص١١٤؛ تفسير ابي السعود ج٨ ص١٣

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٨٧

(٣) روح المعاني ج٢٤ ص١٢٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوم چې د یوه مېلمه دپاره د مېلمستیا په توګه تیار کړی شي[1].

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای مؤمنانو! ذکر شوي نعمتونه او آرزوګانې په داسې حال کښې په جنت کښې شتون لري چې ستاسو دپاره د ډېر بښونکي او ډېر مهربان الله ﷻ د پلوه مېلمستیا ده چې د اعزاز او اکرام په توګه به درکولی کېږي.

﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾ ﴾

[۳۳] او د وینا د حیثه د هغه چا څخه څوک ډېر ښایسته دی کوم چې الله ﷻ ته دعوت چلوي او صالح عمل کوي او (هم) وایي چې: یقینًا زه (الله ﷻ ته) د غاړه ایښودونکو څخه یم (او بس. زه په همدې دریخ کلک ولاړ یم).

[۳۴] او نېکي (د بدۍ سره) نه برابرېږي او نه بدي (د نېکۍ سره برابرېږي)، ته په هغې نېکۍ (او ښایسته خوی سره د بدۍ) مخه ونیسه چې هغه ډېره ښه (او ډېره ښایسته) وي، نو ناڅاپه به هغه څوک چې ستا ترمنځ او د هغه ترمنځ عداوت (او دښمني) وي (داسې وګرځي) لکه چې هغه (ستا دپاره) ډېر ګرم (مخلص) دوست وي.

[۳۵] او د دې (ذکر شوي) خاصیت سره پیوستون نه ورکول کېږي مګر هغه کسانو ته کوم چې صبر کوي (او خپل خانونه یې په قابو کښې وي)، او د همدغه خاصیت سره پیوستون نه ورکولی کېږي مګر د لویې برخې خاوند ته (چې د لوی علم او لوی عقل درلودونکی وي).

[۳۶] او که تاته (د دعوت په جریان کښې) د شیطان د پلوه څه ننوتل (وسوسه) درورسېږي نو ته (سمدستي د شیطان څخه) په الله ﷻ سره پنا وغواړه، یقینًا الله ﷻ همدی اورېدونکی (او) پوهېدونکی دی (هر څه اوري او هر څه ورته معلوم دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو کسانو څه صفت نازل شوی وه کوم چې په ایمان مشرف شوي وي او بیا په همدغې توحیدي عقیدې باندې د مرګ تر وخته پورې کلک ودرېږي. په دې ایتونو کښې د هغوی یوه بل ممتاز صفت ته اشاره کېږي چې ذکر شوي مؤمنان د توحیدي عقیدې دپاره دعوت هم چلوي او غواړي چې نور خلک هم د همدوی غوندې په ایمان مشرف وګرځي او د مرګ تر وخته پورې وربادې کلک او ټینګ ودرېږي. نو حاصل یې داسې راخېژي:

(۱) مفردات الراغب ص. ۵۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د هغو کسانو څه نور حالات هم قرائت کړه کوم چې د توحید په کلمه باندې کلک ولاړ دي او د پرښتو انډیوالي ورسره په دوامداره توګه صورت نیسي:

۱ـ په چا باندې چې شیطانان مسلط وي هغوی په خپلې ګمراهۍ باندې د پاسه د نورو خلکو د ګمراه کولو هڅه کوي او دعوت ورته چلوي چې د قرآن کریم د قرائت په وخت کښې شورماشور جوړ کړئ. اما مخلص مؤمنان د هغوی په عکس د لاندې صفاتو درلودونکي وي:

الف: مخلص مؤمنان د توحید د کلمې دپاره دعوت چلوي، نو ایا د دغسې کسانو څخه پرته کوم څوک د وینا د حیثه ښایسته شته چې خاص د الله ﷻ د دین دپاره دعوت چلوي؟.

ب: برسېره پر دې، مخلص مؤمنان د اسلام احکام په عمل کښې هم پیاده کوي ترڅو عملي دعوت هم ژوندی وساتي چې نور خلک ورپسې اقتداء وکړي.

ج: مخلص مؤمنان په ډاګه وایي چې: مونږ د مسلمانانو د ډلې څخه یاستو او خپل رب ﷻ ته غاړه ایښودونکي یاستو. نو په همدې اړه نه د چا څخه ډارېږي او نه ترې شرمېږي بلکې په افتخار سره خپله مسلماني اعلانوي.

۲ـ ای پیغمبره! نېکي او بدي په اثراتو کښې سره یو برابري نه دي، نو په همدې بنیاد که څه هم ته حق لرې چې د بدۍ جواب په بدۍ سره ورکړې او د مقابل لوري څخه انتقام او کسات واخلې مګر ته دغه لاره مه خوښوه ترڅو د دعوت په چلښت کښې خنډ واقع نه شي، بلکې ته د بدۍ جواب په نېکۍ سره لا څه چې په ډېرې ښې نېکۍ سره ورکړه او د عفوې سره احسان هم ملګری کړه.

نو که ته دغه کړنلاره غوره کړې ضرور به تاته هغه څوک کوم چې ستا او د هغه ترمنځ دښمني او عداوت رامنځته شوی وه، داسې سرې وګرځي لکه چې ستا دپاره ګرم او مخلص دوست وي.

۳ـ ای پیغمبره! ذکره شوې ډول کړنلاره د دعوت دپاره ډېره اغېزمنه ده خو هیڅوک یې نه شي خپلولی مګر هغه کسان چې لاندې صفات ولري:

الف: څوک چې صبر کوونکی وي او خپل ځانونه یې په خپله اداره او خپل قابو کښې ساتلي وي.

ب: هغه کسان کوم چې د عقل او پوهې د حیثه د غټې برخې خاوندان وي او هم د لویو اجرونو او ثوابونو مستحقین وي.

۴ـ ای پیغمبره! که د دعوت په جریان کښې تاته د شیطان د پلوه څه وسوسه په زړه کښې درچوخه شوه (درولوېده) چې د مقابل لور څخه دې څه ستغې سپورې خبرې واورېدې او یا د هغه د کړنلارې څخه په غُصه شوې، نو په دغه وخت کښې ته په الله ﷻ باندې پنا وغواړه او سوال ورته وکړه چې حوصله دې پیاوړې کړي او استقامت دې روغ وساتي.

او دا ځکه چې: یقیناً الله ﷻ ستاسو د دواړو جانبو د اقوالو (خبرو اترو) اورېدونکی دی او ستاسو په ټولو احوالو باندې پوه دی، نو کومه لاره چې تاته د الله ﷻ د پلوه توصیه شوه هغه درته د دعوت په جریان کښې ضرور په ګټه تمامېږي. تاته په کار دي چې د عمل جامهورواغوندې ترڅو یې د قیامت تر ورځې پورې ستا د اُمت داعیان کړنلار وګرځوي.



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

په دې مقام كښې بايد لاندې نُكات په نظر كښې وساتل شي:

١ـ د ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ مضمون دا دى چې د قول د حيثه د داعي إلى الله څخه هيڅوک بهتر نشته، نو د همدې مضمون څخه څرګندېږي چې د همدې حيثه د داعي إلى غير الله څخه ډېر قبيح او زيات بد بل هيڅوک نشته.

### په دعوت كښې عمل هم ډېر اثر لري

٢ـ د ﴿ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾ څخه معلومېږي چې په عمل سره د قولي دعوت اثر زياتېږي او ښه مؤثر واقع كېږي، نو داعيانو ته په كار دي چې صرف په قولي دعوت باندې اكتفاء ونه كړي.

د ښه وضاحت دپاره د يوه حديث شريف مضمون ولولئ:

الف. كله چې په حديبيه كښې د صلحې پرېكړه وشوه او صلحنامه وليكلى شوه نو نبي كريم ﷺ خپلو صحابه وو كرامو ﷺ ته امر وكړ چې: «قُومُوا فَانْحَرُوا ثُمَّ احْلِقُوا»[١] يعنې پورته شئ او خپلې هدايا مو نحرې كړئ، بيا سرونه وخريئ.

ب: نبي كريم ﷺ ذكر شوى امر درې كرته تكرار كړ، خو يوه صحابي ﷺ هم عملي نه كړ (البته چې دوى به تمه درلوده چې په صلحه كښې به څه بدلون صورت ونيسي).

ج: أُم سلمى رضي الله عنها (أم المؤمنين) نبي كريم ﷺ ته مشوره وركړه چې: اى د الله نبي! ته هيچا ته څه مه وايه او په پټه خوله خپله هديه نحر كړه او سر خريونكى راوغواړه او خپل سر وړباندې وخريه.

د: نو نبي كريم ﷺ د ذكرې شوې بي بي رضي الله عنها مشوره عملي كړه نو سمدستي صحابه وو كرامو ﷺ خپلې هدايا نحرې كړې او خپل سرونه يې وخريل.

٣ـ په ﴿ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ كښې دېته اشاره ده چې داعي بايد په خپل دعوتي مطلب كښې متزلزل نه وي بلكې خپل قاطعيت پكښې په ډاګه كړي. د همدې كبله الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته توصيه كړې ده چې: ﴿ قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ [يوسف:١٠٨] يعنې د خپل دعوت په جريان كښې په غوڅه ووايه چې دغه زما لاره ده چې د الله ﷻ (په توحيد معتقد يم او همدې توحيد) ته دعوت چلوم (زه د دغې لارې څخه په هيڅ وجه جار وتونكى نه يم).

۴ـ په ﴿ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ كښې دېته اشاره ده چې د شخصي انتقامونو څخه تېرېدل د دعوت إلى الله اثر زياتوي. د همدې كبله نبي كريم ﷺ د خپل دعوت په جريان كښې په همدغه ايت شريف باندې عمل كاوه، د ښه وضاحت دپاره لاندې ټكي ولولئ:

الف: عائشه رضي الله عنها په يوه حديث كښې وايي چې: «وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ»[٢]

(١) صحيح البخاري ج١ ص٣٨٠
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٢١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کریم ﷺ په بدۍ سره بدۍ ته جزا نه ورکوله مګر عفوه به یې کوله او اعراض به یې ترې کاوه
ب. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: «وما انتقم رَسُولُ اللهِ ﷺ لِنَفْسِهِ»[1] یعنې د الله ﷺ پیغمبر د خپل خان دپاره انتقام نه دی اخستی. هو! کله به چې د الله ﷺ د شریعت بې احترامۍ صورت ونیوه نو هلته به یې صرف د الله ﷺ دپاره انتقام اخست

۵_ که څه هم په ﴿ ٱدْفَعْ ﴾ سره نبي کریم ﷺ مخاطب ګرځولی شوی دی خو د مفهوم د عموم د کبله پکښې د قیامت تر ورځې پورې ټول داعیان شامل دي

۶_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ﴾ په عوض "بِالْحَسَنَةِ" نازل نه کړی شو، سره د دې چې دغه عبارت د ﴿ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ﴾ سره ډېر ښه پیوند اخلي؟

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د بدۍ د مخنیوي په ډېر ښه او ډېر غوره صورت باندې صراحت شوی دی. په دغه ډول نزول کښې د بدیو د مخنیوي دپاره لاندې دوه صورتونه ښودلي شوي دي:

الف: یو صورت یې ډېر بهتر صورت دی چې په ډېرې ښې (نېکۍ) سره یې مخه ونیوله شي، چې په عدم انتقام باندې علاوه څه احسان هم ورسره وکړی شي، په همدې صورت باندې په ایت شریف کښې صراحت شوی دی.

ب: بل صورت یې بهتر دی خو ډېر بهتر نه دی، چې یوازې په عدم انتقام باندې اکتفاء وکړی شي او احسان ورسره ضمیمه نه کړی شي.

که بالفرض هغه عبارت نازل شوی وی کوم چې په سوال کښې ذکر دی نو لومړی صورت به پټ پاتې وی حال دا چې دا ډېر غوره صورت دی.

۷_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ كَأَنَّهُۥ ﴾ کلمات اضافه نازل کړی شوه، چې په تشبیه باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_: دا د دې دپاره چې دغه نتیجه د ذکرې شوې کړنلارې کوچنۍ نتیجه ده[2]. یعنې ای مخاطبه! که ته دغه کړنلاره خپله کړې نو غالبه دا ده چې کلک دښمن به دې مخلص دوست وګرځي او که نه نو د مخلص دوست غوندې خو به دې جوړ شي او د شره خو به یې بې غمه شي. که بالفرض نه دا صورت ونیسي او نه هغه، نو ضرور به ستا دښمن عناد نیولی وي او سترګې به یې ورباندې پټې کړې وي.

۸_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ ﴾، ﴿ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ ﴾ کښې د "هَا، هَا" دواړه ضمیرونه څه شي ته راجع دي؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۰۳
(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې دغه دواړه ضمیرونه هغه خصلت او عادت ته راجع دي په کوم باندې چې وړاندینۍ جمله دلالت کوي، هغه دا چې څوک د بدۍ مخنیوی په نیکۍ سره کوي.

۹ـ د ﴿ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ ﴾ الآية- غونډې یو ایت وړاندې په [الأعراف: ۲۰۰] کښې تېر شوي دي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د ارتباط په لحاظ هلته یو نقلي تفسیر او یو لغوي تحلیل لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو د مقام په لحاظ وربانديې وراضافه کوو چې:

الف: په ﴿ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ کښې د انسي شیطان د وسوسې مخنیوي ته اشاره شوې ده، او په ﴿ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ﴾ سره د جني شیطان د وسوسې د مخنیوي چاره ښودله کېږي ځکه چې:

ب: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې یو صحابي ؓ مخاطب کړ چې: «فَإِذَا قُلْتَ بِسْمِ اللهِ تَصَاغَرَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ حَتَّى يَكُونَ أَصْغَرَ مِنْ ذُبَابٍ»[۱] یعنې نو کله چې ته د الله ﷻ په نامه قول وکړې (او الله ﷻ یاد کړې) نو شیطان ته خپل ځان کوچنی (ښکاره) شي حتی چې د یو مچ څخه هم ورته وړوکی شي.

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ٱعْمَلُوا۟ مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۷] او د الله ﷻ (د توحید او قدرت) د دلایلو څخه شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ هم دي، تاسو لمر ته سجده مه کوئ او مه سپوږمۍ ته، تاسو هغه الله ﷻ ته سجده (عبادت) وکړئ چې لمر او سپوږمۍ او هم شپه او ورځ یې پیدا کړي دي، که تاسو یاست چې خاص الله ﷻ ته عبادت کوئ (نو مخلوقات ورسره پکښې برخوال مه ګرځوئ).

[۳۸] نو که خلکو (او کفارو د عبادت د اختصاص څخه) تکبر وکړ (او ستا دعوت یې قبول نه کړ) نو (هیڅ باک یې نشته ځکه) هغه کسان کوم چې ستا د رب ﷻ په نزد (موجود) دي هغوی الله ﷻ ته شپه او ورځ په داسې حال تسبیحات وایي (او عبادت یې کوي) چې نه ستړي کېږي (عبادت یې فطري شی دی).

[۳۹] او د الله ﷻ (د توحید او قدرت) د دلایلو څخه دا هم ده چې: یقیناً ته ځمکه په داسې حال

[۱] مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳٤۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې ګورې چې وچه کلکه وي (او نباتات پکښې شتون نه لري)، نو کله چې ورباندې مونږ (د اسمانه اوبه) ورنازلې کړو نو (همدغه وچه کلکه ځمکه) وخوځېږي او پورته شي (په نباتاتو سره ویږسېږي او شنه شي).

یقینًا هغه اقدس ذات ﷻ چې دغه (مړه) ځمکه راژوندۍ کوي هرومرو د مړو ژوندی کوونکی هم دی (چې بیا به یې د قبرونو څخه راپورته کړي) یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی (هر څه یې د واکه پوره دي).

[٤٠] یقینًا هغه کسان کوم چې زمونږ په ایتونو کښې (په ناحقه پټ) میلان کوي، په مونږ باندې نه پټېږي، (مونږ ته ښکاره دي چې ضرور به سزا ورکړو).

ایا نو هغه څوک بهتر دی چې په اور (دوزخ) کښې وراچولی کېږي او که هغه څوک چې د قیامت په ورځ د امن درلودلو په حال کښې راتلل کوي؟.

(ای خلکو! کله چې تاسو د الحاد لاره خوښه کړه) نو هغه عمل وکړئ کوم چې ستاسو خوښه وي، یقینًا الله ﷻ په هغو اعمالو سره بینا دی کوم چې تاسو یې روزمره کوئ (نو هر چاته به مناسبه سزا یا جزا ورکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغه داعي إلی الله ذکر نازل شوی وه کوم چې ناطق وي او په قول سره دعوت چلوي، او په دې ایتونو کښې د هغو داعیانو ذکر ته اشاره کېږي کوم چې خبرې نه کوي (په پټه خوله د الله ﷻ وحدانیت ته بلنه کوي) چې د توحید د دلایلو څخه عبارت دي، او همدارنګه پکښې په همدې ارتباط څه نور مطالب هم نازل شوي دي.

یعنې ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د توحید ځینې دلایل قرائت کړه چې په پټه خوله دعوت چلوي او د ناطق داعي إلی الله سره کومک کوي هغه دا چې:

۱ـ د الله ﷻ د وحدانیت او د کامل قدرت د اسماني دلایلو څخه لاندې دلایل هم دي:

الف: شپه او ورځ دواړه دلالت کوي چې الله ﷻ د کامل قدرت خاوند دی او هیڅوک ورسره په عبادت کښې اشتراک نه لري.

الله ﷻ په دوامداره توګه شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې ننباسي او همدارنګه په دائمي توګه دواړه یو بل تعقیبوي.

ب: د لمر او سپوږمۍ ختل او پرېوتل د الله ﷻ د کامل قدرت ډېرې لویې نښې دي چې هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه لري، که نه نو په دغه منظم ډول به یې ادامه نه وی درلودلې.

ج: همدارنګه د ګڼ شمېر ستورو ختل او پرېوتل او د کامل تنظیم لاندې حرکت کول د الله ﷻ د وحدانیت ستره نښه ده.

۲ـ نو ای پیغمبره! خلکو ته ورسوه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای خلکو! تاسو مه د لمر عبادت کوئ، او مه د سپوږمۍ، او نه بل کوم ستوري ته سجدې وکړئ؛ او دا ځکه چې دا ټول مخلوقات دي او هیڅ مخلوق د عبادت لیاقت نه لري. بلکې تاسو د هغه الله ﷻ عبادت وکړئ او د اشتراک د عقیدې څخه خپل خانونه بچ کړئ چې ذکر شوي مخلوقات یې پیدا کړي دي او یوازې همدی ﷻ یې خالق دی او بس.

نو ای خلکو! که تاسو یاست چې خاص الله ﷻ ته عبادت کوئ نو خاص همدی ﷻ په وحدانیت سره وپېژنئ او شریک یا شریکان ورسره پکښې مه دروئ.

۳_ ای پیغمبره! که خلکو او په تېره بیا مشرکانو ستا خبره ونه منله او د غیر الله ﷻ په عبادت باندې کلک ودرېده (تکبر یې غوره کړ او یا یې ادامه ورکړه) نو ته پوه شه چې دوی الله ﷻ ته هیڅ ضرر نه شي رسولی، او نه الله ﷻ د دوی عبادت ته څه اړتیا لري.

د دې سره-سره چې الله ﷻ د هیڅ مخلوق عبادت ته محتاج نه دی، هغه پرښتې کومې چې ستا د رب ﷻ په نزد موجودیت لري چې یوازې د همده ﷻ څخه په غیر یې هیڅوک په تعداد نه پوهېږي، شپه او ورځ الله ﷻ ته تسبیحات وایي حال دا چې هغوی هیڅکله ستومانه کېږي هم نه، بلکې تسبیحات ویل یې د فطرت غوښتنه ده.

۴_ ای پیغمبره! خپل اُمت ته د الله ﷻ د وحدانیت د دلایلو څخه یو ځمکنی دلیل هم بیان کړه: یقینًا ته ځمکه ګورې چې وچه کلکه وي او د نبات د زرغونولو څخه عاجزه او مړه وي، خو کله چې ورباندې مونږ د اسمان څخه اوبه ورښکته کړو او باران ورباندې وورو، نو سمدستي د ځمکې ځرنګوالی بدل شي چې: دستي پکښې خوځښت پیدا شي او د نباتاتو په تېغونو سره راوپړسېږي، او د خپلې ګېډې څخه ډېر باغونه راوباسي.

نو هغه اقدس ذات چې ذکره شوې مړه ځمکه راژوندۍ کوي او په نباتاتو سره یې تکه شنه زرغونه ګرځوي همدغه ﷻ هرومرو د قیامت په ورځ د قبرونو څخه د مړو راژوندي کوونکي هم دی، او دا ځکه چې همدغه الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی. نو همدی ﷻ د عبادت لیاقت لري او بس، د ده ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک نه د ځمکې څخه یو نبات رازرغونولی شي او نه د عبادت لیاقت لري.

۵_ نو ای پیغمبره! هرڅوک چې زمونږ په دلایلو کښې الحاد کوي او په کومو مطالبو باندې چې مونږ اقامه کړي دي د هغو د اثبات دپاره ترې استفاده نه کوي، هغوی په مونږ باندې پټ نه دي. هغوی مونږ ته معلوم دي چې په خپل وخت به ورته مناسبه سزا ورکړو، او په دوزخ کښې به یې په دائمي توګه وروغورزوو.

نو ایا هغه څوک چې په دوزخ کښې د توهین په توګه وروا چول شي بهتر دی او یا هغه څوک بهتر دی کوم چې د قیامت په ورځ د امن درلودلو په حال کښې راشي او په امن باندې علاوه د جنت نعمتونه هم ورته ورکړئ شي؟.

۶_ ای پیغمبره! یو خل کفار او مشرکان مخاطب وګرځوه او ورته ووایه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې تاسو د داعي الی الله دعوت نه قبلوئ او هم قدرتي دلایل د پښو لاندې کوئ او تکبر مو اوج ته رسېدلی دی، نو وکړئ څه مو چې خوښه وي، د دنیا ورځې محدودې دي ډېر ژر به د قیامت په ورځ د حساب کتاب سره پیوستون مونده کړئ. نو هلته به الله ﷻ تاسو ته موافقه سزا درکړي. دا ځکه چې الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو باندې بینا دی کوم چې تاسو یې کوئ او پکښې لګیا یاست.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ ٱلَّذِی خَلَقَهُنَّ ﴾ کښې د "هُنَّ" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۱] خو کوم احتمال چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی[۲] هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: دغه ضمیر "هُنَّ" د لمر او سپوږمۍ او هم د ورځې او شپې مجموعې ته راجع دی.

ب: دغه څلور واړه غیر ذو العقول دي او د غیر ذو العقولو جمعه په دوه ډوله تاویل مونډلی شي.

اول: یو دا چې د مفرد موئث (جماعة) په تاویل سره مول کړی شي او د مفرد موئث ضمیر ورته راجع کړی شي.

دوهم: بل دا چې د موئثاتو په نظر ورته وکتل شي.

په دې مقام کښې همدغه دوهم تاویل معمول ګرځولی شوی دی.

ج: که څوک وایي چې: مشرکانو خو لمر او سپوږمۍ مسجودان (معبودان) ګرځولي وه، شپې او ورځې ته خو هغوی عبادت نه کاوه چې دواړه د اعراضو څخه دي، او د هغوی په نزد یې هم د معبودیت لیاقت نه درلود، نو په کار وه چې د "هُنَّ" په عوض "هُمَا" نازل شوی وی، ترڅو شپې او ورځې ته یې شمولیت نه وی مونډلی؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ: شاید چې په دغسې نزول کښې به مشرکان په غوږ وهلی شوي وي چې د مسجودیت او معبودیت په لحاظ اعراض او اجسام یو برابر دي، چې دواړه مخلوقات دي او مخلوق د عبادت لیاقت نه لري، نو مشرکانو ته په کار دي چې لمر او سپوږمۍ ته هم د شپې او ورځې غوندې په عبادت قائل او معتقد ونه ګرځي چې دا ټول غیر مستحقین دي.

## سَأم څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُواْ فَٱلَّذِينَ ﴾ الآیة- کښې لاندې مطالبو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ لَا يَسْـَٔمُونَ ﴾ کلمه د "سَأم" ـلکه "ضَرَبَ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ستومانتیا معنی ورکوي[۳]. او په همدې معنی باندې په یوه حدیث کښې هم استعماله شوې ده چې نبي کریم ﷺ

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۱۴۲، روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۵

(۲) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۵

(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۲۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې تاسو د داعي إلى الله دعوت نه قبلوئ او هم قدرتي دلایل د پښو لاندې کوئ او تکبر مو اوج ته رسېدلی دی، نو وکړئ څه مو چې خوښه وي، د دنیا ورځې محدودې دي ډېر ژر به د قیامت په ورځ د حساب کتاب سره پیوستون مونده کړئ. نو هلته به الله ﷻ تاسو ته موافقه سزا درکړي. دا ځکه چې الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو باندې بینا دی کوم چې تاسو یې کوئ او پکښې لګیا یاست.

## توضيحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ﴾ کښې د "هُنّ" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[1] خو کوم احتمال چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی[2] هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: دغه ضمیر "هُنّ" د لمر او سپوږمۍ او هم د ورځې او شپې مجموعې ته راجع دی.

ب: دغه څلور واړه غیر ذو العقول دي او د غیر ذو العقولو جمعه په دوه ډوله تاویل مونډلی شي:

اول: یو دا چې د مفرد مؤنث (جماعة) په تاویل سره مؤل کړی شي او د مفرد مؤنث ضمیر ورته راجع کړی شي.

دوهم: بل دا چې د مؤنثاتو په نظر ورته وکتل شي.

په دې مقام کښې همدغه دوهم تاویل معمول ګرځولی شوی دی.

ج: که څوک وایي چې: مشرکانو خو لمر او سپوږمۍ مسجودان (معبودان) ګرځولي وه، شپې او ورځې ته خو هغوی عبادت نه کاوه چې دواړه د اعراضو څخه دي، او د هغوی په نزد یې هم د معبودیت لیاقت نه درلود، نو په کار وه چې د "هُنّ" په عوض "هُمَا" نازل شوی وی، ترڅو شپې او ورځې ته یې شمولیت نه وی مونډلی؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ: شاید چې په دغسې نزول کښې به مشرکان په غوږ وهلی شوي وي چې د مسجودیت او معبودیت په لحاظ اعراض او اجسام یو برابر دي، چې دواړه مخلوقات دي او مخلوق د عبادت لیاقت نه لري، نو مشرکانو ته په کار دي چې لمر او سپوږمۍ ته هم د شپې او ورځې غوندې په عبادت قائل او معتقد ونه ګرځي چې دا ټول غیر مستحقین دي.

## سَأم څه معنی؟

۲ـ په ﴿فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُواْ فَٱلَّذِينَ﴾ الآية- کښې لاندې مطالبو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿لَا يَسْـَٔمُونَ﴾ کلمه د "سَأم" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ستومانتیا معنی ورکوي[3]. او په همدې معنی باندې په یوه حدیث کښې هم استعماله شوې ده چې نبي کریم ﷺ

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۱۴۲؛ روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۵

(۲) تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۵

(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۲۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فرمايلي دي چې: «فَإِنَّ اللهَ لَا يَسْأَمُ حَتَّى تَسْأَمُوا»[۱] يعني نو يقيناً الله ﷻ (د اجرونو په ورکولو باندې) نه ستومانه کېږي ترڅو چې تاسو (په عبادت کولو سره) ستومانه شئ. يا په بل عبارت: الله ﷻ سره اجرونه ډېر دي خو تاسو د خپلو ځانونو د حقونو مراعات وکړئ، او د توان څخه ورپورته عبادت مه کوئ.

ب: د همدې ايت مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوى دى چې: ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴾ [الأنبياء: ۲۰] يعني د الله ﷻ پرښتې داسې مخلوق دى چې شپه او ورځ (تـل) د الله ﷻ تسبيحات وايي چې سستېږي نه.

## د تلاوت يوولسمه سجده

د ﴿ لَا يَسۡـَٔمُونَ ﴾ په کلمه باندې د تلاوت يوولسمه سجده ده، په کار دي چې تلاوت کوونکي يې هېره نه کړي.

د تلاوت د سجدې ځينې ضروري احکام د [الأعراف: ۲۰۶] ايت لاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ، نو هيله ده چې د لوستلو دپاره يې هملته مراجعه وکړى شي.

## د إلحاد معنى

۳ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ ءَايَـٰتِنَا ﴾ کښې د ﴿ يُلۡحِدُونَ ﴾ کلمه د "إلحاد" څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ۱۸۰] ايت لاندې ليکلي دي چې د "إلحاد" کلمه هغه ميلان ته ويل کېږي کوم چې د استقامت څخه يوې څنډې ته صورت ونيسي.

خو مفسرينو کرامو د الله ﷻ په ايتونو کښې الحاد کول په متعددو معناوو سره تفسير کړي[۲] لکه:

الف: چې د الله ﷻ ايتونو ته فاسد تاويلونه ورکړي.

ب: د ايتونو د تلاوت او قرائت په وخت کښې شورماشور کول، د خولې شپېلى وهل او يا غومبر، د تخرګونو څخه اوازونه ويستل او داسې نور.

ج: چې ايتونو ته د کذب نسبت وکړى شي او يا ورباندې د جادو او کوډو نومونه کېښودل شي.

غالبه دا ده چې مفسرينو کرامو به د الحاد دپاره فقط د مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کړې وي او حصر به يې مطلب نه وي، ځکه چې مشرکانو نور ډولونه الحاد هم کاوه.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَـٰبٌ عَزِيزٞ ﴿٤١﴾ لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَـٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ حَمِيدٖ ﴿٤٢﴾ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدۡ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبۡلِكَۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَلَوۡ جَعَلۡنَـٰهُ قُرۡءَانًا أَعۡجَمِيّٗا لَّقَالُواْ

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۹۵

(۲) روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۶، المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۹۰؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَـٰتُهُۥٓ ۖ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ ۖ
وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن
مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن
رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾ مَّنْ عَمِلَ صَـٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ
أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّـٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

[۴۱] یقیناً هغه کسان کوم چې په ذکر (قرآن کریم) سره کافر شوي دي (دوی ورباندې) په هغه وخت کښې (کافر شوه) چې کله ورته راغی (سمدستي یې ورباندې کفر غوره کړ).

حال دا چې یقیناً دا (قران کریم) عزتمند (کلک) کتاب دی چې:

[۴۲] باطل (دروغ) ورته نه د وړاندې خوا څخه راتلای شي او نه د وروسته خوا څخه (بلکې د هر جهته او هر حیثه محفوظ دی، او هم دا کتاب) د ډېر حکمت خاوند (او) د ښو صفاتو درلودونکي (الله ﷻ) د پلوه نازل کړی شوی دی (که بالفرض کافرانو یې په تکذیب کښې عجله نه وی کړې نو نژدې وه چې ایمان یې ورباندې په برخه شوی وی).

[۴۳] (ای پیغمبره!) تاته (د خپل کفري اُمت د پلوه) نه ویلی کېږي مګر هغه ویناګانې کومې چې ستا څخه وړاندې نورو پیغمبرانو ته (د خپلو اُمتونو د پلوه) ویلی شوې وې. یقیناً ستا رب ﷻ د مغفرت خاوند او د دردناک عذاب څښتن دی (مغفرت او تعذیب دواړه یې په اختیار کښې قرار لري).

[۴۴] او که بالفرض مونږ دا (ذکر) اعجمي قرآن ګرځولی وی (چې په اعجمي لغت کښې مو نازل کړی وی) نو هرومرو به دغو (عنادي کفارو) ویلي وی چې: د دې کتاب ایتونه ولې (مونږ ته) واضحه (تفصیلوار) نه دي ګرځولی شوي؟ (مونږ په اعجمي ژبه نه پوهېږو. او هم به یې ویلي وی چې:) څنګه په عربي مخاطب باندې اعجمي کلام نازل کړی شو؟!

(نه ورته) ووایه چې: دا (ذکر په همدغه حال کښې) د هغو کسانو دپاره هدایت او شفاء دی کومو چې (ورباندې) ایمان راوړی دی (او په حقانیت یې باور لري)، او (بالمقابل) هغه کسان کوم چې (ورباندې) ایمان نه راوړي (هغوی چې دي) په غوږونو کښې یې دروندوالی دی او همدا ذکر ورباندې ړوندوالی دی (په زړونو یې مهر لګېدلی دی).

(بلکې) همدوی (داسې دي لکه چې دوی) ته د لرې ځای څخه اواز کولی کېږي (چې په مطلب باندې یې نه پوهېږي).

[۴۵] او یقیناً مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه خو (د خلکو دپلوه) پکښې اختلاف وشو (چې چا قبول کړ او چا ترې انکار وکړ نو ته مه غمږن کېږه ستا په کتاب کښې به هم ستا اُمت په همدغو دوه وو ډلو ووېشلی شي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او که ستا د رب ﷻ د پلوه داسې خبره نه وی چې پخوا تېره شوې ده نو د هغوی ترمنځ به (سمدستي) فیصله شوې وی (او قیامت ته به نه وی ټال کړی شوي).
او یقینًا کفار چې دي د دې ذکر (قرآن کریم) څخه په شک اچوونکي شک (ډېر قوي شک) کښې پراته دي.
[۴۶] (بیا هم ته مه غمژن کېږه ځکه) هرڅوک چې صالح عمل وکړي نو د خپل ځان دپاره یې (ګټه) ده، او هرڅوک چې بد عمل وکړي نو فقط په خپل ځان باندې یې (بدي) باره کړه.
او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د بندګانو په هکله هیڅ ظلم کوونکی نه دی (چې نېک عمل ته یې اجر ورنه کړي او یا د بد عمل سزا د استحقاق څخه اضافه ورکړي).

## ارتباطونه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او په همدې ارتباط پکښې لاندې ټکو ته اشاره شوې ده:
۱_ په ډېر لوی ساکت داعي إلی الله (قرآن کریم) باندې د کفارو اعتراض او د هغه رد.
۲_ د دعوت په مقابل کښې د کفارو کلک عناد او په همدې هکله نبي کریم ﷺ ته تسله او ډاډ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د دعوت په تړاو په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:
۱_ یقینًا هغو کسانو کومو چې عنادًا کفر غوره کړی دی او په خپل اعراض باندې په دائمي توګه کلک دي، کله چې دوی ته د الله ﷻ ذکر (قرآن کریم) ورغی سمدستي یې ورباندې کفر ته ترجیح ورکړه، او هیڅ فکر او تدبر یې پکښې ونه کړ، که بالفرض لږ څه خنډ یې کړی وی او د فکر او تدبر څخه یې پکښې کار اخستی وی نو کفر به یې نه وی غوره کړی. او دا ځکه چې:
الف: دا قرآن کریم داسې معزز او کلک کتاب دی چې د هیڅ طرف څخه پکښې باطل او بې بنیاده شی لار نه شي موندلی او نه پکښې شته، بلکې د هر حیثه په حقایقو مشتمل او په اعجاز باندې ډک دی.
ب: دا کتاب د هغه اقدس ذات ﷻ د پلوه نازل شوی دی چې د حکمتونو درلودونکی دی او د ډېرو ښو صفاتو او حمدونو لرونکی دی، نو د الله ﷻ د شان عظمت پکښې د ورایه ځرګندېږي.
۲_ ای پیغمبره! ته د خپل اُمت د عنادي کفارو څخه ډېر زیات مه متاثر کېږه چې په قرآن کریم کښې تدبر نه کوي او په عاجلانه توګه ورباندې د کوډو، شعر او نور نومونه ږدي، او یا تاته جادوګر او شاعر وایي. ته ځکه مه خپه کېږه چې:
الف: ته په دغو لقبونو کښې یوازې نه یې، کفار چې تاته ستا د تکذیب په موخه کومې خبرې کوي او کوم لقبونه چې درکوي، هغه خبرې یې ستا څخه وړاندې پیغمبرانو ته هم کړې وې او هغوی ته یې هم همدغه لقبونه ورکړې وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. خو د دغو جنايتونو سره‌سره كه ستا د زماني كفار د عناد څخه لاس واخلي او په رښتيانيو معناوو كښې په تابانديې ايمان راوړي، نو يقيناً ستا رب ﷻ د مغفرت خاوند دى په تېرو شوو كفرياتو بانديې به يې ونه نيسي.

ج. او كه نه دوى همدغه كفري حالاتو ته ادامه وركړي نو بې شكه چې ستا رب ﷻ د دردناك عذاب څښتن دى، نو موافقه او مطابقه سزا به وركړي.

۳_ اى پيغمبره! ستا د زماني كفار د ايمان د نه راوړلو دپاره بهانه تراشي او وايي چې: كه دا قرآن كريم په اعجمي لغت كښې نازل شوى وى نو مونږ به پرې باور كړى وى چې دا حقاني كتاب دى خكه چې ته نه په اعجمي لغت بانديې خبرې كولى شې او نه وربانديې كتاب ليكلى شې، څرنګه چې دا كتاب په عربي لغت كښې نازل شوى دى او ته هم د عربو څخه يې نو معلومه شوه چې دا كتاب الهي كتاب نه دى بلكې تا د خپله خانه جوړ كړى دى او په دروغو دې الله ﷻ ته منسوب ګرځولى دى.

۴_ ته كفارو ته په جواب كښې ووايه چې:

الف: كه زما عربيتوب د دې خبرې دليل وي چې دا كتاب ما جوړ كړى دى نو تاسو خو هم عربان ياست، تاسو خو په اجتماعي توګه په يوه ايت يا يوه سورت كښې د دې كتاب سره سيالي وكړئ؟ ايا دا عجيبه نه ده چې زه دې په انفرادي توګه ـ ستاسو په خيال ـ ټول كتاب جوړ كړى شم او تاسو په اجتماعي توګه يو ايت يا يو سورت نه شئ جوړولى؟

ب: كه بالفرض دا قرآن كريم په اعجمي لغت كښې نازل شوى وى نو كفارو به وربانديې هيڅكله ايمان نه وى راوړى او ډېره ښه پلمه به په لاس ورغلې وى چې: كه دا كتاب حقاني كتاب وى نو ضرور به په عربي لغت كښې نازل شوى وى ترڅو يې په مفاهيمو بانديې ږومبني اورېدونكي ـ چې عربان دي ـ ښه پوه شوي وى، او تفصيل يې ورته ښه څرګند شوى وى.

ج: په دې صورت كښې به يې ويلى چې: ايا دا عجيبه نه ده چې په عربي سړي بانديې اعجمي كتاب نازل شوى دى، چې بالكل په اعجمي لغت نه پوهېږي؟ ايا دا عجيبه نه ده چې مونږ عربان ياستو او الله ﷻ راته په اعجمي لغت سره كتاب نازل كړى دى چې په ټكي يې نه پوهېږو؟ نو معلومه شوه چې دا كتاب حقاني كتاب نه دى، الله ﷻ داسې غير مناسب كار نه كوي.

۵_ اى پيغمبره! كفارو ته ووايه چې:

الف: دا كتاب (قرآن كريم) حقاني كتاب دى او په پټه خوله الله ﷻ ته بلنه كوي او هم خپل حقانيت په خپل اعجاز سره پخپله په اثبات رسوي.

ب: دا كتاب د هغو كسانو دپاره كومو چې وربانديې ايمان راوړى دى او عقيده وربانديې لري په دنيا او آخرت كښې سراسري هدايت او د لارې مشال دى، او هم ورته د هغو مرضونو شفاء ده كومو چې د كفارو په زړونو كښې ځاى نيولى دى چې په شركياتو بانديې اخته دى.

ج: هو! دا كتاب د هغو كسانو په ارتباط نه هدايت دى او نه شفاء ده، د كومو په غوږونو كښې چې درندوالى دى او په سترګو بانديې يې پردې خورې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: دا کتاب هغو خلکو ته ګټه نه شي رسولی د کومو په زړونو باندې چې مهر لګېدلی وي او د نېکۍ استعداد یې د لاسه ورکړی وي.

د: نو دغه کسان د قرآن کریم په نسبت د هغو خلکو غوندې دي کومو ته چې د ډېر لرې ځای څخه ناره وهلی کېږي حال دا چې د نارې کوونکي په مطلب باندې نه پوهېږي چې څه غواړي.

۶_ ای پیغمبره! ته په دې باندې ډېر مه غمژن کېږه چې ستا اُمت قرآن کریم ته ډول-ډول بهانې تراشي او ایمان ورباندې نه راوړي. او دا ځکه چې:

الف: مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه، نو په هغه کتاب کښې هم د وخت خلک مختلف وګرځېدل، چې چا ورباندې ایمان راووړ او چا ترې انکار وکړ. ستا د زمانې خلک د قرآن کریم سره همدغه تګلاره خپلوي، ځوک ورباندې ایمان راوړي او ځوک ترې انکار کوي.

ب: که بالفرض ستا درب ﷻ سره دا خبره پخوا نه وی فیصله شوې چې د اختلافاتو فیصلې به د قیامت په ورځ صورت نیسي، نو د دغو اختلاف کوونکو سره به سمدستي په دنیا کښې فیصلې صورت نیولی وی. او دا ځکه چې:

ج: یقیناً ستا د اُمت کفار د قرآن کریم د حقانیت په هکله په شک کښې پراته دي، البته داسې شک چې دوی یې په اضطراب او تشویش کښې اچولي دي چې د یوه پلوه د خپلو شکونو دپاره دلیل نه شي وړاندې کولی او د بلې خوا د عناد کبله د قرآن کریم په حقانیت اقرار او اعتراف نه شي کولی.

۷_ په دې ټولو باندې علاوه _ای پیغمبره!_ تا خپل مکلفیت سرته رسولی دی او خپله ذمه دې فارغه کړې ده چې قرآن کریم او د الله ﷻ پیغام دې هوبهو رسولی دی، نور نو خلک پوهېږي او کار یې. که ځوک ستا دعوت قبول کړي او صالح عمل وکړي نو ګټه یې فقط همدغه کس ته راجع ده چې پخپله به د جنتیانو څخه وشمېرل شي، او که ځوک ستا دعوت قبول نه کړي او جنایتونو ته ادامه ورکړي نو فقط خپل ځان ته به ضرر ورسوي او د جنایتونو پېټی به د همده په اوږو باروي او بس. او دا ځکه چې ستا رب ﷻ په خپلو بندګانو باندې ظلم او تېری نه کوي چې نېکو کار ته د نېکۍ بدله ورنه کړي او یا په بد کار باندې د استحقاق څخه اضافه عذاب ورنازل کړي او ورباندې یې اخته کړي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكۡرِ ﴾ کلمات د "إنّ" د توري دپاره اسم دی او د همدغه توري په خبر کښې مفسرینو کرامو زښتې ډېرې وجې لیکلې دي[۱] خو په زړه پورې وجه یې دا ده چې:

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۷؛ البحر المحیط ج۹ ص۳۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ﴿ لَمَّا جَآءَهُمْ ﴾ کلمات د متعلق په اعتبار سره د ذکر شوي توري دپاره خبر دی چې مونږ ترې په "كَفَرُوا بِهِ لَمَّا جَآءَهُمْ" سره تعبير کولی شو.

ب: په دې مقام کښې د ﴿ بِالذِّكْرِ ﴾ څخه قرآن کريم مطلب دی چې په بل ايت کښې ورباندې تقريبًا صراحت شوی دی چې: ﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ ﴾ [الأنبياء: ٥٠] يعني او دغه (قرآن کريم) مبارک ذکر دی چې مونږ (تاته) درنازل کړی دی.

ج: په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴾ کښې د ﴿ عَزِيزٌ ﴾ کلمه د هغه "عِزة" څخه اشتقاقه شوې ده د کوم څخه چې د "عَزاز" کلمې -لکه "شَرَاب"- اشتقاق موندلی دی، دغه کلمه (عَزَاز) کلکې ځمکې ته وايي[1].

شايد چې قرآن کرم ته به دغه لقب (عزيز) د دې کبله ورکړی شوی وي چې دا د هر کلک کتاب دی چې د تحريف څخه محفوظ کړی شوی دی او بطلان او د واقع سره عدم مطابقت ورته لار نه شي موندلی، بلکې دا وروستنی کتاب دی چې ناسخ نه لري.

د: په حقيقت کښې د ﴿ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ﴾ الآية- د همدغه لقب (عزيز) دپاره تفسير واقع شوی دی او دا خکه چې:

ه: که څه هم په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ ﴾ او د ﴿ مِنْ خَلْفِهِۦ ﴾ کلمات مفسرينو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسير کړي دي خو کوم تفسير چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې دغه کلمات د ټولو جهاتو څخه کنايې دي، لکه چې په همدې مطلب باندې لږ وړاندې په [فصلت: ١٤] ايت کښې څه رڼا اچولې شوې ده.

نو پورتنيو ټکو ته په پام سره يې مطلب داسې راځېږي چې:

بې شکه هغو کسانو کومو چې د عناد د کبله په قرآن کريم سره کفر غوره کړی دی، دوی د قرآن کريم په حقانيت او اعجاز کښې هيڅ فکر نه دی کړی او د قرآن کريم د اورېدلو سره سم ورباندې کافر شوي دي، که بالفرض دوی د کفر په خپلولو کښې عجله نه وی کړې نو څه لرې نه وه چې ايمان يې ورباندې راوړی وی.

او دا خکه چې دا قرآن کريم داسې کلک کتاب دی چې د يوې خوا او د يوه جهت څخه هم ورته د اعتراض او ګوتنيونې لار نه شي پيدا کولی خکه چې نازلوونکی يې د حکمتونو څښتن او همدارنګه د ښو صفاتو خاوند دی او د دغو دواړو امتيازاتو اثار پکښې تدبر کوونکو او سوچ کوونکو ته څرګند دي.

## يو نحوي تحليل

٢- د نحويت په لحاظ ځينو مفسرينو کرامو په ﴿ ءَا۬عْجَمِيٌّ وَعَرَبِيٌّ ﴾ کښې متعدد تحليلونه کړي

[1] مفردات الراغب ص٣٤٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي[١]، خو کوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی[٢] هغه په لاندې ډول دی چې تکو کښې خلاصه کوو:
الف: د ﴿ ءَأَعْجَمِيٌّ ﴾ موصوف مقدر دی، چې په "کلام" سره ترې تعبير کولی شو.
ب: د "عَرَبِيٌّ" موصوف هم مقدر برېښي، چې په "مخاطب" سره ترې تعبير کېږي.
ج: ذکر شوې دواړه کلمې د مقدر "يُنَزَّلُ" دپاره نائب فاعل جوړېږي.
يعنې که بالفرض مونږ دغه ذکر (قرآن کريم) په نبي کريم ﷺ باندې په أعجمي لغت کښې نازل کړی وی نو ضرور به معاندينو کفارو د انکار دپاره بهانه تراشلې وی او ويلي به يې وی چې: ايا په عربي مخاطب (محمد ﷺ) باندې د الله ﷻ د پلوه آعجمي کلام نازل کړی شوی دی؟ دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی، که نه نو په دغسې غير مناسب ډول سره به يې نزول نه وی موندلی. هو! که دا پرې په عربي لغت کښې نازل شوی وی نو مونږ به ورباندې ضرور ايمان راوړی وی، خو افسوس چې داسې نه دي شوي.
ذکر شوي مضمون ته ورته مضمون په [الشعراء:١٩٨] ايت کښې تېر شوي دي، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي ترڅو پرې دا مقام ښه واضحه کړی شي.

د الله ﷻ په توفيق څلېرشتمه سپاره د پښتو ترجمې او تفسير د حيثه ختمه شوه.
د الله ﷻ څخه لا زيات توفيق غواړو.
١٤٢٣/٢/٣ هـ ق = ١٣٨١/٢/٢٥ هـ ش.

---
(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١٤٩
(٢) تفسير ابن كثير ج۴ ص١٠٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ مِن قَبْلُ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾﴾

[۴۷] خاص الله ﷻ ته (د هره طرفه) د قیامت د قیام علم وراړولی کیږي (زه نه پوهېږم خاص الله ﷻ پوهېږي او بس)، او (همدارنګه) هیڅ میوجات د خپلو شخولو (غلافونو) څخه نه راوځي او نه هیڅ ښځینه (انسان وي او که غیر انسان) بار پورته کوي (نه بارداره کېږي) او نه (خپل بار) ږدي مګر د الله ﷻ په علم سره.

او هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (مشرکان مخاطب کړي او) ورته غږ وکړي چې (ستاسو په ګومان سره) زما شریکان (نن ورځ) چرته دي (چې تاسو ته نجات درکړي)؟، هغوی به (په جواب کښې) ووايي چې: (ای ربه!) مونږ تاته لا وړاندې خبر درکړی وه چې (نن ورځ په شرک باندې) زمونږ د جملې څخه هیڅ شهادت ورکوونکی نشته.

[۴۸] او د مشرکانو څخه به (په دغه وخت کښې) هغه (باطل معبودان د استفادې د حیثه) ورک شي کوم چې دوی وه چې وړاندې (په دنیا کښې) به يې د هغوی بلنه (او عبادت) کاوه. او هم به یقین وکړي چې دوی ته د تښتېدلو (او خلاصون) هیڅ ځای نشته.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې هغه پوښتنه جوابه شوې ده کومه چې کفارو ته د وړاندېنیو ایتونو څخه راولاړېده، هغه دا چې: هغه ورځ چې الله ﷻ د فیصلو دپاره ټاکلې ده چې هر چاته به پکښې د خپلو کړو وړو پوره سزا یا جزا ورکوله کېږي، هغه به کله راشي او څومره وخت ورته پاتې دی؟

د جواب حاصل يې دا دی چې: د ذکرې شوې ورځې په راتللو (د قیامت په قیام) باندې د الله ﷻ څخه په غیر د پیغمبرانو او پرښتو په شمول هیڅوک علم نه لري، بلکې د هر چا د پلوه دغه علم الله ﷻ ته ورتاوولی کېږي، چې زه نه پوهېږم خاص الله ﷻ ورباندې پوهېږي او بس.

همدغه مضمون ته په یوه اوږده حدیث کښې هم اشاره شوې ده[1].

## څو نکات

۲ـ په ﴿إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا﴾ کښې د "أكمام" کلمه د "كِم" جمعه ده چې د "ک" توری پکښې زېر لري او "م" توری يې مشدد دی.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۱۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"كم" هغه غلاف يا پردې ته ويل كېږي د كوم څخه چې مېوه په اول خل راڅرګندېږي(۱)، څه لرې نه ده چې د همدغې پردې څخه مونږ په "شخولي" سره تعبير وكړو.

ب: د ﴿ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ﴾ په دواړو جملو كښې هغه مضمون منعكس شوى دى كوم ته چې په [الرعد:۸] ايت كښې اشاره شوې ده.

په دغو دواړو جملو كښې د ﴿ إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ د جملې تاكيدات او نظاير نازل شوي دي، يعنې: لكه څنګه چې د قيامت د قيام علم يوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري همدارنګه د شخولو څخه د ميوجاتو د ظهور علم هم په همده ﷻ پورې مختص دى چې كله به ترې ظهور كوي همدارنګه د اولادونو د علوقې د وخت او كيفيت علم او هم يې د وضعه كېدلو علم په همده ﷻ پورې اختصاص درلودونكى دى.

ج: د ﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَآءِى ﴾ په جمله كښې د قيامت د ورځې د حالاتو څخه هغه حالت ته اشاره شوې ده كوم چې په [القصص:۶۲] ايت كښې لږ څه تفصيلوار نازل شوى دى.

د: كه څوک وايي چې: په ﴿ قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ ﴾ كښې د "آذَنَ" كلمه د "إِيْذَان" څخه اشتقاقه شوې ده چې د اعلام (پوهولو) معنى وركوي(۲)، حال دا چې د مشركانو په ټولو حالاتو باندې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي؛ نو ايا د قيامت په ورځ به د دغې كلمې استعمال د هغوى د پلوه يو ناوړه استعمال نه وي؟

مونږ وايو چې: دلته د "اعلام" څخه اخبار مطلب دى چې خبردار او غير خبردار دواړو ته صورت نيولى شي، او په دې مقام كښې لومړى صورت مطلب دى(۳). يعنې اى ربه! مونږ تاته پخوا هم يو ځل خبر دركړى وه او ته زمونږ په حالاتو باندې ښه خبر يې خو دا دى د لومړي اخبار غوندې يو ځل بيا خبر دركوو چې: ﴿ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴾ زمونږ څخه هيڅوک شهادت وركوونكى نشته.

شايد چې د كره شوې پوښتنه به د مشركانو څخه د تخجيل او رټلو په موخه په بيا-بيا وكړى شي دا د يو پلوه، او د بله پلوه ذكره شوې جمله الله ﷻ د مشركانو د خولو څخه راحكايت كړې ده او څه ضرور نه ده چې مونږ د هغوى كلام ته مناسبت ولټوو حال دا چې هغوى د الله ﷻ په شان كښې د شرک غوندې د غيرو مناسبو خبرو مرتكب شوي دي.

ه: مفسرينو كرامو د ﴿ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴾ جمله په لاندې دوه ډوله تفسيره كړې ده(۴)، او څه لرې نه ده چې د بدليت په لحاظ سره دواړه اراده كړى شي:

اول: چې عدم شهادت د انكار څخه كنايه شي، يعنې زمونږ څخه په دنيا كښې يوه كس هم د شرک اقرار نه دى كړى او نه يې ورباندې شهادت وركړى دى. همدې مضمون ته په [الأنعام:۲۳] ايت كښې اشاره شوې ده.

(۱) مفردات الراغب ص۴۵۹
(۲) القاموس المحيط ج۱ ص۱۲۶
(۳) روح المعاني ج۲۵ ص۳
(۴) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۲۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: چې عدم شهادت د بېزارۍ معنی ورکړي، يعني نن ورځ زمونږ يو کس هم په شرک اعتراف نه کوي او نه ورباندې شهادت ورکوي، مونږ ټول د شرکياتو څخه بېزار ياستو او مونږ ټول په توحيد معتقد ياستو. همدې مضمون ته ورته مضمون په [السجدة:١٢] ايت کښې نزول موندلی دی.

## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: د قيامت په ورځ خو به کفار يقين او باور لري چې د نجات لار ورته نشته، نو د څه حکمت په بنياد الله ﷻ د هغوی څخه د "ظَنُّوا" په کلمې سره حکايت وکړ، نه د "أَيْقَنُوا" په کلمې سره؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال په جواب کښې ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي[1] چې دلته د "ظَنُّوا" کلمه د "أَيْقَنُوا" معنی ورکوي او په عربي محاوره کښې ظن د يقين په عوض استعمالېږي[2].

خو مونږ ته دا هم بعيده نه برېښي چې مشرکانو ته به د ﴿أَيْنَ شُرَكَآءِى﴾ د تکراري پوښتنې څخه د نجات تمه پيدا شوې وي او په عدم خلاصون او عدم نجات باندې به يې يقين د ګومان (ظن) ځای ته وربښکته شوی وي، والله ﷻ اعلم.

﴿لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَـٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَـٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾﴾

[٤٩] بنيادم (د طبيعت په لحاظ سره) د خير د غوښتنو څخه نه ستومانه کېږي (هيڅکله بس نه وايي)، او که شر ورته ورسېږي (او خير ترې زائل شي) نو (همدغه بنيادم بيا) ډېر سخت نااُميده (او نا هيلې) دی.

[٥٠] او که چرته مونږ د خپله طرفه (بدون استحقاقه) ورته د هغه څخه وروسته رحمت وروڅکو چې نومړي ته د سختيو حالت رسېدلی دی، نو (په دغه وخت کښې شکر نه اداء کوي بلکې) هرومرو او ضرور وايي چې: دغه (د رحمت راکړه) زما دپاره ده (زه يې لياقت لرم) او زه په قيامت باندې د ودرېدونکي ګومان نه کوم (چې رښتيا به زه بيا راژوندی کړی شم او د حساب کتاب سره به مخ شم)، او که بالفرض زه خپل رب ﷻ ته بېرته ورتاو کړی شم (او قيامت قائم شي) نو يقيناً زما دپاره ضرور زما د رب ﷻ په نزد ښايسته درجې (چې زه يې لياقت لرم) شته.

(١) تفسير ابي السعود ج٨ ص١٨
(٢) لسان العرب ج١٢ ص٢٧٢

Scanned by CamScanner

د پښتو کتابونو لپاره زموږ سره یوځای شئ


نو ضرور هرومرو به مونږ هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی په هغو جنايتونو سره خبر کړو چې دوی (په دنيا کښې) عملي بڼه ورکړې وه، او هرومرو ضرور به د کلک (سخت) عذاب څخه وروڅکو.

[۵۱] او کله چې مونږ په بنيادم باندې انعام وکړو نو سمدستي (د نعمت د شکر څخه) اعراض کوي او خپل څنګ ترې لرې کوي (ډېره ترې کوي او تکبر خپلوي)، او کله چې ورته شر ورسېږي (او د نعمت د نزول سره مخامخ شي) نو (نوموړی بنيادم) د پلنو (او اوږدو) سوالونو خاوند وي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د هغه حالت نقيض ته اشاره شوې ده کوم چې په مشرکانو او کفارو باندې د قيامت په ورځ ورتلونکی دی او وړاندېني ايتونه يې په بيان باندې مشتمل دی. يا په بل عبارت: نن ورځ هغوی غلط يقين او باور کوي چې اخروي نجات به د دوی په برخه وي او هلته به په ربښتياني يقين او باور سره پوه شي چې د نجات هيڅ لاره به ونه مومي. نو حاصل يې داسې راځي چې:

ای پيغمبره! کوم بنيادم چې د طبيعت په مقتضی لاړ شي او د اسلام هدايات د خپل ځان دپاره د لارې مشال ونه ګرځوي، هغه ضرور ثبات او استقامت د لاسه ورکوي او د لاندې بې ثباتيو سره مخامخ کېږي:

۱ـ هغه د خير او خوشاليو د غوښتنو څخه هيڅکله نه ستومانه کېږي او د زيات حرص د املة هيڅکله قناعت نه خپلوي.

او که چرته همدغه حارص بنيادم ته څه شر ورسېږي او خير (خوشالي) يې د زوال سره مخامخ شي نو سمدستي زښت ډېر نااُميده کېږي او په خيال کښې يې هم نه ګرځي چې الله ﷻ ورته زائل شوي نعمتونه بېرته ورکولی شي، او غمګين حالت ته يې خاتمه ورکولی شي.

۲ـ که بالفرض ذکر شوي انسان په لومړي صورت کښې قناعت کړی وی او حرص ته يې لاس نه وی اچولی او په دوهم صورت کښې د الله ﷻ څخه نه وی نااُميده شوی او ثبات او صبر يې کړی وی، نو دواړه صورتونه به يې په ګټه تمام شوي وی او په دنيا او آخرت کښې به د نجات مستحق ګرځېدلی وی.

۳ـ که چرته مونږ د خپله جانبه نوموړي مايوسه او نااُميده بنيادم ته رحمت وروڅکو البته د داسې سختی څخه وروسته کومه چې ورته رسېدلې وه او د ډېرې نااُميدی سره يې مخامخ کړی وه، نو بيا کفري ويناوې کوي او خپله کفري عقيده لا قوي کوي هغه دا چې:

الف: په دغه وخت کښې د آخرت د عذابونو څخه د نجات دپاره کار نه کوي بلکې وايي چې: په ما باندې د الله ﷻ هيڅ احسان نشته زه د دغو نعمتونو مستحق يم. يا په بل عبارت: په دغه وخت کښې هغه وينا کوي کومه چې قارون کړې وه.

ب: که په دغه وخت کښې ورته وويلی شي چې د خپلو مالونو څخه څه برخه د آخرت دپاره خانګړې کړه چې هلته هم درته د الله ﷻ د پلوه نعمتونه درکړی شي او د عذابونو څخه نجات

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رمومی، نو نوموړی سمدستي په جواب کښې وايي چې: زه ګومان نه کوم چې د قيامت ورځ به قائمه شي ترڅو ورته زه تياري ونيسم.

ج: او که بالفرض د قيامت قيام حقيقت ولري او زه بېرته راژوندی کړی شم او د خپل رب ﷻ په حضور کښې ودرولی شم نو هرومرو او ضرور به په دغه صورت کښې هم زما دپاره زما د رب ﷻ په نزد ډېره لويه او ښايسته رتبه موجوديت ولري. يا په بل عبارت: لکه چې دلته زه د نعمتونو مستحق يم همدارنګه به هلته هم په خپل استحقاق سره د لا زياتو رحمتونو درلودونکی جوړ شم.

۴ـ ای پيغمبره! دغسې نه ده لکه څنګه چې نوموړی کافر بنيادم خيال کوي، بلکې په دنيا کښې خوښي او ناخوښي دواړه د امتحان په توګه صورت نيسي او د الله ﷻ د پلوه دوست او دښمن دواړو ته ورکولی کېږي، او د قيامت په ورځ به ورسره محاسبه صورت نيسي.

نو هرومرو او ضرور به مونږ هغو کسانو ته په هغو جنايتونو سره خبر ورکړو چې دا دې کړی دي او هغه دې ويلي دي

او په نتيجه کښې به ورته ضرور او هرومرو مونږ د سخت او کلک عذاب څخه ټاکلې برخه ورڅکو او ورباندې به يې اخته کړو.

۵ـ ای پيغمبره! لکه څنګه چې کافر انسان د خوښۍ او ناخوښۍ په دواړو حالاتو کښې د مختلفو کفري اقوالو قائل جوړېږي، همدارنګه په دواړو حالاتو کښې د مختلفو کفري افعالو مرتکب هم ګرځي. د مثال په توګه:

الف: کله چې ورباندې مونږ انعام وکړو او خوشالي ورکړو نو سمدستي د شکرګزارۍ څخه ډډه کوي او تکبر خپلوي ، بلکې د حق څخه اعراض کوي او مخ ترې اړوي.

ب: او که په عين خوشالۍ کښې ورته څه شر ورسېږي او د نعمتونو د زوال سره مخامخ وګرځي نو سمدستي نااُميده کېږي او په چيغو او زاريو شروع کوي، لکه چې هيڅکله يې نه چرته تکبر کړی وي او نه يې د نعمتونو د شکرګزارۍ څخه ډډه کړې وي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ ﴾ کښې د انسان هغه حرص او عدم قناعت ته اشاره شوې ده کوم چې نبي کريم ﷺ په ډېرو احاديثو کښې تفسير کړی دی. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: «لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ ذَهَبٍ لَأَحَبَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ ثَانِيًا وَلَا يَمْلَأُ فَاهُ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ»[1] يعني که چرته بنيادم ته د سرو زرو يوه کنده وي نو ضرور به خوښ کړي چې دوهمه کنده دې هم ولري، او خوله به يې ډکه نه کړي مګر خاورې (تر مرګه به په حرص کلک وي) او الله ﷻ په هغه چا باندې په رحمت سره رجوع کوي کوم چې الله ﷻ ته راجع شي (او د حرص څخه لاس واخلي).

ب: «لَوْ كَانَ لابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لابْتَغَى وَادِيًا ثَالِثًا وَلا يَمْلأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللهُ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَى مَنْ تَابَ»⁽¹⁾ يعني كه چرته بنيادم ته د مال څخه دوه كندې وي نو دريمه كنده به هم وغواړي او د بنيادم ګېډه به ډكه نه كړي مګر خاورې (تر مرګه به په همدغه حرص باندې اخته وي) او الله ﷻ به هغه چا باندې په رحمت سره رجوع كوي كوم چې توبه تائب شي (او د حرص څخه لاس واخلي).

## د يأس او قنوط معناوې

٢ـ په ﴿ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴾ كښې د "يَئُوس" كلمه د "يَأس" ـ لكه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د نااُميدۍ معنى وركوي، او د "قَنُوط" كلمې پكښې د "قُنُوط" ـ لكه "خُشُوع" ـ څخه اشتقاق موندلى دى چې دا هم د نااُميدۍ دپاره وضعه شوى دى.

ذكرې شوې دواړه كلمې د مبالغې صيغې دي او دوهمه د اولنۍ دپاره من غير اللفظ تاكيد واقع شوې ده، يعني: او كه چرته حارص بنيادم ته شر او سختې ورسېږي نو سمدستي د الله ﷻ څخه ډېر سخت نااُميده ګرځي او د نعمت د بېرته ورتاوېدلو هيڅ تمه نه كوي.

همدې مضمون ته په بل ايت كښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴾ [الإسراء:٨٣] يعني او كله چې انسان ته شر (سختې) ورسېږي سمدستي ډېر نااُميده شي. چې همدغه نااُميدي يې د كافر كېدلو او يا د كافر پاتې كېدلو دپاره كفايت كوي لكه چې الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿ إِنَّهُۥ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ [يوسف:٨٧] يعني: يقيناً شان دا دى چې د الله ﷻ د رحمت څخه نه نااُميده كېږي مګر كافر قوم.

## عريض څه معنى؟

٣ـ په ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴾ كښې د ﴿ عَرِيضٍ ﴾ كلمه د پلن معنى وركوي، چې په مقابل كښې يې د "طويل" كلمه استعمالېږي چې د اوږد دپاره وضعه شوې ده او د عريض سره لازمه ده، نو كوم شى چې عرض لري هغه به ضرور طول هم لري چې د عرض څخه به يې زيات وي.

خو په دې مقام كښې ذكره شوې كلمه د كثرت څخه كنايه ده، يعني: او كله چې كافر حارص انسان ته څه شر ورسېږي او د نعمتونو د زوال سره مخامخ شي نو همدغه انسان د پلنو او ډېرو سوالونو خاوند وي.

ذكر شوې مضمون ته په ډېرو ايتونو كښې اشاره شوې ده، د مثال په توګه:

الف ﴿ فَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَـٰنَ ضُرٌّ دَعَانَا ﴾ [الزمر:٤٩] يعني نو كله چې انسان ته څه ضرر (زحمت) ورسېږي نو يوازې مونږ بللي او بس.

ب. ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَـٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا ﴾ [يونس:١٢] يعني او كله چې انسان ته ضرر ورسېږي نو مونږ (ورته) بللي (البته) په داسې حال كښې چې په خپل اړخ (پروت) وي او يا ناست وي او يا ولاړ وي.

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٣٣٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ايتونو د همدې مجموعې په اولني ايت کښې تېر شوه چې انسان د شر د رسېدلو په وخت کښې ډېر سخت نااميده جوړېږي چې نه سوال کوي او نه ورسره د نعمتونو د بېرته راستنېدلو تمه پيدا کېږي، نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه ايت د هغه ايت سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: په دواړو ايتونو کښې هيڅ منافات نشته او دا څکه چې کافر انسان د نعمتونو د زوال په وخت کښې د مختلفو حالاتو سره مخامخ کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې ايتونه ولولئ:

الف: کله بالکل نااميده کېږي، لکه چې په وړاندېني ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: کله ډېرې سختې زارۍ او سوالونه کوي، لکه چې په همدغه ايت کښې ورته اشاره کېږي چې بحث پکښې روان دی.

ج: کله د څارويو په شان رمباړې وهي، لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْـَٔرُونَ ﴾ [النحل:۵۳] يعنې بيا چې کله تاسو ته ضرر ورسېږي نو خاص الله ﷻ ته د څارويو غوندې رمباړې وهئ او زارۍ کوئ.

د: کله وارخطايي خپلوي او شکايت کوي، الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴾ [المعارج: ۲۰] يعنې: کله چې حارص انسان ته ضرر ورسېږي نو جزعې فزعې کوونکی ګرځي او د الله ﷻ څخه شکايت کوي.

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطٌۢ ﴿٥٤﴾﴾

[۵۲] (اې پېغمبره! کفارو ته) ووايه چې: ايا تاسو ګورئ (ماته خبر راکړئ!) که چرته قرآن کريم د الله ﷻ د نزده (په حقه نازل شوی) وي (لکه چې همداسې واقعيت دی)، بيا ورباندې تاسو کفر غوره کړی وي، نو د هغه چا څخه به څوک ډېر ګمراه وي کوم چې (د همدغه حقاني قرآن کريم په هکله) په ډېر لرې مخالفت کښې (واقع) وي؟.

[۵۳] ژر دی چې مونږ به (د کفارو په شمول ټولو) بنيادمانو ته (د دنيا) په اطرافو کښې او (هم) د دوی په نفسونو کښې خپل نور دلايل وروښايو (او دا لړۍ به د قيامت تر ورځې پورې روانه وساتو) ترڅو چې دوی ته ښه پوره څرګنده شي چې يقينًا دا (قرآن کريم) حق دی (څه چې پکښې نازل شوي دي هغه ټول د واقع سره مطابق دي).

ايا (د راتلونکو دلايلو د رښتينتوب دپاره) ستا رب ﷻ کفايت نه کوي (ايا دا خبره ورته کفايت نه کوي چې) يقينًا ستا رب ﷻ په هر شي باندې حاضر دی (او هيڅ شی يې د علم څخه نه شي وتلی؟)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۴] اګاه اوسه چې يقيناً کفار د خپل رب ﷻ د ملاقات (د قيامت د قيام) څخه په شک کښې دي، اګاه اوسه چې يقيناً الله ﷻ (په علم او قدرت سره) پر هر شي احاطه کوونکی دی (هر څه ورته معلوم دي او پر هر شي قادر دی).

## ارتباطونه

۱_ د سورت د اول سر څخه د قرآن کريم د حقانيت په هکله د کفارو د قناعت دپاره په بېلابېلو اساليبو سره زښت ډېر دلايل نازل کړی شوي دي او په دې ايتونو کښې بنيادمان متوجه کړی شوي دي چې په دلايلو باندې يو خل ښېرته ورتاو شي او دوهم نظر ورباندې وکړي، ترڅو حقيقت درک کړي او د کفرياتو څخه لاس واخلي.

۲_ په وړاندېنيو نژدې ايتونو کښې د بنيادم طبيعت بنودلی شوی وه چې هيڅ ثبات او استقامت نه لري، او په دې ايتونو کښې هغه علاج نازل شوی دی په کوم سره چې د نوموړي متزلزل او مضطرب طبيعت د ثبات او استقامت خاوند جوړېدلی شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! په دې مقام کښې په خپل دعوتي اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ د الله ﷻ د پلوه مشرکانو ته ووايه، او په لاندې پوښتنو سره يې مخاطب کړه چې:

الف: ايا تاسو د هغو دلايلو رد کولی شئ کوم چې د همدې قرآن کريم په حقانيت اقامه کړی شوی دی؟ ايا تاسو د يوه ايت يا سورت په جوړولو سره د قرآن کريم مقابله کولی شئ چې د اعجاز مخه يې بنده کړئ؟.

ب: ايا تاسو د خپلو باطلو معبودانو د حقانيت د اثبات دپاره څه دلايل اقامه کولی شئ؟

پوره واضحه ده چې د ذکرو شوو دواړو پوښتنو جوابونه منفي دي، نو اوس تاسو ته درېيمه پوښتنه متوجه کېږي:

ج: که چرته دا قرآن کريم په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وي _لکه چې واقعيت همدا دی_ حال دا چې تاسو يې تکذيب کوئ، نو د هغه چا څخه سخت ګمراه څوک دی کوم چې د دغسې څرګندو دلايلو سره-سره په کفرياتو او شرکياتو اخته وي؟ يا په بل عبارت: ايا تاسو د حقيقت او واقعيت څخه په ډېر لرې مخالفت او ګمراهی کښې اخته نه ياست؟

۲_ دا هم ورته ووايه چې: د دلايلو لړی لا روانه ده مونږ به د قيامت تر ورځې پورې نور دلايل هم ورولېږو. د مثال په توګه:

الف: پخپله په عربستان کښې (چې د مشرکانو خپل ټاټوبی دی) او همدارنګه د عربستان په اطرافو کښې به په خارق العاده توګه اسلام خور کړو او د دنيا ټولو څنډو ته به يې ورسوو.

ب: د بنيادمانو په ځانونو کښې به هم په راتلونکي وخت کښې نور دلايل وروښايو، د دلايلو لړی لا نه ده پرې شوې او د قيامت تر ورځې پورې به ادامه ولري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا د نورو دلایلو د ښودلو د باوري ګرځېدلو دپاره دا خبره کفایت نه کوي چې یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی او د قیامت تر ورځې پورې یې په ټولو موجودېدونکو شیانو باندې علم حضوري دی چې هیڅ شی ترې غیاب نه شي موندلی؟

۳_ ای پیغمبره! په پای کښې د خپلې تسلی دپاره دغو ټکو ته متوجه شه:

الف: اګاه اوسه چې: د کفارو د کافر پاتې کېدلو اصلي لامل دا دی چې دوی په عنادي توګه د قیامت په قیام عقیده نه خپلوي او د خپل رب ﷻ د ملاقات څخه په شک او اشتباه کښې پراته دي.

ب: اګاه اوسه چې: یقیناً الله ﷻ د علم او قدرت د حیثه په هر شي باندې احاطه کړې ده او هر شی د ده ﷻ په واک او قدرت کښې دی، نو د قیامت په ورځ به هر چاته د هغه د کړو وړو موافقه سزا یا جزا ورکړي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ ﴾ کښې به د "كَانَ" او "بِهِ" دواړه ضمیرونه څه شي ته راجع وي؟

مونږ وایو چې: دغه دواړه ضمیرونه ځینو مفسرینو کرامو (شرع الله) ته راجع ګڼلي دي[1]، چې د وړاندېني کلام د مضمون څخه ځرګندېږي، خو بهتره دا ده چې ذکر شوي دواړه ضمیرونه قرآن کریم ته راجع وګڼو چې د سورت د اول سر څخه په همدې هکله د ایتونو نزول شروع شوی دی.

## آفاقي او أنفسي دلایل

۲_ په ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ کښې افاقي (اطرافي) او انفسي دلایلو ته اشاره شوې ده چې مفسرینو د دغو دلایلو د تشخیص په هکله متعدد صورتونه ښودلي دي[2]، لکه:

الف: په ﴿فِى ٱلْءَافَاقِ﴾ کښې هغو واقعو او پېښو ته اشاره ده کومې چې د دنیا په اطرافو کښې د کفارو په هکله پخوا تېرې شوې دي، او په ﴿ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ کښې هغو حوادثو ته اشاره لېده کېږي کومې چې د عربستان په داخل کښې رامنځته شوې دي لکه د بدر فتحه او یا داسې نور.

ب: افاقي ایات د اسماني اجرامو څخه عبارت دي لکه لمر، سپوږمۍ او داسې نور؛ او انفسي ایات د هغو حوادثو معنی ورکوي کوم چې په خمکه کښې صورت نیسي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د مفسرینو کرامو به حصر مطلب نه وي بلکې محض د مثال په توګه به یې د ذکرو شوو او نورو تفسیرونو نومونه ذکر کړي وي.

بهتره دا ده چې افاقي دلایل هغو ټولو تغیراتو او بدلونونو ته شمولیت ولري کوم چې د زمانو په اختلاف سره په دنیا کښې رامنځته کېږي، برابره خبره ده چې پورته وي او که لاندې (په اسمان

(۱) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۹۹

(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۱۹۹؛ تفسير القرطبي ج۱۵ ص۳۷۴؛ زاد المسير ج۷ ص۲۶۸؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې وي او که په خمکه)، یا په بل عبارت: څومره چې ساینسي علوم وده کوي په همدغې اندازه باندې افاقي دلایل هم مخ په وړاندې زیادت مومي.

او همدارنګه بهتره ده چې انفسي دلایل هغو ټولو تحولاتو ته شامل وګڼلی شي کوم چې په نفس باندې د نطفې د حالت څخه د کهولت او ارذل العمر تر وخته پورې تېرېږي، او وخت په وخت پکښې تازه اکتشافات صورت نیسي. په دې باندې علاوه، د یوه بدن په داخل کښې چې څومره عجائب او غرائب موجودیت لري هغه ټول په انفسي دلایلو کښې شامل دي چې د زمانو په تېرېدلو سره به خلکو ته څرګند شي.

په ذکر شوي شمولیت او عمومیت باندې د ﴿ سَنُرِيهِمْ ﴾ د جملې نزول دلالت کوي او دا ځکه کله چې په مضارع باندې د "سَوْفَ" یا "سَ" توری داخل شي نو معنی یې په استقبال پورې خاصه ګرځي.

نو په همدې ملحوظ به د ایت شریف د معنی حاصل داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! د پر ژر دی چې مونږ به په موجوده دلایلو باندې علاوه انسانانو ته عمومًا او کفارو ته خصوصًا د دوی د ابدانو څخه دباندې او هم د دوی د ابدانو په داخل کښې د علومو په انکشاف سره د قیامت تر ورځې پورې د دلایلو سره سلسله جاري وساتو، ترڅو چې وخت په وخت ورته څرګنده شي چې قرآن کریم حقاني کتاب دی او څه چې پکښې نازل شوي دي هغه ټول د واقع سره برابر او مطابق دي.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ کښې لاندې نحوي تحلیل په نظر کښې ساتل په کار دي[۱]:

الف: په ﴿ بِرَبِّكَ ﴾ کښې د "ب" توری د تاکید دپاره زائد دی او "رَبُّكَ" د "لَمْ يَكْفِ" دپاره فاعل دی.

ب: د ﴿ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ جمله د مفرد په تاویل سره د "رَبُّكَ" څخه په بدل اشتمال سره بدل واقع شوې ده چې په معنی کښې فاعل ده.

ج: د ﴿ شَهِيدٌ ﴾ کلمه د "شُهُود" ـ لکه "حُضُور" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په معنی کښې هم د حضور سره مرادفه ده[۲].

یعني: ایا د مذکور بیان د حقانیت دپاره ستا د رب ﷻ اخبار کفایت نه کوي؟ یا په بل عبارت: ایا دا خبره ورته کفایت نه کوي چې: یقینًا ستا رب ﷻ په هر شي باندې حاضر دی او هیڅ شی ترې غائب نه شي جوړېدلی؟.

د "حم السجدة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

۱۴۲۳/۳/۲۹ هـ ق - ۱۳۸۱/۳/۲۰ هـ ش.

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۵ ص۳۷۵

(۲) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۵

Scanned by CamScanner

# الشوری (٤٢)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت مشهور نوم "الشُورىٰ" دی[۱]، چې د همدې سورت د [۳۸] ایت څخه اخستلې شوی دی، شاید چې دغه نوم په ورته ځکه غوره شوی وي چې ترڅو په اسلامي ټولنو او حکومتونو کښې د شورىٰ په زیات اهمیت باندې دلالت وکړي.

خینې علماء کرام وایي چې[۲]: د دې سورت دوهم نوم "حمٓ" دی چې په لومړي ایت کښې نازل شوی دی، او دریم نوم یې "عٓسٓقٓ" دی کوم چې په دوهم ایت کښې نازل شوی دی.

۲ـ د دې سورت (الشوری) د ایتونو ټول تعداد دري پنځوس (۵۳) دی[۳].

۳ـ او د کلماتو ټول شمېر یې اته سوه او شپېتو (۸۶۰) ته پوره شوی دی[۴].

۴ـ بالآخره د حرفونو ټوله شمېره یې درې زره پنځه سوه اته اتیا (۳۵۸۸) حرفونو ته رسېږي[۵].

۵ـ که څه هم په خینو ایتونو کښې یې څه اختلاف شته مګر د جمهورو او اکثرو علماوو کرامو په نزد د دغه سورت ټول ایتونه د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوي دي[۶].

۶ـ په دې سورت کښې اکثرًا په هغو موضوعاتو باندې رڼا اچولی شوې ده په کومو باندې چې په مکي سورتونو کښې ټینګار کېږي لکه د الله ﷻ توحید، د قیامت د ورځې قیام، د نبي کریم ﷺ نبوت او داسې نور، مګر د سورت د پلوشو زیاته برخه په وحې او نبوت باندې پرېوزي، د همدې کبله دغه سورت د وحې په بیان سره پیل شوی دی او په همدغه بیان سره ختم شوی دی.

۷ـ نو په همدې بنیاد د دې سورت (الشوری) او د وړاندېني سورت (حم السجدة) تناسب ډېر څرګند دی، چې دواړه سورتونه د اغلبیت په توګه په عقیدوي موضوعاتو پورې تماس نیسي او په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته ډاډ ورکړی شوی دی او همدارنګه په دواړو کښې د کفارو اعتراضات جواب شوي دي او د قرآن کریم اعجاز ته پکښې اشاره شوې ده او داسې نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ عٓسٓقٓ ﴿٢﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِىٓ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣﴾ لَهُۥ مَا
فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴿٤﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِن فَوْقِهِنَّ ۚ
وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَفُورُ

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۱۹
(۲) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۱
(۳) تفسیر الطبري ج۲۴ ص۶
(۴) تفسیر الخازن ج۴ ص۳۹۵
(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۷ ص۱۶۱
(۶) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۰۱؛ الدر المنثور ج۷ ص۳۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيْهِمْ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٦﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲]

[۳] د همدغه سورت د وحې کولو غوندې، د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن الله ﷻ ستاته وحې کوي او هغو پیغمبرانو ته هم (په خپلو-خپلو وختونو کښې وحې کوي) کوم چې ستا څخه مخکښې تېر شوي دي (نو وحې کول کوم نوی او تعجبي کار نه دی).

[۴] خاص همده ﷻ ته هغه شیان دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه شیان (هم) کوم چې په ځمکو کښې دي، او همدی ﷻ ډېر اوچت (او) ډېر لوی دی (البته د هغو شرکیاتو څخه کوم چې ورپورې د کفارو د پلوه تپل کېږي).

[۵] نژدې دي چې (د همدغو کفریاتو او شرکیاتو د کبله) اسمانونه د خپل پاس طرف څخه وچوي (او د تولو څخه لوی اسمان د نورو څخه وړاندې په چاودېدو پیل وکړي)، او (د همدغه خطر د کبله) پرښتې د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبیحات هم وايي او د هغو کسانو دپاره د مغفرت غوښتنه کوي کوم چې په ځمکه کښې استوګنه لري (چې ای ربه! دوی ته فرصت ورکړې او په عجلې سره وربانديې دنیاوي عذاب مه ورنازلوې).

اګاه اوسه چې یقیناً الله ﷻ همدی ډېر ښښونکی (او) ډېر مهربان دی.

[۶] او هغه کسان چې د الله ﷻ څخه په غیر نور دوستان (او معبودان) نیسي، الله ﷻ وربانديې ساتونکی دی (ټول کړه وړه یې ورته معلوم دي)، او ته وربانديې وکیل نه یې (چې د کفریاتو پوښتنه یې تاته راجع کړې شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت په وروستنیو ایتونو کښې الله ﷻ وعده کړې وه چې د قرآن کریم په حقانیت باندې څه نور دلایل هم نازل کړي او دغه لړۍ به د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري ترڅو کفارو او معاندینو ته ثابته شي چې د قیامت قیام حق دی او الله ﷻ د علم او قدرت د حیثه په هر شي احاطه کړې ده.

نو دغه سورت د همدغو وعده کړی شوو دلایلو د ځینو برخو په بیان باندې پیل شوی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل أمت باندې د قرآن کریم د حقانیت په هکله لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ قرآن کریم د هغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې روزمره د خلکو کلامونه ترکیب مومي لکه "ح م ع س ق" او داسې نور، او هم پکښې هغه امتیازات او مواصفات مراعات

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي دي کوم چې په عربي کلام کښې موجودیت لري، لکه د دې سره-سره ټول ژبپوهان د دې قرآن کریم سره د یوه ایت په جوړولو کښې هم سیالي نه شي کولی او نه به یې د قیامت تر ورځې پورې وکړي. د عدم سیالۍ وجه یې دا ده چې دا قرآن کریم بشري کلام نه دی او تا پخپله نه دی جوړ کړی او نه ته دا توان لرې چې د خپله خانه یې جوړ کړې، نو پوره څرګنده شوه چې د دې کتاب مطالب ټول حق دي او د هیڅ شک او شبهې ځای پکښې نشته.

۲_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې الله ﷻ تاته دغه سورت په خارق العاده توګه وحې کوي همدارنګه یې تاته نور سورتونه وحې کړي دي او په راتلونکي کښې به هم د قرآن کریم د تکمیل پورې دغه سلسله جاري وساتي. په دې باندې علاوه، د الله ﷻ د پلوه تاته وحې کول څه د عجب کار نه دی لکه چې کفار ورته د تعجب په نظر ګوري، او دا ځکه چې ته د پخوانیو پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر یې، او الله ﷻ ستا څخه وړاندې ټولو پیغمبرانو ته وحې کړې وه، او په خپلو-خپلو وختونو کښې یې شریعتونه وراستولي وه.

نو د کفارو عناد او استهزاء به د وحې په نزول باندې هیڅ اثر ونه غورزوي او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی او هم د حکمت څښتن دی، نو دغه وحې چې نن ورځ تاته درنازلېږي د الله ﷻ په ارادې سره او د همده ﷻ د حکمت په بنیاد صورت نیسي او بس.

۳_ د الله ﷻ د حکمتي ارادې په وړاندې څکه هیڅ شی خنډ نه شي جوړېدلی چې:

الف: الله ﷻ په خپل ملک کښې تصرف کوي چې هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه لري، یا په بل عبارت: خاص الله ﷻ ته هغه څه دي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجود دي، نو د ده ﷻ څخه په غیر پکښې هیڅوک د تصرف توان نه لري.

ب: الله ﷻ په هر شي او هر چا باندې د علم او د قدرت د حیثه اوچت دی، او همدی ﷻ د هغو ټولو شرکیاتو او کفریاتو څخه لوی دی او د عظیم شان خاوند دی د کومو چې مشرکان او کفار مرتکب شوي دي او یا مرتکب کېږي.

ج: دغه شرکیات او کفریات دومره لوی جنایت دی چې د همدغه جنایت د کبله نژدې دي چې اسمانونه د پاسه ټوټه ټوټه وګرځي. یا په بل عبارت: نژدې دی چې د کوچنیو اسمانونو څخه وړاندې په لویو اسمانونو کښې د دغه لوی جنایت اثار څرګند شي او په نتیجه کښې ټول اسمانونه ړنګ او دړې وړې شي.

د: د همدې کبله د الله ﷻ پرښتې د خپل رب ﷻ تسبیحات وایي او د هغو کفریاتو څخه ورته پاکي اثباتوي د کومو چې مشرکان او کفار مرتکب ګ ځي. همدارنګه ټولې پرښتې –چې په عدد باندې یې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک علم نه لري_ هغه حمدونه او ثناوې هم وایي کومې چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسبې دي.

ه: څرنګه چې پرښتو ته د یو پلوه د الله ﷻ عالي شان د نورو په نسبت ډېر ښه معلوم دی او د بله پلوه د مشرکانو د شرکیاتو په شناعت او بدۍ ډېرې ښې پوهېږي، نو ځکه د هغه چا دپاره د الله ﷻ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځنه د مغفرت غوښتنه کوي کوم چې د ځمکې اوسېدونکي دي، البته په لاندې شرحې سره:
اول: د مؤمنانو دپاره د الله ﷻ رضامندي او د جنت نعمتونه غواړي.
دوهم: د کفارو دپاره غواړي چې: ای ربه! په دوی باندې بنیاد ویستونکی عذاب په عجلې سره په ورنازلوې ترڅو دوی ته د ښه تفکر موقع په لاس ورشي، څه لرې نه ده چې د کفریاتو څخه مخ واړوي او په وحدانیت معتقد جوړ شي.
۴ـ ای پیغمبره! ته اګاه اوسه چې:
الف: یقینًا یوازې الله ﷻ ډېر ښښونکی او ډېر مهربان دی، د همدې کبله په کفارو باندې بېخ ویستونکی عذاب په عجلې سره نه ورنازلوي، که نه نو په ځمکه کښې به یو ساکښ هم ژوندی نه وی پاتې شوی.
ب: ته د کفارو او مشرکانو په کافر پاتې کېدلو باندې ډېر زیات مه غمژن کېږه او دا ځکه: هغه کسان کومو چې د الله ﷻ څخه په غیر نور دوستان نیولي دي او په شرکیاتو اخته دي، د دوی په ټولو کړو وړو باندې الله ﷻ حفیظ او رقیب دی، د دوی ټول احوال الله ﷻ ته ښه پوره څرګند دي، نو د قیامت په ورځ به موافقه سزا ورکړي.
اما ته خو خلکو ته د مبلغ په حیث لېږلی شوی یې، نه د ساتونکي او ذموار په حیث چې د دوی د کفریاتو او جنایاتو پوښتنه تاته راجع کړی شي چې تا ولې په ایمان باندې مشرف ونه ګرځول.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې نکات په نظر کښې ساتل په کار دي:
الف: که څه هم ځینې علماء کرام وایي ـ لکه چې په سریزه کښې ورته اشاره شوې ده ـ چې د "حم عسق" دواړه کلمې د دې سورت دوه نومونه دي[1]، مګر د اکثرو علماوو کرامو په نزد دغه دواړه کلمې د مقطعاتو حروفو څخه دي[2]، چې په اصلي مراد باندې یې یوازې الله ﷻ پوهېږي خو د اشارې په توګه د قرآن کریم په اعجاز باندې هم دلالت کوي.
ب: په ﴿كَذَٰلِكَ﴾ کښې د "ذَٰلِكَ" کلمې د مشار الیه په هکله علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[3]، بهتره دا ده چې په ذکرې شوې کلمې سره د همدې سورت إیحاء (وحي کولو) ته اشاره کړی شوې وګڼل شي.
ج: په ﴿يُوحِىٓ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكَ﴾ کښې د ﴿يُوحِى﴾ کلمه هغه مضارع ده کومه چې په هغې ماضي باندې هم صادقېږي چې حاضره وګڼله شي او د ماضیتوب څخه یې نظر پرې کړی شي.
په همدې مطلب باندې د [البقرة: ۹۱] ایت لاندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

---
(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۱
(۲) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۶؛ التفسیر الکبیر ج۲۷ ص۱۴۱
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۲۸۸؛ روح المعاني ج۲۵ ص۱۱؛ اضواء البیان ج۷ ص۱۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په همدې بنیاد څوک اعتراض نه شي کولی چې د ﴿ يُوحِي ﴾ کلمه په حال او استقبال باندې دلالت کوي چې د ﴿ مِن قَبْلِكَ ﴾ د مفهوم سره منافات لري.

د پورتنیو نکاتو په نظر کښې نیولو سره د ایت شریف د معنی حاصل په هغه ډول سره راځېږي کوم ته چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِن فَوْقِهِنَّ ﴾ کښې خو د ﴿ مِن فَوْقِهِنَّ ﴾ ضمیر ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ﴾ ته راجع دی، یعنې نژدې ده چې د مشرکانو د شرکیاتو د کبله اسمانونه د پورته پلوه وچوي او انفلاق وکړي؛ نو پوښتنه دا ده چې: دلته د ﴿ مِن فَوْقِهِنَّ ﴾ د کلماتو په نزول کښې څه حکمت دی، حال دا چې ذکر شوی مضمون په [مریم: ۹۰] ایت کښې نازل شوی دی خو ذکر شوي کلمات ورسره نه دي نازل شوي؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_ چې د ذکرو شوو کلماتو په نزول سره د شرکیاتو ډېرې زیاتې تقبیح ته اشاره ده. او دا څکه چې: په ټولو اسمانونو کښې لوی اسمان اوم اسمان دی چې د ټولو د پاسه دی او په ټولو کښې قوي او محکم دی. نو دغو کلماتو ته په پام سره یې مضمون داسې راځېږي چې: نژدې ده چې د مشرکانو د شرکیاتو د کبله (ټيټ او کمزوري اسمانونه لا څه چې) لوی او قوتناکه اسمانونه هم وچوي، او د چاودنو لړۍ پکښې د لاندې خوا څخه نه بلکې د برې خوا څخه پیل شي او په نتیجه کښې ټول اسمانونه دړې وړې شي او راولوېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د "مَنْ" کلمه عامه ده چې کفارو ته هم شامله ده حال دا چې پرښتې خو یوازې مؤمنانو ته مغفرت غواړي: ﴿ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ [المؤمن: ۷] یعنې پرښتې هغو کسانو ته مغفرت غواړي کومو چې ایمان راوړی دی؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو د [المؤمن: ۷] ایت د دغه ایت دپاره مخصص ګرځولی دی په کوم کښې چې بحث روان دی، او د "مَنْ" کلمې ته یې دلته په مؤمنانو پورې اختصاص ورکړی دی[1]، خو بهتر جواب دا دی چې د مغفرت غوښتنه په لاندې دوه ډوله ده:

الف: یوه په مؤمنانو پورې خاصه ده، چې ای ربه! دوی ته د اخروي عذاب څخه نجات ورکړې.

په [المؤمن: ۷] ایت کښې همدغه ډول غوښتنه مطلب ده، د همدې کبله پرښتو خپله د مغفرت غوښتنه په ﴿ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴾ سره تعقیب کړې ده، یعنې ای ربه! دوی ته د سوزوونکي دوزخ د عذاب څخه پنا ورکړې او ترې ویې ساتې.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۱۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بله په مؤمنانو پورې اختصاص نه لري چې د دنیاوي عذاب په هکله ده، چې ای ربه! د کفارو په شمول ټولو بنیادمانو ته زیات فرصت ورکړې چې د کفریاتو او ګناهونو څخه توبه تائب شي، او په عجله سره یې په دنیاوي عذاب باندې مه اخته کوه. دلته د مغفرت همدغه ډول غوښتنه مراد ده.

﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ ٱلْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ فَرِيقٌ فِى ٱلْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِى ٱلسَّعِيرِ ۝٧ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ ۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ۝٨ أَمِ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلْوَلِىُّ وَهُوَ يُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝٩﴾

[۷] او مونږ د همدغه (د ټولو پیغمبرانو د وحې) غونډې تاته په عربي لغت سره قرآن کریم د دې دپاره وحې کوو ترڅو ته د مکې معظمې خلک او هغه کسان وډار کړې کوم چې د مکې په چاپېریال کښې استوګن دي (او ټوله دنیا ورباندې ډکه ده)، او (هم د دې دپاره) چې ته د راغونډېدلو (د قیامت) د ورځې څخه ډارول وکړې، چې په کښې هیڅ شک نشته.

(په دغې ورځ کښې به) یوه ډله په جنت کښې وي او یوه (بله) ډله به په سوزوونکي دوزخ کښې وي.

[۸] او که ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو ټول خلک به یې یوه ډله ګرځولې وی (او د امتحان لاندې به یې نه وی واقع کړي) مګر الله ﷻ خاص هغه څوک په خپل رحمت کښې داخلوي کومو ته یې چې اراده وشي (او په امتحان کښې کامیابي ترلاسه کړي).

او ظالمان (ناکامان) چې دي دوی لره (په دغې ورځ کښې) نه دوست شته او نه مددګار.

[۹] ایا مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر دوستان نیسي، (دا دوستي به ګټې ده) څکه چې یوازې الله ﷻ همدی (حقیقي) دوست دی، او همدی ﷻ مړي ژوندي کوي، او همدی ﷻ په هر شي قدرت لري (او باطل معبودان دا کار نه شي کولی).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو د وروستني ایت مضمون تعقیب شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په دې مقام کښې لاندې ارشادات د خپله ځانه سره حفظ کړه او خپله تسلي ورباندې وکړه:

۱ـ لکه څنګه چې مونږ پخوانیو پیغمبرانو ته وخت په وخت شریعتونه وحې کړي وه او د خلکو د عدم قبول په مو ورباندې نه وه اچولې چې که خلکو مو دعوت ونه مانه او ایمان یې رانه ووړ نو تاسو به مسئول یاست؛ همدارنګه مو تاته دا کتاب (قرآن کریم) وحې کړی دی چې په عربي فصیحه ژبه نازل شوی دی او لوړرني اورېدونکي ورباندې ډېر ښه پوهېږي، خو د عدم قبول مسئولیت یې په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاباندې نشته چې ته يې په خلکو باندې خامخا قبول کړې، ستا مسئوليت فقط دا دی چې:

الف: ترڅو ته د مکې معظمې خلک (چې نورې دنيا ته د چورلېز مثال لري) زما د عذابه وېدار کړې، او هم هغو خلکو ته دا قرآن کريم ابلاغ او دعوت کړې کوم چې د مکې معظمې په شاوخوا کښې د ختيځ او لويديځ او هم شمال او جنوب پورې پراته دي، او د دوزخ څخه يې وېدار کړې.

ب: ترڅو ته ټول خلک (د قيامت تر ورځې پورې) د هغې ورځې څخه هم وېدار کړې په کومه کښې به چې ټول مړي راژوندي شي او وړاندېني او وروستني به سره په يوه ميدان کښې راغونډ کړی شي. ترڅو ورته تياری ونيسي، د دې په راتګ کښې هيڅ شک او شبه نشته.

ج: دغې ورځې ته تياری ځکه ضرور دی چې په دې کښې به ټول خلک په دوه وو ډلو ووېشلی شي چې يوه ډله به په جنت کښې وي او بله ډله به په سوزوونکي اور کښې قرار لري، نو خلکو ته به کار دي چې د دوزخي ډلې د تګلارې څخه خانونه بچ کړي او د جنتيانو د ډلې تګلاره تعقيب کړي.

٢ــ ای پيغمبره! لکه څنګه چې په تاباندې د خلکو د ايمان د نه راوړلو مسئوليت نشته همدارنګه ته په خلکو باندې مسلط کړی شوی هم نه يې، چې هرومرو او ضرور به ورباندې خپل توحيدي دعوت قبلوې او ټول به جنتيان جوړوې او دا ځکه چې:

که بالفرض د الله ﷻ اراده شوې وی چې هيڅوک اختلاف ته پرېنږدي او ټول په اسلام باندې راغونډ کړي او يو جنتي ټولګی ترې جوړ کړي، نو ضرور به يې دا کار پخپله کړی وی. مګر الله ﷻ دا کار د دې کبله ونه کړ چې په دغه صورت کښې به امتحان او ازمېښت د منځه تللی وي حال دا چې الله ﷻ دا دنيا د امتحان دپاره پيدا کړې ده، ترڅو د امتحان په نتيجه کښې هغه څوک په خپل رحمت (جنت) کښې داخل کړي چاته يې چې اراده وشي او هغه کسان دوزخيان وګرځوي کومو ته يې چې اراده وشي.

البته چې د دوزخيانو ډله به هغه کسان وي کومو چې ظلم او کفر غوره کړی وي، نو دغې ډلې ته به هلته هيڅ دوست مونده نه شي چې د دوستۍ د کبله نجات ورکړي، او نه به مرستندوی مونده کړي چې په زور سره يې د دوزخ څخه بچ کړي.

٣ــ کفارو خو د الله ﷻ څخه په غير نور دوستان نيولي دي خو دغه دوستان په حقيقت کښې د دوی دښمنان دي چې هيڅکله به يې په درد ونه خوري، او دا ځکه چې دوی خپل حقيقي دوست هېر کړی دی چې الله ﷻ دی:

الف: همدغه الله ﷻ حقيقي دوست دی او د مشکلاتو څخه يې بچ کوونکی دی.

ب: همدغه الله ﷻ مړی راژوندي کوي، د مرګ او ژوند اختيار يوازې د همده ﷻ سره دی.

ج: همدغه الله ﷻ په هر شي باندې قدرت لري او هر څه صرف د همده ﷻ په توان کښې دي.

## توضيحات

١ــ په ﴿ لِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ کښې د ﴿ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ ﴾ څخه مکه معظمه مراده ده، او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام: ٩٢] ايت لاندې مكې معظمې ته د دغه لقب د وركولو ګڼې وجې ليكلې دي چې بيا ليكلو ته يې څه اړتيا نه وينو.

٢_ همدارنګه مونږ د [الأنعام: ١٩] ايت لاندې د احاديثو په رڼا كښې د نبي كريم ﷺ د رسالت د عموميت په هكله ښه مستند بحث ليكلى دى _ والحمد لله ﷻ، چې په بيا ليكلو يې كتاب اوږدېږي.

٣_ په ﴿فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ﴾ كښې د دواړو فرقو (ډلو) ښه پوره تفسير الله ﷻ په [هود: ١٠٥] ايت او وروسته ايتونو كښې پخپله نازل كړى دى، بايد هلته مراجعه وكړى شي.

﴿وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ
أُنِيبُ ﴿١٠﴾ فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ
أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ مَقَالِيدُ
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾﴾

[١٠] او هغه موضوع چې تاسو پكښې اختلاف لرئ، هر شى چې وي، نو حكم (فيصله) يې خاص الله ﷻ ته (مفوضه) ده (بل څوك پكښې د فيصلې حق نه لري او نه د فيصلې توان لري).

(اى خلكو!) دغه الله ﷻ زما رب دى، ما په همده ﷻ اعتماد (او توكل) كړى دى او زه خاص همده ﷻ ته (په هره فيصله كښې) رجوع كوم.

[١١] (زما رب ﷻ) د نشت څخه د اسمانونو او ځمكو پيداكوونكى دى.

ستاسو دپاره يې ستاسو د خپلو ځانونو (جنس) څخه جوړې ګرځولې (پيدا كړې) دي، او د څارويو (دپاره يې هم د دوى د جنس) څخه جوړې (مونثې پيدا كړې دي).

زما رب ﷻ د همدې (ذكرو شوو) پيدا كولو د كبله تاسو (بنيادمان او څاروي د قيامت تر قيام پورې په همدې سلسله) پيدا كوي (او په ځمكه كښې مو خوروي).

زما د رب ﷻ غوندې هيڅ شى نشته (نه په اقدس ذات كښې سيال لري او نه په عالي صفاتو كښې) او همدى ﷻ ښه اورېدونكى ډېر ښه ليدونكى دى.

[١٢] خاص زما رب ﷻ ته د اسمانونو او ځمكو كونجيګانې دي، (نو د همدې كبله) هغه چاته روزي پراخوي چې اراده يې ورته وشي او (هغه چاته يې) تنګوي (چې اراده يې ورته وشي).

يقيناً زما رب ﷻ په هر شي پوه دى (نو د ذكرو شوو وجوهاتو د كبله د هر شي فيصله زما رب ﷻ پورې خاصه ده).

## د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو څخه څرګنده شوه چې دنيا د امتحان ډګر دى او د امتحان سره د خلكو ترمنځ اختلاف ضرور واقع كېدونكى دى، په دې ايتونو كښې هغه چاره ښودلې شوې ده په كومې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره چې سړی حق ته رسېږي او د اختلاف څخه وربانديې وخي. نو حاصل يې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل دعوتي أُمت باندې د خپل رب ﷻ د پلوه لاندې مطالب قرائت کړه:
١_ ای خلکو! په کوم شي کښې چې تاسو د اختلاف سره مخامخ شئ، برابره خبره ده چې ستاسو اختلافي موضوع عملي بڼه لري او یا د عقیدې سره تړاو لري، نو د هغې د فیصلې حکم الله ﷻ پورې ارتباط لري تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ شریعت ته مراجعه وکړئ او حقه فیصله ترلاسه کړئ.
٢_ ای خلکو! دغه الله ﷻ (چې د هر شي فیصله په همده ﷻ پورې اختصاص لري) زما رب دی، ما په همده ﷻ توکل او اعتماد کړی دی او زه همده ﷻ ته د قیامت په ورځ رجوع کوم، او هم ورته د هرې مسئلې د فیصلې دپاره رجوع کوونکی یم.
ایا ستاسو باطل معبودان د دې خبرې جوګه دي چې په اختلافي مسائلو کښې حقې فیصلې وکړي؟ ایا هغوی د توکل کولو لیاقت لري؟ ایا د قیامت په ورځ د هغوی د لاسه څه ګټه وته رسول پوره دي؟
٣_ ای خلکو! په دې باندې علاوه زما رب ﷻ د دغو عالي صفاتو درلودونکی هم دی:
الف: زما رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو بدون له سابقه مثال څخه پیدا کوونکی دی، یا په بل عبارت: اسمانونه او ځمکې یې ترمیم کړي نه دي بلکې ایجاد کړي یې دي چې وړاندې یې هیڅ مثل او نظیر نه درلود.
ب: زما رب ﷻ تاسو لره _ای بنیادمانو!_ همدا ستاسو د نفسونو څخه جوړې پیدا کړې دي، چې تاسو یې په نارینه او ښځینه وو باندې وېشلي یاست حال دا چې اصل مو فقط یو آدم ﷺ دی.
ج: همدارنګه زما رب ﷻ څاروي هم په جوړو وېشلي دي چې نر او ښځه یې پکښې پیدا کړي دي.
د: د همدې کبله چې زما رب ﷻ تاسو په نارینه وو او ښځینه وو باندې وېشلي یاست په ځمکه کښې یې خواره کړي او ډېر کړي یاست، او د خوړولو او ډېرولو سلسله مو لا جاري ده.
ه: ایا زما د رب ﷻ څخه په غیر بل څوک یا بل شی شته چې د ذکرو شوو کارونو څخه کوم یو کار یې کړی وي او یا یې وکړی شي؟ لنډه دا چې زما د رب ﷻ په مثل هیڅ شی نشته، نه په اقدس ذات کښې او نه په عالي صفاتو کښې څه مثل او سیال لري.
و: همدا زما رب ﷻ په بلا کیفه توګه ښه اورېدونکی او ښه لیدونکی دی، ایا د ده ﷻ څخه په غیر باطل معبودان اورېدل یا لیدل کولی شي؟
ز: خاص د همده ﷻ په ملکیت کښې د اسمانونو او ځمکو کونجیګانې دي چې ټولې خزانې د همده ﷻ په اختیار کښې دي، د ده ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک نه له اسمانه یو څاڅکی راغورزولی شي او نه د ځمکې څخه د نبات یو تېغ راویستلی شي.
ح: نو د همدې کبله هغه چاته پراخه روزي ورکوي کوم ته یې چې اراده وشي او په هغه چا باندې یې تنګوي کوم ته یې چې اراده وشي، چې د روزۍ پراخولو او تنګولو دواړو ته د حکمتونو په بنیاد صورت ورکوي. او دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ط: یقیناً زما رب ﷻ په هر شي باندې پوه دی او د هر شي د حال غوښتنه ډېره ښه پېژني

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق په [النساء:۵۹] ایت کښې ښه پوره واضحه کړې ده چې د شخړو او اختلافي مسائلو د حل کولو فقط یوه لاره ده او بس، هغه دا چې کتاب الله ته مراجعه وکړی شي. او د [الأنعام:۳۸] ایت لاندې مو په مشرحه توګه اثبات کړې ده چې کتاب الله د هر شي بیانوونکی دی او د سنت، اجماع او قیاس بیان د کتاب الله په بیان کښې شامل دي چې د دغو درېواړو حجتیت په کتاب الله سره په اثبات رسېدلی دی. نو هیله ده چې په دې مقام کښې د ښو پوهېدلو دپاره ذکرو شوو دواړو ایتونو ته مراجعه وکړی شي.

## څو نکات

۲ـ په ﴿ فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ﴾ الآیة- کښې لاندې نُکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ يَذۡرَؤُكُمۡ ﴾ کښې د "يَذۡرَؤُ" کلمه د "ذَرۡء" ـلکه "ضَرۡب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم "ذَرۡء" د "خَلۡق" پیدا کولو معنی ورکوي[۱] مګر په هغو پیداکولو کښې هم استعمالېږي کوم چې د زمانو په اوږدو کښې په زنځیري توګه صورت ونیسي[۲].

ب: د "کُمۡ" په کلمې سره بنیادمان مخاطب کړی شوي دي خو دلته پکښې د تغلیب په ډول الأنعام (څاروي) هم شامل دي[۳].

ج: په ﴿ فِيهِ ﴾ کښې د "في" توری په دې مقام کښې د "ل" د هغه توري معنی ورکوي چې په سبب باندې دلالت کوي[۴]. دا ډول استعمال په محاوراتو کښې شته لکه:

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «عُذِّبَتۡ امۡرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ»[۵] یعني یوه ښځه د الله ﷻ د پلوه د پیشو په سبب معذبه کړی شوه (چې وږې تږې یې ترلې وه آن تردې چې د لوږې او تندې د کبله مړه شوه).

د: د ذکر شوي ﴿ فِيهِ ﴾ په ضمیر کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۶] خو بهتره دا ده چې دغه ضمیر به هغه "جَعۡل" ته راجع وي په کوم باندې چې په ﴿ جَعَلَ لَكُم ﴾ کښې د "جَعَلَ" کلمه دلالت کوي او ورباندې مشتمله ده.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۷۹
(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۱۰۷؛ القاموس المحیط ج۲ ص۲۵۱
(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۱۲
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۸
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۵
(۶) زاد المسیر ج۷ ص۷۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پورتنیو نکاتو ته په پام سره به د ایت شریف مضمون داسې راوخېژي چې: زما رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو (بنیادمان او څاروي) په دې سبب پیدا کوي او ډېروي چې تاسو یې د جوړو (نرو او ښځو) لرونکي ګرځولي یاست، او په تاسو کښې یې د توالد او تناسل سلسله جاري ساتلې ده او لا د قیامت تر ورځې پورې به یې جاري وساتي.

## سوال جواب

ه: که څوک وایي چې: په ﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ ﴾ کښې د "ک" توری د تشبیه دپاره دی او په "مِثل" باندې داخل دی، نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې د الله ﷻ د مثل غوندې هیڅ شی نشته، حال دا چې دا معنی مقصودي معنی نه ده بلکې مقصودي معنی دا ده چې د الله ﷻ هیڅ شی سیال او مثل نشته.

مونږ وایو چې: د دغه سوال د مخنیوي دپاره علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي[1]، خو کوم جواب چې په زړه پورې دی او محققینو خوښ کړی دی[2] هغه دا دی چې:

د "مِثل" کلمه په محاوراتو کښې د کنایې په توګه د خپل مضاف اِلیه په معنی باندې هم استعمال مومي لکه چې وایي "مِثلُكَ لا يَبْخَلُ" ستا غوندې سړی بخل نه کوي یعنې ته بخل او شومتیا نه کوې.

د "مِثل" کلمه په دې مقام کښې د ذکرې شوې کنایې په ملحوظ نازله شوې ده، ته به وایې چې اصلي عبارت داسې دی چې: "لَيْسَ مِثْلَهُ شَيْءٌ" یعنې د الله ﷻ بالکل مثل نشته.

و: ځینو علماوو کرامو[3] په ﴿ فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْ ﴾ [البقرة:١٣٧] کښې د مثل کلمه په ذکر شوې کنایې لحاظ معنی کړې ده. یعنې نو که اهل الکتابو د هغه شریعت په مثل باندې ایمان راوړو په کوم باندې چې تاسو ایمان راوړی دی (چې دغه مثل پخپله د محمدي شریعت څخه عبارت دی) نو یقیناً هغوی لاره مونده کړه.

ز: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې ذکر شوی مطلب بدون د "ک" د تورې څخه نازل نه شو چې: "لَيْسَ مِثْلَهُ شَيْءٌ"؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: نازل شوی عبارت د اشارې په توګه د الله ﷻ د مثل د عدم موجودیت په برهان باندې مشتمل دی چې حاصل یې داسې راخېژي:

الله ﷻ ازلي او ابدي اقدس ذات دی، او د ازلي او ابدي عالي صفاتو خاوند دی، او هرڅوک چې دغسې عالي شان ولري هغه مثل نه شي درلودلی، نو الله ﷻ هیڅ مثل نه لري او دا ځکه چې د همده ﷻ څخه په غیر بل هیڅ شی نه ازلي او ابدي کېدلی شي او نه ازلي او ابدي عالي صفات درلودلی شي، نو د الله ﷻ مثل نه دی مګر پخپله الله ﷻ دی.

---

(١) روح المعاني ج٢٥ ص١٨؛ اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص١٧٣؛ تفسير الطبري ج٢٥ ص١٢؛ نظم الدرر ج٦ ص٦٠٦
(٢) تفسير القاسمي ج١٤ ص٢٩٣
(٣) تفسير الكشاف ج١ ص١٩٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض هغه عبارت نازل شوی وی کوم چې په اعتراض کښې ذکر دی، نو دغه نکته به پټه پاتې وی چې د الله ﷻ د هیڅ مثل امکان نشته.

ج: د ذکر شوي عبارت د کنایې د وضاحت په ارتباط باید د [المائدة:۶۴] او د [الأعراف:۵۴] تفسیرونو ته مراجعه وکړی شي چې ګڼ شمېر مطالب پکښې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## یادونه

۳_ په ﴿ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ کښې د ﴿ مَقَالِيد ﴾ کلمه د [الزمر:۶۳] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه تحلیله شوې ده چې د کونجیګانو معنی ورکوي، په دوهم ځل تحلیل باندې یې کتاب نه شو اوږدولی.

﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۳] الله ﷻ ستاسو دپاره د دین څخه هغه شی تشریع کړی دی په کوم سره یې چې نوح ؑ ته توصیه کړې وه، او هغه شی کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی او (بالآخره) هغه شی په کوم سره چې مونږ ابراهیم ؑ او موسی ؑ او (هم) عیسی ؑ ته توصیه کړې وه چې:

تاسو (ټول د اُمتونو په شمول دغه) دین ودروئ (په توحید باندې کلک اوسئ) او تفرق پکښې مه کوئ (چې تیت پرک شئ او ډلې ډلې جوړ شئ).

(ای پیغمبره!) په مشرکانو باندې هغه (توحیدي دین) ډېر درووند (ګران) تمامېږي کوم ته چې ته دوی وربولې (کوم ته چې ته دعوت چلوې. خو) یوازې الله ﷻ خپل اقدس ذات ته هغه څوک غوره کوي کومو ته یې چې اراده وشي، او خپل اقدس ذات ته هغه کسان هدایت کوي کوم چې (همده ﷻ ته) رجوع وکړي (او د توحیدي عقیدې موندلو هڅه کوي).

[۱۴] او د پخوانیو پیغمبرانو اُمتیانو تفرق نه وه خپل کړی مګر د هغه څخه وروسته چې دوی ته د توحیدي عقیدې پوهه ورغلې وه (البته دغه تفرق) په خپلو منځو کښې د بغاوت (او ظلم) د کبله (رامنځته شو). او که چرته داسې خبره نه وی کومه چې ستا د رب ﷻ د پلوه پخوا تېره شوې (فیصله شوې) ده (چې دوی به) تر ټاکلې نېټې پورې (بقاء ولري) نو ضرور به د دوی ترمنځ (په عجله سره) فیصله کړی شوې وی (او ټول به پوپنا شوي وی).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او يقيناً هغه كسان كومو ته چې د تفرق كوونكو څخه وروسته الهي كتاب (اسماني وحې) په وراثت سره پاتې شو، بې شكه د همدې (كتاب او وحې) څخه په اضطراب اچوونكي شك كښې (پراته) دي (او په ړانده تقليد سره په شركي او كفري عقيده باندې كلک دي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو كښې د وړاندېنيو ايتونو څخه په دې جمله ﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده، چې حاصل يې داسې راځي:

اى پيغمبره! خپل دعوتي اُمت ته ښه پوره واضحه كړه چې په هره زمانه كښې د اختلافي مسائلو د فيصلو واک او اختيار يوازې د الله ﷻ سره وه او د قيامت تر ورځې پورې به همدغه اختيار ادامه ولري. او دا څكه چې:

۱ـ اى خلكو! الله ﷻ ستاسو دپاره په دې زمانه كښې هغه دين تشريع كړى دى په كوم سره يې چې نوح ﷺ ته په خپله زمانه كښې توصيه كړې وه؛ يا په بل عبارت: ستاسو دين په عقايدو كښې د لاندې دين څخه عبارت دى:

الف: دا دين چې د الله ﷻ په توحيد ولاړ دى د نوح ﷺ د دين څخه عبارت دى، چې نهه نيم سوه (۹۵۰) كاله يې ورته په ډېرو سختو شرايطو كښې دعوت وچلاوه، او د كفارو د پلوه يې د دعوت په اوږدو كښې زښت ډېر مشقات وګالل.

ب: اى پيغمبره! همدغه توحيدي دين مونږ تاته هم وحي كړى دى، كه بالفرض مونږ درته نه وى وحي كړى نو تا به ورته دعوت نه وى چلولى، او نه به دې د نوح ﷺ د حالاتو څخه خه زده كړي وى چې ستا او د هغه ترمنځ ډېرې اوږدې زمانې تېرې شوې دي.

ج: همدغه دين مونږ ابراهيم ﷺ، موسى ﷺ او عيسى ﷺ ته په خپلو-خپلو زمانو كښې وحي كړې وه او توصيه مو ورته ورباندې كړې وه چې پخپله وربانډې كلک اوسېږئ او خپلو-خپلو پيروانو ته پرې توصيه وكړئ، چې: دغه د توحيد دين په ښنو باندې ودروئ او په عمل كښې يې پياده كړئ او هم تاسو په دغه دين كښې تفرق او اختلاف مه غوره كوئ او وربانډې راغونډ شئ.

۲ـ اى پيغمبره! پخوانيو ټولو پيغمبرانو زمونږ په توصيه باندې كلک عمل وكړ او هر يوه خپل-خپل اُمت په توحيد باندې پاتې كېدلو ته دعوت كړ، خو د وخت په تېرېدلو سره دغه نصيحت هغوى د ښنو لاندې كړ او په دين كښې يې اختلاف ته ملاوې وتړلې آن تردې چې ځينو پكښې شركي عقيده خپله كړه او په همدغې شركي عقيدې باندې كلک ودرېده، د همدې كبله:

په مشركانو باندې د هغه شي قبول ډېر درونډ تمامېږي كوم ته چې ته دعوت چلوې، چې هغه د توحيد د عقيدې څخه عبارت دى.

۳ـ اى پيغمبره! ستا مكلفيت فقط دعوت او ابلاغ دى او بس، نور نو الله ﷻ پوهېږي او كار يې. څنګه يې چې اراده وي هماغسې به وكړي. د مثال په توګه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ هغه څوک د توحيدي عقيدې دپاره غوره کوي کوم ته يې چې اراده وشي، او په داسې جامعه کښې موجوديت ورکوي کومه چې په همدغه دين باندې کلکه ولاړه وي.

ب: الله ﷻ د کفارو څخه هم هغه چاته هدايت کوي (په همدغه توحيدي دين باندې يې مشرف کرځوي) کوم چې الله ﷻ ته رجوع کوي او بدون د عناده يې د دين د موندلو تلاش کوي.

۴_ اې پيغمبره! په دغه الهي دين کښې خلکو د دې کبله اختلاف نه دی کړی چې هغوی ته د الله ﷻ د پلوه حق دين او حق حکم نه دی ورښودلی شوی، بلکې هغوی د ظلم او عناد د کبله د پوهې څخه وروسته تفرق او تشتت غوره کړ او په بېلو-بېلو لارو باندې روان شوه.

نو که ستا د رب ﷻ د پلوه دا خبره لا وړاندې نه وی فيصله شوې چې د خلکو په تعذيب به عجله صورت نه نيسي او تر ټاکلې نېټې پورې به ټالېږي، نو د دغو اختلاف کوونکو په هکله به په عجلې سره فيصله کړی شوې وی او په تعذيب سره به يې بنياد ويستلی شوی وی.

۵_ د ذکر شوي اختلاف ډېره خو اصلاً هغو خلکو کېښودله کومو چې د پيغمبرانو د وفات څخه وروسته په الهي دين کښې تفرق او تشتت پيل کړ، خو يقيناً کومو خلکو ته چې د اختلاف کوونکو څخه وروسته د الله ﷻ کتاب او واحد دين په ميراث سره پاتې شو نو هغوی پکښې څه نور اختلافات هم وراضافه کړه بلکې د حق دين څخه په داسې شک او اضطراب کښې ولوېده چې ورځ په ورځ مخ په زيادت روان وه، او حقيقي دين يې بالکل هېر کړ، د دوی په خيال همدغه اختراع کړی شوی دين حق دين وګڼل شو او په ړانده تقليد باندې کلک شوه.

## توضيحات

۱_ لاندې مطالب د الله ﷻ په توفيق وړاندې تېر شوي دي چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه وينو:

الف: په ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ ﴾ کښې د ﴿ شَرَعَ ﴾ کلمه د "شِرْعَة" يا "شَرِيعَة" _لکه "خِدْمَة" يا "تَبصِرَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې بشپړ بيان يې د [المائدة:۱۴۸] ايت لاندې تېر شوی دی.

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د وحې بيان د نوح ﷺ په ذکر سره پيل شو او د وړاندېنيو پيغمبرانو ذکر ته څه اشاره ونه کړی شوه؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال جواب ته د [النساء:۱۶۳] ايت لاندې اشاره شوې ده چې د نوح ﷺ څخه وړاندېنيو پيغمبرانو فقط د معلمانو حيثيت درلود او بس، او د شرک مخنيوی فقط د نوح ﷺ په رسالت سره پيل شوی دی.

ج: که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد په دې مقام کښې يوازې د پنځو پيغمبرانو په ذکر باندې اکتفاء شوې ده؟

مونږ وايو چې: د دې سوال جواب د [الأحزاب:۷] ايت لاندې ليکلی شوی دی چې دغه پنځه پيغمبران اولو العزم پيغمبران دي او عالمي شهرت لري، نو کله چې دوی په دين کښې متحد دي نو نور خو به ضرور پکښې متحد وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: که څوک وايي چې: الله ﷻ په [المائدة:۴۸] ايت کښې فرمايلي دي چې مونږ ستاسو (انسانانو) د هرې ډلې دپاره بېل شريعت او بېله کړنلاره ټاکلې ده، حال دا چې په ذکر شوي ايت کښې د ټولو پيغمبرانو دين متحد ښودلی شوی دی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی سوال هملته جواب شوی دی چې ټول اديان او شريعتونه په عقايدو کښې متحد دي او په فروعو کښې اختلاف لري نو هلته فروعي اختلاف مراد دی او دلته عقيدوي اتحاد ته اشاره شوې ده، خو په دې مقام کښې ورباندې يو حديث وراضافه کوو چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَالْأَنْبِيَاءُ أَوْلَادُ عَلَّاتٍ»[1] يعنې ټول پيغمبران (د دين په نسبت) داسې دي لکه د بنو زامن، چې په عقيدوي احکامو کښې متحد دي او په فرعي احکامو کښې تفاوت لري.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ ٱللَّهُ يَجْتَبِىٓ إِلَيْهِ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴾ کښې د "يَجْتَبِي" کلمه د "اِجْتِبَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د غوره کولو معنی ورکوي او د "يَهْدِي" کلمې پکښې د "هِدَايَة" څخه اشتقاق موندلی دی، نو پوښتنه دا ده چې د غوره کړی شوو کسانو او د هدايت کړی شوو کسانو ترمنځ څه فرق دی؟

مونږ وايو چې: که څه هم ذکرې شوې دواړه ډلې په مصداق کښې چندان فرق نه لري مگر په دې مقام کښې يې ځينو مفسرينو کرامو[2] په لاندې ډول فرق کړی دی:

الف: د ﴿ ٱللَّهُ يَجْتَبِىٓ إِلَيْهِ مَن يَشَآءُ ﴾ څخه هغه ډله مطلب ده کومه چې الله ﷻ په اسلامي جامعه کښې تولد کړې وي او کفري دوره يې نه وي تېره کړې.

ب: په ﴿ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴾ کښې هغې ډلې ته اشاره ده کومو چې کفري دوره تېره کړې وي او بيا د الله ﷻ په توفيق په ايمان مشرف شوي وي، والله ﷻ اعلم.

﴿ فَلِذَٰلِكَ فَٱدْعُ ۖ وَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ۖ وَقُلْ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا ٱسْتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ ﴾

**[۱۵] نو (ای پيغمبره!) ته دغه (توحيد) ته بلنه جاري وساته، او (په همدغه توحيدي عقيده باندې) کلک اوسېږه لکه څنګه چې درته امر کړی شوی دی.**

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۹

(۲) تفسير ابن عباس علي هامش الخازن ج۵ ص۴۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ته د اختلاف کوونکو (کفارو) د خواهشاتو پیروي مه کوه (خپلې عدم پیروۍ ته ادامه ورکړه)، او (ورته) ووایه چې: ما په هغه کتاب ایمان راوړی دی کوم چې الله ﷻ نازل کړی دی هر یو کتاب چې وي (زه ټول حق ګڼم)، او ماته (د الله ﷻ د پلوه) امر کړی شوی دی چې ستاسو ترمنځ عدل (او انصاف) پیاده کړم، الله ﷻ زمونږ رب دی او ستاسو رب هم دی، مونږ لره خپل عملونه دي او تاسو لره خپل عملونه دي (یوه ډله د بلې ډلې په اعمالو باندې نه مجازات کېږو او نه پرې مکافات کېږو. په حقیقت کښې) زمونږ ترمنځ او ستاسو ترمنځ هیڅ جګړه نشته (باید ټول حق ته غاړې کېږدو او جګړې ونه کړو)، الله ﷻ به مو (د قیامت په ورځ) سره راغونډ کړي، او (زمونږ د ټولو) خاص الله ﷻ ته بېرته ورګرځېدل دي (چې هملته به راسره په عدل او انصاف فیصلې وکړي).

[۱۶] او کوم کسان چې د الله ﷻ په هکله جګړې کوي (البته) د هغه څخه وروسته چې د څینو کسانو د پلوه ورته اجابت (قبول) صورت نیولی دی (ایمان یې پرې راوړی دی)، د دوی (ګمراه کوونکو) جګړه د دوی د رب ﷻ په نزد د زوال سره مخامخه ده (هیڅ نتیجه به ورباندې مرتبه نه شي او مؤمنان به کفر ته ورتاو نه کړی شي)، او په همدوی باندې (د الله ﷻ) غضب دی او همدوی ته (د الله ﷻ د پلوه) سخت عذاب دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده ترڅو د هغه تفرق د مخنیوي دپاره دعوت وچلوي کوم ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده او کوم چې د پیغمبرانو څخه وروسته د هغوی اُمتیانو خپل کړی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د هغو اختلافاتو د له منځه وړلو دپاره کوم چې خلکو د پیغمبرانو د وفات څخه وروسته رامنځته کړي دي، دغه ارشادات په نظر کښې ونیسه:

۱ـ د توحید د عقیدې دپاره دعوت وچلوه ترڅو دوی کفریات او شرکیات پرېږدي او هم د تفرق څخه لاس واخلي او خپل رب ﷻ په وحدانیت سره وپېژني.

۲ـ د خپل دعوت په چلونه کښې کلک اوسه لکه څنګه چې درته امر کړی شوی دی، او د اضطراب او کاواکۍ څخه خپل ځان وساته.

۳ـ د اختلاف کوونکو د غوښتنو او خواهشاتو پیروي مه کوه او مه ترې ډارېږه، الله ﷻ ستا ملګری دی.

۴ـ خلکو ته په ډاګه ووایه چې ما په هغو ټولو کتابونو باندې ایمان راوړی دی کوم چې د الله ﷻ د پلوه ـپه هره زمانه کښې چې وي ـ نازل شوي دي، زما شریعت په عقایدو کښې د ټولو شریعتونو سره متحد دی، نو په کار دي چې تاسو هم زما غوندې عقیده خپله کړئ.

۵ـ ای خلکو! زه د الله ﷻ د پلوه مامور شوی یم چې ستاسو اختلافات په عدل سره د منځه یوسم او ستاسو ترمنځ په انصاف سره فیصله وکړم، نو تاسو زما نبوت قبول کړئ او ایمان راباندې راوړئ.

۶ـ ای خلکو! زه تاسو د الله ﷻ دین ته رابولم، الله ﷻ زمونږ رب هم دی او ستاسو رب هم، نو په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کار دي چې نه ورسره په عبادت کښې مونږ په اشتراک قائل شو او نه تاسو.

٧_ که تاسو زما دعوت قبول نه کړئ او په خپله کفري عقیده کلک پاتې شئ نو مونږ ته هیڅ ضرر نشته، زمونږ دپاره خپل اعمال دي او ستاسو دپاره خپل، مونږ ستاسو په اعمالو نه نیولی کېږو او تاسو زمونږ په اعمالو نه نیولی کېږئ.

٨_ ای خلکو! زمونږ او ستاسو ترمنځ هیڅ جګړه نشته، حقه لاره بالکل څرګنده او واضحه ده، حتی چې په ماباندې نازل شوی کتاب (قرآن کریم) د خپل ځان حقانیت پخپله په اثبات رسوي.

٩_ که نن ورځ تاسو زما فیصلې نه منئ او زما حاکمیت ته غوږ نه ږدئ نو داسې ورځ راروانه ده چې په هغې کښې به الله ﷻ مونږ او تاسو ټول ورغونډ کړي او حقې فیصلې به وکړي.

١٠_ بالآخره زمونږ او ستاسو (ټولو) خاص الله ﷻ ته بېرته ورګرځېدل دي چې هیڅوک به ترې خپل ځان بچ نه کړی شي.

١١_ ای پیغمبره! ته په حقه پیغمبر يې، او دعوت إلی الله دې د واقع سره برابر دی (دروغ او ټګي پکښې نشته) او په زښتو ډېرو دلایلو سره په اثبات رسېدلی دی، ستا دعوت د ځینو خلکو د پلوه د قبول درجې ته هم رسېدلی دی چې په اخلاص سره په ایمان مشرف ګرځېدلي دي.

نو د هغو کسانو دلایل باطل دي کوم چې د الله ﷻ په توحید کښې جګړې کوي او غواړي چې په ایمان مشرف شوي کسان بېرته کفر ته ستانه کړي، نو په دغو جګړو به يې مطلوبه نتیجه مرتبه نه شي او په دې باندې علاوه:

الف: په دغو جګړمارانو باندې د الله ﷻ غضب نازل شوی دی، چې په دنیا کښې روزمره د ده ﷻ د رحمت څخه لرې کېږي.

ب: او همدغو کسانو ته په آخرت کښې سخت عذاب ټاکلی شوی دی، چې هرومرو به ورسره مخامخ شي.

## توضیحات

١_ په ﴿ فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُ ﴾ الآية- کښې لس جملې دي چې هره یوه جمله په مستقل مطلب باندې دلالت کوي، دا ډول ایت شریف په قرآن کریم کښې بل ځای نه دی نازل شوی، یوازې آية الكرسي د دغه ایت مثل ګرځېدلی شي چې د عقیدې لس اصول پکښې نازل شوي دي[١].

٢_ د ﴿ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُ ﴾ د جملې په ارتباط لاندې احادیث ولولئ:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د حنین د غزا غنیمت تقسیماوه چې یوه سړي ورته وویلې چې تا په وېش کښې عدل ونه کړ، نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «مَنْ يَعْدِلُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي»[٢] يعنې هغه څوک دی چې زما څخه وروسته (زما څخه په غیر) په تاسو باندې عدل او انصاف وچلوي؟.

---

(١) تفسير ابن كثير ج۴ ص١٠٩: نظم الدرر ج۶ ص۶١٢

(٢) مسند احمد بن حنبل ج٧ ص٣١٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په بل روايت کښې نوموړي سړي ته نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «وَيْلَكَ وَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ»[۱] يعنې تالره دې (په دغه اعتراض سره) افسوس وي، او څوک به عدل وکړي که چرته زه عدل ونه کړم؟!.

ج: بوه ورځې يوه سړي د نبي کريم ﷺ په وړاندې اعتراض وکړ چې عدل پکښې نه دی مراعات شوی، کله چې نبي کريم د اعتراض څخه خبر شو ويې فرمايل چې: «فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ يَعْدِلِ اللهُ وَرَسُولُهُ»[۲] يعنې کله چې الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر ﷺ عدل (انصاف) ونه کړي نو هغه څوک دی چې عدل او انصاف وکړي؟

﴿ اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ ۗ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾ اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ ۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۷] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په حقه يې جنس کتاب (ټول کتابونه) نازل کړي دي او تله (يې) هم نازله کړې او پيدا کړې ده ترڅو عدالت تامين شي.

او (ای پيغمبره!) تاته څه شي پوهه درکړه (چې قيامت به کله قائم شي؟). تاته هيڅ شي پوهه نه ده درکړې، شايد چې د قيامت قيام نژدې وي (او ډېره ژر د عدالت تله قائمه کړی شي).

[۱۸] د قيامت په قيام باندې هغه کسان (د ملنډو د کبله) عجله کوي کوم چې پرې ايمان نه راوړي، او هغه کسان کومو چې (پرې) ايمان راوړی دی ترې وارخطا دي (او تياری ورته نيسي) او دوی پوهيږي (باور لري) چې يقيناً قيامت حق دی (ضرور واقع کېدونکی دی).

(ای خلکو) اګاه اوسئ! يقيناً کوم کسان چې د قيامت په هکله (باطلې) جګړې کوي ضرور (دوی د حق څخه) په ډېره لرې ګمراهي کښې (پراته) دي (چې روزمره پکښې زيادت کوي).

[۱۹] الله ﷻ په خپلو ټولو بندګانو باندې (کافران وي او که مؤمنان) ډېر مهربان دی (او په دقت سره يې ارتياوې ورپوره کوي او) هر چاته يې چې اراده وشي (هغه ته) پراخه روزي ورکوي او الله ﷻ د کامل قوت خاوند دی (د چا زور ورباندې نه رسيږي او) د کلکې ارادې درلودونکی دی (هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی).

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۵۰۹
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۳۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰] هرڅوک چې (په خپل عمل سره) د آخرت کښت (ګټې) غواړي نو مونږ به ورته په کښت (ګټو) کښې زیادت وکړو (او د دنیاوي ګټو څخه به یې هم بې برخې ونه ګرځوو).

او هرڅوک چې (یوازې) د نژدې کور کښت غواړي (او آخرت یې هېر کړی وي) مونږ به ورته (د خپلې ارادې مطابق) ګټې ورکړو او ده لره په آخرت کښې هیڅ برخه نشته (هلته به په دائمي اور کښې معذبېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او په عدل او د قیامت په قیام رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د عدل او د قیامت په ارتباط څه نور وضاحت هم قرائت کړه ترڅو د توحید عقیده قبوله کړي او د اختلافاتو څخه لاس واخلي. هغه دا چې:

۱_ لکه څنګه چې الله ﷻ ستا په شمول ټول پیغمبران په خپلو- خپلو اُمتونو کښې په عدل او انصاف کولو سره مامور کړي وه، همدارنګه یې (د قرآن کریم په شمول) ټول کتابونه هم د همدغه مطلب د پیاده کولو دپاره په حقه نازل کړي دي، ترڅو په څمکه کښې په عقیدوي او عملي مسائلو کښې د عدل څخه کار واخستلی شي.

په دې باندې علاوه، الله ﷻ په څمکه کښې تله هم نازله کړې او پیدا کړې ده چې خلک ترې د انصاف او عدل په پېژاندلو کښې کار اخلي او ډول-ډول شیان ورباندې تلي.

۲_ ای پیغمبره! ته څه شي پوه کړې چې د قیامت ورځ به کله راځي؟ تاته د هغې د وخت په هکله هیڅ علم نشته، شاید چې د قیامت قیام ډېر نژدې وي. په دغې ورځ کښې به الله ﷻ یوه بله تله نصبه کړي چې دنیاوي نتائج به ورباندې تلل کېږي. نو هلته به د خلکو ټولې بې عدالتۍ په ډاګه څرګندې شي.

نو خلکو ته په کار دي چې هغه د قیامت تله په نظر کښې ونیسي او بې عدالتیو ته لاس وانچوي، او دا خکه چې د قیامت قیام ډېر نژدې راروان دی خو خلک په همدې نسبت په لاندې دوه وو ګروپونو وېشلی شوي دي:

الف: هغه کسان چې د قیامت په قیام باندې ایمان نه لري او باور ورباندې نه کوي، د مسخرو په توګه ورباندې عجله کوي چې د قیامت قیام ولې ټال دی؟

ب: کوم کسان چې ورباندې عقیده لري او د قیامت په قیام کښې مشتبه نه دي هغوی ترې ډارېږي او روزمره ورته تیاری نیسي، هغوی یې د قیام د وخت پوښتنه نه کوي چې کله به تحقق ونیسي.

۳_ هغوی پوهېږي چې د قیامت قیام حق دی، ای خلکو! اګاه اوسئ چې بې شکه کوم کسان چې د قیامت په هکله جګړې کوي او ملنډې ورباندې وهي، یقیناً هغوی د حق څخه په لرې ګمراهۍ کښې پرېوتلي دي او روزمره یې ګمراهي قوت مونده کوي.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ د خپلو مخلصو بندګانو په شمول په خپلو ټولو بندګانو باندې ډېر مهربان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي (په ډېر دقت سره یې اړتیاوې پوره کوي)، او په دنیا کښې ورباندې د کفر په سبب روزي نه دروي. او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ د ډېر قوت خاوند دی، نو هیڅوک نه شي کولی چې د ډېرو نعمتونو په درلودلو سره په الله ﷻ باندې زورور جوړ شي.

ب: الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی، نو هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی چې فلانکی د خپل نعمت څخه بې برخه کړه.

۵_ لنډه دا چې: په دنیا کښې ورکړه د هیڅا څخه ایساره نه ده او مسلمانان او هم کفار دواړه ډلې ترې ګټه پورته کوي مګر په لاندې تفاوت سره:

الف: هغه کسان چې د آخرت اراده لري او غواړي چې په دنیا کښې ورته کار وکړي نو مونږ به هغوی ته اقلاً لس چنده اجرونه ورکړو، خو په دنیا کښې به هم دغه کسان د نعمتونو او روزیو څخه بې برخې نه پاتې کېږي.

ب: بالمقابل هغه کسان کوم چې په خپل کار او زیار سره د دنیا ژوند نصب العین وګرځوي او آخرت بالکل هېر کړي، نو مونږ به هغوی ته هرومرو د دنیا څخه څه ناڅه نعمتونه ورکړو البته کله چې ورته زمونږ اراده وشي. اما دغسې کسانو ته په آخرت کښې هیڅ بوخه نشته بلکې هلته ورته اور تاکلی شوی دی چې په دائمي توګه به پکښې معذبېږي.

## توضیحات

۱_ اکثرو علماوو کرامو دلته په ﴿ أَنزَلَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ وَٱلْمِيزَانَ ﴾ کښې د "الْمِيزَان" کلمه د کنایې په توګه په عدل او انصاف سره تفسیره کړې ده[1]، نو په دې تفسیر سره ذکره شوې کلمه د هغه عدل دپاره تاکید واقع کېږي په کوم باندې چې وړاندېنې کلمات ﴿ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ مشتمل دي. او دا ځکه چې د الهي کتاب سره عدل او انصاف لازم دي.

پوره واضحه ده چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی، نو ښه دا ده چې په دې مقام کښې دغه کلمه "الْمِيزَان" په خپله حقیقي معنی سره تفسیره کړی شي چې د "تلې" څخه عبارت ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: که دلته د "الْمِيزَان" د کلمې څخه حقیقي معنی مراده وی نو "وَخَلَقَ الْمِيزَانَ" به نازل شوی وی ځکه چې الله ﷻ تله په ځمکه کښې پیدا کړې ده او خلکو ته یې د هغې استعمال وربښودلی دی، د قرآن کریم او نورو کتابونو غوندې خو یې د اسمانه نه ده نازله کړې؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال جواب د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۲۶] ایت لاندې ښه په تفصیل سره لیکلی شوي دي چې په قرآن کریم کله-کله د عام المنفعه (ټولګټو) شیانو د پیداکولو څخه په

---

[1] تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۵؛ زاد المسیر ج۷ ص۷۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رانازلولو سره تعبير كړې. نو د ذكر شوي جملې د معنى حاصل به داسې راوځېږي چې:
الله ﷻ هغه اقدس ذات دى چې د قرآن كريم په شمول جنس اسماني كتاب يې -چې په عدل باندې مشتمل دى- په حقه نازل كړى دى، او همدارنگه يې د عدل او انصاف دپاره تله هم نازله (پيدا) كړې ده چې په دنيا كښې ورباندې انصاف او عدل څرگندېږي.

## د ايت شريف يو نظير

٣_ د ﴿مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلْآخِرَةِ﴾ الآية- يو نظير وړاندې تېر شوى دى چې همدغه ايت ته ورته مضمون پكښې نازل شوى دى، هغه دا چې: ﴿مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ﴾ [الإسراء:١٨] يعنې هرڅوک چې عاجل كور (دنيا) غواړي نو مونږ به ورته په همدې كور كښې په جلتۍ سره هغه څه وركړو كوم چې زمونږ اراده وي (نه هغه كوم چې نوموړى يې اراده كوي)، بيا به ورته (په آخرت كښې) دوزخ وگرځوو (وركړو چې همېشه به پكښې كړېږي).
همدې مضمون ته په يوه حديث كښې هم اشاره شوې ده چې نبي كريم ﷺ أُبي بن كعب مخاطب كړ چې: «بَشِّرْ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِالسَّنَاءِ وَالنَّصْرِ وَالتَّمْكِينِ فَمَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ عَمَلَ الْآخِرَةِ لِلدُّنْيَا لَمْ يَكُنْ لَهُ فِي الْآخِرَةِ نَصِيبٌ»[1] يعنې اى ابن كعبه! دغه (محمدي ﷺ) أُمت ته په روښنانتيا (لوړوالي) او نصرت او هم (په ښارونو كښې) د قدرت زېرى وركړه، نو د دوى څخه چې هر چا د دنيا دپاره د آخرت عمل وكړ (دنيا يې مقصود وگرځوله) نو هغه ته په آخرت كښې برخه نشته.

﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ ٱلْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمْۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوْضَاتِ ٱلْجَنَّاتِۖ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾ ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا ٱلْمَوَدَّةَ فِي ٱلْقُرْبَىٰۗ وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾﴾

[٢١] ايا مشركانو ته داسې شريكان (شيطانان) دي چې هغه دين يې ورته تشريع (جوړ) كړى دى په كوم سره چې الله ﷻ اذن نه دى كړى (چې جوړ دې شي بلكې منعه كړى يې دى)؟.
او كه چرته د فيصلې خبره (پخوا تېره شوې) نه وى نو د بندگانو ترمنځ به (په دنيا كښې) فيصله كړى شوې وى. او يقينًا ظالمانو (كفارو) ته (په قيامت كښې) دردناك عذاب دى.

---
(١) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٤٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] ته به (د قیامت په ورځ) ظالمان (کفار) ګورې چې د هغو (کړو وړو) څخه به ډېر ډاریدونکي وي کوم یې چې (په دنیا کښې) کسب کړي وي، حال دا چې هغه به وربانديې پرېوتونکي وي (او هیڅ نجات به ترې نه شي موندلی).

او هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې کړي دي دوی به (د قیامت په ورځ) د جنتونو په شنو (او تازه) باغچو کښې وي، او هم به ورته هغه شیان د دوی د رب ﷻ په نزد (هلته) شتون ولري کوم چې د دوی زړونه یې غواړي.

(ای پیغمبره!) دغه (جنتونه) همدا (د الله ﷻ) ډېر لوی فضل دی (چې مؤمنانو ته به ورکړی شي).

[۲۳] دغه (اجر) هغه شی دی کوم چې الله ﷻ هغو بندګانو ته (وربانديې) زېری ورکوي کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې کړي دي.

(ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: زه ستاسو څخه په دغه پیغام (او زیري) بانديې په هیڅ ډول سره مزدوري (او اُجرت) نه غواړم، مګر په خپل قرابت (او خپلوی) کښې درڅخه مینه (او محبت) غواړم (چې دښمني راسره مه کوئ او د دعوت په وړانديې مې خنډمه واقع کېږئ).

او هرڅوک چې ښایسته (او نېک) کار وکړي (لږ وي او که ډېر) نو مونږ به ورته پکښې ښکلا زیاته کړو، (او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ ښه مغفرت کوونکی (او) ښه منونکی (شکرګزار) دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د پیل څخه په الهي (اسماني) تشریع کښې بحث راروان دی چې الله ﷻ یو لک ځلیرشت زره ـ زیات یا کم ـ پیغمبرانو ته فقط یو دین تشریع کړی او وحې کړی دی چې د الله ﷻ په توحید او د عدالت په تامین بانديې ولاړ دی، خو تفرق ته په عنادي توګه خلکو لاس اچولی دی او بې عدالتي یې خوښه کړې ده.

په دې ایتونو کښې د تفرق اصلي سبب ته اشاره کېږي چې ټول اختلافات د همدغه سبب څخه منشأ اخلي نو حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت بانديې د کفارو د تفرق په ارتباط څه مطالب قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ ایا د هغوی د تفرق سبب همدا دی چې خپلو شریکانو (جني او انسي شیطانانو) ورته هغه دین تشریع کړی دی د کوم د تشریع دپاره چې الله ﷻ اجازه نه ده کړې بلکې د همده ﷻ د پلوه ممنوع او حرام ګرځولی شوي دي؟ یا په بل عبارت: الله ﷻ د تشریع حق هیچا ته نه دی ورکړی خو د دې سره‌سره د تاریخ په اوږدو کښې ورته شیطانانو اقدام کړی دی او مشرکانو (کفارو) په لبیک ویلو سره قبول کړی دی او لا قبلولې یې.

۲ـ ای پیغمبره! ذکر شوی اقدام دومره لوی جنایت دی که بالفرض د الله ﷻ د پلوه د کارونو د تصفیه کولو دپاره لا وړانديې وخت نه وی ټاکلی شوی (چې د قیامت په ورځ به صورت نیسي) نو د دغو کفارو ترمنځ به په دنیا کښې فیصله کړی شوې وی او سمدستي به (بدون د مهلته) پوپنا کړی شوي وی او دوزخ ته به وراچولي شوي وی او دا ځکه چې: ذکر شوي کسان د غټ ظلم مرتکب شوي دي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د ظالمانو دپاره دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې د قیامت په ورځ به ورباندې اخته کړی شي.

۳_ نن ورځ ذکر شوي ظالمان په خپلې کړنلارې باندې افتخار کوي او خوښي ورباندې ښکاره کوي خو د قیامت په ورځ به ته همدغه ظالمان وګورې چې په خپله کړنلاره باندې به پښېمانه وي او ډارېږي به چې په همدې سبب به د مجازات سره مخامخ شي.

مګر هیڅکله به د مجازات څخه بچ پاتې نه شي او هرو مرو به ورباندې د خپلو کړو وړو اثر پرېوځي او ورسره به مخامخ شي.

۴_ ای پیغمبره! (بالمقابل) ته به د قیامت په ورځ هغه کسان ګورې کومو چې ایمان راوړی دی او د الهي تشریع په مطابق یې نېک اعمال کړي دي، چې د داسې حالونو درلودونکی به وي:

الف: دوی به د جنتونو په تازه او شنو باغچو کښې اوسېږي، او په خپله دنیاوي کړنلاره به ډېر خوښ او راضي وي.

ب: بلکې همدوی لره به په جنت کښې د دوی د رب ﷻ په نزد هغه نعمتونه موجودیت ولري کوم چې دوی غواړي او یا یې په زړونو کښې خطور وکړي.

۵_ ای پیغمبره! دغه ډېر لوی فضل دی چې الله ﷻ د خپلو مخلصو بندګانو دپاره ټاکلی دی، او دغه نعمتونه هغه لوی بشارت دی په کوم سره چې الله ﷻ په دنیا کښې خپلو مخلصو بندګانو ته ورباندې زېری ورکوي، البته هغه مخلص بندګان کومو چې د الله ﷻ په وحدانیت ایمان راوړی وي او د همده ﷻ د تشریع مطابق یې نېک اعمال هم ورسره ضمیمه کړي وي.

۶_ ای پیغمبره! ته ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: کومه اسماني تشریع چې ما ستاسو دپاره راوړې ده چې قرآن کریم ورباندې مشتمل دی، هغه په دنیا او آخرت کښې ستاسو دپاره ډېره ګټوره او ارزښتناکه ده، خو د دې سره‌سره زه ورباندې ستاسو څخه په هیڅ ډول سره بدله او اجر نه غواړم، که بالفرض ما ورباندې ستاسو څخه اُجرت غوښتی وی نو تاسو به حق درلودی چې غاړې مو ترې غړولې وی.

ب: هو! ستاسو څخه عموماً او د عربو څخه خصوصاً د عدم قبول په صورت کښې یو شی غواړم هغه دا چې: زما سره په قرابت کښې دوستي وکړئ او زما د دعوت په وړاندې خنډ مه واقع کېږئ.

یا په بل عبارت: که تاسو زما دعوت نه قبلوئ اقلاً دومره خو وکړئ چې د دعوت مخه مې مه بندوئ ترڅو زه خپل دعوت نړۍ ته ورسوم.

ایا تاسو د خپلوۍ او قرابت دومره لحاظ هم نه ساتئ؟ ایا تاسو د انسانیت مراعات هم نه کوئ؟.

ج: ای پیغمبره! زمونږ د پلوه دا هم ورته ووایه هرڅوک چې د نېکۍ کسب وکړي که څه هم ډېره کوچنۍ نیکي وي نو مونږ به ورته پکښې خیر واچوو او په عوضونو کښې به ورته ډېر زیادت وکړو، یا په بل عبارت: مونږ به یې داسې وګڼو لکه چې نوموړي ډېرې نېکۍ کړې وي او یا یې ډېره لویه نېکي کړې وي. او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ ښښونکی دی، د ایمان څخه په وړاندېښو جنایاتو هیڅوک نه نیسي، او شکور (منونکی) هم دی چې لږ عمل ته ډېره جزا ټاکي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې: که تاسو د لاندې کارونو څخه هر یو کار ترسره کړئ نو بې اجره به پاتې نه شئ:
اول: چې ایمان راباندې رانه وړئ خو د دعوت په وړاندې مې خنډ هم واقع نه شئ.
دوهم: چې ایمان راباندې رانه وړئ خو د دعوت په تعمیم کښې راسره نصرت او کومک وکړئ.
دریم: چې ایمان هم راباندې راوړئ او نصرت او کومک هم راسره وکړئ.
البته په لومړنیو دواړو صورتونو کښې به یوازې دنیاوي اجرونه درکړی شي او بس، خو په دریم صورت کښې به په دنیا او آخرت کښې د أجرونو خاوندان وګرځولی شئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم ﴾ کښې د "أم" توری په تقریري استفهام مشمل دی او د وړاندېنې [الشوری:۱۳] ایت سره تړاو لري[1].
په دې باندې علاوه ظاهره دا ده چې دلته په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ شُرَكَٰٓؤُاْ ﴾ د کلمې څخه بوتان مطلب نه دي چې د مشرکانو په نزد هم د تشریع استعداد نه لري، بلکې دلته ترې انسي او جني شیطانان مراد دي[2]، کومو چې مشرکانو ته کفري او شرکي بنیادونه ایښي دي چې څه وضاحت یې په منقوله توګه د [المائدة:۱۰۳] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.
یعني د الله ﷻ تشریع خو هغه ده کومې ته چې وړاندې اشاره وشوه، ایا د کفارو تشریع هغه ده کومه چې ورته شیطانانو ټاکلې ده؟ هو! د دوی شریعت او تشریع همدغه ده.

## زه مزدوري نه غواړم

۲ـ مونږ غواړو چې د ﴿ لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِى ٱلۡقُرۡبَىٰ ﴾ د جملې تفسیر په هغه ډول سره لوستونکو ته وړاندې کړو کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی چې لنډیز بې په لاندې ټکو کښې لوستل کېدلی شي:
الف: یوه ورځې په یوه مجلس کښې ـ چې سعید بن جبیر علیه الرحمة هم پکښې شتون درلود ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه چا د ذکر شوي ایت پوښتنه وکړه، چې دغه جمله څه معنی ورکوي؟
ب: سعید بن جبیر علیه الرحمة په عجلې او چالاکۍ سره جواب ورکړ چې دلته د ﴿ ٱلۡقُرۡبَىٰ ﴾ څخه د محمد ﷺ اقارب او خپلوان مطلب دي. یعنې زه ستاسو څخه د قرآن کریم په ابلاغ اجر نه غواړم مګر دا غواړم چې زما د اقاربو سره محبت او دوستي وکړئ.
ج: رئیس المفسرین رضي الله عنه نوموړی تابعي علیه الرحمة مخاطب کړ چې تا په تفسیر کښې ډېره عجله وکړه، ته منتظر نه شوې چې ما صحیح جواب ورکړی وی او تا هم اورېدلی وی، هغه دا چې په قریشو کښې یوه وړه کورنۍ هم نه وه مګر نبي کریم ﷺ ورسره لرې یا نژدې قرابت درلود او د

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۲۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلوی اړیکې یې ورسره موجودې وې، نو نبي کریم ﷺ قریش مخاطب کړه چې: «إِلاَّ أَنْ تَصِلُوا مَا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ مِنَ الْقَرَابَةِ»[1] یعنې زه ستاسو څخه د قرآن کریم په ابلاغ باندې هیڅ مزدوري او أُجرت نه غواړم، مګر دا درڅخه غواړم چې زما سره په هغه بنیاد صله رحمي وکړئ او اذیت راته مه رسوئ کوم چې زه یې ستاسو د هرې یوې کورنۍ سره لرم.

ته به وایې چې هغوی ته یې ویلي وي چې: ستاسو څخه د خیر تمه نه لرم خو ضرر راته مه رسوئ چې د دعوت مخه مې بنده کړئ.

د: اکثره مفسرین کرام وایي چې په ذکره شوې جمله کښې په "إلاَّ" سره منقطعي استثناء صورت نیولی دی[2] چې مضمون یې په هغه ډول سره راځېږي کوم چې وړاندې ذکر شو.

او که بالفرض دغه استثناء متصله وګڼله شي نو بیا به یې حاصل یې داسې راوځېږي چې: زه ستاسو څخه د قرآن کریم په ابلاغ مزدوري نه غواړم مګر دا أُجرت ورڅخه پرې غواړم چې تاسو د هغه قرابت مراعات وکړئ کوم چې زما او ستاسو ترمنځ موجودیت لري. یا په بل عبارت: تاسو زما په ارتباط زما د تره (أبو طالب) تګلاره تعقیب کړئ، چې ایمان راباندې نه راوړي مګر د صله رحمۍ مراعات مې کوي چې د دعوت په چلونه کښې راسره مدد او نصرت کوي.

هـ: نو په دې تقدیر به صله رحمۍ ته د مجاز په توګه او یا ادعاءً د اجر لقب ورکولی شوی وي، ته به وایې چې ورته یې ویلي وی چې زه ستاسو څخه د قرآن کریم په ابلاغ باندې څه اجر نه غواړم مګر فقط صله رحمي درڅخه پرې غواړم، که بالفرض تاسو صله رحمۍ ته د اجر او مزدورۍ لقب ورکوئ نو ورېې کړئ او یا دغه صله رحمي ماته د أُجرت غوندې مثال لري.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو د ذکرې شوې جملې نور تفسیرونه هم کړي دي[3]، د مثال په توګه:

الف: زه ستاسو څخه د قرآن کریم په ابلاغ څه مزدوري نه غواړم ـ ای مسلمانانو!ـ مګر ستاسو څخه زما د خپلوانو په هکله دوستي غواړم چې مینه او محبت ورسره وساتئ؛

ب: ای مسلمانانو! زه ستاسو څخه په قرآن کریم سره هیڅ مزدوري نه غواړم مګر ستاسو څخه غواړم چې په طاعت او عبادت سره الله ﷻ ته قرب او نژدېکت ترلاسه کړئ او په ایمان کلک ودرېږئ؛

ج: ای مسلمانانو! زه ستاسو څخه درباندې نه غواړم مګر دا درڅخه پرې غواړم چې په خپلو منځو کښې صله رحمي وکړئ او خپلوي وپالئ؛

نو پوښتنه دا ده چې: په څه وجه تاسو ذکر شوي درېواړه تفسیرونه خوښ نه کړه؟

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۱۳؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۰

(۲) زاد المسير ج۷ ص۷۹؛ المحرر الوجيز ج۱۴ ص۲۱۸؛ تفسير المظهري ج۸ ص۳۲۰

(۳) أضواء البيان ج۷ ص۱۸۹؛ روح المعاني ج۲۵ ص۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: دغه درېواړه تفسیرونه د واقعیت په لحاظ صحت لري او په حقانیت کښې یې هیڅ شک شبه نشته، یا په بل عبارت: د نبي کریم ﷺ د اقاربو دوستي د هر مسلمان دپاره د واجباتو څخه ده، حتی چې د دوی سره د نبي کریم ﷺ په ملحوظ دښمني کول او کینه درلودل د کفر څخه پرته بل شی نه دی، همدارنګه د عبادت او طاعت په ذریعه الله ﷻ ته ورنږدې کېدل او هم په خپلو منځو کښې د خپلوۍ پالل د واجباتو څخه دي، هیڅوک ترې انکار نه شي کولی.

اما ذکر شوي درېواړه مطالب د ایت شریف دپاره د تفسیر په حیث منل د بر لرې او بعید برېښي. او دا ځکه چې:

اول: په ﴿لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ﴾ کښې د "کم" په کلمې سره د عبارة النص په اعتبار د مکې معظمې قریش (مشرکان) مخاطب کړی شوي دي[1] ځکه چې په همدوی کښې بحث راروان دی، او د اشارة النص په اعتبار ورباندې ټول عرب بلکې ټول بنیادمان مخاطب دي، چې د نبي کریم ﷺ د ټولو بنیادمانو سره عموماً او د عربو سره خصوصاً د قرابت اړیکي شته او د مراتبو په تفاوت سره د صله رحمۍ مراعات په هر یوه قرابت کښې په کار دي.

نو د تخصیص دپاره هیڅ دلیل موجودیت نه لري چې صرف د فاطمې رضی الله عنها د اولادې پورې اختصاص ورکړی شي.

دوهم: دغه ایت شریف ـ چې بحث پکښې روان دی ـ د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی[2]، چې فاطمه الزهراء رضی الله عنها لا واده شوې هم نه وه او اولادونه یې نه وه تولد شوي.

درېیم: د همدغه تفسیر په بهترۍ باندې د ﴿وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًا﴾ او د ﴿إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ﴾ دواړه تعقیبونه هم دلالت کوي لکه چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗاۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَۗ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ
ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝٢٤ وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ
وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ۝٢٥ وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ وَٱلۡكَٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ۝٢٦ وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ
لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ۝٢٧ وَهُوَ ٱلَّذِي
يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ۝٢٨﴾

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۳۰
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۳۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٢٤] ایا مشرکان وایي چې محمد (ﷺ) په الله ﷻ باندې دروغ تړلي دي (او خپل خان يې پیغمبر تراشلی دی؟ ای پیغمبره!) نو که د الله ﷻ اراده وشي ستا په زړه به مهر ولګوي (په وحې کښې خو ستا اراده څه اثر نه لري).

او (د) الله ﷻ (عادت دی چې) باطل محوه کوي او په خپلو اوامرو سره حق ته اثبات وربښي (که بالفرض ستا وحې حقیقت نه درلودی نو الله ﷻ به يې مخه بنده کړې وی). یقیناً الله ﷻ په داسې حالاتو باندې پوه دی کوم چې د سینو خاوندان دي (او په زړونو کښې پټ دي).

[٢٥] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د خپلو بندګانو څخه توبه (پښېماني) قبلوي او د بدیو (ګناهونو) څخه يې عفوه کوي او (هم) په هغو (کړو وړو) پوهېږي کوم چې تاسو يې (د استمرار په توګه) کوئ.

[٢٦] او الله ﷻ هغو کسانو ته اجابت کوي (عبادت او سوالونه يې قبلوي) کومو چې ایمان راوړی دی او صالح اعمال يې ورسره یوځای کړي دي، او (همدارنګه) هغوی ته د خپل فضل څخه زیادت کوي (په چندونو اجرونه او ثوابونه ورکوي).

او (بالمقابل) کافران چې دي دوی لره (د قیامت په ورځ) سخت عذاب دی.

[٢٧] او که الله ﷻ خپلو بندګانو ته (د حاجت څخه اضافه) روزي پراخه کړې وی نو (د خپل طبیعت مطابق) به يې په ځمکه کښې بغاوت اختیار کړی وی، مګر الله ﷻ (د خپل حکمت په بنیاد) هغه نعمتونه په اندازې سره رانازلوي کومو ته يې چې اراده وشي، یقیناً الله ﷻ په خپلو بندګانو سره ښه خبردار (او) بینا دی (کوم حالت چې د حکمت غوښتنه وي هغه ورته ځرګند دي).

[٢٨] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د هغه څخه وروسته (د اسمانه) باران نازلوي چې بندګان ترې نااُمیده شوي وي، او (په همدغه حالت کښې) خپل رحمت خوروي، او همدی ﷻ (د خپلو بندګانو) دوست (کارساز او) ستایلی شوی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه تهمت او اتهام رد شوی دی کوم چې د مشرکانو د پلوه د وړاندېنیو ایتونو په نسبت د هغوی په اذهانو کښې ګرځېد او د ایمان د نه راوړلو په ارتباط يې ترې د پلمې کار اخست، چې حاصل يې داسې راځي:

ای پیغمبره! مشرکان وایي چې: که زموږ دین الهي دین نه وي نو د محمد (ﷺ) دین هم الهي دین نه دی چې قرآن يې پخپله تالیف کړی دی او بیا يې په دروغو الله ﷻ ته نسبت کړی دی ترڅو ورته پیروان مونده کړي.

دغسې نه ده لکه چې مشرکان خیال کوي. او دا ځکه چې:

١ـ د مشرکانو اتهام به په هغه وخت کښې په ځای وی چې ستا په ژبه د قرآن قرائت او ستا په زړه کښې د قرآن حفظ کول ستا په واک او اختیار کښې وی، خو حقیقت دا دی چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که د الله ﷻ اراده وشي نو ته به د قرآن کریم یوه جمله هم قرائت نه کړی شې لکه څنګه چې د نبوت څخه وړاندې په څلوېښتو کالو کښې تا دغه کار نه شو کولی.

ب: که د الله ﷻ اراده وشي نو ستا په زړه باندې به مهر ولګوي نو څومره ایتونه چې ستا په مبارک زړه کښې محفوظ دي هغه ټول به درڅخه هېر کړي او په راتلونکي کښې به هم د یوه ایت یا یوې قرآني جملې د حفظ توان ونه لرې (ته به هغه حال ته بېرته ورستون شې په کوم باندې چې ته د نبوت څخه وړاندې وې).

۲_ ای پیغمبره! د الله ﷻ عادت دا دی چې:

الف: الله ﷻ باطل او ناحق د زوال سره مخامخ کوي او په غیبي فرمانونو سره د حق حقانیت او واقعیت څرګندوي، که څه هم د څه مهلت څخه وروسته صورت ونیسي.

ب: اما په خاصه توګه د نبوت په هکله خو باطلو ته هیڅ فرصت نه ورکوي او په بیړې سره یې خلکو ته ورښکاره کوي ترڅو ورباندې دوی ونه غولېږي.

نو په همدې بنیاد که بالفرض المحال تا په الله ﷻ دروغ تړلي وی او په ناحقه دې خپل ځان پیغمبر تراشلی وی نو تاته به تر اوسه پورې الله ﷻ فرصت نه وی درکړی او لا د وړاندې څخه به یې رسوا کړی وې.

۳_ ای پیغمبره! ته ډاډه اوسه الله ﷻ به ستا دین ته په ټولو ادیانو غلبه ورکړي او د کفارو دسیسې به هیڅکله اغېزمنې واقع نه شي، که څه هم هغوی په زړونو کښې د حق دین د له منځه وړلو دپاره ډېر پلانونه لري. او دا ځکه چې یقینًا الله ﷻ په هغو ټولو حالاتو باندې ښه پوره پوه دی کوم چې په سینو او زړونو کښې پټ دي.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ په خپلو بندګانو او مخلوقاتو باندې ډېر مهربان دی چې په همدې بنیاد:

الف: د خپلو بندګانو توبه قبلوي، که ذکر شوي مشرکان او کفار _چې په ناحقه په تاباندې تور لګوي_ د خپلو کړو وړو څخه توبه تائب وګرځي نو الله ﷻ به یې توبه قبوله کړي.

ب: الله ﷻ ګناهونه او بدۍ عفوه کوي، نو په هغو ګناهونو باندې کفار نه نیسي د کومو چې دوی د کفر په حال کښې مرتکب شوي وي.

ج: الله ﷻ په هغو ټولو کارونو باندې پوهېږي کوم چې تاسو (بندګان) یې سرته رسوئ او عملي بڼه ورکوئ.

د: کله چې بندګان په ایمان باندې مشرف وګرځي نو الله ﷻ د همدغو کسانو د ښېګڼو مننه کوي کومو چې ایمان راوړی وي او نېک اعمال یې ترسره کړي وي، برسېره د ښېګڼو په مننه باندې پرته د استحقاقه اضافه اجرونه هم ورکوي او د خپل فضل په بنیاد ورباندې زیاتې پیرزوینې کوي.

اما هغه کسان کوم چې تر اوسه په کفر کلک دي او لا دغه کلکوالي ته د مرګ تر ورځې پورې ادامه ورکړي، چې نه توبه تائب جوړ شي او نه ایمان راوړي، نو هغوی ته په قیامت کښې ډېر سخت عذاب تیاکلی شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ ای پیغمبره! الله ﷻ خپلو بندګانو ته په خپل فضل سره په آخرت کښې بلا حسابه روزي ورکوي، اما په دنیا کښې ورته دغه ډول روزي نه ورکوي او دا ځکه که په دنیا کښې دا کار وکړي او یا یې کړی وی نو ضرور به دوی بغاوت کړی وی، او په ضرر به یې تمام شوی وی.

نو الله ﷻ په دنیا کښې خپلو بندګانو ته په هغې ټاکلې اندازې سره روزي ورنازلوي (ورکوي) کومې ته یې چې اراده وشي، ځکه چې الله ﷻ د خپلو بندګانو په ټولو حالاتو باندې خبردار دی او هم ټول کره وره یې ورته ښکاره دي.

۶ـ که الله ﷻ د خپلو بندګانو د بغاوت کولو مراعات نه وی کړی نو دوی ته به یې په دنیا کښې هم د آخرت غوندې غیر محدوده روزي ورکړې وی چې دا کار ورته ډېر اسان دی، ایا تاسو نه ګورئ چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د بندګانو د نااُمیدۍ ځنې وروسته د بله طرفه نه بلکې د اسمان د طرفه باران (اوبه) نازلوي او خپل رحمت خوروي، همدی ﷻ ټولو بندګانو ته په کارسازی سره نژدې دی او همدی ﷻ په عالي صفاتو ستایلی شوی دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: مفسرینو کرامو دا جمله ﴿فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَ﴾ په متعددو ډولونو سره تفسیره کړې ده[۱]، کوم تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې:

الله ﷻ د کفارو دا اتهام (چې قرآن کریم د نبي کریم ﷺ خپل تصنیف دی او په دروغو یې الله ﷻ ته منسوب کړی دی) په ډېرو ایتونو کښې د چلنج په توګه رد کړی دی، چې څو مثالونه یې د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۲۲] ایت لاندې راغونډ کړی شوي دي، خو په دې مقام کښې الله ﷻ دغه اتهام په ذکرې شوې جملې سره جواب کړی دی.

یعني ای پیغمبره! که بالفرض المحال قرآن کریم ستا خپل تصنیف وی ـ لکه چې کفار خیال کوي ـ نو ضرور به پکښې ستا ارادې څه دخل درلودی، حال دا چې ستا اراده پکښې هیڅ دخل نه لري. نو که د الله ﷻ اراده وشي ستا په زړه باندې به مهر ولګوي او د قرآن کریم یوې جملې ته به پکښې هم ځای ورنه کړي لکه چې د نبوت ځنې وړاندې یې پکښې ځای نه وه ورکړی، او نه به ته وتوانېږې چې د قرآن کریم یوه جمله قرائت کړې لکه چې د نبوت ځنې وړاندې دې نه شوه قرائت کولی.

همدغه مضمون په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی، د مثال په توګه:

اول: ﴿إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ﴾ [القيامة:۱۷] یعني ای پیغمبره! ستا په مبارک زړه کښې قرآن کریم ته ځای ورکول او ستا په مبارکه ژبه باندې د قرآن کریم قرائت زمونږ ذمواري ده (ته ورته هیڅ تشویش مه کوه).

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۳۴؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ﴾ [الإسراء: ۸۶] یعنې ای پیغمبره! او هرومرو که زمونږ اراده وشي نو هغه شی (قرآن کريم) به ستا (د سينې) څخه يوسو (هېر کړو) کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی.

ب: په ﴿ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ ﴾ کښې د ذکر شوي اتهام دوهم رد ته اشاره شوې ده، یعنې که بالفرض د کفارو اتهام څه واقعيت درلودی نو الله ﷻ به ضرور ستا وحې د زوال سره مخامخه کړې وی او روزمره به يې ځکه ترقي نه وی درېه برخه کړې چې: د الله ﷻ وعده ده چې به خپلو فرمانونو سره باطل محوه کوي او د حق احقاق کوي (خلکو ته يې حقانيت ورڅرګندوي).

ج: که څه هم د عربي ليک دود دی چې هره يوه کلمه په هغه تورو سره ليکله کېږي په کومو باندې چې د وقف په حالت کښې تلفظ کېږي که څه هم سمدستي د وقف حالت نه وي او ځينې توري يې د تلفظه لوېدلي وي[1]، مګر د قرآن کريم ليکنه د قوانينو تابع نه ده بلکې په عثماني ليکنې پورې اختصاص لري، چې په همدې ليکنه کښې په ذکره شوې جمله کښې د "يَمْحُو" کلمه "يَمْحُ" ليکلی شوې ده چې د قيامت تر ورځې پورې بايد همداسې (بې واوه) وليکله شي، که نه نو بايد په "و" سره "يَمْحُو" ليکلې شوې وی، د همدې قبيلې څخه په ﴿ وَيَدْعُ الْإِنسَانُ ﴾ [الإسراء: ۱۱] ايت کښې د "يَدْعُ" کلمه هم شمېرله کېږي چې بايد نظر قوانينو ته "يَدْعُو" ليکله شوې وی.

د: په ﴿ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴾ کښې نورو هغه اتهامونو ته اشاره ده کوم چې کفارو په زړونو کښې پټ ساتلي وه. یعنې الله ﷻ د زړونو په حالاتو باندې پوه دی نو هغه اتهامات به هم د منځه يوسي کوم چې هغوی په زړونو کښې پټ ساتلي دي، او ټول پلانونه به يې شنډ کړي.

## څو نکات

۲ـ په ﴿ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ ﴾ الآية کښې بايد لاندې نکات په نظر کښې وساتلی شي:

الف: که څوک وايي چې: په دغه عبارت کښې د "لو" د توري غوښتنه دا ده چې الله ﷻ دې په هيچا باندې روزي نه وي پراخه کړې که نه نو بغاوت به يې کړی وی. حال دا چې د پراخې روزۍ خاوندان خو ډېر تېر شوي دي چې بغاوت يې نه دی کړی لکه سليمان ﷺ او داسې نور؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو[2] په دې مقام کښې د جنتي روزۍ پراخي اراده کړې ده، یعنې که الله ﷻ په دنيا کښې خپلو بندګانو ته د جنتيانو غوندې غير محدوده پراخي (د حاجت څخه اضافه) روزي ورکړې وی نو دوی به ضرور بغاوت کړی وی؛ او پوره واضحه ده چې دنياوي روزي د خپلې پراخۍ سره-سره د آخرت د روزۍ په پرتله پراخه نه ده او د سليمان ﷺ په شمول هيچا ته نه ده ورکړه شوې.

مګر دا جواب په زړه پورې نه دی او دا ځکه چې په دنيا کښې نه څوک جنتي روزي غواړي او نه

---

[1] صرف العزيز ص ۳۷۰
[2] في ظلال القرآن ج۵ ص۳۱۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پکښې بحث کېږي، بلکې دلته د دنیاوي روزۍ پراخي مطلب ده چې ځینو بندګانو ته نه ده ورکړه شوې. د همدې مطلب په تائید لیکو چې: ځینې مفسرین کرام وایي چې دغه ایت شریف د مسلمانانو ځخه د یوه ټولګي په هکله نازل شوی دی چې ډېر فقیران وه او د دنیا د پراخۍ او د غنیتوب آرزو یې کوله[١].

ب: زمونږ په نظر په ایت شریف کښې د طبیعت په ملحوظ د انسان بې ثباتۍ ته اشاره شوې ده، یعني که الله ﷻ خپلو بندګانو ته پراخه (د حاجت ځخه اضافه) روزي ورکړې وی نو هرو مرو به یې د طبیعت په ملحوظ بغاوت کړی وی.

هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ په چا باندې فضل وکړي او په همدغه حال کښې یې هم د بغاوت ځخه بچ وساتي لکه صالحان غنیان خلک، چې د همدوی د جملې ځخه سلیمان ؑ هم شمېرل کېږي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ ﴾ [الحج: ۶۶] یعني یقینًا هرومرو انسان (د طبیعت په لحاظ) ناشکره دی (مګر هغه څوک چې الله ﷻ ورته د شکرګزارۍ توفیق ورکړي).

ج: د پراخۍ په حال کښې د انسان د بغاوت دپاره د قارون حالت ډېر ښه مثال جوړېدلی شي چې په [القصص: ۷۶] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

د: د ښه وضاحت دپاره لاندې مطالب ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «إِذَا أَحَبَّ اللهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ»[٢] یعنې کله چې الله ﷻ یو بنده خپل محبوب وګرځوي نو د دنیا ځخه یې داسې ساتي لکه چې ستاسو یو کس همېشه وي چې خپل مریض د اوبو ځخه ساتي (البته هغه مریض چې اوبه ځنبل ورته په ضرر تمامېږي لکه د استسقاء په مرض باندې اخته مریض).

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا»[٣] یعنې یقینًا ډېر خطرناک شی چې زه پرې ستاسو په هکله د خپل وفات ځخه وروسته ډاربېږم هغه شی دی چې الله ﷻ به یې په تاسو باندې پرانیزي چې هغه د دنیا د تازګۍ او سنګار ځخه عبارت دی.

درېیم: د دري ژبې یوه شاعر څومره ښه ویلي دي چې:

نفس من کمتر از فرعون نیست :: لیکن او را عون مرا عون نیست

یعنې زما نفس د فرعون ځخه کم نه دی، مګر هغه ته عون (د روزۍ پراخي) وه او ماته د رزق پراخي نشته.

---

(١) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۳۰
(٢) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳
(٣) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: په همدغه ایت شریف کښې د ﴿ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ﴾ او د ﴿ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٌ ﴾ دواړو جمله د تعقیب څخه د اشارې په توګه مقابله معنی هم څرګندېږي، چې که الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډېره تنګي ورنازله کړې وی نو همدارنګه به یې د طبیعت په لحاظ بغاوت خپل کړی وی (چې بې صبري هم یو قسم بغاوت دی).

خو دا بېله خبره ده چې په همدغه حالت کښې هم چاته الله ﷻ توان او توفیق ورکړی وي او د بې صبرۍ څخه یې بچ ساتلی وي.

و: په همدې مضمون باندې په بل ځای کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ۝ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ۝ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴾ [المعارج:۱۹_۲۱] یعنې یقینًا انسان ډېر زیات حارص پیدا کړی شوی دی چې شر ورته ورسېږي بې صبرې کوي او چې خیر ورته ورسېږي د حقوقو د اداء کولو مانع جوړېږي.

ز: لنډه دا چې نظر فقر او غنی ته خلک په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلی کېږي:

اول: یو ګروپ خلک هغه دي کومو ته چې د روزۍ په تنګۍ باندې صبر کول اسان وي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ لَيَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ كَمَا يَفْرَحُ أَحَدُكُمْ بِالرَّخَاءِ»[1] یعنې په پخوانیو صالحانو خلکو کښې داسې کسان هم وه چې یو کس به یې په بلاء (د روزۍ په تنګۍ) باندې داسې خوشالېده لکه چې ستاسو یو کس د روزۍ په پراخۍ باندې خوشالېږي.

دوهم: بل ګروپ خلک هغه دي کوم چې په شکرګزارۍ کښې تکړه وي او په صبر کولو کښې ورته خپل ځان کمزوری برېښي.

په همدې ارتباط انس ﷺ ویلي دي چې: «اللّٰهُمَّ إِنِّيْ مِنْ عِبَادِكَ الَّذِيْنَ لَا يُصْلِحُهُمْ إِلَّا الْغِنٰى، فَلَا تُفْقِرْنِيْ»[2] یعنې ای الله! یقینًا زه ستا د هغه بندګانو څخه یم چې نه یې اصلاح کوي مګر غنا، نو ما فقیر مه ګرځوه (چې په فقیرۍ کښې صبر نه شم کولی او ناکامېږم).

﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٍ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٌ ۝٢٩ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُواْ عَن كَثِيرٍ ۝٣٠ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ۝٣١ وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ۝٣٢ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝٣٣ أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ۝٣٤

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۹۱
(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۲۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٣٥﴾

[۲۹] او د الله ﷻ (د قدرت) د دلایلو څخه د اسمانونو او ځمکو پیدا کول دي او هم د هغو مخلوقاتو (پیدا کول) کوم چې یې په دواړو کښې خواره کړي (او پیدا کړي) دي چې د هر ساکښ څخه عبارت دی. او الله ﷻ د ټولو ساکښانو په راغونډولو باندې د قدرت څښتن دی (البته) کله یې چې (د قیامت په ورځ د حساب کتاب دپاره) اراده وشي.

[۳۰] او (ای بنیادمانو!) هغه شی چې تاسو ته (په دنیا کښې) رسېږي، هر مصیبت چې وي، نو دا د هغه جنایت په سبب سره دی کوم چې ستاسو لاسونو کسب کړی وي، او الله ﷻ (په عین حال کښې ستاسو) د ډېرو جنایتونو څخه عفوه کوي.

[۳۱] او تاسو په ځمکه کښې د الله ﷻ عاجز کرځوونکي نه یاست (چې په الله ﷻ باندې مو زور دپاسه شي)، او تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست شته او نه مددګار (چې په دوستۍ یا قوت سره نجات درکړي).

[۳۲] او د الله ﷻ (د کامل قدرت) د دلایلو څخه په دریاب کښې چلېدونکې بېړۍ دي چې (په لویوالي کښې) د غرونو غوندې دي.

[۳۳] که چرته د الله ﷻ اراده وشي نو باد به ودروي نو بېړۍ به د دریاب په شا ولاړې وګرځي (او د حرکت څخه به پاتې شي)، یقیناً د دغو (بېړیو په چلښت) کښې د هر ښه صبر کوونکي (او هر شکرګزار دپاره (د الله ﷻ د کامل قدرت) لویې نښې (پټې) دي.

[۳۴] یا (که د الله ﷻ اراده وشي نو تېز باد به وچلوئ او) بېړۍ به (د سورلیو سره) د هغو جنایتونو په سبب هلاکې (او غرقې) کړي کوم چې سورلیو کسب کړي دي، او (په عین حال کښې) به الله ﷻ د ډېرو جنایتونو څخه عفوه وکړي.

[۳۵] (البته دا د دې دپاره چې الله ﷻ د جنایتکارانو څخه انتقام واخلي) او د دې دپاره چې هغه کسان پوه شي کوم چې زمونږ په ایتونو کښې (عنادي) جګړې کوي چې دوی ته د خلاصون هیڅ ځای نشته.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د الله ﷻ د عالي نومونو څخه هغه دواړه نومونه تشریح شوي دي په کومو باندې چې وړاندېني ایتونه ختم شوي وه چې هغه د ﴿ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴾ څخه عبارت دي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې څه نوره توضیح هم قرائت کړه ترڅو هغوی پوه شي چې یقیناً الله ﷻ ولي (کارساز) او ستایلی شوی دی. هغه دا چې:

۱ ـ د هغو دلایلو څخه چې د الله ﷻ په ولیتوب او حمیدیت باندې رڼا اچوي، دغه کارونه هم دي:

الف: الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په خپل کامل قدرت سره په هغه کیفیت سره پیدا کړي دي کوم

Scanned by CamScanner

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو



چې ورسره مناسب وه، او په دې پيداکولو کښې ورسره هيڅ نه ګډون کړی دی او نه يې کولی شو.
ب: د پيداکولو څخه وروسته يې په اسمانونو او ځمکو کښې هغه زښت ډېر ساکښان هم پيدا کړي دي کوم يې چې په دواړو کښې خواره واره ګرځولي دي او د ټولو اړتياوې يې ورته پکښې پوره کړي دي.
نو څرنګه چې الله ﷻ د دغو ساکښانو په خورولو باندې قدرت درلود او لري يې، همدارنګه همدغه اقدس ذات قادر دی چې د مړه کېدلو او تيت پرک ګرځېدلو څخه وروسته يې د قيامت په ورځ بېرته راټول کړي البته کله يې چې ورته اراده وشي.
ج: الله ﷻ د جنايت او قصور څخه په غير هيڅوک په مصيبت باندې نه اخته کوي نو ـ ای بنيادمانو!ـ کوم مصيبت چې تاسو ته رسېږي هغه ستاسو د خپلو لاسونو او خپل کسب نتيجه ده.
د: خو د دې سره-سره الله ﷻ ستاسو د ډېرو جنايتونو څخه عفوه کوي که نه نو تاسو (څخه) به (يوه ساکښن هم) ژوند نه وی کړی، او ټول به يې پوپنا کړي وی. او دا ځکه چې:
اول: ای بنيادمانو! تاسو نه ياست چې په الله ﷻ باندې زورور وګرځئ او په ځمکه کښې يې د ارادې په وړاندې خنډ واقع شئ او د نيولو څخه يې خپلو ځانونو ته نجات ورکړئ.
دوهم: همدارنګه تاسو د الله ﷻ څخه پرته بل دوست او کارسازی هم نه لرئ، چې بدون د اجازې ستاسو شفاعت وکړي او نجات درکړي.
دریم: په دغه وخت کښې تاسو کوم مددګار نه لرئ چې په قوت او نصرت سره مو د الله ﷻ د تعذيب څخه بچ وساتي.
۲ـ د الله ﷻ په وليتوب او حميديت باندې لاندې دلايل هم دلالت کوي:
الف: په نرم درياب کښې الله ﷻ ډېرې لويې او درنې بېړۍ روانې کړې دي چې پکښې ګرځي راګرځي، لکه چې غرونه پکښې چلېږي.
ب: که د الله ﷻ اراده وشي نو هغه بادونه به د چلښت څخه ودروي کومو چې د غرونو غونډې بېړۍ روانې کړې دي، نو بېړۍ به هم ځای په ځای په نرمو اوبو د درياب په شا ودروي او د حرکت څخه به يې پاتې کړي.
يقيناً په دغه ذکر شوي کار کښې د الله ﷻ د کامل وليتوب او کامل حميديت ډېر لوړ دلايل نغښتي دي، البته د هغه چا دپاره کوم چې ډېر ښه صبر کوونکی او ډېره ښه شکرګزار بنده وي.
ج: که د الله ﷻ اراده وشي نو د بادونو چلښت به تېز کړي او د طوفان مرحلې ته به يې ورسوي، او يا به بل کوم آفت نازل کړي او د کسب کړی شوو جنايتونو په سبب به بېړۍ او د بېړۍ ټولې سورلۍ هلاکې او غرقې کړي. يا په بل عبارت: که الله ﷻ د غرق اراده وکړي نو د لږو جنايتونو سببيت هم ورته کفايت کوي چې د ډېرو څخه عفوه وکړي.
د: نو که الله ﷻ د سورو په شمول بېړۍ غرقه کړي نو دغه کار به د دې دپاره صورت نيولی وي چې جنايتکاران په دنيا کښې د خپلو جنايتونو څه سزا وګوري، او بل د دې دپاره چې هغه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جګړه ماران پوه شي کوم چې زمونږ په ایتونو او دلایلو کښې په عنادي توګه جګړې کوي چې دوی له زمونږ د نیونې څخه هیڅوک نجات نه شي ورکولی او نه ورته په دنیا او آخرت کښې څه خلاصون صورت موندلی شي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ کښې د ﴿ دَآبَّةٍ ﴾ کلمه په لغت کښې هر هغه ساکښ ته وضعه شوې ده کوم چې په ځمکه په ارامۍ سره حرکت کوي او پیاده ورباندې ګرځي[۱]، نو په کار دي چې د ذکرې شوې کلمې اطلاق یوازې په ځمکنیو ساکښانو باندې وشي او بس، لکه چې په بل ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ ﴾ [البقرة: ۱۶۴] یعنې او الله ﷻ په ځمکه کښې (په اوبو سره) هر ډول پیاده مزل کوونکي ساکښان خواره کړي او زیات کړي دي.

حال دا چې په دې مقام کښې د ﴿ فِيهِمَا ﴾ د ضمیر غوښتنه دا ده چې د دغې کلمې اطلاق په اسماني ساکښانو باندې هم وکړی شي، ځکه چې دغه ضمیر اسمانونو ته هم شامل دی؟

مونږ وایو: که څه هم د دغه سوال دپاره مفسرینو کرامو متعدد غیر متبادر جوابونه کړي دي[۲]، مګر کوم چې بهتر برېښي هغه دا دی چې دلته د ﴿ دَآبَّةٍ ﴾ کلمه د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الدَّابَّة" په ملحوظ هر ژوندي مخلوق ته شامله ده[۳]. نو لاندې مخلوقات پکښې ټول شمولیت لري:

الف: پرښتې، چې په اسمانونو کښې الوتنه کوي او کله-کله په ځمکه هم ګرځي لکه چې د بدر په غزا کښې په پیاده مزله باندې لیدلی شوې دي.

ب: پیریان شیطانان، چې دوی هم الوتنه او پیاده ګرځېدل دواړه کولی شي.

ج: په ځمکه باندې نور ساکښان لکه بنیادمان، حشرات او مرغان، چې په پروازونو باندې علاوه په پښو سره هم ګرځي راګرځي.

د: هغه نور ساکښان کوم چې په اسمانونو او سیاراتو کښې موجودیت لري او مونږ ورباندې علم نه لرو، یوازې الله ﷻ پرې پوه دی چې څه کیفیت لري او په څه کمیت کښې شتون لري او داسې نور.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ ﴾ الآية- کښې د ﴿ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ ﴾ څخه ګناهونه مراد دي لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللهُ عَنْهُ أَكْثَرُ. وَقَرَأَ ﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ ﴾ الآية»[۴] یعنې په دنیا کښې بنده ته یو مصیبت نو

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۳۶۹

(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۲۲۴؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۱۹۸

(۳) روح المعاني ج۲۵ ص۳۹؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۱۶

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بورته یا ترې ښکته نه رسېږي مګر په ګناه سره، او د کومې ګناه څخه چې الله ﷻ عفوه کوي هغه بېرې دي، او نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف د استشهاد دپاره قرائت کړ.

نو پوښتنه دا ده چې: په دنیا کښې خو مصیبتونه پیغمبرانو ته هم رسېدلی دی حال دا چې دوی د ګناه څخه په عصمت کښې دي، همدارنګه ماشومانو او لیونیانو ته هم مصیبتونه رسېږي حال دا چې دوی مکلفیت نه لري؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی سوال به په هغه وخت کښې په ځای وی چې په ایت شریف کښې مصیبت خپلي او جنایتکاران د یوې ډلې اشخاصو څخه عبارت وی، خو خبره دغسې نه ده بلکې دلته مطلب دا دي چې: ای بنیادمانو! په تاسو کښې داسې اشخاص شته چې د هغوی د جنایت د کبله په تاسو باندې د معصومانو او همدارنګه د لیونیانو په شمول مصیبتونه درنازلېږي، که څه هم تاسو پخپله جنایتونه نه وي کړي.

همدغه جواب د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال:۲۵] ایت لاندې ښه پوره واضحه شوی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې یو بل جواب هم اضافه کوو چې:

په ایت شریف کښې د مصائبو دپاره د ګناهونو موجودیت د حصر په توګه نه دی ښودلی شوی بلکې د مثال په توګه نازل شوی دی، او دا ځکه چې الله ﷻ کله-کله د ځینو حکمتونو په بنیاد (چې مونږ ورباندې علم نه لرو) او کله-کله د درجاتو او مراتبو د اوچتولو په اساس مصیبتونه رانازلوي[1].

د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا سَبَقَتْ لِلْعَبْدِ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ ابْتَلَاهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ أَوْ فِي مَالِهِ أَوْ فِي وَلَدِهِ ثُمَّ صَبَّرَهُ حَتَّى يُبْلِغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنْهُ»[2] یعنې کله چې یوه بنده ته د الله ﷻ د پلوه څه منزلت (او درجه) ټېره (فیصله) کړی شي خو په خپل عمل سره ورته نه شي رسېدلی، نو الله ﷻ یې په بدن کښې یا په مال کښې او یا په اولاد کښې په مصیبت اخته کوي (او) بیا صبر ورکوي ترڅو چې هغې درجې او منزلت ته یې ورسېږي کومه چې ورته د همده ﷻ د پلوه (په خپل علم کښې) ټاکلې شوې وي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې الله ﷻ د بېړیو درېګونو حالاتو ته اشاره کړې ده. هغه دا:

الف: چې الله ﷻ په ټاکلې اندازې موافق باد وچلوي او په نورمال حالت سره په دریابونو کښې بېړۍ وګرځي راوګرځي ﴿ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِ ٱلْجَوَارِ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴾.

ب: چې الله ﷻ باد بالکل ودروي او بېړۍ د ګناهونو په سبب د دریاب په شا باندې خای په خای ودروي ﴿ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ ﴾.

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۴۱
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: چې الله ﷻ ډېر تېز باد وچلوي او د ګناهونو په سبب يې د طوفان اندازې ته ورسوي او يا ورباندې بل کوم افت نازل کړي نو د ټولو سورليو په شمول بېړۍ غرقه کړي چې د سورليو څخه يې يو کس هم ژوندی پاتې نه شي ﴿ أَوْ يُوبِقْهُنَّ ﴾.

پوره واضحه ده چې الله ﷻ وروستني دواړو حالتونو ته د سورليو د جنايتونو د کبله صورت ورکوي او په عين حال کښې د ډېرو ګناهونو څخه عفوه هم کوي ﴿ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴾. که بالفرض الله ﷻ د ډېرو ګناهونو څخه عفوه ونه کړي نو د بېړيو لومړنی حالت به هم تحقق مونده نه کړي او د ځمکې په سر به يو ساکښ هم ژوندی پاتې نه شي لکه چې په [فاطر: ۴۵] ايت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

## غير مناسب تفسيرونه

۴ـ په کوم ډول سره چې مونږ ذکر شوي ايتونه تفسير کړه هغه د همدې مجموعې د اولنی ايت سره تناسب او توافق لري، خو ځينو مفسرينو کرامو په دې مقام کښې غير مناسبو تفسيرونو ته لاس اچولی دی، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د ﴿ وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴾ جمله په ﴿ يُوبِقْهُنَّ ﴾ باندې عطفه ده او حاصل يې داسې اخستی دی[1] چې که د الله ﷻ اراده وشي نو د جنايتونو د کبله به د بېړۍ ځينې سورلۍ هلاکې کړي او ځينو ته به يې نجات ورکړي او د ډېرو ګناهونو څخه به عفوه وکړي.

ب: ذکره شوې جمله په مقدره مجزومه جمله باندې عطفه ده چې مونږ ترې "أَوْ يُرْسِلْهَا طَيِّبَةً وَيَعْفُ عَنْ كَثِيرٍ" سره تعبير کولی شو[2]، يعنې او که د الله ﷻ اراده وشي نو موافق او سپېڅلی باد به وچلوي او د ډېرو ګناهونو څخه به عفوه وکړي.

دغه دواړه تفسيرونه د همدې مجموعې د اولني ايت ﴿ وَمَآ أَصَـٰبَكُم ﴾ الآية- سره سمون نه خوري چې د مصيبت د رسېدلو سره-سره الله ﷻ د ډېرو ګناهونو څخه عفوه کوي، نه دا چې که د ډېرو ګناهونو څخه عفوه وکړي نو په مصيبت به يې اخته نه کړي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ أَذْنَبَ فِي الدُّنْيَا ذَنْبًا فَعُوقِبَ بِهِ فَاللهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عُقُوبَتَهُ عَلَى عَبْدِهِ، وَمَنْ أَذْنَبَ ذَنْبًا فِي الدُّنْيَا فَسَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ وَعَفَا عَنْهُ فَاللهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُودَ فِي شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ»[3] يعنې هرڅوک چې په دنيا کښې يوه ګناه وکړي او همدلته ورباندې مجازات شي نو الله ﷻ ددې څخه ډېر عادل دی چې په خپل بنده باندې تکراراً عقوبت ورنازل کړي (او په آخرت کښې يې معذب کړي)، او هرڅوک چې په دنيا کښې يوه ګناه وکړي نو الله ﷻ ورباندې

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۱۷ : تفسير الکشاف ج۱۶ ص۳۳: اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۲۰۵
(۲) تفسير المظهري ج۸ ص۳۲۷
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۱۳، ۲۲۴

Scanned by CamScanner

بردہ واچوي او عفوه ترې وکړي نو الله ﷻ ډېر ښه کریم دی د دې شخه چې په هغه شي کښې بېرته ور وګرځي د کوم شخه یې چې عفوه کړې وي.

نو پوښتنه دا ده چې: که څوک په خپلو ځینو ګناهونو (کفریاتو) باندې په دنیا کښې په مصیبت اخته کړی شي نو ایا په دغه کفریاتو سره په آخرت کښې نه نیولی کېږي؟

مونږ وایو چې: ګناهونه د تعذیب په نسبت په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشل کېږي:

الف: یو ګروپ هغه دی چې د ډېر لویوالي د کبله په دنیا او آخرت دواړو کښې د تعذیب او مصیبت سبب ګرځي لکه کفریات. الله ﷻ په همدې هکله فرمایي چې: ﴿ وَلَعَذَابُ ٱلْأَخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴾ [حم السجدة:۱۶] یعنې عادیان مونږ په دنیا کښې په تېز باد سره هلاک کړه او هرومرو د دوی اُخروي عذاب ډېر رسواکوونکی دی حال دا چې د دوی سره به هیڅ کومک ونه کړی شي.

ب: بل ګروپ هغه دی چې که په دنیا کښې ورباندې تعذیب صورت ونیسي نو په آخرت کښې ورباندې بیا نه تکرارېږي.

په ذکر شوي حدیث کښې همدغه دوهم ګروپ مطلب دی لکه چې په بل حدیث کښې ورباندې نبي کریم ﷺ صراحت کړی دی هغه دا چې: «مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ»[1] یعنې مؤمن نارینه او مؤمنې زنانه ته په دوامداره توګه په ځان او بچیو او هم په مال (او نورو شیانو) کښې مصیبت رسېږي آن تردې چې د الله ﷻ سره په داسې حال کښې ملاقي کېږي چې ګناه او خطاکاري ورباندې شتون ونه لري (د ټولو څخه خلاص شوی وي).

## هېر مو نه شي

۵ـ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې یوازې په تکویني مصائبو کښې بحث روان دی او بس، اما تشریعي مصائب او عقوبات (لکه حُدُود) دلته مطرح نه دي، په کومو کښې چې د الله ﷻ په توفیق د [المائدة:۳۳] ایت لاندې ښه خوندور بحث تېر شوی دی. هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## یو نحوي تحلیل

۶ـ په ﴿ وَيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ ﴾ کښې د "يَعْلَمَ" کلمه منصوبه ده او په یوه مقدره منصوبه کلمه باندې عطفه ده چې مونږ ترې داسې تعبیر کوو "لِيَنتَقِمَ مِنْهُمْ وَيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ" الآية[2]. یعنې که د الله ﷻ اراده وشي نو د ګناهونو په سبب به ډېرې سورلۍ د دې دپاره غرقې کړي چې انتقام ترې واخلي او د دې دپاره چې هغه کسان کوم چې زمونږ په ایتونو کښې په عنادي توګه جګړې کوي پوه شي چې دوی ته د الله ﷻ څخه په غیر د خلاصون هیڅ ځای نشته چې هلته پنا یوسي.

﴿ فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶۵
(۲) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۳۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ
﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ
﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا فَمَنْ عَفَا
وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِۦ فَأُولَٰٓئِكَ مَا
عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ
الْحَقِّ أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

[۳۶] نو کوم شی چې تاسو ته (دلته) درکړی شوی دی، هر شی چې وي، نو (هغه) د حقیر (او) نژدې ژوند (ژر تېرونکې) متاع ده (چې بقاء نه لري).

او کوم شی چې د الله ﷻ په نزد دي (هغه) بهتر او ډېر ښه باقي پاتې کېدونکی دی (البته دا) د هغو کسانو دپاره کومو چې ایمان راوړی وي او په خپل رب ﷻ باندې توکل (او اعتماد) کوي.

[۳۷] او د هغو کسانو (دپاره) کوم چې د لویو ګناهونو او بې شرمه ګناهونو څخه ډډه کوي، او هر کله چې په غضب (او په غُصه) شي نو دوی ښښنه کوي (او خپله غُصه زغمي).

[۳۸] او د هغو کسانو (دپاره) کوم چې خپل رب ﷻ ته اجابت کوي (احکام يې قبلوي)، او لمونځونه دروي، او کار يې په خپل منځکښې شورى وي (شورى ته په ډېر اهميت قائل وي)، او د هغو مالونو څخه انفاق کوي کوم چې مونږ يې ورته روزي کوو.

[۳۹] او د هغو کسانو (دپاره) کومو ته چې کله (د ظالمانو د پلوه) بغاوت (ظلم) ورسېږي نو دوی (بالمثل) انتقام اخلي.

[۴۰] (دوی د دې اصل مراعات کوي چې:) د بدۍ (عقوبت) جزا د هغه مثل بدي (عقوبت) دی.
نو هرڅوک چې عفوه وکړي او (بغاوت کوونکي سره په عفوه) سوله وکړي نو د ده اجر (په بل ځا نه دی بلکې) په الله ﷻ دی، یقیناً شان دا دی چې الله ﷻ ظالمان نه خوښوي (برابره خبره ده چې ابتدايي ظالمان وي او يا په انتقام کښې ظلم کوونکي وي).

[۴۱] او هرومرو هرڅوک چې د خپل مظلومیت څخه وروسته انتقام واخلي نو په هغه باندې هیڅ لاره نشته (چې ملامت کړی شي او د عتاب لاندې واقع کړی شي).

[۴۲] بې شکه ملامتیا (عتاب) په هغو کسانو ده کوم چې په خلکو ظلم کوي او په ځمکه باندې په ناحقه بغاوت (او فساد) کوي.

دغه کسان چې دي دوی لره (په آخرت کښې) دردناک عذاب (تیاکلی شوی) دی.

[۴۳] او ضرور هغه څوک چې (په بغاوت باندې) صبر وکړي او (د انتقام) ښښنه وکړي (نو اجر او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جزا به ورکړی شي او دا څکه چې) یقیناً دغه کارونه (عفوه صبر او مغفرت) د غوره کارونو څخه دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د ځینو عالي صفاتو ذکر نازل شوی وه او څه دلایل ورباندې اقامه کړی شوي وه، په دې ایتونو کښې خلک هڅولی شوي دي چې د همدغو دلایلو څخه د خپلو عقیدو په تصحیح کښې دنیاوې او اُخروي ګټې اوچتې کړي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای خلکو! تاسو د ذکرو شوو دلایلو څخه د الله ﷻ په پېژاندنه کښې ګټه پورته کړئ او په فاني دنیا باندې مه غولېږئ. او دا څکه چې:

الف: کوم شی چې تاسو ته په دغه نږدې او حقیر ژوند کښې درکړی شوی دی هر شی چې وي، هغه ټول فاني دی او د څو ورځو څخه اضافه بقاء نه لري. یا په بل عبارت: لکه چې ټوله دنیا فاني ده همدارنګه دنیاوي ټول شیان هم د هر ژر فاني کېدونکي دي، نو تاسو ترې د آخرت په ملحوظ ګټه پورته کړئ او د متاع البلاغ کار ترې واخلئ؛

ب: کوم شیان چې د الله ﷻ په نزد ستاسو دپاره تیار کړی شوي دي نو هغه د یو پلوه حقیر او بې ارزښته نه دي او د بله پلوه دوامداره دي او ژر فاني کېدونکي نه دي، نو تاسو ته په کار دي چې فاني او حقیر شي ته په باقي او خیر شي باندې ترجیح ورنه کړئ.

۲ـ ای خلکو! تاسو په یاد ولرئ چې د آخرت باقي نعمتونه د هغو کسانو دپاره په نظر کښې نیولی شوي دي کوم چې د لاندې صفاتو درلودونکي دي:

الف: هغه کسان چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبر باندې یې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړی وي او د کفریاتو څخه یې خپل ځانونه بچ ساتلي وي.

ب: هغه کسان کوم چې په خپل رب ﷻ باندې په ټولو حالاتو کښې توکل او اعتماد کوي، چې نه ورباندې د کفارو غاښچیچی اثر غورزولی شي او نه یې څوک تطمیع کولی شي.

ج: هغه کسان کوم چې د کبیره ګناهونو څخه ځان ساتي او هم د هغو ګناهونو څخه کوم چې په عصیان باندې علاوه بې شرمه او بې حیا هم وي.

د: هغه کسان کوم چې کله په غُصه او غضب شي نو خپله غُصه او غضب زغمي او د ښنلو او عفوې څخه کار اخلي.

هـ: هغه کسان کوم چې د خپل رب ﷻ د ارشاداتو منته کوي او په سر او سترګو یې قبلوي.

و: هغه کسان کوم چې خپل لمونځونه د حقوقو او ارکانو سره په ټاکلو وختونو کښې په پښو باندې دروي او همېشوالی ورباندې کوي (بدني عبادتونه کوي).

ز: هغه کسان کوم چې خپل مهم کارونه په خپلمنځي شورا سره فیصله کوي.

ح: هغه کسان کوم چې د هغو مالونو څخه انفاق کوي او زکاتونه ترې ورکوي کوم چې مونږ ورته روزي کړی دی (خپل مالي عبادتونه سرته رسوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ط: بالآخره هغه كسان كله چې ورته د ظالمانو د پلوه ظلم او تېرى ورسېږي نو هغوى انتقام اخلي او تجاوز كوونكو ته غابن ماتوونكى جواب وركوي.

٣ـ اى پيغمبره! د انتقام په هكله په خپل أمت باندې لاندې ارشادات قرائت كړه:

الف: كله چې څوک د بدى جزا (سزا) وركوي نو بايد چې د مثليت څخه وړاندې تېرى ونه كړي او هومره بدي ورسره وكړي څومره يې چې د ده سره كړې وي.

ب: هو! كه څوک بالكل د غچ اخيستو څخه تېر شي او د عفوې لاره خپله كړي او د همدې عفوې په لاره د ظالم سره د خپل خان اصلاح وكړي او روغه جوړه ورسره په نظر كښې ونيسي، نو بې شكه د دغه عفوه كوونكي اجر په بل چا نه دى بلكې په الله ﷻ باندې دى، چې هره وعده يې سل په سلو كښې رښتيا ده.

ج: يقيناً شان دا دى چې الله ﷻ ظالمان مطلقًا نه خوښوي، نه هغه ظالمان چې ابتداءً يې په ظلم پيل كړى وي او نه هغه ظالمان كوم چې په انتقام كښې د مثل څخه تېرى وكړي.

د: اما هر څوک چې د خپل مظلوميت څخه وروسته انتقام واخلي او د انتقام په اخستلو كښې د ظلم څخه خپل خان بچ وساتي او د مثليت څخه تېرى ونه كړي، نو يقيناً په دغو كسانو باندې هيڅ لاره نشته چې څوک ورته د ملامتيا ګوته ونيسي او يا ترې انتقام واخلي او په دوهم ځل سره يې مظلوم وګرځوي.

هـ: يقيناً د ملامتيا او انتقام لاره په هغو خلكو باندې جاري ده كوم چې په خلكو ظلم كوي او په ځمكه كښې په ناحقه بغاوت كوي (فساد خوروي)، نو دغو كسانو ته د قيامت په ورځ دردناک عذاب دى.

و: لنډه دا چې هرڅوک چې د خپل مظلوميت څخه وروسته عفوه وكړي او د صبر څخه كار واخلي (انتقام ورونيسي) نو دغه سړي په عزيمت او اصل باندې عمل وكړ ځكه چې دغه كار د عزيمتي او مقصودي أمورو څخه دى.

## توضيحات

١ـ د ﴿فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ﴾ الآية- مضمون په بل ايت كښې داسې نازل شوى دى چې: ﴿مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ﴾ [النحل:٩٦] يعنې كوم شيان چې ستاسو په نزد دى (اى بنيادمانو!) هغه فاني كيږي (او ډېر ژر د منځه ځي) او كوم چې د الله ﷻ په نزد دى هغه باقي دى (او هيڅكله وربانديې زوال نه ورځي).

٢ـ په ﴿كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ﴾ كښې د "كبائر الإثم" كلمه (چې د كبيره وو ګناهونو څخه عبارت ده) د الله ﷻ په توفيق د [النساء:٣١] لاندې پوره څېړل شوې ده چې بيا څېړلو ته يې اړتيا نه ګورو.

او د "الْفَوَاحِش" كلمه د "فَاحِشَة" جمعه ده چې د الله ﷻ په توفيق د [الأحزاب: ٣٠] ايت لاندې يې لغوي معنى ليكلې شوې ده چې د هغه قول يا فعل څخه عبارت ده كوم چې په بدى او قباحت كښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زیات وي، او د [آل عمران:۱۳۵] ایت لاندې ورباندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده والحمد لله ﷻ؛ نو څه لرې نه ده چې په دې مقام کښې ترې مونږ په بې شرمه او بې حيا ګناهونو سره تعبير وکړو لکه زنا او نور امثال يې.

## غَیظ او غضب څه فرق لري؟

۳_ په ﴿ وَإِذَا مَا غَضِبُواْ ﴾ کښې د ﴿ غَضِبُوا ﴾ کلمه د "غَضَب" _لکه "شَرَف"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د [آل عمران:۱۳۴] ایت لاندې لیکلي دي چې غضب هغې غُصې ته ویل کېږي چې اثار يې د غُصناک په جوارحو څرګند شي او انتقام ورسره ملګرى شي، او د "غَيْظ" کلمه د پټې غُصې څخه عبارت ده چې اثار يې نه وي څرګند شوي.

په همدې ارتباط هلته يو حديث هم لیکلى شوى دى چې موضوع يې ښه پوره واضحه کړې ده، والحمد لله ﷻ، مګر په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ»[1] يعنې کلک سړى پهلوان سړى نه دى، يقيناً کلک سړى هغه سړى دى چې د غضب په وخت کښې خپل ځان اداره کړي (او غير شرعي حرکت ونه کړي).

ب: د نبي کريم ﷺ په حضور کښې دوه کسانو يو تربله ترخې خبرې وکړې چې د يو کس د غُصې څخه مخ تک سور واوښت او رګونه يې نبغ-نبغ ودرېده. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنِّي لَأَعْرِفُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ الَّذِي يَجِدُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»[2] يعنې زه يوه داسې جمله پېژنم (زما زده ده) که دغه په غضب شوى کس يې ووايي نو هغه غضب به ترې محوه شي کوم چې نومووړى يې په خپل ځان کښې مومي (هغه دا جمله ده چې) «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

## د شورى په هکله

۴_ په ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ شُورَىٰ ﴾ په هکله د [آل عمران:۱۵۹] ایت لاندې د الله ﷻ په توفيق لاندې مطالب تېر شوي دي چې بيا لیکلو ته يې اړتيا نه ګورو:

الف: د ﴿ شُورَىٰ ﴾ د کلمې تحليل، چې د تشاور (يو تربله مشوره کولو) معنى ورکوي.

ب: په اسلام کښې شورى کول ډېر زيات ارزښت لري.

ج: نبي کريم ﷺ د هر چا څخه زيات شورى کوونکى وه، البته په هغو چارو کښې چې نصوص به پکښې نه وه او وحي به يې په اړه نزول نه وه موندلى.

د: د شورى د غړو څرنګوالى او څومره والى.

ه: د شورى کوونکو اختلاف بايد څنګه د منځه يووړلى شي؟

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۰۳

(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۳۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: په مشوره ورکولو کښې ټګي کول لوی خیانت دی.

همدارنګه څه نور مطالب هم هلته لیکلی شوي دي، خو دلته ورباندې اضافه کوو چې:

اول: په ذکر شوي عبارت کښې د "أمر" کلمه (چې د شان او کار معنی ورکوي) مبتدأ ده او د ﴿ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ کلمات یې د مبالغې په توګه خبر واقع شوي دي، لکه چې په "زَيدٌ عَدلٌ" کښې د "عَدلٌ" کلمه د "زَيدٌ" دپاره د مبالغې په توګه خبر واقع شوې ده یعنې زید ټول عدل دی.

نو معنی به یې داسې راوځېږي چې: مؤمنان یو تربله مشورې کولو ته دومره په أهمیت قائل دي. لکه چې د دوی ټول کار او ټول شان شوری کول وي او بس.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى اسْتَشَارَنِي فِي أُمَّتِي مَاذَا أَفْعَلُ بِهِمْ فَقُلْتُ: مَا شِئْتَ أَيْ رَبِّهِمْ خَلْقُكَ وَعِبَادُكَ فَاسْتَشَارَنِي الثَّانِيَةَ فَقُلْتُ لَهُ كَذَلِكَ فَقَالَ لَا أُحْزِنُكَ فِي أُمَّتِكَ يَا مُحَمَّدُ!»[1] یعنې یقینًا زما رب تبارک وتعالی زما سره زما د أُمت په هکله مشوره وکړه چې هغه څه دي کوم چې زه یې ورسره وکړم؟ نو ما ورته وویلې څنګه چې ستا خوښه وي (همغسې ورسره وکړه) ای د دوی ربه! دوی ستا مخلوق او ستا بندګان دي. نو الله ﷻ بیا راسره پکښې مشوره وکړه، نو ما ورته دوهم ځل هم همدغه ذکر شوی جواب وویلې. نو الله ﷻ راته وویلې چې: ای محمده! په خپل أُمت کښې به دې نه خپه کوم (نو بیا یې ډېر بشارتونه راکړه).

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا كَانَتْ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا»[2] یعنې کله چې ستاسو آمران ستاسو غوره کسان وي، او غنیان مو سخیان وي، او کارونه مو په خپلو منځو کښې په مشوره سره وي، نو تاسو ته د ځمکې د ګېډې څخه د ځمکې شا بهتره ده (د مرګ څخه درته ژوند غوره دی). او کله چې ستاسو آمران ستاسو شریران خلک وي او غنیان مو بخیلان وي او کارونه مو زنانه وو ته سپارلی شوي وي (په مشوره سره یې نه حل کوئ) نو تاسو ته (په دغه وخت کښې) د ځمکې د شا څخه د ځمکې ګېډه بهتره ده (تاسو ته د ژوند څخه مرګ غوره دی).

څلورم: لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ د خپلو صحابه وو کرام ﷺ سره مشوره کوله همدارنګه خلفاء الراشدین او نور صحابه کرام هم په مشوره کولو باندې ډېر کلک وه چې: «وَكَانَتِ الْأَئِمَّةُ بَعْدَ النَّبِيِّ ﷺ يَسْتَشِيرُونَ الْأُمَنَاءَ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْأُمُورِ الْمُبَاحَةِ لِيَأْخُذُوا بِأَسْهَلِهَا فَإِذَا وَضَحَ الْكِتَابُ أَوِ السُّنَّةُ لَمْ يَتَعَدَّوْهُ إِلَى غَيْرِهِ»[3] یعنې دوی د امینانو کسانو څخه مشورې غوښتلې چې د اهل العلم څخه عبارت دي. البته په مباحو أُمورو کښې به یې د دې دپاره مشورې غوښتلې چې اساني پکښې ولټوي او عمل

(١) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص٩٤
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٥٢
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٩٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورباندې وکړي، خو کله به چې کتاب الله او د رسول الله ﷺ سنت واضحه شو نو بیا به یې د هغه څخه بل شي ته تجاوز نه کاوه (مشورې ته به اړتیا نه وه).

## انتقام بهتر دی که عفوه؟

۵_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴾ کښې انتصار (انتقام) د مؤمنانو د عالي صفاتو څخه شمېرلې شوی دی، حال دا چې د همدې مجموعې د لومړي ایت څخه څرګندېږي چې مغفرت او عفوه د عالي صفاتو څخه ده، همدارنګه د نور نصوص هم په همدغه مطلب باندې دلالت کوي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿ خُذِ ٱلْعَفْوَ ﴾ [الأعراف:۱۹۹] یعنې ای پیغمبره! عفوه کول کلک ونیسه (همدا خپل عادت وګرځوه).

ب: ﴿ وَلْيَعْفُواْ وَلْيَصْفَحُوٓاْ ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ [النور:۲۲] یعنې او مؤمنان دې عفوه وکړي او (د جنایتکارانو څخه) دې مخونه واړوي، (ای مؤمنانو!) ایا تاسو نه خوښوئ چې الله ﷻ تاسو ته مغفرت وکړي؟

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ رَجُلًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ»[۱] د مال څخه هیڅ خیرات څه نقصان نه واقع کوي، او په عفوې سره الله ﷻ هیڅ سړي ته نه زیاتوي مګر عزت او (بالآخره) هیڅوک د الله ﷻ دپاره تواضع نه کوي مګر الله ﷻ به یې اوچت او لوړ کړي.

د: أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها په یوه اوږده حدیث کښې د نبي کریم ﷺ د عالي صفاتو په بیان کښې وایي چې: «وَلَا انْتَقَمَ لِنَفْسِهِ شَيْئًا يُؤْتَى إِلَيْهِ»[۲] یعنې نبي کریم ﷺ نه وه چې د خپل خان دپاره یې د کوم داسې شي څخه انتقام اخستی وی کوم چې به ورته وروستلی شو.

ه: همدارنګه یو ځل یوه سړي ابو بکر رضي الله عنه ته د نبي کریم ﷺ په حضور کښې سختې سپورې خبرې وکړې او نوموړي رضي الله عنه ورته جواب نه ورکاوه، خو کله چې دریم ځل کښې یې ورته بالمثل جواب ورکړ، نو سمدستي نبي کریم ﷺ د مجلس څخه اوچت شو. أبو بکر رضي الله عنه ترې پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ایا ته په ماباندې په غُصه شوې؟

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَزَلَ مَلَكٌ مِنَ السَّمَاءِ يُكَذِّبُهُ بِمَا قَالَ لَكَ فَلَمَّا انْتَصَرْتَ وَقَعَ الشَّيْطَانُ فَلَمْ أَكُنْ لِأَجْلِسَ إِذْ وَقَعَ الشَّيْطَانُ»[۳] د اسمان څخه یوه پرښته رانښکته شوه چې د کنځل کوونکي تکذیب یې کاوه (چې دغسې نه ده لکه چې ته یې أبو بکر رضي الله عنه ته نسبت کوې)، نو کله چې تا د نوموړي څخه انتقام واخست (او بالمثل جواب دې ورکړ) نو شیطان (په منځکښې) واقع شو، نو زه

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۳۱۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وم چې هلته کېنم کله چې شیطان په منځکښې واقع شو (او په مجلس کښې شریک شو).

و: یو ځل موسی ﷺ وویلې چې: «يَا رَبِّ! مَنْ أَعَزُّ عِبَادِكَ عِنْدَكَ» ای ربه! ستا د بندګانو څخه کوم بنده ستا په نزد معزز دی؟ الله ﷻ جواب ورکړ چې: «مَنْ إِذَا قَدَرَ غَفَرَ»[1] یعنې څوک چې (د خپل جنایتکار څخه د غچ اخستلو) قدرت مونده کړي (خو سره د دې ورته) مغفرت او عفوه وکړي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا انتقام او عفوه (چې په مصداق کښې سره تضاد لري) دواړه د عالي صفاتو څخه شمېرلی کېدی شي؟

مونږ وایو چې د دغه سوال د جوابولو دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[2]، لاندې مثالونه یې ولولی:

اول: انتصار (انتقام) په هغه وخت کښې د عالي صفاتو څخه شمېرل کېږي چې کله په کفارو پورې تعلق ونیسي او په جهاد ورسره پیل وکړی شي، او عفوه او مغفرت د مسلمانانو جنایتکارانو په ارتباط د عالي صفاتو څخه دی.

دوهم: انتصار (انتقام) د هغه جنایتکار په لحاظ عالي صفت دی چې کله نوموړی خپل جنایت ته ادامه ورکوي او په خپلو کړو باندې پښېمان نه وي ګرځېدلی او جرئت یې لا زیاتېږي. او عفوه باید هغه جنایتکار ته وکړی شي کوم چې په خپل جنایت باندې پښېمان وي او په عفوې سره لا نور پښېمان ګرځي او خجالت خوري.

## تبصره

۶ـ په داسې حال کښې چې مونږ ذکر شوي جوابونه نه ردوو، بهتره ګڼو چې په جواب کښې ووایو په دې مقام کښې د ﴿ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴾ دپاره د ﴿ وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾ کلمات د قید حیثیت لري نو حاصل به یې داسې راوځېږي:

انتصار (انتقام) مطلقًا د عالي صفاتو څخه نه دی ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د مماثلت په لحاظ د دغو صفاتو څخه ګرځي. یا په بل عبارت: مؤمنان د خپلو غُصو زغمونکي دي او عادت یې عفوه او تېرېدنه ده، خو کله چې انتصار (انتقام) اخلي نو ضرور د مماثلت مراعات کوي. اما د مسلمانانو څخه په غیر نور خلک نه د غُصې په وخت کښې خپل ځانونه کنترولولی شي چې عفوه او مغفرت وکړي، او نه د انتصار او انتقام په وخت کښې په مماثلت باندې قائم پاتې کېدلی شي بلکې ضرور د مماثلت څخه تجاوز کوي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ﴾ کښې د ﴿ سَيِّئَةٍ ﴾، ﴿ سَيِّئَةٌ ﴾ دواړه

(۱) شعب الایمان للبیهقي ج۶ ص۳۱۹

(۲) زاد المسیر ج۷ ص۸۴؛ تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۳۱۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۳۹؛ روح المعاني ج۲۵ ص۴۷؛ التفسیر الکبیر ج۲۷ ص۱۷۷؛ تفسیر المظهری ج۸ ص۳۲۹؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمې د بدیو معناوې ورکوي حال دا چې د مثلیت په ملحوظ خو انتقام بدي نه ده بلکې نیکي ده چې شریعت اجازه ورکړې ده؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو کرامو په نزد په دې مقام کښې د انتقام څخه د "سَيِّئَةٌ" په کلمې سره د مقابلې او مشاکلت په توګه تعبیر کړی شوی دی، چې د ﴿ سَيِّئَةٍ ﴾ لومړی کلمه د جنایت څخه عبارت ده چې په بدیتوب کښې یې څه شک نشته[1].

خو بهتره دا ده چې دلته ذکرې شوې دواړه کلمې د عقوبت معناوې ورکړې، یعنې د عقوبت جزا بالمثل عقوبت دی. نو د سوال دپاره هیڅ موقع نه پاتې کېږي.

په همدې مطلب باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ ﴾ [النحل: ۱۲۶] یعنې او که تاسو (خپلو جنایتکارانو ته) عقوبت ورکاوه نو د هغه عقوبت په مثل عقوبت ورکړئ په کوم سره چې تاسو عقوبت کړی شوی یاست.

## دلته شرعي مماثلت مطلب دی

۸_ په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مِّثْلُهَا ﴾ څخه شرعي مماثلت مطلب دی او بس، د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: د وژلو مثل وژل دي، چې په شرعه کښې ورته د قصاص نوم اینښودلی شوی دی.

ب: د زخمونو امثال زخمونه دي لکه د غابنماتي په عوض غابن ماتول او داسې نور، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ﴾ [المائدة: ۴۵] یعنې او مونږ په تورات کښې فرض کړي وه چې یقیناً ټول زخمونه یو برابر دي (هر یو زخم په خپل مثل سره انتقام کېدی شي).

ج: که څوک بل ته د "أَخْزَاكَ اللهُ" کلمه استعماله کړي، نو په عین کلمې سره جواب ورکول کېدی شي او بس. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

یو ځل أم سلمی رضي الله عنها (أم المؤمنین) د نبي کریم ﷺ په حضور کښې عائشې رضي الله عنها (أم المؤمنین) ته سخې سپورې خبرې وکړې، نبي کریم ﷺ منعه کړه چې غلې شه، خو نوموړې غلې نه شوه. نو نبي کریم ﷺ عائشې رضي الله عنها ته وویلې چې: «سُبِّيهَا» یعنې ته هم ورته سخې سپورې خبرې واوروه (او انتقام ترې واخله) «فَسَبَّتْهَا حَتَّى غَلَبَتْهَا»[2] نو عائشې رضي الله عنها نوموړې وکنځله تردې چې ورباندې غالبه شوه (او غلې یې کړه).

د: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ دَعَا عَلَى مَنْ ظَلَمَهُ فَقَدِ انْتَصَرَ»[3] یعنې څوک چې هغه چا ته ښېرا وکړي (بدې ورته وغواړي) کوم چې ورباندې ظلم کړی وي نو یقیناً هغه خپل انتقام واخست.

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۲۱۲، البحر المحیط ج۹ ص۳۴۴

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۵۱، سنن ابن ماجه ص۱۴۲

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: که څوک بل ته داسې کلمه واوروي چې د حد قذف موجبه وي، نو په کار دي چې په عین کلمې سره جواب ورنه کړی شي بلکې د انتقام دپاره باید محکمې ته وړاندې کړی شي ترڅو وربانديې شرعي حد جاري کړي چې همدغه يې شرعي مثل دی او بس[۱].

و: که د چا د أقاربو سره د زنا شنیع عمل اجراء کړی شوی وي (العیاذ بالله) نو جواز نه لري چې عین عمل د جنایتکار د اقاربو سره ترسره کړی شي، بلکې په کار دي چې دغه مسئله هم په شرعي چوکاټ کښې واچوله شي.

ز: که په مال سره بغاوت صورت نیولی وه، نو کولی شي چې د خپل تلف کړی شوي مال په اندازه تري مال ترلاسه کړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وايي چې: ایا جائزه ده چې څوک خپل هغه اندازه مال بالمثل په خیانت یا غلا سره ترلاسه کړي په کوم باندې چې جنایتکار ګېډه اچولې وي؟

مونږ وایو چې: په دغې موضوع کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو وېشلي شوي دي[۲]:

الف: خینې وايي چې: په خیانت سره د خپل مال بالمثل ترلاسه کول جواز نه لري، ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ»[۳] یعنې هغه چاته امانت ببرته وسپاره کوم چې تاته یې امانت درکړی وي، او ته د هغه چا سره خیانت مه کوه کوم چې ستا سره یې خیانت کړی وي.

دوی وايي چې ذکر شوي مظلوم باید چې خپل حق د قاضي او حاکم له لارې ترلاسه کړي.

ب: خینې نور وايي چې: دغه مظلوم ته جائزه ده چې خپل حق بالمثل لاس ته وروړي، په هره ذریعه چې صورت ونیسي باک یې نشته. او دا ځکه چې:

اول: دغه ایت شریف چې بحث پکښې روان دی بدني او مالي ټولو انتقامونو ته شامل دی.

دوهم: د قاضي او حاکم په وړاندې هرڅوک خپل حق په اثبات نه شي رسولی، چې دعوه کول سل بناخونه لري (دعوه صد شاخ دارد)، او همدارنګه د جنایتکارانو بهانې او پلمې هم ډېرې زده وي، چې هرڅوک وربانديې خپل حق نه شي منلی.

دریم: په ذکر شوي ډول سره د خپل حق رانیول د وړاندېنې حدیث لاندې هم نه واقع کېږي چې په دغه وخت کښې د خپل حق رانیول خیانت نه دی، که څه هم ظاهراً خیانت څرګندېږي. د همدې مطلب دپاره د نبي کریم ﷺ دغه حدیث ولولئ چې فرمايي: «إِنَّ ذَلِكَ لَيْسَ بِشِفَاءٍ وَلَكِنَّهُ دَاءٌ»[٤] یعنې یقینًا دغه شراب شفاء نه ده (حرام دي) بلکې مرض (او هم ګناه) ده.

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۵۰

(۲) تفسیر القرطبي ج۱٦ ص٤۱

(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۳۹؛ مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۲۵۷

(٤) سنن ابن ماجه ص۲۵۰؛ مسند احمد بن حنبل ج٦ ص٤٦۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د دې سره-سره همدغه شراب څښل د مجبوريت په وخت کښې جائز دي چې په دغه وخت کښې حلال دي او حرام نه دي (د حديث لاندې نه داخلېږي).

په دې باندې علاوه ځينې علماء کرام وايي[۱] چې: د «وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ» په حديث کښې د زنا فعل مطلب دی. يعنې د هغه چا د محارمو سره بالمثل معامله مه کوه چا چې ستا د محارمو سره شنيع عمل کړی وي. دغه موضوع وړاندې په اتمه توضيح کښې ښه واضحه شوې ده، والحمد لله ﷻ

﴿ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيٍّ مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَتَرَى ٱلظَّـٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴿٤٤﴾ وَتَرَىٰهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَـٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِىٍّ ۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ ٱلْخَـٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ فِى عَذَابٍ مُّقِيمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾ ﴾

[۴۴] او هر هغه څوک چې الله ﷻ يې ګمراه کړي نو ده لره هيڅ دوست نشته (چې) د الله ﷻ (د پلوه د ګمراه کولو) څخه وروسته (يې د ګمراهۍ څخه وژغوري).

او ته به ظالمان ګورې هرکله چې هغوی (په خپلو سترګو) عذاب (دوزخ) وګوري چې وايي به: ايا بېرته ستنبدلو ته څه لاره شته؟ (چې مونږ وربانديې دنيا ته ورستانه شو).

[۴۵] او ته به کفار ګورې چې په دوزخ باندې به په داسې حال وړاندې کولی کېږي چې د ذلت د کبله به عاجزي کوونکي (او ډارېدونکي) وي (او) په پټو کتلو به سره (د سترګو لاندې دوزخ ته) ګوري.

او هغه کسان به ووايي کومو چې (په دنيا کښې) ايمان راوړی دی چې: يقيناً کامل زيانکاران هغه کسان دي کوم چې خپل ځانونه او خپلې کورنۍ يې (په بله ورخ کښې نه بلکې) د قيامت په ورځ په زيان کښې اچولي دي (چې د نجات لاره ورته په هيڅ ډول نه موندله کېږي).

اګاه اوسئ چې يقيناً ظالمان (کفار) په دائمي عذاب کښې دي (چې بالکل انقطاع نه لري).

[۴۶] او کفارو ته به (په دغې ورځ کښې) د الله ﷻ څخه پرته هيڅ دوستان شتون ونه لري چې کومک ورسره وکړي (او د عذاب مخ ترې واړوي لکه چې دوی په دنياکښې خيال کاوه)، او هر څوک چې الله ﷻ يې ګمراه کړي نو هغه ته (د نجات) هيڅ لاره نشته.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو په مضمون باندې رڼا اچولې شوې ده چې آخرت د مؤمنانو

(۱) المحرر الوجيز ج۹ ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره د دنیا ځخه بهتر دی او د کفارو دپاره خبره بالعکس ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د آخرت څه حالات قرائت کړه ترڅو دوی ته جوته شي چې رښتیا د کفارو دپاره هلته هیڅ خیر نشته. هغه دا چې:

۱ـ که څه هم دنیا او څه چې په دنیا کښې دي ټول فاني او ډېر ژر د منځه تلونکي دي، خو د دې سره-سره د آخرت د دائمي نعمتونو دپاره ذریعه او سبب جوړېدلی شي. مګر په دې باندې هغه کسان پوهېږي او ګټه ترې پورته کولی شي کومو ته چې الله ﷻ هدایت کړی وي او توفیق یې ورته په برخه کړی وي او بس.

اما هغه کسان کوم چې الله ﷻ د حکمتونو او خپلو استعدادونو په مطابق ګمراه کړي وي او توفیق یې ورته نه وي په برخه کړي، هغوی ذکر شوی مطلب نه شي درک کولی او ګټه ترې نه شي اوچتولی. او دا ځکه چې: هغوی ته د الله ﷻ د ګمراه کولو ځخه وروسته هیڅ دوست نشته چې په لاره یې سم روان کړي او د نېکو کارونو د کولو توفیق ورپېرزو کړي.

۲ـ ذکر شوي ګمراهان به په هغه وخت کښې خپلو غلطیو ته متوجه شي کله چې دغه ظالمان د دوزخ عذاب په خپلو سترګو وګوري او باوري شي چې په دنیا کښې په غلطه لاره روان وه، نو په دغه وخت کښې به یې حالات داسې جوړ شي چې:

الف: په دغه وخت کښې به ته ظالمان وګورې او ترې به واورې چې په حسرت او افسوس سره به پوښتنه کوي چې: ایا بېرته دنیا ته د ورستنېدلو څه لاره شته چې مونږ بېرته هلته ستانه شو او ایمان او هم صالح عمل دواړه خپل کړو؟.

ب: په دغې ورځ کښې به هغوی په دوزخ باندې وروړاندې کولی کېږي او هلته به ورتېلوهلی کېږي حال دا چې هغوی به د ذلت او خوارۍ د کبله ډېر عاجزي کوونکي وي او دنیاوي تکبر به ورسره شتون ونه لري.

ج: په عین حال کښې به د ډېر خجالت او زیات ډار د کبله دوزخ ته نېغ نه شي کتلی بلکې د سترګو لاندې او په نیم غړېدلو سترګو به ورته ګوري.

۳ـ په دغه وخت کښې به د کفارو د تخجیل دپاره مؤمنان ووایي چې: یقیناً پوره زیانکاران هغه کسان دي کومو چې خپل ځانونه او خپلې کورنۍ په نن ورځ (د قیامت په ورځ) په تاوان کښې اچولې دي، چې نه یې د خلاصون څه چاره شته او نه یې د تاوان او زیان څه جبران ممکن دی.

۴ـ ای خلکو! تاسو په لاندې ټکو اګاه اوسئ چې بالکل حقیقت لري:

الف: په یقیني توګه به ظالمان (کفار) د قیامت په ورځ په دائمي عذاب کښې وي، چې نه به ورباندې تخفیف کړی شي او نه به ترې خارج کړی شي.

ب: همدغو کفارو ته د الله ﷻ ځخه پرته په هیڅ ډول سره دوستان نشته چې مرسته ورسره وکړي او د الله ﷻ د عذابه نجات ورکړي او یا ورباندې څه تخفیف ورښکته کړي، لکه چې دوی په دنیا کښې خیال کاوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: لنډه دا چې هر چاته چې د الله ﷻ د پلوه ګمراهي ورپه برخه کړی شي نو هغوی ته هیڅ لاره نشته، چې یا ورته د هدایت لاره مونده شي او یا د نجات کومه لار ترلاسه کړی شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ ﴾ کښې لاندې ټکي په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: د ﴿ مِن ﴾ توری د ﴿ يَنظُرُونَ ﴾ پورې تعلق نیسي چې مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره اخستی دی[۱]، مونږ ته بهتر بریښي چې د "ب" معنی ورکړي.

ب: د ﴿ طَرْف ﴾ کلمه د کتلو په وخت کښې د بڼو ښورولو ته وضعه شوې ده[۲]، څرنګه چې په دې مقام کښې په ﴿ خَفِي ﴾ سره توصیفه شوې ده نو د پټو کتلو معنی ورکوي، چې مونږ ترې په پښتو کښې د سترګو لاندې په کتلو سره تعبیر کوو.

یعنې کله چې کفار دوزخ ته وروړاندې کړی شي او د ورغورزولو وخت یې ور ورسېږي نو دوی به ورته له ډېره ډاره په غړولو سترګو نه ګوري بلکې د سترګو لاندې به ورته ګوري، لکه چې د وژلو دپاره درولی شوی سړی د سترګو لاندې د جلاد تورې ته ګوري.

۲ـ په ﴿ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ کښې ځینو علماوو کرامو د ﴿ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ کلمې ته په ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ کښې د "قَالَ" پورې تعلق ورکړی دی[۳]، مونږ ته بهتره بریښي چې ذکره شوې کلمه په ﴿ خَسِرُوٓاْ ﴾ پورې مربوطه وګڼله شي. یعنې کامل زیانکاران هغه کسان دي کوم چې په خپلو خانونو باندې علاوه خپل خپلوان او پیروان هم په زیان کښې اچولي وي، او دا هم په بله ورځ نه بلکې د قیامت په ورځ چې په هیڅ وجه یې مخنیوی ممکن نه دی.

همدې مضمون ته ورته مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ ٱلۡبَوَارِ ﴾ [إبراهيم:۲۸] یعنې ته هغو کسانو ته نه ګورې چې د الله ﷻ نعمت یې په کفر سره تبدیل کړ او خپل قوم یې د هلاکت په کنده کښې ورواچاوه.

﴿ ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا لَكُم مِّن مَّلۡجَإٖ يَوۡمَئِذٖ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٖ ۝٤٧ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظًاۖ إِنۡ عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ فَرِحَ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ۝٤٨ لِّلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۲۱۶
(۲) لسان العرب ج۹ ص۲۱۳
(۳) تفسير ابي السعود ج۸ ص۳۵؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

[۴۷] (ای خلکو!) تاسو د هغه څخه وړاندې خپل رب ﷻ ته اجابت وکړئ (او ارشادات يې قبول کړئ) چې داسې يوه ورځ راشي (قائمه شي) چې هغې ورځې ته د الله ﷻ د پلوه هيڅ بېرته ستنول نشته. په دغې ورځ کښې تاسو ته د پنا اخستو هيڅ ځای نشته او نه (پکښې) تاسو ته انکار شته (چې د خپلو کفرياتو څخه انکار وکړئ او څه ګټه درته ورسوي).

[۴۸] (ای پيغمبره!) نو که خلکو اعراض وکړ (او ستا دعوت يې قبول نه کړ) نو (په دې صورت کښې) خو مونږ په دوی باندې ته ساتونکی نه يې استولی، په تاباندې نه دی مګر د ارشاداتو ابلاغ دی (چې دا کار تا په ښه توګه سرته رسولی دی).

او يقينًا مونږ چې کله انسان ته د خپله جانبه رحمت ورروڅکو (او نعمت ورباندې ورنازل کړو) نو نوموړی پرې خوشاله شي (او تکبر ته لاس واچوي)، او که چرته ورته څه ډول بدي (مصيبت) ورسېږي (البته) د هغو جنايتونو په سبب کوم چې د دوی لاسونو وړاندې (کسب) کړي وي. نو يقينًا (په دغه وخت کښې) بنيادم ډېر ناشکره دی (انسان د طبيعت په ملحوظ مضطرب الحال دی الا من شاء الله ﷻ).

[۴۹] خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو پاچاهي (واکداري) ده. (هيڅوک پکښې ورسره برخه نه لري، د همدې کبله يوازې بدون د اشتراکه) هغه شی پيدا کوي کوم ته يې چې اراده وشي، او هغه چاته (سوچه) لورګانې ببښي کوم ته يې چې اراده وشي، او هغه چا ته (سوچه) نارينه (اولادونه ببښي کوم ته يې چې اراده وشي.

[۵۰] يا (هغه چا ته يې چې اراده وشي) نارينه او ښځينه (دواړه ډوله اولادونه) ورته جوړه ګرځوي، او هغه څوک (نارينه وي او که ښځينه) شنډ ګرځوي کوم ته يې چې اراده وشي.

يقينًا الله ﷻ پوه (او) قدرتمند دی (د خنثی په پيدا کولو باندې هم قدرت لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ايتونه په دې ختم شوي وه چې د قيامت په ورځ به کفارو ته هيڅ لاره مونده نه شي چې يا پرې دنيا ته ستانه شي او هلته ايمان راوړي او نېک عمل وکړي، او يا ورباندې د هغې ګمراهی څخه خلاص شي په کومه باندې چې الله ﷻ اخته کړي دي.

په دې ايتونو کښې د نجات لاره ښودلې شوې ده چې سړی ورباندې د بې وخته ارمان او حسرت څخه بچ کېږي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! خپل دعوتي أُمت مخاطب کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووايه چې:

۱ـ ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ ارشاداتو ته غاړې کېږدئ او په سر او سترګو يې ومنئ ترڅو تاسو د قيامت د ورځې د حسرت او افسوس څخه نجات مونده کړئ. ځکه چې:

الف: دغه ورځ تاسو ته په ډېره جلتۍ سره در روانه ده چې د الله ﷻ د پلوه ورته بالکل بېرته ستنول او يا د خپل ټاکلي وخت څخه وروسته کول نشته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دغې ورځ کښې تاسو ته د پنا اخستلو هيڅ ځای شتون نه لري، که څه هم په دنيا کښې تاسو د قيامت د قيام څخه منکران یاست او باور ورباندې نه خپلوئ مګر هلته به ترې انکار ونه شئ کړی او هر څه به په ډاګه وګورئ، او په خپلو دنياوي کړو وړو به پښېمانه جوړ شئ خو دغه پښېماني به درته هيڅ ګټه ونه رسوي.

۲ـ ای پیغمبره! که ستا دعوتي اُمت ستا بلنه قبوله نه کړه او اعراض يې ترې وکړه چې مخونه يې ترې واړول، نو ته مه خپه کېږه. ځکه چې:

الف: ته خو مونږ په هغوی باندې ساتونکی او مراقب نه يې استولی چې د هغوی د جنايتونو پوښتنه به ستا څخه وکړی شي.

ب: ستا ذمواري فقط ابلاغ او رسونه ده چې دا کار تا په بشپړه توګه اداء کړی دی او زمونږ ارشادات دې ورته پوره رسولي دي، نور نو دوی پوهېږي او کار يې.

ج: په دې باندې علاوه، بنيادم د طبیعت په لحاظ هم ناشکره دی او هم بې صبره، د همدې کبله:

اول: کله چې ورته مونږ خپل رحمت وروڅکوو او د خپله جانبه ورباندې مهرباني وکړو نو سمدستي ورباندې د تکبر خوشالي کوي او ناشکري ته ملا تړي او زمونږ د انعام هيڅ خيال نه ساتي چې ايمان راوړي او نېک عمل خپل کړي.

دوهم: او که بنیادم ته د خپلو جنايتونو په نتيجه کښې څه بدي او مصيبت ورسېږي نو په دغه وخت کښې د بې صبرۍ څخه کار اخلي.

دريم: نو يقيناً بنيادم د طبيعت په ملحوظ ډېر ناشکره او بې صبره دی، نو که ستا دعوت نه قبلوي ته پرې ډېر مه غمژن کېږه، ته د الله ﷻ لوی نعمت يې خو په تاباندې تکبر کوي.

د: خاص الله ﷻ ته داسمانونو او ځمکو پاچاهي او واکداري ده، يوازې په خپله خوښه هغه شی پيدا کوي کوم ته يې چې اراده وشي، خپلو ټولو کارونو ته د حکمتونو په بنياد صورت ورکوي، او هيڅوک ترې پوښتنه نه شي کولی چې دا کار دې ولې وکړ؟ او هغه ولې نه کوې؟.

۳ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ کامله واکداري د بنيادمانو په پيداکولو کښې خلکو ته ډېره ښه څرګندېږي نو په کار دي چې عبرت ترې واخلي. هغه دا چې:

الف: هغه چا ته يې چې اراده وشي يوازې لورګانې ببښي او ټول اولادونه يې ښځينه ګرځوي.

ب: هغه چا ته يې چې اراده وشي يوازې زامن وربېرزو کوي چې ټوله اولاده يې نارينه جوړوي.

ج: هر چا ته يې چې اراده وشي هغوی ته نارينه او ښځينه اولادونه دواړه ډوله وربښي، چې ځينې يې نارينه او ځينې يې ښځينه ګرځوي.

د: بالآخره چا ته يې چې اراده وشي هغه شنډ ګرځوي، چې د ځينو نارينه وو دپاره د اولادونو زېږونه صورت نه نيسي او ځينې ښځينه اولاد نه شي زېږولی.

يقيناً الله ﷻ پوه دی، د خپلو حکمتونو په بنياد ذکرو شوو صورتونو ته موجوديت ورکوي، او هم په هر شي باندې د کامل قدرت خاوند دی، حتی چې دوه ضدين هم سره جمعه کولی شي چې په يوه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رحم کښې لور او زوی دواړه په یوه وخت کښې دوه تنه یا ډېر غبرګونکي پیدا کړي، همدارنګه په یوه شخص کښې د نارینه وو او ښځینه وو (دواړو) امتیازات موجودولی شي چې خنثی ترې جوړ کړي.

## توضیحات

۱ _ که څوک وايي چې: په ﴿وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ﴾ کښې د ﴿نَّكِيرٍ﴾ کلمه د "أَنْكَرَ _لکه أَفْعَلَ_ دپاره غیر قیاسي مصدر ده چې د انکار معنی لري[1] یعني ستاسو (کفارو) دپاره به د قیامت په ورځ هیڅ انکار نه وي خو په دنیا کښې مو انکار خپل کړی دی؛ حال دا چې الله ﷻ په [الأنعام:۲۳] ایت کښې مونږ ته د همدوی د خولو څخه انکار راحکایت کړی دی چې مونږ په دنیا کښې مشرکان نه وو؟ مونږ وایو چې: ځرنګه چې دقیامت په ورځ هغوی ته انکار څه ګټه نه شي رسولی او د اندامونو په شهادت سره د اعتباره لوېږي، نو داسې وګڼلی شو لکه چې بالکل یې انکار نه وي کړی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ _ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په دې مقام کښې د خنثی (نرښځي) ذکر نازل نه کړ حال دا چې په اولادونو کښې دغه ډول اولادونه هم مونده کېږي لکه چې لومړنی نرښځی د جاهلیت په زمانه کښې (د نبي کریم ﷺ د مبعوثیت څخه وړاندې) تولد شوی وه[2]؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ د خنثی (نرښځي) ذکر ته په اشارې سره اکتفاء وکړه او په صراحت سره یې د هغه ذکر نازل نه کړ ترڅو خلک پوه شي چې د دغه ډول مولود موجودیت ډېر لږ لږ صورت نیسي یا په بل عبارت: د نرښځي ذکر ته په دغو جملو کښې اشاره شوې ده چې:

الف: په ﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾ کښې. یعنې الله ﷻ هغه شی پیدا کوي کوم ته یې چې اراده وشي (لکه نرښځی او داسې نور).

ب: په ﴿إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾ کښې. یعنې یقیناً الله ﷻ پوه (او په هر شي باندې) د قدرت درلودونکی دی (حتی چې نرښځی او د ده امثال هم پیدا کولی شي).

﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾﴾

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۵۲

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۵۱، البحر المحیط ج۹ ص۳۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۱] د هیڅ بشر دپاره نه ښایي (او نه ورته ممکنه ده) چې الله ﷻ ورسره (د وجوهو څخه په یوه وجه) خبرې وکړي مګر په پټ کلام سره (چې په اواز او حروفو باندې اشتمال ونه لري او د الله ﷻ د پلوه د هغه د زړه سره تماس ورکړی شي)، یا (په داسې کلام سره چې) د پردې په هغې خوا (د پردې ترشا صورت ورکړی شي. او بالآخره) یا (په داسې کلام سره چې) الله ﷻ یوه پرښته ورولېږي نو (د همدغې پرښتې په ذریعه بنیادم ته) په خپل إذن (أمر) سره هغه څه وحې کړي کوم ته یې چې اراده وشي.
یقیناً الله ﷻ (د هر حیثه) اوچت (او) د حکمت څښتن دی (نو د عالي شان د کبله د حکمتونو په بنیاد کارونو ته صورت ورکوي).

[۵۲] او (ای پیغمبره!) په دغو ډولونو سره مونږ تاته د خپل امر (او فرمان) د کبله روح در وحې کوو (چې ته ورباندې مړه زړونه راژوندي کړې).
(ای پیغمبره! د نبوت څخه وړاندې) ته نه وې چې وپېژنې چې کتاب (قرآن کریم) څه شی دی، او (هم نه پوهېدې چې په دغه کتاب باندې) ایمان څه شی دی، مګر مونږ دا کتاب رڼا وګرځاوه (او تاته مو درنازل کړ نو) مونږ ورباندې د خپلو بندګانو څخه هغه چاته هدایت کوو کومو ته چې زمونږ اراده وشي. او یقیناً ته چې یې هرومرو برابرې لارې ته ښودانه کوې.

[۵۳] (البته) د هغه الله ﷻ لارې ته چې همده ﷻ ته هغه شیان دي کوم چې په اسمانونو کښې دي (او (هم) هغه شیان کوم چې په ځمکو کښې دي.
(ای خلکو!) اګاه اوسئ چې خاص الله ﷻ ته (د مخلوقاتو) ټول کارونه (د قیامت په ورځ) ورګرځي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د کاملې واکدارۍ هغه مثال ته اشاره شوې وه، کوم چې د بنیادمانو په پیداکولو پورې تعلق نیسي چې ډول-ډول اولادونه وربښي. په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وحې په هکله د کاملې واکدارۍ څه وضاحت نازل شوی دی چې په متعددو طریقو سره صورت ورکوي، او د بله پلوه پکښې هغه نور څه کیفیت نازل شوی دی په کوم باندې چې د الله ﷻ مستقیمه لاره روښانه ګرځي. نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د وحې په ارتباط د الله ﷻ د کامل قدرت یو مثال قرائت کړه هغه دا چې:
۱ـ هیڅ بنیادم ته ممکنه نه ده چې د الله ﷻ سره مستقیماً ارتباط ونیسي او هدایت ترې وغواړي. یا په بل عبارت: په دنیا کښې هیڅوک توان نه لري چې الله ﷻ ورسره خبرې وکړي مګر په لاندې صورتونو سره:
الف: چې الله ﷻ ورته وحې وکړي او په ویښه یا خوب کښې ورته په زړه کښې څه مطلب یا مطالب ورواچوي.
ب: چې الله ﷻ ورسره مستقیماً د پردې ترشا خبرې وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: چې الله ﷻ یوه بنده ته کومه پرښته یا پرښتې ورواستوي او د نبوت تاج ورپه سر کړي. چې پرښته یا پرښتې ورته د الله ﷻ په اذن او امر سره هغه څه وحې کړي کومو ته چې د همده ﷻ د وحې کولو اراده وشي، نو دوی پکښې په هیڅ ډول سره کمبود او زیادت نه شي واقع کولی.

۲_ الله ﷻ ځکه د بنیادم سره د ذکرو شوو صورتونو څخه په غیر خبرې نه کوي چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې بنیادم یې پیدا کړی دی او هغه استعدادونه یې ورته ښه معلوم دي کوم یې چې په دنیا کښې ورپېرزو کړي دي، نو د ذکرو شوو صورتونو څخه پرته انسان طاقت نه لري چې خبرې آترې ورسره وکړي، د الله ﷻ شان ډېر اوچت دی.

ب: همدارنګه الله ﷻ د حکمتونو څښتن دی چې په ذکرو شوو صورتونو کښې بې شمېره حکمتونه پټ دي که څه هم بنیادمان ورباندې نه پوهېږي.

۳_ ای پیغمبره! د وحې په دغو ډولونو سره مونږ تاته د خپل آمر او فرمان په اثر قرآن کریم او نور ارشادات در وحې کړي دي ترڅو ورباندې مړه زړونه راژوندي او د کفر د تیارو څخه رابهر شي. که بالفرض مونږ په خپل مرحمت سره دغه ارشادات تاته نه وی درنازل کړي او د نبوت تاج مو تاته په سر نه وی ایښي، نو ته به نه وی توانېدلی چې د وحې د ذکرو شوو طریقو څخه دې استفاده کړې وی او ارشادات دې ترلاسه کړې وی.

۴_ د همدې کبله د نبوت څخه وړاندې ته نه پوهېدې چې کتاب څه شی دی او قرآن کریم د څرنګه کتاب نوم دی؟ او نه په دې پوهېدې چې دغه کتاب (قرآن کریم) په څنګه-څنګه احکامو باندې مشتمل دی او په څه-څه ډول سره پکښې ځای په ځای شوي دي او ایمان ورباندې واجب دی؟، مګر مونږ په خپل فضل او مرحمت سره تاته نبوت درپېرزو کړ او هم مو درباندې قرآن کریم درنازل کړ، چې د یوه عظیم الشان مشال حیثیت لري او د قیامت تر ورځې پورې به باقي وي. نو:

الف: نو په دغه کتاب (نُور) سره مونږ د خپلو بندګانو څخه هغه چا ته هدایت کوو، کومو ته چې زمونږ اراده وشي.

هو! د کومو بندګانو په غوږونو کښې چې دروندوالي وي او په زړونو کښې یې ړوندوالی موجودیت لري هغوی ورباندې لاره نه شي موندلی او د هدایت کتاب ورته نه برېښي.

ب: لنډه دا چې: -ای پیغمبره!_ ته په حقه پیغمبر یې او ته هغې لارې ته هدایت کوې کومه چې سمه ده او هیڅ ډول کوږوالی پکښې نشته. او دا ځکه چې:

ج: دغه لاره د هغه اقدس ذات لاره ده چې د اسمانونو ټول مخلوقات او هم د ځمکو ټول مخلوقات د همده ﷻ ملکیت دی، هر ډول تصرف ته یې چې اراده وشي هغه پکښې چلوي.

۵_ په پای کښې -ای خلکو!_ اګاه اوسئ چې خاص الله ﷻ ته د ټولو کارونو بېرته ورستنېدل دی، او ټولې فیصلې د همده ﷻ په اختیار کښې دي او بس. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې د ټولو أمورو موجودیت او پیدا کول په الله ﷻ پورې اختصاص لري همدارنګه د ټولو أمورو محاسبه او د حساباتو تصفیه په همده ﷻ پورې خاصه ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولاً ﴾ کښې لاندې نُکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: د "وَحْي" کلمه د ډېرو معناوو دپاره وضعه شوې ده چې يوه معنى يې پټ کلام (خبرې) دي[۱]، چې په اواز او تورو باندې اشتمال ونه لري او د الله ﷻ د پلوه د يوه بنده د زړه سره تماس ورکړى شي[۲].

ب: مونږ د ﴿ وَحْيًا ﴾ کلمه په "بِالْوَحْيِ" سره تعبيروو[۳]. دغه ډول وحې په لاندې دوه صورتونو کښې تحقق موندلى شي:

اول: يو يې د الهام صورت دى، چې په وينښه او د بېدارۍ په حال کښې تحقق ونيسي.

دوهم: بل يې د رښتينې خوب صورت دى، چې د خوب په حال کښې تحقق ومومي.

ج: د ﴿ أَوْ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ ﴾ کلمات په څه تقدير سره په ﴿ وَحْيًا ﴾ باندې عطف دي چې مونږ ترې په "بِكَلَامٍ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ" سره تعبير کولى شو. دا ډول وحې فقط يو صورت لري چې په قديم بلا کيفه کلام سره الله ﷻ خپل يو پيغمبر مخاطب کړى وي.

د: د ﴿ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولاً ﴾ کلمات هم د څه تقدير په ملحوظ په ﴿ وَحْيًا ﴾ باندې عطف دي چې مونږ ترې په "بِكَلَامٍ بِأَنْ يُرْسِلَ رَسُولًا" سره تعبير کولى شو، چې دغه ډول وحې لاندې څلور صورتونه درلودلى شي:

اول: چې يوه پرښته بدون د اواز او بدون د حروفو څخه د يوه مخلص بنده په زړه کښې څه خفي کلام ور واچوي.

دوهم: چې يوه پرښته يوه مخلص بنده (پيغمبر) ته په اواز سره څه ورواوروي چې د همدغه مخلص بنده څخه په غير يې بل څوک وانه وري او نه يې څوک څېره ولېدله شي.

درېم: چې يوه پرښته په خپله اصلي څېره کښې يوه پيغمبر ته ورڅرګنده شي او د الله ﷻ پيغام ورته ورسوي.

څلورم: چې پرښته ورته همدغه پيغام ورسوي البته په بشري څېره کښې چې د پيغمبر ﷺ په شمول نور مؤمنان يې هم وګوري.

### يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ﴾ کښې د "ذٰلِكَ" په کلمې سره څه شي ته اشاره ده؟

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۵۸۵
(۲) تفسير المظهري ج۸ ص۳۳۳
(۳) تفسير ابي السعود ج۸ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په دغې کلمې سره د مذکور په لحاظ د وحې ټولو ذکرو شوو ډولونو ته اشاره ده، ځکه چې په دغو شپږو واړو صورتونو سره نبي کريم ﷺ ته وحې تحقق موندلی دی[1] چې د [النساء ۱۶۳] ايت لاندې يې د مثالونو او نصوصو په رڼا کښې څه وضاحتونه تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ ﴾ کښې د "إيمَان" کلمه د هغې توحيدې عقيدې او هغه نفساني صفت څخه عبارت ده د کومې په مقابل کښې چې د "كُفر" کلمه استعمالېږي.

نو څرنګه چې په ذکر شوي صفت باندې د مؤمن (ايماندار) پوهه حتمي ده ځکه چې دا صفت يې په زړه کښې موجوديت لري، منطقيان وايي چې: په خپل ځان او په خپلو صفاتو باندې پوهېدل حضوري دي، نه کسب ته اړتيا لري او نه د چا څخه غيبوبت قبلوي؛ نو په ايمان باندې عدم پوهه د ايمان د عدم موجوديت معنی ورکوي، نو څوک چې په خپل ايمان باندې پوهه ونه لري هغه په حقيقت کښې په ايمان باندې موصوف نه دی.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا دا خبره صحت لري چې د نبوت څخه وړاندې نبي کريم ﷺ په خپل ايمان باندې پوهه نه درلوده؟

مونږ وايو چې: د ذکرې شوې پوښتنې د جوابولو دپاره مفسرينو کرامو متعدد جوابونه خوښ کړي دي[2] چې يو جواب پکښې د هر غوره ښودلی شوی دی هغه دا چې:

په دې مقام کښې د ايمان د کلمې څخه د شريعت احکام مطلب دی[3]. يعني د نبوت څخه وړاندې تا په کتاب (قرآن کريم) باندې پوهه نه درلوده چې دا به څنګه کتاب وي او نه دې په شرعي احکامو باندې علم درلود چې په څنګه-څنګه احکامو باندې اشتمال لري.

او د ايمان اطلاق خو په شرعي احکامو باندې شوی دی، د مثال په توګه لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ﴾ [البقرة:۱۴۳] يعني الله ﷻ داسې نه دی چې ستاسو ايمان (لمونځ) ضائع کړي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ»[4] يعني ايمان څه د پاسه آويا خصلته (برخې) دي او حياء (هم) د ايمان څخه يوه برخه (يو خصلت) دی.

## تبصره

۴_ په داسې حال کښې چې مونږ ذکر شوی جواب نه ردوو بهتر جواب راته داسې برېښي چې:

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۵۸

(۲) روح المعاني ج۲۵ ص۵۸؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۲۲؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۲۲۴؛ تفسير القرطبي ج۱۶ ص۵۹

(۳) زاد المسير ج۷ ص۸۸

(۴) سنن النسائي ج۲ ص۲۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلته د ایمان د کلمې څخه هغه ایمان مطلب نه دی د کوم په مقابل کښې چې د کفر کلمه استعمالیږي، او په منفي ګرځولو سره یې سړی کفر ته وځي، ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي، بلکې په دې مقام کښې ترې په قرآن کریم باندې د حقانیت عقیده خپلول مطلب دي، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

ای پیغمبره! د نبوت څخه وړاندې تا نه کتاب (قرآن کریم) پېژانده او نه دې په دغه کتاب باندې ایمان پېژاند چې ایمان وربانديې د څه شي څخه عبارت دی، مګر الله ﷻ په تاباندې فضل وکړ چې قرآن کریم یې درباندې درنازل کړ او دروېې پېژاند، او همدارنګه یې په دغه کتاب (قرآن کریم) باندې ایمان در روزي کړ.

لنډه دا چې: دلته د نبي کریم ﷺ څخه خاص ایمان منفي ګرځولی شوی دی او پوره واضحه ده چې د دغه خاص ایمان منفي ګرځول د دې سره څه منافات نه لري چې نبي کریم ﷺ په دغه وخت کښې هم د کلک توحیدي ایمان او عقیدې درلودونکی وه، لکه چې ټول پیغمبران علیهم السلام د نبوت څخه وړاندې د کفر په شمول د مطلقو ګناهونو څخه په عصمت کښې وه[1] او توحید ورته د الهام په توګه په زړونو کښې اچولی شوی وه.

۵ـ پاتې شوه دا خبره چې نبي کریم ﷺ د نبوت څخه وړاندې په څه ډول سره عبادت کاوه؟ نو د دې جواب دا دی چې د نبي کریم ﷺ عبادت په هغه وخت کښې تفکري عبادت وه لکه څنګه چې د ابراهیم عبادت د نبوت څخه وړاندې په همدغه ډول سره فکري عبارت وه، لکه چې په [الأنعام:۷۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده او څه شرحه یې هملته د الله ﷻ په توفیق تېره شوې ده.

خو که څوک په دې ارتباط د اوږده بحث شوق لري نو هغه دې ځینو اوږدو کتابو ته مراجعه وکړي[2] چې دغې موضوع ته یې پوره شرحه ورکړې ده، الله ﷻ دې اجرونه ورکړي.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفیق د "الشورى" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

د الله ﷻ څخه لا زیات توفیق غواړو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْ قَلْبِيْ نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَفِي سَمْعِيْ نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ يَسَارِي نُورًا، وَفَوْقِي نُورًا، وَتَحْتِي نُورًا، وَأَمَامِي نُورًا، وَخَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ لِيْ نُورًا.

آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ.

۱۴۲۳/۶/۸ هـ ق - ۱۳۸۱/۵/۲۵ هـ ش.

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۲۸۸

(۲) عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج۱ ص۱۰۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۵۵

Scanned by CamScanner

# الزخرف (٤٣)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم "الزُّخْرُف" اینبولی شوی دی، او د همدې سورت د [۳۵] ایت څخه اخستلی شوی دی. نو دا سورت د نورو سورتونو څخه په دغه نامه سره بېل کړی شوی دی، نه دا چې ټول بحثونه یې په همدغې کلمې پورې خانګړي دي.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی:

الف: د ایتونو شمېره یې نهه اتیاوو (۸۹) ته پورته شوې ده[۱].

ب: د کلماتو شمېره یې اته سوه او درې دیرشو (۸۳۳) کلمو ته رسېږي[۲].

ج: بالآخره د حرفونو تعداد یې درې زره او څلورو سوو (۳۴۰۰) حرفونو ته پورته شوی دی[۳].

۳_ دا مکي سورت دی او په اجماع سره یې ټول ایتونه د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۴].

۴_ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې عقیدوي موضوعات مطرح شوي دي. د مثال په توګه: د الله ﷻ وحدانیت، د نبي کریم ﷺ نبوت، د قیامت د ورځې قیام، د مشرکانو د اعتراضاتو رد.

۵_ دا سورت د وړاندېني سورت (الشُّورى) سره ډېرې نژدې اړیکي لري، دواړه په ﴿ حمٓ ﴾ باندې پیل شوي، دواړه مکي سورتونه دي چې عقیدوي موضوعات پکښې نازل شوي دي او داسې نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ۝١ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢ إِنَّا جَعَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝٣ وَإِنَّهُۥ
فِىٓ أُمِّ ٱلْكِتَٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِىٌّ حَكِيمٌ ۝٤ أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكْرَ صَفْحًا أَن كُنتُمْ قَوْمًا
مُّسْرِفِينَ ۝٥ وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِىٍّ فِى ٱلْأَوَّلِينَ ۝٦ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِىٍّ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ۝٧ فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلْأَوَّلِينَ ۝٨ ﴾

د ډېر مهربان (او) د ډېر رحم والا الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] په دغه څرګند (او بیانوونکي) کتاب (قرآن کریم) باندې سوګند دی (چې):

[۳] یقینًا مونږ دا کتاب په عربي ژبه لوستلی شوی د دې دپاره ګرځولی دی چې شاید تاسو د

(۱) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۴۷

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۲۶

(۳) تفسیر الخازن ج۵ ص۴۲۰

(۴) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

عقل څخه کار واخلئ (په دقت سره پکښې تفکر وکړئ).
[۴] او چې يقينًا دا (قرآن کریم) په اصل کتاب (لوح محفوظ) کښې زمونږ په نزد هرو مرو د اوچتې رتبې درلودونکی (او) د حکمتونو څخه ډک دی.
[۵] ایا نو مونږ ستاسو څخه د دې کبله قرآن کریم تاو کړو، تاوول (نزول يې بند کړو)، چې تاسو (د حق او حقيقت څخه) تجاوز کوونکی قوم یاست (قدرداني يې نه کوئ)؟.
[۶] او د نبیانو عليهم السلام څخه مونږ په پخوانيو (خلکو) کښې څومره ډېر استولي وه.
[۷] او پخوانيو (خلکو) ته هیڅ نبي نه ورځي (نه وه ورغلی) مګر هغوی وه چې مسخرې به يې پرې کولې (او ایمان به يې پرې نه راووړ).
[۸] نو (هغوی) مونږ په داسې حال کښې هلاک کړه چې د رانیولو (او قوت) د حیثه د دوی څخه سخت (او کلک) وه. او د پخوانيو (هلاکو شوو مسخره کوونکو) ډېر مثالونه (په قرآن کریم کښې ځای په ځای) تېر شوي دي (لکه عادیان، ثمودیان او نور).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (الشُّوری) وروستني ايتونه د قرآن کریم په خواصو باندې مشتمل وه چې د دنيا او آخرت دپاره نُور (رڼا) دی او هم د سمې لارې ښودونکی دی. د دې سورت (الزُّخرُف) په ذکرو شوو لومړنيو ايتونو کښې همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې خلاصه يې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته د قرآن کریم په هکله په خپل اُمت باندې څه نور مطالب هم قرائت کړه هغه دا چې:
۱ـ دا کتاب برسېره پر دې چې د الله ﷻ د پلوه د دنيا او آخرت دواړو دپاره رڼا ګرځولی شوی دی، د لاندې صفتونو درلودونکی هم دی:
الف: دا داسې کتاب دی چې د ټولو ضروریاتو بیانوونکی دی حتی چې د خپل ځان د حقانيت بیانوونکی او اثباتوونکی هم دی. او دا ځکه چې دا کتاب د هغو تورو څخه مرکب ګرځولی شوی دی د کومو څخه چې روزمره د خلکو کلامونه ترکيب مومي لکه "ح، م" او داسې نور، خو د دې سره-سره هيڅوک توان نه لري چې د همدې کتاب د يوه سورت يا يوه ايت غوندې سورت يا ايت جوړ کړي. که بالفرض المحال دا کتاب بشري کتاب وی نو زښتو ډېرو خلکو به ورسره د يوه ايت يا يوه سورت په جوړولو کښې سيالي کړې وي.
ب: نو مونږ په همدغه معجز کتاب باندې سوګند یادوو چې يقينًا مونږ دا کتاب داسې کتاب ګرځولی دی چې په عربي ژبه لوستل کېږي، ترڅو د دې کتاب اولني اورېدونکي (چې په عربي ژبه ګړېږي) د عقل څخه کار واخلي او په حقانيت باندې يې اعتراف وکړي.
يا په بل عبارت: ترڅو تاسو عربان ـ چې مورنۍ ژبه مو عربي ده ـ د عقلونو په رڼا کښې د دې کتاب په حقانيت معترف وګرځئ چې د نورو دپاره امامان جوړ شئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مونږ بیا هم په همدغه کتاب باندې سوګند یادوو چې دا کتاب په لوح محفوظ کښې زمونږ په نزد د اوچتې مرتبې درلودونکی دی، چې وروستنی کتاب دی او هیڅکله د منسوخیت سره مخامخ کېدونکی نه دی، او همدارنګه د حکمتونو خاوند دی.

نو تاسو ته په کار دي چې د دې کتاب قدرداني وکړئ او ایمان ورباندې راوړئ، او ناشکري یې ونه کړئ چې بې دلیله یې تکذیب ته ملاوې وتړئ.

۲_ کله چې تاسو د دې کېله د قرآن کریم قدرداني نه کوئ چې تاسو د حق او حقیقت څخه تجاوز کوونکي خلک یاست، نو ایا تاسو غواړئ چې مونږ به د دغه ذکر (کتاب) د نزول مخ بلې خواته واړوو، او نزول به یې بند کړو؟

دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ، بلکې مونږ به ضرور په دغه ذکر او کتاب سره ټوله دنیا رڼا کړو او په تاسو باندې به ضرور خپل حجت اتمام کړو، نو که تاسو ترې ګټه نه پورته کوئ نور خلک به ترې ګټې پورته کړي او عقیده به پرې خپله کړي.

لنډه دا چې د حق او حقیقت څخه ستاسو تجاوز د دې باعث نه شي جوړېدلی چې د کتاب نزول بند شي، بلکې ستاسو دغه کار د نزول باعث دی چې تاسو د تجاوز څخه را ایسار کړي.

۳_ ای پیغمبره! ته د خپلې زمانې دعنادې کفارو په کړنلاره باندې مه خپه کېږه، چې د دغه معزز او عالي شان کتاب قدرداني نه کوي او ایمان ورباندې نه راوړي. او دا ځکه چې:

الف: مونږ ستا څخه وړاندې په پخوانیو قومونو کښې څومره ډېر پیغمبران استولي وه او وخت په وخت مو څومره ډېر ارشادات ورنازل کړي وه، خو هغوی په پیغمبرانو باندې عقیده خپله نه کړه او ارشادات یې قبول نه کړه، بلکې ملنډې او مسخرې به یې ورباندې وهلې.

ب: نو مونږ دغه استهزاء کوونکي کفار هلاک کړه حال دا چې هغوی ستا د زمانې د استهزاء کوونکو کفارو څخه د لاس اچولو او رانیولو د حیثه ډېر قوي او کلک وه، خو قوت او کلکوالي ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او نجات یې ورنه کړی شو.

ج: د دغسې هلاکو کړی شوو پخوانیو قومونو مثالونه خو په قرآن کریم کښې ډېر تېر شوي دي، لکه عادیان، ثمودیان او داسې نور.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الرعد:۳۹] ایت لاندې د ﴿ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کلمه د احادیثو په رڼا کښې ډېره ښه تفسیره کړې ده چې د لوح محفوظ څخه عبارت ده، خو د مقام په لحاظ ورباندې اضافه کوو چې:

د ذکر شوي ایت مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ﴾ [البروج: ۲۲] یعنې دا قرآن کریم په ټولو اسماني کتابونو کښې عالي شان کتاب دی او په لوح محفوظ کښې ساتلی شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تحليلونه

۲_ په ﴿ أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ ﴾ الآية- کښې لاندې تحليلونه په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: د ﴿عَنكُمُ﴾ کلمه په ﴿ أَفَنَضْرِبُ ﴾ پورې تعلق نيسي، نو د همدغه تعلق د کبله يې د "الْعَرض" معنى ته اوړي[۱].

ب: که څه هم خينو علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلذِّكْرَ ﴾ کلمه په عذاب سره تفسيره کړې ده[۲]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته په قرآن کريم سره تفسيره کړی شي[۳] چې بحث په همدې کښې پيل شوی دی.

ج: د ﴿ صَفْحًا ﴾ په نصب کښې متعدد احتمالات امکان لري[۴]، مګر مونږ ته غوره برېښي چې دغه کلمه د ﴿ أَفَنَضْرِب ﴾ دپاره من غير اللفظ مفعول مطلق دی، او دا ځکه چې دلته د اعراض معنى ورکوي[۵]، او د دغسې مفعول مطلق مثالونه خو په عربي کلام کښې ډېر دي لکه چې وايي: "قَعَدْتُ جُلُوسًا" زه کېناستم کېناستل.

د: د ﴿ أَن كُنتُمْ ﴾ سره د أجليه "ل" توری مقدر دی.

نو د ذکرو شوو تحليلونو په نظر کښې نيولو سره يې د معنى حاصل داسې راځېږي:

ای مشرکانو! ايا نو د دې کبله چې تاسو د حق څخه تجاوز کوونکي او د عقلونو څخه کار نه اخستونکی قوم ياست، مونږ به د قرآن کريم د نزول مخه ستاسو څخه واړوو، او وحې به قطعه کړو؟ مونږ به دغسې هيڅکله ونه کړو، بلکې ضرور به د قرآن کريم نزول بشپړ کړو، او ستاسو دسيسه به درته ګټه ونه شي رسولی.

## څو نکات

۳_ په ﴿ فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم ﴾ الآية- کښې لاندې نکات په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: د ﴿ فَأَهْلَكْنَآ ﴾ دپاره مفعول مقدر دی چې متصله جمله ﴿ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ ورباندې دلالت کوي، او مونږ ترې په "الْمُسْتَهْزِئِين" سره تعبير کولی شو.

ب: د ﴿أَشَدَّ ﴾ کلمه د همدغه مقدر مفعول څخه حال واقع شوې ده.

ج: د ﴿ مِنْهُم ﴾ ضمير ﴿ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ ﴾ ته راجع دی.

د: د ﴿ بَطْشًا ﴾ کلمه د ﴿ أَشَدَّ ﴾ د نسبت څخه تميز واقع کېږي.

نو پورتنيو نکاتو ته په پام سره يې د معنى حاصل داسې راځېږي چې:

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۵۴۷

(۲) تفسير الطبري ج۲۵ ص۴۹

(۳) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۶۲

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۶ ص۶۲

(۵) تفسير البغوي ج۴ ص۱۲۳؛ لسان العرب ج۱ ص۵۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اې پیغمبره! ته متسلي اوسه نو مونږ پخواني استهزاء کوونکي هلاک کړه حال دا چې هغوی ستا د زماني د کفارو (د حقیقت څخه د تجاوز کوونکو) څخه د قوت او رانیولو د حیثه زیات او ډېر کلک وه، خو قوت او کلکوالي ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او نجات یې ورنه کړی شو، د دغسې هلاکو کړی شوو قومونو پخوانیو مثالونه ځای په ځای په قرآن کریم کښې تېر شوي دي لکه عادیان، ثمودیان او داسې نور.

## د ایت شریف نظایر

۴_ د همدغه ایت شریف مضمون په ډېرو ایتونو کښې نازل شوی دی. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً﴾ [فاطر:۴۴] یعني او یا دوی په ځمکه کښې نه ګرځي راګرځي نو چې وګوري چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شوی دی کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوی دي، حال دا چې هغوی د دوی څخه د قوت د حیثه ډېر کلک او قویان وه.

ب: ﴿كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ﴾ [المؤمن:۲۱] یعني پخواني هلاک کړی شوي قومونه د دوی څخه د قوت د حیثه او په ځمکه کښې د اثارو (صنائعو) د حیثه ډېر کلک او قویان وه نو الله ﷻ دوی په خپلو ګناهونو (کفریاتو) باندې ونیول (او هیڅ شي نجات ورنه کړی شو).

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ۝ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ۝ وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ۝ وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ ۝ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۝ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ۝﴾

[۹] او که ته هرومرو د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي؟ نو هغوی به ضرور (او) خامخا (په جواب کښې) ووایي چې دغه ټول الله ﷻ پیدا کړي دي.

(هو!) دغه ټول الله ﷻ پیدا کړي دي چې) د کلکې ارادې خاوند (او) د کامل علم څښتن دی.

[۱۰] هغه الله ﷻ چې ستاسو دپاره یې ځمکه زانګو (د ارام نیولو ځای) ګرځولې ده او هم یې پکښې ستاسو دپاره لارې ګرځولي (پیدا کړي) دي، شاید چې تاسو (خپلو مقاصدو ته) لارې موندې کړئ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١١] او هغه الله ﷻ چې د اسمانه یې په اندازې سره اوبه (باران) نازل کړی دی، نو مونږ وراندې مړ (وچ) ښار (ځمکه) راژوندی کوو.
(ای بنیادمانو!) په همدغه ډول سره به تاسو هم (د قیامت په ورځ راژوندي او د ځمکې څخه) راوویستلی شی؛
[١٢] او هغه الله ﷻ چې (د مخلوقاتو) ټول ډولونه یې پیدا کړي دي او هم یې ستاسو دپاره د بېړیو او څارویو څخه هغه شیان ګرځولي (پیدا کړي) دي په کومو باندې چې تاسو (په وچه او لمده کښې) سورېږئ.
[١٣] (البته دا) د دې دپاره چې تاسو یې په شاګانو باندې سم (برابر) کېنئ (او) بیا چې کله ورباندې سم (برابر) کېنئ د خپل رب ﷻ نعمت درپه زړه کړئ او ووایاست چې:
هغه اقدس ذات ته پاکي ده چې مونږ ته یې دغه (سورلۍ) مسخرې کړې دي (او راته یې ایل کړي دي) حال دا چې زمونږ پرې توان نه وه (چې استفاده مو ترې کړې وي).
[١۴] او یقینًا مونږ خپل رب ﷻ ته (د قیامت په ورځ) بېرته ورتلونکي یاستو.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې کفار د حق څخه تجاوز کوونکی قوم دی او د حقائقو په پېژاندلو کښې خپل عقلونه په کار نه اچوي. په دې ایتونو کښې په همدغه مطلب باندې دلایل اقامه کړی شوي دي، او د حماقت یوه مثال ته یې اشاره شوې ده چې خلاصه یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د حقائقو په پېژاندلو کښې کفار د حد څخه تېری کوي او د خپلو عقلونو څخه پکښې کار نه اخلي بلکې په حماقت کښې پراته دي او دا ځکه چې:

١ـ که ته د همدغو کفارو څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي؟ نو هغوی به ضرور په جواب کښې ووایي چې: دا ټول الله ﷻ پیدا کړي دي او هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه لري.

د دغه جواب غوښتنه دا ده چې هغوی باید په عمل کښې هم په توحید قائل شي، خو د ذکر شوي اعتراف سره-سره هغوی په عمل کښې شرک خپل کړی دی او خپل بوتان د الله ﷻ په عبادت کښې شریکان جوړوي، او الله ﷻ په عالي صفاتو سره نه پېژني چې شرک ورسره منافات لري. که (بالفرض) هغوی د حقائقو په موندلو کښې خپل عقلونه په کار اچولي وی نو هیڅکله به یې خپل عمل د خپل قول سره ضد نه وی ګرځولی او قولاً او عملاً به یې د الله ﷻ په وحدانیت عقیده درلودی.

٢ـ ای پیغمبره! لکه څنګه چې مشرکان د اسمانونو او ځمکو په پیدا کولو کښې خپلو بوتانو ته د اشتراک دعوه نه شي کولی همدارنګه ورته د الله ﷻ په نورو اسماوو او صفاتو کښې هم په اشتراک نه شي قائل کېدلی خو د دې سره-سره په عبادت کښې یې برخوال ګڼي، د ښه وضاحت دپاره یې لاندې ځینې مثالونه قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی، ایا د کفارو بوتانو اراده درلودلی شي؟

ب: الله ﷻ د کامل علم او پوهې څښتن دی، ایا د هغوی بوتان څه پوهه لري؟

ج: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې ځمکه ارامګاه ګرځولې ده او د غرونو په نصب کولو سره یې د هغې اضطراري حرکت د منځه وړی دی، ایا بوتانو دا کار کولی شو؟

د: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې په ځمکه کښې لارې پیدا کړې او جوړې کړې دي ترڅو تاسو ورباندې خپلو مطالبو ته رسېدنه وکړئ او په اسانۍ سره یې ترلاسه کړئ، ایا په دغه کار کښې ورسره څوک اشتراک لري؟

هـ: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د بله طرفه نه بلکې د اسمانه په اندازې سره اوبه (باران) نازلوي، ایا د ده ﷻ څخه پرته بل څوک د اسمانه یو څاڅکی راښکته کولی شي او یا باران ته اندازه ټاکلی شي؟

و: نو مونږ په همدغو اسماني اوبو سره مړ ښار او مړه ځمکه راژوندۍ کوو چې ډول-ډول نبات پکښې رازرغونوو، ایا بل څوک د دغه کار توان لري؟

ز: ای خلکو! همدارنګه به د قیامت د قیام په وخت کښې تاسو د الله ﷻ په امر د قبرونو څخه راوویستلی شئ. ایا د همده ﷻ څخه پرته څوک د دغه کار مخنیوی کولی شي؟

ح: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په دنیا کښې یې د مخلوقاتو او نباتاتو ټول ډولونه او قسمونه پیدا کړي دي. ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک یو مخلوق یا یوه نوعه پیدا کولی شي؟

ط: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې په دریابونو کښې هغه بېړۍ پیدا کړې دي په کومو کښې چې تاسو سورېږئ او د دریاب د یوې خوا څخه بلې خوا ته پورېوځئ. ایا که الله ﷻ د بېړیو د چلښت دپاره دریابونه مساعد نه وی پیدا کړي بل چا به پکښې دغه استعداد ایښی وی؟.

ي: همدارنګه یې د څارویو څخه ستاسو دپاره هغه څاروي ایل کړي دي په کومو باندې چې تاسو پرې په وچه کښې سورېږئ او خپلو مطالبو ته ورباندې ځانونه رسوئ او هم ورباندې درانه بارونه انتقالوئ، ایا د همده ﷻ څخه په غیر بل څوک تاسو ته څاروي ایل کولی شي؟

۳ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه بنیادمانو ته ابلاغ کړه چې:

الف: الله ﷻ تاسو ته په وچه او دریابونو کښې د دې دپاره څاروي او بېړۍ سورلۍ پیدا کړي او ایل کړي دي ترڅو یې تاسو په شاګانو باندې سواره شئ او ښه په استراحت سره ورباندې سفرونه وکړئ.

ب: بیا چې کله تاسو د هغو په شاګانو سواره شي نو د خپل رب ﷻ نعمتونه درپه زړه کړئ او د عقیدې او عمل په اخلاص سره یې شکریه وکړئ.

ج: ترڅو تاسو په ژبو هم د خپل رب ﷻ په حمد او ثناء باندې قول وکړئ او په خوله ووایاست چې هغه اقدس ذات ته پاکي ده چې مونږ ته یې دغه سورلۍ مسخرې کړې دي نو مونږ کولی شو چې هم د څارویو څخه استفاده وکړو او هم د بېړیو څخه همدغه ګټه پورته کړو.

د: که بالفرض الله ﷻ مونږ ته ذکر شوې سورلۍ نه وی مسخرې کړې، نو مونږ به نه وی توانیدلي چې یا مو د څارویو څخه د سورلیو کار اخستی وی او یا په بېړیو کښې سواره شوي وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: ای بنیادمانو! تاسو ته په کار دي چې په همدغه وخت کښې آخرت هم درپه زړه کړئ او وواياست چې: يقيناً مونږ خپل رب ﷻ ته هرومرو ورتاوېدونکي ياستو، چې هلته به ضرور د حساب کتاب او سوال جواب سره مخامخ شو، چې د دغو نعمتونو په هکله به هم راځخه وپوښتل شي د کومو څخه چې مونږ په سورېدلو کښې استفاده کوو.

## توضيحات

۱ـ د دې ايتونو څخه نيولې آن تر [الزخرف:۳۵] ايت پورې په ټولو ايتونو کښې د کفارو (مشرکانو) د حماقتونو مثالونو ته اشارې شوې دي، چې د ټولو شمېره يې لسو ته رسېږي، البته د هغو حماقتونو شمېره کومو ته چې په دې مقام کښې اشارې شوې دي.

نو لومړی حماقت يې دا دی چې مشرکان خپلو بوتانو ته د اسمانونو او ځمکو په پيداکولو کښې په اشتراک قائل نه دي خو په عبادت کښې ورته په اشتراک قول کوي، حال دا چې د عبادت استحقاق په هغه چا پورې اختصاص لري په کوم پورې چې د اسمانونو او ځمکو پيدا کول مختص دي.

## يو تفسيري تحليل

۲ـ د دې ايتونو ـکوم چې سمدستي د بحث لاندې دي ـ په تفسيري تحليل کښې علماء کرام په لاندې ټکو کښې متفق دي:

الف: دغه پوښتنه مشرکانو ته د هغوی د حماقت د څرګندولو دپاره راجع شوې ده که نه نو هغوی خو هيڅکله خپلو بوتانو ته د اسمانونو او ځمکو په خلقت کښې په اشتراک سره قول نه وه کړی.

ب: د ﴿ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ۝ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ﴾ څخه نيولې آن تر ﴿ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴾ پورې ټول ايتونه د مشرکانو د ذکر شوي جواب په ارتباط نازل شوي دي.

ج: په دغو ايتونو کښې ځينې داسې جملې شته چې د مشرکانو د جواب سره سمون نه خوري، او صحت نه لري چې د هغوی په جواب کښې شامل وګڼلی شي، د مثال په توګه:

اول: د کفارو د جواب سره مناسب وه چې د ﴿ لَكُمُ ﴾، ﴿ لَكُمْ ﴾، ﴿ لَّعَلَّكُم ﴾ په عوض "لَنَا، لَنَا، لَعَلَّنَا" نازل شوي وی.

دوهم: د هغوی د جواب سره د ﴿ كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴾ جمله بالکل منافات لري، هغوی خو د بعث بعد الموت څخه انکاري وه.

د: علماء کرام په اتفاق سره وايي چې که څه هم ذکر شوي ايتونه د مشرکانو د جواب په ارتباط نازل شوي دي مګر ټول ايتونه او ټولې جملې د هغوی د جواب حکايت نه دي.

نو د همدې کبله د هغوی د جواب د تحديد په هکله په لاندې دوه وو ګروپونو وېشل شوي دي:

اول: ځينې وايي چې د هغوی جواب په ﴿ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ باندې ختم شوی دی[1] او د ﴿ ٱلَّذِى

(۱) البحر المحيط ج۹ ص۲۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جَعَلَ لَكُمُ ﴾ کلمات آن تر آخره پورې د مقدرې مبتداء خبر دی چې مونږ ترې په "هُوَ" سره تعبیر کوو. یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې دغه دغه نومونه لري او دغه دغه کارونه کوي.

دوهم: ځینې نور وایي چې د هغوی اجمالي جواب دلته مقدر دی چې په "خَلَقَهُنَّ اللهُ" سره ترې تعبیر کولی شو[1]، او د ﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ څخه نیولې آن تر آخره پورې د هغوی د جواب تفصیل دی. یعنې رښتیا چې د اسمانونو او ځمکو پیدا کول الله ﷻ پورې اختصاص لري چې ځینې عالي اسماء او صفات یې دغه دغه دي.

## تبصره

۳_ مونږ ته همدغه دوهم تحلیلي تفسیر په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې:

الف: که څه هم مشرکان قائل وه چې الله ﷻ ﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ دی مګر په دغو نومونو باندې یې داسې عقیده نه درلوده لکه څنګه چې د الله ﷻ د شان سره مناسبه وه.

او دا ځکه چې هغوی معتقد وه چې بوتان د الله ﷻ د تعذیب مخه نیولی شي نو الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند نه دی. همدارنګه د هغوی په عقیده بعث بعد الموت حقیقت او واقعیت نه درلود او الله ﷻ ته یې د قیامت د قیام په هکله ناخبري او بې علمي نسبتوله.

ب: څرنګه چې د "الله" کلمه په اجمالي توګه ټولو سلبي او ثبوتي صفاتو ته شامله ده نو الله ﷻ په دې مقام کښې د مشرکانو جواب د دې دپاره په تفصیل سره نازل کړ ترڅو د هغوی په بنه پوره حماقت باندې دلالت وکړي. اما په بل ایت کښې یې د هغوی جواب په اجمال سره راحکایت کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ﴾ [لقمان: ۲۵] یعنې او که ته د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي نو هرومرو به دوی (په جواب کښې) ووایي چې (دا ټول فقط) الله ﷻ پیدا کړي دي.

## إقران څه معنی؟

۴_ په ﴿ وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ ﴾ کښې د ﴿ مُقۡرِنِينَ ﴾ کلمه د "إقران" _لکه "إكرام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او کله چې د "اقران" پورې د "ل" توری تعلق ونیسي _لکه چې په همدغه ایت کښې یې ورپورې تعلق نیولی دی_ نو د طاقت او توان معنی ورکوي[2].

یعنې که د الله ﷻ فضل او مهرباني نه وی چې مونږ ته یې سورلۍ ایل کړې او تسخیرې کړې دي نو مونږ به په هغو باندې د توان او طاقت درلودونکي نه وو چې ګټه مو ترې پورته کړې وی.

## د سورېدلو د دعاء په هکله

۵_ په سورلیو باندې د سورېدلو د دعاء په هکله باید لاندې مطالب په پام کښې ونیول شي:

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۴۲، تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۳۸

(۲) القاموس المحیط ج۳ ص۶۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الیه برد (۲۵)، په ارتباط ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۱]. خو

الف: خینو مفسرینو کرامو د ذکر شوې دعاء په ارتباط ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۱]. خو مونږ د یوه حدیث په لیکلو باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

کله به چې نبي کریم ﷺ سفر کاوه نو په خپله راحله (سورېدلی) باندې به سور شو، نو درې کرته به یې تکبیر وویلې او بیا به یې دغه قرآني کلمات قرائت کړه چې: ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ ۝ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾.

بیا به یې ویل چې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِي سَفَرِي هَذَا مِنَ الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا الْمَسِيرَ وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَ الْأَرْضِ اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا فِي سَفَرِنَا وَاخْلُفْنَا فِي أَهْلِنَا» یعنې ای الله! زه ستا څخه په دغه سفر کښې نیکی او تقوی غواړم او هم د عمل څخه هغه اندازه غواړم چې ته ورباندې راضي کېږې.

ای الله! په مونږ باندې مزل اسان کړې او د ځمکې لرېوالی راته راټاو (رالنډ) کړې.

ای الله! ته زما په سفر کښې ملګری یې او په کور کښې مې خلیفه یې، ای الله! ته زمونږ په سفر کښې ملګری شه او په کورونو کښې مو خلیفه شه.

او چې کله به نبي کریم ﷺ د سفر څخه خپل کور ته راستون شو نو ویل به یې چې: «آيِبُونَ إِنْ شَاءَ اللهُ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ»[۲] یعنې ان شاء الله ﷻ مونږ خپلو کورونو ته راتاوېدونکي یاستو او توبه کوونکي او عبادت کوونکي یاستو او هم خپل رب ﷻ ته حمد ویونکي یاستو.

ب: شاید چې په سفري دعاګانو کښې به حکمتونه دا وي چې:

اول: ترڅو سورېدونکی د الله ﷻ نعمتونه وریه زړه کړي چې شکرګذاري یې وکړي او د تکبر څخه خپل ځان بچ وساتي.

دوهم: ترڅو د دنیاوي سفر سره أخروي سفر هم وریه یاد کړي چې تیاري ورته ونیسي.

دریم: ترڅو د مصیبتونو څخه د بچ کېدلو دپاره د خپل رب ﷻ په حضور کښې د سوال لاسونه پورته کړي، چې په سفر کښې د خطراتو او مشکلاتو احتمال ډېر وي.

ج: خینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۳] چې یوه ډله خلک سفر ته روان وه، نو ټولو دعاګانې ولوستلې او د الله ﷻ د تسخیر شکریه یې وکړه، خو یوه سړي دعاء ونه لوستله چې زما اوښه (سورلی) ډېره خواره او ډنګره ده او زما ورباندې زور دپاسه دی یعنې د الله ﷻ د تسخیر شکرګزاري یې ونه کړه نو ناڅاپه ډنګرې اوښې تور وخوړ او سړی یې په ځمکه باندې ښکته راوغورزاوه چې سمدستي یې څټ مات شو او مړ شو.

﴿وَجَعَلُوا۟ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ۝ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۲۳ - الدر المنثور ج۷ ص۳۶۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۳
(۳) روح المعاني ج۲۵ ص۶۹ - الدر المنثور ج۷ ص۳۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بَنَاتٍ وَأَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُۥ
مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُا۟ فِى ٱلْحِلْيَةِ وَهُوَ فِى ٱلْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾
وَجَعَلُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمْ عِبَٰدُ ٱلرَّحْمَٰنِ إِنَٰثًا ۚ أَشَهِدُوا۟ خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَٰدَتُهُمْ
وَيُسْـَٔلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَٰهُم ۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا
يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا مِّن قَبْلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسْتَمْسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوٓا۟ إِنَّا
وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهْتَدُونَ ﴿٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ
فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم
مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾ قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمْ عَلَيْهِ ءَابَآءَكُمْ ۖ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ
أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ ﴾

[۱۵] او مشرکان الله ﷻ ته د همده ﷻ د بندګانو څخه جزء ګرځوي (مقرروي، چې پرښتو ته بنات الله وايي)، یقیناً چې (د طبیعت په لحاظ) بنیادم څرګند ناشکره دی.

[۱۶] ایا الله ﷻ د هغه مخلوق څخه چې پخپله یې پیدا کړي دي (پرښتې) د لورګانو په حیث نیسي حال دا چې تاسو یې په زامنو (نارینه اولادونو سره) غوره کړي یاست؟

[۱۷] او کله چې د مشرکانو کوم یوه ته په هغه ماشوم (لور) سره زیرې (خبر) ورکړی شي کوم یې چې د ډېر مهربان الله ﷻ دپاره مثل (جزء) ګرځولی وي، نو سمدستي یې مخ په داسې حال کښې تک تور جوړ شي چې د غم (او غوصې) څخه ډک وي.

[۱۸] او ایا (مشرکان الله ﷻ ته) هغه مخلوق (د ولد په حیث ټاکي) کوم چې (د ماشومتوب څخه) په ګاڼو کښې روزل کېږي حال دا چې همدغه مخلوق د جګړې په وخت کښې (د خپل مطلب څرګندوونکی نه دی (چې عقل یې کم دی).

[۱۹] او مشرکان هغه پرښتې کومې چې دوی د ډېر مهربان الله ﷻ (مخلص) بندګان دي، ښځې (لوڼې) ګرځوي (او ټاکي).

ایا مشرکان د پرښتو پیدایښت ته حاضر شوي وه (چې مونږ ښځینه پیدا کړه)؟

ژر دی چې (یقیناً) د مشرکانو دغه شهادت (ادعاء) لیکلی کېږي، او هم به ترې پوښتنه وکړی شي (چې تاسو په کوم دلیل دغه دروغ جوړ کړي وه).

[۲۰] او مشرکان وايي چې: که ډېر مهربان الله ﷻ اراده کړې وی (چې مونږ د بوتانو عبادت ونه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړو) نو موږ به یې عبادت نه وی کړی (زموږ په عبادت الله ﷻ راضي دی).
مشرکانو ته په دغې خبره (چې الله ﷻ زموږ په عبادت راضي دی) باندې هیڅ علم (او دلیل) نشته، دوی نه دي مګر اټکل کوي (چې اراده او رضامندي یو شی ګڼي).

[۲۱] ایا موږ مشرکانو ته د قرآن کریم څخه مخکښې کوم کتاب ورکړی وه (او په هغه کښې د همدغې خبرې ذکر وه) نو دوی ورباندې منګولې ښخې کړې دي؟

[۲۲] بلکې مشرکان وایي چې: یقیناً موږ خپل پلرونه په یوه دین باندې موندلي دي (چې همدغه بوت پرستي ده) او موږ د هغوی په پلونو باندې (د ړانده تقلید په ډول) لاره موندونکي یاستو.

[۲۳] او همدا (ستا د لیږلو په) شان موږ ستا څخه مخکښې په یوه ښار کښې هم ډاروونکی نه دی لیږلی مګر د همغه ښار ارامي درلودونکو (نعمت لرونکو خلکو) به ویل چې: یقیناً موږ خپل پلرونه په یوه دین باندې موندلي دي او یقیناً موږ د هغوی په پلونو (قدمونو) باندې (د ړانده تقلید په حیث) اقتداء کوونکي یاستو.

[۲۴] (نو) ډاروونکي (پیغمبر به ورته) ویل چې: ایا (تاسو په تقلید کلک یاست) اګر که ما تاسو ته د هغه دین څخه ډېر ښه هدایت کوونکی (دین) راوړی وي په کوم باندې چې تاسو خپل پلرونه موندلي دي؟ نو هغوی به (په جواب کښې) ویلي چې: یقیناً موږ په هغه دین سره کافر یاستو (عقیده ورباندې نه لرو) په کوم سره چې تاسو (ستاسو په ګومان) رالیږلی شوی یاست.

[۲۵] نو موږ د هغوی (پخوانیو کفارو) څخه انتقام واخست، نو وګوره چې د تکذیب کوونکو عاقبت څنګه شو؟ (ټول په عذاب سره پوپنا کړی شوه).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مشرکانو څه نور حماقتونه ښودل شوي دي، چې حاصل یې داسې راځي: ای پیغمبره! په خپل أمت باندې د مشرکانو څه نور حماقتونه هم قرائت کړه:

۱ـ د مشرکانو د حماقتونو څخه یو دا دی چې دوی الله ﷻ ته د همده ﷻ د بندګانو او مخلوقاتو څخه ځینو ته په جزئیت او ولدیت قائل دي.

ایا مخلوق د خالق جزء ګرځېدلی شي؟ ایا حادث او فاني د ازلي او ابدي ذات ولد جوړېدلی شي؟ بې شکه چې بنیادم (له دې حیثه چې بنیادم دی) ښه پوره څرګند ناشکره دی.

۲ـ د مشرکانو بل حماقت په لاندې ټکو کښې شرحه کېږي:

الف: مشرکان په اولادونو کښې الله ﷻ ته په لورګانو قول کوي حال دا چې د خپلو خانونو دپاره زامن خوښوي او لورګانې یې ډېرې بدې ایسي.

ب: ای مشرکانو! ایا الله ﷻ د هغو مخلوقاتو څخه کوم چې همده ﷻ پیدا کړي دي ځینې مخلوقات د لورګانو په حیث نیولي دي حال دا چې تاسو یې په زامنو سره غوره کړي یاست. تاسو ته یې زامن دربښلي دي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: لنډه دا چې الله ﷻ ته د ولد اثباتول يو حماقت دی او په اولادونو کښې ورته د لورګانو نسبت کول بل حماقت.

د: ای پیغمبره! د مشرکانو د خپلو ځانونو دپاره لورګانې دومره بدې راځي چې کله د دوی کوم يو ته په هغه شي سره خبر ورکړی شي کوم چې هغوی يې د ډېر مهربان الله ﷻ دپاره مثل او ولد ګرځوي، او ورته وويلی شي چې په کور دې لور وزېږېده، نو د دغه خبر په اورېدلو سره يې سمدستي په داسې حال کښې مخ تک تور وګرځي چې د غم او غُصې څخه ډک وي، او د ډېره غمه نه څه وخته پورې د خلکو څخه پټ ګرځي.

ه: ايا مشرکان هغه شي ته د الله ﷻ دپاره په ولديت او جزئيت باندې قول کوي کوم ته چې په ګاڼو کښې نشوء او نما ورکولی کېږي او د ماشومتوب د مرحلې څخه ورباندې ډولي ګرځولی کېږي؟

حال دا چې همدغه شی په جګړه او سوال جواب کښې د کم عقلۍ د کبله خپل مطلب پوره نه شي واضحه کولی او خپله مدعي نه شي اثباتولی.

ذکر شوی شی د ښځينه مخلوق څخه عبارت دی، چې مشرکان يې الله ﷻ ته جزء ګرځوي.

۳ـ د مشرکانو بل حماقت دا دی چې دوی هغه پرښتې ښځينه مخلوق بولي کوم چې د ډېر مهربان الله ﷻ مخلص بندګان دي او نه په ذکوريت موصوفېدلی شي او نه په اُنوثيت، چې د نرتوب او ښځتوب دواړه صفتونه پکښې نشته.

د مشرکانو ذکره شوې وينا ځکه حماقت دی چې په اثبات باندې يې هيڅ دليل نه شي درلودلی.

د مثال په توګه:

الف: ايا د پرښتو د پيدا کولو په وخت کښې مشرکان حاضر وه چې په خپلو سترګو باندې يې ليدلې وي چې دوی په ښځينه صفت پيدا کړی شوه؟

ب: ايا مشرکانو ته کوم پيغمبر ابلاغ کړې ده چې پرښتې ښځينه مخلوق دی؟

نو په يقين سره به د دروغو مفتريانو مشرکانو دروغين شهادت وليکلی شي او د قيامت په ورځ به ترې د تخجيل او توبيخ دپاره پوښتنه هم وکړې شي چې ستاسو د دغو دروغين شهادت وجه څه وه؟

۴ـ ای پيغمبره! د مشرکانو بل حماقت دا دی چې وايي:

رښتيا چې مونږ د پرښتو خيالي مجسمې جوړې کړې دي او عبادت يې کوو، او دا حق کار دی، که بالفرض دغه ناحقه کار وی نو ډېر مهربان الله ﷻ به زمونږ د دغه کار مخه نيولې وی. يا په بل عبارت: په دنيا کښې هر شی ـ زمونږ د عبادت په شمول ـ د الله ﷻ په اراده موجود ېږي.

۵ـ نو ای پيغمبره! د دغه حماقت په اختيارولو کښې هم مشرکان په ناحقه لاره روان دي. او دا ځکه چې:

الف: دوی په دغې باره کښې کوم علمي دليل نه لري چې باور او يقين افاده کوي بلکې دوی نه دي مګر اټکل کوي، چې د الله ﷻ اراده او د ده ﷻ رضامندي يو شی ګني حال دا چې اراده يو شی دی او رضامندي بل شی. نو د مشرکانو په کفري عبادت کښې د الله ﷻ اراده شته او رضامندي او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوښي يې پکښې موجوديت نه لري.

ب: په دې باندې علاوه مشركانو ته نقلي دليل هم نشته چې د كفري عبادت حقانيت ورته اثبات كړى شي. ايا مونږ مشركانو ته د قرآن كريم څخه وړاندې كوم كتاب ورنازل كړى دى چې دوى ورباندې خپله كفري عقيده په اثبات رسوي؟

۶ـ د مشركانو ډېر لوى دليل دا دى چې دوى د خپلې كفري عقيدې په اثبات كښې وايي چې: يقينًا مونږ پخواني پلرونه په دغې عقيدې او دغه دين باندې موندلي دي چې د بوتانو عبادت به يې كاوه، او مونږ د همدوى په قدم باندې قدم ږدو، او د همدوى په لاره تلونكي ياستو.

۷ـ اى پيغمبره! ستا د زمانې د كفارو د شركي عقيدې استدلال عين هغه استدلال دى په كوم باندې چې پخوانيو كفارو د خپلې كفري عقيدې د اثبات او حمايت دپاره استدلال كاوه. او دا ځكه چې مونږ ستا څخه وړاندې په هيڅ ښار كښې هيڅ ډاروونكى نه دى استولى مگر د هغه په مقابل كښې به كفارو او د وخت مخورو او د نعمتونو خاوندانو ويل چې: مونږ خپل پلرونه په يوه دين باندې موندلي دي او يقينًا مونږ په همدغه موندلي شوي دين باندې روان ياستو او قدم په قدم د هغوى پيروي كوونكي ياستو او هيڅكله به دغه طرز عقيده پرېنږدو.

۸ـ د وخت پيغمبرانو هغوى مخاطب كړه چې: اى كفارو! ايا تاسو په خپل دغه رانده تقليد باندې كلک ياست، كه څه هم مونږ تاسو ته هغه دين راوړى وي كوم چې ستاسو د پلرني دين څخه په مراتبو بهتر او په مراتبو ښه هدايت كوونكى وي؟

۹ـ هغوى پيغمبرانو ته د ذكرې شوې پوښتنې بل جواب ورنه كړ مگر دا چې: كه تاسو خپل راوړى دين په هر ډول سره توصيف كړئ هم مونږ ستاسو دين نه منو او په هغه شي سره انكاري ياستو كوم چې تاسو ورباندې په خپل خيال رالېږلى شوي ياست.

۱۰ـ نو نتيجه دا شوه چې مونږ د هغوى څخه د كفرياتو دنياوي انتقام واخست او د څرمې مو پوينا كړه.

۱۱ـ نو اى پيغمبره! ته وگوره چې د پخوانيو مكذبينو عاقبت څنگه شو، همدارنگه مهلک عذاب ستا د زمانې عنادي تكذيب كوونكو ته هم متوجه دى.

## توضيحات

۱ـ په ﴿وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا﴾ كښې د "جُزْء" كلمه په دې مقام كښې د "وَلَد" معنى وركوي، او دا ځكه چې اولادونه د خپل پلار دپاره جزونه دي، لكه چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې «فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي فَمَنْ أَغْضَبَهَا فَقَدْ أَغْضَبَنِي»[۱] يعني فاطمه رضي الله عنها زما څخه جزء دى نو هرڅوک يې چې په غصه (خپه) كړي نو زه يې په غصه (خپه) كړم.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: مشركان الله ﷻ ته د بل چا څخه نه بلكې د ده ﷻ د خپلو

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۵۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بندګانو څخه ولد ګرځوي، که نه نو الله ﷻ د ولديت څخه پاک او منزه دی.

## پنځه حماقتونه

۲_ په دې ایتونو کښې د هغه حماقت په تعقیب کوم ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده، د مشرکانو پنځو نورو حماقتونو ته هم اشاره شوې ده چې اجمال يې دا دی:

الف: مشرکان الله ﷻ ته په ولديت او جزئيت باندې قائل دي، حال دا چې الله ﷻ ازلي او ابدي دی چې ولديت ورسره منافات لري.

ب: هغوی د الله ﷻ د بندګانو او مخلوقاتو څخه ځينو بندګانو (پرښتو) ته د ولديت او جزئيت لقب ورکوي، حال دا چې مخلوق هيڅکله نه ابدي او ازلي جوړېدلی شي او نه د ابدي او ازلي جزء ګرځېدلی شي.

ج: هغوی پرښتې د ښځينه مخلوق په نامه يادوي، حال دا چې پرښتې د دغو دواړو نومونو (ښځينه او نارينه) څخه په يوه سره هم نه شي موصوفې کېدلی.

د: هغوی همدغه پرښتې (چې ښځينه لقب ورکوي) الله ﷻ ته نسبتوي حال دا چې د خپلو ځانونو دپاره ښځينه اولادونه نه خوښوي، چې پوره بيان يې د [النحل:۵۷] او نورو ایتونو لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

هـ: هغوی خپل ځانونه په شرکي او کفري عقيده کښې په حقه بولي او د الله ﷻ اراده او د ده ﷻ رضامندي دواړه په مصداق کښې يو شی ګڼي، حال دا چې دواړه صفتونه سره توپير لري (يو شی نه دی) لکه چې په [النحل:۳۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده او د [الأنعام:۱۴۸] او [الزمر:۷] ایتونو لاندې يې ښه پوره شرحه تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## تنشئة څه معنی؟

۳_ په ﴿ أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِى ٱلۡحِلۡيَةِ ﴾ کښې د "يُنَشَّأ" کلمه د "تَنْشِئَة" _لکه "تَكْرِمَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "تَرْبِيَة" معنی ورکوي[۱].

که څه هم په شريعت کښې د مکلفو نارينه وو دپاره د سرو زرو، سپينو زرو او ورېښمو استعمال جواز نه لري او په زنانه وو پورې مختص دی مګر د ايت شريف څخه د اشارې په توګه دا هم جوتېږي چې بايد نارينه ماشومانو ته هم ذکر شوي شيان استعمال نه کړی شي، او دا ځکه چې دلته په ګاڼو کښې روزل او تربيه کول د زنانه وو په حالاتو کښې نازل شوي دي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په خپل يوه حديث کښې هم اشاره کړې ده چې: «لَوْ كَانَ أُسَامَةُ جَارِيَةً لَحَلَّيْتُهَا وَلَكَسَوْتُهَا حَتَّى أُنَفِّقَهَا»[۲] يعنې که چېرته اسامه ﷺ جلۍ وی نو ما به ورباندې ګاڼې اچولې وې او (ښايسته) جامې به مې وراغوستې وې ترڅو مې چې (په خلکو کښې) چلښت ورکړی

(۱) مفردات الراغب ص۵۱۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۶۸؛ سنن ابن ماجه ص۱۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي (او په ښه ځای کښې مې واده کړې وي).

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَهُوَ فِي ٱلْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴾ کښې د "خِصَام" کلمه د "خاصِم" ـلکه "ضَارِب" ـ دپاره مصدر ده چې مونږ يې په پښتو کښې په "جګړې" سره ترجمه کوو.

زنانه وو بنيادمانو ته ځکه په جګړه کښې د ﴿ غَيْرُ مُبِينٍ ﴾ لقب ورکړی شوی دی چې دوی د جنس په لحاظ سره د نارينه بنيادمانو په نسبت په عقل کښې کمزورې دي چې په څرګنده توګه د خپلې مدعې اثبات نه شي کولی.

د همدې کبله د دوه وو زنانه وو شهادت د يوه نارينه د شهادت سره مساوي ګڼلی شوی دی، او د همدې کبله ورته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې د کم عقلو لقب ورکړی دی[1].

## يادونه

۴ـ په ﴿ عَلَىٰٓ أُمَّةٍ ـ عَلَىٰٓ أُمَّةٍ ﴾ کښې د "أمّة" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۳۸] او د [هود:۸] ايتونو لاندې ډېره ښه تحليله کړې چې د دين په معنی هم استعمالېږي.

چې په دغو دواړو جملو کښې د (دين) معنی ورکوي[2] او حاصل يې هغسې راځېږي کوم چې د مطلب په خلاصه کښې ذکر شوی دی.

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ۝٢٦ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ
سَيَهْدِينِ ۝٢٧ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ۝٢٨ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰٓؤُلَآءِ
وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ وَرَسُولٌ مُّبِينٌ ۝٢٩ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا
بِهِۦ كَٰفِرُونَ ۝٣٠ وَقَالُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝٣١ أَهُمْ
يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ
فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ۝٣٢
وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِٱلرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ
وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ۝٣٣ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔونَ ۝٣٤ وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن
كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَٱلْءَاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ۝٣٥ ﴾

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۴
(۲) تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۲٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۶] او هغه وخت (یاد کړه) چې ابراهیم ﷺ خپل پلار او خپل قوم ته وویل چې: یقیناً زه (بالکل) د هغو (معبودانو) څخه بېزار یم د کومو چې تاسو (د الله ﷻ څخه په غیر) عبادت کوئ.

[۲۷] مګر (زه د) هغه اقدس ذات (عبادت کوم) چې زه یې د نشت څخه پیدا کړی یم، نو یقیناً همدغه اقدس ذات به زما هدایت (او لارښودانې) ته ادامه ورکړي.

[۲۸] او ابراهیم ﷺ همدا (د توحید کلمه) په خپله اولاده کښې باقې پاتې کېدونکې کلمه وګرځوله. (د دې دپاره ذکر شوی وخت ورياد کړه چې) شاید دوی (ستا د زمانې کفار هم د توحید کلمې ته) رجوع وکړي (او په ایمان مشرف شي).

[۲۹] (د مشرکانو د مشرک پاتې کېدلو وجه صرف تقلید نه دی) بلکې (وجه یې دا هم ده چې) ما دغو مشرکانو او د دوی پلرونو ته دنیاوي (پرېمانه) ګټې ورکړې وې، آن تر دې چې دوی ته حق (قرآن کریم) او څرګند لېږلی شوی (محمد ﷺ) ورغی (دنیاوي ګټو یې ادامه درلوده).

[۳۰] او کله چې ورته حق (قرآن کریم) ورغی نو سمدستي یې (بدون د تفکره) وویلې چې دا جادو دی (او راوړونکی یې جادوګر دی)، او یقیناً مونږ ورباندې د کفر غوره کوونکي یاستو (هیڅکله به یې قبول نه کړو).

[۳۱] او مشرکان (د حماقت د کبله دا هم) وايي چې: دغه قرآن د دغو دواړو ښارونو (مکه او طائف) څخه ولې په یوه لوی سړي (لوی سرمایه دار) باندې نازل نه کړی شو؟ (که واقعیت یې درلودلی نو دغسې به شوي وی).

[۳۲] (ای پیغمبره!) ایا مشرکان ستا د رب ﷻ رحمت (نبوت) وېشي؟ (دغسې نه ده بلکې) مونږ پخپله د بنیادمانو ترمنځ په نږدې (او حقیر) ژوند کښې د دوی معیشت وېشلی دی، او ځینې کسان مو په ځینو نورو باندې د درجاتو د حیثه د دې دپاره پورته کړي دي چې ځینې یې ځینې نور تابع جوړ کړي (او یو تربله ارتیاوې ولري).

او ستا د رب ﷻ رحمت (نبوت) خو د هغو (ګټو وټو) څخه ډېر بهتر (او غوره) دی کوم چې مشرکان یې راغونډ وي (نو د دغه غوره نعمت تقسیم به څنګه مشرکانو ته په لاس کښې ورکړي چې تاسو یې تقسیم کړئ؟

[۳۳] او که چرته (دا خطر) نه وی چې ټول خلک به یو ټولګی جوړ شي (او ټول به په کفر سره ورغونډ شي) نو هرومرو به مونږ د هغو خلکو دپاره کومو چې په ډېر مهربان الله ﷻ سره کفر اختیار وي، د دوی د کوټو دپاره د سپینو زرو څخه چتونه جوړ کړي وی او زینې هم چې (چتونو ته) ورباندې اوچتېږي (خېژي).

[۳۴] او (هم به مو) د دوی د کوټو دپاره دروازې (هم د سپینو زرو څخه جوړې کړې وی) او تختونه (هم) چې تکیاګانې به یې ورباندې وهلی.

[۳۵] او (همدارنګه به مو ورته ذکر شوي شیان) د سروزرو څخه (جوړ کړي وي).

او دغه (ذکر شوي شیان) نه دي مګر د حقیر (او نږدې) ژوند متاع دي (چې ډېر ژر فاني

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ستا د رب ﷻ په نزد د متقیانو دپاره (مختص کړی شوي) دي (او کفار ترې په قطعي ډول سره بې برخې دي). کېدونکي دي)، او آخرت (أخروي نعمتونه چې دائمي، دي)

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مشرکانو د ذکرو شوو شپږو حماقتونو په تعقیب د دوی دوه نور حماقتونو هم یاد شوي دي چې شمېر یې اتو ته پورته کړی شوی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د ذکرو شوو حماقتونو په تعقیب په خپل أمت باندې د مشرکانو دوه نور حماقتونه هم قرائت کړه او د ابراهیم ﷺ څه حالات ورپه زړه کړه هغه دا چې:

۱ـ مشرکان د یو پلوه وایي چې مونږ د خپلو پخوانیو پلرونو د تقلید د کبله بوت پرستی ته ادامه ورکوو، او د بله پلوه یې د خپل پلار (ابراهیم ﷺ) خط السیر د پښو لاندې کړي دي او تقلید یې نه کوي او دا څکه چې:

الف: ابراهیم ﷺ خپل پلار او ټول قومیان (اقارب) مخاطب کړه چې: زه د هغو بوتانو څخه په قطعي توګه بېزار یم د کومو چې تاسو په ناحقه عبادت کوئ او د الله ﷻ شریکان یې ګڼئ، مګر زه د هغه الله ﷻ عبادت کوم او شریک ورسره په عبادت کښې نه ګرځوم چې ماته یې د نشت څخه شتون راکړی دی، زه همدغه پیداکوونکی الله ﷻ ته أمید کوم چې ماته په همدغې توحیدي عقیدې باندې د کلک پاتې کېدلو توفیق راکړي.

ب: ابراهیم ﷺ همدغه د توحید کلمه په خپله اولاده کښې باقي پرېښودله او خپلې، ټولې اولادې ته یې وریاندې توصیه وکړه چې د مرګ تر وخته پورې په همدغې کلمې باندې کلک پاتې شي:

ج: ابراهیم ﷺ ذکره شوې توصیه د دې دپاره په خپله اولاده کښې باقي پرېښودله ترڅو د ده ﷺ د اولادې مشرکان د شرکیاتو او د کفریاتو څخه همدغې توحیدي کلمې ته وروګرځي.

نو د وخت مشرکان که ضرور د خپلو پلرونو تقلید کوي نو په کار دي چې د خپل پلار (ابراهیم ﷺ) تقلید وکړي او د خپلو مشرکانو اقاربو څخه بېزاري اعلانه کړي، نه دا چې د حماقت څخه کار واخلي او د مشرکانو پلرونو پیروي وکړي.

۲ـ نو په شرکیاتو باندې د دغو مشرکانو د کلکو پاتې کېدلو وجه صرف تقلید نه دی، بلکې اصلي وجه یې دا هم ده چې:

الف: مونږ همدغو مشرکانو ته او د دوی پلرونو ته زښت ډېر دنیاوي نعمتونه ورکړي دي چې پېړی، پېړی پکښې هوسا ژوند کوي او په داسې مقام کښې مو اوسېدانه ورپه برخه کړې ده چې چارچاپېره خلک یې ډېر احترام کوي چې دوی د بیت الله منجاوران دي.

آن تر دې چې همدغو مشرکانو ته مو یو بل عظیم الشان نعمت هم ورکړ هغه دا چې: حق (قرآن کریم) مو ورنازل کړ او د معجزاتو سره مو په همدوی کښې پیغمبر (محمد ﷺ) مبعوث کړ.

خو مشرکانو د دغو نعمتونو قدرداني ونه کړه او نه یې په عظیم الشان نعمت باندې عقیده وکړه

ب: بلکې کله چې ورته عظیم الشان نعمت (پیغمبر ﷺ) ورغی نو سمدستي یې ترې انکار وکړ او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په معجزاتو باندې یې د جادو نوم کېښود، او بالآخره په صراحت سره یې وویلې چې: مونږ په دغه عظیم الشان نعمت باندې کافر یاستو، نه پرې عقیده خپلوو او نه یې د پیغمبر په حیث منلی شو.

نو مشرکان په خپلې کفري او شرکي عقیدې باندې کلک پاتې شوه او د تکبر د کبله یې یوه بل حماقت ته لاس واچاوه هغه دا چې:

۳_ مشرکانو وویلې چې: مونږ ځکه په خپلې شرکي عقیدې باندې کلک یاستو او محمد ﷺ د پیغمبر په حیث نه قبلوو چې نوموړی سرمایه دار نه دی او قومي مشرتوب نه لري، که بالفرض دا کتاب (قرآن) د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وی نو ضرور به د مکې معظمې یا د طائف په یو مشر باندې نازل شوی وی، چې هم سرمایه دار وی او هم قومي مشر، نو کله چې داسې ونه شوه نو معلومه شوه چې دا (قرآن) الهي کتاب نه دی او په دروغو الله ﷻ ته منسوب کړی شوی دی چې خلک وربانديې اعتماد او باور وکړي.

۴_ اې پیغمبره! ایا (بل څوک نه بلکې) مشرکان غواړي چې ستا د رب ﷻ د رحمت په وېشلو کښې مداخله وکړي چې فلانکی دې پیغمبر شي او فلانکی دې پیغمبر نه کړی شي؟ دغسې نه ده، بلکې مونږ دا کار پخپله او په خپله خوښه ترسره کوو، او مونږ پوهېږو چې څوک د نبوت لیاقت لري (چې ورکړی شي) او څوک یې نه لري.

لنډه دا چې مونږ د خپلو ټولو نعمتونو وېشونکي پخپله یاستو د مثال په توګه:

الف: یوازې مونږ د بنیادمانو ترمنځ په دغه نړۍ ژوند کښې معیشت وېشلی دی چې د چا معیشت مو پراخه ګرځولی دی او د چا مو تنګ کړی دی، ایا څوک توان لري چې زمونږ په وېش کښې څه تغیر واقع کړي؟.

ب: یوازې مونږ په بنیادمانو کښې ځینو ته په ځینو نورو باندې د مختلفو مراتبو په حیث فوقیت ورکړی دی چې څوک مو په یوه شي کښې اوچت ګرځولي دي او څوک په بل شي کښې.

البته دا د دې دپاره چې ځینې بنیادمان ځینو نورو لره تابعان او محتاجان ونیسي، او یو تربله په دنیا کښې خوړه ګوزاره وکړي (یو تربله استفاده وکړي).

۵_ اې پیغمبره! ستا د رب ﷻ أخروي نعمتونه د هغو نعمتونو څخه ډېر بهتر دي کوم چې دنیا پورې تړاو لري او خلک یې په راغونډولو کښې زیار باسي او پکښې ښکېل دي. نو کله چې ستا رب ﷻ د حقیرو او دنیاوي نعمتونو په وېشلو کښې چاته مداخله نه ده ورکړې نو د عظیم الشانو او أخروي نعمتونو په وېشلو کښې به څنګه مداخله ورکړي؟

۶_ په دې باندې علاوه، د دنیا سرمایه داري او دنیاوي سامانونه نه د افضلیت نښه ده او نه زمونږ په نزد څه قدر او عزت درلودونکي دي. نو:

الف: که د دې خبرې وېره نه وی چې ټول خلک به یو امت جوړ شي او ټول به په کفر باندې متفق وګرځي نو هرومرو به مونږ د هغو کسانو دپاره کوم چې په ډېر مهربان الله ﷻ باندې کافر دي او ایمان وربانديې نه لري، د دوی د کورونو دپاره مختلف څیزونه د سپینو زرو څخه ګرځولي وی. دوی

Scanned by CamScanner

ته به مو دومره توان ورکړی وی چې لاندې شیان یې د سپینو زرو څخه تیار کړي وی:

اول: د کورونو چتونه.

دوهم: د کورونو زینې، چې د کوټو بامونو ته ورباندې خېژي.

دریم: د هغوی د کورونو دروازې.

څلورم: تختونه او چوکۍ ګانې، چې تکیه ګانې وربانډې وهي.

ب: همدارنګه به مو هغوی ته دا توان ورکړی وی چې ذکر شوي شیان او د دغو شیانو امثال یې د سرو زرو څخه هم تیار کړی وی، چې ځینې سامانونه به یې د سپینو زرو څخه جوړ وی او ځینې نور د سرو زرو څخه.

۷_ ای پیغمبره! دنیاوي سامانونه ځکه ستا د رب ﷻ په نزد ارزښت نه لري چې دا ټول فاني دي او څه بقاء نه لري، او د دغه نژدې ژوند څه موقت نعمتونه دي او بس.

اما ستا د رب ﷻ په نزد فقط آخرت او د آخرت نعمتونه ارزښت درلودونکي دي چې دائمي او ابدي دي، څه زوال نه لري. دغه نعمتونه صرف متقیانو ته ټاکلی شوي دي چې کفار پکښې برخه نه شي درلودلی، د کفارو برخه هلته دائمي دوزخ دی او بس.

## توضیحات

۱_ په دې ایتونو کښې د مشرکانو د پخوانیو شپږو حماقتونو په تعقیب دوه وو نورو حماقتونو ته هم اشاره شوې ده چې شمېره یې اتو (۸) حماقتونو ته رسېږي هغه دا چې:

الف: مشرکان د یو پلوه د خپلو پلرونو د تقلید دعوه کوي او د بله پلوه د خپل پلار (ابراهیم ﷺ) پیروي نه کوي او په توحید سره توصیه یې نه قبلوي، حال دا چې د هغوی په پلرونو کښې ابراهیم ﷺ د تقلید دپاره ډېر بهتر وه.

ب: هغوی د حماقت د کبله وایي چې: نبوت د سرمایه دارۍ سره تړاو لري نو بې سرمایې سړی نه شي پیغمبر کېدلی.

۲_ په ﴿ إِنَّنِي بَرَآءٌ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ﴾ کښې د ﴿ بَرَآء ﴾ کلمه _لکه "طلاق"_ مصدر ده چې د بېزاره کېدلو معنی ورکوي، خو ابراهیم ﷺ د مبالغې په توګه د "زَيۡدٌ عَدۡلٌ" غوندې بېزارکېدونکی نه بلکې بېزار کېدل ګڼلی شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي ﴾ کښې د "إلا" توري د منقطعې استثناء دپاره دی چې د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۷۷] ایت لاندې یې تحقیق تېر شوی دی.

او هم په ﴿ فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ﴾ کښې د "س" توری د استقبال دپاره نه دی بلکې د تاکید دپاره دی او بس[۱]، او که د استقبال دپاره یې ومنو نو بیا په توفیق او د هدایت په زیادت باندې دلالت کوي[۲]،

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۷۶
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۴ ص۳۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا ځکه چې ابراهيم ﷺ ته خو الله ﷻ په عين وخت کښې هدايت کړی وه چې د ټولو باطلو معبودانو څخه يې خپله بېزاري اعلانه کړه.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ابراهيم ﷺ خپل پلار او قوم ته وويلې چې په يقيني ډول سره زه ستاسو د معبودانو څخه په هر اړخيزه توګه بېزار يم، مګر زه د هغه الله ﷻ عبادت کوم چې زه يې د نشت څخه پيدا کړی يم او په يقيني توګه يې راته هدايت کړی دی او أميد دی چې نور زيات توفيق به هم راکړي.

## څو ټکي

۳- په ﴿ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً ﴾ الآية- کښې لاندې څو ټکو ته توجه په کار ده:

الف: ځينو مفسرينو کرامو په ﴿ وَجَعَلَهَا ﴾ کښې مستتر ضمير الله ﷻ ته راجع کړی دی[1]، خو موږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمير ابراهيم ﷺ ته راجع وګڼلی شي.

ب: د "هَا" ضمير د توحيد کلمې ته راجع دی په کومې باندې چې وړاندېنی استثناء ﴿ إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴾ دلالت کوي.

ج: په ﴿ فِي عَقِبِهِ ﴾ کښې د "عقب" کلمه د سړي د پونډې دپاره وضعه شوې ده، مګر د مجاز په توګه په اولادونو او زوزات کښې هم استعمالېږي[2] چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی.

د: ابراهيم ﷺ د توحيد کلمه په خپلو اولادونو کښې په لاندې ډولونو سره باقي پرېښې ده:

اول: په توصيه کولو سره، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ ﴾ [البقرة: ۱۳۲] يعني او ابراهيم ﷺ د توحيد په کلمې سره خپلو زامنو ته توصيه وکړه، او يعقوب ﷺ هم (دغه توصيه خپلو اولادونو ته تکراره کړه).

دوهم: په دعاء سره، لکه چې الله ﷻ ترې حکايت کوي چې: ﴿ وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴾ [إبراهيم: ۳۵] يعني او (ابراهيم ﷺ وويلې چې) ای زما ربه! ما او زما اولادونه د دې څخه بچ وساتې چې د بوتانو عبادت وکړو.

ه: زموږ په نزد احتمال شته چې د ﴿ لَعَلَّهُمْ ﴾ جمله د ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ﴾ د جملې سره تړاو ولري او د "هُمْ" ضمير او همدارنګه د ﴿ يَرْجِعُونَ ﴾ مستتر ضمير دواړه د وخت مشرکانو ته راجع وګڼلی شي.

نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ای پيغمبره! ته خپل دعوتي أمت ته د ابراهيم ﷺ څه حالات در به زره کړه شايد چې دوی حماقت پرېږدي او د شرکي عقيدې څخه توحيدي عقيدې ته رجوع وکړي.

## سخري څه معنی؟

۴- په ﴿ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ﴾ کښې د "سِخْرِيّ" کلمه، که څه هم د "س" په زير سره

(۱) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۷۷
(۲) مفردات الراغب ص۳۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مسخرو او ملنډو ته وضعه شوې ده مګر په ښه سره يې د تابعدارۍ او خدمتګارۍ معنی ورکوي[1].

څرنګه چې په دې مقام کښې دغه کلمه د "س" د توري په پېښ سره نازله شوې ده، نو دلته دواړه معنی مراده ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو صورتونه ولولئ:

الف. روغتياپال (طبيب) ناروغانو ته احتياج دی او په خدمت کښې يې لګيا دی ترڅو يې طبابت رواج موندلی کړي او مال ترلاسه کړي، څو ناروغان ورته د تداوۍ په حيث اړ دي په همدې هکله يې استخدامول غواړي.

ب. غنيان د فقيرانو کارګرۍ ته اړ دي او فقيران د هغوی شتمنيو ته اړتيا لري.

لنډه دا چې الله ﷻ په دنيا کښې هيڅوک داسې نه دی پيدا کړی چې په هر اړخيز ډول د نورو څخه بې پروا وګرځي. که نه نو د دنيا نظام او د ژوند ګوزاره به ګډوډه شوې وي.

## څو نکات

۵ـ د ﴿ وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ ﴾ څخه نيولې تر ﴿ وَٱلْـَٔاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ پورې ايتونو کښې لاندې څو نکات په نظر کښې ساتل په کار دي

الف. په ﴿ وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ ﴾ الآية- کښې د الله ﷻ په نزد د دنيا حقارت تمثيل شوی دی، په همدغه تمثيل کښې د نبي کريم ﷺ څخه هم زښت ډېر احاديث روايت شوي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول. يوه ورځې په يوه ځای کښې مرداره ګډه پرته وه او د ډېر پړسوب د کبله يې پښې نېغې نيولې وې، نو نبي کريم ﷺ همدغې مردارې ګډې ته اشاره وکړه او په يوه حديث کښې يې خپلو صحابه وو کرامو ته وفرمايل چې: «الرَّوْنَ هٰذِهِ هَيِّنَةً عَلَى صَاحِبِهَا فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ عَلَى صَاحِبِهَا»[2] يعني ايا تاسو ګورئ چې دغه مرداره په خپل خاوند باندې (څومره) سپکه ده؟ نو زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زما روح د ده ﷻ په بلا کيفه لاس کښې دی چې هرومرو په الله ﷻ باندې دا دنيا د دغې مردارې څخه په خپل خاوند باندې ډېره سپکه ده.

دوهم: «لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ»[3] يعني که چېرته دا دنيا (من حيث دنيا) د الله ﷻ په نزد د ماشي د وزر سره برابرېدلې شوی نو کافر ته به يې ترې يو غړپ اوبه هم نه وی ورکړې.

درېيم: «إِذَا رَأَيْتَ اللهَ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ»[4] يعني کله چې ته وګورې چې الله ﷻ يوه بنده ته د ګناهونو سره-سره د دنيا څخه هغه څه ورکړي چې نوموړی يې

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۵۳

(۲) سنن ابن ماجه ص۲ ۳

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸

(۴) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوښوي، نو ته په یقین سره پوه شه چې دغه ورکړه استدراج دی (په ورو ورو نیول دي).

ب: که څوک وايي چې: د ایت شریف څخه فهمېږي چې که بالفرض الله ﷻ کفارو ته په هغه ډول سره دنیا ورکړې وی کومې ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده، نو ضرور به ټول خلک په کفر باندې ورغونډ شوي وی او د دنیا د اثر لاندې به واقع شوي وی. حال دا چې په نړۍ کښې داسې کسان تېر شوي او تېرېږي چې کفر ته په هیڅ وجه اووښتونکي نه دي، که څه هم یا ووژلی شي او یا په وژلو سره تهدید شي؟

مونږ وایو چې: د ایت شریف مطلب دا دی چې د طبیعت په لحاظ بنیادمان هغسې دي څنګه چې ورته اشاره شوې ده، او په بل ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴾ [الزخرف:۱۵] یعنې بې شکه (د طبیعت په لحاظ) بنیادم ښکاره ناشکره دی.

ج: که څوک وايي: چې کله دنیاوي پریمانې د خلکو د اجتماع او په یوه هدف باندې د راغونډېدلو ذریعه جوړېږي نو د څه حکمت په بنیاد دغسې پرېمانه دنیاوي وسایل مسلمانانو ته ورنه کړی شوه ترڅو هیڅوک کافر نه وی پاتې شوی او ټول په اسلام باندې راغونډ شوي وي؟

مونږ وایو چې: په دې کښې ـوالله ﷻ أعلمـ حکمت دا دی چې په دې صورت کښې به خلک په اخلاص سره نه بلکې د دنیاوي تمې په ملحوظ په اسلام کښې داخل شوي وی، حال دا چې دغه ډول اسلام د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی لکه چې فرمايي: ﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُ ﴾ [الزمر:۳] یعنې اګاه اوسئ چې الله ﷻ ته (مقبول دین) سوچه دین دی او بس.

د: په ﴿ يَتَّكِـُٔونَ ۝ وَزُخۡرُفٗا ﴾ کښې د "زُخۡرُف" کلمه په قرآن کریم کښې په لاندې دوه وو معناوو باندې استعماله شوې ده[1]:

اول: دغه کلمه د زینت او ښایست په معنی په [یونس:۲۴] ایت کښې نازله شوې ده.

دوهم: او د سرو زرو په معنی یې په [الإسراء:۹۳] ایت کښې نزول موندلی دی.

که څه هم دا کلمه دلته ځینو مفسرینو کرامو په لومړنۍ معنی سره اخستې ده، مګر مونږ ته د دې مقام سره ـچې په مبالغه باندې مشتمل دیـ د دوهمې معنی اخستل بهتر برېښي.

هـ: دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ذکرې شوې کلمې (زُخۡرُفٗا) په نصب (اعراب) کښې علماوو کرامو متعددې وجې لیکلې دي[2]، خو مونږ ته بهتره وجه دا ښکاري چې په ﴿ مِّن فِضَّةٖ ﴾ کښې به په "فضَّة" کلمه باندې عطفه وي چې محلاً منصوبه ده.

و: په ﴿ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ کښې د "إِنۡ" توری د نفي دپاره دی او د "لَمَّا" توری پکښې د "إِلَّا" معنی ورکوي[3].

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۴۶

(۲) روح المعاني ج۲۵ ص۸۰

(۳) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۵۶؛ تفسیر الطبري ج۲۵ ص۷۲؛ البحر المحیط ج۹ ص۳۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پورتنیو نکاتو ته په پام سره به د ایتونو مضمون داسې راوخېږي چې:

که په کفر باندې د خلکو د غونډېدلو او متفق کېدلو خطره نه وی نو مونږ به کفارو ته دومره ډېر دنياوي ساز او سامانونه ورکړي وی چې آن د کوټو چتونه، زینې، د کوټو دروازې، تختونه (چوکۍ) او بالآخره د کورونو نور سامانونه به مو ورته د سپینو زرو او د سرو زرو څخه ګرځولي وی او خلک به مو د ډېر سخت امتحان سره مخامخ کړي وی. او دا څکه چې: ستا د رب ﷻ په نزد دنیاوي سامان آلات څه ارزښت نه لري او هم یې آخرت یوازې متقیانو (مؤمنانو) پورې مختص ګرځولی دی او کفارو ته یې پکښې برخه نه ده ورکړې بلکې ابدي دوزخ یې ورته ټاکلی دی.

ز: الله ﷻ خپل بندګان په احکامو سره د امتحان لاندې واقع کوي مګر په هغو سختو احکامو سره نه کوم چې د اکثریت په لحاظ د دوی د وسې څخه بهر وي او د امتحان مفهوم د منځه وړي، بلکې ناکامي پکښې د طبیعت په لحاظ په عمومي توګه یقیني وي.

مونږ د الله ﷻ په توفیق همدغه موضوع د [البقرة:۱۸۵] او [النساء:۶۶] ایتونه لاندې د مثالونو په ترڅ کښې ښه پوره واضحه کړې ده خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحت وراضافه کوو:

ح: الله ﷻ د مؤمنانو ملګری دی خو فتحه او بری کله-کله په خارق العاده توګه ورکوي، که بالفرض په هر جنګي صحنه کښې یې مؤمنانو ته په خارق العاده توګه بری ورکړي او د کفارو جنګي وسائل په دوامداره توګه یو مخ د کاره وغورزوي نو د کفارو امتحان به د منځه لاړ شي او د ایمان په راوړلو سره به مجبور وګرځي، حال دا چې دنیا د امتحان ځای دی.

﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ۝٣٦ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ
عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ۝٣٧ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ
ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ۝٣٨ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي ٱلْعَذَابِ
مُشْتَرِكُونَ ۝٣٩ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِي ٱلْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝٤٠
فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ۝٤١ أَوْ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدْنَٰهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم
مُّقْتَدِرُونَ ۝٤٢ فَٱسْتَمْسِكْ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيْكَ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ۝٤٣ وَإِنَّهُۥ
لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ ۝٤٤ وَسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا
مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ۝٤٥ ﴾

[۳۶] او څوک چې د ډېر مهربان الله ﷻ د ذکر څخه اعراض وکړي (او د ایمان راوړلو څخه سترګې پټې کړي) نو مونږ ورته شیطان ټاکو چې د هغه سره به ملګری وي (او بدو کارونو ته به یې هڅوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۷] او یقینًا شیطانان به یې د سمې لارې څخه اړوي حال دا چې دوی به ګومان کوي چې بې شکه دوی د سمې لارې موندونکي دي.
[۳۸] آن تردې چې کله دوی مونږ ته راشي (او قیامت قائم شي) نو اعراض کوونکی کس به (ذکر شوي ملګري ته) ووايي چې: ای کاش! چې زما ترمنځ او ستا ترمنځ د مشرق او مغرب په اندازه لرېوالی وی، ځکه چې (ته) ډېر بد (ناکاره) ملګری یې.
[۳۹] او (هلته به اعراض کوونکي او ملګری یې مخاطب کړی شي چې) هیڅکله به نن ورځ تاسو ته د دې کبله چې تاسو (د کفر په ارتکاب سره) ظلم کړی دی دا خبره څه ګټه ونه شي رسولی (عذاب مو نه شي تخفیف کولی) چې یقینًا تاسو په عذاب کښې اشتراک کوونکي یاست (لکه چې په دنیا کښې به په اشتراک سره تخفیف کېده).
[۴۰] (ای پیغمبره!) ایا نو ته کڼو ته اورول کولی شې او یا ړوندو ته او (یا) هغه چا ته (سمه لاره ښودلی شې) کوم چې په څرګنده ګمراهۍ کښې (پروت) وي؟
[۴۱] نو هرومرو به یا مونږ تا بوځو (د دوی د تعذیب څخه به دې وړاندې وفات کړو) نو یقینًا مونږ ترې (په دنیاوي عذاب سره هم) انتقام اخستونکي یاستو.
[۴۲] او یا به هرومرو مونږ تاته هغه عذاب درولید کړو کوم چې مونږ ورسره (پرې) وعده کړې ده (ستا په ژوند کښې به یې معذب کړو).
ځکه چې یقینًا مونږ وربانديې (په دواړو صورتونو کښې) قدرت درلودونکي یاستو.
[۴۳] نو (ای پیغمبره!) ته په هغه (قرآن کریم) منګولې ښخې کړه کوم چې تاته (زمونږ د پلوه) وحې کړې شوې دی، (ځکه چې) یقینًا ته په سمه لاره باندې (روان) یې (چې مطلب ته رسوونکې لاره ده).
[۴۴] او یقینًا دا قرآن کریم ستا دپاره او ستا د قوم دپاره عزت (او شرف) دی، او ژر دی چې تاسو (په همدې هکله) وپوښتلی شئ (چې عمل مو ورباندې کړی دی او که نه).
[۴۵] او (ای پیغمبره!) ته د هغو کسانو (د اُمتیانو) څخه پوښتنه وکړه کوم چې مونږ ستا څخه پخوا لېږلي دي چې زمونږ د پیغمبرانو څخه عبارت دي، (البته داسې پوښتنه چې) ایا مونږ د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیر داسې معبودان ګرځولي دي چې د هغوی عبادت دې وکړی شي؟ (نو د توحید عقیده اجماعي عقیده ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د [الزخرف:۹] ایت څخه راپه دېخوا د مشرکانو اتو حماقتونو ته اشاره شوې ده. او په دې ایتونو کښې د دغو حماقتونو اصلي وجه ښودله کېږي، او هم پکښې نبي کریم ﷺ ته څه د خاصو ارشاداتو اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:
۱_ د مشرکانو د حماقتونو اصلي وجه دا ده چې هغوی په دوامدار ډول د ډېر مهربان الله ﷻ د ذکر څخه اعراض کوي او خانونه یې وربانديې رانده کاڼه اچولي دي چې ایمان ورباندې نه راوړي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هرڅوک چې دغه کار وکړي نو مونږ ورته شیطانان مقرروو چې لاندې چال چلند ورسره کوي:

الف: دغه شیطانان ورسره په دوامداره توګه ملګري دي او د هر یو نېک کار مخه یې نیسي.

ب: دغه شیطانان یې د حقې لارې څخه اړوي حال دا چې دوی په خپلو خانونو باندې ګومان کوي چې دوی یقیناً په حقه لاره روان او د حقې لارې موندونکي دي، چې د پلرونو روند تقلید یې غوره کړی دی.

ج: دغه حال به تر هغې ادامه وکړي ترڅو چې مونږ ته د انډیوالانو سره راشي او قیامت قائم شي، په دغه وخت کښې به هر یو کافر په خپله غلطۍ باور وکړي او خپل ملګری انډیوال به مخاطب کړي چې: ای کاش! چې زما او ستا ترمنځ د مشرق او مغرب په اندازه لرېوالی وی او ستا دغه منحوسه څېره مې نه لیدلی، او ای کاش! چې زما او ستا ترمنځ په دنیا کښې هم همدومره لرېوالي شتون درلودی او دا ځکه چې ته ډېر بد انډیوال یې چې زه دې د دائمي هلاکت په کنده کښې واچولم.

۲ـ د قیامت په ورځ به کفارو او د دوی انډیوالانو ته وویلې چې:

ای ظالمانو! کله چې تاسو په یقیني توګه په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی نو نن ورځ به تاسو ټول په دائمي عذاب کښې پراته یاست او هیڅکله به تاسو ته په عذاب کښې اشتراک څه ګټه ونه شي رسولی چې څه تخفیف مونده کړئ لکه څنګه به مو چې په دنیا کښې په اشتراک سره غم تخفیف مونده کاوه.

۳ـ نو ای پیغمبره! د ذکرو شوو عنادي او په بصیرت باندې د ړندو کفارو په مقابل کښې لاندې ارشادات په یاد وساته:

الف: د هغوی په کفر او شرک باندې په کلکو پاتې کېدلو سره ډېر مه غمژن کېږه، دا ځکه چې:

اول: ته د هغوی د کږلارۍ مسئول نه یې او ستا په توان کښې نشته چې ضرور به ورته لارښوونه کوې. ایا ته کڼو خلکو ته اورول کولی شي او یا ړندو ته لاره ښودلی شې؟ ایا ته هغه څوک په سمه سیده لاره روانه ولی شې کوم چې عناد نیولی وي او په ښکاره ګمراهۍ او حماقت کښې لګیا وي؟

دوهم: هو! ستا په غاړه فقط ابلاغ دی، نور نو زمونږ کار دی چې څه ورسره کوو. هغه دا چې:

دریم: مونږ به یا تا وفات کړو او ته به ونه ګورې چې مونږ ترې څنګه انتقام اخلو، او دا ځکه چې مونږ ضرور د ذکرو شوو احمقانو څخه په دنیا کښې هم د انتقام اخستونکي یاستو. او یا به تاته هغه عذاب درولید کړو د کوم چې مونږ ورسره وعده کړې ده.

په هر تقدیر مونږ په هغوی باندې د هر حیثه د اقتدار درلودونکي یاستو.

ب: ای پیغمبره! ته پخپله او ستا پیروان په هغه شي (قرآن کریم) باندې منګولې ښخې کړئ او په کلکه ورباندې عمل وکړئ کوم چې تاته وحې کړی شوی دی.

کفار که هرڅه پروپاګند کوي او هر ډول دروغجن لقبونه درکوي، کوي دې، ته یې هیڅ پروا مه ساته، او ورباندې غمژن کېږه مه. او دا ځکه چې بې شکه ته په ډېره سمه سیده لاره باندې روان یې چې پروپاګند ورباندې هیڅ اثر نه شي اچولی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ای پیغمبره! په یقین سره دا قرآن کریم ستا او ستا د پیروانو دپاره عمومًا او ستا د قومیانو (قریشو) دپاره خصوصًا ډېر لوی شرف او عزت دی، خو دا په یاد وساتئ چې ډېر ژر به ستاسو څخه د دغه لوی شرف او عظیم الشان نعمت په هکله پوښتنې وکړی شي چې د عمل په میدان کښې مو پیاده کړي دي او که نه.

د: ای پیغمبره! ستا د وخت کفار عناد نیولي دي چې تا د پیغمبر په صفت نه مني او د توحید دعوت دې نه قبلوي، که نه نو تا خو دوی ته کوم نوی شی نه دی وروړی چې په پخوانیو پېړیو کښې هیڅ سابقه نه لري، مونږ خو ستا په شمول ټول پیغمبران د توحید د اشاعت دپاره استولي دي چې ټولو به په اتفاق سره همدغه توحید ته دعوت چلاوه.

نو ته د خپل وخت د عنادیانو کفارو د قناعت دپاره د هغو پیغمبرانو د اُمتیانو څخه پوښتنه وکړه کوم چې مونږ ستا څخه وړاندې لېږلی وه چې: ایا مونږ د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیر نور شیان معبودان ګرځولي وه؟ ایا چاته مو اجازه ورکړې وه چې د غیر الله عبادت دې وکړی شي؟ ایا کوم پیغمبر د غیر الله د عبادت دپاره دعوت چلولی دی؟

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ ﴾ الآیة- کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولې:

الف: د ﴿ يَعْشُ ﴾ کلمه واوي ناقص ده ـ لکه "دَعَا، يَدْعُو" ـ چې د "و" توری یې د "مَن" په کلمې سره ساقط شوی دی کوم چې شرطیه معنی ته متضمن دی.

دا کلمه د "غَشَا" ـ لکه "عَصَا" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د نظر د کمزورۍ معنی ورکوي[۱]، مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د اعراض څخه کنایه اخستې ده[۲].

ب: د ﴿ نُقَيِّضْ ﴾ کلمې اصلاً د "قَيْض" ـ لکه "بَيْع" ـ څخه اشتقاق موندلی دی، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [حم السجدة: ۲۵] ایت لاندې ښه پوره تشریح کړې ده، چې اصلاً د هګۍ نازکې پردې ته وضعه شوې ده خو دلته د کنایې په توګه د تسلط او په قابو کښې د راوستلو معنی ورکوي.

یعنې: هرڅوک چې د ډېر مهربان الله ﷻ د ذکر څخه په زړه باندې روند شي او عقیده ورباندې خپله نه کړي نو هغه ته مونږ شیطان ټاکو او ورباندې یې مسلطوو، نو دغه شیطان به ورسره په دنیا کښې پیوستون ولري چې د ایمان راوړلو مخه به یې نیسي او په آخرت کښې به هم ورسره په دوزخ کښې دائمي اندیوال وي.

### دلته تغلیب مراد دی

۲ـ په ﴿ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ ﴾ کښې د "مَشْرِقَيْن" کلمه د مشرق او مغرب دواړو څخه عبارت

---

(۱) القاموس المحیط ج۳ ص۲۳۴
(۲) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده چې د تغليب په توګه د "مَغرِب" څخه هم په "مَشرِق" سره تعبير شوی دی[۱]، لکه چې کله کله د لمر او سپوږمۍ (شمس، قمر) دواړو څخه د تغليب په توګه په "قَمَرَيْن" سره تعبير کېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څه هم د ﴿ بُعْدَ ﴾ کلمه د يو طرفه لرېوالي دپاره وضعه شوې ده مګر دلته د تباعد (يو تربله بله د لرېوالي) معنی ورکوي[۲]، نو حاصل يې هغې راڅېړې کوم ته چې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

## يادونه

۳ـ د ﴿ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ ﴾ او د ﴿ نُرِيَنَّكَ ﴾ دواړو ايتونو مضمون وړاندې په [المؤمن:۷۷] ايت کښې هم نازل شوی دی هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ﴾ کښې د "ک" په توري سره نبي کريم ﷺ مخاطب کړی شوی دی او د "ذِكْر" د کلمې څخه دلته د "شرف او عزت" صفت مطلب دی چې د ذکر سره لازم دی[۳]، خو پوښتنه دا ده چې د نبي کريم ﷺ قوم دلته د چا څخه عبارت دی او قرآن کريم د چا دپاره شرف او عزت دی؟

مونږ وايو: په دې مقام کښې د "قَوْم" کلمه مفسرينو کرامو په لاندې معناوو سره تفسيره کړې ده:

الف: د نبي کريم ﷺ قوم څخه قريش مراد دی چې د ده ﷺ نږدې نسبي آقارب دي[۴].

او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ په خپل هغه حديث کښې فرمايلي دي کوم چې د "ص" د سورت په شان نزول کښې تېر شوی دی چې يو ځل يې د خپل تره (أبو طالب) په جواب کښې وويلي چې: «يَا عَمِّ أُرِيدُهُمْ عَلَى كَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ تَدِينُ لَهُمْ بِهَا الْعَرَبُ وَتُؤَدِّي الْعَجَمُ إِلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ» ای کاکا! زه د قريشو څخه فقط په يوه کلمه باندې اتفاق غواړم د کومې په سبب به چې ورته عرب اطاعت او انقياد وکړي او عجم به ورته پرې جزيه ورکړي.

ابو طالب پوښتنه وکړه چې هغه کومه کلمه ده؟ نو نبي کريم ﷺ ورته جواب ورکړ چې هغه دا کلمه ده چې: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ»[۵].

ب: دلته د "قَوْم" څخه ټول عرب مطلب دي[۶]. لکه چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ د سلمان الفارسي ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۲۸
(۲) تفسير الکشاف ج۴ ص۲۵۲
(۳) زاد المسير ج۷ ص۹۹
(۴) روح المعاني ج۲۵ ص۸۵
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص ۴۹۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۸
(۶) الجواهر ج۲۰ ص۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ: اى سلمانه! زما سره بغض مه كوه چې د خپل دين څخه به جدا شې (كافر به شې)

سلمان ﷺ: اى د الله رسوله! زه به څنګه ستا سره بغض وكړم حال دا چې همدا ستا په ذريعه ماته الله ﷻ هدايت كړى دى (او په ايمان يې مشرف ګرځولى يم)؟

نبي كريم ﷺ: «تُبْغِضُ الْعَرَبَ فَتُبْغِضُنِي»[1] يعني زما سره بغض دا دى چې ته د عربو سره بغض وكړې نو تا زما سره بغض وكړ.

ج: ځينو مفسرينو كرامو ترجيح وركړې ده چې دلته د قوم څخه د نبي كريم ﷺ پيروان مطلب شي[2]. او دا ځكه چې په همدې مطلب باندې زښت ډېر نصوص دلالت كوي، د بېلګې په توګه:

اول: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ﴾ [الحجرات:١٣] يعني يقيناً د الله ﷻ په نزد ستاسو ډېر مكرم (معزز) ستاسو ډېر تقوى دار دى.

دوهم: يو خل (په يوه حديث كښې) د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې د خلكو مكرم (معزز) څوك دى؟ هغه ﷺ جواب وركړ چې: «أَتْقَاهُمْ»[3] يعني هغه څوك ډېر مكرم دى كوم چې ډېر متقي وي.

دريم: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلَا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى»[4] يعني اګاه اوسئ چې عربي سړي ته په اعجمي سړي باندې فضل (بهتري) نشته، او نه اعجمي سړي ته په عربي باندې، او نه سره ته په تور باندې، او نه تور ته په سره باندې مګر په تقوى سره.

## تبصره

٥ـ زمونږ په نزد دنياوي شرف او عزت ته په كتلو سره لومړى قول اول لمبر دى او دوهم قول دوهم لمبر. او أخروي شرف او عزت ته په كتلو سره راته دريم قول په زړه پورى او لومړى درجه برېښي، والله ﷻ اعلم.

په هر صورت ذكر شوى مضمون په بل ايت كښې داسې منعكس شوى دى چې: ﴿ لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ [الأنبياء:١٠] يعني يقيناً مونږ تاسو ته داسې كتاب درنازل كړى دى چې ستاسو عزت (شرف) پكښې (پټ) دى ايا نو تاسو د عقل څخه كار نه اخلئ؟ (چې د خپل عزت او شرف قدرداني وكړئ).

## يوه عجيبه قيصه

٦ـ يوه ورځې هلاكو ـ چې د چنګيز خان لمسى او د تاريخ ظالم پاچا وه ـ د خپلو ملګرو سره په داسې حال كښې لاندې سوال جواب وكړ چې موذن لګيا وه اذان يې كاوه:

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٢٣٠

(٢) تفسير القرطبي ج١٦ ص٩٤؛ الدر المنثور ج٧ ص٣٨٠

(٣) صحيح البخاري ج١ ص٤٧٩

(٤) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص١٢٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلاکو: نن ورځ په دنیا کښې څوک پاچا دی؟

ملګري: نن ورځ همدا ته جناب پاچا يې، چې په خمکه دې حکومت جاري دی او د عامو خلکو په شمول آن پاچاهان دې هم اطاعت کوي.

هلاکو: دغسې نه ده، په دنیا کښې هغه څوک پاچا دی چې دا دی شپږ سوه کاله وروسته هم د هغه نوم په منارو کښې په لوړ اواز سره اخستل کېږي[1].

نوموړي د نبي کريم ﷺ نوم ته اشاره وکړه چې په "اشهد أن محمداً رسول الله" کښې يادېږي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ ﴾ کښې په ﴿ وَسْـَٔلْ ﴾ کلمې سره نبي کريم ﷺ ته توصيه شوې ده چې د پخوانيو پيغمبرانو څخه د خپل قوم د تخجيل او توبيخ دپاره د توحيد په هکله معلومات وغواړه چې: ايا تاسو د شرکياتو دپاره دعوت چلولی وه، ايا تاسو توحيد ته په دعوت نه ياست مامور شوي؟

نو پوښتنه دا ده چې د پخوانيو پيغمبرانو څخه د معلوماتو د اخستلو په غرض په څه ډول سره پوښتنې صورت نيولی شو، حال دا چې هغوی وفات شوي وه؟

مونږ وايو چې د دغې پوښتنې د جوابولو دپاره مفسرينو کرامو متعدد اقوال کړي دي[2]. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينو مفسرينو کرام وايي[3] چې که څه هم پخواني پيغمبران وفات شوي وه مګر د معراج په شپه ورسره نبي کريم ﷺ په بيت المقدس کښې ملاقات وکړ او د ټولو دپاره يې د دوه رکعته لمانځه امامت په غاړه واخست، چې د الله ﷻ په توفيق په همدې ارتباط د [الإسراء:١] ايت لاندې ښه وضاحت تېر شوی دی.

ته به وايې چې نبي کريم ﷺ ته به په ايت شريف کښې توصيه شوې وي چې د معراج په شپه د پيغمبرانو څخه معلومات وغواړه.

ب: اکثريت علماء کرام وايي چې دلته د پيغمبرانو د أمتيانو څخه معلومات اخستل مراد دي، نه پخپله د دوی څخه[4]. همدا مطلب د ايت شريف څخه په لاندې طريقو سره ترلاسه کولی شو:

اول: چې عبارت د مضاف په تقدير وګڼو، لکه چې په ﴿ وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ ﴾ [الأعراف:١٦٣] ايت کښې د "أهل" کلمه مقدره ګڼله کېږي، يعنې او د يهودو څخه د هغه ښار د اهاليو په هکله پوښتنه وکړه کوم چې د درياب په غاړه پروت وه.

---

(١) روح المعاني ج٢٥ ص٨٥

(٢) المحرر الوجيز ج٤ ص٢٦٢؛ تفسير الكشاف ج٤ ص٢٥٤

(٣) تفسير القرطبي ج١٦ ص٩٥

(٤) تفسير الطبري ج٢٥ ص٧٨؛ تفسير البغوي ج٤ ص٤١٤؛ تفسير المظهري ج٨ ص٣٥٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې طريقې سره به يې تقدير داسې راوخېژي چې: "وَاسْأَلْ أُمَمَ مَنْ أَرْسَلْنَا".
دوهم: ځرنګه اُمتيانو ته ذکره شوې پوښتنه د پیغمبرانو په ملحوظ راجع کېدی شوه نو ته به رابې چې هغوی ته ویل شوي وي چې تاسو ته خپلو پیغمبرانو د توحید په هکله څه ویلي وه؟ ایا تاسو يې شرکیاتو ته دعوت کړي وئ؟

## تبصره

۸_ مونږ ته د اکثریت نظر بهتر برېښي او دا ځکه چې:
الف: په دغه سوال سره نبي کریم ﷺ د مشرکانو د تخجیل او رټلو دپاره مخاطب شوی وه چې تا خو کوم نوی شی (عقیده) نه ده راوړې، د خلکو د قناعت دپاره ته د پخوانیو اهل الکتابو څخه وپوښته. په ایت شریف کښې اصلاً مشرکان په غوږ وهلی شوي وه چې تاسو دا کار وکړئ ترڅو درته جوته شي چې د توحید د ټولو پیغمبرانو ګډه عقیده ده. ځرنګه چې مشرکان د نبوت او معراج څخه انکاري وه نو هغوی هیڅکله باور نه کاوه چې نبي کریم ﷺ د معراج په شپه د پیغمبرانو سره ملاقات کړی دی او د توحید په هکله يې ورته پوښتنه راجع کړې ده، او نه په مشرکانو باندې د دغې پوښتنې جواب څه اثر غورزولی شو.
ب: په دې باندې علاوه دغه مضمون ته ورته مضمون په بل ایت کښې هم تېر شوی دی چې د دې دپاره نظیر ګڼلی کېږي، هغه دا چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَ ﴾ [یونس:۹۴] یعنې ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته د هغه (قرآن) څخه په شک يې کوم چې مونږ تاته درنازل کړی دی، نو ته د هغو کسانو څخه (په همدې هکله) پوښتنه وکړه کوم چې ستا څخه مخکښې اسماني کتاب لولې.
د همدغه ایت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفیق ډېرې ګټورې نکتې لیکلې دي، هیله ده چې ښاغلي لوستونکي يو ځل هلته مراجعه وکړي.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّى رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ
﴿۴۶﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَضْحَكُونَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ إِلَّا هِىَ أَكْبَرُ
مِنْ أُخْتِهَا ۖ وَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ
بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ
﴿۵۰﴾ وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِى قَوْمِهِۦ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِى مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِى مِن
تَحْتِىٓ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿۵۱﴾ أَمْ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿۵۲﴾ فَلَوْلَآ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ ﴿۵۳﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿۵۴﴾ فَلَمَّا آسَفُونَا انتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۵۵﴾ فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْآخِرِينَ ﴿۵۶﴾

[۴۶] او یقیناً مونږ موسی علیه السلام په خپلو معجزاتو (او دلایلو) سره فرعون او د ده (د حکومت مشرانو ته لیږلی وه، نو ورته یې وویلې چې: بې شکه زه د رب العالمین د پلوه استولی شوی یم.

[۴۷] نو کله چې زمونږ د معجزاتو (او دلایلو) سره هغوی ته ورغی نو سمدستي هغوی زمونږ د معجزاتو څخه خنداوې (او مسخرې) وکړې.

[۴۸] او مونږ فرعونیانو ته (د نهو معجزاتو څخه) هیڅ معجزه ور ونه ښودله مګر هغه به د هغې د خور (سیالې معجزې) څخه (په یو حیث) لویه وه، او (د هرې یوې معجزې په ورښودلو سره) مونږ هغوی په عذاب سره ونیول، شاید چې دوی (د کفریاتو څخه توحیدي عقیدې ته) رجوع وکړي.

[۴۹] او فرعونیانو (موسی علیه السلام ته) وویلې چې: ای غټ جادوګره! زمونږ دپاره خپل رب ﷻ د هغې وعدې په بنیاد وبله کومه چې (د هغه ﷻ د پلوه) ستا په نزد شتون لري، (ترڅو زمونږ څخه دغه خارق العاده عذاب لرې کړي او دا خبره چې:) یقیناً مونږ هرو مرو (د نجات په صورت کښې) لاره موندونکي یاستو (په تاباندې ایمان راوړونکي یاستو).

[۵۰] نو هرکله به چې مونږ د هغوی څخه خارق العاده عذاب لرې (اوچت) کړ نو (سمدستي ناڅاپه به هغوی وه چې (د ایمان راوړلو) وعده به یې ماته کړه (او خپلو کفریاتو ته به یې ادامه ورکړه).

[۵۱] او فرعون (په ډېر تکبر سره) په خپل قوم کښې لوړ اواز وکړ (او جارچیان یې ولیږل) ویې ویلې چې ای زما قومه! ایا د مصر مملکت په ما پورې اختصاص نه لري او هم دغه ویالې چې زما (د تصرف) لاندې بهیږي؟ ایا نو تاسو نه ګورئ؟ (ایا زما خبرې واقعیت نه لري؟).

[۵۲] بلکې زه د دغه هغه سړي څخه بهتر یم کوم چې سپک (او حقیر) دی (هیڅ شی په واک کښې نه لري او فقیر دی) او (هم) نږدې نه دی چې (خپل مطلب) ښه واضحه کړي (او په چلېدونکې ژبې سره یې څرګند کړي).

[۵۳] (که دغه ترتړی په ربښتیا پیغمبر وی) نو په ده باندې ولې (د الله ﷻ د پلوه) د سرو زرو څخه (جوړ کړی شوي) بنګړي وانه چول شوه؟ (او) یا ولې ورسره په داسې حال کښې پرښتې رانغلې چې یو تربله پیوسته (او صف) تړونکې وي؟

[۵۴] نو فرعون (په دغه استدلال سره) خپل قوم تحمیق کړ (او نوره بې عقلي یې هم وراضافه کړه) نو هغوی د هغه اطاعت ته ادامه ورکړه. یقیناً فرعونیان فاسق (د حد څخه تجاوز کوونکي) قوم وه.

[۵۵] نو کله چې فرعونیانو (د خپلو جنایتونو په ادامې سره) مونږ (خپلو خانونو ته) په غضب کړو، نو مونږ ترې (په دنیا کښې) انتقام واخست نو دوی ټول مو (د قلزم په بحیره کښې) غرق کړه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د ځمکې مخ مو ترې خالي کړ).

[۵۶] نو مونږ هغوی د وروستنیو کفارو دپاره امامان او (د وروستنیو مؤمنانو دپاره) د عبرت درسونه وګرځول.

## ارتباطونه

۱_ په [الزخرف:۳۱] ایت کښې د وخت د مشرکانو څخه دا حماقت هم راحکایت شوی وه چې د نبوت ورکړه یې په سرمایه دارانو پورې مختصه ګرځولې وه. په دې ایتونو کښې همدغه حماقت د فرعونیانو څخه هم راحکایت شوی دی چې د موسی ﷺ په مقابل کښې یې خپل کړی وه، او په نتیجه کښې د خپل حماقت په سزا ورسېده.

۲_ د وړاندېنیو ایتونو څخه د وروستني ایت مضمون دا وه چې د توحید عقیده اجماعي عقیده ده چې ټول پیغمبران د همدغې عقیدې د اشاعت دپاره استول شوي وه، او په دې ایتونو کښې آن تر [الزخرف:۶۷] ایت پورې د موسی ﷺ او عیسی ﷺ څه حالات د استشهاد په توګه نازل شوي دي چې دوی دواړه او هم د دوی دواړو کتابونه (تورات او انجیل) د توحید د اشاعت په هکله عالمي شهرت لري. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په دې مقام کښې په خپل اُمت باندې د کفارو د حماقتونو په ارتباط او هم د توحیدي عقیدې د اشاعت په ارتباط د استشهاد په توګه لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ په یقین سره مونږ فرعون او د ده د رعیت مخوږو کسانو ته د دې دپاره موسی ﷺ د پیغمبر په حیث ولېږه ترڅو هغوی د توحید عقیدې ته دعوت کړي، ترڅو په نتیجه کښې د هغوی په قبول سره عوام هم د توحید عقیده خپله کړي.

۲_ موسی ﷺ فرعونیانو ته ورغی او خپل خان یې ورته وروپېژاند چې: یقیناً زه د رب العالمین د پلوه تاسو ته رالېږلی شوی یم، ترڅو په ماباندې ایمان راوړئ او بني اسرائیل د خپل قید څخه خلاص کړئ او زما سره یې د شام تاتوبي ته پرېږدئ چې لاړ شي.

۳_ موسی ﷺ فرعونیانو ته د معجزاتو سره ورغی او خپل رسالت یې ورته په اثبات ورساوه خو د دې سره- سره هغوی د پیغمبر په صفت قبول نه کړ بلکې سمدستي یې د هغه ﷺ په دعوت باندې خندنې او ملنډې پیل کړې، او په معجزاتو باندې یې د جادو نوم کېښود.

۴_ مونږ د موسی ﷺ د تائید دپاره د معجزاتو لړۍ جاري وساتله او د هرې معجزې مو وروښودلې چې هره یوه معجزه به د بلې سیالې معجزې څخه د ځینو حیثیتونو په لحاظ ستره او قوي وه.

۵_ لنډه دا چې مونږ فرعونیانو ته داسې معجزات وروښودل چې برسېره په دې چې خارق العاده معجزات وه په هره یوه کښې عذاب او ډارول هم نغښتي وه.

نو مونږ هغوی د دغو معجزاتو په ترځ کښې په ډول-ډول عذاب سره ونیوه شاید چې دوی د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شرکیاتو او کفریاتو څخه توحید عقیدې ته رجوع وکړي او په ایمان مشرف جوړ شي.

۶_ که څه هم هغوی د هرې یوې معجزې او خارق العاده په لیدلو سره د ایمان راوړلو وعده موسی ﷺ ته ورکوله او په هر وار به یې مخاطب ګرځاوه چې: ای پوخ جادوګره! زمونږ دپاره خپل رب ﷻ ته سوال وکړه چې د هغه عهد په اساس کوم چې ستا په نزد موجودیت لري، زمونږ څخه د عذاب مخه واړوي او دا خکه چې په دغه صورت به مونږ په تاباندې ایمان راوړونکي جوړ شو او د سمې لارې موندونکي به وګرځو.

۷_ خو کله به چې مونږ د هغوی څخه د عذاب مخه واړوله نو سمدستي به هغوی د خپل لوظ څخه وګرځېده او خپلې وعدې به یې ماتې کړې، تا به ویل چې دوی هغه کسان نه دي کومو چې د ایمان د راوړلو وعده کړې وه، بلکې خپلو کفریاتو ته به یې د پخوا غوندې ادامه ورکړه.

۸_ په دې باندې علاوه د خپل قوم د تحمیق دپاره فرعون هغوی مخاطب کړه او په لوړ اواز یې ورته وویلې او هم یې په ښارونو کښې جارچیان خواره کړه چې:

الف: ای زما قومه! ایا د مصر پاچایي زما نه ده؟ ایا دغه ویالې (چې زما د لاس لاندې بهېږي او ټول مصر ورباندې تروتازه او شین زرغون ګرځېدلی دی) زما نه دي؟ نو تاسو نه ګورئ چې موسی ﷺ نه په مصر پاچایي لري او نه د دغو ویالو څخه څه برخه درلودونکی دی، ایا نوموړی زما سره سیالي کولی شي؟

ب: ایا زه د دغه سړي څخه بهتر یم کوم چې مال او ثروت نه لري (سرمایه دار نه دی) او په دې باندې علاوه په ښه وضاحت سره خبرې هم نه شي کولی او په خبرو کښې یې ژبه نښلي او د ترتړې اواز درلودونکی دی.

ج: په دې باندې علاوه، که بالفرض موسی ﷺ په رښتیا سره پیغمبر وي نو په هغه باندې ولې د الله ﷻ د پلوه د سرو زرو بنګړي وانه چولي شوه، ترڅو خلک پوه شوي وی چې نوموړی په خپله ادعاء کښې رښتینی دی او د الله ﷻ په نزد معزز سړی دی. او یا ولې ورسره صفونه‌صفونه پرښتې رانغلې چې مونږ ته یې راپېژندلی وی چې نوموړی د الله ﷻ د پلوه په رښتیا رالېږلی شوی دی.

نو کله چې د ذکرو شوو دواړو کارونو جواب منفي دی نو مونږ هیڅکله نوموړي ته د پیغمبر په صفت عقیده نه شو کولی.

۹_ ای پیغمبره! فرعون په ذکر شوي بې بنیاده خطاب سره خپل قوم تحمیق کړ او د پخوانی سادګی څخه علاوه نوره سادګي یې هم ورباندې وربار کړه، نو د همدې کبله یې د فرعون اطاعت ته ادامه ورکړه او دا خکه چې دوی فاسق قوم وه او د فاسق په اطاعت کلک شوه.

۱۰_ نو کله چې فرعونیانو د اوږده دعوت څخه وروسته او د ګڼ شمېر معجزاتو په تعقیب د موسی ﷺ تکذیب ته ادامه ورکړه، نو مونږ یې خپلو خانونو ته په غضب کړو، چې سمدستي مو ترې دنیاوي انتقام واخست نو ټول مو د څرمې په دریاب کښې په خارق العاده توګه غرق کړه او څمکه مو د هغوی د شره خلاصه کړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۱_ بلکې هغوی مو د وروستنیو کفارو دپاره امامان في الکفر وګرځول، چې دوی به هم د هغوی غونډې انتقام سره مخامخ کړی شي. همدارنګه مو هغوی د وروستنیو نېکانو او مؤمنانو دپاره مثال او د عبرت درس جوړ کړه چې د هغوی په قدم لاړ نه شي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا ﴾ کښې د "أُخت" کلمه د "اخ" د کلمې دپاره مؤنثه ده چې د خور معنی ورکوي، مګر د کنايې په توګه په هر هغه شي کښې استعمالېږي کوم چې د بل شي سره د مناسبتونو څخه په یوه مناسبت کښې اشتراک ولري[1].

موسی ﷺ ته نهه (۹) معجزې ورکړی شوي وې چې تفصیل ته یې په [الأعراف:۱۳۳] ایت کښې اشاره شوې ده، دغه ټولې معجزې په خارق العاده توب کښې شریکې وې څکه په هرې یوې باندې د "أُخت" اطلاق وکړی شو.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا ﴾ څخه څرګندېږي چې د موسی ﷺ نهه معجزې هره یوه د بلې څخه لویه وه. نو پوښتنه دا ده چې ایا په دې تقدیر تناقض نه لازمېږي چې هره یوه معجزه هم وړه او هم لویه ګرځي، بلکې هره یوه د خپله خانه هم وړه یا لویه وګرځي؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[2]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به حیثیت ملحوظ وي، یعنې هره یوه معجزه په یو حیث سره د بلې معجزې څخه په بل حیث سره لویه وه.

دغه جواب ته ورته جواب په ﴿ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴾ [یوسف:۷۶] ایت کښې هم تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## پوښتنې او جوابونه

۳_ دغه عبارت ﴿ وَقَالُوا يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ ته ورته عبارت وړاندې هم نازل شوی دی چې: ﴿ قَالُوا يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ [الأعراف:۱۳۴]، او مناسب تحقیق یې هم هلته لیکلی شوی دی والحمد لله ﷻ، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې پوښتنې او جوابونه وراضافه کوو:

الف: که څوک وايي چې: هلته د فرعونیانو څخه د ﴿ يَٰمُوسَى ﴾ کلمه راحکایت شوې ده او دلته ترې د ﴿ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ﴾ کلمې حکایت موندلی دی، نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه خطابونه سره یو تربله منافات نه لري حال دا چې موضوع یوه ده؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۸

(۲) نظم الدرر ج۷ ص۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: څرنګه چې تعذيبي معجزاتو په تحقق کښې فاصله درلوده، نو څه لرې نه ده چې په يوه غوښتنه کښې به يوې خطابې صورت نيولى وي او په بله کښې به بلې، او يا به دغه اختلاف د قائلينو د اختلاف په سبب رامنځته شوى وى، والله ﷻ أعلم.

ب: که څوک وايي چې: ايا دا عجب حماقت او تناقض نه دى چې د يو پلوه موسى ﷺ د فرعونيانو د پلوه په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ﴾ سره تحقيرېږي چې اى جادوګره!، او د بله پلوه غواړي چې د همده ﷺ د دعاء په برکت د خارق العاده عذابه نجات مونده کړي؟ او په دې باندې علاوه، د همدغه تحقير سره-سره د ايمان راوړلو وعده هم ورکوي چې: ﴿ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴾ مونږ ستا د دعوت منونکي ياستو او ستا د هدايت قبلونکي ياست؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو د دغه حماقت او تناقض څخه د فرعونيانو د بچ کولو دپاره ډېر غير متبادر جوابونه کړي دي[1] چې يو هم زړه ته نه لوېږي.

د مثال په توګه: ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د ﴿ يَـٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ﴾ د خطاب څخه د هغوى تحقير مطلب نه وه بلکې هغوى د تعظيم دپاره دغه لقب ورکاوه، هغوى د "سَاحِرُ" کلمه د لوى عالم په معنى اخستله چې اى لويه عالمه![2].

مګر مونږ ته دغه جواب ډېر بې مزې برېښي چې د يو پلوه په قرآن کريم کښې چرته د "سَاحِرُ" کلمه د لوى عالم په معنى نه ده استعماله شوې، او د بله پلوه ضرورت هم نشته چې د فرعونيانو څخه د حماقت او تناقض د لرې کولو دپاره غيرو متبادرو جوابونو ته لاس واچوو؛ خلک وايي چې: "اوبنه! کوم خاى دې سم دى پاتې دې لا غاړه".

نو جواب ته څه اړتيا نشته، هغوى خو دغسې ډېر حماقتونه درلوده.

## د فرعونيانو حماقتونه

۴ـ د ښه وضاحت دپاره د فرعونيانو د حماقتونو لاندې مثالونه ولولى:

الف: يوه حماقت ته يې په [القصص:۳۸] ايت کښې اشاره شوې ده چې هغوى د فرعون په دې خبره هم باور وکړ چې: زه به د يوې دنګې ماڼۍ په ذريعه اسمان ته وخېژم او هلته به د موسى ﷺ د رب سره پخپله وګورم، چې ايا موسى ﷺ تا په رښتيا د پيغمبر په حيث رالېږلى دى او که نه؟.

ب: د بل حماقت په هکله يې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ [النازعات:۲۴] يعني نو فرعون خپل قوم ته وويلې چې: زه ستاسو اوچت (لوى) رب يم.

خو دغه أحمق قوم يې تصديق وکړ او دومره يې هم ورته ونه شو ويلى چې ته خو پخپله مخلوق يې، ستا رب څوک دى؟، يا د اسمانونو او ځمکو رب څوک دى؟.

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۷ ص۲۱۸؛ روح المعاني ج۲۵ ص۸۸؛ زاد المسير ج۷ ص۱۰۱

(۲) تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۲۹؛ تفسير الطبري ج۲۵ ص۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د فرعونیانو د حماقت یو نظیر

۵ـ مونږ ته د فرعونیانو هغه حماقت په کوم کښې چې بحث روان دی د قریشو یو حماقت ته ورته برېښي، چې د یو پلوه یې د نبي کریم ﷺ د رسالت څخه انکار کاوه او د بله پلوه یې باور درلود چې الله ﷻ یې سوال قبلوي. خلاصه یې دا ده:

الف: کله چې نبي کریم ﷺ ولیده چې خلکو د اسلام قبول ته شا کړه نو ښېرا یې ورته وکړه او ویې ویل چې: «اللَّهُمَّ سَبْعًا كَسَبْعِ يُوسُفَ»[1] ای الله ﷻ! په دغو خلکو هغسې اوه سخت کلونه ورولې لکه د یوسف ﷺ اوه سخت کلونه (چې د قحطۍ سره مخامخ شي).

ب: نو الله ﷻ په هغوی باندې داسې وچکالي او قحطي وروستله چې هر شی یې پوپنا کړ.

ج: آن تردې چې خلکو پوستکي او مردارې وخوړې، او د ډېرې لوږې د کبله وربانډې داسې حالت ورغی چې کوم یوه به اسمان ته وکاته نو اسمان به ورته لوغړن ښکارېده، حال دا چې اسمان به لوغړن نه وه، په سترګو به یې لوږې پرده خوره کړې وه.

د: نو نبي کریم ﷺ ته ابو سفیان ـچې لا تر دغه وخته د "رضي الله عنه" لایق نه وه ګرځېدلی ـ ورغی او ورته یې وویلې چې: ای محمده! ته خو د الله ﷻ په اطاعت او په صله رحمۍ سره امر کوې حال دا چې ستا قوم د قحطۍ او وچکالۍ د کبله هلاک شو، نو د همدوی دپاره الله ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه ترڅو ترې سختي لرې کړي او پراخي وربانډې ورولي.

## د "أم" د توري معنی

د: مفسرینو کرامو په ﴿ أَمْ أَنَا خَيْرٌ ﴾ کښې د "أم" توری په ډېرو احتمالاتو سره معنی کړی دی[2]، خو د اکثرو په نزد دغه توری دلته د "بَلْ" د توري معنی ورکوي[3]. یعنې فرعون خپل قوم مخاطب کړ چې: ای قومه! د مصر پاچاهي زما ده او تاسو د سر په سترګو ګورئ چې بهېدونکې ویالې زما په اختیار کښې دي، بلکې زه د دغه هغه کس څخه بهتر یم کوم چې سپک او فقیر دی هیڅ شی یې په واک کښې نشته، او په دې باندې علاوه ژبه یې هم نښلي.

## یو بل اتهام

۷ـ د موسی ﷺ ژبې لږ څه غوټه درلوده چې په خبرو کښې بنده بنده کېده، که څه هم الله ﷻ دغه غوټه پرانستله، لکه چې په [طه: ۳۶] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، مګر فرعون د غوټې په پرانستلو سترګې پټې کړې او د توهین په غرض یې وربانډې د ترټري اتهام ولګاوه چې: ﴿ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴾ یعنې موسی ﷺ نژدې نه دی چې ما في الضمیر په ښه توګه څرګند کړي، او زه د بلبل غوندې چغېږم (ژبه مې نه نښلي).

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۷؛ ج۲ ص۷۱۴
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۲۷۴
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## آسف څه معنی؟

۸_ په ﴿ فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ﴾ کښې د ﴿ ءَاسَفُونَا ﴾ کلمه اصلاً د "أسَف" ـلکه "غَضَب"ـ څخه اشتقاق شوې ده، "أسَف" د حزن او غضب د مبالغې دپاره وضعه شوی دی[۱] خو په دې مقام کښې عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما یوازې په غضب سره تفسیر کړی دی[۲]. یعنې نو کله چې فرعونیانو مونږ د خپلو جنایتونو او لجاجتونو د کبله په غضب کړو (هغسې غضب کوم چې زمونږ د شان سره مناسب وه) نو انتقام مو ترې واخست او ټول مو په دریاب کښې غرق وګرځول.

## د سلف او مثل معناوې

۹_ په ﴿ فَجَعَلْنَـٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْـَٔاخِرِينَ ﴾ کښې د "سَلَف" کلمه هغه چا ته وضعه شوې ده کوم چې وړاندې تېر شوي وي[۳] او د راتلونکو خلکو دپاره د إمام حیثیت ولري. او د "مَثَل" کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو د عبرت په معنی سره تفسیره کړې ده[۴]. یعنې مونږ فرعونیان د راتلونکو کفارو دپاره امامان وګرځول او د راتلونکو مؤمنانو دپاره مو د عبرت درس جوړ کړ.

همدغه مضمون په لاندې ایتونو کښې په صراحت سره نازل شوی دی:

الف: ﴿ وَجَعَلْنَـٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ﴾ [القصص:۴۱] یعنې او مونږ فرعونیان (د بدانو دپاره) داسې امامان وګرځول چې (د قیامت تر ورځې پورې) اور ته بلل کوي.

ب: ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴾ [النازعات:۲۶] یعنې یقیناً په دغه (فرعونیانو په غرقولو کښې د هغه چا دپاره د عبرت درس دی کوم چې (د الله ﷻ څخه) دارېږي.

﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ۝٥٧ وَقَالُوٓا۟ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ۝٥٨ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَـٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ۝٥٩ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَـٰٓئِكَةً فِى ٱلْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ۝٦٠ وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِ ۚ هَـٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ۝٦١ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ ۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٦٢ وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلْبَيِّنَـٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِٱلْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝٦٣ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ

(۱) لسان العرب ج۹ ص۵
(۲) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۸۴، الدر المنثور ج۷ ص۳۸۴
(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۵۹۷
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾ فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ ﴾

[۵۷] او هر کله چې د مريمې رضي‌الله‌عنها زوی (عيسى ﷺ د شرکياتو د استدلال دپاره) مثال ووهلی شي (وګرځولی شي) نو ناڅاپه (سمدستي) ستا قوم (قريش) د دې (مثال) څخه شور او زوږ خپلوي (او د خوشالۍ د کبله خاندي).

[۵۸] او (په خندا کښې) وايي چې: ايا زمونږ معبودان (ستا په نزد) بهتر دي او که عيسى ﷺ؟ (عيسى ﷺ د نصاراوو معبود دی او ستا په نزد پکښې خير شته چې ته يې پيغمبر ګڼې).

(ای پيغمبره!) هغوی عيسى ﷺ تاته د مثال په توګه نه ګرځوي مګر په داسې حال کښې چې هغوی جګړه کوونکي دي بلکې هغوی (په باطله سره په مستمره توګه) جګړماران دي.

[۵۹] عيسى ﷺ نه دی مګر يو بنده دی (معبود نه دی) چې مونږ وربانديې (د نبوت په ورکړې سره) انعام کړی دی، او (په خارق العاده پيدا کولو سره) مونږ د بني اسرائيلو دپاره (د خپل کامل قدرت) يو مثال ګرځولی دی.

[۶۰] او (دا څه عجيبه نه ده بلکې) که زمونږ اراده وشي نو ستاسو نارينه وو (بنيادمانو) څخه به پرښتې په ځمکه کښې وګرځوو چې (ستاسو) خلافت به کوي (لکه څنګه چې ستاسو اولادونه ستاسو خليفه ګان دي).

[۶۱] او يقيناً عيسى ﷺ د قيامت د قيام دپاره غټه علمي نښه ده، نو (ای خلکو!) تاسو د قيامت په قيام سره بالکل شک مه کوئ او زما پيروي وکړئ چې همدغه سمه لاره ده.

[۶۲] او تاسو دې هرو مرو شيطان (د قيامت د عقيدې څخه) وانه ړوي (او دا ځکه چې) بې شکه شيطان ستاسو ښکاره دښمن دی.

[۶۳] او کله چې عيسى ﷺ (بني اسرائيلو ته) د معجزاتو سره ورغی نو (ورته) يې وويلې چې: ما تاسو ته حکمت (شريعت) راوستلی دی، او هم د دې دپاره (راغلی يم) چې تاسو ته ځينې هغه شی بيان کړم په کوم کښې چې تاسو اختلاف کوئ. نو (زما څخه نه بلکې) د الله ﷻ څخه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ (چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی).

[۶۴] يقيناً الله ﷻ همدی ﷻ زما رب دی او ستاسو رب هم، نو (زما عبادت مه کوئ) د الله ﷻ عبادت وکړئ، دغه (يوازې د الله ﷻ عبادت کول) سمه لاره ده.

[۶۵] نو بني اسرائيل د خپل منځ څخه مختلف شوه (او ډلې پکښې جوړې شوې). نو هغو کسانو ته ويل دی کومو چې ظلم اختيار کړ چې (دا ويل) د دردناکې ورځې د عذاب څخه عبارت دي.

## شان نزولونه

د دغو ايتونو په ارتباط مفسرينو کرامو متعدد شان نزولونه ليکلي دي لاندې مثالونه يې ولولئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ځینو هغه شان نزول لیکلی دی(۱) کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنبیاء:۱۰۱] ایت لاندې لیکلي دي.

۲_ ځینې وایي: کله چې دا ایت شریف نازل شو چې ﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَ ﴾ [آل عمران:۵۹]، نو د مشرکانو ځخه یوې ډلې وویلې چې د محمد ﷺ د دې قیصې په ذکر سره مطلب دا دی چې مونږ یې داسې عبادت وکړو لکه څنګه چې نصاراوو د عیسی ﷺ عبادت کاوه. نو الله ﷻ د هغوی خبره رده کړه او ذکر شوي ایتونه نازل شوه(۲).

۳_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ځخه په یوه اوږده حدیث کښې روایت دی چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ قریش مخاطب کړه چې: «يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ! إِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُعْبَدُ مِنْ دُونِ اللهِ فِيهِ خَيْرٌ»(۳) یعني ای د قریشو ټولګیه! یقینًا شان دا دی چې هیڅوک داسې نشته چې د الله ﷻ ځخه په غیر یې عبادت وکړی شي او په هغه کښې څه خیر وي.

نو هغوی سمدستي عیسی ﷺ په اعتراض کښې یاد کړ، چې ستا په خیال پیغمبر دی او د الله ﷻ صالح بنده دی خو نصارا یې عبادت کوي، که په ده ﷺ کښې خیر نه وي نو باک یې نشته زمونږ په معبودانو کښې دې هم خیر نه وي.

په دې باندې علاوه ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي(۴) چې کله وړاندېنی [الزخرف: ۴۵] ایت نازل شو او شرک یې په ټولو اسماني ادیانو کښې غیر مشروع وباله، نو مشرکانو (قریشو) ذکر شوی اعتراض راپورته کړ چې دغسې نه ده، عیسویت (نصرانیت) اسماني دین دی حال دا چې نصارا د عیسی ﷺ عبادت کوي.

په هر تقدیر، د قریشو د ذکر شوي اعتراض په رد کښې الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه.

## تبصره او ارتباط

که څه هم ذکر شوي شان نزولونه سره څه منافات نه لري مګر مونږ ته دریم شان نزول په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې دغه شان نزول د سیاق او سباق (د وړاندې ېرته) ایتونو په ارتباط کښې ډېر ښه تناسب لري هغه دا چې:

الله ﷻ په وړاندېنیو ایتونو کښې د استشهاد په توګه د موسی ﷺ قیصې ته اشاره وکړه او په دې ایتونو کښې یې په همدغه ملحوظ د عیسی ﷺ ځه حالات نازل کړي دي. دغه دواړه مشهور پیغمبران او د مشهورو کتابونو (تورات انجیل) خاوندان دي او د دواړو په شریعتونو کښې شرکي عبادت ممنوع ګرځولی شوی دی.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۰۳

(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۶۸، الدر المنثور ج۷ ص۳۸۵؛ تفسیر الطبري ج۲۵ ص۸۶

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۸۱؛ اسباب النزول للواحدي ج۲۵۲

(۴) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۳۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د توحید د واقعیت د بیانولو دپاره په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ ته خو خلکو ته د توحید توصیه کوې خو هرکله چې ستا توصیه مشرکان واورې نو:

الف: همدا ستا د دعوت د رد په هکله او د بوت پرستۍ د حقانیت د اثبات په هکله د هغوی د یوه کس د پلوه په عیسی ﷺ باندې استدلال ونیولی شي چې نصرانیان یې عبادت کوي، نو سمدستي بدون د تفکره ستا قوم (قریش) په خندا او زوږ سره خوشالي څرګنده کړي چې هغوی په تاباندې برلاسي شوه او ته یې پړ کړې.

ب: ستا قوم (قریش) د خپل ذکر شوي اعتراض د تائید په ارتباط وايي چې: ای محمده! ایا زمونږ معبودان بهتر دي او که عیسی ﷺ؟ پوره واضحه ده چې ستا په نزد عیسی ﷺ بهتر دی او خیر پکښې دی، چې په نبوت ورته قائل یې، خو د دې سره-سره نصاراوو خپل معبود ګرځولی دی، نو ستا دغه خبره د اعتبار قابله نه ده چې په غیر الله معبودانو کښې خیر نشته.

۲_ عیسی ﷺ چا ته توصیه نه ده کړې چې زما عبادت وکړئ او نه کوم پیغمبر ته دغه ډول توصیه مناسبه ده، او همدارنګه د مشرکانو سره د خپل اعتراض په تائید کښې کوم دلیل هم نشته.

نو د هغوی اعتراض نه دی مګر نامشروعه او بې دلیله جګړه ده چې تاته یې درمخې ته کړې ده بلکې هغوی جګړه مار خلک دي چې بلا دلیله جګړې یې عادت ګرځېدلی دی.

۳_ عیسی ﷺ خو زمونږ یو مخلص بنده دی چې:

الف: مونږورباندې انعام کړی دی او د نبوت تاج مو ورپه سر کړی دی، او هیڅ پیغمبر ته مناسبه نه ده او نه واقعیت موندلی شي چې خلک خپل عبادت ته دعوت کړي او د الله ﷻ په عبادت باندې سترګې پټې کړي.

ب: هو! عیسی ﷺ مونږ په خارق العاده توګه (بې پلاره) پیدا کړي دي او د بني اسرائیلو دپاره بلکې د ټولو خلکو دپاره مو د خپل کامل قدرت یو مثال ګرځولی دی. مګر بني اسرائیلو زمونږ د دغه خارق العاده کار څخه غلطه استفاده وکړه او په عبادت ورته قائل شوه، او عیسوي شریعت یې د پښو لاندې کړ.

ج: حال دا چې بې پلاره پیداکول او پیداکېدل خو د معبودیت دلیل نه شي جوړېدلی، ایا تاسو نه ګورئ چې: که زمونږ اراده وشي نو مونږ به ستاسو څخه پرښتې تولد کړو حال دا چې ستاسو (نارینه وو) سره دا کار تاسو ته بعید برېښي خو زمونږ قدرت ته ډېر اسان کار دی.

لنډه دا چې مونږ کولی شو چې په خارق العاده توګه پرښتې ستاسو اولادونه وګرځوو چې په ځمکه کښې ستاسو خلیفه ګانې جوړې شي لکه چې ستاسو اولادونه درته خلیفه ګان جوړېږي. زمونږ قدرت محدود او ناقص نه دی، زمونږ هر څه د واکه پوره دي نو خارق العاده توب د معبودیت دلیل نه شي کېدلی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هوا عیسی علیه السلام لکه څنګه چې په خارق العاده توګه پیدا ګړی شوی وه همدارنګه په خارق العاده توګه په اسمانونو کښې ژوندی دی چې د قیامت د قیام په نژدې وخت کښې به راښکته شي او څنګه به په عدل او انصاف سره ډکه کړي، نو په دغه وخت کښې به د قیامت د قیام دپاره علم او نښه وګرځي.

۴ـ نو ای پیغمبره! خپل اُمت مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: تاسو د قیامت په قیام او د عیسی علیه السلام په راښکته کېدلو کښې شکونه مه کوئ او زما پیروي وکړئ چې په دې زمانه کښې فقط همدغه سمه او برابره لار ده او بس.

ب: او هرومرو دې تاسو د دغې عقیدې او زما د اتباع څخه شیطان ونه ګرځوي او دا ځکه چې شیطان ستاسو دپاره ځرګند دښمن دی، په خبره یې باور مه کوئ.

۵ـ ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې په دې مقام کښې څه واقعیتونه قرائت کړه ترڅو د عیسی علیه السلام په هکله د مشرکانو افتراګانې بنې په ډاګه شي هغه دا چې:

الف: کله چې عیسی علیه السلام بني اسرائیلو ته د معجزاتو سره د پیغمبر په صفت ورغی نو هغوی یې په لاندې مطالبو مخاطب کړه:

اول: ای بني اسرائیلو! زه تاسو ته د الله ﷻ د پلوه د حکمتونو سره راغلی یم او انجیل مې د خانه سره راوړی دی، البته دا د دې دپاره چې تاسو په سمه لاره باندې سوق کړم او هغه ځینې شیان درته بیان کړم په کومو کښې چې تاسو اختلاف کوئ او د جګړو باعث مو ګرځېدلي دي.

دوهم: نو تاسو یوازې د یو الله ﷻ څخه ووار شئ او د عذابونو څخه یې خپل ځانونه بچ کړئ.

دریم: تاسو صرف زما پیروي او اطاعت وکړئ او هغه ارشادات قبول کړئ کوم چې ما د یوه پیغمبر په حیث د الله ﷻ د پلوه راوړي دي.

څلورم: یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ زما رب هم دی او ستاسو رب هم، نو تاسو فقط د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ او بس، زه تاسو خپلې بندګۍ ته نه دعوتوم زه پخپله د خپل رب ﷻ بندګي کوم، ماته د معبود لقب مه راکوئ.

پنځم: ای بني اسرائیلو! دغه سمه لاره ده، هر چا چې دغه سمه لاره پرېښودله هغه ګمراه شو.

ب: که څه هم عیسی علیه السلام هغوی ته د اختلاف د له منځه وړلو دپاره ورغلی وه چې ټول په توحیدي عقیده باندې متفق جوړ شي، مګر هغوی خپلمنځي اختلاف ته وده ورکړه او په زښتو ډېرو ډلو باندې ووېشلي شوه، چې فقط یوه ډله پکښې په توحیدي عقیده باندې کلکه پاتې شوه کومې چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ بنده او پیغمبر ګاڼه، او نورې ټولې په ضلالت اخته شوې او یا پکښې اخته پاتې شوې حتی چې ځینې ډلې عیسی علیه السلام ته په الوهیت قائلې شوې چې اوس ورباندې مشرکان استدلال کوي.

ج: نو هغو کسانو ته ویَل دی کومو چې ظلم غوره کړ، کومو چې توحیدي عقیده پرېښودله او په کفریاتو اخته شوه. البته دغه ویَل د دردناکې ورځې د عذاب څخه عبارت دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا ﴾ الآية- کښې د ﴿ ضُرِبَ ﴾ کلمه مجهوله صیغه ده، چې فاعل یې ذکر نه دی، نو فاعل یې څوک دی؟ یا په بل عبارت: هغه څوک وه چې د بوتانو د حق ګرځولو دپاره یې په عیسی ﷺ باندې په دروغو معبودیت او الوهیت ورتاپه؟

مونږ وایو چې: د جمهورو علماوو په نزد د دغو تور ورتپونکی "عبد الله بن الزبعری" وه چې د قریشو په استازیتوب یې خبرې کولې[۱]، د همدې کبله په راتلونکي ﴿ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا ﴾ کښې د دغه دروغین تور نسبت ټولو قریشو ته صورت نیولی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ يَصِدُّونَ ﴾ کلمه د "صَدِيد" څخه اشتقاقه شوې ده او په "ضَرَبَ يَضْرِبُ" باندې قیاس ده، چې د شور او زوږ او په کړس-کړس خندا معنی ورکوي[۲].

یعني ای پیغمبره! کله چې د قریشو د نماینده (عبد الله بن الزبعری) د پلوه د بوتانو د حق ګرځولو په غرض عیسی ﷺ د مثال په توګه ذکر کړی شي نو سمدستي ستا قوم (قریش) شور او زوږ جوړ کړي او په کړس-کړس خاندي، ګوندې ته ملامته او پړ شوې، خو خبره دغسې نه ده.

### جګړه د ضلالت نښه ده

۲_ په ﴿ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُونَ ﴾ کښې د "جَدَل" د کلمې څخه هغه جګړه مطلب ده، کومه چې د ناجائز مطلب دپاره صورت نیسي او په واقعیاتو باندې ولاړه نه وي، نو دغه ډول جګړه د ګمراهي نښه ده. لکه چې یو ځل نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ»[۳] یعني هیڅ قوم د داسې هدایت څخه وروسته نه دی ګمراه شوی چې دوی به وربانډې ولاړ وه مګر دوی ته ناحقې جګړې کول ورکړی شوي دي. یا په بل عبارت: دوی به ناحقې جګړې خپلې کړې نو همدا به یې د ضلالت ذریعه جوړه شوه. بیا نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف د استشهاد په توګه قرائت کړ.

### د پرښتو د خلافت صورتونه

۳_ د دې ایت ﴿ وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا مِنكُم مَّلَـٰٓئِكَةً فِى ٱلۡأَرۡضِ يَخۡلُفُونَ ﴾ په هکله مفسرینو کرامو متعدد صورتونه ښودلي دي[۴]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د پرښتو د خلافت صورت دا دی چې الله ﷻ ټول بنیادمان پوپنا کړي او په عوض یې د ځمکې مخ په پرښتو باندې ډک کړي[۵]. یعني که زمونږ اراده وشي تاسو ټول به هلاک کړو او په

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۵۹؛ البحر المحیط ج۹ ص۳۸۵؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۵۱
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۸۰۴؛ لسان العرب ج۳ ص۲۴۶
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۱
(۴) زاد المسیر ج۷ ص۱۰۴؛ نظم الدرر ج۷ ص۴۲
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عوض به مو په خمکه کښې پربنتې مېشتې کړو.

په همدې مضمون باندې نور ایتونه هم نازل شوي دي لکه: ﴿ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِآخَرِينَ ﴾ [النساء:۱۳۳] يعنې که د الله ﷻ اراده وشي ای خلکو! نو تاسو به ټول د منځه یوسي او (ستاسو په عوض) به نور خلک راولي (پیدا کړي).

ب: د خلافت صورت يې دا دی چې الله ﷻ په خارق العاده توګه د بنیادمانو څخه پربښتې وزیږوي[1]. يعنې که زمونږ اراده وشي نو ای نارینه بنیادمانو! (د دې سره-سره چې ستاسو حال د ولادت صلاحیت نه لري) مونږ به همدا ستاسو نارینه وو څخه پربنتې وزیږوو، چې هغوی به په خمکه کښې ستاسو خلافت کوي لکه څنګه چې ستاسو اولادونه ستاسو خليفه ګان جوړېږي.

## تبصره

۴_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، مګر څرنګه چې په دې مقام کښې د قدرت کمال ته اشاره ده نو مونږ ته دوهم تفسیر غوره برېښي چې په همدې مطلب باندې ښه اوچته دلالت کوي، که بالفرض دلته د بحث موضوع تخویف وی نو بیا به لومړی تفسیر غوره وی.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ ﴾ کښې د "إِنَّهُ" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو: ځینو مفسرینو کرامو دغه ضمیر قرآن کریم ته راجع ګڼلی دی[2] خو بهتره دا ده چې عیسی ﷺ ته راجع وګڼلی شي[3] چې په وړاندې ببرته ایتونو کښې په همده ﷺ پورې مربوط بحثونه نازل شوي دي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه عبارت کښې عیسی ﷺ د مبالغې په توګه د قیامت د ورځې سوچه علم (نښه) ګڼلی شوی دی[4]، لکه په "زَيْدٌ عَدْلٌ" کښې چې زید سوچه عدل ګڼلی کېږي.

عیسی ﷺ ته خکه دغه لقب ورکړی شوی دی چې د قیامت په نژدې وختونو کښې به نوموړی ﷺ د اسمان څخه رابښکته شي او ځمکه به په عدل او انصاف سره ډکه کړي.

## یادوني

۶_ په دې مقام پورې اړونده لاندې مطالب وړاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته يې اړتیا نه ګورو:

الف: عیسی ﷺ اسمان ته ژوندی خېژولی شوی دی او قیامت ته په نژدې وخت کښې به ببرته

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۲۶۱؛ روح المعاني ج۲۵ ص۹۳؛ تفسير ابي السعود ج۸ ص۵۲
(۲) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۳۴۸
(۳) البحر المحيط ج۹ ص۳۸۶
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۲۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځمکې ته راښکته کېږي: د [آل عمران:۵۵] ایت.

ب: هغه شیان چې عیسی ﷺ بني اسرائیلو ته حلال ګرځولي وه: د [آل عمران: ۵۰] ایت.

ج: د نصاراوو په ډېرو ډلو وېشل کېدل: د [النساء:۱۵۷، ۱۷۱] ایتونه.

د: د عیسی ﷺ پورې مربوط ځینې آحادیث د [الأحزاب: ۴۰] ایت لاندې تېر شوي دي، په دې مقام کښې هم ځینو مفسرینو کرامو د دغه ډول احادیثو یوه مجموعه راغونډه کړې ده[1].

خو دلته ورباندې د یوه موقوف حدیث مضمون وراضافه کوو چې عبد الله بن سلام ﷺ وایي چې: په تورات کښې لیکلي شوي وه چې عیسی ﷺ به د نبي کریم ﷺ په څنګ کښې دفن کړی شي چرته چې د یوه قبر ځای شته دی[2].

یا په بل عبارت: کله چې عیسی د اسمان څخه راښکته شي نو په ځمکه کښې به هومره ژوند وکړي څومره چې ورته الله ﷻ په ازل کښې لیکلی دی او بیا به وفات شي او په هغې خونه کښې به خاورو ته وسپارلی شي په کومه کښې چې نبي کریم ﷺ دفن شوی دی.

﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ
بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَـٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَآ أَنتُمْ
تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا وَكَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ أَنتُمْ
وَأَزْوَٰجُكُمْ تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ
ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ۖ وَأَنتُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِىٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيهَا فَـٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى عَذَابِ
جَهَنَّمَ خَـٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَـٰهُمْ وَلَـٰكِن كَانُوا۟ هُمُ
ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا۟ يَـٰمَـٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّـٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ
جِئْنَـٰكُم بِٱلْحَقِّ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَـٰرِهُونَ ﴿٧٨﴾﴾

[۶۶] ایا مشرکان (چې هیڅ برهان ته غوږ نه ږدي کوم شي ته) انتظار کوي (انتظار نه کوي) مګر د قیامت قیام ته، چې په ناڅاپي توګه په داسې حال کښې ورشي چې دوی به (ورباندې) شعور نه لري (د دوی په خیال کښې به هم نه ګرځي). 15

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۰۶
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٦٧] په دغې ورځ کښې به ټول دوستان ځینې د ځینو نورو دپاره دښمنان وي مګر متقیان (چې دوستي به يې هلته لا قوي وګرځي).

[٦٨] (په دغې ورځ کښې به متقیانو ته د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې:) ای زما بندګانو! په تاسو باندې نن ورځ هیڅ قسم ډار نشته او هم تاسو نه یاست چې (په آینده کښې به) غمژن شئ.

[٦٩] (ای پیغمبره! متقیان) هغه کسان دي کومو چې په ایتونو سره ایمان راوړی دی او دوی (د شریعت احکامو ته) غاړې ایښودونکي دي.

[٧٠] (هلته به ورته وویلی شي چې:) جنت ته تاسو او ستاسو میرمنې (جوړې) په داسې حال کښې داخل شئ چې تاسو خوشال ګرځولې شوي یاست.

[٧١] په جنتیانو باندې به (په جنت کښې د خدمتګارانو د پلوه) د سرو زرو ځخه جوړ (او په خوراکي شیانو باندې ډک) پلېټونه او هم (د ځښاک ځخه ډک او د سرو زرو ځخه جوړ) ګیلاسونه تاوولی کېږي. او په جنت کښې (د جنتیانو دپاره) هغه نعمتونه دي کوم چې زړونه يې غواړي او سترګې (ورباندې) خوږېږي (پرې خوند اخلي).

او (ای جنتیانو!) تاسو به په جنت کښې همېشه اوسیدونکي یاست.

[٧٢] او دغه هغه جنت دی چې تاسو ته د هغو عملونو په سبب وربیا درکړی شو کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې کول به مو.

[٧٣] تاسو ته په جنت کښې زښتې ډېرې میوې دي چې تاسو به د دغو (میوجاتو ځخه (د استمرار په توګه) خورئ (او ختم به نه لري).

[٧٤] یقینًا مجرمان (کفار) د دوزخ په عذاب کښې تل پاتې کېدونکي دي.

[٧٥] دا (عذاب) به د دوی ځخه سست (تخفیف) نه کړی شي حال دا چې دوی به په همدې عذاب کښې (د نجات ځخه) ناامیده کېدونکي وي.

[٧٦] او مونږ په کفارو باندې (په تعذیب سره) ظلم نه دی کړی مګر همدوی (په دنیا کښې په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي وه.

[٧٧] او دوزخیان (کفار) به (د خازنانو مشر ته) په لوړ اواز سره غږ وکړي چې: ای مالکه! ستا رب ﷻ دې په مونږ باندې (د مرګ) فیصله وکړي.

مالک (به جواب ورکړي او ورته) به ووایي چې: یقینًا تاسو (همدلته دوامداره) ژوندي پاتې کېدونکي یاست (تاسو ته مرګ نشته).

[٧٨] (د الله ﷻ د پلوه به ورته وویلی شي چې:) یقینًا مونږ تاسو ته (د پیغمبرانو په ذریعه) حق دروستلی (در رسولی) وه مګر ستاسو اکثریت حق لره بدګڼونکي (نه خوښوونکي) وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د پیل ځخه د توحید د عقیدې د اثبات او د مشرکانو د اعتراضونو د مخنیوي دپاره بحث راروان دی، چې په دې ایتونو کښې د همدې مطلب دپاره د ترغیب او ترهیب ځخه کار

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخستلي شوي دي. چې حاصل يې داسې راځېږي:

اې پيغمبره! په خپل اُمت باندې د قيامت د ورځې څه حالات قرائت کړه چې په ترغيب او ترهيب باندې مشتمل دي هغه دا:

۱ـ څرنګه چې مشرکان په خپلو شرکياتو او کفرياتو باندې عناداً کلک ولاړ دي او په قاطعو دلايلو سره هم قناعت نه کوي، نو دوی بل هيڅ شي ته منتظر نه دي مګر دېته منتظر دي چې د قيامت ورځ وربانديې ناڅاپه قائمه شي حال دا چې دوی به وربانديې شعور نه لري او خيال به يې نه وي چې داسې به وشي.

په دغې ورځ کښې به مشرکان واقعيات په خپلو سترګو وګوري او قناعت به يې حاصل شي خو څه ګټه به ورته ونه شي رسولی. او دا خکه چې:

۲ـ دا داسې سخته ورځ ده چې په دې کښې به ټول دوستان يو تربله بېزار وي او يو تربله به سره دښمنان وګرځي. مګر په دغې ورځ کښې به يوازې د متقيانو دوستي باقي وي بلکې لا زيادت به ومومي، متقيان هغه څوک دي کومو چې د شرکياتو او کفرياتو څخه خپل ځانونه بچ ساتلي دي او په همدې حال د مرګ تر وخته پورې باقي پاتې شوي وي.

۳ـ اې پيغمبره! همدغو متقيانو ته به د الله ﷻ د پلوه وويلی شي چې:

الف: اې زما مخلصو بندګانو! نن ورځ په تاسو باندې د هيڅ طرفه څه ډار نشته او کوم خطر درته متوجه نه دي، تاسو په ابدي توګه د خطراتو څخه بچ ياست.

ب: همدارنګه نن ورځ به تاسو غمژن هم نه شئ او تر ابده به بې غمه ياست.

ج: زما مخلص بندګان هغه دي کومو چې په دنيا کښې زمونږ په ايتونو باندې ايمان راوړی وه، او د همدارنګه دوی زمونږ احکامو ته غاړه اېښودونکي وه، چې تاسو د همدې قبيلې څخه ياست.

د: تاسو او ستاسو مېرمنې جنت ته په داسې حال کښې ورننوځئ چې تاسو به دائمي توګه خوشاله کړی شوي ياست، او په هر شي چې تاسو خوشالېږئ هغه درکړی شوي دي.

ه: اې پيغمبره! جنتيان (متقيان) به هلته په دغو شيانو خوشاله کړی شي:

اول: په دوی باندې به د خدمتګارانو د پلوه د سرو زرو کاسې چې خوراکي څيزونه به پکښې وي ورتاوولی کېږي چې په هره يوه کښې به بېل-بېل خوراک وي.

دوهم: خدمتګاران به د څښاک دپاره هم ګيلاسونه ورورانديې کوي.

دريم: لنډه دا چې جنتيانو ته به هلته هر ډول نعمتونه ورکړی شي، برابره خبره ده چې هغه د خوړلو او څښلو پورې ارتباط ولري، يا يې د دوی زړونه وغواړي او اشتهاء يې ورته وشي او بالآخره چې يا يې وربانديې سترګې يخېږي.

و: په عين حال کښې به د الله ﷻ د پلوه د خوشالولو دپاره په لاندې مطالبو باندې هم مخاطب کړی شي:

اول: اې جنتيانو (متقيانو)! تاسو په دغه جنت کښې همېشه ياست.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دا هغه جنت دی کوم چې تاسو ته د خپلو اعمالو په عوضیت نه بلکې د خپلو اعمالو په سببیت وړیا درکړی شوی دی.

درېیم: ستاسو دپاره دلته زښتې ډېرې میوې شتون لري چې تاسو به د دغو میوجاتو څخه په دایمي توګه خورئ، چې نه به تمامېږي او نه به یې وخت تېرېږي چې کوم موسم پورې اړه ولري.

۴ـ بالمقابل مشرکان (کفار) به هلته د لاندې حالاتو سره مخامخ شي:

الف: مجرمان او کفار به د دوزخ په عذاب کښې په یقیني توګه په دائمي ډول سره معذب کړی شي او د نجات هیڅ وسیله به مونده نه کړي.

ب: د دوزخ عذاب به ورڅخه نه سستېږي او نه به یې ترې اور سړېږي، بلکې هره ورځ به په زیادت کښې وي.

ج: دوزخیان به په دوزخ کښې د نجات د هرې وسیلې څخه ناامیده او ناهیلي وي چې نه به ورته بوتان په درد وخوري او نه دنیاوي دوستان.

د: ای پیغمبره! په ذکر شوي تعذیب سره مونږ په کفارو ظلم نه دی کړی چې بدون د استحقاقه مو په دوزخ کښې اچولي وي، او نه وربانديې ظلم کوو مګر دوی پخپله همدوی ظلم کوونکي دي، چې په کفر باندې د مرګ تر وخته کلک وه.

ه: په دوزخ کښې به کفار د دوزخ د خازن (مالک) سره لاندې سوال جواب وکړي:

دوزخیان: ای مالکه! ستا رب ﷻ دې په مونږ باندې د مرګ فیصله وکړي چې ټول مړه شو او په مرګ سره د دغه عذاب څخه نجات ومومو.

مالک: په یقین سره تاسو ته د نجات هیڅ ذریعه نشته، نه په مرګ سره او نه په بل شي سره، بلکې تاسو به دلته د تل دپاره اوسېدونکي یاست.

و: همدارنګه دوزخیانو ته به د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې: مونږ تاسو ته د پیغمبرانو په سلسله حق درووړی وه چې د نجات لاره پکښې نغښتې وه، مګر ستاسو اکثریت حق لره خوښوونکي نه وه بلکې حق یې د پښو لاندې کړ.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ﴾ په ارتباط لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: الله ﷻ په [العنکبوت:۲۵] ایت کښې هم ذکر شوي مضمون ته اشاره کړې وه چې د قیامت په ورځ به کافران په خپلو منځو کښې دښمنان جوړ شي او څینې به څینو نورو ته لعنت غواړي.

ب: بالمقابل د متقیانو دوستي به هلته ښه پخه شي او څینې به څینو نورو ته د الله ﷻ د رحمت شال په توګه ولولئ: مثال په توګه، او هم به ورته همدغه محبت د درجاتو د لوړېدلو سبب وګرځي. لاندې احادیث د غوښتونکي وي، او هم به ورته همدغه محبت د درجاتو د لوړېدلو سبب وګرځي. لاندې احادیث

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ ووایي چې: «أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي»[۱] يعنې زما په جلال سره محبت کوونکي نن ورځ چرته دي چې زه يې د خپل رحمت په سوري کښې وګرځوم (البته چې نن داسې) ورځ ده چې زما د رحمت سوري څخه په غير بل سوری نشته.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث فرمايلي دي چې: د قيامت په ورځ به يو مؤمن سړی (چې د دوزخ مستحق وي) په يو بل مؤمن سړي باندې تېرېږي نو ورته به ووايي چې: «أَمَا تَذْكُرُ يَوْمَ نَاوَلْتُكَ طَهُورًا فَيَشْفَعُ لَهُ»[۲] يعنې ای فلانکيه! ايا ستا هغه ورځ نه يادېږي چې ما درته د اوداسه دپاره د اوبو کوزه درکړه؟ (زه ستا دوست يم، نو بل مؤمن سړي ته به يې دوستي وريه زړه شي) نو شفاعت به يې وکړي (او د دوزخ څخه به بچ شي).

## د څو لغاتو معناوي

۲ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف ﴿ وَأَزْوَٰجُكُمْ تُحْبَرُونَ ﴾ کښې د ﴿ تُحْبَرُونَ ﴾ کلمه د "حَبْرَة" ـلکه "نَضْرَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "حَبْرَة" د نعمتونو او خوښيو د مبالغې معنی ورکوي[۳] چې ليدونکو ته له ورايه څرګندېږي.

يعنې ای جنتيانو! تاسو ته به داسې نعمتونه او خوشالۍ درکړی شي چې د هغو اثار به په تاسو کښې له ورايه ځلېږي.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴾ [المطففين:۲۴] يعنې ای کتونکيه! ته به د جنتيانو په مخونو کښې د نعمتونو تازګي پېژنې (او بوهېږې به چې دوی څومره خوشاله دي).

ب په ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ﴾ کښې د "صِحَاف" کلمه د "صَحْفَة" ـلکه "رَحْمَة"ـ جمعه ده، "صَحْفَة" د هغه لوښي نوم دی کوم چې د ناليکي غوندې هوار وي (ژور نه وي) او د خوراکي شيانو دپاره استعمالېږي[۴] چې "قاب" ورته هم ويل کېدی شي او په کوزه پښتونخوا کښې يې د "پليټ" په نامه يادوي، لکه څنګه چې په انګليسي ژبه کښې هم په همدغه نامه يادېږي.

ج د "أَكْوَاب" کلمه د "كُوب" ـلکه "ثُور"ـ جمعه ده، دا د څښاک هغه لوښی دی کوم چې لاستی نه لري او ژور وي[۵]. څه لري نه ده چې مونږ تري په بې لاستي ګيلاس سره تعبير وکړو.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ يُطَافُ ﴾ کلمه مجهوله مضارع ده چې فاعل يې دلته نه دی ذکر شوی. خو د همدغه فاعل څخه په [الطور:۲۴] ايت کښې په ﴿ غِلْمَانٌ ﴾ او په [الواقعة:۱۷] ايت

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۷
(۲) سنن ابن ماجه ج۲ ۲۶۴
(۳) لسان العرب ج۴ ص۱۵۸
(۴) مفردات الراغب ص۲۸۳
(۵) القاموس المحيط ج۴ ص۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې په ﴿ وِلْدَانٌ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی.

نو حاصل یې داسې کېږي چې: په جنتیانو باندې به د متعددو خدمتګارانو د پلوه د خوراکي شیانو په ارتباط د سرو زرو پلیټونه او د څښاک د شیانو په ارتباط د سروزرو ګیلاسونه تاوولی کېږي، (دوی به ورته خې او راخي).

نو د دې مقام د ښه وضاحت دپاره د نبي کریم ﷺ لاندې څو احادیث د مثال په توګه ولولئ:

اول: «أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ»[1] د جنتیانو ادنی (ټیټ رتبه) سړی هغه دی کوم ته چې اتیا زره خدمتګاران شتون ولري.

دوهم: په یو بل اوږده حدیث کښې فرمایي چې: «وَإِنَّ لَهُ لَثَلَاثَ مِائَةِ خَادِمٍ وَيُغْدَى عَلَيْهِ وَيُرَاحُ كُلَّ يَوْمٍ ثَلَاثُ مِائَةِ صَحْفَةٍ وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ مِنْ ذَهَبٍ فِي كُلِّ صَحْفَةٍ لَوْنٌ لَيْسَ فِي الْأُخْرَى»[2] یعنې او یقیناً د أدنی جنتي دپاره په جنت کښې درې سوه (۳۰۰) خدمتګاران شتون لري چې سبا او بېګا به ورباندې (د هغوی د پلوه) درې سوه (۳۰۰) کاسې ورورراندې کولی کېږي، د راوي د علم په بنیاد د "مِنْ ذَهَبٍ" کلمات یې هم وفرمایل چې دا کاسې به د سرو زرو څخه وي، او په هره کاسه (پلېټ) کښې به داسې ډول خوراک وي چې هغه ډول به په بله کاسه یا پلېټ کښې نه وي.

دریم: «لَا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ وَلَا الدِّيبَاجَ وَلَا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ»[3] یعنې تاسو مه نري وریښم اغوندئ او مه پېړ، او تاسو د سرو زرو او سپینو زرو په لوښو کښې څښل مه کوئ، او هم د دغو لوښو په کاسو (پلېټونو) کښې خوراک مه کوئ، ځکه چې دا په دنیا کښې د کفارو دپاره دي او په آخرت کښې ستاسو دپاره.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې دا جمله: ﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ﴾ د نبي کریم ﷺ د پلوه ډېره ښه تفسیره شوې ده. د مثال په توګه:

الف: د یوه حدیث مضمون دی چې یوه سړي د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ایا په جنت کښې آس شته؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: هو، که الله ﷻ ته جنت ته داخل کړي او زړه دې آس وغواړي نو د سرو یاقوتو آس به درکړی شي. په عین مجلس کښې بل سړي پوښتنه وکړه چې: ایا په جنت کښې اوښ شته؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِنْ يُدْخِلْكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ»[4] یعنې که چرته الله ﷻ ته جنت ته داخل کړي نو تاته به هلته هغه څه وي چې ستا زړه یې غواړي او ستا سترګې ورباندې خوند اخلي (ورباندې خوندېږي).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۶۴۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۸۱۶
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په بل حديث کښې نبي کريم ﷺ د هغه جنتي ذکر هم کړی دی کوم به چې هلته کښت وغواړي او سمدستي به د رشې خاوند جوړ شي[۱].

نو پوښتنه دا ده چې: که هلته کوم جنتي اولاد (بچيان) وغواړي، ايا هغه به هم ورکړی شي؟ ايا په جنت کښې توالد او تناسل شته؟

مونږ وايو چې: د جنتي اولادونو په هکله لاندې دوه ډوله احاديث روايت شوي دي:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهُ وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ وَاحِدَةٍ كَمَا يَشْتَهِي»[۲] يعنې کله چې مومن په جنت کښې د ولد (زوی) غوښتنه او ارزو وکړي نو په هغه (زوی) سره حمل او د هغه زېږېدل او همدارنګه جنتي عمر (درې ديرش کالو) ته يې رسېدل (دا ټول هر څه) به په يوه سات (د سترګو په رپ) کښې داسې صورت ونيسي څنګه يې چې خوښه وي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې د لقيط رضي الله عنه د يوې پوښتنې په جواب کښې ويلي دي چې: «الصَّالِحَاتُ لِلصَّالِحِينَ تَلَذُّونَ بِهِنَّ مِثْلَ لَذَّاتِكُمْ فِي الدُّنْيَا وَيَلْذَذْنَ بِكُمْ غَيْرَ أَنْ لَا تَوَالُدَ»[۳] يعنې صالحې ښځې د صالحو نارينه وو دپاره دي، تاسو به (په جنت کښې) په دغو ښځو سره داسې خوند اخلئ لکه چې په دنيا کښې ترې خوند اخلئ، او هغوی (جنتي صالحې ښځې) به په تاسو سره د دنيا د خوند غوندې خوند اخلي غير د دې څخه چې په جنت کښې توالد نشته.

## تبصره

۴_ که څه هم ځينو مفسرينو په ذکره شوې موضوع کښې ښه اوږد بحث کړی دی[۴]، مګر علماء کرام پکښې په عمومي توګه په لاندې دوه وو ګروپونو وېشلی شوي دي:

الف: ځينو ته راجح برېښي چې په جنت کښې توالد صورت نيولی شي، لکه چې وړاندېنی اولنی حديث ورباندې دلالت کوي.

ب: ځيني د دوهم حديث په استناد دې ته ترجيح ورکوي چې هلته توالد صورت نه نيسي، هسې نه چې صورت نه شي نيولی.

دغه ګروپ علماء کرام د خپل نظر دپاره د نبي کريم ﷺ په يو بل حديث باندې استناد کوي چې دا کار هلته ممکن دی خو واقع کېږي نه، هغه دا چې «إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي»[۵] يعنې کله چې په جنت کښې يو مؤمن د ولد اشتهاء وکړي نو دستي به په يو ساعت (د سترګو په رپ) کښې په هغه ډول سره صورت نيسي لکه چې د هغه خوښه وي، مګر هلته جنتي سړی دغسې اشتهاء نه کوي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۱
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۲۳؛ سنن الدارمي ج۲ ص۳۴۳
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۷۵
(۴) روح المعاني ج۲۵ ص۹۹
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا په بل عبارت: کومه اشتهاء چې د جنت سره مناسبه نه وي نوموړی به هلته هغه دول اشتهاء نه کوي. د مثال په توګه: هلته به د جنتي په زړه کښې دا غوښتنه ونه ګرځي چې د پيغمبرانو سره او يا د ده ځخه د اوچتو جنتيانو سره په درجه کښې يو برابر وګرځي.

## مالک يعنې څوک؟

۵ـ په ﴿ وَنَادَوْاْ يَـٰمَـٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ﴾ کښې د "مَالِكُ" کلمه د هغو پرښتو د مشر نوم دی کومې چې په دوزخ باندې مقررې دي، د کومو عدد چې په [المدثر: ۳۰] ايت کښې نولس (۱۹) ښودلی شوی دی.

د "مَالِک" عليه السلام په ارتباط نبي کريم ﷺ د معراج په خپل اوږد حديث کښې فرمايلي دي چې: «هَذَا مَالِكٌ صَاحِبُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَام»[١] يعنې ماته يوه ويونکي وويلې چې ای محمده! دغه مالک دی چې د اور (دوزخ) ملګری دی (د خازنانو مشر دی)، نو تهورباندې سلام واچوه، نو ما ورته وکاته (چې سلام ورباندې واچوم خو) هغه راباندې مخکښې شو او په ما باندې يې سلام واچاوه.

په [المؤمن: ۴۹] ايت کښې الله ﷻ هغه غوښتنه راحکايت کړې ده کومه به چې دوزخيان د دوزخ ټولو خازنانو ته راجع کړي خومنفي جواب به واوري. په دې مقام کښې د هغې غوښتنې ذکر دی کومه به چې هغوی د خازنانو مشر (مالک) عليه السلام ته وړاندې کړي او هغه جواب به واوري کوم ته چې په ايتونو کښې اشاره شوې ده.

خو په يوه حديث کښې دا جمله هم روايت شوې ده چې: «أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَام»[٢] يعنې يقينًا د دوزخيانو د غوښتنې ترمنځ او د مالک عليه السلام د جواب ورکولو ترمنځ به يو زر کاله فاصله وي (يو زر کاله وروسته به جواب ورکړي).

## يادونه

۶ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو[٣] د دوزخيانو هغه ټول سوالونه راغونډ کړي دي کوم چې موقع په موقع به يې وړاندې کړي، چې تعداد يې پنځو ته رسيږي، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿ أَمْ أَبْرَمُوٓاْ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ۝٧٩ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ۝٨٠ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَـٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَـٰبِدِينَ ۝٨١ سُبْحَـٰنَ رَبِّ

(١) صحيح مسلم ج١ ص٩۶
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٨۶
(٣) تفسير المظهري ج٨ ص٣۶٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟
يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ
ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبَارَكَ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ
وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ
بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِۦ
يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَٰمٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

[٧٩] ایا مشرکان (د اسلام د مخنیوي) کار پیاوړی کوي؟ نو یقیناً مونږ (د اسلام د ترقی د کار) پیاوړي کوونکي یاستو (نو معلومه به شي چې د چا کار به نتیجه ورکړي).

[٨٠] ایا مشرکان (کفار) گومان کوي چې یقیناً مونږ د دوی پټې خبرې او د دوی د راز خبرې نه اورو، دغسې نه ده (لکه چې دوی خیال کوي) حال دا چې زمونږ لېږلي شوي پرښتې ورسره (حاضرې) دي چې په دوامداره توگه (د دوی کړه وړه) لیکي.

[٨١] (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې: که (بالفرض المحال) چرته دېر مهربان الله ﷻ ته ولد شتون درلودی نو زه به (ورته د همدغه ولدیت په حیث) د ټولو عبادت کوونکو لومړی عبادت کوونکی وی (زه به وریاندې د هر چا څخه وړاندې خبر وی).

[٨٢] (دغسې نه ده لکه چې مشرکان پرې قول کوي بلکې) د اسمانونو او ځمکو رب ﷻ ته (او) د عرش عظیم رب ﷻ ته د هغه شي څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې بیانوي.

[٨٣] نو (ای پیغمبره!) تر هغه مشرکان پرېږده چې (په باطلو کښې) ژور لاړ شي او لوبې وکړي ترڅو چې دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقي شي د کومې چې ورته وعده ورکوله کېږي (چې د قیامت د ورځې څخه عبارت ده).

[٨٤] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په اسمانونو کښې هم (حقیقي) معبود دی او په ځمکو کښې هم (حقیقي) معبود دی او همدی ﷻ د حکمت څښتن (او) د کامل علم درلودونکی دی.

[٨٥] او هغه اقدس ذات برکتناک دی چې ده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو پاچاهي (واکداري) ده، او د هغو (شیانو واکداري هم) کوم چې د اسمانونو او ځمکو په منځکښې (موجود) دي.

او خاص د همده ﷻ په نزد د قیامت (د قیام) علم شته (او بس)، او خاص همده ﷻ ته به تاسو (ټول د حساب کتاب دپاره) راجع کړی شئ.

[٨٦] او هغه (بوتان) د شفاعت کولو اختیار (واک) نه لري د کومو چې مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (او عبادت) کوي، مگر هغه کسان (د الله ﷻ په اذن د شفاعت کولو اختیار لري) کوم چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به حق (توحید) سره په داسې حال شهادت ورکوي چې (قلبًا ورباندې) پوهېږي (او په اخلاص سره پرې باور او یقین لري لکه پرښتې او نور مؤمنان).

[۸۷] او (ای پیغمبره!) که چرته ته د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې چې دوی چا پیدا کړي دي؟ نو هرو مرو ضرور به دوی (تا لره په جواب کښې) ووایي چې: (فقط) الله ﷻ پیدا کړي دي (او بس).

نو مشرکان (د دغه اعتراف سره-سره) کوم پلو ته تاوولی کېږي؟ (چې د توحید عقیده نه خپلوي).

[۸۸] او د پیغمبر ﷺ په دې قول چې: ای ربه! یقینًا دغه داسې قوم دی چې ایمان نه راوړي، سوګند دی (چې هرومرو به زه ورسره نصرت وکړم او کفارو ته به تعذیب ورکړم).

[۸۹] (ای پیغمبره!) نو د کفارو (د انتقام) څخه مخ واړوه او (د متارکې په توګه ورته) ووایه چې: سلام. نو ډېر ژر به هغوی پوه شي (چې کامیابي د چا په برخه ده).

## ارتباطونه

۱_ د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې تمام شوي وه چې کفار به د قیامت په ورځ په مرګ سره د خپلو خانونو د خلاصون غوښتونکي وي، خو نن ورځ برسېره پر دې باندې چې د خپلو خانونو د خلاصون فکر ورسره نشته په عذاب کښې محکم والی غوره کوي.

۲_ هلته دا خبره هم شامله وه چې کفار حق نه خوښوي او بد یې ګڼي، او دلته د همدغې ناخوښۍ څه دلایلو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د دې دپاره چې د مشرکانو هغه هلې ځلې په ډاګه شي کومې چې د اسلام د مخنیوي په موخه یې په کار اچوي، څه مطالب په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ مشرکان د ذکر شوي موخې د پوره کولو دپاره بې بنیاده اعتراضونه وړاندې کوي او د خپلو باطلو عقائدو د حق ښودلو دپاره بې اساسه دلایل او پلمې تراشي.

یا په بل عبارت: ایا مشرکان خپلو کفري کارونو ته تقویه او محکموالی ورکوي؟ نو یقینًا مونږ هم د هغوی د نیولو او معذب ګرځولو کارته تقویه ورکوونکي یاستو او د هغوی د خلاصون دروازې بندوونکي یاستو.

۲_ مشرکان (کفار) د خپلو باطلو بنیادونو د پلانونو په هکله په هیڅ ډول باندې صرفه نه کوي، او پټ او ښکاره ورباندې اخته دي. ایا هغوی ګومان نه کوي او نه پوهېږي چې یقینًا مونږ یې پټې او ښکاره خبرې اورو او حتی د هغوی په رازونو او سري مجالسو باندې هم خبر یاستو؟

مونږ ته د هغوی ټول حالات ځرګند دي، او په دې باندې علاوه زمونږ لېږلې شوې پرښتې (کرام الکاتبین) د هغوی په نزد او د هغوی په حضور کښې هغه څه لیکي کوم چې هغوی د پلان لاندې نیولي وي، نو مطابق چال چلند به ورسره وکړو.

۳_ ای پیغمبره! د مشرکانو د باطلو استدلالاتو څخه یو دا دی چې: مونږ څکه د پرښتو عبادت

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوو چې دوی د الله ﷻ اولادونه دي، او په مونږ باندې لکه چې الله ﷻ حق لري همدارنګه د هغه ﷻ اولادونه هم زمونږ حقداران دي.

نو ته د دغه استدلال د رد کولو دپاره ورته ووایه چې:

الف: تاسو ته په څه دلیل په اثبات رسېدلې ده چې الله ﷻ د اولادونه درلودونکی دی، که بالفرض تاسو څه عقلي یا نقلي دلیل لرئ نو هغه راوړاندې کړئ.

ب: که بالفرض المحال الله ﷻ اولاد درلودی نو د هر چا څخه وړاندې به وړباندې زه خبر وی چې زه د الله ﷻ د پیغمبرانو څخه یو پیغمبر یم، او یا به وړباندې د پخوانیو پیغمبرانو څخه کوم یوه پیغمبر قول کړی وی.

یا په بل عبارت: که ډېر مهربان الله ﷻ اولاد درلودی نو زه به وړباندې د هر چا څخه وړاندې معترف شوی وی او په همدغه (د ولدیت په صفت) سره به ورته د هر چا څخه مخکښې عبادت کوونکی ګرځېدلی وی، بلکې په دغه صورت کښې به زه ورته اول نمره عبادت کوونکی وی او دا څکه چې زه ستاسو په نسبت الله ﷻ ډېر ښه پېژنم.

ج: ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې مشرکان خیال کوي، بلکې الله ﷻ د اسمانونو او د ځمکو او هم د عرش عظیم رب دی چې ټولو ته یې موجودیت ورکړی دی او ټول د همده ﷻ مخلوقات دي، ایا مخلوقیت او ولدیت سره منافات نه لري؟

نو همدغه رب ﷻ ته د هغو ټولو افتراګانو څخه پاکي ده کومې چې مشرکانو په کار اچولي دي او د ده ﷻ مخلوق ته د همده ﷻ د ولد لقب ورکوي.

د: نو ای پیغمبره! مشرکان پرېږده چې باطل پلانونه جوړ کړي او په عبثیاتو باندې اخته شي، چې د خلاصون او نجات څخه روزمره خپل خانونه لرې کړي، آن تردې چې دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقي او پیوسته شي کومه چې ورسره وعده کړی شوې ده چې هغه د قیامت ورځ ده.

نو هلته به په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه وګرځي او د خازن څخه به وغواړي چې د الله ﷻ د پلوه دې وړباندې مرګ مسلط کړی شي، خو د دغه وخت پښېماني به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی.

۴_ ای پیغمبره! یو ځل بیا خلکو ته خپل رب ﷻ په څه صفاتو سره وروپېژنه. هغه دا چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هم په اسمان کښې حقیقي او بالفعل معبود دی او هم په ځمکو کښې، بلکې هیڅ داسې شی شتون نه لري چې د الله ﷻ حمد او تسبیح نه وایي، حتی کفار هم د ده ﷻ په تکویني عبادت باندې مشغول دي یوازې د ارادي عبادت څخه یې غاړې غړوي.

ب: الله ﷻ د حکمت څښتن دی څکه کفارو ته د کفر سره-سره ژوند ورکوي او تر ټاکلي وخته پورې ترې روزي نه ایساروي، که نه نو الله ﷻ پوه دی او د هغوی کفریات ورته ټول معلوم دي.

ج: الله ﷻ هغه برکتناک اقدس ذات دی چې د اسمانونو او ځمکو واکداري د همده ﷻ په اختیار کښې ده، او کوم شیان چې د ځمکو او اسمانونو ترمنځ موقعیت لري هغه هم د همده ﷻ په واکدارۍ کښې شامل دي. د همدې کبله د خپلو ټولو مخلوقاتو اړتیاوې پوره کوي او روزي خورو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته روزمره روزۍ ورکوي، نو لکه څنګه چې همده ﷻ په پیدا کولو کښې چاته برخه نه ده ورکړې همدارنګه په روزمره کارونو کښې یې هم څوک برخوال نه دی ګرځولی.

د: الله ﷻ د قیامت د قیام علم د خپل اقدس ذات په نزد پټ ساتلی دی نو دغه وخت د همده ﷻ څخه په غیر هیچا ته معلوم نه دی که څه هم یا پیغمبر وي او یا مقربه پرښته.

ه: ای خلکو! خاص همده ﷻ ته به تاسو په همدغې ورځې (قیامت) کښې راجع کړی شئ او ستاسو د هر یوه سره به د دنیاوي کړو وړو حساب کتاب ترسره کړي.

و: خو د حساب کتاب په وخت کښې به هغه بوتان خپلو عابدینو ته د شفاعت کولو واک نه لري کوم چې مشرکان یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه کوي او په عبادت یې مشغول دي.

هو! په هغه وخت کښې هغه څوک د الله ﷻ په اذن د شفاعت واک لري کوم چې په حق سره په داسې حال شهادت ورکوي چې په حق باندې قلبي بصیرت لري او په یقین سره پوهېږي چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی.

پوره واضحه ده چې د مشرکانو باطل معبودان نه علم لري او نه د علم استعداد درلودونکي دي او نه پکښې د شهادت استعداد شته دی.

ز: الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو خالق دی چې مشرکان هم ترې انکار نه کوي، که بالفرض ته ترې وپوښتې چې ستاسو په شمول خلک چا پیدا کړي دي؟ هرومرو او ضرور به هغوی په جواب کښې ووایي چې یوازې الله ﷻ پیدا کړي دي او د بوتانو په شمول هیڅوک ورسره پکښې اشتراک نه لري.

نو د دغه اعتراف سره-سره هغوی څنګه د توحید څخه اړولي کېږي او بوتانو ته په عبادت کښې په برخه قول کوي؟ حال دا چې په پیدا کولو کښې د هغوی په عقیده هم برخه نه لري.

ح: بالآخره، لکه څنګه چې الله ﷻ د قیامت د قیام په وخت باندې پوه دی همدارنګه د خپل پیغمبر په دې قول هم پوه دی او اوري یې چې: ای زما ربه! دغه کفار داسې قوم دی چې د ډول-ډول براهینو او د مستمر دعوت سره-سره ایمان نه راوړي او ما د پیغمبر په حیث نه قبلوي.

۵ـ نو ای پیغمبره! ته د دغو عنادیانو کافرانو سره لاندې چال چلند خپل کړه:

الف: د هغوی د ناندریو څخه مخ واړوه چې وخت دې ضائع نه شي.

ب: هغوی ته د متارکې سلام واچوه لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ خپل پلار ته همدغه ډول سلام اچولی وه. او دا خکه چې مشرکان به ډېر ژر پوه شي چې مونږ څنګه سزا ورکوو؟

## توضیحات

۱ـ په ﴿أَمْ أَبْرَمُوٓا أَمْرًا﴾ کښې د ﴿أَبْرَمُوٓا﴾ کلمه د "اِبْرَام" ـ لکه "اِکْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "اِبْرَام" د محکمولو، ټینګولو او قوي کولو معنی ورکوي لکه چې رسۍ په تاوولو سره محکمېږي او قوي ګرځوله کېږي[۱]

(۱) مفردات الراغب ص ۴۲، القاموس المحیط ج ۱ ص ۲۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د "أمْر" د کلمې څخه هر هغه کار مطلب دی کوم چې د اسلام په ضرر او د کفر په ګټه وي.

یعني ایا کفار (مشرکان) د اسلام په ضرر او د کفر په ګټه پلانونه او کارونه کوي ترڅو په نتیجه کښې د اسلام د پرمختګ مخنیوی وکړي؟ خو هغوی به په خپلو هلو ځلو سره مطلب ته ونه رسېږي، او دا ځکه چې مونږ د اسلام د کار تقویه کوونکي یاستو چې په ټولو ادیانو ورته غلبه ورکړو حال دا چې زمونږ د ارادې مخنیوی هیڅوک نه شي کولی.

د همدې ایت یو نظیر وروسته راروان دی چې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴾ [الطور:۴۲] ایا کفار (د اسلام او ستا په هکله) پټ تدبیر کولو ته اراده لري؟ (ته بې هیڅ پروا مه کوه ځکه چې) نو هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی همدوی (د الله ﷻ د پلوه) پټ تدبیر کړی شوي دي.

## یادونه

۲ـ د اسلام په ضد د کفارو (مشرکانو) د پلان او د الله ﷻ د پلوه د هغه د شنډولو یوې قیصې ته په [الأنفال: ۳۰] کښې اشاره شوې ده، چې هغوی د نبي کریم ﷺ د کور په شاوخوا کښې محاصره اچولې وه او الله ﷻ خپل پیغمبر ته نجات ورکړ او د هغوی پلان بې نتیجې او شنډ پاتې شو.

## سر او نَجوی څه فرق لري؟

۳ـ مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په ﴿ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم ﴾ کښې د "سِر" کلمه دلته د هغه مطلب معنی ورکوي په کوم باندې چې څوک یوازې د خپله ځانه سره خبرې وکړي او یا ورباندې په یوه خالي ځای کښې بل څوک هم خبر کړي او بس[۱].

او د "نجْوَا" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۱۱۴] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده چې هغه "راز" ته وضعه شوې ده په کوم باندې چې یوازې څه خاصه ډله د خپلو نظریاتو تبادلې ته صورت ورکړي.

## متعدد تفسیرونه

۴ـ دا ایت شریف: ﴿ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴾ مفسرینو کرامو په متعددو طریقو سره تفسیر کړی دی[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: خینې علماء وایي چې: په ذکر شوې عبارت کښې د "إنْ" توری د نفې دپاره دی[۳]. یعني ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې: ډېر مهربان الله ﷻ ته ولد نشته نو ځکه زه

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۶۵؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۵۶

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۶؛ المحرر الوجیز ج۹ ص۲۷۸؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۱۹

(۳) اضواء البیان ج۷ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ ته په همدې حيث د لومړنيو او اول نمره عبادت کوونکو څخه يم، زما څخه نه ده کوم چې ستاسو عقيده به خپله کړم.

ب: ځينې نور علماء کرام وايي چې: د "إنْ" ذکر شوی توری د شرط معنى ورکوي چې د ﴿فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ﴾ جمله د همدغه شرط دپاره جزا ده[1]. يعنې اې پيغمبره! کفارو ته ووايه چې د الله ﷻ په هکله ستاسو عقيده باطله ده چې ولديت لري، که بالفرض المحال دې مهربان الله ﷻ ولد يا اولادونه درلودی (او واقعيت همداسې وی) نو زه به د الله ﷻ دپاره په همدې حيث د اول نمره عبادت کوونکو څخه وی، لکه چې اوس ورته د توحيد په حيث د اول نمره عبادت کوونکو څخه يم.

يا په بل عبارت که همداسې وی لکه چې تاسو معتقد یاست نو د هر څه څخه وړاندې به ما ورباندې اعتراف کړی وی او د هر څه څخه وړاندې به ورباندې زه خبر وی او ما به ورباندې خلک خبر کړي وی. او دا ځکه چې زه د الله ﷻ په شئوناتو (شانونو) باندې په بندګانو کښې په وړومبي ايا دا عجيبه نه ده چې تاسو بل څه ته نه بلکې ماته (چې يو پيغمبر يم) د الله ﷻ په شئوناتو (شانونو) سره خبر راکوی؟

تبصره

۵ـ مونږ ته دوهم تفسير په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې:

الف: دوهم تفسير متبادر دی او په کار دي چې د قرآن کريم ايتونه تر وسې وسې په متبادره معنى تفسير کړی شي.

ب: دغه تفسير په قرآن کريم کښې د توحيد په هکله د الله ﷻ په نسبت څه نظاير هم لري لکه

اول: ﴿قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ [يونس:۱۸] يعنې اې پيغمبره! مشرکانو ته ووايه چې: ايا تاسو بل څه ته نه بلکې الله ﷻ ته په هغه شي سره خبر ورکوئ په کوم باندې چې الله ﷻ نه په اسمانونو کښې علم لري او نه په ځمکو کښې؟ (چې په دواړو کښې موجوديت نه لري)، ذکر شوی شی په عبادت کښې د شريک يا شريکانو څخه عبارت دی.

دوهم: ﴿أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ [الرعد ۳۳] يعنې اې مشرکانو! ايا تاسو بل څه ته نه بلکې الله ﷻ ته په هغه شي سره خبر ورکوئ په کوم باندې چې الله ﷻ (ورباندې) په ځمکه کښې علم نه لري (موجوديت نه لري)، نوموړی شی د شريک يا شريکانو څخه عبارت دی.

لنډه دا چې: ايا دا عجيبه نه ده چې الله ﷻ په خپله وايي چې زه شريک نه لرم او تاسو ورته وایاست چې ته شريک يا شريکان لرې خو ته ورباندې خبر نه يې؟

نو په دې مقام کښې به د ايت شريف حاصل داسې راوځېږي چې:

اې مشرکانو! ايا تاسو بل څه ته نه بلکې يو پيغمبر ته د الله ﷻ په صفاتو او شئوناتو باندې خبر ورکوئ؟ ايا تاسو ته د پيغمبر غوندې وحې رانازلېږي؟

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۵ ص۱۰۲؛ زاد المسير ج۷ ص۱۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: دوهم تفسير د [الزخرف:٤٥] ايت د مضمون سره ډېر ښه سلښنت اخلي هغه دا چې:

لکه څنګه چې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ په شمول هيڅ پيغمبر د دې دپاره نه دی استولی چې د غير الله عبادت دې وکړی شي همدارنګه يې هيڅ پيغمبر د دې دپاره هم نه دی استولی چې د الله ﷻ ولديت ته دې دعوت وچلوي.

که بالفرض المحال الله ﷻ ولديت درلودی نو د هر چا څخه وړاندې به يې وربانديې خپل پيغمبران (په عبادت کښې اول نمره ګان بندګان) خبر کړي وی چې زه ولديت لرم. عجيبه ده چې ټول پيغمبران متفق دي چې الله ﷻ نه شريک لري او نه ولديت، حال دا چې مشرکان (په ضلالت کښې اول نمره بندګان) ورته هم په شريک او شريکانو قول کوي او هم ورته په ولديت قائل دي، سبحان الله عما يقولون علواً کبيراً.

## دا استثناء منقطعه ده

٦ـ که څه هم په ﴿ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴾ کښې ځينو مفسرينو کرامو جائزه ګڼلې ده چې د "إلا" توری د متصلې استثناء دپاره شي[1]، خو بهتره دا ده چې دلته ذکر شوی د "إلّا" توری د منقطعې استثناء دپاره شي[2].

يعنې کوم بوتان چې مشرکان يې د الله ﷻ څخه په غير د شفاعت په تمه عبادت او بلنه کوي هغوی د جنس شفاعت کولو ملکيت او توان نه لري او نه پکښې د شفاعت کولو استعداد شته دی. مګر هغه کسان د شفاعت کولو استعداد لري کوم چې په حق (توحيد) سره شهادت وايي او په توحيد معتقد وي حال دا چې دوی پوهېږي هم، چې شهادت يې په حقه او اخلاص سره دی، نو بوازې همدوی به د خپل استعداد څخه کار واخلي او مستحقينو ته به شفاعت وکړي او بس.

## يو إعرابي تحليل

٧ـ که څه هم مفسرين کرام متفق دي[3] چې په ﴿ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴾ کښې د "قِيلِ" کلمه مصدر ده او ضمير يې نبي کريم ﷺ ته راجع دی چې وړاندېني متصل ايت کښې ورته په ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم ﴾ کښې په خطاب سره اشاره ده، او همدارنګه ټول متفق دي چې د ﴿ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴾ جمله د همدغه "قِيلِ" دپاره مقوله ده.

مګر د ذکر شوي ﴿ وَقِيلِهِ ﴾ په إعراب کښې علماء کرام زښت ډېر اختلاف لري، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې: "قِيلِهِ" مجرور دی او په وړاندېني [الزخرف:٨٥] ايت کښې په

---

[1] البحر المحيط ج٩ ص٣٩٢؛ المحرر الوجيز ج١٤ ص٢٨١؛ تفسير القرطبي ج١٦ ص١٢٢
[2] تفسير الطبري ج٢٥ ص١٠٥
[3] زاد المسير ج٧ ص١٠٩؛ اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص٣٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ٱلسَّاعَةِ ﴾ باندې عطف دی چې په "وَعِنْدَهُ عِلْمُ قِيلِهِ" سره ترې تعبیر کېدلی شي، او حاصل يې هاغسې راځېږي څنګه چې ورته د "مطلب خلاصه" عنوان لاندې اشاره شوې ده.

ب: د ځينو نورو علماوو کرامو نظر په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي:

اول: دلته په ﴿ وَقِيلِهِ ﴾ کښې د "و" توری د سوګند دپاره دی.

دوهم: د سوګند جواب مقدر دی چې په "لَأَنْصُرَنَّهُ عَلَى هؤلاءِ" سره ترې تعبير کولی شو.

درېم: په همدغه مقدر جواب باندې په راتلونکي ايت کښې د ﴿ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴾ جمله دلالت کوي.

نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: زه د پيغمبر ﷺ په دې خبره چې: "ای ربه! يقيناً دغه کفار داسې قوم دی چې عناد نيولي دي او په دلايلو سره هم ايمان نه راوړي او په دوامداره توګه د اسلام د ترقۍ مخنيوی کوي" سوګند يادوم چې هرومرو به زه خپل پيغمبر ته نصرت ورکړم او همدغه کفار به د ذلت سره مخامخ کړم ترڅو زما د پيغمبر شکايت رفعه شي.

## تبصره

۸ــ مونږ ته دوهم تحليل په زړه پورې برېښي، د همدې کبله مو د ايت په ترجمه کښې غوره کړی دی، او دا ځکه چې د يو پلوه متبادر دی او د بله پلوه عين مضمون ته په بل ايت کښې اشاره شوې ده هغه دا چې: ﴿ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴾ [الفرقان: ۳۰] يعني او پيغمبر وايي چې: ای زما ربه! زما قوم دغه قرآن کريم پرېښودل شوی نيولی دی (عقيده او عمل ورباندې نه کوي).

او اول تحليل نه ردوو د همدې کبله مو د مطلب په خلاصه کښې تر نظر لاندې نيولی دی.

د "الزُخرف" سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

د الله ﷻ څخه لا زياته مرسته غواړو.

آمينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۴۲۳/۸/۵ هـ ق - ۱۳۸۱/۷/۱۹ هـ ش.

Scanned by CamScanner

# الدخان (٤٤)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم "الدُّخان" دی چې د همدې سورت د [۱۰] ایت څخه اخستل شوی دی، یا په بل عبارت: دا سورت د نورو سورتونو څخه په همدغه نامه سره جدا شوی دی.

۲_ د دې سورت إعداد په لاندې ډول دی[۱]:

الف: د ایتونو تعداد یې نهه پنځوس (۵۹) دی[۲].

ب: د کلماتو شمېر یې درې سوه او شپږ څلوېښتو (۳۴۶) ته پورته شوی دی.

ج: د حروفو تعداد یې یو زرو څلور سوه او یو دېرشو (۱۴۳۱) ته رسېږي.

۳_ د دې سورت ټول ایتونه په اتفاق سره مکي ایتونه دي[۳] او د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي، مګر یوازې په [۱۵] ایت کښې یې څه اختلاف شته، چې د ځینو علماوو کرامو په نزد په مدینه کښې نازل شوی دی[۴].

۴_ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې په عمده توګه په عقیدوي احکامو پورې ارتباط نیسي، اما په دنیاوي او أخروي تهدیداتو باندې او همدارنګه په ترغیباتو باندې هم اشتمال لري. بالآخره نبي کریم ته پکښې تسلي ورکړه شوې ده چې مطمئن اوسه الله ﷺ به تاته د خپل وخت په کافرانو باندې داسې غلبه درکړي لکه څنګه یې چې موسی ﷺ ته په فرعونیانو باندې غلبه ورکړې وه. یا په بل عبارت: هغه سورت د نبي کریم ﷺ په شکایت باندې مشتمل وه او د نصرت وعده پکښې ورکړه شوې وه [الزخرف: ۸۸]، او په دې سورت کښې د موسی ﷺ د شکایت ذکر نازل شوی دی او هم یې د نصرت موندلو صورت ښودل شوی دی [الدخان: ۲۲].

۵_ دا سورت (الدُّخان) د وړاندېني سورت (الزُّخْرُف) سره د ډېرو وجوهو د کبله تناسب لري. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه مکي سورتونه دي او دواړه په ﴿ حمٓ ﴾ سره شروع شوي دي.

ب: په دواړو سورتونو کښې د قرآن کریم اعجاز او ځینو خواصو ته اشاره شوې ده.

ج: دواړه د کفارو دپاره په دنیاوي او أخروي تهدیداتو باندې مشتمل دي.

د: په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ۝١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝٣ فِيهَا يُفۡرَقُ

(۱) تفسیر الخازن ج۵ ص۴۲۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۳۰۶
(۲) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۱۰۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۷؛ المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۸۳
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾ أَمۡرًا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٥﴾ رَحۡمَةً مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦﴾ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ﴿٩﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] په ښکاره کتاب (قرآن کریم) باندې سوګند دی چې:

[۳] یقینًا دا کتاب (بل چا نه بلکې) مونږ په مبارکه شپه کښې نازل کړی دی (نو) یقینًا مونږ ډاروونکي یاستو (چې نه قبلوونکي خلک به یې د سخت عذاب سره مخامخ کړو).

[۴] په دې (مبارکه شپه) کښې د حکمت ډکه ډک هر کار.(د لوح محفوظ ځخه) رابېلاوه شي (او د اجراء دپاره پرښتو ته ورکول کېږي).

[۵] (مونږ په امر حکیم سره) داسې کار (اراده کوو) کوم چې زمونږ د پلوه وي. یقینًا مونږ (تا لره د پیغمبر په حیث) استوونکي یاستو.

[۶] (البته) د دې دپاره چې ته د خپل رب ﷻ د پلوه (د ټولو عالمونو په ارتباط) رحمت وګرځې، یقینًا ستا رب ﷻ (د خلکو د اقوالو) اورېدونکی (او په احتیاجاتو باندې یې) پوهېدونکی دی.

[۷] (چې همدی ﷻ) د اسمانونو او ځمکو او د هغو مخلوقاتو رب دی کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجود دي.

(ای خلکو!) که تاسو یقینْ کوونکي یاست (د یقین کولو استعداد په تاسو کښې شتون لري نو په ذکر شوي ارشاد باندې یقین او باور وکړئ).

[۸] په حقه معبود نه شته مګر همدی ﷻ دی چې ژوندي کول کوي او هم مړه کول کوي، او (همدارنګه) ستاسو رب دی او ستاسو د پخوانیو پلرونو رب (او پالونکی) هم دی.

[۹] (ای پیغمبره!) کفار یقین کوونکی نه دی) بلکې په شک کښې (په داسې حال پراته دي چې لوبې کوي (او ساتېری کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وراندېنی سورت (الزخرف) د کفارو په تهدید باندې ختم شوی وه چې که تاسو په قرآن کریم باندې عقیده خپله نه کړئ نو ډېر ژر به په خپله غلطیا باندې پوه شئ، خو د دغه وخت پوهه به تاسو ته هیڅ ګټه ونه شئ رسولی. دا سورت (الدُّخان) په ترغیب باندې پیل شوی دی، چې قرآن کریم برکتناک کتاب دی چې عقیده خپلول ورباندې په ګټه تمامېږي نه په ضرر، لکه چې تاسو خیال کوئ.

نو د مطلب خلاصه یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته د قرآن کريم څو نور اختصاصي صفات هم قرائت کړه، ترڅو ورباندې عقيده کلکه وساتي او يا ورباندې عقيده خپله کړي. هغه دا:

۱_ دا قرآن کريم داسې کتاب دی چې د خپل ځان حقانيت پخپله په اثبات رسوي. او دا ځکه چې دغه کتاب د هغو تورو څخه جوړ دي د کومو څخه چې د خلکو کلامونه جوړېږي لکه ﴿ حٰمٓ ﴾ او داسې نور، خو د دې سره ـسره ټول مخلوقات ورسره په يوه ايت کښې هم سيالي نه شي کولی او نه به يې وکړي. که بالفرض المحال دا کتاب د الله ﷻ د پلوه نه وی نازل شوی او پيغمبر ﷺ د خپله خانه جوړ کړی وی ـلکه چې مشرکان خيال کوي ـ نو يو سيال لا څه چې د هر سيالان به يې درلودلي وی. په همدې بنياد مونږ وايو چې:

الف: په دغه واضحه او څرګند کتاب باندې سوګند دی چې مونږ دا مبارک کتاب په مبارکه شپه کښې په مبارک پيغمبر (محمد ﷺ) باندې نازل کړی دی. او دا ځکه چې: يقينًا مونږ په همدغه مبارک کتاب سره د خلکو ډاروونکي ياستو چې ايمان ورباندې راوړي او د برکاتو څخه يې ګټه پورته کړي، که نه نو د ډېرو بدو عواقبو سره به مخامخ کړی شي.

ب: قرآن کريم داسې يو برکتناک کتاب دی چې د نزول دپاره يې مونږ مبارکه شپه انتخابه کړې ده، په کومه کښې چې هر فيصله شوی او حکمتي کار د لوح محفوظ څخه جدا کاوه شي ترڅو ورته د کال په اوږدو کښې عملي بڼه ورکړه شي.

ج: په دغه حکمتي کار سره مونږ هغه کار اراده کوو چې د بل چا د پلوه نه بلکې زمونږ د نزد څخه ورته صورت ورکولی کېږي، چې قرآن کريم هم د همدې قبيلې څخه دی.

د: ای پيغمبره! مونږ ځکه ذکر شوی مبارک کتاب رانازل کړ چې يقينًا مونږ تا لره د پيغمبر په صفت استوونکي ياستو، ترڅو ته د ټولو مخلوقاتو دپاره د خپل رب ﷻ د پلوه رحمت وګرځې.

هـ: يقينًا ستا رب ﷻ د خپلو مخلوقاتو د سوالونو قبلوونکی (اورېدونکی) دی برابره خبره ده چې سوالونه يې د حال په ژبه صورت نيسي او يا د قال په ژبه، او همدارنګه د ټولو په اړتياوو باندې پوه دی.

و: ستا رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو او هم د هغو مخلوقاتو رب او پالونکی دی کوم چې د اسمانونو او ځمکو ترمنځ موقعيت لري.

نو څرنګه چې ستا رب ﷻ د دغو مخلوقاتو مادي اړتياوې پوره کوي همدارنګه يې د دوی معنوي اړتياوې هم د نظره نه دي غورزولې، نو ځکه يې تاته د نبوت تاج درپه سر کړ او د پيغمبر په حيث يې ورولېږلې، او هم يې درباندې مبارک کتاب درنازل کړ ترڅو ترې د معنوي غذا استفاده وکړي.

ز: ای بنيادمانو! که تاسو يقين کوونکي ياست او د يقين کولو استعداد درکښې موجود وي، نو په ذکرو شوو حقائقو باور او يقين وکړئ.

ح: څرنګه چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی يوازې ستاسو رب ﷻ دی او بس، نو په حقه معبود هم نشته مګر يوازې همدی ﷻ دی. او همدارنګه يوازې همدی ﷻ مړه کول او ژوندي کول کوي (چا ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روح وربښي او د چا څخه يې اخلي).

ط: ای بنیادمانو! همدغه رب ﷻ ستاسو رب او پالونکی دی او همدارنګه ستاسو د پخوانیو پلرونو رب او پالونکی هم دی، او یوازې همدی ﷻ د عبادت لایق دی او بس.

۲_ ای پیغمبره! کفار او عنادي مشرکان ذکرو شوو دلایلو ته نه ګوري او په الله ﷻ باندې د توحید عقیده نه خپلوي، بلکې دوی په ډېر لوی شک او اشتباه کښې په داسې حال پراته دي چې خپلو ساتېریو او لوبو ته پکښې ادامه ورکوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: څرنګه چې قرآن کریم په درویشتو کلونو کښې نازل شوی دی نو علماوو کرامو يې په یوه مبارکه شپه کښې د نازلولو دوه معناوې کړې دي چې د [البقرة:۱۸۵] ایت لاندې هم ورته د الله ﷻ په توفیق اشاره شوې ده. هغه دا چې:

اول: په یوه مبارکه شپه کښې الله ﷻ د لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته نازل کړ او هلته يې په یو مقام کښې کېښود چې "بیت العزة" نومېږي، چې د دې مقام څخه بیا په درویشتو کلونو کښې څمکې ته رانازل شو[۱].

دوهم: په مبارکه شپه کښې د قرآن کریم په نزول باندې شروع شوې ده او په درویشتو کلونو کښې يې اختتام موندلی دی[۲].

ب: د دغې مبارکې شپې په تعین کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو باندې وېشلی شوي دي:

اول: جمهور او اکثر علماء کرام وايي چې دغه مبارکه شپه د "لیلة القدر" څخه عبارت ده[۳].

دوی په خپل همدغه مطلب باندې زښت ډېر دلایل اقامه کړی دی[۴] خو مونږ يې یوازې د یوه دلیل په ذکر اکتفاء کوو هغه دا چې: الله ﷻ په [البقرة:۱۸۵] ایت کښې په صراحت سره فرمایلي دي چې قرآن کریم د روژې په میاشت کښې نازل کړی شوی دی (نه د شعبان په میاشت کښې) او په [القدر:۱] ایت کښې يې صراحت کړی دی چې قرآن کریم مونږ په "لیلة القدر" کښې نازل کړی دی. لنډه دا چې قرآن کریم په رمضان کښې نازل شوی او په رمضان کښې په بله شپه کښې نه بلکې د قدر په شپه کښې نازل شوی دی، نه د شعبان په نیمايي شپه کښې.

دوهم: ځیني علماء کرام وايي چې دغه مبارکه شپه د شعبان د میاشتې د منځنۍ شپې څخه عبارت ده[۵]. خو دغو علماوو کرامو په کوم قوي دلیل باندې استدلال نه دی نیولی ترڅو د هغو

(۱) تفسیر الخازن ج۵ ص۴۴۷
(۲) المحرر الوجیز ج۱۴ ص۲۸۴
(۳) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۱۰۸؛ البحر المحیط ج۹ ص۳۹۷
(۴) التفسیر الکبیر ج۲۷ ص۲۳۸؛ اضواء البیان ج۷ ص۳۱۹
(۵) روح المعاني ج۲۵ ص۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلایلو مقابله وکړی شي په کومو باندې چې لومړی دلې علماوو کرامو استدلال نیولی دی، بلکې د دوی استدلال په مراسیلو او کمزورو أحادیث باندې ولاړ دی[١].

ج. د دغې مبارکې شپې د برکاتو څخه یوه برکت ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴾ [القدر:٣] یعنې د دغې یوې شپې عبادت د څه کمو څلورو اتیاوو (٨٤) کالو د عبادت څخه بهتر دی، البته هغه کلونه په کومو کښې چې "لیلة القدر" شامله ونه ګڼله شي.

د. که څوک وایي چې: په ﴿ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴾ کښې د "فِيهَا" ضمیر ذکرې شوې ﴿ لَيْلَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ ﴾ ته راجع دی، نو ﴿ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴾ د کوم کار څخه عبارت دی او راجدا کول یې څه معنی؟

مونږ وایو چې: دغه ایت شریف عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د هر بنه تفسیر کړی دی چې: «يُكْتَبُ مِنْ أُمِّ الْكِتَابِ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ مَا يَكُونُ فِي السَّنَةِ مِنْ رِزْقٍ أَوْ مَوْتٍ أَوْ حَيَاةٍ أَوْ مَطَرٍ حَتَّى يُكْتَبُ الْحَاجُّ يَحُجُّ فُلَانٌ وَيَحُجُّ فُلَانٌ»[٢] یعنې د قدر په شپه کښې د لوح محفوظ څخه هغه ټول کارونه په لیک سره راجدا کولی کېږي لکه روزي، باران، مرګ یا ژوند (او داسې نور) په کومو باندې چې د الله ﷻ د پلوه فیصله کړی شوې وي چې په جاري کال کښې دې اجراء کړی شي، آن تردې چې حج کوونکی هم لیکل کېږي چې سږ کال به فلانکی او فلانکی حج کوي.

د الله ﷻ هر کار د حکمت څخه ډک او محکم (فیصله کړی شوی) دی چې هیڅوک یې مخنیوی نه شي کولی، نو د همدې کبله ورته د "حکیم" لقب ورکړی شوی دی.

هـ. که څه هم ځینو علماوو کرامو د ذکرو شوو دواړو ډلو ترمنځ تطبیق کړی دی چې وایي: د لوح محفوظ څخه هر یو کار د شعبان په منځنۍ شپه کښې په لیکلو سره راجدا کېږي او د قدر په شپه کښې پربښتو ته د اجراء دپاره ورسپارل کېږي[٣]؛ مګر مونږ ته دغه تطبیق د ایت شریف څخه مخالف بریښي دا ځکه چې په ایت شریف ﴿ يُفْرَقُ كُلُّ ﴾ کښې صراحت شوی دی چې جدا کول د قدر په شپه کښې صورت نیسي، نه د شعبان په نیمایي کښې.

که څه هم د شعبان د میاشتې د نیمایي د فضائلو په ارتباط ځینې صحیح أحادیث روایت شوی دی[٤]، مګر په دې باره کښې هیڅ صحیح حدیث نه دی روایت شوی چې د لوح محفوظ څخه په دغې میاشت کښې هغه مضمون صورت نیسي کوم ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده[٥].

## د إعراب یو تحلیل

٢ـ ځینو مفسرینو کرامو جائزه ګڼلې ده چې په ﴿ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ۝ رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾ کښې د

(١) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص١٣٧
(٢) الدر المنثور ج٧ ص٣٩٩
(٣) تفسیر البغوي ج٤ ص١٤٩
(٤) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٥٨٩
(٥) اضواء البیان ج٧ ص٣١٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ رَحْمَةً ﴾ كلمه د ﴿ مُرْسِلِينَ ﴾ دپاره مفعول به وګرځي[1]، يعنې يقينًا مونږ ستا د رب ﷻ د پلوه د رحمت استوونکي ياستو.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمه به ورته "مفعول لهٗ" وي، يعنې يقينًا مونږ تا لره د پيغمبر په حيث د دې دپاره استوونکي ياستو چې ته د خپل رب ﷻ د پلوه ټولو عالمونو ته رحمت وګرځې.

په همدې مضمون باندې په بل ايت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الأنبياء:١٠٧] يعنې او مونږ ته نه يې استولی مګر د ټولو عالمونو دپاره رحمت.

﴿ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١١﴾ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾ ﴾

[١٠] نو (د کفارو په هکله) داسې ورځې ته منتظر شه چې اسمان (پکښې) په ښکاره لوګي (دود) سره راتګ وکړي.

[١١] داسې لوګی چې ټول خلک به پټ کړي (او خلک به وايي چې) دغه ډېر دردناک عذاب دی.

[١٢] ای زمونږ ربه! زمونږ څخه دغه عذاب لرې کړه، يقينًا مونږ (ستا په پيغمبر) ايمان راوړونکي ياستو.

[١٣] (ای پيغمبره!) کفارو ته به څنګه د پند اخستل شتون ولري حال دا چې يقينًا دوی ته (په معجزاتو سره) څرګند لېږلی شوی (پيغمبر) ورغلی دی (او دوی ترې انکار کړی دی).

[١٤] نو دوی ترې مخونه واړول (او ورته شا يې کړه) او دوی وويلې چې: (دا ربنتيانی لېږلی شوی نه دی بلکې) زده کړی شوی ليونی دی (ليونی شاګرد دی).

[١٥] يقينًا مونږ د لږ وخت دپاره (ستاسو څخه) د دې عذاب لرې کوونکي ياستو، خو بې شکه تاسو (مونږ ته يا پخوانې کفر ته) ګرځېدونکي ياست.

[١٦] (ای پيغمبره!) داسې ورځ ياده کړه چې مونږ (پکښې) سخت نيول وکړو، ډېر لوی سخت نيول، يقينًا مونږ (د کفارو څخه په دنيا او آخرت کښې) انتقام اخستونکي ياستو.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د دلايلو په اقامه کولو سره کفار هڅولي شوي وه چې د الله ﷻ په توحيد باندې عقيده وکړي. په دې ايتونو کښې د تهديداتو په نازلولو سره هغوی هڅولي کېږي چې په توحيد باندې معتقد جوړ شي.

---

(١) المحرر الوجيز ج١٤ ص٢٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

الله ﷻ په ﴿ يَوْمَ تَأْتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې مشرکان او کفار په يوه عذاب سره تهديد کړي دي چې په راتلونکي وخت کښې به يې ورباندې ورنازل کړي، او د همدغه عذاب څخه يې په "دُخَان" سره تعبير کړی دی.

د دغه عذاب په کيفيت او د نزول په وخت کښې علماء کرام په متعددو ډلو سره ويشلي شوي دي[۱] خو مونږ ترې دوه مثالونه ذکر کوو، چې د يوې ډلې په سر کښې رئيس المفسرين عبدالله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی[۲] او د بلې ډلې په سر کښې عبد الله بن مسعود ﷺ قرار لري[۳].

څرنګه چې ايتونه په لږ-لږ تاويل سره د دواړو ډلو تفسيرونه تحمل کولی شي نو مونږ يې د الله ﷻ په توفيق د هرې ډلې د تفسير مطابق په لاندې ډول جدا-جدا د مطلب خلاصه او توضيحات ليکو:

### د لومړۍ ډلې د تفسير خلاصه

د دې ډلې د تفسير مطابق يې د مطلب خلاصه داسې راځېږي چې:

اى پيغمبره! څرنګه چې مشرکان د دلايلو د اورېدلو څخه په لوی شک کښې پراته دي او واقعياتو ته د عبثياتو په نظر ګوري، نو ته هغوی ته په يوه کلک عذاب سره اطلاع ورکړه چې په راتلونکي وخت کښې به ورباندې ورنازل کړی شي. هغه دا:

۱ـ ته هغې ورځې ته منتظر اوسه چې هغه لاندې صفات لري:

الف: په دې ورځ کښې به په اسمان يو څرګند لوګی راوړي چې ټوله فضا به ورباندې ډکه شي او ټول خلک به پټ کړي.

خو دغه لوګی به مؤمنانو ته هيڅ ضرر نه رسوي بې د دې چې دوی ته به د زکام کيفيت ورپېښ کړي، ته به وايې چې د زکام په مرض اخته شوي دي. اما کفارو ته به ذکر شوی لوګی ډېر سخت عذاب وګرځي آن تردې چې دوی به په يوه خوله چيغې وهي چې:

ب: دا خو ډېر دردناک عذاب دی، ای زمونږ ربه! زمونږ څخه دغه عذاب لرې کړه، يقيناً مونږ سنا په توحيد باور کوونکي ياستو او پيغمبران دې منو، مونږ پوه شوو چې دغه عذاب په مونږ باندې زمونږ د شرکي او کفري عقيدې د کبله نازل شوی دی، مونږ د دغې عقيدې څخه توبه تائب ياستو.

۲ـ ای پيغمبره! په دغې ورځ کښې به کفار په دروغو وعده وکړي چې مونږ ايمان راوړو او د کفري او شرکي عقيدې څخه بېزار ياستو. خو:

الف: هغوی به څنګه پند قبول کړي او د کفري عقيدې څخه به لاس واخلي حال دا چې هغوی ته څرګند پيغمبر ورغلی وه، چې په معجزاتو او براهينو سره يې نبوت په اثبات رسېدلی وه مګر هغوی

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۴ ص۳۶۳؛ تفسير القرطبي ج۱۶ ص۱۳۰؛ روح المعاني ج۱۵ ص۱۱۸
(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص۲۸۵
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته معتقد نه شوه او ایمان یې ورباندې رانه ووړ

یې بلکې د پیغمبر د قبول شخصه یې مخونه واړول او دروغجن لقبونه یې ورباندې کېښودل. د مثال په توګه کله به یې ویلې چې دا پیغمبر نه دی بلکې د چا شاګرد دی چې استاذ یې ورته سبا او بېګا ورزده کوي او بیا یې په مونږ باندې لولوي. او کله به یې ویلې چې دا لیونی دی، د لیونی خبرو ته اعتبار ور نه دی.

۲ـ ای پیغمبره! کفارو ته زمونږ د پلوه ووایه او خبر ورکړه چې: یقیناً مونږ د لږ وخت دپاره د دغه عذاب لرې کوونکي یاستو چې دا دنیاوي عذاب دی دائمي عذاب نه دی، مګر تاسو پوه شئ چې یقیناً تاسو مونږ ته راتاوېدونکي یاستئ چې زمونږ په حضور کښې به د خپلو کړو وړو د سزا د کاللو دپاره ودرولی شئ. البته چې مونږ ته به ستاسو راستنېدل په هغې ورځ کښې صورت ونیسي په کومه ورځ کښې چې مونږ کلک نیول وکړو د هر لوی کلک نیول، چې نه به څوک د خپل ځان د نجات کومه وسیله ومومي او نه به زمونږ نیول اختتام پیدا کوي. او دا ځکه چې یقیناً مونږ به دغې ورځ کښې د کفارو څخه د دوام په توګه انتقام اخستونکي یاستو.

## د لومړي تفسیر توضیحات

۱ـ په ﴿ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې د "دُخَان" کلمه خپله حقیقي معنی ورکوي چې لوګی (دود) دی، کوم ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ ﴾ [حم السجدة ۱۱] یعنې بیا الله ﷻ (د پیدا کولو سلسله) اسمان ته په داسې حال متوجه کړه چې هغه د یوه لوګي (دود) په شکل موجودیت درلود.

نه به وایې چې د قیامت په نژدېکت سره به په کراره-کراره په اسمان کښې د خپل اصلیت نښې څرګندې شي.

۲ـ په ﴿ يَغْشَى ٱلنَّاسَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلنَّاس ﴾ کلمه د ټولو خلکو څخه عبارت ده کوم چې په هغه وخت کښې ژوندي وي.

۳ـ د دغه لوګي (دود) په هکله عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ویلي دي چې: «یخرج الدخان فیأخذ المؤمن کهیئة الزکمة ویدخل في مسامع الکفار والمنافق حتی یکون کالرأس الحنیذ»[۱] یعنې یو لوګی (دود) به راښکاره شي، نو مؤمن به د زکام غوندې یو کیفیت ونیسي (لکه چې د زکام مرض نیولی وي)، او دا (لوګی) به د کافر او منافق په غوږونو کښې ننوځي آن تردې چې د هر یوه سر به د وریت کړی شوي (کباب شوي) سر غوندې وګرځي.

۴ـ که څوک وایې چې: په ﴿ رَّبَّنَا ٱكْشِفْ عَنَّا ٱلْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْعَذَاب ﴾ څخه مقصد د لوګي (دود) عذاب مطلب دی چې د قیامت د لویو نښو څخه دی، نو پوښتنه دا ده چې به

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۴۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه وخت کښې خو د توبې دروازه بندېږي او ايمان نه قبلېږي، نو ايا په هغه وخت کښې به د مشرکانو دا غوښتنه صحت ولري چې: اى ربه! مونږ مؤمنان ياستو زمونږ څخه عذاب لرې کړه؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۱۵۸] ايت لاندې تېر شوي دي چې د توبې دروازه د مغرب څخه د لمر په راختلو سره بندېږي، حال دا چې ذکر شوى "دُخَان" به د هغه څخه وړاندې رامنځته شي چې لمر د مغرب څخه راوخېژي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ته توجه وکړئ:

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا» الحديث [۱]. يعني يقيناً قيامت به تر هغه قائم نه شي ترڅو ترې تاسو وړاندې لس علامات وګورئ، نو لوګى يې ياد کړ، او دجال او دابة الأرض او د لمر راختل د خپل مغرب څخه او داسې نور.

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلْعَذَابِ قَلِيلاً ﴾ کښې د "قَلِيل" کلمه د کوم لږ وخت څخه عبارت ده چې الله ﷻ پکښې د کفارو څخه د عذاب (دُخَان) لرې کوونکى دى؟

مونږ وايو چې: لږ وخت په لاندې دوه وو معناوو سره تفسير کېدلى شي:

الف: د "دُخَان" د مرحلې تېرېدنه د همدغه لږ وخت څخه عبارت ده چې سمدستي ورپسې د قيامت د علاماتو څخه د بلې علامې د راښکاره کېدو وخت رارسېږي.

ب: دغه لږ وخت د دنياوي ژوند څخه عبارت دى چې وروسته ورپسې دائمي ژوند درروان دى، همدې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ قُلْ مَتَـٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ ﴾ [النساء:۷۷] يعني اى پيغمبره! ووايه چې د دې دنيا متاع ډېر لږ شى دى، هيڅ شى يې دوامداره نه دى.

۶ـ په ﴿ إِنَّكُمْ عَآئِدُونَ ﴾ کښې د ﴿ عَآئِدُونَ ﴾ کلمه د "رَاجِعُونَ" معنى ورکوي [۲]، لکه چې په بل ايت کښې وړاندې صراحت شوى دى چې: ﴿ كُلٌّ إِلَيْنَا رَٰجِعُونَ ﴾ [الأنبياء:۹۳] يعني ټول خلک خاص مونږ ته د حساب کتاب دپاره رجوع کوونکي دي.

۷ـ په ﴿ يَوْمَ نَبْطِشُ ﴾ کښې د ﴿ يَوْم ﴾ کلمه د ﴿ عَآئِدُونَ ﴾ دپاره ظرف ده او د قيامت د ورځې څخه عبارت ده [۳]. يعني اى کفارو! مونږ د لږ وخت دپاره ستاسو څخه د عذاب پورته کوونکي ياستو خو دا د عفوې معنى نه ورکوي بلکې په يقين سره تاسو مونږ ته په داسې ورځ کښې رجوع کوونکي ياست په کومه کښې چې مونږ سخت نيول کوو ډېر لوى سخت نيول، نو بې شکه هلته مونږ ستاسو څخه انتقام اخستونکي ياستو.

## د دوهمې ډلې د تفسير خلاصه

د دې ډلې تفسير مطابق يې د مطلب خلاصه داسې راځېژي چې:

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۹۲
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۱۳۲
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۴۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ای پیغمبره! ته هغې ورځې ته منتظر اوسه چې په مشرکانو باندې الله ﷻ داسې سخته وچکالي ورولي او د داسې لوږې سره يې مخامخ کړي چې له ډېرې لوږې به يې په سترګو جالونه غوړېدلي وي او د اسمان طرف هوا به ورته خړه پړه او لوغړنه برېښي حال دا چې واقعيت به هغسې نه وي.

۲_ دغه وچکالي به د مکې مشرکان احاطه کړي او ډېته به يې مجبور کړي چې په چيغو چيغو او يوه خوله ووايي چې دا خو ډېر دردناک عذاب دی.

۳_ او هم به ووايي چې: ای زمونږ ربه! د دغې وچکالۍ مخه زمونږ څخه واړوه او پراخي راباندې راوله چې يقيناً مونږ ستا په پيغمبر باندې باور کوونکي او يقين کوونکي ياستو.

۴_ ای پیغمبره! مشرکانو ته به څنګه پند حاصل شي او څنګه به ايمان راوړي او بالآخره دوی به څنګه د ايمان د راوړلو په وعده وفا وکړي، حال دا چې دوی ته پيغمبر په ځرګنده توګه ورغلی دی او خپل رسالت يې ورته په معجزاتو سره اثبات کړی دی خو د دې سره-سره دوی ورته شا کړې ده، او حتی تهمت يې ورباندې ولګاوه چې دا سړی (محمد ﷺ) د چا شاګرد دی چې د هغه څخه يې روزمره زده کوي او په مونږ باندې يې سبا او بېګا لولوي. بلکې دوی همدغه حقاني پيغمبر ته د ليوني او جادوګر لقبونه هم ورکړه او د معجزاتو د اثر لاندې واقع نه شوه.

۵_ ای پیغمبره! زمونږ د پلوه مشرکان مخاطب کړه او ورته ووايه چې:

يقيناً مونږ ستاسو څخه د لږ وخت دپاره د دغې وچکالۍ لرې کوونکي ياستو، خو تاسو به په خپله وعده باندې ونه درېږئ او ايمان به رانه وړئ بلکې بيا به خپله پخوانۍ کفري او شرکي تګلاره تعقيبه کړئ. يا په بل عبارت: تاسو په دغه صورت کښې په يقين سره خپل کفر ته تاوېدونکي ياست او په خپله وعده باندې نه درېدونکي ياست.

۶_ ای پیغمبره! مشرکان زمونږ د پلوه په دې باندې هم مخاطب کړه چې: يقيناً مونږ ستاسو څخه د دغو کفرياتو او بې لوظيو انتقام اخستونکي ياستو او دائمي دوزخ ته مو وراچوونکي ياستو، البته په هغې ورځ کښې چې کله مونږ کلک نيول وکړو ډېر لوی کلک نيول.

## د دوهم ډول تفسير توضيحات

۱_ په ﴿يَوْمَ تَأْتِي ٱلسَّمَآءُ﴾ کښې د ﴿ٱلسَّمَآءُ﴾ د کلمې څخه اسمان لور ته هوا مطلب ده[1]، نه هغه اسمان کوم چې د ځمکې مقابل دی.

۲_ په ﴿بِدُخَانٍ مُّبِينٍ﴾ کښې د "دُخَان" کلمه د حقيقي لوګي څخه عبارت نه ده، بلکې هغه ګرد او خړوالی ترې مطلب دی کوم چې د وږي سړي په سترګو ورخورېږي[2]، او ټوله دنيا ورته لوګنه (لوغړنه) برېښي.

۳_ په ﴿يَغْشَى ٱلنَّاسَ﴾ کښې د ﴿ٱلنَّاسَ﴾ د کلمې څخه يوازې قريش او د مکې مشرکان مطلب

(۱) تفسير المراغي ج۲۵ ص۱۲۲
(۲) المحرر الوجيز ج۱۴ ص ۲۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي[۱]. کومو ته چې نبي کريم ﷺ ښېراکړې وه چې ای ربه! په دغو مشرکانو باندې سخته قحطي ورنازله کړې لکه څنګه چې تا د یوسف ﷺ په قوم باندې ورنازله کړې وه.

د نبي کريم ﷺ دغه ښېرا ـ د الله ﷻ په توفيق ـ د [الزخرف:۴۹] ایت لاندې رانقله شوې ده، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي

۴ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ خو د مشرکانو څخه ذکره شوې وچکالي بالکل لرې کړه چې: هغوی د ژوند پورې وریاندې بیا ورنغله، حال دا چې په ﴿ إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا ﴾ کښې ﴿ قَلِيلًا ﴾ د کلمې څخه لږ وخت څرګندېږي؟

ځواب وایو چې: د ﴿ قَلِيلًا ﴾ معنی دا ده چې مشرکان به ډېر ژر خپلې کفري عقیدې ته ووګرځي، که څه هم وچکالي ترې ډېر لږ وخت لرې کړی شي، پاتې خو لا ډېر وخت.

د الله ﷻ وینا واقعیت موندلی کړ، چې د وچکالی د لرې کولو سره تقریباً جوخت هغوی بیا خپله کفري او شرکي عقیده تعقیب کړه او د خپل لوظ څخه وګرځېدل. لکه چې په همدې مطلب باندې په ﴿ إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴾ کښې د ﴿ عَائِدُونَ ﴾ کلمه دلالت کوي.

۵ـ په ﴿ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ﴾ کښې د ﴿ يَوْمَ ﴾ د کلمې د متعلق په اړه مفسرينو کرامو زيات ډېر احتمالات ليکلي دي[۲]، خو دا احتمال بهتر برېښي چې ذکره شوې کلمه په ﴿ مُنتَقِمُونَ ﴾ پورې تعلق ونيسي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ﴾ څخه د بدر غزا مطلب ده[۳]، چې ډېر مشرکان پکښې ووژلی شوه او ډېر پکښې اسيران شوه.

## تبصره

د ذکرو شوو دوارو تفسيرونو د ترجیح صورت حال په لاندې ډول دی:

۱ـ ځینې مفسرین کرام ـ چې په سر کښې یې العلامه ابن کثیر قرار لري ـ وایي چې لومړی ډول تفسیر غوره دی[۴]، او په هغه حدیث باندې هم استدلال نیسي په کوم کښې چې د ابن صیاد قیصه د احادیثو په کتابونو کښې ذکره ده[۵]، چې نبي کريم ﷺ ورته د "دُخَان" په هکله پوښتنه راجع کړه: که بالفرض د دغې کلمې څخه تېر شوی لوګی مطلب وی نو پوښتنه به یې ورته نه وی راجع کړې.

۲ـ ځینې نور دوهم تفسیر ته ترجیح ورکوي، چې د دوی په لومړي سر کښې شیخ المفسرین العلامه ابن جریر الطبري واقع دی[۶].

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۳۱
(۲) روح المعاني ج۲۵ ص۱۲۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۹
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۱۸۰ صحیح مسلم ج۲ ص۲۹۷
(۶) تفسیر الطبري ج۲۵ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٣_ خو مونږ ته بهتره برېښي چې د ذكرو شوو دواړو تفسيرونو ترمنځ د ترجيح وجوه ونه لټولي شي ځكه چې دواړه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې "دُخَان" به دوه صورتونه ولري(١)، يو صورت به يې پخوا تېر شوی وي او دوهم صورت به يې په آينده كښې د قيامت د بوې علامې په حيث تحقق ومومي. او ايتونه د څه تاويلاتو په ملحوظ د دواړو تفسيرونو تحمل كولی شي.

﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوٓا۟ إِلَىَّ عِبَادَ ٱللَّهِ
إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعْلُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِنِّىٓ ءَاتِيكُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾ وَإِنِّى
عُذْتُ بِرَبِّى وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ لِى فَٱعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ
هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِى لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا
إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾
وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ
ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ
﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾﴾

[١٧] او يقينًا مونږ (د دې زماني) د كفارو څخه مخكښې د فرعون قوم د امتحان لاندې واقع كړی وه او هغوی ته باكرامته (معزز) پيغمبر ورغلې وه (چې موسى عليه السلام نومېده).

[١٨] (موسى عليه السلام فرعونيان مخاطب كړه چې): ماته د الله ﷻ بندګان (بني اسرائيل) راكړئ (چې زه يې د خپله خانه سره د شام په لور بوځم. اى فرعونيانو!) يقينًا زه ستاسو دپاره امانتګر پيغمبر يم.

[١٩] او (هم يې مخاطب كړه) چې تاسو په الله ﷻ باندې لويي مه كوئ (په پيغمبر باندې يې ايمان راوړئ) بې شكه زه تاسو ته د څرګند دليل (برهان) راوړونكى يم.

[٢٠] او يقينًا زه په خپل رب ﷻ او ستاسو په رب ﷻ (الله ﷻ) سره د دې څخه پنا غواړم چې تاسو مې رجم (او سنګسار) كړئ.

[٢١] او كه چرته تاسو ماته عقيده نه كوئ (ايمان راباندې نه راوړئ) نو ما (د بني اسرائيلو په شمول) جدا كړئ (اجازه راكړئ چې مونږ شام ته لاړ شو).

[٢٢] نو (هغوی انكار ته ادامه وركړه او) موسى عليه السلام خپل رب ﷻ وباله، چې يقينًا دغه

(١) المحرر الوجيز ج١٤ ص٢٨٦؛ شرح النووي على مسلم ج٢ ص٣٩٣؛ تفسير القاسمي ج١٤ ص٣٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(فرعونیان) جرم کوونکی (جنایتکار) قوم دی (ای ربه! سخت عذابورباندې نازل کړه).

[۲۳] نو (الله ﷻ د موسی ؑ سوال قبول کړه او توصیه یې ورته وکړه چې): زما بندګان (بني اسرائیل) د شپې بوخه (د مصر څخه یې وباسه خو اګاه اوسه چې:) یقیناً تاسو تعقیب کړی شوي یاست (فرعونیان درپسې در روان دي).

[۲۴] او (ای موسی!) دریاب (د همسا وهلو او د لارو د جوړېدلو څخه وروسته) پرانیستی (ولاړ) پرېږده، یقیناً فرعونیان (د الله ﷻ په علم کښې) غرق کړی شوی لښکر دی.

[۲۵] (نو الله ﷻ هغوی هلاک کړه او) ته ګوره چې څومره ډېر (شیان) یې پرېښودل چې د باغونو او چینو څخه عبارت دی.

[۲۶] او هم د کښتونو او معززو ځایونو څخه.

[۲۷] او هم د داسې نعمت څخه چې فرعونیان پکښې خوشالي کوونکي (او تکبر کوونکي) وه.

[۲۸] (ای پیغمبره! مونږ د مجرمانو سره) دغه ډول (چال چلند کوو)، او (مونږ د فرعونیانو څخه ذکر شوي شیان واخستل او) بل قوم (بني اسرائیلو) ته مو وړیا ورکړه.

[۲۹] نو په فرعونیانو باندې نه اسمان وژړل او نه ځمکې، او نه هغوی وه چې مهلت ورکړی شوی وي.

[۳۰] او یقیناً مونږ بني اسرائیلو ته د سپکوونکي عذاب څخه نجات ورکړ.

[۳۱] (البته چې دا عذاب ورته) د فرعون د پلوه (متوجه وه)، یقیناً فرعون اوچتېدونکی (متکبر او هم) د حد څخه د تجاوز کوونکو د جملې څخه وه.

[۳۲] او یقیناً مونږ د پوهې په بنیاد بني اسرائیلو ته (د خپلې زمانې) په عالمونو باندې غوره والی ورکړی وه (چې د پیغمبرانو سلسله مو په همدوی کښې جاري ساتلې وه).

[۳۳] او یقیناً مونږ بني اسرائیلو ته د معجزاتو څخه هومره ورکړې وې په کومو کښې چې ځرګند امتحان (او ځرګند نعمت) وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د فرعونیانو په ذکر سره نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپل قوم په بې لوظی باندې ډېر مه متاثر کېږه چې په خپله ژمنه وفا نه کوي او د عذاب د لرې کولو سره سم بېرته خپل پخواني کفر ته ادامه ورکوي، او دا ځکه چې:

۱_ کفار ټول یو ملت دی چې پخواني او وروستني یو هم په خپلو ژمنو نه درېدلي دي او نه به ودرېږي. د مثال په توګه، مونږ ستا د زمانې د کفارو څخه پخوا فرعونیان د موسی ؑ په وړلېږلو سره د ازمېښت لاندې واقع کړي وه. هغه دا چې:

الف: هغوی ته د کرامت څخه ډک پیغمبر (موسی ؑ) ورغلی وه، او خپل رسالت یې ورته د معجزاتو په ښودلو سره په اثبات رسولی وه او بیا یې مخاطب کړي وه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ای فرعونیانو! تاسو د کفریاتو څخه لاس واخلئ او د توحید عقیدې ته راوګرځئ.
ج: ماته بني اسرائیل راکړئ چې زه یې د شام ټاټوبي ته بوځم، دوی د الله ﷻ بندګان دي او تاسو حق نه لرئ چې د دوی سره د غلامۍ او بندګۍ چال چلند وکړئ.
د: ای فرعونیانو! زه ستاسو دپاره امانتدار پیغمبر یم، په کوم شي سره چې زه رالېږلی شوی یم هغه مې درته هو بهو او کټ مټ دررورساوه.
ه: نو په همدې بنیاد تاسو په ماباندې لویي او تکبر مه کوئ چې د پیغمبر په حیث مې ونه منئ، او دا ځکه چې په ماباندې تکبر کول په حقیقت کښې په الله ﷻ باندې خپل ځان اوچت ګڼل دي.
و: یقیناً زه ستاسو دپاره د څرګندو دلایلو او معجزاتو راوړونکی یم، ما تاسو ته خپل رسالت په اثبات رسولی دی او په راتلونکي کښې به یې هم درته په کراتو مراتو سره په اثبات ورسوم.
۲_ د ذکرې شوې خطابې څخه وروسته فرعونیانو موسی ﷺ تهدید کړ چې که ته خپله تګلاره بدله نه کړې او د خپل دعوت څخه لاس وانخلې نو ضرور به ته زمونږ د پلوه ووژلی شې بلکې په کاڼو به دې ووژنو او سنګسار به دې کړو.
۳_ نو موسی ﷺ یو ځل بیا هغوی مخاطب کړه چې:
الف: یقیناً زه په خپل رب ﷻ (چې ستاسو رب هم دی) پنا اخلم چې تاسو مې ووژنئ او یا مې سنګسار کړئ. یا په بل عبارت: ستاسو د تهدید په مقابل کښې ما خپل ځان په خپل رب ﷻ سپارلی دی.
ب: زه تاسو ته یو ځل بیا وایم چې: که ایمان راباندې نه راوړئ (اولنۍ غوښتنه مې نه پوره کوئ) نو د بني اسرائیلو په شمول مې د دې وطن څخه جدا کړئ (دوهمه غوښتنه خو مې ومنئ) چې خپل ټاټوبي ته لاړ شو.
۴_ فرعونیانو د موسی ﷺ یوه غوښتنه هم ونه منله او خپلو کفریاتو او تهدیداتو ته یې ادامه ورکړه، نو ځکه موسی ﷺ خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای ربه! یقیناً دغه فرعونیان مجرمان خلک دي او په خپلو کفریاتو باندې ډېر زیات کلک دي نو ترهغه به ایمان رانه وړي ترڅو چې دردناک عذاب وګوري، نو زما سوال دا دی چې مهلک عذاب ورباندې ورنازل کړې.
الله ﷻ د موسی ﷺ سوال قبول کړ چې په نژدې وخت کښې به ورباندې دردناک عذاب ورنازل کړم، نو توصیه یې ورته وکړه چې:
اول: ای موسی! ته زما بندګان (بني اسرائیل) په شپه کښې د مصر څخه وباسه خو په دې باندې پوه شه چې تاسو تعقیب کړی شوي یاست، ډېر ژر به درپسې فرعوني لښکر درشي خو تاسو وارخطا کېږئ مه، تاسو د نجات خاوندان یاست.
دوهم: ای موسی! کله چې ته دریاب ته ورسېدې او د فرعونیانو د پلوه محاصره شوې نو په دغه وخت کښې به خپله همسا باندې دریاب ووهه ترڅو پکښې تاته د نجات لارې جوړې شي چې وچې کلکې به وي، په دغه وخت کښې مه د غرق څخه دارېږه او مه د فرعونیانو د اسارت څخه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېم: ای موسی! کله چې ته د خپلو پیروانو سره په همدغه معجزانه لارو باندې د دریاب څخه ه‌غې خوا ته پورېوتلې نو دریاب په خپل حال ارام پرېږده، ذکرې شوې لارې مه ورانوه. او دا څکه چې:
څلورم: فرعونیان تاته نه شي درپورېوتلی بلکې دوی په همدغه دریاب کښې غرق کړی شوي دي.
۵_ ای پیغمبره! مونږ د موسی ﷺ د سوال په مطابق په فرعونیانو باندې د غرقولو نقشه عملي کړه او ټول مو پوپنا کړه، نو ته وګوره چې څومره نعمتونه یې په خای پرېښودل؟ مثلاً:
الف: څومره باغونه او څومره چینې؟
ب: څومره کښتونه او څومره باکرامته مقامونه او مانۍ؟
ج: څومره نور بې شمېره نعمتونه؟ چې فرعونیان به پکښې په تکبر سره ګرځېدل راګرځېدل، او هم به یې ورباندې افتخار کاوه، په ټوکو ټکالو به لګیا وه.
٦_ ای پیغمبره! کله چې زمونږ اراده وشي نو مونږ د کفارو سره دغسې چال چلند کوو او په دغه ډول سره یې هلاکوو او خپل نعمتونه ترې اخلو. مونږ د کفارو معاندینو (فرعونیانو) څخه خپل نعمتونه واخستل او همدغه ډول نعمتونه مو د هغوی څخه په غیر بل قوم (بني اسرائیلو) ته ورکړه.
دغسې کار مونږ په هر وخت کښې کولی شو نو ستا د زمانې کفار باید د فرعونیانو څخه د عبرت درس زده کړي او د کفري او شرکي عقیدې څخه لاس واخلي.
۷_ فرعونیانو ته د هلاکت په وخت کښې هیڅ ناصر او کومکي مونده نه شو چې نجات ورکړي او نه ورته مالونه او ثروتونه په درد ولګېده. لنډه دا چې:
الف: په هغوی باندې نه اسمان وژړل او نه ځمکې، بلکې دغه دواړه ورباندې خوشاله شوه چې د شره یې خلاص شوه، او نه په هغوی کښې څه خیر وه چې هغو دواړو یې ارمان کړی وی.
ب: همدارنګه هغوی ته هیڅ مهلت هم ونه کړی شو البته کله یې چې د هلاکت وخت ورښېد او نېټه یې پوره شوه.
۸_ ای پیغمبره! مونږ بني اسرائیلو ته د هغه سپک کوونکي عذاب څخه نجات ورکړ کوم چې هغوی ته د فرعون د پلوه متوجه وه، چې نارینه اولادونه به یې د دوی په وړاندې ذبحه کول او ښځینه اولادونه به یې ورته ژوندي پرېښودل.
یقیناً چې فرعون په خپل وخت کښې ډېر زیات سرکشه او تکبر کوونکی وه، او په دې باندې علاوه په بدیو کښې هم د انساني حده تجاوز کوونکی وه.
۹_ برسېره په نجات باندې، مونږ بني اسرائیلو ته د خپلې زمانې په ټولو عالمونو او قومونو باندې غوره والی ورکړ، چې د پیغمبرانو لړۍ مو په همدوی کښې جاري وساتله او سیادت مو همدوی ته وربه برخه کړ. او دا څکه چې: مونږ پوهېدو چې همدوی په حاضر وخت کښې د غوره والي مستحق دي او هم پوهېدو چې په آینده کښې به دوی د همدغه غوره والي حق په خای نه کړي او د ډېرو تقصیراتو به مرتکب وګرځي (لکه چې همداسې وشوه).
۱۰_ په دې باندې علاوه مونږ بني اسرائیلو ته داسې معجزانه نعمتونه ورکړه چې د یو پلوه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نعمتونه وه او د بله پلوه پکښې ځرګند امتحان نغښتی وه. د مثال په توګه، من او سلوی مو پرې ورنازل کړه او د وچې کلکې ډبرې څخه مو ورته بهېدونکې اوبه جارې کړې او داسې نور.

## توضيحات

۱ـ د فرعونيانو د بې لوظۍ او په ژمنه باندې د نه درېدلو ځو مثالونو ته په [الأعراف:۱۳۳] ايت کښې اشاره شوې ده نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

۲ـ که څه هم الله ﷻ په بل ايت کښې د فرعون د پلوه د موسی ﷺ تهديد په قتل سره نازل کړی دی چې: ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ ﴾ [المؤمن: ۲۶] يعني ما پرېږدئ چې موسی ووژنم؛ مګر داسې معلومېږي چې په رجم سره به يې هم تهديد کړي وي، د همدې کبله په ﴿ وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي ﴾ الآية- کښې د موسی ﷺ د پلوه د رجم څخه هم د پنا غوښتنه راحکايت شوې ده.

## إعتزال څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُواْ لِي فَٱعْتَزِلُونِ ﴾ کښې د "اِعْتَزِلُوا" کلمه د "اِعْتِزَال" څخه اشتقاقه شوې ده چې د يوه شي څخه د څنګ کولو معنی ورکوي[1]. خو په دې مقام کښې لاندې معناوې درلودلی شي:

الف: د ضرر څخه څنګ کول[2]. يعني که تاسو په ماباندې ايمان نه راوړئ نو اقلاً د ضرر رسولو څخه خو مې څنګ وکړئ او په قتل او رجم سره مې مه تهديدوئ.

ب: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۱۰۵] ايت لاندې ليکلي دي چې موسی ﷺ د فرعون څخه دوه غوښتنې درلودې، يوه ايمان راوړل، او بله د بني اسرائيلو خوشې کول، نو په ﴿ فَٱعْتَزِلُونِ ﴾ کښې دوهمې غوښتنې ته اشاره ده.

يعني اې فرعونيانو! که تاسو زما يوه غوښتنه نه منئ نو بله غوښتنه خو مې ومنئ او ما د بني اسرائيلو په شمول پرېږدئ چې خپل اصلي وطن (شام) ته لاړ شو.

## د "رَهْوًا" معنی

۴ـ په ﴿ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا ﴾ کښې د "رَهْو" کلمه د پښو بېرته کولو ته وضعه شوې ده[3]، خو په دې مقام کښې د "مرهو" معنی ورکوي. يعني درياب بېرته (پرانستلی) پرېږده، ترڅو پکښې فرعونيان غرق کړی شي چې يقيناً دوی د الله ﷻ په علم کښې غرق کړی شوی لښکر دي.

## دلته بل قوم د چا څخه عبارت دی؟

۵ـ په ﴿ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴾ کښې د ﴿ قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴾ بل قوم څخه بني اسرائيل مراد دي لکه چې په [الشعراء:۵۹] ايت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۵
(۲) روح المعاني ج۲۵ ص۱۲۲
(۳) القاموس المحيط ج۲ ص۴۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلته مونږ د الله ﷻ په توفیق ښه تحقیق کړی دی چې په ایتونو کښې د کوم وطن باغونه او چینې مرادې دي؟ د مصر او که د شام، او که د ټولې دنیا؟؛ نو هیله ده چې هلته یو ځلې مراجعه وکړی شي ترڅو دا مقام ښه واضحه وګرځي.

## یو اعرابي تحلیل

۶_ د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه لیکلي دي خو مونږ ته دا بهتره برېښي چې دلته د "ک" توری په مقدر "نفعل" پورې تعلق ونیسي چې ظهور به یې داسې صورت ونیسي چې: "كَذَلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ" یعنې مونږ د مجرمانو (کفارو) سره دغسې کار کوو.
مونږ ځکه ذکر شوی تقدیر خوښ کړ چې په بل ایت کښې وربانديې تقریبًا صراحت شوی دی چې: ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ [الصافات:۳۴] یعنې یقینًا مونږ د مجرمانو (کفارو) سره دغه رول کار کوو.

## ایا اسمان او ځمکه ژاړي؟

۷_ د ﴿ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ ﴾ لاندې تفسیرونه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمْ ﴾ (الآية)»[1] یعنې هیڅ مؤمن نه دی مګر هغه ته دوه دروازې دي چې د یوې دروازې ځخه یې نېک عملونه پورته خېژي او د بلې دروازې ځخه یې روزي رانښکته کېږي، نو کله چې مؤمن سړی وفات شي نو دواړه دروازې وربانديې ژاړي.
عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) ذکر شوی حدیث شریف شرحه کړی دی[2]، چې لنډه خلاصه یې داسې راځېږي:
اول: هر چا ته په اسمان کښې یوه دروازه شته چې د هغې ځخه یې روزي رانښکته کېږي او د همغې په ذریعه یې نېک اعمال پورته خېژي. (شاید چې په ذکر شوي حدیث کښې به د همدغې یوې دروازې ځخه د دې کبله په دوه وو دروازو سره تعبیر شوی وي چې دوه کارونه وربانديې انجامېږي).
دوهم: کله چې مؤمن وفات شي نو ذکره شوې اسماني دروازه یې بنده شي د همدې کبله وربانديې اسمان ژاړي.
دریم: همدارنګه وربانديې هغه ځمکه هم ژاړي په کومه باندې به چې نوموړي متوفی لمونځ اداء کاوه او الله ﷻ به یې وربانديې یاداوه.
څلورم: فرعونیانو نه په ځمکه کښې کوم صالح عمل درلود او نه د دوی د پلوه اسمان ته څه خبر پورته کېده، نو ځکه وربانديې نه ځمکې وژړل او نه اسمان.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۱
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۴۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: خیني مفسرین کرام وایي چې ذکر شوی ایت شریف د بې پروایۍ څخه کنایه دی[1]. یعني د فرعونیانو په هلاک سره نه اسمان راوغورزېد او نه پرې ځمکه وچاوده. حال دا چې هغوی دومره لوی متکبرین وه، تابه ویل چې اسمان هغوی درولی دی او ځمکه همغوی د چاودنې څخه ساتلې ده.

ج: زمونږ په فکر دغه تفسیر به د اشارة النص په ملحوظ مراد وي، نو د وړاندېني ماثور تفسیر سره څه منافات نه لري.

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ
إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾ أَهُمۡ خَيۡرٌ أَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٖ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ
﴿٣٧﴾ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ مِيقَٰتُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوۡمَ لَا يُغۡنِي
مَوۡلًى عَن مَّوۡلًى شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾﴾

[۳۴] بې شکه دغه (مشرکان) هرومرو وایي چې:

[۳۵] دا (زمونږ عاقبت) نه دی مګر زمونږ (همدا) رومبی مرګ دی، په داسې حال کښې چې مونږ (بیا ژوندي کړی شوي او) خواره کړی شوي نه یاستو.

[۳۶] نو (د پیغمبر په شمول ای مؤمنانو!) تاسو زمونږ (پخواني مړه شوي) پلرونه راولئ (راژوندي کړئ) که تاسو (د بعث بعد الموت په خبره کښې) رښتیني یاست.

[۳۷] (ای پیغمبره!) ایا د دې زمانې کفار (په مالونو او قوتونو کښې) بهتر دي او که د تُبع (پاچا) قوم، او (یا) هغه کفار کوم چې د تُبع د قوم څخه وړاندې تېر شوي دي؟

دوی مو (ټول د کفریاتو د کبله) هلاک کړه، یقینًا دوی (ټول) مجرمان (او جنایتکاران) وه.

[۳۸] او مونږ اسمانونه او ځمکې او هغه مخلوقات کوم چې د دواړو ترمنځ موجود دي، د لوبې کوونکي په حیث نه دي پیدا کړي (دا عبث نه دي).

[۳۹] دا دواړه (د منځنې مخلوق په شمول) مونږ نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره (حکمتونه پکښې مرموز دي)، خو د خلکو اکثریت نه پوهېږي (دا ټول ورته عبثیات برېښي).

[۴۰] یقینًا د فیصلې ورځ (قیامت) چې ده د ټول خلکو (د بیا راژوندي کېدلو) ټاکلی وخت دی (تغیر پکښې صورت نه شي نیولی).

[۴۱] (دا) داسې ورځ ده چې یو دوست به (پکښې) د بل دوست څخه د هیڅ شي (عذاب) مخنیوی نه شي کولی، او نه به د دوی سره مرسته وکړی شي.

---

(۱) تفسیر روح المعاني ج۲۵ ص۱۲۴؛ تفسیر زاد المسیر ج۷ ص۱۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۲] مګر هغه څوک (د عذاب څخه نجات موندلی شي) چې الله ﷻ پرې مهرباني وکړي، یقیناً الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني [الدخان:۹] ایت مضمون دا وه چې مشرکان د بعث بعد الموت څخه په شک کښې پراته دي، بیا د هغه ارتباط د کبله د فرعون څه حالات نازل شوه کوم چې د وړاندېنیو ایتونو د مجموعي لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوی دی.

په دې ایتونو کښې ذکر شوي مضمون ته بیا د بحث مخ اړولی شوی دی او د مشرکانو عقیده راحکایته شوې او رده شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د بعث بعد الموت په ارتباط یو ځل بیا په خپل اُمت باندې څه مطالب قرائت کړه:

۱ـ دغه د دې زمانې فرعونیان (کفار) د بعث الموت په هکله وایي او عقیده لري چې:

الف: زمونږ د ژوند انجام او عاقبت بل شی نه دی مګر همدغه لومړی مرګ دی چې زمونږ ژوند ته خاتمه ورکوي، د دې مرګ څخه وروسته په مونږ باندې بل هیڅ حالت راتلونکی نه دی.

ب: لنډه دا چې مونږ د دغه مرګ څخه وروسته راژوندي کړی شوي نه یاستو چې د قبرونو څخه راپاڅولی شو او یو ځل بیا په ځمکه خواره واره کړی شو.

ج: ای د بعث بعد الموت مدعیانو! که تاسو په خپله دعوه کښې رښتیني یاست نو تاسو زمونږ مړه شوي پخواني تېر شوي پلرونه بېرته راولئ او خپل رب ﷻ ته سوال وکړئ چې هغوی بېرته راژوندي کړي. او که نه نو مونږ ستاسو په خبرو باور نه شو کولی.

۲ـ ای پیغمبره! په ذکرې شوې عقیدې باندې په کلکو پاتې کېدلو سره مشرکان په لوی لاس خپل خانونه د هلاکت کندې ته ورغورزوي. ایا مونږ د همدغې کفري عقیدې په ادامې سره پخواني کفار نه دي هلاک کړي؟ ایا د دې زمانې کفار د مال او ثروت د حیثه بهتر دي او که د تُبع پاچا قوم؟ ایا د دې زمانې کفار ډېره سرمایه لري او که د تُبع پاچا د قوم څخه وړاندې نورو کافرانو ډېره او غوره سرمایې او قوتونه درلوده لکه عادیان، ثمودیان او نور؟.

خو دغه ټول مونږ هلاک کړه ځکه چې یقیناً هغوی ټول مجرمان او جنایتکاران قومونه وه او په خپلو جرمونو او جنایتونو باندې کلک ولاړ وه، ترڅو چې پوېښا شوه، نو په کار دي چې د دې زمانې کفار د هغوی څخه د عبرت درس واخلي.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ خو اسمانونه او ځمکې او هغه مخلوقات چې د دغو دواړو ترمنځ شتون لريَ عبث نه دي پیدا کړي، مونږ خو لوبې کوونکي نه یاستو چې دنیا په پای کښې د حساباتو تصفیه ونه لري او فقط په مرګ سره اختتام مونده کړي.

بلکې مونږ اسمانونه او ځمکې نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره چې زښت ډېر حکمتونه پکښې نغښتې دي. مګر د خلکو اکثریت نه پوهېږي او د ټولې دنیا پیدایښت ته د عبثیاتو او لوبو په نظر

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



گوري او وايي چې نه بيا ژوندون شته او نه حساب كتاب.

۴_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه د مشرکانو اعتراض رد کړه او ووايه چې: د ټولو خلکو د بیا ژوندي کېدلو ټاکلی وخت د فیصلې ورځ ټاکلې شوې ده چې هرڅوک به د خپلو کړو وړو د محاسبې سره مخامخ شي، که بالفرض د بعث بعد الموت دپاره د دنیاوي ورځو څخه کومه ورځ ښودلې شوې وی نو بیا به د هغوی اعتراض په خای وی چې زمونږ پخواني پلرونه راژوندي کړئ.

دغه د بیا ژوندون دپاره ټاکلې ورځ د قیامت ورځ ده او د لاندې صفاتو درلودونکې ده:

الف: په دې ورځ کښې هیڅ یو دوست د بل دوست څخه د څه عذاب مخنیوی نه شي کولی او نه یې شفاعت کولی شي.

ب: هلته هیڅوک د بل چا سره نصرت او کومک نه شي کولی مګر هله چې الله ﷻ ورباندې رحم وکړي، چې یا یې شفاعت په برخه کړي او یا یې څه کومک په نصیب کړي. او دا څکه چې: یقیناً الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکي دي هیڅوک ورباندې زور نه شي اچولی، او هم ډېر مهربان دی ایماندارانو عاصیانو ته د شفاعت د قبول چانس او شفاعتګرو ته یې د شفاعت کولو اجازه ورکوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکاتو ته توجه په کار ده:

الف: که څوک وايي چې په ﴿ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ ﴾ کښې د "هِيَ" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې د دغه ضمیر په مرجع کښې لاندې دوه احتماله شتون درلودلی شي[1]:

اول: چې دا ضمیر د "عَاقِبَة" کلمې ته راجع شي کومه چې وړاندې په صراحت سره ذکره نه ده بلکې حُکماً ذکره ده چې بحث په همدغه عاقبت کښې راروان دي. یعنې کفار وايي چې: زمونږ د ژوند عاقبت او انجام همدغه اولنی مرګ دی او بیا ژوندون نشته.

دوهم: چې دا ضمیر په ﴿ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ ﴾ کښې د "مَوْتَة" کلمې ته راجع شي، کومه چې وروسته ذکره ده، دلته که څه هم اضمار قبل الذکر راځي خو نحویان یې په دغسې موارادو کښې جائز ګڼي لکه چې د الله ﷻ په توفیق د [المؤمن:۳۷] ایت لاندې ورباندې څه رڼا اچولې شوې ده.

ب: که څوک وايي چې مرګ خو د ټولو په اتفاق همدغه یو مرګ دی چې هر ساکښ یې ضرور څکونکی دی، نو په څه لحاظ همدغه مرګ ته د اولني مرګ لقب ورکړی شو، ایا دوهم مرګ شته؟

مونږ وايو چې:

اول: د "أول" یا "أولى" کلمه په عربي کلام کښې په دوه ډوله استعمالیږي[2]:

یو دا چې په مقابل کښې یې دوهم وي لکه چې په سوال کښې ورته اشاره شوې ده، او بل دا چې په مقابل کښې یې دوهم موجودیت ونه لري لکه چې وايي: "فُلَانٌ حَجَّ أَوَّلَ حَجِّ ثُمَّ مَاتَ" یعنې

[1] روح المعاني ج۲۵ ص۱۲۶؛ البحر المحيط ج۹ ص۴۰۵

[2] تفسير ابي السعود ج۸ ص۶۳؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فلانکي سړي حج اداء کړ اولنی حج، او بیا مړ شو.

نو په ایت شریف کښې د ﴿ ٱلْأُولَىٰ ﴾ کلمې څخه دوهم استعمال مراد دی.

دوهم: دلته د مرګ څخه هغه حالت مطلب دی په کوم کښې چې د ژوند خاوند نه وي موجود شوی، الله ﷻ فرمايي: ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَـٰكُمْ ﴾ [البقرة:۲۸] یعنې ای کفارو! تاسو څنګه په الله ﷻ سره کفر اختیاروئ حال دا چې تاسو مړه وئ (روح درکښې موجودیت نه درلوذ) نو الله ﷻ تاسو ژوندي کړئ او روح یې درکښې پو کړ.

د دې جواب په ملحوظ به یې حاصل داسې راوځېږي چې: زمونږ مرګ نه دی مګر اولنی مرګ دی چې په تعقیب یې ژوندون صورت نیسي، اما زمونږ د دغه دوهم مرګ په تعقیب ژوندون صورت نه نیسي چې مونږ د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شو.

## تبصره

۲ـ مونږ ته اول استعمال بهتر برېښي څکه چې په راتلونکي [الدخان:۵٦] ایت کښې ذکره شوې کلمه په اتفاق سره په هغه مرګ کښې استعماله شوې ده په کوم باندې چې دنیاوي ژوند ختمېږي.

په همدې مطلب باندې د ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴾ تعقیب هم دلالت کوي، یعنې حال دا چې مونږ بیا ژوندي کړی شوي او د حشر په میدان کښې خواره واره کړی شوي نه یاستو.

## تُبع څوک وه؟

۳ـ په ﴿ أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ﴾ کښې د ﴿ تُبَّعٍ ﴾ د کلمې په هکله مفسرينو کرامو ډېر څه ليکلي دي[۱]، که د چا اوږدو بحثونو او قيصو ته زړه نه په تنګېږي نو همهلته دې مراجعه وکړي، مونږ په همدې اړه د څه لنډو معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو[۲] چې تفسير ورسره زيات تړاو لري:

الف: د ﴿ تُبَّعٍ ﴾ کلمه د يَمن د هر يوه پاچا لقب دی[۳] لکه چې د فارس هر يو پاچا د کسرى په لقب يادېږي او داسې نور.

ب: خو په دې مقام کښې د يَمن د پاچاهانو څخه هغه پاچا ته اشاره ده کوم چې د عيسى ﷺ څخه پخوا تېر شوی دی او په موسى ﷺ باندې يې تر څه وخته پورې ايمان نه وه راوړی خو څه وخت وروسته يې ورباندې ايمان راوړ، او د ده په ذريعه يې قوم او پيروانو هم ايمان قبول کړ.

د همدې کبله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا تَسُبُّوا تُبَّعًا فَإِنَّهُ قَدْ كَانَ أَسْلَمَ»[۴] یعنې تاسو تُبع ته کنځل مه کوئ څکه چې يقيناً نوموړی مسلمان شوی وه (او د موسى ﷺ دين يې قبول کړی وه).

ج: خو کله چې نوموړی وفات شو ـرحمه اللهـ نو د څه وخت څخه وروسته يې قوم بېرته کفر ته

(۱) تفسير القرطبي ج۱٦ ص۱۴۵؛ تفسير البغوي ج۴ ص۱۵۲
(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۴۲
(۳) التفسير الکبير ج۲۷ ص۳۴۹؛ صحيح البخاري ج۲ ص۷۱۴
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واووښت او د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري يې پيل کړه.

د: په نتيجه کښې ورباندې الله ﷻ ډېر ورخوشې کړ چې ځينې پکښې هلاک شوه او متباقي خلک د دنيا په ښارونو کښې تيت پرک او خواره واره وګرځېدل. د همدغې قيصې څه بيان ته په [سبا: ۱۵_ ۲۱] ايتونو کښې اشاره شوې ده.

هـ: د قريشو توجه ځکه د تُبع قوم ته ورواړوله شوه چې په دوی کښې يې شهرت درلود او هغوی هم د دوی غونډې عربان وه، نو دوی وډارولی شوه چې د نعمتونو ناشکري مه کوئ او توحيد ته راجع شئ هسې نه چې د تُبع د قوم غونډې عذاب درباندې نازل کړی شي، تاسو خو په هغوی باندې څه بهتري او افضليت نه لرئ، ايا تاسو د هغوی څخه په مال او ثروت کښې زيات ياست؟

﴿إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَٱلْمُهْلِ يَغْلِى فِى ٱلْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْىِ
ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوا۟ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ عَذَابِ
ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّ
ٱلْمُتَّقِينَ فِى مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ
مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ
ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ ۖ وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ
ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾﴾

[۴۳] يقيناً د زقوم ونه (ميوه يې) چې ده.

[۴۴] د ډېر غټ ګنهګار (کافر) خوراک دی.

[۴۵] د تيلو د خيرې غونډې ده، چې د کفارو په ګېډو کښې به خوټېږي.

[۴۶] لکه د ډېرو ګرمو اُوبو خوټېدل.

[۴۷] (خازنانو ته به وويلی شي چې): دا غټ کافر ونيسئ نو د دوزخ برابر (منځ) ته يې ورټېلوهئ.

[۴۸] بيا يې د سر د پاسه د ډېرو ګرمو اوبو عذاب ورتوی کړئ (ورواړوئ).

[۴۹] (او تخجيلاً ورته وواياست چې دا) عذاب وڅکه، يقيناً ته (په خپل ګومان په دنيا کښې) عزتمند (او) باکرامته وې.

[۵۰] يقيناً دا هغه عذاب دی کوم چې تاسو (په دنيا کښې) وئ چې شک به مو پکښې کاوه.

[۵۱] يقيناً (په دغې ورځ کښې) متقيان (د ټولو مکروهاتو څخه) په امن ځای کښې دي.

[۵۲] په باغونو او چينو کښې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۳] د نازکو او پیړو ورېښمنو څخه به په داسې حال کښې اغوندي چې یو به بل ته مخامخ کېناستونکي وي (دوی به مینه او محبت کوونکي وي).

[۵۴] دغه ډول (به نور نعمتونه هم ورکړو) او هم به ورسره تورسترګې غټ سترګې ښځې جوړه (او ملګرې) کړو.

[۵۵] جنتیان به په جنت کښې هر ډول میوجات په داسې حال کښې راغواړي چې (د کمبود او نشتوالي څخه به یې) آمن درلودونکي (بې غمه) وي.

[۵۶] جنتیان په جنت کښې (د ابد دپاره) مرګ نه څکي، مګر وړاندې مرګ (چې پخوا یې په دنیا کښې څکلي وه)، او الله ﷻ به یې د دوزخ د عذابه (په دائمي توګه) وساتي.

[۵۷] (دا ټولو نعمتونه به جنتیانو ته) ستا د رب ﷻ د فضل د کبله (ورکړی شي).

(ای پیغمبره!) دغه (چې ذکر شو) همدا ډېر لوی بری دی.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قیامت ورځې ته د یوم الفصل لقب ورکړی شوی وه، په دې ایتونو کښې همدغه لقب ښه پوره واضحه شوی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه نور حالات هم قرائت کړه هغه دا:

۱ـ کله چې په دغې ورځ کښې ټولې قضایا حل او فصل کړی شي نو ټول خلک به په دوه وو غټو ګروپونو ووېشلی شي چې یو به د متقیانو ګروپ وي او بل به د غیر متقیانو کفارو ګروپ وي، چې د دواړو ګروپونو حالات به په لاندې ډول سره صورت ونیسي:

۲ـ غیر متقیان (کفار) به د سختو عذابونو او مشکلاتو سره مخامخ شي. د مثال په توګه:

الف: د هغوی خوراک به هلته د یوې ډېرې ترخې ونې مېوه وي کومه چې د دوزخ په منځکښې زرغونه شوې ده او ښاخونه یې په ټولو دوزخونو کښې خواره واره دي، دغه مېوه زقوم نومېږي.

ب: د زقوم لُعاب او زېښېلې شوې اوبه به داسې خیرنې او ختینې وي لکه د تېلو خیرې او ختې کومې چې د تېلو د لوښې په آخر کښې پاتې کېږي.

ج: دغه د زقوم زېښېلې شوې اوبه به د کفارو په ګېډو کښې داسې خوټېږي لکه چې په یوه دیګ کښې اوبه خوټېږي د کوم لاندې چې تېز اور بلېږي.

د: اور ته د وراچولو په وخت کښې به د الله ﷻ د پلوه موظفو پرښتو ته امر وکړی شي چې: دغه کافر ونیسئ او سر یې د پښو سره پیوسته کړئ نو بیا یې د دوزخ منځ ته ورټېل وهئ او پکښې ورګوزار یې کړئ.

هـ: بیا ورته په سر باندې دوزخي خوټېدونکې اوبه وروړوئ او د دغو خوټېدونکو اوبو په عذاب یې معذب کړئ.

و. په عین حال کښې ورته د استهزاء او تخجیل په غرض ووایاست چې: دغه عذاب وڅکه!، یقینًا همدا ته معزز او د کرامت څښتن یې، چې په دنیا کښې دې خپل خان ته همدغه لقبونه خوښ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وه، ایا نن ورځ ته همدغه لقبونه لري؟.

ز: دا هم ورته ووایاست چې: دغه عذابونه هغه دي د کومو په هکله به چې تاسو په دنیا کښې شکونه کول او عقیده به مو وربانديې نه خپلوله، ایا اوس باوري شوئ؟.

۳ـ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به بالمقابل متقیان او مؤمنان په زښتو ډېرو نعمتونو کښې ژوند کوي او په ډېرې خوشالۍ سره به پکښې ګرځي راګرځي. مثلاً:

الف: یقیناً متقیان (پرهېزګاران) به په داسې ځایونو کښې استوګن وي چې هیڅ خطر به ورته متوجه نه وي او په دائمي توګه به په امان کښې وي.

ب: هغوی به د رنګارنګ میوجاتو په باغونو کښې اوسېږي چې په شاوخوا به یې چینې بهېږي، لکه د اوبو، شودو، شاتو او شرابو چینې.

ج: هغوی به د ډول-ډول ورېښمنو څخه لباسونه اغوندي چې ځینې به د نریو ورېښمو او ځینې نور به د غټو ورېښمو څخه جوړ وي، او په عین حال کښې به یو تربله مخامخ ناسته ولاړه کوي او یو به بل ته شا نه وراړوي چې په خفګان او ناراضیتوب باندې یې دلالت وکړي. یا په بل عبارت: د جنتیانو ترمنځ به زړه بداوی شتون ونه لري.

د: همدارنګه به مونږ جنتیانو ته زښت ډېر نعمتونه نور هم ورکړو چې په دنیا کښې د هیچا په زړه کښې لا هم نه دي تېر شوي.

ه: هلته به مونږ د جنتیانو سره داسې ښځې جوړه کړو کومې چې غټې سترګې ولري او په عین حال کښې به یې د سترګو تور ډېر زیات تور وي او هم به یې د سترګو سپین تک سپین وي. یا په بل عبارت: ښې ډولې سترګې به ولري.

و: هغوی به په جنت کښې د هر ډول میوجاتو غوښتنې کوي چې سمدستي به ورته ورکولی کېږي، خو په عین حال کښې به هغوی د میوجاتو د عدم موجودیت څخه په امن کښې وي، چې نوموړي میوجات د دنیا د میوجاتو غوندې موسمي نه دي چې کله وي او کله نه وي.

ز: جنتیان به په جنت کښې همېشه ژوندي وي چې نه به وربانديې خوب ورځي او نه به مرګ وڅکي مګر کوم وړاندېنی مرګ چې هغوی څکلی دی د هغه په غیر به بل مرګ ونه څکي.

ح: ای پیغمبره! نور نعمتونه خو لا پرېږده چې د جنتیانو همدا نعمت هم ډېر لوی نعمت دی چې ستا رب ﷻ په خپل فضل سره دوی د دوزخ د اوره وژغورل.

ط: ای پیغمبره! دغه چې ده همدا ډېره لویه کامیابي ده چې الله ﷻ د یو پلوه هغوی د دوزخ څخه بچ وساتل او د بله پلوه یې بې شماره او دائمي نعمتونه ورکړه.

## توضیحات

۱ـ د دې مقام ځینې کلمات د احادیثو په رڼا کښې او یا د لغوي تحلیل په لحاظ وړاندې واضحه شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې په بیا واضحه کولو سره یې کتاب نه شو اوږدولی. هغه دا دي:

الف: په ﴿ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴾ کښې د "زَقوم" کلمه د [الصافات: ۶۲] ایت لاندې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ كَٱلْمُهْلِ ﴾ کښې د "مُهْل" کلمه د [الكهف:٢٩] ایت لاندې.

ج: په ﴿ كَغَلْيِ ٱلْحَمِيمِ ﴾ کښې د "حَمِيم" کلمه د [الحج: ٢٠] ایت لاندې.

د: په ﴿ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ ﴾ کښې د "سُندُس، إِسْتَبْرَق" دواړه کلمې د [الكهف:٣١] ایت لاندې.

ه: په ﴿ بِحُورٍ عِينٍ ﴾ کښې د "عِين" کلمه د [الصافات:٤٨] ایت لاندې.

## أثیم څه معنی؟

٢_ که څه هم په ﴿ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴾ کښې د "أثِيم" د کلمې معنی څرګنده ده چې ګنهګار او جنایتکار دی، خو په دې مقام کښې ورځخه غټ جنایتکار مطلب دی چې د کافر څخه عبارت دی، او مؤمن جنایتکار ته شمولیت نه لري ځکه چې وړاندې ببرته بحث په کفارو کښې چلېږي[1].

## د "عتل" معنی

٣_ په ﴿ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ ﴾ کښې د "اعْتِلُوا" کلمه د "عَتَل" _لکه "ضَرَب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "عَتَل" دوه معناوې لري: یوه په غضب او قهر سره خپل خان ته راکشول او بله په قهر سره تېلوهل[2].

په دې مقام کښې دوهمه معنی غوره برېښي[3] چې د ﴿ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴾ تعقیب ورباندې دلالت کوي. یعنې ویې نیسئ او د دوزخ منځ ته یې په قهر او غضب سره ورتېلوهئ.

## یو نحوي تحلیل

٤_ د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ په هکله مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[4]، مونږ ته دا بهتره برېښي چې دلته به فعلیه جمله مقدره وي په کومې باندې چې د ﴿ وَزَوَّجْنَٰهُم ﴾ جمله عطفه ده، نو څه لرې نه ده چې مونږ ترې داسې تعبیر وکړو چې: "كَذَٰلِكَ نُعْطِيهِمْ نعما أخرى" یعنې مونږ به جنتیانو ته په دغه ډول سره نور نعمتونه هم ورکړو چې په دنیا کښې ورباندې د چا ذهن احاطه نه شي کولی او حورې به هم ورسره جوړه کړو.

## د "حُور" او د "عِين" تحلیلونه

٥_ په ﴿ بِحُورٍ عِينٍ ﴾ کښې د "حُور" کلمه د "حَوراء" جمعه ده، "حَوراء" هغې ښځې ته وایې چې د سترګو تور یې تک تور وي او د سترګو سپین یې تک سپین وي[5]، یا هغې ښځې ته د کومې چې د سترګو تور په سپینو باندې زیات وي[6] لکه د اوسۍ سترګې.

---

(١) روح المعاني ج٢٥ ص١٣٢
(٢) لسان العرب ج١١ ص٤٢٣
(٣) تفسير الطبري ج٢٥ ص١٣٣
(٤) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص٣٣٤
(٥) تفسير البغوي ج٤ ص١٥٥
(٦) مفردات الراغب ص١٣٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د "بين" کلمه د الله ﷻ په توفيق د [الصافات:۴۸] ايت لاندې تحليله شوې ده چې د غټې سترګو ښځو لقب دی، نو هملته دې مراجعه وکړی شي.

## څو تکي

۶_ په ﴿لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ﴾ کښې لاندې تکو ته توجه په کار ده:

الف: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو جائزه ګڼلې ده چې دغه د "إلا" توری د متصلې استثناء دپاره شي[1]، او ځينو پکښې نور احتمالات جائز ګڼلي دي[2]، مګر مونږ بهتره او متبادره برښېږي چې ذکر شوی توری دلته د منقطعې استثناء دپاره دی[3].

ب: دا د يو پلوه، او د بله پلوه دلته د ﴿ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ﴾ څخه بالاتفاق همغه مرګ مراد دی په کوم باندې چې دنياوي ژوند اختتام پيدا کوي.

يعنې جنتيان به په جنت کښې مرګ نه څکي (مرګ به وربانديې نه ورځي)، مګر همغه مرګ به يې څکلی وي کوم چې پخوا تېر شوی دی او په دنيا کښې يې وربانديې ژوند ختم شوی دی.

ج: همدا موضوع د الله ﷻ په توفيق د [مريم:۳۹] ايت لاندې د يوه حديث په رڼا کښې ډېره ښه شرحه شوې ده، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي. او په دې باندې علاوه د [الأعراف:۴۳] ايت لاندې هم په همدې ارتباط يوه حديث ته اشاره شوې ده چې يو ځل کتل يې بې ګټې نه دي.

﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَٱرْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾﴾

[۵۸] نو يقيناً دا کتاب مونږ ستا په ژبه آسان کړی دی (او په عربي ژبه مو څکه نازل کړی دی چې) شايد خلک (ترې) پند واخلي (او عقيده وربانديې وکړي، چې لومړني مخاطبين يې عرب دي).

[۵۹] (که د دې سره-سره خلک وربانديې ايمان نه راوړي) نو ته منتظر اوسه يقيناً کفار هم منتظر دی (وروسته به څرګنده شي چې د چا بری په برخه کېږي او څوک ناکامېږي).

## يوه توضيح

د سورت په پای کښې همغه مطلب خلاصه شوی دی په کوم باندې چې سورت پيل شوی وه، همغه دا چې دا قرآن کريم معجز او برکتناک کتاب دی.

د "الدخان" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

د الله ﷻ څخه لا زيات توفيق غواړو.

۱۴۲۳/۹/۷ هـ ق - ۱۳۸۱/۸/۲۰ هـ ش.

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۲۸۳؛ روح المعاني ج۲۵ ص۱۳۶

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۳۳۶

(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

# الجاثية (٤٥)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

١ـ دا سورت دوه نومونه لري[١]، یو "الجَاثِيَة" دی چې د [٢٨] ایت څخه اخستل شوی دی، او بل "الشَّرِيْعَة" دی چې د همدې سورت په [١٨] ایت کښې نازل شوی دی.

٢ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی:

الف: د ایتونو شمېر یې اوه دېرش (٣٧) ایته دی[٢].

ب: د کلماتو شمېر یې څلور سوه او اته اتیا (٤٨٨) کلمو ته رسېږي[٣].

ج: او د حرفونو ټول شمېر یې دوه زره یو سلو یو نوي (٢١٩١) حرفونو ته پورته شوی دی[٤].

٣ـ دا سورت مکي سورت دی او ټول ایتونه یې د هجرت څخه پخوا نازل شوی دی[٥].

٤ـ د دې سورت محتویات هم د نورو مکي سورتونو غوندې د عمومیت په توګه په عقیدوي احکامو باندې څرخېږي، لکه د الله ﷻ د توحید دلایل، د قیامت د قیام ضرورت، د کفارو او دهریانو د اعتراضاتو مخنیوی او داسې نور.

٥ـ د دې سورت (الجَاثِيَة) او وړاندېني سورت (الدُّخَان) تناسب ډېر واضحه دی، چې دواړه مکي سورتونه دي او په محتویاتو کښې متشابه دي او په دې باندې علاوه دواړه د ﴿ حمٓ ﴾ په کلمه باندې پیل شوي دي.

حتی ځینې مفسرین کرام وایي[٦] چې دا سورت په نزول کښې هم د هغه سورت په تعقیب نازل شوی دی، لکه څنګه چې په عثماني مصحف کښې د هغه په تعقیب لیکلی شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۝٣ وَفِي خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ۝٤ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۝٥ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤْمِنُونَ ۝٦ ﴾

---

(١) تفسير القاسمي ج١٤ ص٣٨٥
(٢) تفسير القرطبي ج١٦ ص١٥٦
(٣) تفسير الخازن ج٥ ص٤٥٩
(٤) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص٣٣٩
(٥) المحرر الوجيز ج١٤ ص٣٠٣
(٦) تفسير البغوي ج٤ ص١٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] د دې کتاب (قرآن کریم) نازلول د کلکې ارادې درلودونکي (او) د حکمت څښتن الله ﷻ د پلوه دی.

[۳] يقينًا په اسمانونو او ځمکو کښې د مؤمنانو دپاره هرو مرو (د توحيد زښت ډېر) دلايل (نغښتي) دي (چې همدوی ترې ګټه اوچتوي).

[۴] او (ای بنيادمانو!) ستاسو په پيداکولو او په هغه شي کښې کوم چې الله ﷻ (په ځمکه کښې) خواره واره کړي دي چې د خوځېدونکو (ساکښانو) څخه عبارت دی، د داسې قوم دپاره زښت ډېر دلايل (پټ) دي کوم چې يقين کوي (او يقين حاصلولو پسې تاند وهي).

[۵] او (يقينًا) د شپې او ورځې په اختلاف کښې او په هغه شي کښې کوم چې الله ﷻ يې د اسمان د طرفه رانښکته کوي چې د رزق (باران) څخه عبارت دی، نو ځمکه وروباندې د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته ژوندۍ کوي (شنه کوي)، او (هم) د بادونو په چلولو کښې د داسې قوم دپاره (د قدرت) ښه پرېمانه دلايل موجوديت لري کوم چې د عقل څخه (په سمه توګه) کار اخلي.

[۶] (ای پيغمبره!) دغه د الله ﷻ دلايل دي چې مونږ يې په تاباندې په حقه سره تلاوت کوو (او هيڅ شک شبه پکښې نشته. کله چې خلک په دغو الهي دلايلو باندې ايمان نه راوړي) نو د الله ﷻ (د بيان) او د ده ﷻ د دلايلو څخه وروسته به دوی په کومه خبره (او دليل) ايمان راوړي؟ (ايا د دغو دلايلو څخه زيات پاخه دلايل هم چرته موندل کېږي؟).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنی سورت (الدُّخَان) د قرآن کريم اعجاز او د کفارو تهديد ته په اشارې سره ختم شوی وه، او دا سورت (الْجَاثِيَة) د قرآن کريم په اعجاز او د توحيد په دلايلو پيل شوی دی او په تعقيب يې د کفارو تهديد نازل شوی دی، چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ دا قرآن کريم لکه څنګه چې ستا په مبارکه ژبه د اعجاز په توګه اسان کړی شوی دی همدارنګه يو بل اعجاز يې دا دی چې دا د عادي تورو څخه جوړ دی، لکه "ح، م" او داسې نور، خو د دې سره-سره ټول مخلوق يې د مقابلې څخه ناتوانه دی.

که بالفرض المحال دا قرآن کريم د الله ﷻ د پلوه نه وی نازل شوی نو يوه سيالي لا څه چې ډېرو سياليو به ورسره صورت نيولی وی، او دا ځکه چې عادي توري د خلکو په واک دي او روزمره ترې خپلو کلامونو ته ترکيب ورکوي.

۲ـ نو په همدې بنياد دا حقيقت او واقعيت دی چې د دې کتاب نزول د الله ﷻ د پلوه صورت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نیولی دی چې د کلکې ارادې خاوند دی او هیڅوک یې د ادارې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، او هم د حکمت څښتن دی چې ټول کارونه یې په همدغه بنیاد باندې ولاړ دي.

۳ـ ای پیغمبره! د دې کتاب په نازلولو کښې یو حکمت دا دی چې دا کتاب معنوي او روحي غذا ده، نو الله ﷻ لکه څنګه چې د خلکو دپاره د مادي غذا بندوبس کړی دی او مادي ضروریات یې ورپوره کړي دي، همدارنګه یې د دوی معنوي غذا او روحي ضروریات هم د نظره نه دي غورزولي، نو په همدې بنیاد څرګنده ده چې په لاندې کارونو کښې د عبرت لوی درسونه او د توحید پاخه دلایل نغښتي دي:

الف: د اسمانونو او ځمکو په پیدایښت کښې د مؤمنانو او یقین کوونکو دپاره زښت ډېر دلایل پراته دي، چې څومره په عجیبه توګه پیدا کړی شوي دي او څومره په عجیبه توګه د یوه کامل نظام لاندې چلېږي. که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو دغه نظام به باقي نه وی پاتې شوی.

ب: ای بنیادمانو! تاسو ته په خپل پیدایښت کښې هم د توحید ډېر دلایل نغښتي دي چې د نطفې څخه یې په متعددو مراحلو سره د کهولت دورې ته ورسولئ او ډول-ډول حالات یې درباندې یو د بل پسې جاري وساتل.

ج: همدارنګه په هغو ساکښانو کښې هم د توحید ډېر دلایل پټ دي کوم چې الله ﷻ په ځمکه کښې خواره واره ګرځولي دي او د ټولو اړتیاوې یې پوره کړي دي، البته د داسې قوم دپاره چې عناد نه وي نیولی او د یقین حاصلولو پسې تاند وهي.

د: د شپې او ورځې په بدلون رابدلون کښې هم ګڼ شمېر دلایل شتون لري چې کله لنډېږي او کله اوږدېږي او هم کله د ځمکې مخ په تیاره کښې پټ شي او کله د ورځې په رڼا باندې روښانه شي.

ه: په هغه شي کښې هم دلایل موجودیت لري کوم چې الله ﷻ د اسمان څخه نازل کړي دي چې د اوبو څخه عبارت دي چې د یو پلوه پخپله همدغه اوبه روزي ده او څښلی کېږي او د بله پلوه الله ﷻ په دغو اوبو سره وچه کلکه ځمکه راژوندۍ کوي او رنګارنګ حبوبات او میوجات پکښې راټوکوي.

و: بالآخره د بادونو په چلولو کښې هم د داسې قوم دپاره زښت ډېر دلایل موجود دي کوم چې د عقل څخه کار اخلي او د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې تفکر کوي.

۴ـ ای پیغمبره! دغه دلایل بل څوک نه بلکې موږ یې په تاباندې په حقه لولو چې ټول د واقع سره برابر دي او هیڅ تخلف او د واقع څخه مخالفت پکښې صورت نه شي نیولی او سراسري رښتیا دي. نو که څوک د الله ﷻ په بیان او د ده ﷻ په دلایلو باندې باور او یقین نه کوي، هغه کوم بیان او کومه خبره ده چې دوی به ورباندې باور وکړي؟ یا په بل عبارت: د الله ﷻ د بیان څخه وروسته کوم بیان دی او د چا د پلوه دی چې خلک ورباندې باور وکړي او د ایمان راوړلو ذریعه یې وګرځي؟

## توضیحات

۱ـ د ﴿إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ څخه نیولې تر ﴿لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ﴾ پورې ایتونو مضمون ته ورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مضمون په [البقرة: ۱۶۴] ایت کښې تېر شوی دی او مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق هلته څه تحقیق لیکلی دی چې په بیا لیکلو باندې یې کتاب نه شو اوږدولی.

## رزق څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ ﴾ کښې د "رزق" کلمه اصلاً د هغه شي دپاره وضعه شوې ده په کوم باندې چې نفعه او ګټه اخستله کېږي(۱)، خو په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په باران سره تفسیره کړې ده(۲).

شاید چې د دې تفسیر وجه به دا وي چې د باران (د اوبو) نفعه عامه ده چې په څښلو باندې علاوه د خمکې ټول حبوبات، نباتات، میوجات او داسې نور شیان د باران په ذریعه وده او نمو کوي، چې د انسانانو او نورو ساکښانو ارتیاوې ورباندې پوره کېږي، او هم د الله ﷻ په وحدانیت باندې په څرګندو دلایلو سره ښودانه کوي.

﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٧﴾ يَسْمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٨﴾ وَإِذَا عَلِمَ مِنْ ءَايَٰتِنَا شَيْـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩﴾ مِّن وَرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يُغْنِى عَنْهُم مَّا كَسَبُوا۟ شَيْـًٔا وَلَا مَا ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدًى ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴿١١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَكُمُ ٱلْبَحْرَ لِتَجْرِىَ ٱلْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ ﴾

[۷] هلاک (او افسوس) هر غټ دروغژن غټ ګنهکار ته دی (چې:)

[۸] د الله ﷻ ایتونه اوري بیا (په خپل کفر باندې) په داسې حال کلک درېدونکی وي لکه چې د الله ﷻ ایتونه یې هیڅ اورېدلي نه وي.

نو (ای پیغمبره!) نوموړي (دروغژن) ته په دردناک عذاب سره زېری ورکړه.

[۹] او کله چې نوموړی (د خپل کوم ملګري په سبب) زمونږ د ایتونو څخه په لږ څه شي باندې پوه شي نو سمدستي یې په ملنډو (او اعتراضونو) سره نیسي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۱۵؛ القاموس المحیط ج۲ ص۳۳۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۴۷؛ تفسیر الطبري ج۲۵ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي کسان چې دي دوی لره سپکوونکی عذاب (د الله ﷻ په نزد تاکلی شوی) دی.

[۱۰] وړاندې یې (د قیامت په ورځ) دوزخ دی، او د دوی څخه به (په دغې ورځ کښې) هغه مالونه (او عذاب) هم دفعه نه کړی شي کوم چې دوی (په دنیا کښې) کسب کړي دي، او نه هغه دوستان کوم چې دوی بدون د الله ﷻ دوستان (او معبودان) نیولي دي.

او د همدوی دپاره ډېر لوی عذاب دی (چې یوازې الله ﷻ وړباندې پوهېږي او بس).

[۱۱] دا (قرآن کریم) سراسري هدایت دی، او هغه کسان چې د خپل رب ﷻ په ایتونو سره یې کفر نوره کړی دی د همدوی دپاره دردناک عذاب دی چې د لړزوونکي (مصیبت) څخه عبارت دی.

[۱۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې د دې دپاره دریاب مسخر کړی دی چې د هغه ﷻ په امر سره پکښې بېړۍ وچلېږي، او (هم) د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ د فضل څخه (په تجارتونو سره) څه طلب کوئ. او شاید چې تاسو (د الله ﷻ د نعمتونو) شکرګزاري وکړئ.

[۱۳] او الله ﷻ ستاسو دپاره هغه شیان مسخر ګرځولي دي کوم چې په اسمانونو کښې دي (چې تاسو په کټه ځرځېږي) او هغه شیان هم کوم چې په ځمکه کښې دي، (دا) ټول یوازې د الله ﷻ د پلوه مسخر ګرځولي شوي دي (او بس چې بل څوک ورسره پکښې اشتراک نه دی کړی).

یقیناً په دغه (تسخیر) کښې د داسې قوم دپاره (د قدرت ډېرې غټې) نښې (نغښتې) دي کوم چې د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې) فکر کوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحید څه قرآني دلایل بیان شوي وه، او په دې ایتونو کښې د یو بلوه د کفارو عکس العمل ته اشاره شوې ده او د بله پلوه پکښې د کفارو دپاره وعید او تهدید نازل شوی دی. په دې باندې علاوه د څه کونیه دلایلو بیان هم پکښې نزول موندلی دی، چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د قرآني دلایلو څخه وروسته اوس په خپل اُمت باندې دغه مطالب قرائت کړه:

۱ـ د قرآني دلایلو څخه انکار نه کوي مګر هغه کسان چې لاندې خاصیتونه ولري:

الف: چې ډېر دروغژن وي او حقایق سرچپه اړوي آن تردې، چې د الله ﷻ سره په شریک باندې معتقد وي.

ب: چې ډېر غټ ګنهګار او جنایت کار وي چې کفر وړباندې احاطه کړې وي، نو دغسې کسانو ته افسوس دی او هم ورته د دوزخ کنده تاکلې شوې ده.

ج: چې روزمره د الله ﷻ ایتونه اوري چې وړباندې لوستل کېږي خو د دې سره‌سره په خپل انکار باندې اصرار کوي او خپلې بې باورۍ او تکبر ته ادامه ورکوي، ته به وایې چې ذکر شوي ایتونه یې بالکل نه دي اورېدلي او هیڅ وړباندې نه دی پوه شوی.

نو ای پیغمبره! دغسې خلکو ته په دردناک عذاب سره زېری او خبر ورکړه چې څه وخت وروسته به وړباندې ورنازل کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: چې پخپله په قرآني ايتونو باندې خان ګول اچوي او يا يې اورېدلو ته شا وراړوي خو ګله چې ورباندې د بل چا د پلوه پوه شي او کوم کفري ملګرى يې ورته ورسوي چې دا سرى (محمد ﷺ) دغسې دلايل وايي، نو سمدستي د ملنډو او مسخرو لاره نيسي او د جادو نوم ورباندې ږدي او يا ورڅخه اعراض کوي.

۲_ اى پيغمبره! د دغو خلکو په هکله لاندې تهديدات اعلان کړه:

الف: دغو کسانو ته چې ډېر غټ دروغژنان او ملنډې وهونکي دي د قيامت د ورځې څخه مخکښې د الله ﷻ په نزد سپکوونکى عذاب ټاکلى شوى دى چې تکبر به يې ورمات کړي.

ب: د همدغو کسانو په وړاندې د قيامت په ورځ دوزخ ټاکلى شوى دى چې هلته به پکښې په دوامداره توګه تعذيبېږي.

ج: د دغو کسانو څخه به د دوى هغه مالونه چې دوى کسب کړي دي، د عذاب د هيڅ برخې مخه وانه ړوي چې په فديه سره يې ترې بچ کړي، او نه به هلته دغه ګټلي مالونه ورسره شتون ولري.

د: د دغو کسانو څخه به د دوى هغه معبودان هم څه د عذاب مخنيوى ونه کړى شي چې دوى د الله ﷻ څخه په غير د دوستانو په حيث نيولي وه چې شفاعت ورته وکړي او د عذاب څخه نجات ورکړي.

ه: بالآخره، د دغو کسانو دپاره ډېر لوى عذاب دى چې په دنيا کښې يې بندګان پوره نه شي اټکل کولى چې څومره لوى دى.

۳_ اى پيغمبره! دا قرآن کريم سراسري هدايت او لاربنودانه ده، خلکو ته په کار دي چې د هدايت استفاده ترې وکړي او په دنيا او آخرت کښې ترې ګټه پورته کړي.

هو! کوم کسان چې د قرآن کريم په ايتونو باندې کفر غوره کوي او د خپل رب ﷻ د دلايلو څخه انکاري ګرځي، نو همدغو کسانو ته د الله ﷻ په نزد ډېر دروند عذاب ټاکلى شوى دى چې په عين حال کښې دردناک او اضطراب ورکوونکى دى.

۴_ اى پيغمبره! په خلکو باندې د قرآن کريم د دلايلو څخه علاوه لاندې کونيه دلايل هم قرائت کړه:

الف: الله ﷻ هغه واحد او لا شريک اقدس ذات دى چې ستاسو دپاره يې دريابونه داسې مسخر کړي دي چې د الله ﷻ په امر سره پکښې ستاسو دپاره درنې بېړۍ ګرځي راګرځي او د يوې خوا څخه يې بلې خوا ته خې راخي، او هم د دې دپاره چې تاسو د دغو بېړيو څخه استفاده وکړئ او د الله ﷻ فضل ولټوئ او حلال مالونه کسب کړئ (تجارت وکړئ)، او په دې باندې علاوه شايد چې تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکريه وکړئ او په شريک ورته معتقد جوړ نه شئ.

ب: همدارنګه الله ﷻ ستاسو د ګټې دپاره هغه مخلوقات مسخر کړي دي کوم چې په اسمانونو کښې موجود دي او کوم چې په ځمکو کښې شتون لري. دغو ټولو مخلوقاتو يوازې د الله ﷻ د پلوه موجوديت موندلى دى، چې هيڅا ورسره پکښې اشتراک نه دى کړى ترڅو هغه هم د عبادت لايق جوړ شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ ای پیغمبره! یقینًا د ذکرو شوو مخلوقاتو په ذکر کښې د داسې قوم دپاره د توحید زښت ډېر دلایل نغښتي دي کوم چې پکښې تفکر کوي او سرسري ورپاندې نه تېرېږي.

یا په بل عبارت: متفکر خلک پوهېږي چې معبودیت د خالقیت نتیجه ده، نو څرنګه چې د مشرکانو باطل معبودان په خالقیت کښې برخوال نه دي نو هرومرو او ضرور په معبودیت کښې هم په هیڅ ډول سره لیاقت او استحقاق نه شي درلودی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا ﴾ کښې د ﴿ يُصِرُّ ﴾ کلمه د "إصرار" _لکه "إكرام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "إصرار" دې ته وايي: چې څوک د یو شي سره ملازمت ولري او په هیڅ حال کښې ترې نه جدا کېږي[1]. یعنې کله چې په نوموړي دروغژن باندې د الله ﷻ ایتونه ولوستلی شي، نوموړی کافر د خپل کفر سره ملازم پاتې کېږي او خپل کفر ته په داسې حال کښې ادامه ورکوي چې د ایمان راوړلو څخه تکبر غوره کوونکی وي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکر شوي غټ دروغژن د الله ﷻ په ایتونو باندې خپل خان ګول اچولی دی لکه چې نه یې اورېدلي وي او نه ورپاندې پوه شوی وي، حال دا چې د ﴿ وَإِذَا عَلِمَ مِنْ ءَايَٰتِنَا شَيْـًٔا ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې نوموړی په ځینو ایتونو باندې پوهېدونکی دی؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې جملې مطلب دا دی چې کله نوموړی غټ دروغژن د خپل کوم یوه اندېوال د پلوه پوه کړی شي چې محمد ﷺ داسې داسې دلایل وړاندې کوي، نو په دغه وخت کښې یې بیا په ملنډو او مسخرو سره نیسي او د جادو یا د بل شي نوم ورباندې ږدي، او یا ورباندې اعتراض کوي لکه چې یوه مثال ته یې د [الأنبياء:۹۸] ایت لاندې _د الله ﷻ په توفیق_ اشاره شوې ده چې د "ابن الزبعرى" کافر د پلوه یې صورت نیولی وه.

## رِجز څه معنی؟

۳_ په ﴿ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ رِّجْزٍ ﴾ کلمه د اضطراب او لړزان دپاره وضعه شوې ده[2]. یعنې د دغو کفارو دپاره دردناک عذاب دی چې د لړزوونکې او اضطراب ورکوونکې مصیبت څخه عبارت دی.

﴿ قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغْفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُواْ

---

[1] روح المعاني ج۲۵ ص۱۴۳
[2] مفردات الراغب ص۱۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ
﴿١٥﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ
عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ۖ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓا۟ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ
ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾
ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ فَٱتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمْ
لَن يُغْنُوا۟ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۖ وَٱللَّهُ وَلِىُّ
ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۴] (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته ووایه کومو چې ایمان راوړی دی چې دوی دې (د انتقام څخه) مغفرت (او عفوه) وکړي (البته) د هغو کسانو دپاره چې د الله ﷻ د نعمتونو اُمید نه لري (او نه یې د عذابونو څخه ډاربږي، دا) د دې دپاره چې الله ﷻ یو قوم ته (کافر وي او که مؤمن) په هغه سبب جزا ورکړي کوم چې دوی دي چې (روزمره) یې کسب کوي.

[۱۵] هر چا چې صالح عمل وکړ نو ګټه یې د خپل ځان دپاره ده، او هر چا چې بدې وکړه نو ضرر یې په خپل ځان دی، بیا به (د قیامت په ورځ تاسو ټول) خپل رب ﷻ ته راجع کړی شئ (نو هر چا ته به د خپلو کړو وړو سزا یا جزا درکړي).

[۱۶] او یقینًا مونږ بني اسرائیلو ته کتاب (تورات) او حکمراني او هم نبوت (دربواره) ورکړي وه، او د پاکیزه شیانو څخه مو ورته روزي ورکړې وه او (د خپلې زمانې) په عالمونو باندې مو غوره ګرځولي وه.

[۱۷] او د دین په کار کښې مو ورته څرګند (او واضحه) دلایل هم ورکړي وه (چې د اختلاف د لرې کولو دپاره یې کفایت کاوه)، نو (په همدې بنیاد) هغوی اختلاف ونه کړ مګر د هغه څخه وروسته چې پوهه ورته ورغله (البته) د خپلمنځي عناد (او ظلم) د کبله.

(ای پیغمبره!) یقینًا ستا رب ﷻ به د دوی ترمنځ د قیامت په ورځ په هغو قضایاوو کښې (حقه) فیصله وکړي په کومو کښې چې هغوی وه چې اختلاف به یې پکښې کاوه.

[۱۸] بیا مونږ ته په (مستقل) شریعت باندې وګرځولې چې د دیني کار څخه عبارت دی، نو ته د همدغه شریعت پیروي کوه، او د هغو کسانو د خواهشاتو پیروي مه کوه کوم چې نه پوهېږي.

[۱۹] یقینًا دغه ناپوهان به هیڅکله ستا څخه د الله ﷻ د پلوه د (نازل شوي) عذاب د لرې شي مخنیوی هم ونه کړي (او نه یې په توان کښې شته).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې شکه ظالمان چې دي د دوی ځيني کسان د ځينو نورو دوستان دي (ستاسو دوستان نه دي)، او الله ﷻ د متقيانو (مؤمنانو) دوست دی (چې د کفر د تيارو څخه يې بچ ساتي).

[۲۰] دغه (قرآن کريم) د خلکو دپاره (ظاهري او باطني) بصيرتونه دي او د داسې قوم دپاره لارښود او رحمت دی کوم چې باور کوي (او باور کولو پسې تاند وهي).

## شان نزول او ارتباط

د دغو ايتونو د شان نزول په هکله مفسرينو کرامو متعدد واقعات ليکلي دي[۱]، د مثال په توګه: يوه ورځې عمر ؓ ته په مکه معظمه کښې د بني غفار د قبيلې يوه سړي کنځلې وکړې چې سمدستي عمر ؓ قصد وکړ چې منګولې ورباندې ښخې کړي او خپل انتقام ترې واخلي، نو الله ﷻ د ذکرو شوو ايتونو څخه اولني ايتونه نازل کړه[۲].

ځو زمونږ په فکر څه لرې نه ده چې ټول مؤمنان د مشرکانو په هغې استهزاء سره په غُصه شوي وي او د انتقام د اخستلو قصد يې کړی وي کومه چې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه په وړاندېني [الجاثية:۹] ايت کښې راحکايت کړې ده، نو په دغو ايتونو کښې به الله ﷻ د يو پلوه مؤمنانو ته د تحمل او صبر توصيه کړې وي او د بله پلوه به يې اتفاق او اتحاد ته هڅولي وي چې د بني اسرائيلو غوندې اختلاف او شقاق ونه کړي.

نو په دې تقدير د ايتونو ارتباط په ډاګه څرګندېږي او څه خفاء پکښې نه پاتې کېږي.

## د مطلب خلاصه

يعنې اى پيغمبره! ته مؤمنانو ته ووايه او د الله ﷻ د پلوه يې مخاطب کړه چې:

۱ــ چې دوی دې د کفارو د استهزاء او تمسخر په ارتباط دغه کړنلاره خپله کړي:

الف: دوی دې هغوی ته عفوه وکړي او ناندرې دې ورسره نه وهي، هغوی خو نه د الله ﷻ د ښو ورځو او نعمتونو (جنتونو) اُميد لري او نه يې د بدو ورځو (دنياوي يا اُخروي عذابونو) څخه دارېږي، نو د هغوی څخه څه ګيله ده.

ب: يا په بل عبارت: مؤمنان دې هم د هغوی په مقابل کښې ستا غوندې صبر او تحمل وکړي او ستا غوندې دې د حوصلې څخه کار واخلي، ترڅو الله ﷻ بدکاره قوم ته د خپلو کړوو وړو جزا ورکړي او په دنيوي او اُخروي عذابونو باندې يې اخته کړي، او نېکو کار قوم (مؤمنانو) ته د صبر او تحمل اجرونه ورعنايت کړي.

ج: مؤمنانو ته ورسوه چې د کفارو د استهزاء جزا په تاسو باندې نشته، بلکې هرڅوک چې صالح عمل کوي نو د خپل خان دپاره ګټه رسوي او هرڅوک چې بدي کوي او د الله ﷻ ايتونه په ملنډو سره نيسي نو فقط د خپلو اوږو پېټی درنوي، او خپل خان په مشکلاتو اخته کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۱۴۷؛ زاد المسير ج۷ ص۱۲۵؛ تفسير القاسمي ج۱۴ ص۳۸۹

(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۱۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: مؤمنانو ته دا هم ابلاغ کړه چې د مرګ څخه وروسته به تاسو ټول د کفارو په شمول خپل رب ﷻ ته د حساب کتاب دپاره راجع کړی شئ او هر چا ته به جزا یا سزا ورکړي.

۲ـ ای پیغمبره! مؤمنانو ته د عبرت اخستلو دپاره زمونږ د پلوه خبر ورکړه چې مونږ د بني اسرائیلو سره لاندې ښېګڼې هم کړي وې:

الف: هغوی ته مو د موسی ﷺ په سلسله اسماني کتاب (تورات) ورکړی وه چې د قرآن کریم په نسبت دوهم نمره کتاب دی.

ب: هغوی ته مو د دغه کتاب د چلښت او په عمل کښې د پیاده کولو توان هم ورکړی وه، چې حکومت او پاچاهي یې په خپل لاس کښې درلوده.

ج: هغوی ته مو نبوت ورکړی وه چې د بل هر یو قوم څخه په دوی کښې ډېر پیغمبران تېر شوي دي.

د: مونږ بني اسرائیلو ته پاکیزه خوراکونه او میوجات هم ورکړي وه چې د شام په ځمکه کښې یې خاوندان جوړ شوه او د دې څخه وړاندې مو ورباندې من او سلوی هم نازل کړي وه.

ه: لنډه دا چې مونږ هغوی د خپلې زمانې په ټولو عالمونو باندې بهتر ګرځولي وه لکه چې نن ورځ مو مؤمنان په ټولو عالمونو باندې بهتر جوړ کړي دي.

و: په دې باندې علاوه مونږ هغوی ته په دیني کارونو کښې ښه پوره دلایل ورکړي وه چې د ټولو مسائلو او قضایاوو د حل کولو دپاره یې ښه پوره کفایت کاوه.

۳ـ ای پیغمبره! د دغو ټولو نعمتونو سره-سره بني اسرائیلو د اختلاف او شقاق لاره غوره کړه او خپل اختلافي مسائل یې د شریعت په چوکاټ کښې حل نه کړه، بلکې د هغوی اختلاف د بغاوت او ظلم د کبله صورت نیولی وه. او دا ځکه چې هغوی په اختلاف اخته نه شوه مګر د هغه څخه وروسته چې علم ورته ورغلی وه او د اختلافاتو د لرې کولو دپاره یې ښه کافي معلومات درلوده.

۴ـ ای پیغمبره! د اختلافاتو د حل کولو او د فیصلو ورځ راروانه ده نو یقیناً ستا رب ﷻ به د هغوی ترمنځ په هغو قضایاوو کښې په حقه فیصلې وکړي کومو چې د هغوی ترمنځ موجودیت درلود او اختلافونه یې پکښې کول.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ په دې زمانه کښې زښت ډېر فضائل تاته او ستا قوم ته درکړي دي چې دومره فضائل مو بني اسرائیلو ته نه وه ورکړي، چې د دین په کارونو کښې مو مستقل شریعت درکړی دی او تاسو کولی شئ چې خپل اختلافات وربانديې د ښځه وباسئ او اتفاق (اتحاد) خپل کړئ.

۶ـ نو ته د خپل شریعت پیروي کوه او ستا اُمتیان دې هم همدغه شریعت په عمل کښې پیاده کړي او کلکې منګولې دې وربانديې ښخې کړي. تاسو د هغو کسانو پیروي مه کوئ کوم چې نه پوهېږي او جهال دي او د جهالت د کبله ستاسو څخه د خپلې پیروۍ مطالبه کوي، ترڅو تاسو د خپلو خانونو غوندې د هلاکت په کنده کښې واچوي.

۷ـ یقیناً دغه جهال هیڅکله د الله ﷻ د ارادې په وړاندې څنه نه شي جوړېدلی چې د نعمت د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وركړي مخه یې بنده کړي، او نه هغوی تاسو د هغه خطر یو کوم شي کړم په چې تاسو ته د عصیان په صورت کښې متوجه کړی شي او دا ځکه چې

۸ـ يقيناً ظالمان او طاغوتيان يو تر بله دوستان دي چې هغوی کسان يې هغوی نوره د ايمان د رڼا څخه د كفر تيارو ته روانوي او وربانديې اخته کړي يې

اما الله ﷻ د مؤمنانو (متقيانو) دوست دی، چې د كفر د تيارو څخه يې د ايمان نور او رڼا ته راوباسي او يا يې نه پرېږدي چې په كفريانو كښې سر په شي ولمړيږي

۹ـ ای پیغمبره! په دې زمانه کښې دغه قرآن کریم د خلکو دپاره سراسري بصيرتونه او واضحه دلایل دي او هم د هدوی دپاره په هره اختلافي مسئله کښې لارښود دی. البته د داسې قوم دپاره چې پخه عقيده او پوخ يقين (باور) لري، او همدا د الله ﷻ د پلوه دوی لوی هدایت او رحمت دی.

نو تاسو ته په کار دي چې دغه کتاب (قرآن کریم) په عظمت سره وپېژنئ او خپل ټول قضايا او مسائل په همدې کتاب باندې حل کړئ. بالآخره تاسو ته په کار دي چې د بني اسرائيلو کړلاره غوره نه کړئ که نه نو تاسو به هم د هغوی په مرض اخته شئ او د ذلت سره به مخامخ شئ

## توضیحات

۱ـ كه څوک وايي: ځينو علماوو كرامو ليكلي دي چې د ذكر شوو ايتونو اولني څو ايتونه د بني المصطلق په غزا کښې نازل شوي دي[۱]، په کومه کښې چې د منافقينو مشر (عبد الله بن أبي) د اسلام سپکاوی کړی وه، او عمر ﷺ قصد کړی وه چې سر يې د تنې څخه په توره والوزوي مګر نبي كريم ﷺ د دې کار څخه منعه کړ چې: «دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ»[۲] يعنې پرې يې ږده (مه يې وژنه) ترڅو خلک ونه وايي چې محمد ﷺ خپل ملګري وژني (نو په اسلام راوړلو کښې به د خلكو رغبت کم شي).

نو پوښتنه دا ده چې: تاسو په سريزه کښې ليكلي دي چې دا سورت (الجاثية) ټول مکي دی، حال دا چې د بني المصطلق غزا د هجرت څخه وروسته واقع شوې ده؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو د ايتونو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۳]. نو څه لري نه ده چې د ځينو علماوو كرامو به د شان نزول څخه مصداق مطلب وي نو په ذکره شوې ليكنه كښې يې څه منافات صورت نه نيسي.

## څو نکات

۲ـ په ﴿قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا يَغْفِرُوا﴾ الآية- کښې بايد لاندې نكات په نظر كښې ونيولی شي

(۱) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۱۶۱؛ أسباب النزول للواحدي ص۲۵۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۸
(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿يَغْفِرُوا﴾ کلمې د اعرابي نون د سقوط دپاره دې هغه تحليل تطبيق کړی شي کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [إبراهيم: ٣١] ايت لاندې ليکلی دی.

ب: د ﴿يَغْفِرُوا﴾ کلمه د "غفر" _لکه "ضرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پټولو[١] او د عفوې معنی ورکوي، برابره خبره ده چې دغه عفوه ظاهراً او باطنًا دواړه وي او يا يوازې په ظاهره کښې وي او بس[٢]، په دې مقام کښې همدغه يوازې ظاهري عفوه مطلب ده.

ج: د ﴿لَا يَرْجُونَ﴾ کلمه د "رِجَاء" _لکه "رِخَاء"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اُميد معنی ورکوي خو ډار ورسره ملګری او لازم دی[٣].

د: د کنايې په توګه د ﴿أَيَّامَ ٱللَّهِ﴾ اطلاق په نعمتونو باندې کېږي او په عذابونو او مصيبتونو باندې هم[٤].

ه: په ﴿لِيَجْزِيَ قَوْمًا﴾ کښې د قوم کلمه نَکره نازله شوې ده چې دلته د بدليت په لحاظ مؤمنانو او کفارو (دواړو قومونو) ته شامله ده.

نو د ذکرو شوو نُکاتو په نظر کښې نيولو سره يې مطلب داسې خلاصه کېږي چې: ای پيغمبره! مؤمنانو ته ووايه چې د هغو کسانو د انتقام څخه ظاهراً تېر شي او عفوه ورته وکړي کوم چې نه د الله ﷻ د نعمتونو اُميد لري او نه يې د عذابونو څخه ډارېږي، ترڅو الله ﷻ هر يو قوم ته (مؤمنان وي او کفار) د خپلو کسبياتو په مطابق جزا يا سزا ورکړي.

٣_ که څه هم په دې مقام کښې په ذکر شوي مضمون باندې يوازې مؤمنان مکلف ګرځولی شوي دي، خو په بل ايت کښې په عين مضمون سره نبي کريم ﷺ ته هم ارشاد نازل شوی دی چې: ﴿فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَٰمٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ [الزخرف:٨٩] يعنې ای پيغمبره! د کفارو د ايذاء او مسخرو په مقابل کښې د هغوی د انتقام څخه مخ واړوه (ناندری ورسره مه وهه) او د متارکې په توګه ورته د "سَلام" کلمه ووايه، نو ډېر ژر به پوه شي (چې عاقبت د چا په برخه دی).

## حُکم څه معنی؟

٤_ په ﴿وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ﴾ کښې ځينو مفسرينو کرامو دلته د "حُکم" کلمه په حکمرانۍ سره تفسيره کړې ده[٥]. يعنې لکه څنګه چې مونږ بني اسرائيلو ته تورات ورکړی وه همدارنګه مو هغوی ته د حکومت چلونې واکې هم ورېبرزو کړې وې ترڅو هغوی د خپل کتاب او د خپل پيغمبر (موسی عليه السلام) ارشادات په عمل کښې پياده کړي.

---

(١) القاموس المحيط ج٣ ص٤٠٥
(٢) مفردات الراغب ص٣٧٤
(٣) مفردات الراغب ص١٩٦
(٤) لسان العرب ج١٢ ص٦٥٠
(٥) تفسير ابي السعود ج٨ ص١٤٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "من" توري معناوي

۵ـ په ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ﴾ کښې د "من" توری د "في" د توري معنی ورکوي[۱]. یعنې مونږ بني اسرائیلو ته د دین په کار کښې ښه واضحه او څرګند دلایل ورکړي وه چې د هر ډول اختلاف مخنیوی یې کولی شو مګر هغوی تړې کار وانخست او په اختلافاتو باندې اخته شوه.

او په ﴿ ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ﴾ کښې د "من" توری د بیان دپاره دی. یعنې د بني اسرائیلو څخه وروسته مونږ تاته شریعت درکړ چې د دین د کار څخه عبارت دی، نو تاسو د بني اسرائیلو غوندې مه کېږئ چې خپل شریعت د پښو لاندې کړئ.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "شریعة" کلمه د الله ﷻ په توفیق مونږ د [المائدة:۴۸] ایت لاندې تحلیله کړې ده چې په بیا تحلیلولو سره یې کتاب نه شو اوږدولی.

﴿ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾ أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾ ﴾

[۲۱] ایا هغه کسان کومو چې بدۍ کسب کړي دي ګومان کوي چې مونږ به یې د هغو کسانو په شان ثابت وګرځوو کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې کړي دي، (البته) په داسې حال کښې چې د هغوی (جنایتکارانو) ژوند او مرګ (د دوی د مرګ او ژوند سره) یو برابر وي؟.

(دا) حکم ډېر بد دی چې هغوی یې کوي (چې یو برابر دې وګرځي).

[۲۲] او الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه سره (او د عمل دپاره) پیدا کړي دي او (هم) د دې دپاره چې هر نفس ته په هغو (کسبیاتو) سره جزا ورکړه شي کوم یې چې کسب کړی دی، (البته) په داسې حال کښې چې ظلم (او تېری) به ورباندې ونه کړی شي.

[۲۳] ایا نو ته خبر راکړه هغه څوک (لاره موندلی شي) چا چې خپل معبود خپله نفساني غوښتنه ګرځولې وي، او الله ﷻ (د خپلې) پوهې (په مطابق) باندې ګمراه کړي وي، او هم یې ورته په غوږونو او زړه باندې مهر لګولی وي او په سترګو باندې یې (ورته) پرده خوره کړې وي؟ (دغسې کس سمه لاره نه شي موندلی ځکه چې) نو څوک به ورته د الله ﷻ (د ګمراه کولو) څخه وروسته لارښوونه وکړي؟ ایا تاسو پند نه اخلئ (او نه پوهېږئ)؟.

---

(۱) روح المعاني ج۲۵ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دا مضمون هم شامل وه چې د قیامت ورځ د فیصلې ورځ ده چې ټولې اختلافي قضایا به پکښې حل او فصل شي او هر چا ته به د خپلو کړو وړو جزا یا سزا ورکړه شي.

په دې ایتونو کښې ذکر شوی مضمون تعقیب شوی دی او د همدغې ورځې په ضرورت باندې لا زیات زور اچولی شوی دی چې موجودیت یې د حکمت غوښتنه ده ترڅو په خلکو کښې عدل پیاده شي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! خلکو ته د قیامت د قیام ضرورت په لاندې ټکو کښې قرائت کړه:

۱ـ که بالفرض ذکره شوې ورځ صورت ونه نیسي نو دوه کارونه به واقع شي، حال دا چې دواړه کارونه د عدل او حکمت څخه لرې دي، هغه دا:

الف: بدکارانو ته به سزا ورنه کړه شي او داسې به وګڼلی شي لکه نېکو کاران چې د سزا لیاقت نه لري.

ب: نېکو کاران به بې اجره او بې جزا پاتې شي او د بدکارانو غوندې معامله به ورسره صورت ونیسي چې ټول عمرونه یې د جنایتونو په ارتکاب کښې تېر کړي وي.

۲ـ نو په همدې بنیاد پوښتنه مطرحه کېږي چې:

ایا هغه کسان چې د بدیو کسب یې کړی دی ګومان کوي چې مونږ به یې د هغو کسانو غوندې وګرځوو کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې کړي دي؟ ایا مونږ به د هغوی ژوند او مرګ د دوی د ژوند او مرګ سره یو برابر کړو او په هیڅ تفاوت به ورته قائل نه شو حال دا چې هغوی خپل ژوند په جنایتونو کښې تېر کړی دی او په همدغه حال باندې مړه شوي دي، او دوی خپل ژوند ته د الله ﷻ په اطاعتونو کښې ادامه ورکړې ده او په همدغه حال باندې مړه شوي دي؟

نو پوره واضحه ده چې د جنایتکارانو د مساوات ذکر شوی حکم ډېر بد حکم دی او د عدالت او حکمت څخه ډېر لرې دی چې الله ﷻ ترې منزه او پاک دی.

۳ـ په دې باندې علاوه الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه او د حکمت په بنیاد پیدا کړي دي چې عدل پکښې پیاده کړي او عبث یې نه دي پیدا کړي لکه چې جنایتکاران خیال کوي، او هم یې د دې دپاره پیدا کړي دي چې هر چا ته او هر نفس ته د هغو کړو وړو بدله ورکړی شي کوم یې چې کسب کړي دي او په هیڅا باندې تېری ونه کړی شي چې یا یې بې جنایته تعذیب صورت ونیسي او کومه نېکي یې بلا عوضه پاتې شي.

لنډه دا که بالفرض قیامت قائم نه شي او مړي بیا راژوندي نه کړی شي نو د دنیا پیداکول به عبث او د یوه لوبغارې کار وګڼلی شي.

۴ـ نو ایا هغه څوک سمه لاره موندلی شي کوم چې لاندې خاصیتونه ولري:

الف: څوک چې خپل معبود خپل خواهشات جوړ کړي او خاص د همدغو پیروي کوي.

ب: څوک چې الله ﷻ د هغه د استعداد په مطابق ګمراه کړی وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: څوک چې الله ﷻ ورته په غوږونو او زړه باندې مهر لګولی وي.
د: بالآخره چې الله ﷻ یې په سترګو باندې پرده خوره کړې وي چې حقایق نه ګوري.
۵_ ای پیغمبره! هر څوک چې د ذکرو شوو خاصیتونو درلودونکي وي او الله ﷻ ګمراه کړي وي نو څوک به ورته سمه لاره وښایي او څوک به یې په لاره سم کړی شي؟
نو ایا تاسو د ذکر شوي بیان څخه پند نه اخلئ؟ ایا تاسو نه پوهېږئ چې بل څوک ورته هدایت نه شي کولی؟.

## توضیحات

۱_ په ﴿أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ٱجۡتَرَحُواْ﴾ کلمه د "اِجْتِراح" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د "اِکْتِساب" (کسب کولو) معنی ورکوي، د همدې کبله د انسان اندامونو ته د "جَوَارِح" لقب ورکړی شوی دی چې په همدغو باندې کسب کول صورت نیسي[1].

ب: د "أَنْ نَجْعَلَ" کلمه دوه مفعوله غواړي چې یو مفعول یې د "هُم" کلمه ده چې د جنایتکارانو څخه عبارت ده، او دوهم مفعول یې د "ثابِتِین" هغه مقدره کلمه ده په کومه پورې چې په ﴿كَٱلَّذِينَ﴾ کښې د "ک" توری تعلق نیسي.

ج: د ﴿سَوَآءً﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو زښتې ډېرې وجې محتملې ګڼلې دي[2]، خو کومه وجه چې مونږ غوره کړې ده هغه دا ده چې: د ﴿سَوَآءً﴾ کلمه د "مُسْتَوِيا" په تاویل سره د هغه ضمیر څخه حال واقع شوې ده کوم چې د ﴿كَٱلَّذِينَ﴾ په متعلق (ثابِتِین) کښې پټ دی.

د: د ﴿مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡ﴾ کښې دواړه کلمې د عطف په لحاظ سره په هغه ﴿سَوَآءً﴾ سره مرفوعې ګرځېدلې دي کوم چې د "مُتَساوِیاً" معنی ورکوي.

هـ: د دغو دواړو کلمو دوه ضمیرونه (هُمْ، هُمْ) هغې مرجع ته راجع دي کومې ته چې په ﴿أَن نَّجۡعَلَهُمۡ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر راجع دی چې کفار دي.

و: بالآخره، د "بِهِمْ" کلمه ورسره مقدره ده[3] چې ﴿سَوَآءً﴾ پورې تعلق نیسي او ضمیر پکښې "الَّذِینَ آمَنُوا" ته راجع دی.

نو د پورتنیو ټکو په ملحوظ سره یې د معنی لنډ حاصل داسې راځېږي چې:
ایا هغه کسان ګومان کوي کومو چې د بدیو او جنایتونو کسب کړی دی چې مونږ به یې د هغو کسانو په شان ثابت وګرځوو کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، (البته) په

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۴۷۰
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۳۵۹؛ روح المعاني ج۲۵ ص۱۴۹
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې حال کښې چې د دوی ژوند او د دوی مرګ به د مؤمنانو سره یو برابر وي؟ دا ګومان بالکل غلط دی، مونږ دغسې کار نه کوو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلِتُجْزَىٰ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره دی نو پوښتنه دا ده چې دا جمله په کومه جمله باندې عطف ده؟

مونږ وایو چې: دغه جمله د مفرد په تاویل سره په ﴿ بِالْحَقِّ ﴾ باندې عطفه ده ځکه چې په تعلیل باندې اشتمال لري[۱]. یعنې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې عبث نه دي پیدا کړي بلکې د حق او حکمت په بنیاد یې پیدا کړي دي چې عدل پکښې پیاده کړی شي او د دې دپاره چې هر چا ته د هغه د کړو وړو په مطابق جزا ورکړه شي، بنه وي او که بده.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿ أَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾ الآية- کښې په ارتباط د ځینو مفسرینو د قول[۲] په مطابق لاندې وضاحتونه باید په نظر کښې وساتل شي:

الف: د ﴿ أَفَرَءَيْتَ﴾ جمله د "أَخْبِرْنِي" معنی ورکوي.

ب: دا جمله دوه مفعولانو ته متعدي ده، چې یو مفعول یې ﴿ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ ﴾ دی او بل مفعول یې د ټولو مربوطو کلمو څخه وروسته مقدر دی چې په "أَيَهْتَدِي" سره ترې تعبیر کولی شو.

ج: په همدغه مقدر مفعول باندې په ایت شریف کښې د ﴿ فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ اللَّهِ ﴾ جمله دلالت کوي.

نو پورتنیو وضاحتونو ته په پام سره یې حاصل داسې راځېږي چې: ماته خبر راکړه، ایا کوم کس چې د دغو خاصیتونو خاوند ګرځولی شوی وي هغه په سمه لاره باندې تلل کولی شي؟ هیڅکله نه.

## نفساني غوښتنې او معبودیت

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۵۳] ایت لاندې لیکلي دي چې د بنیادم نفس په دریوو لحاظونو سره درې لقبونه درلودلی شي او یو لقب یې "إمارة بالسوء" (په بدو امر کوونکی) دی. نو دا د هغه نفس لقب دی کوم چې د شریعت د اثر لاندې واقع نه شي، او د خپلو نفساني غوښتنو (د بې قیضې آس غوندې) عمل کوونکی وي.

نو هر څوک چې د دغسې غیر شرعي غوښتنو پیروي کوي د هغه دپاره خپلې نفساني غوښتنې د معبود حثیت لري، او نفس یې ورته عبادت کوونکی جوړېږي چې په ﴿ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ ﴾

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۷۲
(۲) البحر المحیط ج۹ ص۴۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د نفس همدغه لقب ته اشاره ده.

د نفس ذکر شوی لقب په ډېرو نصوصو کښې ښه پوره شرحه شوی دی لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ [ص: ۲۶] يعنې اى داوده! او ته د خپلې نفسانې غوښتنې پيروي مه کوه (عدم پيروى ته يې ادامه ورکړه) نو د الله ﷻ د لارې څخه به دې بې لارې کړي (او په کنده کښې به دې وغورزوي).

ب نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا ثُمَّ تَمَنَّى عَلَى اللَّهِ»[۱] يعنې هوښيار بنيادم هغه دی کوم چې د خپل نفس سره محاسبه کوي او د مرګ څخه وروسته وخت (آخرت) دپاره عمل کوي او ناتوانه (ساده) بنيادم هغه دی کوم چې خپل نفس د خپلو نفساني غوښتنو پيرو وګرځوي (او) بيا په الله ﷻ آرزو کوي (چې مغفرت به ورته وکړي).

﴿ وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۴] او کفار وايي چې: زمونږ ژوند نه دی مګر زمونږ (فقط همدا) نژدې ژوند دی چې مونږ (خينې) مړه کېږو او (خينې) ژوندي کېږو (نوي تولد کېږو)، او مونږ نه هلاکوي (مړه کوي) مګر زمانه (چې زړېږو او عمرونه مو ختمېږي).

او (اى پيغمبره!) دغو کفارو ته په ذکره شوې خبره (عقيده) باندې هيڅ علم نشته (کوم نقلي يا عقلي دليل نه لري).

دوی نه دي مګر (بې دليله) اټکل (او ګومان) کوي (او بس).

[۲۵] او کله چې په ذکرو شوو کفارو باندې زمونږ څرګند (او پاخه) ايتونه (او دلايل) ولوستلی شي نو د دوی حجت (او برهان) نه دی مګر (په خپل خيال) دا وينا ده چې: (اى مؤمنانو!) تاسو زمونږ (پخواني) پلرونه (د قبرونو څخه ژوندي) راولئ که تاسو (په خپله عقيده کښې) رښتيني ياست.

[۲۶] (اى پيغمبره! ته ورته) ووايه چې الله ﷻ تاسو ژوندي کوي، بيا مو مړه کوي (او همدغې سلسلې ته) د قيامت تر ورځې پورې (ادامه ورکوي) چې هيڅ شک پکښې نشته، بيا به (نو الله ﷻ تاسو (په دغې ورځ کښې د حساب کتاب دپاره) راغونډ کړي.

او (دا واقعيت دی) مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او يا يې خپل ځانونه په ناپوهۍ وهلي دي).

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د قيامت د قيام په ضرورت دلايل اقامه کړی شوي وه او د هغو کفارو عقيده رده شوې وه کوم چې د قيامت د قيام څخه انکاري وه. په دې ايتونو کښې د هغو کفارو عقيده رديږي کوم چې د الله ﷻ د توحيد عقيده نه لري، او په دې باندې علاوه په دې ايتونو کښې د هغو هوا پرستو انسانانو يوه مثال ته هم اشاره شوې ده د کومو په ذکر باندې چې وړاندېنی وروستنی [الجاثية:۲۳] ايت مشتمل وه. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د هغو کفارو د عقيدې د رد په هکله هم په خپل أمت باندې څه ايتونو قرائت کړه کوم چې د قيامت د قيام څخه لا څه چې د الله ﷻ د موجوديت او توحيد دواړو څخه انکاري دي:

١ـ د کفارو يوه ډله وايي چې: مونږ بل ژوند نه لرو بلکې همدغه يو دنياوي ژوند دی چې ځينې کسان مو مړه کېږي او ځينې نور مو د مورګانو څخه تازه ژوندي تولد کېږي، او بيا د څه وخته وروسته د مرګ سره مخامخ کېدونکي ګرځي.

دوی وايي چې زمونږ ژوندي کېدل او بيا مړه کېدل د هيڅا د پلوه صورت نه نيسي، بلکې همدغه دَهر (زمانه) ده چې د مرګ او ژوند مرحلې په مونږ باندې تېروي.

٢ـ د کفارو ذکره شوې ډله د خپلې عقيدې په ثبوت باندې هيڅ دليل نه لري چې دوی ته علم او پوهه إفاده کړي. يا په بل عبارت: د دوی په لاس کښې نه نقلي دليل شته چې کوم پيغمبر ورباندې قول کړی وي او يا ورباندې کوم اسماني کتاب نازل شوی وي، او نه عقلي دليل لري چې ذکره شوې عقيده ورته په اثبات ورسوي.

لنډه دا چې دغه ډله کفار نه دي مګر اټکل کوي او د خپلو ځانونو د غولونې دپاره يوه پلمه جوړوي او خپلو ځانونو ته د ختو پوزه ږدي.

٣ـ کله چې په ذکرې شوې ډلې کفارو باندې زمونږ واضحه دلايل قرائت کړی شي او عقيده يې ورته رده کړي، نو د حجت د نه درلودلو د کبله په هيڅ شي استدلال نه نيسي مګر مؤمنان مخاطب ګرځوي او ورته وايي چې: که د قيامت قيام رښتيا وي او مړي د قبرونو څخه ضرور بېرته را اوچتول کېږي نو تاسو زمونږ پخواني مړه شوي پلرونه بېرته دنيا ته راولئ، کله چې تاسو دغه کار نه شئ انجامولی نو معلومه شوه چې ستاسو خبره دروغژنه ده.

۴ـ ای پيغمبره! د کفارو د ذکرې شوې وينا په رد کښې ورته ووايه چې:

الف: ای کفارو! ستاسو ذکره شوې الزامي خبره به هغه وخت په ځای وی چې مونږ په دنيا کښې د مړو د راژوندي کېدلو عقيده درلودی، نو تاسو به ويلی چې هلئ ژر شئ زمونږ پلرونه راژوندي کړئ.

ب: زمونږ عقيده دا ده چې د ټولو مخلوقاتو د مړينې څخه وروسته به مړي د قبرونو څخه راپورته کېږي، نو دغه وخت خو لا تر اوسه نه دی راغلی، کله چې دغه وخت راغی او ستاسو پلرونه راژوندي نه کړی شو نو مونږ به تاسو ته ملامت ياستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره په توالد سره د ژوندیو پیداکولو او بیا د ملک الموت په لیږلو د دغو ژوندیو د ارواحو د قبض کولو سلسله جاري ساتلې ده. او تر تاکلي وخته پورې به جاري وساتي

کله چې دغه سلسله پای ته ورسیږي او ټاکلی وخت را ورسیږي نو په دغه وخت کښې به الله ﷻ ټول انسانان راژوندي کړي او د قیامت ورځې ته به یې ورټول کړي، لا څه چې تاسو ټول به راژوندي کړي او د قیامت ورځې ته به مو ورټول کړي

ولا څکه چې کوم اقدس ذات چې د ژوند او مرګ د سلسلې په جریان باندې قادر دی هغه اقدس ذات د ټولو مخلوقاتو په بیا راژوندي کولو باندې هم مطلق قدرت لري او د هیڅ شک او شبهې ځای پکښې نشته

مګر د خلکو اکثریت نه پوهیږي او شک پکښې کوي او یا یې خپل خالق ته ورپاندې قانونه ایښي دي چې شکمن یې معرفي کړي حال دا چې په دې کښې درباندې پوهیږي

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَقَالُوا مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ﴾ الآیة کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده

الف ـ په کافرو کښې یوه داسې ډله هم شته کومه چې د الله ﷻ د موجودیت څخه انکاري ده، دغه ډله په دهریانو سره مشهوره ده[۱]. په دغو آیتونو کښې د همدغې ډلې عقیده رد شوې ده

دوی وایي ـ العیاذ بالله ـ چې نه خالق شته او نه بیا راژوندي کېدل، اما موجوده مره کېدل او بیا تازه راپیدا کېدل د زماني کار دی چې د عمر د تیریدلو سره ختمیږي مره کیږي او په نوې صورت بیا پیدا کیږي

ب ـ په ﴿ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ﴾ کښې د "هي" ضمیر په ﴿ حَيَاتُنَا ﴾ کښې د "حياة" کلمې ته راجع دی کومه چې ترې وروسته ذکر ده، او اضمار قبل الذکر په دغسې مواردو کښې تحویل جائز دی لکه چې د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون ۳۷] آیت لاندې ورته اشاره شوې ده

ج ـ د ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ په ارتباط هم د [المؤمنون ۳۷] آیت لاندې یو سوال جواب تیر شوی دی والحمد لله ﷻ چې د دې مقام د وضاحت دپاره یې پوره کفایت کړی دی

د ـ په ﴿ إِلَّا الدَّهْرُ ﴾ کښې د "دهر" کلمه د اوږد وخت څخه عبارت ده، اما د "زمان" کلمه د مطلق وخت معنی ورکوي برابره خبره ده چې اوږد وي او که لنډ[۲]

د که څوک وایي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ فَإِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ»[۳] یعنې تاسو دهر ته کنځلې مه کوئ ځکه چې الله ﷻ همدا دهر دی او د حوادثو تاړونکی دی

نو پوښتنه دا ده چې آیا د الله ﷻ د نومونو څخه "دهر" هم شمېرل کیږي؟

---

[۱] السعد المنیر ج۱۳ ص۱۵۱
[۲] الشمس المنیرة ج۳ ص۲۹۰، روح المعانی ج۱۵ ص۱۵۶
[۳] صحیح مسلم ج۲ ص۲۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه كلمه د ښايسته نومونو څخه نه شمېرله كېږي، اما په ذكر شوي حديث شريف كښې د نهي وجه دا ده[1] چې:

د ايت شريف د نزول په وخت كښې دهريانو كفارو موجوديت درلود چې د دنيا حوادث او مصائب به يې زمانې (دَهر) ته نسبتول او بيا به يې ورته په همدغه حيث كنځلې كولې، حال دا چې د ټولو حوادثو او مصائبو نازلوونكى خاص الله ﷻ دى او بس. نو د دهريانو زمانې ته په ذكر شوي حيث كنځلې كول په حقيقت كښې الله ﷻ ته كنځل كول وه، چې خالق يوازې همدى ﷻ وه او بس؛ نو څكه ترې نبي كريم ﷺ خپل اُمت منعه كړ چې دغسې كار مه كوئ.

## د دهريانو د عقيدې ابطال

۲ـ په دې مقام كښې د دهريانو د عقيدې ابطال ته په لاندې دوه وو جملو كښې اشارې نازلې شوې دي:

الف: په ﴿وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ﴾ كښې دېته اشاره ده چې دهريان د خپلې عقيدې د اثبات دپاره كوم علمي دليل (نقلي يا عقلي) نه لري چې خپله عقيده ورباندې په اثبات ورسوي او محض په ګومان او اټكل سره خو څه شى ثبوت نه شي مُوندلى.

ب: په ﴿قُلِ ٱللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ﴾ كښې دېته اشاره ده چې د ژوندي كول او مړه كول او نور حوادث نوي-نوي پيدا كېږي او موجودېږي چې هيڅوک ترې انكار نه شي كولى.

او پوره واضحه ده چې دغه حوادث نه پخپله خپلو ځانونو ته وجود وركولى شي او نه د بل حادث څخه خپل موجوديت استفاده كولى شي، كه نه نو يا به دور لازم شي او يا به تسلسل، حال دا چې دغه دواړه د ټولو عقلاوو په نزد باطل دي. نو څرګنده شوه چې يو ابدي او ازلي اقدس ذات (د ټولو حوادثو څخه بهر) شته دى چې د حدوث سلسله د همده ﷻ په ارادې سره پيل شوې ده او جاري ده.

همدغه اقدس ذات چې د ممكناتو د سلسلې څخه بهر دى الله ﷻ دى چې روزمره تاسو پيدا كوي او بيا مو مړه كوي. نو همدغه اقدس ذات به يو ځل بيا تاسو ټول د قيامت په ورځ د قبرونو څخه راپاڅوي او د حساب كتاب دپاره به مو په خپل حضور كښې ودروي، چې د دغې ورځې په راتګ كښې هيڅ شک شبه نشته.

## سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: په ﴿إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ﴾ كښې د "إلى" توری په څه شي پورې تعلق نيسي؟

مونږ وايو: ځينو مفسرينو كرامو دغه توری دلته د "في" په معنى اخستى دى او په ﴿ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ﴾ جملې پورې يې تعلق وركړى دى چې د جَر وركولو توري يو د بل په معنى سره ډېر استعمالېږي[2].

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۵۱

(۲) روح المعاني ج۲۵ ص۱۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې بيا به الله ﷻ تاسو د قيامت په روځ د حساب كتاب دپاره خپل حضور ته راغونډ كړي.

مګر بهتره دا ده چې دلته د "إلى" توری په خپله معنى باندې پاتې شي او په هغې مقدرې جملې پورې تعلق ونيسي په کومې باندې چې د ﴿ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ﴾ دواړه جملې دلالت كوي، چې مونږ ترې په "يَسْتَمِرُّ هٰذَا الْحَالُ" سره تعبير كولى شو.

يعنې الله ﷻ تاسو روزمره ژوندي كوي چې نوی تولد كېږئ او بيا مو روزمره مړه كوي چې ملك الموت مو ارواګانې قبضوي، دغه كار دائمي نه دی لكه چې دهريان خيال كوي بلكې د قيامت تر ورځې پورې به استمرار مونده كړي او بيا به د الله ﷻ په اراده ختم شي.

﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾
وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَـٰبِهَا ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَـٰذَا
كِتَـٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِى رَحْمَتِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَفَلَمْ تَكُنْ ءَايَـٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَٱسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا قِيلَ
إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُم مَّا نَدْرِى مَا ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا
نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ
﴿٣٣﴾ وَقِيلَ ٱلْيَوْمَ نَنسَىٰكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَـٰذَا وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن
نَّـٰصِرِينَ ﴿٣٤﴾ ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا وَغَرَّتْكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ فَٱلْيَوْمَ لَا
يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾

[٢٧] او خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمكو واكداري ده.

او كله چې قيامت قائم شي نو په دغې ورځ كښې به د باطلو (كفرياتو) خاوندان تاوانيان شي (خپل تاوان او زيان به ورته څرګند شي).

[٢٨] او ته به هر ټولګی (په دغې ورځ كښې له ډېره خوفه) په ګونډو باندې وګورې (چې د سم درېدلو توان به نه لري).

هر ټولګی به خپلې جنس عملنامې ته وبللی شي (او هر فرد ته به په لاس كښې وركړی شي)، په دغې ورځ كښې به تاسو (ټولو) ته د هغو اعمالو اجزا دركړی شي كوم چې تاسو ياست چې كوئ يې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۹] (بیا به تاسو ټول مخاطب کړی شئ چې:) دغه (عملنامه) زمونږ کتاب دی (زمونږ په امر لیکلی شوی دی او) په تاسو باندې په حقه خبرې کوي (شاهدي درباندې وايي. څکه چې:) یقینًا مونږ وو چې هغه څه به مو ثبتول (د ثبتولو امر مو کاوه) کوم چې تاسو وئ چې عملي کول به مو (ښه به وه او که بد).

[۳۰] نو هر چې هغه کسان دي کومو چې ایمان راوړی وي او نېک اعمال یې کړي وي نو د دوی رب ﷻ به یې په خپل رحمت (جنت) کښې داخل کړي. (ای پیغمبره!) دغه ډېر څرګند بری دی.

[۳۱] او هر چې هغه کسان دي کومو چې کفر غوره کړی دی نو (دوی ته به تخجیلاً وویلی شي چې:) ایا تاسو په دنیا کښې نه وئ چې زما ایتونه به درباندې لوستل کېدل نو تاسو به (یې د قبول څخه) تکبر کاوه، او تاسو مجرمان (جنایتکاران) قوم وئ؟

[۳۲] او کله به چې (تاسو ته) وویلی شو چې یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده او قیامت چې دی هیڅ شک پکښې نشته (ضرور راتلونکی دی)، نو تاسو به (په جواب کښې) ویلی چې: مونږ نه پوهېږو چې قیامت څه شی دی (مونږ یې نه پېژنو) مونږ (ورباندې) ګومان نه کوو مګر ډېر لږ (کمزوری) ګومان، (چې د شک د مرتبې څخه نه پورته کېږي) او مونږ (د قیامت په قیام باندې) باور کوونکي نه یاستو.

[۳۳] (ای پیغمبره!) کفارو ته به (په دغې ورځ کښې) د خپلو کړو وړو هغه بد اعمال څرګند شي کوم به چې دوی (په دنیا کښې) کول، او د هغو ایتونو (جزا او تعذیب) به ترې راچاپېر شي کوم چې دوی وه چې ملنډې (او مسخرې) به یې پرې وهلې.

[۳۴] او (کفارو ته به) وویلی شي چې: نن ورځ مونږ تاسو (د خپل رحمت څخه) هېر کړئ (پکښې داخل مو نه کړئ) لکه چې تاسو (په دنیا کښې) د خپلې دغې ورځې سره پیوستون هېر کړی وه، او (نن ورځ) ستاسو استوګنځای اور (دوزخ) دی او تاسو ته (نن ورځ) هیڅ نصرت کوونکی نشته (چې نجات درکړی شي).

[۳۵] دغه (تعذیب) په دې سبب (په تاسو نازل شوی دی) چې یقینًا تاسو د الله ﷻ ایتونه (قرآن کریم) په ملنډو سره نیولي وه، او همدارنګه تاسو نژدې (او حقیر) ژوند تېر ویستلي وئ (چې آخرت مو بالکل د نظره غورزولی وه).

نو (ای پیغمبره!) نن ورځ به هغوی د دوزخ څخه ونه ویستلی شي او نه به ترې دا مطالبه وکړی شي چې (خپل رب ﷻ په توبې سره) راضي کړئ (ترڅو د عذابه نجات مونده کړئ).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو د وروستني ایت مضمون تعقیب شوی دی او د قیامت په ورځې باندې څه نوره رڼا هم اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې په ارتباط څه نور مطالب هم قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١_ الله ﷻ د مخلوقاتو راژوندي کولو ته ښکه صورت ورکوي چې خاص همده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري ده، او هیڅوک او هیڅ شی د ده ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

٢_ نو کله چې الله ﷻ مړي بېرته راژوندي کړي او قیامت قائم کړي نو په دغې ورځ کښې به د باطلو او کفریاتو خاوندان د غټ زیان او تاوان سره مخامخ شي.

یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به هغوی پوه شي چې په څومره تاوان کښې واقع دي چې جبیره نه لري.

٣_ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې داسې وخت هم راتلونکی دی چې هره یوه ډله به د زیات خوف او ډار د کبله پکښې په ګونډو شي، او د سم درېدلو توان به نه لري.

۴_ په دغې ورځ کښې به هره یوه ډله خپلې عملنامې ته ورو بلله شي چې خپله عملنامه دې پخپله ولوله او پخپله د ځانه سره محاسبه وکړه، او دا ښکه چې نن ورځ تاسو ته د هغو اعمالو جزا درکوله کېږي کوم چې تاسو په دنیا کښې کول.

۵_ دغه کتاب چې ستاسو ټول اعمال پکښې لیکلی شوي دي هغه کتاب دی چې مونږ یې په لیکلو باندې امر کړی وه، او کرام الکاتبین مو ورباندې مقرر کړي وه.

دغه کتاب په هغه څه په حقه ناطق دی کوم چې تاسو په دنیا کښې ترسره کړي وه، په دې کتاب کښې نه په تاسو باندې زیادت لیکلی شوی دی او نه پکښې کمبود شته.

۶_ ای پیغمبره! د محاسبې څخه وروسته به خلک په دوه وو لویو ټولګیو ووېشلی شي، چې یو ټولګی به یې مؤمنان وي او بل ټولګی به یې کفار، چې څه امتیازي حالات یې دغه دي:

٧_ نو کوم کسان چې ایمان یې راوړی وي او نیک اعمال یې کړي وي الله ﷻ به هغوي په خپل رحمت او جنت کښې داخل کړي او په ابدي توګه به د ده ﷻ د غضب څخه په امن کښې پاتې شي.

٨_ او کومو کسانو چې په دنیا کښې کفر غوره کړی دی او بیا د همدغه کفري حالت په درلودلو سره مړه شوي دي نو هغوی به په دوزخ کښې په مادي او روحي دواړو ډولو عذابونو سره اخته شي، چې څو مثالونه یې دا دي:

الف: هغوی ته به د تخجیل او توبیخ دپاره د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې: ایا تاسو په دنیا کښې نه وئ چې روزمره به درباندې زما ایتونه لوستل کېده او توحید ته به رابلل کېدئ خو تاسو به د دعوت د قبول څخه تکبر کاوه، او تاسو جنایتکار او مجرم قوم وئ چې جرم او جنایت مو عادت ګرځېدلی وه، او په هیڅ صورت به مو خپله کړنلاره نه بدلوله.

ب: او ای کفارو! کله به چې تاسو ته وویلی شوه چې د الله ﷻ وعده حقه ده او د قیامت په قیام کښې هیڅ شک نشته (ضرور راتلونکې ده) نو خپل ځانونه ورته تیار کړئ او د پیغمبر دعوت قبول کړئ، نو تاسو به په جواب کښې ویلې چې: مونږ نه پوهېږو چې قیامت څه شی دی؟ مونږ قیامت بالکل نه پېژنو او د پیغمبر په خبره باور نه کوو.

تاسو به ویل چې: مونږ د قیامت په قیام باندې ګومان نه کوو مګر ډېر کمزوری ګومان چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اعتماد قابل نه دی، که بالفرض مونږ ورباندې باورکوونکي وی نو څه تیاری به مو ورته نیولی وی خو مونږ ورباندې بالکل یقین کوونکي نه یاستو.

ج: ای پیغمبره! کفارو ته به د قیامت په ورځ د خپلو عملونو او خپلو کړو وړو بدلې څرګندې شي او پوه به شي چې دوی په دنیا کښې ډېره غلطه لاره خپله کړې وه چې ورباندې به پښېمانه وګرځي.

د: خو د دغه وخت پښېماني به ورته هیڅ ګټه ونه رسوي او د تعذیب په حیث به ترې هغه دعوت راچاپېر شي په کوم باندې به یې چې مسخرې او ملنډې وهلې، یا په بل عبارت: هغوی ته به د خپلو جنایتونو څخه مصیبتونه جوړ شي.

ه: د زیات تخجیل دپاره به کفارو ته د الله ﷻ د پلوه دا هم وویلی شي چې:

ای کفارو! نن ورځ مونږ تاسو هېر کړئ او د خپل رحمت څخه مو محروم پرېښودلئ او دا ځکه چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات او پیوستون په دنیا کښې هېر کړی وه، او خپل ځانونه مو ورباندې رانده کاڼه اچولي وه چې مونږ یې بالکل نه پېژنو چې قیامت څه شی دی.

و: ای کفارو! نو په همدې بنیاد نن ورځ ستاسو د دائمي اوسېدانې ځای اور دی، او همدارنګه نن ورځ تاسو ته د کومک کوونکي په حیث هیڅوک نشته، او د نجات هیڅ لاره نه شئ موندلی او په دائمي توګه به دلته معذبېږئ. او دا ځکه چې:

ز: یقینًا تاسو په دنیا کښې د الله ﷻ ایتونه په مسخرو او ملنډو سره نیولي وه او ټوکې درته برېښېدلې، او تاسو د حقیر ژوند په مزو او چړچو باندې غولېدلي وئ. یا په بل عبارت: تاسو دنیاوي ژوند دوکه کړي وئ او همدا درته نهایي هدف څرګندېده.

ط: ای پیغمبره! نو په دغې ورځ کښې به دوی هیڅکله د دوزخ څخه ونه ویستلی شي او نه به ترې وغوښتلی شي چې تاسو د الله ﷻ د راضي کولو هڅه او کوښښ وکړئ او خپل ځانونه د عتاب څخه خلاص کړئ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ جَاثِيَةً ﴾ کلمه د "جُثو" _لکه "عُلو"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [مریم: ۷۲] ایت لاندې لیکلي دي چې "جُثو" دې ته وایي چې سړی د ډېر هیبت د کبله د درېدلو توان ونه لري او خپل زنګنونه په ځمکه باندې ولګوي، او په ګونډو شي.

ب: په دې باندې علاوه هلته مونږ یو سوال جواب هم لیکلي دي چې د دې مقام د وضاحت دپاره یې یو ځل کتل بد نه دي.

ج: په ﴿ إِلَىٰ كِتَـٰبِهَا ﴾ کښې د "كِتَاب" کلمه د جنس کتاب (عملنامې) څخه عبارت ده چې هلته هر فرد ته عملنامه ورکوله کېږي، نه هر ټولګي ته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جنت د الله ﷻ رحمت دی

٢_ په ﴿ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ ﴾ کښې د "رَحۡمَة" کلمه په دې مقام کښې د جنت څخه عبارت ده او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ په يوه قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه حکايت کړی دی چې: «أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي»[١] يعنې ای جنته! ته زما رحمت يې، چې زه ستا په سلسله د خپلو بندګانو څخه په هغه چا باندې رحم (مهرباني) کوم کوم ته چې زما اراده وشي.

## ماثور تفسير

٣_ نبي کريم ﷺ دا ايت شريف ﴿ وَقِيلَ ٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰكُمۡ كَمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا ﴾ د يوه بنده په مثال کښې ډېر ښه واضحه کړی دی چې مونږ يې په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: د قيامت په ورځ به يو (کافر) بنده د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شي او الله ﷻ به ورته لاندې پوښتنې راجع کړي:

اوله: ای بنده! ايا تاته ما غوږونه او سترګې نه وې درکړې؟ او يا مالونه او اولادونه مې نه وه درپېرزو کړي؟.

دوهمه: ايا تاته مې څاروي او کښتونه نه وه مسخر کړي (چې د ځمکې څخه به دې ډول-ډول حاصلات او ميوجات راغونډول)؟.

دريمه: ايا ما تاته په خلکو باندې رياست نه وه درکړی، چې آمريت به دې ورباندې چلاوه او د غنيمتونو څخه به دې د اُمتياز په توګه څلورمه برخه اخستله؟.

څلورمه: نو بيا تا د دغې ورځې (د قيامت د قيام) څه خيال ساتلی وه؟ ايا تا د دغې ورځې په راتګ څه باور درلود؟ ايا ستا ګومان وه چې ته به ورسره ملاقي کېږې؟.

ب: بنده به وراندېنۍ درې پوښتنې په "هو" سره جوابې کړې، او څلورمې پوښتنې ته به منفي جواب ورکړي چې د قيامت په قيام مونږ هيڅ باور نه درلود.

ج: نو الله ﷻ به ورته ووايي چې: «الْيَوْمَ أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي»[٢] يعنې نن ورځ زه تا په عذاب کښې پرېږدم لکه چې تا په دنيا کښې زما ارشادات پرېښې وه، او د قيامت په قيام باندې دې باور نه درلود.

## يادونه

٤_ په ﴿ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [النحل:٦٤] ايت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده چې بيا شرحه کولو ته يې څه اړتيا نه ګورو. يعنې او نه به د کفارو څخه وغوښتلی شي چې په توبې سره د الله ﷻ رضامندي حاصله کړئ او د تعذيب مخ د خپلو خانونو څخه واړوئ.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٧١٩؛ صحيح مسلم ج٢ ص٣٨١

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٦٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾ ﴾

[۳۶] نو خاص الله ﷻ ته ټولې ستاينې دي چې د اسمانونو مربي (تربیه کوونکی) دی او هم د خمکو مربي دی، (بلکې) د ټولو عالمونو رب دی (او د ټولو اړتیاوې پوره کوي).

[۳۷] او خاص الله ﷻ ته په أسمانونو او هم په خمکو کښې کبریاء ده (چې ټول همده ﷻ ته منقاد دي، او دی ﷻ د هیچا او هیڅ شي اطاعت نه کوي).

او همدی ﷻ د کلکې ارادې (او) د حکمت درلودونکی دی.

## ارتباط او توضیحات

۱ـ د سورت د اول سر څخه الله ﷻ د عقیدوي مطالبو په اثبات باندې ښه پوره قوي او پاخه دلایل اقامه کړه، او د کفارو د واهیاتو او اعتراضاتو مخنیوی یې په ډېره أحسنه طریقه ترسره کړ. په دې ایتونو کښې د ذکرو شوو بیاناتو تائید نازل شوی دی چې الله ﷻ د ټولو محامدو او ستاینو درلودونکی دی او په اسمانونو او خمکو کښې د کبریاء او عالي شان خاوند دی، نو څکه یې نازل شوي مطالب په داسې ډول سره په اثبات ورسول چې د هیچا سره یې د رد توان نشته، او د کفارو اعتراضات یې په دومره قوت سره رد کړه چې هیڅوک یې د رد مخنیوی نه شي کولی.

۲ـ په ﴿ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ ﴾ کښې د "كِبْرِيَاء" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النحل:۲۲] ایت لاندې د یو حدیث په رڼا کښې ښه پوره تحلیله کړې ده چې په بیا تحلیلولو باندې یې کتاب نه اوږدوو.

وفي الأخير: اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

د "الجاثیة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو، چې ورسره پنځه ویشتمه سپاره هم پای ته ورسیده، والحمد لله ﷻ.

مونږ نور توفیق ته هم پوره اړ یاستو او د الله ﷻ څخه یې تمه کوو.

۱۴۲۳/۹/۲۵هـ ق = ۱۳۸۱/۹/۸ هـ ش.

Scanned by CamScanner

# الأحقاف (٤٦)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

١_ دا سورت د نورو سورتونو څخه د "الأحقاف" په کلمې سره جدا شوی او نوموړی شوی دی، کومه چې د همدې سورت په [٢١] ایت کښې نازله شوې ده.

٢_ دا سورت د هجرت څخه تقریباً درې کاله وړاندې نازل شوی دی[١]، چې په همدغه کال کښې د نبي کریم ﷺ تره (ابو طالب) او هم أُم المؤمنین (خدیجة الكُبرى) دواړه وفات شوي وه، همدغه کال ته د "عام الحُزن" لقب ورکړی شوی دی.

٣_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د ایتونو شمېره یې پنځه دېرش (٣٥) ده.

ب: د کلماتو شمېره یې شپږ سوه او څلور څلوېښت (٦٤٤) کلمو ته پورته شوې ده.

ج: د حرفونو شمېره یې دوه زره پنځه سوه او پنځه نوي (٢٥٩٥) تورو ته رسېدلې ده.

٤_ دا سورت ټول مکي سورت دی[٢]، مګر په ځینو ایتونو کښې یې څه اختلاف شته چې ځینو علماوو کرامو ورته د مدنیتوب لقب ورکړی دی[٣].

٥_ د دې سورت محتویات هم د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدوي أحکامو په محور باندې څرخېږي لکه توحید، نبوت، د بعث بعد الموت دلایل، د کفارو د اعتراضاتو مخنیوی او داسې نور.

٦_ دا سورت (الأحقاف) او وړاندېنی سورت (الجاثیة) دواړه سره ډېر نژدې تناسب لري چې دواړه مکي سورتونه دي، دواړه د اکثریت په ملحوظ په عقیدوي احکامو پورې تعلق نیسي او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ مَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا
بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَمَّآ أُنذِرُوا۟ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا
تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ أَوْ أَثَٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤﴾ وَمَنْ أَضَلُّ
مِمَّن يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ

(١) سیرت ابن هشام ج٢ ص٢٦
(٢) تفسیر الطبري ج٢٦ ص١؛ تفسیر القرطبي ج١٦ ص١٧٨
(٣) المحرر الوجیز ج١٥ ص٧

Scanned by CamScanner

غَـٰفِلُونَ ﴿٥﴾ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُواْ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمْ كَـٰفِرِينَ ﴿٦﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتُنَا بَيِّنَـٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَـٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١]

[٢] د دې کتاب (قرآن کريم) نازلول د کلکې ارادې د خاوند (او) د حکمت څښتن الله ﷻ د پلوه دي.

[٣] مونږ اسمانونه او ځمکې او هغه (مخلوقات) چې د دواړو ترمنځ (موجود) دي، نه دي پيدا کړي مګر په حقه سره او هم په ټاکلې نېټې سره (چې هلته به حسابونه تصفيه شي).

او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی د هغه (کتاب) څخه اعراض کونکي دي په کوم سره چې دوی ډاروله کېږي.

[٤] (ای پيغمبره! کفارو ته) ووايه چې: تاسو ماته خبر راکړئ چې هغو (بوتانو) چې تاسو يې د الله ﷻ څخه پرته بلئ، ماته خبر راکړئ چې هغه کوم شی دی چې د ځمکې څخه يې پيدا کړی دی (او دا هم خبر راکړئ چې) ايا هغوی ته په اسمانونو کښې څه شرکت شته (چې په پيداکولو کښې يې څه برخه اخستې وي)؟.

(ای کفارو!) تاسو ماته داسې کتاب راوړئ چې د دغه کتاب (قرآن کريم) څخه مخکښې (نازل شوی) وي (او د شرکي عقيدې په صحت دلالت وکړي) او يا (د پخوانې) علم څخه څه پاتې (علم راوړئ چې همدغه مطلب تائيد کړي) که تاسو (په خپله ادعاء کښې) رښتيني ياست.

[٥] او د هغه چا څخه زيات ګمراه څوک دی چې د الله ﷻ څخه په غير هغه (بوتان) بلي کوم چې ورته د قيامت تر ورځې پورې (په دائمي توګه) قبول نه شي کولی، حال دا چې همدغه معبودين د عبادت کوونکو د بلنې څخه غافلان (او بې خبره) دي.

[٦] او کله چې خلک حشر کړی شي (او قيامت قائم شي) نو همدوی (معبودين) به دوی (عابدينو) ته دښمنان وګرځي او د عبادت څخه به يې منکران جوړ شي.

[٧] او کله چې په کفارو باندې زمونږ واضحه دلايل ولوستلی شي نو هغه کسان حق (ايتونو) ته (اشاره کوي او) وايي چې دغه (قرآن کريم) څرګند جادو دی، (البته) کله چې ورته ورشي (سمدستي ورباندې دغه تهمت لګوي او هيڅ ډيل او درنګ پکښې نه کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنی سورت د توحيد او د قيامت د قيام د دلايلو په تعقيب د الله ﷻ د ځينو عالي صفاتو په ذکر سره ختم شوی وه چې: ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾. او دا سورت بالعکس د همدغو عالي صفاتو په ذکر سره پيل کېږي چې لومړی ايت يې ورباندې مشتمل دی، او بيا د توحيد د براهينو په نزول

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره تعقیب شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته یو ځل بیا د الله ﷻ څه عالي صفات قرائت کړه ترڅو پکښې کفار (مشرکان) تفکر وکړي او په نتیجه کښې شرکي عقیده پرېږدي:
۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د عادي تورو لکه "ح، م" او داسې نورو څخه یې داسې کتاب ترتیب کړی دی چې ټول مخلوقات ورسره په یوه ایت کښې هم سیالي نه شي کولی. یا په بل عبارت: دا قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل کړی شوی دی او په اعجاز سره یې څکه مشتمل ګرځولی دی چې الله ﷻ د کلکې ارادې درلودنکی دی او هم د حکمت څښتن دی.
۲_ ای پیغمبره! مونږ دغه لاندې شیان نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره چې د حکمتونو څخه ډک دي او عبث نه دي چې په پای کښې تصفیه ونه لري:
الف: اسمانونه مو پیدا کړي دي او لمر، سپوږمی او ستوري یوازې مونږ راځېژوو او بیا غروب ورکوو.
ب: ځمکې یوازې مونږ پیدا کړې دي او غرونه ورباندې مونږ نصب کړی دي همدارنګه سیندونه پکښې مونږ بهولي دي او د معادنو پیداکول پکښې یوازې زمونږ کار دی.
ج: څه چې د اسمانونو او ځمکو ترمنځ موجودات او مخلوقات دي لکه باران او نور، دغه هم یوازې زمونږ په اراده موجود شوي دي او موجودېږي.
لنډه دا چې ټول مخلوقات مونږ پیدا کړي دي او ټولو ته مو د موجودیت دپاره څه نېټه او عمر ټاکلی دی، کله چې دغه ټاکلې شوې نېټه پوره شي نو بیا ضرور تصفیه صورت نیسي، او د بېرته راژوندي کېدلو په حال کښې به حساب کتاب پیل کېږي.
۳_ نو کفارو ته په کار دي چې د بیا راژوندي کېدلو څخه وډار شي او څه تیاري ورته ونیسي، مګر ټول کفار د هغه شي څخه اعراض کوي په کوم سره چې ډارول کېږي او د کفریاتو څخه لاس نه اخلي.
۴_ نو ای پیغمبره! په همدې بنیاد کفارو ته دغه پوښتنې متوجه کړه او ورته ووایه چې:
الف: تاسو ماته خبر راکړئ، زه تاسو ته په کلکه وایم چې ماته خبر راکړئ چې: ایا هغو معبودانو د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر بلنه کوئ د ځمکې څخه کوم شی پیدا کړی دی؟ ایا هغوی یو نبات رازرغونولی شي؟ او یا په یو ماشي کښې روح اچولی شي؟ او داسې نور.
ب: دا هم راته ووایاست چې هغوی ته په اسمان کښې څه اشتراک شته؟ هغوی د کوم ستوري د راځېژلو او پرېوېستلو توان لري؟ او داسې نور.
ج: همدارنګه ایا هغوی د اسمانونو څخه د باران یو څاڅکی راښکته کولی شي؟ او یا پکښې د بادونو د چلونې څه وسه شته؟ او داسې نور.
نو څرنګه چې د ذکرو شوو پوښتنو جوابونه ټول منفي دي، نو بیا دا پوښتنه مطرح کېږي چې کله باطل معبودان یوه کوچنې مخلوق ته هم موجودیت نه شي ورکولی او د یوه شي په پیداکولو کښې هم د الله ﷻ سره اشتراک نه لري، نو په عبادت کښې به ورسره اشتراک د کومه کړي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٥_ ای پیغمبره! اوس د مشرکانو او کفارو څخه برهان وغواړه او ورته ووایه چې:

الف: ای مشرکانو! ایا تاسو د دغه کتاب (قرآن کریم) څخه وړاندې کوم اسماني کتاب لرئ چې د الله ﷻ څخه پکښې د شرکي عقیدې تجویز نازل شوی وي؟

ب: ایا تاسو ته د پخوانیو هوښیارانو د علومو څخه څه علم باقي پاتې دی چې د شرکي عقیدې ثبوت پکښې صورت نیولی وي؟

نو که بالفرض تاسو په خپله کفري عقیده باندې کوم نقلي دلیل لرئ هغه راوړئ که تاسو صادقین یاست نو هلئ ژر شئ هغه راوړاندې کړئ. واضحه ده چې د مشرکانو جواب دلته هم منفي دی.

٦_ ای پیغمبره! نو د هغه چا څخه ډېر غټ ګمراه څوک دی چې د دغو خاصیتونو درلودنکی وي:

الف: چې د الله ﷻ څخه په غیر هغه څوک بللي د کومو په موجودیت باندې چې نه عقلي دلیل قائمولی شي او نه نقلي.

ب: چې د هغه چا بلنې ته ادامه ورکوي کوم چې ورته د قیامت تر ورځې پورې بلکې د ابد دپاره نه په قبول سره جواب ورکولی شي او نه ورته هو یا نه ویلی شي. یا په بل عبارت: چې د هغه چا عبادت کوي چې دوی (د عابدینو) د عبادت څخه غافل او ناخبره وي، او نه پکښې د خیر صلاحیت شتون لري او نه د شر د رسولو.

ج: چې د هغو معبودانو عبادت کوي کوم به چې ورته د محشر په میدان او د قیامت په ورځ دښمنان وګرځي او د عبادت څخه به یې انکار وکړي چې تاسو زمونږ عبادت نه دی کړی بلکې تاسو په دنیا کښې د خپلو نفسانیاتو عبادت کوونکي وئ.

د: چې کله وړاندې زمونږ واضحه او څرګند ایتونه او دلایل ولوستلی شي نو سمدستي ترې اعراض کوي او سمدستي وړاندې د ښکاره جادو نوم ږدي. څکه چې دغه کسان عنادي کفار دي او زمونږ دلایل حق دي چې هغوی ورسره د کفري عقیدې د کبله حساسیت لري او د جادو لقب ورکوي.

## توضیحات

١_ په ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ ﴾ الآیة- کښې لاندې نُکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ أَرَءَيْتُم ﴾ کلمه د "اخبِرُوني" معنی ورکوي او د ﴿ أَرُونِي ﴾ کلمه ورته تاکید واقع شوې ده چې دا کلمه هم همدغه معنی تعقیبوي[١]. او همدغه مفهوم ترې اخستلی کېږي.

ب: نو د "اخبِرُوني" دپاره یو مفعول د ﴿ مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ کلمات دي، او بله مفعول یې د ﴿ مَاذَا خَلَقُوا ﴾ کلمات ګڼل کېږي. یعنې ای کفارو! تاسو ماته خبر راکړئ (بیا وایم چې ماته خبر راکړئ چې ستاسو باطلو معبودانو د ځمکې څخه څه شی پیدا کړی دی؟ او په اسمانو کښې د څه شي په پیداکولو کښې اشتراک لري؟

(١) روح المعاني ج٢٦ ص٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ أَثَرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ ﴾ کښې د "أثارَةٍ" کلمه د "بَقِيَة" معنی ورکوي[١]. يعنې ايا تاسو ته د پخوانيو علماوو د علومو څخه څه علم پاتې دی چې ستاسو شرکي عقيده ورباندې په اثبات ورسېږي؟ د مثال په توګه: تاسو سره په همدې ارتباط د لقمان حکيم څه علم باقي پاتې دی؟.

د: په دغه ايت شريف کښې دې ته اشاره ده چې مشرکان په خپلو شرکياتو او خپلو کفرياتو باندې نه عقلي دليل لري او نه نقلي.

## يادونه

٢ـ په ﴿ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ کښې د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ کلمه د "آبد" څخه کنايي ده[٢] چې په متصل ايت ﴿ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ ﴾ الآية- کښې ورباندې تقريبًا صراحت شوی دی.

يعنې باطل معبودان د خپلو عابدينو دپاره د قيامت تر ورځې پورې (د آبد دپاره) قبول نه شي کولی چې د عبادت مننه يې وکړي او غوښتنو ته يې مثبت جواب ورکړي، اما د قيامت په ورځ به په عدم قبول باندې عداوت هم وراضافه شي چې په دغې ورځ کښې به ورته دښمنان جوړ شي او د عبادت څخه به يې انکار کوونکي وګرځي.

﴿ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَلَا تَمْلِكُونَ لِى مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝٩ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۝١٠ ﴾

[٨] بلکې مشرکان وايي چې: محمد ﷺ دا (قرآن کريم) د خپله خانه جوړ کړی دی (او د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی).

ته (ورته) ووايه چې: که (بالفرض المحال) دا (قرآن کريم) زه د خپله خانه جوړ کرم نو (الله ﷻ به ضرور په ماباندې عذاب نازل کړي او) تاسو به زما دپاره د الله ﷻ (د عذاب) څخه د هيڅ شي ملکيت (او توان) ونه لرئ (چې نجات راکړئ، نو زه څه مجبوريت لرم چې دروغ جوړوم).

(هو!) الله ﷻ د هغه (کتاب په حال باندې) ډېر ښه پوهېږي چې تاسو پکښې په ډېرې خوښۍ سره لګيا ياست (او ډول-ډول دروغين لقبونه ورباندې ږدئ).

الله ﷻ زما او ستاسو ترمنځ د شاهد په حيث کافي دی (دروغژن پېژني).

---

(١) القاموس المحيط ج٦ ص١١٢؛ صحيح البخاري ج٢ ص٧١٥

(٢) البحر المحيط ج٩ ص٤٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او الله ﷻ همدی ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی (که تاسو د خپلو کفریاتو څخه توبه تائب شئ نو د عذاب څخه به نجات درکړي).

[۹] (ای پیغمبره! مشرکانو ته دا هم) ووایه چې: زه خو د پیغمبرانو څخه لومړی پیغمبر نه یم (چې زما څخه وړاندې هیڅ پیغمبر نه وي تېر شوی).

او زه پوهه نه لرم چې ما سره به (د الله ﷻ د پلوه) څه کېږي (چې ستاسو تعذیب به راولید کړي او که ژر به وفات شم)، او (هم زه نه پوهېږم چې) تاسو سره به څه کېږي (څه ډول عذاب به دربانديې نازلوي او د عذاب وخت به مو نژدې وي او که لرې).

زه پیروي نه کوم مگر د هغه شي کوم چې ماته وحې کېږي، او زه نه یم مگر (د عذاب څخه) څرگند ډاروونکی یم (او بس).

[۱۰] ووایه (چې ای مشرکانو!) تاسو ماته خبر راکړئ چې که چرته دا قرآن کریم د الله ﷻ د نزده (په حقه نازل شوی) وي او تاسو وربانديې کفر غوره کړی وي، او هم د بني اسرائیلو څخه پرې شاهد شهادت هم ورکوي (چې دا حق کتاب دی) نو ایمان وربانديې راوړي او تاسو خپل استکبار (عدم ایمان) ته پرې ادامه ورکوئ (نو په دغه صورت کښې به تاسو ظالمان نه یاست؟).

یقینًا الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحید په هکله دلایل نازل شوي وه او په دې ایتونو کښې د نبوت موضوع مطرحه شوې ده او د مشرکانو شبهات رد شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

لکه څنگه چې مشرکان د خپل رب ﷻ په توحید کښې په شک کښې واقع دي همدارنگه هغوی د محمد ﷺ د نبوت څخه هم انکاري دي او وایي چې دا قرآن کریم د ده د پلوه جوړ کړی شوی دی.

ای پیغمبره! ایا مشرکان وایي چې محمد ﷺ دا قرآن د خپله ځانه په دروغو جوړ کړی دی؟ نو:

۱ـ ته مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای مشرکانو! لکه چې ټول مخلوقات د قرآن کریم د سیالۍ توان نه لري همدارنگه زما په توان کښې هم نشته چې د دغه کتاب یو ایت جوړ کړی شم.

ب: تاسو ته خو زما څلوېښت کلن عمر معلوم دی، ایا په دغه عمر کښې ما چرته په یو بنیادم باندې دروغ تړلي دي چې اوس په الله ﷻ باندې دروغ وتړم؟.

ج: که بالفرض المحال زه په الله ﷻ باندې دروغ وتړم نو ضرور به ما په ډېر سخت عذاب سره معذب کړي، او په دغه وخت کښې به تاسو هم توان ونه لرئ چې د ده ﷻ د عذاب څخه نجات راکړئ، او یا د ده ﷻ د عذاب د ډېرې کوچنۍ برخې مخنیوی وکړئ.

د: ای مشرکانو! زه دروغژن نه یم بلکې تاسو دروغژنان یاست چې په قرآن کریم باندې د جادو نوم ږدئ او ماته د مفتري لقب راکوئ. الله ﷻ ستاسو په دغه کار باندې پوه دی چې تاسو پکښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لګیا او اخته یاست، نو ضرور به تاسو د سخت عذاب سره مخامخ کړي.

هـ: کله چې زه تاسو د یو پیغمبر په حیث توحید ته دعوتوم او د دې سره-سره الله ﷻ زما تائید کوي، نو دا د الله ﷻ شهادت دی چې زه په حقه پیغمبر یم.

نو په همدې بنیاد زه وایم چې زما او ستاسو ترمنځ الله ﷻ د شاهد په حیث بس او کافي دی، تاسو ته په کار دي چې په ماباندې ایمان راوړئ.

و: ای مشرکانو! اوس هم وخت دی چې د کفر څخه لاس واخلئ، الله ﷻ بښونکی او مهربان دی، که نه نو د قیامت په ورځ ستاسو اعتذار د قبول درجې ته نه رسېږي او د الله ﷻ په نزد مو ایمان نه قبلېږي.

۲_ ای پیغمبره! کفارو ته دا هم ووایه چې:

الف: زه خو د پیغمبرانو د جملې څخه اولنی پیغمبر نه یم چې زما څخه وړاندې بل پیغمبر نه وي تېر شوی او زما نبوت درته عجیبه وبرېښي.

ب: همدارنګه ما تاسو ته کومه داسې نوې عقیده هم نه ده راوړې چې پخوانیو پیغمبرانو ورته دعوت نه وي چلولی، هغوی هم توحید ته دعوت چلاوه او زه هم لګیا یم همدغه دعوت تازه کوم.

ج: ای مشرکانو! زه خو یو بنیادم یم، د خپل ذات په اعتبار (بدون د وحې) زه هیڅ نه پوهېږم چې الله ﷻ به زما سره څه کوي او ستاسو انجام به څه حال ته رسوي، زه به ژوندی یم چې پر تاسو به عذاب نازل کړی شي او که به مړ یم، او هم نه پوهېږم چې ستاسو تعذیب به څه ډول وي او وخت به یې نژدې وي او که لرې.

د: نو په همدې بنیاد زه پیروي نه کوم مګر د هغه شي کوم چې ماته وحې کېږي او په همدې بنیاد وایم چې :ه د عذاب څخه څرګند داروونکی یم، خو د عذاب نازلوونکی نه یم، او نه د عذاب په ډول او وخت پوهېږم چې څه ډول به وي او کله به وي.

۳_ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ورته چې:

ای مشرکانو! تاسو ماته خبر راکړئ چې که دا قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل کړی شوی وي او زما تصنیف نه وي لکه چې تاسو خیال کوئ، او تاسو ورباندې کافر جوړ شئ او خپل کفر ته ورباندې ادامه ورکړئ، نو ستاسو انجام به څه وي؟.

ایا تاسو به ډېر غټ ظالمان نه یاست چې د الله ﷻ پیغمبر ته د دروغژن لقب ورکوئ؟ حال دا چې دا قرآن کریم د الله ﷻ په نزد حقاني کتاب دی او په حقه یې په ماباندې نازل کړی دی، حال دا چې د بني اسرائیلو څخه یو شاهد شهادت هم ورکوي چې دا قرآن کریم ربښتیانی کتاب دی او مضامین یې زمونږ د کتاب مضامینو ته ورته دي چې دواړه په توحید قائل دي او دواړه شرک او کفر ردوي؛ نو د همدې کبله ذکر شوی شاهد په قرآن کریم باندې ایمان راوړي او تاسو ورباندې تکبر خپلوئ چې د ایمان راوړلو څخه یې اعراض کوئ خو د دې سره-سره بني اسرائیل علماء ګنئ چې دوی اهل الکتاب او اهل العلم دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ـ په ﴿ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده[1]

الف: په ﴿ بِمَا ﴾ کښې د "مَا" کلمه موصول ده، او د قرآن کریم څخه عبارت ده.

ب: د ﴿ تُفِيضُونَ ﴾ کلمه د "إفاضة" ـ لکه "إضافة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اوبو بهولو او جاري کولو دپاره وضعه شوې ده.

ج: د ﴿ فِيهِ ﴾ ضمیر وراندېنې موصول ته راجع دی، کوم چې د قرآن کریم څخه کنایه دی.

یعنې الله ﷻ په هغه قرآن کریم باندې د ډېر ښه پوهېږي د کوم په عیب لګولو کښې چې تاسو ډېر په بې باکۍ سره ورلوېږئ چې کله ورته د دروغژن کتاب لقب ورکوئ او کله ورباندې د جادو نوم ږدئ، نو ضرور به سزا درکړي.

د: شاید چې په دې مقام کښې به د ﴿ تُفِيضُونَ ﴾ کلمه د دې کبله نازله کړې شوې وي چې مشرکان به د عیب لګولو په مجالسو کښې به ډېره اسانۍ سره ورګډېدل او په خوشالۍ سره به پکښې اخته کېدل، تابه ویل چې چې د یوه لوړ ځای څخه اوبه ښکته بهېږي.

ه: د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:١٩] ایت لاندې د الله ﷻ د شهادت ډولونه ښودلې شوي دي او د دې مقام دا کلمات: ﴿ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدًا ﴾ د څو مثالونو په ضمن کښې واضحه کړې شوي دي، نو هیله ده چې هلته مراجعه وکړې شي.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې: ﴿ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ ﴾ څه معنی؟ یا په بل عبارت: هغه څه شی وه چې نبي کریم ﷺ يې د خپل خان څخه د پوهېدلو په منفي کولو باندې مکلف شوی وه، چې د الله ﷻ د پلوه به ما سره څه کېږي او د مشرکانو سره به څه صورت نیسي؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره مفسرینو کرامو ډېر څه لیکلي دي[2]. د مثال په توګه:

الف: دلته د تفصیلي پوهې منفي کول مطلب دي[3]. یعنې زه تفصیلاً نه پوهېږم چې په دنیا او آخرت کښې به الله ﷻ زما سره څه کوي او تاسو به د څه حال سره مخامخ کړي. اما اجمالاً پوهېږم چې ما به کامیاب کړي او تاسو به ناکام کړي ما به جنت ته بوځي او تاسو به په دوزخ کښې داخل کړي.

ب: دلته نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې یوازې په دنیاوي کارونو کښې په خپلې عدم پوهې باندې اعتراف وکړي چې ماته به څه راپېښېږي او مشرکان به د څه پېښو سره مخامخ شي[4].

---

(١) تفسیر روح المعاني ج٢٦ ص٨، لسان العرب ج٧ ص٢١٣

(٢) اللباب في علوم الکتاب ج١٧ ص٢٨٣، التفسیر الکبیر ج٢٨ ص٨، تفسیر البغوي ج٤ ص١٦٤

(٣) تفسیر البیضاوي في هذا المقام

(٤) تفسیر الطبري ج٢٦ ص٧، تفسیر ابن کثیر ج٤ ص١٥٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۳ـ ذکر شوي دواړه جوابونه مونږ ته په زړه پوري نه برېښي چې ایت شریف ته پکښې بدون د دلیله تخصیص ورکړی شوی دی او هم د سیاق او سباق (وړاندې ښېرته) ایتونو سره چندان پیوند نه نیسي. کوم جواب چې مونږ ته د الله ﷻ په توفیق بهتر ځرګند شوی دی هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: په وړاندېنیو کلماتو ﴿ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ﴾ الآیة- کښې دېته اشاره ده چې: ای مشرکانو! الله ﷻ ستاسو په جنایتونو باندې ډېر ښه پوه دی او شاهد دی چې تاسو غلطه لاره نیولې ده، نو د خپلې غلطې لارې ځخه توبه تائب شئ، الله ﷻ غفور او رحیم دی د سزا او تعذیب ځخه به موبچ کړي. که نه نو ضرور به دربانديې سخت مصیبت درنازل کړي.

ب: اما ماته معلومه نه ده چې الله ﷻ به ما ژوندی پرېږدي او ستاسو تعذیب به راولید کړي او که زما د وفات ځخه وروسته به دربانديې عذاب درنازل کړي ﴿ وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي ﴾.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ﴾ [یونس: ۴٦] یعنې او (ای پیغمبره!) که مونږ د هغه عذاب ځینې برخې تاته درولیدې کړو کوم چې مونږ د کفارو سره وعده کړې دی او یا تا وفات کړو (او بیا یې وربانديې ورنازل کړو)، نو په دواړو صورتونو کښې د دوی رجوع یوازې مونږ ته ده (چې هلته به یې د دائمي عذاب سره مخامخ کړو).

ج: دا هم راته نه ده معلومه چې درنازلېدونکی عذاب به څه ډول وي او په تاسو باندې به کله او څه وخت درنازل کړی شي ﴿ وَلَا بِكُمۡ ﴾.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَإِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٞ مَّا تُوعَدُونَ ﴾ [الأنبیاء: ۱۰۹] یعنې زه پوهه او درایت نه لرم چې هغه شی (عذاب) نږدې دی او که لرې، د کوم چې ستاسو سره وعده کړی شوې ده.

عین مضمون په راتلونکي [الأحقاف: ۲۳] ایت کښې هم د هود ﷺ د خولې ځخه حکایت شوی دی چې: ﴿ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ یعنې یقینًا د عذاب د نزول علم یوازې د الله ﷻ په نزد دی او بس، زما سره نشته، چې وخت یې درته وښاکم.

د: ﴿ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ﴾ یعنې زه فقط د هغه شي پیروي کوم (او تاسو ته یې ابلاغوم) کوم چې ماته وحي کول کېږي. او ذکر شوي دواړه صورتونه ماته نه دي وحي کړی شوي چې ترڅو تاسو ته یې ابلاغ کړم.

ه: ﴿ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴾ یعنې په دې باندې علاوه (ای مشرکانو!) ستاسو تعذیب زما په اختیار کښې هم نه دی چې وخت یې درته وښاکلی شم. او نه دا کار زما مکلفیت دی، زه خو نه یم مګر ځرګند ډاروونکی یم او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څو نکات

۴ـ په ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ الآية- کښې باید لاندې نکات په نظر کښې وساتلی شي:

الف: د ﴿ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ کلمات شرط معطوف علیها دي چې دوه جملې وربانديې عطفي دي، چې یوه د ﴿ وَكَفَرْتُم ﴾ جمله ده او بله د ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ﴾ جمله.

ب: د ذکر شوي شرط جزا د ټولو معطوفاتو څخه وروسته مقدره ده، چې مونږ تري په "أَلَسْتُمْ بظَالِمِينَ" سره تعبیر کوو، په همدغې مقدرې جملې باندې د ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ جمله دلالت کوي[١].

ج: په ﴿ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ ﴾ کښې ضمیر قرآن کریم ته راجع دی[٢]، او د "مِثْلَ الْقُرْآنِ" څخه پخپله قرآن مراد دی لکه چې څه تحقیق یې د الله ﷻ په توفیق د [الشورى: ١١] ایت لاندې تېر شوی دی.

نو د پورتنیو نکاتو په پام کښې نیولو سره یې د معنی حاصل داسې راځي چې:

ای مشرکانو! مونږ ته خبر راکړئ چې ایا تاسو به په دغه صورت کښې ظالمان نه یاست چې: دا قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل شوی وي ـلکه چې واقعیت همداسې دی ـ او تاسو وربانديې کفر غوره کړی وي. او په دې باندې علاوه چې د بني اسرائیلو څخه وربانديې ښه قوي شاهد شهادت هم اداء کوي چې دا حق کتاب دی نو د خپل همدغه شهادت د کبله وربانديې ایمان راوړي او تاسو خپل استکبار او کفر ته ادامه ورکوئ، او ایمان وربانديې نه راوړئ.

یقینًا په دغه صورت کښې به تاسو غټ ظالمان یاست؛ او الله ﷻ ظلم کوونکي قوم ته هدایت نه کوي او توفیق نه ورکوي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ کښې د "شاهد" څخه څوک مراد دي؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو کرامو په نظر د ﴿ شَاهِدٌ ﴾ د کلمې څخه په دې مقام کښې عبد الله بن سلام ﷺ مطلب دی، چې په مدینه منوره کښې په ایمان مشرف شوی وه[٣]، بلکې د همدغه صحابي ﷺ څخه پخپله هم داسې روایت شته چې د دغې کلمې څخه زه مراد یم او دا ایت زما په هکله نازل شوی دی[۴].

خو بهتره دا ده چې د ﴿ شَاهِد ﴾ کلمه دلته په اطلاق سره پرېښودله شي ترڅو د عبد الله بن سلام ﷺ

---

(١) تفسیر الکشاف ج۴ ص٣٠٠
(٢) روح المعاني ج٢۶ ص١٢
(٣) صحیح البخاري ج١ ص۴۶٩
(۴) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په شمول د بني اسرائيلو ټولو حقاني علماوو ته شامله شي، لكه چې په بل ايت كښې ورباندې صراحت شوى دى چې: ﴿أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ [الشعراء:١٩٧] يعنې او ايا د مشركانو دپاره د قرآن كريم د حقانيت په هكله دا خبره كافي دليل نه دى چې د بني اسرائيلو علماء ورباندې پوه دي (چې دا الهي كتاب دى).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٦ـ كه څوك وايي چې: د ذكر شوي جواب په بنياد بايد دغه ايت شريف مدني وګڼل شي په كوم كښې چې بحث روان دي، اما په دې مقام كښې به د نبي كريم ﷺ په اشاره اينبودلى شوى وي[١]، حال دا چې وړاندې او ښېرته ايتونه ټول د مكي د مشركانو پورې ارتباط لري؟.

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق كاوه[٢]، او په مصداق كښې ضرور نه ده چې د ايت شريف د نزول زمانه دې ورسره متحده وي، نو څه لرې نه ده چې عبد الله بن سلام ﷺ د ايت شريف دپاره په همدغې معنى سره شان نزول وګڼلى شي.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيْهِ ۚ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُواْ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُواْ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾﴾

[١١] او هغه كسان چې كفر يې غوره كړى دى د هغو كسانو په شان كښې وايي كومو چې (په قرآن كريم باندې) ايمان راوړى دى چې: كه چرته دا (قرآن كريم) خير وى (او د الله ﷻ د پلوه نازل شوى وى) نو دغو (مؤمنانو) به ورته زمونږ څخه سبقت نه وى كړى (ځكه چې مونږ د الله ﷻ په نزد د هر خير مستحقين ياستو).

او كله چې كفارو په قرآن كريم سره (سمه) لاره مونده نه كړه (نو عناد يې ښه پوره په ډاګه شو)، نو (په همدې بنياد) ژر ده چې دوى (قرآن كريم ته اشاره وكړي او) ووايي چې دغه (كتاب) پخواني دروغ دي (نو مونږ ورباندې ايمان نه راوړو).

[١٢] حال دا چې د دغه كتاب (قرآن كريم) څخه وړاندې د موسى ﷺ كتاب (تورات) په داسې كيفيت سره نازل شوى وه چې (د خلكو دپاره) پيشوا (لاربنود) او لوى رحمت وه. او دغه (قرآن كريم)

---

(١) الدر المنثور ج٧ ص٤٣٩

(٢) تفسير القاسمي ج١ ص٢٧؛ تفسير المنار ج٩ ص٦٤٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې کتاب دی (چې د موسى ﷺ د کتاب) په داسې حال کښې تصديق کوونکی دی، چې په عربي ژبه نازل شوی دی (او د هغه کتاب څخه يې لغت جدا دی) د دې دپاره (نازل کړی شوی دی) چې هغه کسان (د الله ﷻ د عذابه وډار کړي کومو چې (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کړی دی (او په کفر کښې اخته دي) او (د دې دپاره) چې نېکو کارانو (مؤمنانو) ته (په جنت سره) زيرى وګرځي.

[١٣] يقيناً هغه کسان کوم چې وايي: زمونږ رب (يوازې) الله ﷻ دی (په توحيد عقيده ولړي)، بيا (په همدې عقيده) کلک پاتې شي (او مرتد نه شي) نو په دوى باندې (د الله ﷻ د پلوه) نه ډار شته او نه به دوى وي چې غمژن شي.

[١٤] دغه (مؤمنان) چې دي په داسې حال کښې د جنت (دائمي) ملګري دي چې پکښې به همېشه وي، (البته دوى ته به) په دې سبب (جزا ورکړى شي) جزا ورکول چې دوى (په دنيا کښې) دي چې (نېک) عملونه کوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو يو اعتراض راحکايت شوی او رد شوی وه چې دا کتاب (قرآن کريم) حقاني کتاب نه دی بلکې دروغژن کتاب دی او د محمد ﷺ تصنيف دی. په دې ايتونو کښې د هغوی استدلال راحکايت کېږي او ردېږي چې حاصل يې داسې راځېږي:

اى پيغمبره! په خپل أمت باندې د قرآن کريم د عالي شان په باب څه نور مطالب هم قرائت کړه هغه دا چې:

١ـ کوم کفار او مشرکان چې قرآن کريم ته د دروغين کتاب لقب ورکوي د دوی ډېر قوي دليل (د دوی په نزد) دا دی چې وايي: د دې کتاب پيروي فقيران خلک کوي او همدوی ورباندې په عجلې سره ايمان راوړی دی، که بالفرض دا کتاب حقاني کتاب وی او د الله ﷻ د پلوه يې په رښتيا نزول موندلی وی (او څه خير پکښې نغښتی وی) نو د هر چا څخه وړاندې به يې مونږ پيروي کړې وی او د ايمان راوړلو وياړ به زمونږ په برخه شوی وی، او دا ځکه چې يوازې مونږ د ټولو ښېګنو مستحقين ياستو چې مالونه او پرېمانه دنياوي وسائل لرو، دا د دې خبرې دليل دی چې مونږ د هر چا څخه زيات د الله ﷻ په نزد معزز ياستو.

څرنګه چې په دغه کتاب باندې زمونږ څخه په ايمان راوړلو کښې فقيرانو خلکو سبقت وکړ نو معلومه شوه چې په دې کتاب کښې خير نشته او د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی.

٢ـ اى پيغمبره! مشرکان ځکه ذکره شوې خبره کوي چې دوی ته فقيران خلک قدر نه لري او ټول عزت ورته په دنياوي مالونو او ثروتونو کښې څرګندېږي. دوی غواړي چې د الله ﷻ د فضل او رحمت وېشل د همدوی په لاس کښې پرېوځي او همدوی يې تقسيموونکي وګرځي، حال دا چې دغسې به هيڅکله ونه شي.

٣ـ دغه د مشرکانو يوه بهانه ده چې د ايمان نه راوړلو دپاره ترې کار اخلي، نو کله چې دوی همدغه حال ته ادامه ورکړي او هدايت ورباندې حاصل نه کړي، نو عناد او تعصب به يې نور هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ظهور وکړي او په قرآن کريم باندې به نور تورونه هم ولګوي، او په ويه وايي چې

که دا کتاب اوسني دروغ نه وي چې محمد (ﷺ) د خپله خانه نه وي جوړ کړي نو پخواني دروغ خو دي، چې د پخوانيو دروغجنو قيصي دي او د الهي کتاب نوم ورباندې د دې دپاره ايښودل شوی دی چې د خلکو په نزد ورته مقبوليت موندل کړي

۴ـ لکه څنګه چې محمد ﷺ لومړی پيغمبر نه دی بلکې وړاندې ترې ډېر پيغمبران تېر شوي دي، همدارنګه دا کتاب (قرآن کريم) هم لومړی کتاب نه دی بلکې د الهي کتابونو يوه کړۍ ده د مثال په توګه د دې کتاب څخه وړاندې الله ﷻ د موسى ﷺ کتاب (تورات) نازل کړی وه چې د عيسى ﷺ په کتاب (انجيل) سره يې تائيد کړی وه، او د دې کتاب (قرآن کريم) د نزول څخه د تولو خلکو دپاره د سمې لارې مشال وه او د يوه امام حيثيت يې درلود، او په دې باندې علاوه د دوی دپاره د الله ﷻ يو عظيم الشان رحمت وه. خو د دې سره‌سره کفارو پرې ايمان رانه وړ او د اسماني کتاب په حيث يې ورته ونه کتل

۵ـ دغه کتاب (قرآن کريم) د پخوانيو الهي کتابونو تصديق کوي او د هغو عقيدوي مضامين تائيدوي، حال دا چې دا په عربي ژبه دی او هغه په دغې ژبې باندې نه وه چې نبي کريم ﷺ ترې استفاده کړې وي

دا کتاب (قرآن کريم) په دې زمانه کښې د دې دپاره نازل شوی دی چې:

الف: هغه کسان د الله ﷻ د عذاب څخه وډار کړي کوم چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی او کفر ته ادامه ورکوي، ترڅو وړباندې خپل عقائد او خپل اعمال اصلاح کړي

ب: همدارنګه د هغو کسانو دپاره زېری او بشارت دی کوم چې د عقيدې او عمل د حيثه نېکان دي او په سمه لاره باندې روان دي

نو په همدې بنياد، کوم کسان چې خپل رب يوازې الله ﷻ ګڼي او په همدې باندې اقرار کوي او بيا همدغې عقيدې ته ادامه ورکوي او کلک وړباندې ولاړ وي، نو په دغو باندې د الله ﷻ د پلوه هيڅ ډار نشته، او نه به دوی په آخرت کښې غمژن شي بلکې هلته به د همېشه دپاره خوشاله وي دغه کسان د جنت اوسېدونکي دي چې هلته به د تل دپاره اوسېږي او هيڅکله به يې ورسره اوسېدو پرې نه کړه شي

البته دا د دې دپاره چې الله ﷻ ورته د هغو نېکو کړو وړو جزا ورکړي کوم چې دوی به په دنيا کښې وه چې په دوامداره توګه به يې کول

## توضيحات

۱ـ په ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا﴾ الآية- کښې لاندې ټکي په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف په ﴿لِلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ کښې د (ل) توری ځينو مفسرينو کرامو[1] د تبليغ دپاره ګڼلی دی، يعنې

---

(۱) البحر المحيط ج۹ ص۴۳۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ د پلوه دې هغو کسانو ته ورسوله شي کومو چې ایمان راوړی دی؛ مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه توری (ل) د "فِي" معنی ورکړي، لکه چې په [الأنبیاء:۴۷] ایت کښې په همدې معنی نازل شوی دی. یعنې کفار د هغو کسانو په شان کښې وایي کومو چې ایمان راوړی دی.

ب: په دې مقام کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې دلته د ﴿ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ څخه څوک مطلب دي[1]، خو مونږ ته غوره برېښي چې دلته د مؤمنانو فقیران کسان مراد دي کومو چې د بعثت په اولنیو وختونو کښې ایمان راوړی وه، لکه بلال ، صهیب او داسې نور[2].

همدغه مضمون ته په [الأنعام:۵۳] ایت کښې هم اشاره شوې ده.

ج: په ﴿ لَوْ كَانَ خَيْرًا ﴾ کښې د "كَانَ" مستتر ضمیر قرآن کریم ته راجع دی[3]. یعنې که په قرآن کریم کښې څه خیر وی او د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وی نو زمونږ څخه به وړاندې په ایمان راوړلو کښې فقیران خلک نه وی مخکښې شوي، څکه چې تولې ښېګڼې د دنیادارانو په برخه دي او بس.

د: د دې ایت مضمون د [الزخرف:۳۱] ایت مضمون ته ورته دی چې: که دا قرآن حقاني کتاب وي نو د مکې یا طائف په لوی بډای باندې ولې نازل نه کړی شو؟

ه: ځینې مفسرین کرام وایي[4] چې په ﴿ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِۦ ﴾ کښې د "إذْ" کلمه په مقدرې جملې پورې تعلق نیسي چې مونږ ترې په "ظَهَرَ عِنَادُهُمْ" سره تعبیر کولی شو، او په ﴿ فَسَيَقُولُونَ ﴾ پورې تعلق نه شي نیولی څکه چې د "إذْ" توری په ماضي دلالت کوي او د "س" توری په مستقبل پورې اختصاص لري چې د دواړو ترمنځ منافات دی.

و: په ﴿ فَسَيَقُولُونَ ﴾ کښې د "ف" توری په همدغې مقدرې جملې باندې په تفریع دلالت کوي. یعنې کله چې د مشرکانو هدایت په نصیب نه شو نو عناد یې لا تقویه شو نو ډېر ژر دی چې په قرآن کریم باندې د پخواني دروغین کتاب نوم کېږدي او یا ورته د اساطیر الاولین لقب ورکړي.

## استقامة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ﴾ کښې د ﴿ اسْتَقَامُوا ﴾ کلمه د "اسْتِقَامَة" څخه اشتقاقه شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د[حم السجدة: ۳۰] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې ښه شرحه کړې ده چې په اسلام باندې کلکوالی ترې مطلب دی، چې مرتد نه شي او د مرګ تر ورځې پورې ورباندې ولاړ پاتې شي. هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۱۸۹
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۵۶ ؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۶
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۶۶
(۴) الکشاف ج۴ ص۳۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ثَلَٰثُونَ شَهۡرًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗ قَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ
ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ
إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنۡهُمۡ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَنَتَجَاوَزُ عَن
سَيِّـَٔاتِهِمۡ فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَعۡدَ ٱلصِّدۡقِ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ
أُفّٖ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلۡقُرُونُ مِن قَبۡلِي وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ
ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۵] او مونږ انسان ته توصیه کړې ده (کلک حکم مو ورکړی دی چې) د خپل مور او پلار دواړو سره (نیکي وکړي) نیکي کول، (او په خاصه توګه د مور سره چې) په داسې حال کښې یې (په خپل نس کښې) پورته کوي چې د مشقت (سختیو) درلودونکې وي او په داسې حال کښې یې زېږوي چې د مشقت ګالونکې وي، او په خپل نس (ګېډه) کښې یې د اوچتولو او (بیا) د تې څخه یې د پرې کولو (ټوله) موده دېرش میاشتې ده.

(چې کله ژوندی پاتې شي) آن تر هغه وخته چې خپل بدني قوت ته ورسېږي او د څلوېښتو کالو (عمر) ته هم ورسېږي (چې عقل یې پوخ شي) نو وایي چې:

ای زما ربه! ماته الهام وکړه (او توفیق راکړه) چې زه د هغه نعمت شکریه وکړم کوم چې تا په ما باندې او زما په مور او پلار باندې پېرزو کړی دی (چې مونږ ټولو ته دې د ایمان راوړلو توفیق راکړی دی، او هم دې دوی ته زما د خدمت کولو طاقت ورعنایت کړی). او (همدارنګه ماته توفیق راکړه) چې داسې عمل وکړم چې ته یې خوښوې (او ته ورباندې راضي کېږې)، او زما په اولاده کښې اصلاح جاري وساتې (چې ایمانداري پکښې باقي پاتې شي).

یقیناً (ای زما ربه!) ما تاته رجوع کړې ده او یقیناً خاص تاته د غاړو اېښودونکو څخه یم.

[۱٦] دغه ټول هغه کسان دي د کومو څخه چې مونږ هغه ډېر ښه عملونه قبلوو کوم چې دوی یې کوي (بلکې ښو اعمالو ته یې د ډېرو ښو اعمالو اجرونه ورکوو)، او هم یې د ګناهونو څخه د جنت د ملګرو په ډله کښې تېرېږو.

(دغه وعده الله ﷻ کړې ده) د رښتیاوو هغه وعده کومه چې دوی دي چې (په دنیا کښې) ورسره وعده کوله کېدې.

[۱۷] او هغه کس (هغه ډله) چې خپل مور او پلار ته وایي چې: تاسو دواړو ته دې "أف" وي، ایا تاسو دواړه ماته وعده راکوئ چې زه به (د قبر څخه) راپېر کړی شم حال دا چې زما څخه وړاندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقیناً ډېرې پېړۍ تېرې شوې دي (او هیڅوک بېرته نه دي راغلي)؟.

او مور او پلار یې د الله ﷻ څخه (د خپل زوی په هکله) نصرت غواړي (او زارۍ ورته کوي چې په سمه لاره یې برابر کړي، او همدارنګه خپل زوی مخاطب ګرځوي چې) تاته دې افسوس (او حسرت) وي ایمان راوړه. یقیناً د الله ﷻ وعده حق ده (د قیامت ورځ راتلونکې ده او قران کریم رښتیا وایي). نو نوموړی کس (یا ډله د هغوی په جواب کښې) وایي چې: دغه (قران کریم) نه دی مګر د پخوانیو قیصې دي (چې هیڅ حقیقت نه لري).

[۱۸] (ای پیغمبره!) دغه (ذکره شوې ډله) هغه کسان دي چې (د عذاب) خبره ورباندې ثابته شوې ده، (البته دوی) په هغو (کفري) ډلو کښې شامل دي کومې چې د دوی څخه وړاندې تېرې شوې دي چې د پیریانو او بنیادمانو څخه عبارت دي، یقیناً دوی ټول زیانکاران دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د حقیقي روزونکي (الله ﷻ) د حقوقو ذکر نازل شوی وه چې ځینې کسان ورباندې مستقیم ولاړ دي او ځینې کسان یې د پښو لاندې کوي. په دې ایتونو کښې د مجازي روزونکو (مور او پلار) د حقوقو بیان نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ بنیادم ته توصیه کړې ده چې د خپل رب ﷻ حقوق اداء کړي او په وحدانیت ورته معتقد شي همدارنګه ورته توصیه کوو چې د خپل مور او پلار حقوق هم ښه پوره ورکړي او د پښو لاندې یې نه کړي. او دا خکه چې:

۱ـ مور او پلار د بنیادم په روزنه او تربیه کښې ډېر مشقات او سختۍ ګالي، او په تېره بیا مور یې د لاندې مشکلاتو سره مخامخه کېږي:

الف: مور یې په سختۍ سره په ګېډه کښې اوچتوي او په خپلو وینو سره یې تربیه کوي ترڅو چې د زیږېدو وخت ته ورسېږي.

ب: بیا یې په ډېرې سختۍ سره زېږوي او د ولادت مشکلات ورسره ګالي، نږدې وي چې خپل ژوند د لاسه ورکړي.

ج: بیا ورته د خپل بدن اجزاء (شوده) ورکوي او د خپل تي پورې یې نښلولی وي.

د: لنډه دا چې مور د خپل اولاد په هکله د علوقې څخه نیولې آن د تي څخه د جدا کولو تر وخته پورې دېرش میاشتې (دوه نیم کاله) مشکلات ګالي.

هـ: له دېرشو میاشتو وروسته هم مور او پلار د اولادونو په روزنه او تربیه کښې مشغول وي او هیڅ وخت ترې نه غافله کېږي، آن تردې چې ماشوم بلوغ ته ورسېږي او د قوت خاوند جوړ شي چې په درې دېرشم کال کښې قدم کېږدي او بدن یې ښه پوره قوام ونیسي. په دې باندې علاوه، آن تردې چې عقل یې هم پوخ شي او څلوېښت کلن هوښیار سړی ترې جوړ شي.

۲ـ نو په دغه وخت کښې ذکر شوی څلوېښت کلن سړی په دوه ډوله بنیادم جوړېدلی شي:

الف: یو هغه بنیادم چې د خپل رب ﷻ حقوق هم پېژني او د خپلو والدینو د حقوقو مراعات هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي، او په شکرگزارۍ باندې يې مشغولېږي.

ب: بل هغه بنيادم چې د خپل رب ﷻ حقوق د پښو لاندې کوي او په شرک او کفر عقيده خپلوي، او همدارنګه د مور او پلار ناشکري هم کوي او د عاق الوالدين لقب ګټي. د دواړو ډله حالات لاندې لوستلی شئ:

## شکرګزار بنيادم:

۳ـ ای پيغمبره! شکرګزار بنيادم دغه خاصيتونه خپلوي:

الف: برسېره پر دې چې د الله ﷻ په وحدانيت سره پېژني او د کفرياتو څخه خپل ځان بچ ساتي د خپل مور او پلار سره په عملي ښېګڼو باندې د پاسه قولي ښېګڼې هم کوي او شکرګزارۍ ته يې ادامه ورکوي. د مثال په توګه:

ب: خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کوي او وايي چې: ای زما ربه! ماته توفيق راکړې او الهام راته وکړې چې زه د هغو نعمتونو شکرګزاري وکړم کوم چې تا په خپل فضل سره په ما باندې کړي دي چې د شمېر لاندې نه راځي.

ج: د دغو نعمتونو څخه يو لوی نعمت دا دی چې زه دې په ايمان باندې مشرف کړی يم، او بل لوی نعمت دا دی چې زما په مور او پلار باندې دې هم د ايمان لوی نعمت پېرزو کړی دی چې دوی دواړه هم موحدين دي او د کفرياتو څخه بچ دي.

د: ای زما ربه! ماته توفيق راکړې چې د ايمان د پاسه داسې صالح اعمال وکړم په کومو باندې چې ته راضي کېږې او ستا خوښ وي. يا په بل عبارت: ستا څخه توفيق غواړم چې اسلام عملاً پياده کړم او د مور او پلار داسې خدمت وکړم لکه څنګه چې دوی دواړو په ماشومتوب کښې زما خدمت کړی دی، او د ځلوېښت کلنۍ عمر پورې يې د خپلو ګټورو نصائحو څخه نه يم بې برخې کړی.

ه: ای زما ربه! زما اولادونه هم صالحان وګرځوې او توفيق ورکړې چې عقيدةً او عملاً د اسلام احکام په خپلو ځانونو باندې تطبيق کړي او د کفرياتو او شرکياتو څخه بچ پاتې شي.

و: ای زما ربه! زما سوالونه قبول کړې، زه همدا تاته توبه تائب يم او يقيناً ستا احکامو ته د غاړې ايښودونکو د ډلې څخه يم.

۴ـ ای پيغمبره! د ذکرې شوې ډلې بنيادمانو سره مونږ داسې چال چلند کوو:

الف: د دوی أحسن او ډېر ښه اعمال به قبول کړو او د دوی ښو اعمالو ته به د ډېرو ښو اعمالو مرتبه ورکړو، چې پرېمانه اجرونه يې په برخه شي.

ب: د دوی د ګناهونو څخه به ورتېر شو او پرې وبه يې نه نيسو.

ج: دوی به د جنتيانو په ډله کښې شامل کړو چې همېشه به پکښې استوګن وګرځي.

د: ذکره شوې وعده د رښتياوو هغه وعده ده کومه چې دوی سره په دنيا کښې شوې ده، چې نېک اعمال به يې قبول کړو او د ګناهونو څخه به ورته ورتېر شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ناشکره بنیادم:

۵_ ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د ناشکره بنیادم څه خاصیتونه هم قرائت کړه. هغه دا:

الف: کله چې ناشکره بنیادم د خپل مور او پلار په مشقتونو سره قوت ته ورسېږي او په داسې عمر کښې قدم کېږدي چې مکلفیت ورته متوجه شي، نو په دغه وخت کښې د یو پلوه د خپل رب ﷻ د نعمتونو ناشکري اختیاروي او د کفریاتو او شرکیاتو لارې ته مخه کوي او د بله پلوه د والدینو ناشکرۍ ته ملا تړي او د عاق الوالدین لقب ګټي.

ب: خو چې د مور او پلار د پلوه (د نصیحت په توګه) د الله ﷻ د عذابه وډارولی شي چې: ای زویه! کفري لاره پرېږده او توحیدي لاره ونیسه چې د الله ﷻ د غضبه بچ پاتې شې او د قیامت په ورځ د دوزخ دائمي ملګری ونه ګرځې.

نو سمدستي هغوی دواړو ته د زړه تنګی کلمه استعمالوي چې ﴿ أُفٍّ لَّكُمَا ﴾ تاسو دواړو ته دې "اُف" وي چې ماته نصیحت کوئ. او بیا ورته د توبیخ دپاره پوښتنه راجع کوي چې: ایا تاسو دواړه ما د دوزخ د عذابه ډاروئ او وعده راکوئ چې زه به بېرته د قبر څخه ژوندی راپهر کړی شم او د حشر په میدان کښې به ودرولی شم؟ حال دا چې زما څخه وړاندې د خلکو زښتې ډېرې طبقې تېرې شوې او مړې شوې دي چې هېڅوک بېرته نه دي راژوندي شوي.

ج: په دغه وخت کښې د نوموړي ناشکره بنیادم مور او پلار د خپل زوی په هکله الله ﷻ ته سوال او زاری کوي چې: ای الله! زمونږ سره نصرت وکړې او زمونږ دغه زوی ته توفیق ورکړې چې د کفر څخه لاس واخلي او په بعث بعد الموت باندې معتقد وګرځي. او بیا خپل زوی مخاطب ګرځوي چې:

د: ای زویه! تاته افسوس او حسرت دی چې کفري لاره دې خوښه کړې ده او د قیامت د قیام څخه انکاري ګرځېدلی یې. ای زویه! د حسرت او افسوس څخه خپل ځان خلاص کړه، د قیامت په قیام اعتراف وکړه او هم د کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس واخله، او دا ځکه چې یقیناً د الله ﷻ وعده حقه ده او د قیامت ورځ ضرور راتلونکې ده.

ه: د دغو ټولو نصائحو په رد کښې نوموړی ناشکره بنیادم وایي چې: ستاسو ذکر شوي نصائح نه دي مګر د پخوانیو قومونو دروغیني قیصې دي چې هېڅ واقعیت نه لري، همدغسې قیصې پخوانیو ته هم شوې وې لکه چې تاسو دواړه یې ماته کوئ، زه وریاندې هېڅ باور نه کوم.

۶_ ای پیغمبره! دغه ناشکره بنیادم او د ده امثال هغه کسان دي په کومو باندې چې د الله ﷻ د عذاب خبره ثابته شوې ده چې هرومرو او ضرور به معذب کړی شي. کوم چې د نورو هغو معذبینو په ډله کښې شامل کړی شوي دي چې د دوی څخه وړاندې په همدغې کفري عقیده باندې تېر شوي دي او د کفارو جنیانو او کفارو انسانانو څخه عبارت دي.

او دا ځکه چې یقیناً دغه ټول (وړاندېني او وروستني) زیانکاران دي چې د ډېر زیات تاوان او زیان سره مخامخ دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ ــ په ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَـٰنًا ﴾ الآية- کښې لاندې نکات په نظر کښې ساتل په کار دي.

الف: په ﴿ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ کښې د "ب" توری په هغه مقدر فعل پورې تعلق نيسي کوم چې د ﴿ إِحْسَـٰنًا ﴾ کلمې ته نصب ورکړی دی[۱]، مونږ ترې داسې تعبير کولی شو چې: "أَنْ يُحْسِنَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا" يعنې مونږ انسانَ ته توصيه کړې ده او کلک حکم مو ورکړی دی چې د خپل مور او پلار سره نيکي وکړي نيکي کول (او بدي ورسره ونه کړي).

ب: د ﴿ كُرْهًا ﴾، ﴿ كُرْهًا ﴾ دواړه کلمې (هره يوه) د هغه مشقت څخه عبارت ده کوم چې انسان ته د خپله خانه رسيږي[۲]. يا په بل عبارت: چې پخپله يې د مشقت ګاللو التزام کړی وي، لکه چې مور په ودېدلو سره دغه التزام کوي.

ج: ذکرې شوې دواړه کلمې (هره يوه) د اسم فاعل (كَارِهَة) په معنی ده، چې لومړنی د ﴿ أُمُّهُۥ ﴾ څخه حال واقع شوې ده او دوهمه د هغه ضمير څخه حال ده کوم چې ﴿ أُمُّهُۥ ﴾ ته راجع دی[۳]. يعنې: انسان چې دی خپله مور يې په داسې حال په خپله ګېډه کښې اوچتوي چې مشقت درلودونکې وي او په داسې حال يې وضعه کوي (زېږوي) چې مشقت (سختي) زغمونکې وي.

د: په دې مقام کښې مور درې کرته ذکره شوې ده چې په يوه کرت باندې د ﴿ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ کلمه دلالت کوي، دوهم ځل ﴿ أُمُّهُۥ ﴾ په لفظ سره او دريم ځل په هغه ضمير سره کوم چې په ﴿ وَوَضَعَتْهُ ﴾ کښې هغې ته راجع دی، اما د پلار ذکر فقط يو ځل د ﴿ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ په کلمې سره نازل شوی دی.

نو د ايت شريف څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې د مور حق د پلار د حق په نسبت زيات دی، لکه چې همدا مضمون په هغه حديث کښې په صراحت سره روايت شوی دی کوم چې د الله ﷻ په توفيق د [لقمان:۱۴] لاندې مونږ راحکايت کړی دی، چې په بيا حکايت کولو سره يې کتاب نه شو اوږدولی.

ه: د ﴿ وَحَمْلُهُۥ وَفِصَـٰلُهُۥ ﴾ څخه د کنايې په توګه د حمل او فصال موده مطلب ده ترڅو ورته د ﴿ ثَلَـٰثُونَ شَهْرًا ﴾ کلمات د خبر په حيث صحت ولري، ځکه چې دېرش مياشتې د مودې (زمانې) څخه عبارت دي او بس.

و: که څه هم په ﴿ وَفِصَـٰلُهُۥ ﴾ کښې د "فِصَال" کلمه د تې څخه د ماشوم د پرې کولو معنی ورکوي چې د رضاع (تې ورکولو) وخت ورباندې اختتام مومي، مګر دلته ترې د رضاع ټول وخت مطلب دی، نه د رضاع ختم او بس.

(۱) اضواء البيان ج۷ ص۳۸۴؛ التفسير الكبير ج۲۸ ص۱۴
(۲) القاموس المحيط ج۴ ص۴۴؛ مفردات الراغب ص۴۴۶
(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص۳۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د حَمل موده

ز: د حمل په اقله موده کښې ټول علماء کرام متفق دي چې شپږ میاشتې ده(۱)، خو د احنافو علیهم الرحمة په نزد د دغو شپږو میاشتو په موده باندې عثمان ﷺ د صحابه وو ﷺ په حضور کښې عمل کړی دی(۲)، نو داسې ګڼل کېږي لکه چې اجماع ورباندې شوې وي.

اما شوافع علیهم الرحمة وايي چې دا عبارت ﴿وَحَمۡلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًا﴾ په توزیع باندې محمول دی چې پنځلس میاشتې د حمل دي او پنځلس میاشتې د فصال دي. نظر دغې توزیع ته په کار ده چې د حمل موده پنځلس میاشتې شي، خو څرنګه چې په بل ایت کښې الله ﷻ د فصال (رضاع) موده دوه کاله ټاکلې ده چې: ﴿وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ﴾ [لقمان:۱۴] یعنې د ماشوم پرته کول (د تې څخه پرې کول) په دوه وو کالو کښې صورت نیسي؛ نو په دې سره د دېرشو میاشتو څخه دوه کاله (څلېرشت میاشتې) د رضاع برخه وټاکله شوه نو حمل ته فقط شپږ میاشتې پاتې شوې.

هوا د شوافعو علیهم الرحمة په نزد د حمل په اکثره موده کښې څه نص موجودیت نه لري، نو د ځینو حکایتونو په بنیاد یې څلور کاله ټاکلې ده(۳)، اما احناف علیهم الرحمة وايي چې د حمل اکثره موده دوه کاله ده چې وضاحت یې په راتلونکي توضیح کښې ـ ان شاء الله ﷻ ـ راروان دی.

## د رضاع موده

ح: شوافع علیهم الرحمة وايي چې: د رضاع (تی ورکولو) موده پوره دوه کاله ده لکه چې په [لقمان:۱۴] ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

اما أحناف علیهم الرحمة وايي چې: دا عبارت ﴿وَحَمۡلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًا﴾ په توزیع باندې محمول نه دی بلکې د هر یوه (حمل او فصال) دپاره جدا-جدا وختونه ټاکلی شوي دي(۴)، ته به وايې چې داسې نازل شوی دی چې: "وَحَمۡلُهُ ثَلَاثُونَ شَهۡرًا، وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهۡرًا".

خو څرنګه چې د حمل په ارتباط أم المؤمنین عائشې رضي الله عنها فرمایلي دي چې: «لا يَبۡقَى الۡوَلَدُ فِي رَحِمِ أُمِّهِ أَكۡثَرَ مِنۡ سَنَتَيۡنِ وَلَوۡ بِفَلۡكَةِ مِغۡزَلٍ»(۵) یعنې ماشوم د خپلې مور په رحم (ګېډه) کښې د دوه وو کالو څخه اضافه نه پاتې کېږي اګر که د څرخي د یو څل تاوولو په اندازه وي؛ نو په دې سره د حمل موده دوه وو کالو ته رابښکته شوه، اما د رضاع په هکله کوم کمونکی نص نشته نو موده یې په خپل حال (دوه نیم کاله) پاتې شوه.

---

(۱) تفسیر المظهري ج۸ ص۴۰۴
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۴۴۱؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۵۷
(۳) تفسیر المظهري ج۸ ص۴۰۴
(۴) کتاب الهدایه شرح البدایه في الفقه ج۲ ص۴۵
(۵) الفقه الإسلامي وادلته بحوالة البیهقي والدار القطني في سننیهما. که څه هم دغه حدیث موقوف دی خو حکماً مرفوع ګڼلی کېږي چې په شرعي مقادیرو کښې څوک په عقل سره اندازې نه شي ټاکلی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې هکله څه بیان د [البقرة:۲۳۳] ایت لاندې تېر شوي دي ـوالحمد لله ﷻ چې یو ځل کتل یې ګټور دي.

## سوالونه او جوابونه

ط: په دې مقام کښې په احنافو باندې لاندې سوالونه واردېږي:

اول: که څوک وایي: د عائشې رضي الله عنها حدیث خو خبر واحد دی چې ایت ته تغیر نه شي ورکولی، نو په څه دلیل تاسو د حمل موده د دوه نیم کالو څخه دوه وو کالو ته راښکته کړه؟

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د ﴿ وَحَمْلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا ﴾ جمله د خپلې معنی په اداء کولو کښې دوه احتماله لري او په دواړو احتمالونو کښې مشترکه ده چې یو احتمال یې شوافعو غوره کړی دی او بل احتمال یې احنافو، نو د هرې یوې محتملې معنی په اراده کولو سره موله ګرځي[1] او پوره واضحه ده چې تاویلي معنی اراده کول د قیاس حیثیت لري چې په خبر واحد سره تغیر مونډلی شي.

دوهم: که څوک وایي چې: د رضاع موده خو په [لقمان:۱۴] ایت کښې په صراحت سره دوه کاله تاکلې شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې په دې ایت کښې دوه نیم کاله ورسره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: په [لقمان:۱۴] ایت کښې د رضاع موده دوه کاله ښودلې شوې ده خو ایت شریف متباقي موده نفي کړې نه ده ترڅو اعتراض وارد شي بلکې په متباقي موده کښې ایت شریف ساکت پاتې دی[2]...خو په دې مقام کښې ورباندې شپږ میاشتې وراضافه شوې دي چې ټوله موده یې دوه نیمو کالو ته پورته شوه، او منافات به په هغه وخت کښې صورت نیولی وی چې ایت شریف متباقي موده نفي کړې وی.

دریم: که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې د رضاع موده په مرحلوي توګه تعین شوه او په یو ځل نازله نه شوه؟ یا په بل عبارت: د څه حکمت په بنیاد په رضاع کښې په همدغه ایت شریف باندې اکتفاء ونه کړی شوه په کوم کښې چې بحث روان دی؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ اعلم ـ چې د رضاع موده په مرحلوي توګه د دې دپاره وټاکله شوه ترڅو خلک د اشارې په توګه پوه کړی شي چې د رضاع اصلي موده فقط دوه کاله ده، او شپږ میاشتې اضافه مودې د غذا د بدلون په غرض صورت نیولی دی چې ماشوم پکښې د شودو عادت پرېږدي او د غذایي موادو د خوراک سره اموخت واخلي.

نو که بالفرض د [لقمان:۱۴] ایت نه وی نازل شوی نو ذکره شوې اشاره به پټه پاتې وی، حال دا چې ماشوم بدون د تدریج څخه په دفعي توګه خپل خوراک نه شي بدلولی.

څلورم: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د خوراک د بدلون شپږ میاشتې وټاکلې شوې؟

---

(۱) نور الانوار ص۸۵

(۲) الحسامي في أصول الفقه ص۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موندې وایو چې: څرنګه چې يو جنين د تولد په صورت کښې خپل خوراک په شېږو مياشتو کښې په شودو سره تبديلوي، همدارنګه کولی شي چې په همدغې موده کښې د شودو خوراک په غذايي خوراکونو سره عوض کړي.

پنځم: که څوک وايي چې: ايا په قرآن کريم کښې داسې شی شته چې په مرحلوي توګه يې ثبوت موندلی وي، ترڅو د رضاع د مودې دپاره يو نظير وګڼلی شي او د سړي زړه ورباندې مطمئن شي؟

موندې وايو چې: د دغسې مرحلوي ثبوت دپاره هغه موده يو نظير جوړېدلی شي کومه چې الله ﷻ د موسی ﷺ دپاره ټاکلې وه چې تورات پکښې ورکړی شي. لکه چې فرمايي: ﴿ وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ﴾ [الأعراف:١٤٢] يعنې موندې موسی ﷺ ته (د کتاب د ورکړې دپاره) دېرش شپې وعده ورکړه او (بيا) مو دېرش شپې په (نورو) لسو شپو سره پوره کړې نو د خپل رب ﷻ ميعاد يې څلوېښت شپې تمام (بشپړ) شو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

ي: که څوک وايي چې: په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ ﴾ کښې د "حَتَّىٰ" توری په څه شي پورې تعلق نيسي؟

موندې وايو چې: دغه توری په هغې مقدرې جملې پورې تعلق نيسي کومه چې د وړاندېنې کلام څخه فهمېږي چې موندې ترې په "فَعَاشَ بَعْدَ ذَٰلِكَ" سره تعبير کولی شو[1]. يعنې د بنيادم سره خپله مور مشکلات ګالي نو چې د رضاع د بشپړېدو څخه وروسته ژوندی پاتې شي، تردې چې "رُشْد" او څلوېښت کلنی ته ورسېږي.

يا: موندې د الله ﷻ په توفيق د ﴿ أَشُدَّهُۥ ﴾ کلمه د [الأنعام:١٥٢] ايت لاندې ښه تحليله کړې ده، او د [يوسف:٢٢] ايت لاندې مو د دغې کلمې متعددې معناوې ليکلې دي، والحمد لله ﷻ.

په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو ذکره شوې کلمه په هغه عمر باندې تفسيره کړې ده کوم چې د اتلس کالو څخه پيل کېږي او تر څلوېښت کالو پورې امتداد پيدا کوي[2].

مګر موندې ته دلته د شيخ المفسرين ابن جرير الطبري تفسير په زړه پورې برېښي چې درې دېرش کلن عمر يې ترې اراده کړی دی[3]، چې بدني قوت پکښې پوره اوج ته رسېږي.

موندې څکه دا تفسير غوره کړ چې په دې کښې تاسيس دی او په اولني تفسير کښې تاکيد دی چې په ﴿ أَرْبَعِينَ سَنَةً ﴾ سره تاکيد ګرځي، او څرګنده ده چې د تاکيد څخه تاسيس غوره دی.

## د نبوت عمر

يب: ځينې علماء کرام وايي چې د نبوت د ورکړې دپاره څلوېښت کلن عمر ضرور نه دی لکه چې

---

(۱) البحر المحيط ج۹ ص ۴۴۰
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۱۶۷
(۳) تفسير الطبري ج۲۶ ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ فرمایلي دي چي ﴿ وَءَاتَيْنَـٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴾ [مریم: ۱۲] یعنې مونږ یحیی ﷺ ته د ماشوتوب په حال کښې نبوت ورکړی وه (دوی د حکم تفسیر په نبوت سره کوي).

مګر اکثره علماء کرام همدغه څلویښت کلن عمر د نبوت د ورکړې دپاره ضرور ګڼي[1]، دوی وايي چي په ایت شریف کښې د ﴿ ٱلْحُكْمَ ﴾ معنی نبوت نه دی، او که بالفرض معنی یې نبوت شي نو مطلب به یې دا وي چي مونږ نوموړي ته په خپل علم کښې نبوت ورکړی وه چي پیغمبر به ترې جوړوو.

## تبصره

یځ څه لرې نه ده چي د نبوت د ورکړې دپاره به څلویښت کلن عمر ضرور نه وه، د الله ﷻ فضل خو څه محدودیت نه لري، مګر په دعوت باندې د مکلفیت دپاره به دغه عمر ضرور وه[2]، چي په دغه عمر کښې د سړي خبره په خلکو باندې اثر اچوي، او ماشوم که هرڅومره فاضل او هوښیار وي، څوک یې دعوت ته چندان ارزښت نه ورکوي، لکه څنګه چي د غلام یا زنانه وو دعوت د خلکو په نزد بې اعتباره وي.

## وزع څه معنی؟

یه: د ﴿ أَوْزِعْنِىٓ ﴾ کلمه اصلاً د "وَزْع" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوي ده چي د راغونډولو معنی ورکوي او مونږ د [النحل: ۱۷] ایت لاندې تحلیله کړې ده، والحمدلله ﷻ. خو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې په "اِلْهَام" سره تفسیره کړې ده[3] خو که "توفیق" ترې مراد واخستلی شي هم صحت به ولري.

## د چا تولہ کورنۍ صحابه وه؟

یه: د ﴿ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ ﴾ څخه پخپله قائل مراد دی چي الله ﷻ ورباندې د ایمان انعام کړی وه، او د ﴿ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ ﴾ څخه هغه مور او پلار مطلب دي چي په ایمان راوړلو سره مشرف شوي وه، او بالآخره په ﴿ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ ﴾ کښې د نوموړي اولادې ته اشاره شوې ده چي د اصلاح سوال یې ورته کړی دی، او امید دی چي قبول شوی به وي.

نو ځیني مفسرین کرام[4] لیکي چي د نبوت په زمانه کښې د أبو بکر الصدیق ؓ څخه په غیر بل هیڅوک داسې نه وه چي ذکر شوو دریوارو خاصیتونو پکښې موجودیت درلودلی وي او د کورنۍ ټول غړي یې صحابه کرام ګرځېدلي وي، حتی د نوموړي صحابي یو لمسی (أبو عتیق بن عبد الرحمن بن أبي بکر ؓ) هم صحابي وه[5] فهنیئًا له و تبریکًا له.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۸۲؛ تفسیر البحر المحیط ج۹ ص۴۴۰
(۲) تفسیر روح المعاني ج۲۶ ص۱۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۵۷
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۰۳؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۱۶۷
(۵) روح المعاني ج۲۶ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

٢_ په ﴿ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا ﴾ کښې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النحل:٩٦] ايت لاندې ئه تحقيق کړی دی چې د مطلب په خلاصه کښې مو ورته اشاره کړې ده، نو هيله ده چې هلته مراجعه وکړی شي ترڅو دا مقام ښه پوره واضحه وګرځي.

## يو نحوي تحليل

٣_ په ﴿ وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ ﴾ کښې د "الَّذِي" کلمه مفرده ده خو معنًى ترې جمعه مراده ده، دغه کلمه د خپلو ټولو متعلقاتو په شمول مبتدا ده او ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ ﴾ د خپلو متعلقاتو سره يې خبر دی. يعنې هغه کسان کوم چې د خپلې مور او پلار سره هغسې سوال جواب کوي کوم ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده همدغه هغه کسان دي چې د الله ﷻ د عذاب خبره وربانديې ثابته شوې ده چې هرو مرو به په دوزخ کښې اچولی کېږي.

## عَاق د چا لقب دی؟

٤_ څوک چې د خپل پلار او مور بې اطاعتي کوي د نېکو په عوض ورسره بد کوي هغه ته په عربي لغت کښې د "عَاق" کلمه وضعه شوې ده، چې په مقابل کښې يې د "بارّ" کلمه استعمالېږي[١] يعنې هغه څوک چې د خپل مور او پلار اطاعت کوي او د خپه کولو څخه يې خپل ځان ژغوري.

د "عَاق" کلمه د "عُقُوق" څخه اشتقاقه شوې ده چې د پرېکون معنى ورکوي[٢]. او دا ځکه چې د خپل پلار او مور په بې اطاعتۍ کښې د پرېکون او د صله رحمۍ د غوڅولو معناوې نغښتې دي.

لومړی شی چې سړې وربانديې د "عَاقُ الوَالِدَين" لقب ګټي هغه د "أُفّ" د کلمې اورول دي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ ﴾ [الإسراء:٢٣] يعنې ته خپل مور او پلار ته د "أُفّ" کلمه هم مه اوروه.

په دې مقام کښې د عاق الوالدين په خاصيتونو کښې دا کلمات هم نازل شوي دي چې ﴿ وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ ﴾ يعنې او هغه څوک چې خپلو والدينو ته ووايي چې: تاسو دواړو ته دې "أُفّ" وي چې زه مو په خپلو نصيحتونو سره زړه تنګی کړم.

## يو تذکر

٥_ په ﴿ وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ ٱللَّهَ ﴾ کښې د ﴿ يَسْتَغِيثَانِ ﴾ کلمه اصلاً د "غَوْث" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنفال:٩] ايت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده، هيله ده چې هلته مراجعه وکړی شي.

﴿ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۖ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ

(١) القاموس المحيط ج٣ ص٢٧٧

(٢) لسان العرب ج١٠ ص٢٥٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا فَٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾

[١٩] او هرې يوې ډلې (مؤمنانو او كافرانو) ته (د جزا د حيثه) د هغو كړو وړو د كبله مختلف مراتب دي كوم چې دوى (دوارو ډلو په دنيا كښې) عملي كړي دي. او د دې دپاره (ورته مراتب وټاكلى شوه) ترڅو چې دوى (ټولو) ته د خپلو عملونو (جزا) په داسې حال كښې پوره وركړى شي چې ظلم (او تيرى) ورباندې نه وى كړى شوى.

[٢٠] او هغه ورځ (ياده كړه) چې كله هغه كسان په اور باندې وروړاندې كړى شي كومو چې كفر غوره كړى دى (او د مرګ تر وخته پورې ورباندې كلك دي).

(په دغې ورځ كښې به ورته وويلى شي چې:) تاسو خپل لذتونه (او د ښو اعمالو ثمرات) په خپل نژدې (او حقير) ژوند كښې بېولي دي (تير كړي دي) او ګټه مو پرې اخستې ده، نو نن ورځ به تاسو ته په سپكوونكي عذاب سره په دې سبب جزا دركړى شي چې تاسو به په ځمكه كښې په ناحقه تكبر كاوه او په دې سبب چې تاسو (په دنيا كښې) وىٔ چې فسق به مو كاوه (چې عقيدةً او عملاً به د شرعي چوكات څخه په مستمره توګه وتلې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو كښې د هغو دوه وړ ډلو أخروي نتائج بيان شوي دي كومو ته چې وړاندې په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُواْ ﴾ [الأحقاف ١٣] ايت او په ﴿ وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ ﴾ [الأحقاف ١٧] ايت كښې اشارې شوې دي، نو حاصل يې داسې راځېږي.

اى پيغمبره! اوس په خپل أمت باندې د متقيانو او منحرفانو د أخروي نتائجو څه بيان قرائت كړه هغه دا چې

١ـ د دغو دوارو ډلو څخه د هرې ډلې دپاره د قيامت په ورځ جداجدا مراتب او درجات دي، چې متقيان به په جنت كښې مختلفې رتبې ولري او منحرفان به په دوزخ كښې د دركاتو په تفاوت سره پراته وي

٢ـ څكه د هرې ډلې دپاره مختلف درجات وركړى شوه ترڅو د الله ﷻ د پلوه دغو دوارو ډلو ته د خپلو اعمالو او كړو وړو نتائج ښه پوره وركړى شي حال دا چې ظلم او تيرى ورباندې نه وي كړى شوى چې متقيانو ته پوره اجر وړنه كړى شي او منحرفانو ته د خپل استحقاق څخه اضافه تعذيب وركړى شي

٣ـ په دې باندې علاوه كله چې د دوزخ اور ته منحرفان يا هغه كسان كومو چې كفر غوره كړى دى ورواچولى شي نو د تخجيل او توبيخ دپاره به مخاطب كړى شي چې

اى كفارو! تاسو ته څكه د متقيانو په څېر د جنت نعمتونه او پاكيزه ميوجات درنه كړى شوه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو هغه په خپل حقير دنياوي ژوند کښې د منځه وړي او ضائع کړي وه. يا په بل عبارت: تاسو د دنياوي نعمتونو څخه په داسې توګه استفاده کړې ده چې آخرت مو بالکل د نظره غورزولی وه او ستاسو په خيال کښې هم نه تېرېده چې قيامت به قائم او حساب کتاب به پيل شي.

لنډه دا چې نن ورځ تاسو ته سپکوونکی عذاب د دې کبله د سزا په حيث وټاکل شو چې:

الف: تاسو په دنيا کښې په ناحقه تکبر کاوه او د الله ﷻ پيغمبرانو ته مو په سپک او حقير نظر کتل چې دوی ټول دروغژنان دي.

ب: تاسو په دنيا کښې وئ چې په دوامداره توګه مو فسق غوره کړی وه او د الله ﷻ ټولو احکامو ته مو -عقيدوي احکام وه او که عملي- شا وراړولې وه.

## توضيحات

۱- په ﴿وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿وَلِكُلٍّ﴾ کښې تنوين د مضاف اليه عوض دی چې مونږ ترې په "وَلِكُلٍّ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ" سره تعبير کولی شو[۱]. يعنې د هرې يوې ډلې دپاره د الله ﷻ په نزد متعدد درجات دي، نو جنتيان په جنت کښې بېې برېمانه درجې لري او دوزخيانو ته په دوزخ کښې متفاوت ځايونه شته دي.

ب: د ﴿دَرَجَٰتٌ﴾ کلمه د "دَرَجَة" جمعه ده. لکه چې د "دَرَكَات" کلمه د "دَرَكَة" جمعه ده، دواړه کلمې په خپل منځکښې اعتباري فرق لري، چې د ذهنې پورېو ته د پورته کېدلو په ملحوظ "درجات" وايي او د ښکته کېدلو په ملحوظ د "درکات" په نامه يادېږي[۲].

نو په جنت کښې د "درجات" کلمه استعمالېږي او په دوزخ کښې د "درکات" کلمه، اما په دې مقام کښې د تغليب په توګه دواړه د "درجات" په کلمه سره اداء شوي دي.

ج: مونږ د الله ﷻ په توفيق د جنتيانو درجات د يوه حديث شريف په رڼا کښې د [النساء: ۹٦] او د [الكهف: ۱۰۷] ايتونو لاندې واضحه کړي دي، چې سل درجې دي او د هرو دوه وو درجو ترمنځ دومره لرېوالی دی لکه د ځمکې او اسمان ترمنځ. همدارنګه مو د [النساء: ۱۴۵] ايت لاندې د دوزخ په درکاتو باندې څه رڼا اچولې ده، والحمد لله ﷻ.

د: په ﴿مِّمَّا عَمِلُوا۟﴾ کښې د "مِن" توری أجليه دی[۳]. يعنې د دواړو ډلو د درجاتو تفاوت د دوی د اعمالو او کړو وړو د کبله صورت نيولی دی.

هـ: په ﴿وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ﴾ کښې د "ل" توری د هغې جملې پورې تعلق نيسي کومه چې د "و" د توري څخه وروسته مقدره ده[۴]، چې مونږ ترې په "عَيَّنَتْ لِكُلٍّ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ دَرَجَات" سره تعبير کولی

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۸
(۲) مفردات الراغب ص۱۷۰
(۳) نظم الدرر ج۷ ص۱۳۲
(۴) البحر المحيط ج۹ ص۴۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو. یعني او د هرې یوې ډلې (مستقیمین وي او که منحرفین) د دې دپاره درجات پاکلي شوي دي ترڅو هرې یوې ډلې ته د خپلو اعمالو سزا یا جزا پوره ورکړې شي.

## طیبات څه معنی؟

۲_ په ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې د "طَيِّبَات" کلمه ډېرې معناوې لري[۱]، مفسرینو کرامو په دې مقام کښې په دوه ډوله تفسیره کړې ده او په دواړو ډولونو کښې د ذکرې شوې جملې دپاره د ﴿ وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا ﴾ جمله تفسیر واقع شوې ده[۲] هغه دا چې:

الف_ د "طَيِّبَات" کلمه دلته د لذتونو (مزو چړچو) معنی ورکوي[۳]. یعني کفارو ته به د قیامت په ورځ وویلی شي چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه د لذتونو او خوندونو څه برخه پاکلې وه خو تاسو هغه په دنیا کښې پوره کړې ده او په آخرت کښې ستاسو دپاره هیڅ برخه نشته نو په دوزخ کښې به تاسو همېشه دپاره پراته یاست. دغه مضمون ته په ډېرو نصوصو کښې اشاره شوې ده، د مثال په توګه

اول_ الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴾ [الشورى: ۲۰] یعني او هر څوک چې (یوازې) د نړدې کور کښت (ګټې) غواړي (او آخرت یې هېر کړی وي) نو مونږ به ورته (د خپلې ارادې په مطابق) ګټې ورکړو او دغه کس ته به آخرت کښې (د ګټو وټو) هیڅ برخه نشته.

دوهم_ په ډېر اوږده حدیث کښې یوه ورځې عمر بن الخطاب ﷺ نبي کریم ﷺ ته وویلې چې: ای د الله رسوله! د الله ﷻ څخه وغواړه چې ستا په أمت باندې پراخي راولې چې یقینًا په فارسیانو او رومیانو باندې یې پراخي وروستلې ده، حال دا چې هغوی په وحدانیت سره عبادت نه کوي او په وحدانیت یې نه پېژني. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا»[۴] یعني دغه کفار (فارسیان او رومیان) داسې قومونه دي چې په نړدې ژوند کښې ورته جل خوندونه په عجلې سره ورکړی شوي دي (او په آخرت کښې هیڅ برخه نه لري، او مونږ ته به لذتونه په آخرت کښې راکولی کېږي).

ب_ په ذکرې شوې کلمې سره په دې مقام کښې اجرونه او ثوابونه مطلب دي[۵]. یعني که څرنګه کفار په اخلاص سره (د الله ﷻ د رضامندی حاصلولو دپاره) څه نېک کارونه وکړي نو الله ﷻ به ورته په دنیا کښې اجرونه او عوضونه ورکړي خو په آخرت کښې به هیڅ برخه ونه لري، حتی چې خینې هغه کفار به کومو چې نېک کارونه کړي دي وایي چې هغه نېکۍ څه شوې کومې چې مونږ په دنیا کښې کړې وې (آیا د هغو اجرونه مونږ ته نه راکولی کېږي؟ په جواب کښې به ورته د ذکر

(۱) لسان العرب ج ۱ ص ۵٦۳
(۲) ... المعاني ج ۲٦ ص ۲۳
(۳) تفسیر القرطبي ج ۱٦ ص ۲۰۰
(۴) صحیح الترمذي ج ۲ ص ۱٦۹
(۵) أضواء البیان ج ۷ ص ۳۹۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي ایت مضمون واوروله شي چې تاسو ته په دنیا کښې د نېکو اعمالو اجرونه درکړی شوي دي او د آخرت دپاره مو هیڅ اجر پاتې نه دی[1]. د کفارو نېک کارونه دا دي لکه د والدینو حقوق چې ادا، کړي، د خپلوانو سره صله رحمي وکړي، د فقیرانو سره خواخوږي وکړي، د مېلمنو اکرام او عزت وکړي، یا لکه د مهاجرینو اړتیاوې پوره کړي او داسې نور صالح عملونه.

ذکر شوي مضمون ته په ډېرو نصوصو کښې اشاره شوې ده لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴾ [هود:۱۵] یعنې هرڅوک چې (په خپلو نېکو اعمالو سره) نژدې ژوند او ډول (سنګار) اراده کوي نه دوی ته به د خپلو اعمالو (اجر او نتیجه) په دنیا کښې پوره ورکړو حال دا چې (د استحقاق) د کمبود سره به مخامخ نه کړی شي.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلَّهِ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الْآخِرَةِ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا»[2] یعنې یقیناً الله ﷻ په مؤمن کس باندې د نېکۍ په اجر کښې ظلم نه کوي، چې په دنیا کښې ورباندې (اجر) ورکوي او په آخرت کښې هم پرې جزا (ثواب) ورکوي. او هر چې کافر کس دی نو الله ﷻ په هغو نېکیو سره په دنیا کښې (عوض) ورکوي کومې چې هغه د الله ﷻ دپاره عملي کړې وي (او بس)، آن تردې چې کله نوموړی آخرت ته ورسېږي نو هغه ته به یوه نیکي هم نه وي چې جزا ورباندې ورکړی شي.

## تبصره

۳ـ مونږ ته ذکر شوي دواړه تفسیرونه په زړه پوري برېښي، نو که د "الطَّيِّبَات" د کلمې څخه د "مَا يُطْلَقُ عَلَيهِ الطَّيِّبَات" په ملحوظ دواړه اراده کړی شي ډېر به ښه وي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: ذکر شوي ایتونه خو د کفارو په هکله نازل شوي دي لکه چې په عین ایتونو کښې ورباندې د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ او ﴿ كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ جملې دلالت کوي. نو پوښتنه دا ده چې په څه وجه سلفو صالحینو د همدې ایتونو د ډاره د دنیاوي لذتونو څخه اعظمي استفاده نه کوله، لکه چې ځینو مفسرینو کرامو یې ښې ډېرې قیصې راحکایت کړې دي[3]؟

مونږ وایو چې: که څه هم سلف صالحین د دغو ایتونو په مراد باندې ډېر ښه پوهېده او د نبي کریم ﷺ حدیث هم ورته معلوم وه چې: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يَرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ»[4] یعنې الله ﷻ

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص ۱۶۰

(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۶ ـ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۶۴

(۳) تفسیر الخازن ج۵ ص۴۸۴ ـ تفسیر المظهری ج۸ ص۴۰۹

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوښوي چې د خپلو نعمتونو اثار د ده ﷻ په بنده باندې وليدلی شي؛ مګر هغوی د زيات زهد او تقوی د کبله د دنياوي نعمتونو څخه اعظمي استفاده نه کوله ترڅو د کفارو سره په مشابهت کښې واقع نه شي، او داسې يې ګڼل لکه چې د اشارې په توګه د استفادې څخه منعه کړی شوي وي[1].

نو د دنياوي نعمتونو په ارتباط د سلفو صالحينو کړنلاره د پرښتو خوف (ډار) ته ورته وه، پرښتې ښې پوهېږي چې د الله ﷻ د پلوه ورته عذاب نه متوجه کېږي خو د دې سره-سره ترې ډارېږي، لکه چې الله ﷻ فرمايي ﴿ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ ﴾ [النحل: ٥٠] يعنې د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي چې په علم او قدرت کښې ورباندې دپاسه دی.

﴿ وَٱذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُۥ بِٱلْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦٓ
أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ
ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم
مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَـٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ
قَالُوا۟ هَـٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۚ بَلْ هُوَ مَا ٱسْتَعْجَلْتُم بِهِۦ ۖ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ
شَىْءٍۭ بِأَمْرِ رَبِّهَا فَأَصْبَحُوا۟ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَـٰكِنُهُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٥﴾ ﴾

[٢١] (ای پيغمبره!) د عاديانو ورور (هُود ﷺ) ياد کړه، څه وخت يې چې خپل قوم په الأحقاف (ريګستان) کښې (د الله ﷻ د عذابه) وډار کړ، حال دا چې د هُود ﷺ څخه وړاندې هم ډاروونکي (پيغمبران) تېر شوي وه او وروسته يې هم (نور پيغمبران ور روان وه).

(ډارول يې داسې وه) چې تاسو عبادت مه کوئ مګر (يوازې) د الله ﷻ (او بس) يقيناً زه په تاسو باندې د لويې ورځې د عذابه ډارېږم (چې درباندې نازل به شي).

[٢٢] عاديانو (په جواب کښې) وويلې چې: (ای هوده!) ايا ته مونږ ته د دې دپاره راغلی يې چې مونږ د خپلو معبودانو (د عبادت) څخه واړوې؟ نو مونږ ته هغه عذاب راوله په کوم سره چې ته مونږ ته وعده راکوې (او ورباندې ډاروې مو) که چرته ته د رښتيا ويونکو څخه يې.

[٢٣] هود ﷺ وويلې چې: يقيناً (د عذاب د نزول) علم يوازې د الله ﷻ په نزد دی (او بس زه پرې نه پوهېږم) او زه تاسو ته هغه شي ابلاغوم (رسوم) په کوم سره چې زه (تاسو ته) استولی شوی يم، مګر زه تاسو ګورم چې داسې قوم ياست چې په دوامداره توګه ناپوهي خپلوئ (چې زما څخه غير معقولې غوښتنې کوئ).

(١) المحرر الوجيز ج١٥ ص١٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۴] نو کله چې عادیانو موعود عذاب په داسې حال کښې ولید چې د وریځې په شکل وه (او د همدوی ناوبې ته مخ کوونکې وه (همدوی ته وررروان وه)، نو د خوشالۍ په حال کښې یې ووېلې چې دغه پلنه وریځ ده چې په مونږ ورووونکې ده (دغه ده چې د أفق څخه راپورته شوه).

(هود ﷺ د هغوی خبره رده کړه چې دا وروونکې وریځ نه ده) بلکې دا هغه عذاب دی په کوم سره چې تاسو جلتې کوله (او په چالاکۍ باندې مو غوښت، دا په حقیقت کښې داسې تېز باد دی چې دردناک عذاب پکښې نغښتی دی.

[۲۵] (داسې باد دی) چې د خپل رب ﷻ په امر سره هر شی هلاکوي.

نو (کله چې ورباندې ورنازل شو) عادیان داسې وګرځېدل چې په سترګو نه لیده کېده مګر د دوی کورونه (چې خالي پراته وه).

(ای پیغمبره!) مونږ جنایتکار (او مجرم) قوم ته دغسې جزا ورکوو (نو په کار دي چې ستا د زمانې مجرمان هم ودار شي او ایمان راوړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندې ایتونو کښې د اعراض کوونکو او په ناحقه د تکبر کوونکو د څه أخروي حالاتو بیان نازل شوی وه ترڅو هغوی خپله کفري او شرکي عقیده پرېږدي، او په دې ایتونو کښې د همدغه مطلب دپاره د عادیانو قیصې ته اشاره شوې ده او د دنیاوي عذاب یو مثال ښودلی شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل دعوتي أمت باندې د هود ﷺ د قوم څه حالات قرائت کړه چې د هود ﷺ د دعوت په نتیجه کښې د څنګه عذاب سره مخامخ شوه. هغه دا:

۱ــ مونږ هود ﷺ د خپل قوم (عادیانو) د دعوت دپاره استولی وه چې د حالاتو څه تفصیل یې دا دی:

الف: ته هغه وخت د دې زمانې خلکو ته وریه یاد کړه چې هود ﷺ خپل قوم د الله ﷻ څخه ودار کړ چې کفري عقیده پرېږدئ او د توحید عقیده خپله کړئ.

ب: دغه قوم چې د عادیانو څخه عبارت دی، د "الأحقاف" په مقام کښې اوسېده چې د دې زمانې د خلکو څخه پټ نه دي او تول یې پېژني.

ج: هود ﷺ د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر وه چې وړاندې ترې هم پیغمبران تېر شوي وه او وروسته ترې هم تېرېدونکي وه. یا په بل عبارت: هود ﷺ نه اولنی پیغمبر وه او نه وروستنی. خو د دې سره ـ سره خپل قوم ورته د تعجب په نظر وکتل او ایمان یې ورباندې رانه ووړ.

د: د هود ﷺ دعوت د نورو پیغمبرانو د دعوت په څېر په توحید باندې ولاړ وه چې: ای زما قومه! تاسو د بل هیچا عبادت مه کوئ مګر یوازې د الله ﷻ، چې د عبادت مستحق دی او بس.

هـ: ای زما قومه! یقیناً زه په تاسو باندې د ډېرې لویې هولناکې ورځې د عذابه دارېږم چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د پلوه به درباندې د خپلو کفرياتو او شركياتو د امله درنازل کړی شي او د نجات هیڅ لاره به ترې مونده نه کړئ.

۲_ عادیانو د هود ﷺ د دعوت په رد کښې وویلې چې:

الف: ای هوده! ایا ته غوارې چې په خپل دعوت سره مونږ د خپلو معبودانو د عبادت څخه واړوې، حال دا چې دغه عبادت مونږ ته د خپلو پلرونو څخه راپاتې دی.

ب: مونږ به هیڅکله د خپلو معبودانو عبادت پرېنږدو، او هیڅکله به ستا په تهدید باندې د عذابه ونه ډار شو، نو هله ژر شه هغه عذاب په مونږ باندې رانښکته کړه په کوم باندې چې ته مونږ ډاروې او وعده یې راکوې، که ته بې شکه د صادقانو څخه یې او په خبره (وعده) کښې دروغژن نه یې نو دا کار وکړه.

۳_ هود ﷺ د خپل قوم په جواب کښې وویلې چې:

الف: زه یقین لرم چې که تاسو خپل کفري حالت ته ادامه ورکړئ نو ضرور به درباندې عذاب درنازل شي، اما زه په دې نه پوهېږم چې دا به کله وي، او دا ځکه چې یقینًا د عذاب د نزول علم فقط د الله ﷻ په نزد دی.

ب: که بالفرض المحال د عذاب نزول زما په لاس وی نو ماته به یې د نزول وخت هم معلوم وی او تاسو ته به مې ابلاغ کړی وی، او دا ځکه چې: زه تاسو ته فقط هغه شی ابلاغوم په کوم سره چې زه تاسو ته د الله ﷻ د پلوه را استولی شوی یم او بس.

ج: که څه هم زه تاسو ته د عذاب د نزول وخت نه شم ټاکلی مګر زه تاسو ګورم او پوهېږم چې تاسو یو قوم یاست چې په دوامداره توګه په نادانۍ او جهالت کښې پراته یاست، د همدې کبله زما څخه هغه شی غواړئ کوم چې زما په وظائفو کښې شامل نه وي.

۴_ عادیانو ته د عذاب د نزول وخت ورسېد نو دغه عذاب یې د یوې وریځې په شکل کښې ولید چې د هغوی ډاګرنو او ځړخایونو ته متوجه او ورروان وه.

۵_ عادیانو دغه وریځ ډېره ښه استقباله کړه او ورته خوشاله شوه چې دغه وریځ ده چې په مونږ باندې د باران ورېدونکې ده، د همدغه باران په اثر به زمونږ وطن تروتازه جوړ شي او ډاګونه به مو د څړ دپاره ښه پوره اماده شي.

۶_ په دغه وخت کښې هود ﷺ هغوی مخاطب کړه او ورته یې وویلې چې:

الف: دغه نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ چې دا د باران ورونکې وریځ ده، بلکې په دغې وریځ کښې هغه عذاب نغښتی دی کوم چې تاسو په عجله سره غوښت او درته دروغ برېښېد.

ب: په دغې وریځ کښې ستاسو په لور ډېر سخت باد در روان دی چې اوه شپې او اته ورځې به په تاسو باندې په دوامداره توګه وچلېږي.

ج: په دې کښې تاسو ته دردناک عذاب درتلونکی دی د کوم خبر چې ما تاسو ته وراندې درکړی وه خو تاسو وړاندې باور نه کاوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: دغه وريځ داسې ده چې د خپل رب ﷻ په امر سره به هر شی هلاک او پوپنا کړي.

٧_ په نتيجه کښې همدغسې وشوه نو د عاديانو توله سيمه داسې وګرځېده چې د خالي مساکنو (ابادیو) څخه په غير يې هيڅ شی نه ليده کېده، او ټول پوپنا شوه.

٨_ ای پيغمبره! زمونږ چې اراده وشي په هره زمانه کښې جنايتکارانو او مجرمانو ته دغسې دنياوي جزا ورکوو، او د آخرت جزا لا ورته په وړاندې پرته ده.

## توضيحات

١_ په ﴿ وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ په خپله دعاء کښې وويلې چې: «يَرْحَمُنَا اللهُ وَأَخَا عَادٍ»[1] يعنې الله ﷻ دې په مونږ باندې او د عاديانو په نسبي ورور (هود ﷺ) باندې رحم وکړي.

ب: شايد چې هود ﷺ به د أخ (ورور) په لقب د دې دپاره ياد شوی وي چې د ده ﷺ په زياتې خواخوږۍ باندې دلالت وکړي چې خپل قوم ته يې د پر اخلاص درلود.

ج: په ﴿ بِٱلۡأَحۡقَافِ ﴾ کښې د "أحْقَاف" کلمه د "حِقْف" _لکه "عِلْم"_ جمعه ده، "حِقْف" هغې شګلنې غونډۍ ته وايي چې ګرده ورده او يا اوږده وي، خو چې لوړوالی يې د غره څخه کم وي[2].

د هود ﷺ اصلي ټاټوبی په دغه نامه ځکه نومولی شوی دی چې دغه ټاټوبی ټول د شګو غونډۍ غونډۍ وه، او د يمن او حضر موت په شاوخوا کښې يې موقعيت درلود[3].

د: امکان لري چې د هُود ﷺ په ټاټوبي به د "الأحْقَاف" په نامه د دې کبله صراحت شوی وي چې د مکې خلکو دغه وطن پېژاند او ورته معلوم وه.

هـ: د ﴿ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ ﴾ جملې مضمون د هغې جملې مضمون ته ورته دی کومه چې وړاندې تېره شوې ده او نبي کريم ﷺ يې په ويلو مکلف ګرځولی شوي وه چې: ﴿ قُلۡ مَا كُنتُ بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ ﴾ [الأحقاف:٩] يعنې ورته ووايه چې زه داسې پيغمبر نه يم چې زما څخه وړاندې د پيغمبرانو څخه هيڅوک نه وي مبعوث شوی (نو تاسو ته زما نبوت ولې نااشنا برېښي او انکار ترې کوئ).

و: بالآخره، د ﴿ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴾ څخه په دې مقام کښې دنياوي بده ورځ مطلب ده چې لوی عذاب پکښې نازل شي، لکه چې په راتلونکي متصل ايت کښې وربانديې د ﴿ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ ﴾ کلمات دلالت کوي.

## د "عارض" معنی

٢_ په ﴿ فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا ﴾ کښې د "عَارِض" کلمه دلته د هغې وريځې څخه عبارت ده کومه چې

(١) سنن ابن ماجه ص٢٧٤

(٢) لسان العرب ج٩ ص٥٢؛ القاموس المحيط ج١ ص٦٧٨

(٣) تفسير ابن كثير ج٤ ص١٦٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په أفق کښې راڅرګنده شي او د وربښت تمه ورته کېږي(١).

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دغه کلمه د ﴿ رَأَوْهُ ﴾ د منصوب ضمير څخه حال واقع شوې ده کوم چې د کنايې په توګه د موعود عذاب معنی ورکوي(٢). يعنې کله چې عاديانو خپل موعود عذاب په داسې حال کښې وليد چې د وريځې شکل يې درلود او د أفق څخه ورپورته شو او د همدوی خوا ته ورمخ کوونکی او ورتلونکی وه.

## دا څه ډول عذاب وه؟

٣ـ کوم عذاب ته چې په دې ايتونو کښې اشاره شوې ده هغه په "الْحَاقَّة" سورت کښې لږ څه په تفصيل سره نازل شوی دی، او مونږ هم ورباندې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:٧٢] ايت لاندې څه رڼا اچولې ده، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ»(٣) يعنې ما ته د الله ﷻ د پلوه د خندق په غزا کښې په "صبا" باد سره نصرت راکړی شو او عاديان په "دَبُور" باد سره هلاک وګرځولی شوه.

"صَبَا" د ښکېنې باد نوم دی چې د مشرق د پلوه چلېږي او "دَبُور" د پاسنې باد نوم دی چې د مغرب د پلوه جريان لري او مونږ ورته په پښتو کښې د "برو" باد وايو.

ب: يوه ورځې عائشې رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ څخه وپوښتل چې ای د الله رسوله! خلک وريځې ته خوشالېږي او د باران تمه ورته لري خو ته چې کله وريخ وګورې نو په مبارک مخ کښې دې ناخوښي څرګندېږي دا څه وجه ده؟ نبي کريم ﷺ ورته په جواب کښې دا هم وويلې چې: «وَقَدْ رَأَى قَوْمٌ الْعَذَابَ فَقَالُوا ﴿ هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا ﴾ »(٤) يعنې (په پخوانيو زمانو کښې) يوه قوم (عاديانو) خپل عذاب د وريځې په شکل کښې لېدلی وه نو ويلي يې وه چې دغه داسې وريخ ده چې په مونږ باندې د وروونکې ده (حال دا چې خيره هغسې نه وه، نو زه ډارېږم چې په وريخ کښې عذاب نغښتی نه وي).

﴿ وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ إِذْ كَانُوا۟ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرْبَانًا ءَالِهَةًۢ

(١) لسان العرب ج٧ ص١٧۴
(٢) تفسير ابي السعود ج٨ ص٨۶
(٣) صحيح البخاري ج١ ص١۴١
(۴) صحيح مسلم ج٢ ص٢٩۵، صحيح البخاري ج٢ ص٧١۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿بَلْ ضَلُّواْ عَنْهُمْ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾﴾

[٢٦] او (ای مشرکانو!) یقیناً مونږ عادیان په هومره نعمتونو کښې اوسولي وه چې تاسو مو پکښې نه یاست اوسولي (هغوی ستاسو څخه په عمرونو او امکانیاتو کښې زیات وه).

او (همدارنګه) مونږ هغوی ته غوږونه او سترګې او (هم) زړونه ګرځولي (ورکړي) وه (خو د دې سره‌سره هغوی په ایات الله ملنډې وهلې)، نو د هغوی څخه نه د هغوی غوږونو د عذاب د څه برخې مخنیوی وکړ او نه یې سترګو او (هم) نه یې زړونو (او هوښیاری، البته) په کوم وخت کښې چې هغوی د الله ﷻ د ایتونو څخه په دوامداره توګه انکار وکړ او هغه عذاب ترې راچاپېر شو په کوم سره چې هغوی د استمرار په ډول ملنډې وهلې.

[٢٧] او (ای مشرکانو!) مونږ ستاسو چارچاپېره ډېر هلاک کړي دي چې د ښارونو څخه عبارت دي، او حال دا چې مونږ ورته بیا-بیا خپل دلائل بیان کړي وه، شاید چې دوی (توحید ته) راجع شي (خو داسې یې ونه کړه او هلاک کړی شوه).

[٢٨] نو د هلاکو کړی شوو ښارونو (او قومونو) سره هغو بوتانو ولې کومک ونه کړ کوم یې (چې په خپل ګومان) په داسې حال کښې معبودان نیولي (او ګرځولي) وه چې دوی الله ﷻ ته د نژدېکت وسائل دي. (بوتانو ورسره مرسته ونه کړه) بلکې (د مرستې کوونکو په حیث) ترې ورک شوه.

(ای پیغمبره!) دغه د هلاکو شوو ښارونو (او قومونو) د دروغو نتیجه وه (چې بوتان شفاعت کولی شي) او هم یې د هغو (دروغو نتیجه وه) کوم چې په دوامداره توګه هغوی وه چې جوړول به یې (چې الله ﷻ په عبادت کښې شریکان لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د عادیانو د قیصې په تعقیب مشرکان متوجه کړی شوي دي چې عبرت ترې واخلي ترڅو د هغه حال سره مخامخ نه شي د کوم سره چې هغوی مخامخ شوي وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! زمونږ د پلوه مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

١ ـ ای مشرکانو! تاسو لاندې ټکو ته متوجه شئ ترڅو درته په ګټه تمام شي:

الف: یقیناً مونږ عادیانو ته ستاسو په نسبت ډېر نعمتونه ورکړي وه، هغوی ډېر مالداران وه او ډېر ثروتونه یې درلوده، او هم یې عمرونه اوږده وه.

ب: هغوی ته مو ستاسو غوندې غوږونه (سامعه قوې) ورکړې وې چې د ناصحانو خبرې او نصیحتونه ورباندې واورې، او سترګې مو هم ورکړې وې چې د الله ﷻ د توحید کونیه دلایل ورباندې وګوري او بالآخره هغوی ته مو ښه هوښیار زړونه هم ورکړي وه چې د خپلو عقلونو څخه کار واخلي او توحیدي عقیده خپله کړي.

ج: خو هغوی د ذکرو شوو کارونو څخه یو هم ترسره نه کړ، چې نه یې د پیغمبرانو نصیحت ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوږ کېښود، نه یې کونیه دلایلو ته وکتل او بالآخره نه یې خپل عقلونه په کار واچول چې په خپلو کړنو کښې یې سرونه ښکته کړي وی چې د عذاب مخه یې ترې اړولې وی.

د: لنډه دا چې عادیانو نه د افاقي دلایلو څخه کار واخست او نه یې د انفسي دلایلو څخه ګټه پورته کړه، نو د همدې کبله یې د الله ﷻ په ایتونو سره خپل جحود او انکار ته ادامه ورکړه او په انکار باندې علاوه ملنډې او مسخرې یې هم وربانديې ووهلې.

هـ: نو په نتیجه کښې د هغوی څخه هغه عذاب راچاپېر شو کوم یې چې د استهزاء او ملنډو په سبب د خپلو خانونو دپاره ګټلی وه. یا په بل عبارت: د خپلو کړو وړو څخه ورته دردناک عذاب جوړ شو.

و: ای مشرکانو! مونږ ستاسو په شاوخوا کښې د عادیانو په شمول ډېر ښارونه سرچپه کړي او هلاک کړي دي، تاسو خو وګرځئ راوګرځئ ترڅو د هغوی کنډوالي خایونه په خپلو سترګو وګورئ او عبرت ترې واخلئ لکه ثمودیان، د لوط ﷺ قوم او داسې نور.

ز: هسې نه چې مونږ هلاکو کړی شوو ښارونو ته خپل دلایل نه وه وراوړولي بلکې مونږ بیا بیا په تکراري توګه هغوی په خپلو دلایلو سره د دې دپاره اګاه کړي وه ترڅو هغوی د کفرياتو څخه لاس واخلي او د الله ﷻ په توحید عقیده وکړي، خو هغوی دا کار ونه کړ او په نتیجه کښې د هلاک سره مخامخ شوه.

۲_ نو ای پیغمبره! اوس ستا د زمانې کفارو او مشرکانو ته پوښتنه راجع کېږي چې: ای مشرکانو! تاسو وواياست چې د ذکرو شوو هلاکو شوو قومونو سره هغو بوتانو ولې مرسته ونه کړه کوم یې چې د دې دپاره د الله ﷻ څخه په غیر معبودان نیولي وه چې الله ﷻ ته به یې د ورنږدېکت شفاعت وکړي او د عذاب څخه به یې خلاص کړي. ایا د نجات توان یې درلودلی شو؟.

یقیناً نه یې نجات ورکړ او نه یې د نجات توان درلود بلکې د نصرت او نجات ورکولو په حیث ترې بالکل ورک او لا درکه شوه.

۳_ ای پیغمبره! دغه د پخوانیو هلاکو شوو قومونو د هغو دروغو نتیجه وه چې بوتان به ورته شفاعت وکړي، او هم یې د هغو دروغو نتیجه وه کوم چې په دوامداره توګه هغوی وه چې په الله ﷻ باندې به یې ورتپل او په عبادت کښې به یې ورسره شریکان درول.

لنډه دا چې ستا د زمانې کفارو او مشرکانو ته په کار دي چې د پخوانیو هلاکو شوو قومونو څخه عبرت واخلي او په لوی لاس خپل خانونه د هلاکت په کنده کښې سر په څري ور ونه غورزوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرۡبَانًا ءَالِهَةَۢ﴾ کښې د نحوي تحلیل په ملحوظ مفسرینو کرامو ښه ډېر احتمالات لیکلي دي(۱)، خو کوم تحلیل چې مونږ ته غوره برېښېدلی دی هغه په لاندې تکو کښې خلاصه کېږي:

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص٤١١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿ ٱتَّخَذُوا ﴾ کلمه دوه مفعوله غواړي چې یو مفعول یې مقدر ضمیر ﴿ هُمْ ﴾ دی چې د ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ کلمې ته راجع دی کومه چې د بوتانو څخه کنایي ده، کېدی شي چې مونږ ترې په "اتَّخَذُوهُمْ" سره تعبیر وکړو؛ او دوهم مفعول یې د ﴿ ءَالِهَةً ﴾ کلمه ده.

ب: د ﴿ قُرْبَانًا ﴾ کلمه د هغه شي نوم دی کوم چې الله ﷻ ته د نژدېکت سبب وي[1]. دغه کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۱۸۳] ایت لاندې ښه څېړلې ده. دا د یو پلوه، او د بله پلوه همدغه کلمه د مقدر مفعول (هُمْ) څخه حال واقع شوې ده.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: د هلاکو شوو ښارونو (قومونو) سره هغو بوتانو ولې کومک ونه کړ کوم یې چې (په خپل ګومان) په داسې حال معبودان نیولي او ګرځولي وه چې دوی الله ﷻ ته د نژدېکت وسائل دي، او د عذاب په مخنیوي کښې مرسته کولی شي؟

## یو بل نحوي تحلیل

۲_ په ﴿ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ کښې باید لاندې تحلیل په پام کښې ونیول شي:

الف: د "ذَٰلِكَ" کلمه مبتدا ده او هغه عدم نصرت ته اشاره ده[2] کوم چې د وړاندېنیو جملو څخه په تبادر سره ذهن ته راځي.

ب: د ﴿ إِفْكُهُمْ ﴾ کلمه یې خبر ده او مضاف پکښې مقدر دی چې مونږ ترې په "نَتِيجَةُ إِفْكِهِمْ" سره تعبیر کولی شو[3].

ج: د ﴿ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ کلمات د ﴿ إِفْكُهُمْ ﴾ په کلمه باندې عطف دي او د ذکرې شوې مبتدا خبر واقع شوی دی.

د: که څه هم په ﴿ إِفْكُهُمْ ﴾ او د ﴿ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ کښې د "إِفْكٌ" او "إِفْتِرَاءٌ" دواړه کلمې د دروغو معنی ورکوي خو په دې مقام کښې د مقام په لحاظ لاندې توپیر لري:

اول: د "إِفْكٌ" د کلمې څخه هغه دروغ مطلب دي کوم به چې د مشرکانو څخه هر چا خپل خپل بوت ته د "قُرْبَانٌ" لقب ورکاوه. الله ﷻ د کفارو د خولو څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰ ﴾ [الزمر:۳] یعنې مونږ د بوتانو عبادت نه کوو مګر د دې دپاره چې دوی مونږ الله ﷻ ته نژدې کړي نژدې کول.

او هم ترې حکایت کوي چې: ﴿ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَٰؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ [یونس:۱۸] یعنې او مشرکان وایي چې دغه (بوتان) د الله ﷻ په نزد زمونږ شفاعتګر دي (او زمونږ د تقرب الی الله او زمونږ د نجات وسائل دي).

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۶۶۴

(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۳۰

(۳) روح المعاني ج۲۶ ص۲۹

Scanned by CamScanner

دوهم: د ﴿ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ څخه د مشرکانو هغه دروغ مراد دي چې خپل بوتان به يې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريکان ګڼل. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ﴾ [النساء:۴۸] يعني او هرڅوک چې د الله ﷻ سره په شرک عقيده وکړي نو يقيناً (په الله ﷻ باندې يې) لويه ګناه (لوی دروغ) وتړل.

﴿ وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا ۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءُ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾ ﴾

[۲۹] او هغه وخت ياد کړه چې مونږ تاته د پيريانو څخه يوه داسې ډلګۍ درتاوه کړه چې قران کريم ته يې غوږ ايښود (په داسې حال کښې چې تا په لمانځه کښې قران کريم قرائت کاوه، او دوی د اوريدو اراده درلوده)، نو کله چې ذکره شوې ډلګۍ قرآن کريم ته حاضره شوه نو (يو تربله) يې سره وويلې چې چپ شئ (شور مه کوئ چې قرائت واورو).

نو کله چې د قرآن کريم (قرائت) فيصله کړی شو (بس کړی شو) نو دوی خپل قوم ته په داسې حال بېرته تاو شوه چې (هغوی لره) ډاروونکي وه.

[۳۰] دغې ډلګۍ (خپل قوم ته) وويلې چې: ای زمونږ قومه! يقيناً مونږ داسې کتاب واورېد چې د موسی ﷺ څخه وروسته په داسې حال کښې نازل شوی دی چې د هغو کتابونو تصديق کوونکی دی کوم چې وړاندې ترې (نازل کړی شوي) دي (او هم) حقې عقيدې او (په عمل کښې) سمې لارې ته لارښوونه کوي.

[۳۱] ای زمونږ قومه! تاسو د الله ﷻ د داعي (پيغمبر) اجابت وکړئ او ايمان پرې راوړئ ترڅو الله ﷻ تاسو ته ستاسو د ګناهونو څخه (د دوزخ موجبه) برخه وبښي او د دردناک عذاب څخه پناه درکړي (ترې بچ مو کړي).

[۳۲] او هرڅوک چې د الله ﷻ د داعي (پيغمبر) اجابت ونه کړي نو (دغه کس) په ځمکه کښې (د الله ﷻ) عاجز کوونکی نه دی (چې وړباندې زورور وګرځي)، او دغه (کس) ته د الله ﷻ څخه په غير څه دوستان هم نشته (چې په شفاعت سره د عذابه نجات ورکړي. نو د همدې کبله) دغه کسان په ښکاره ګمراهۍ کښې (پرېوتلي) دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د بنيادمانو د هغو هلاکو کړې شوو قومونو ذکر نازل شوی وه کومو چې د خپلو حواسو څخه کار نه وه اخستی او د دلايلو په تکراري نزول سره يې د توحيد عقيده نه وه خپله کړې. په دې ايتونو کښې د پېريانو څخه هغې جرګې ته اشاره کېږي کومې چې د خپلو حواسو څخه کار واخست او د قرآن کريم په يو ځل اورېدلو سره په ايمان مشرف شوه او خپلو قومونو ته داعيان إلى الله وګرځېده، چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د پېريانو څه حالات قرائت کړه چې څنګه يې د خپلو حواسو څخه په کار اخستلو سره ايمان راووړ. هغه دا چې:

۱ـ هغه وخت ياد کړه چې مونږ د پېريانو يوه ډله په تاباندې دربرابره کړه، البته هغه ډله کومې چې د حقيقت موندلو پسې هڅه کوله، چې څه تفصيل يې دا دی:

الف: ته د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ سره په جهري لمانځه باندې ولاړ وې او په جهر سره دې پکښې قرآن کريم لوست، نو د پېريانو ذکرې شوې ډلې ستا قرائت ته غوږ کېښود.

ب: نو د قرآن کريم قرائت ته حاضر شوه او يو تربله يې سره وويلې چې: چپ شئ خبرې مه کوئ (غوږ ونيسئ) ترڅو ورباندې ښه پوه شي.

ج: د قرآن کريم قرائت يې په ډېر دقت سره واورېد او کله چې د قرآن کريم قرائت ستا د پلوه بس کړی شو نو سمدستي ذکره شوې ډله په ايمان باندې مشرفه شوه او بدون د خوارقو غوښتلو څخه يې باور او يقين وکړ چې دا الهي کتاب دی، او په چا چې نازل شوی دی هغه په حقه پيغمبر دی.

د: د پېريانو ذکرې شوې ډلې د ايمان په راوړلو باندې اکتفاء ونه کړه بلکې سمدستي د اسلام داعيان وګرځېده او خپل قوم ته په داسې حال ورستانه شوه چې هغوی ته د الله ﷻ د عذاب څخه داروونکي جوړ شوه.

۲ـ ای پيغمبره! هغوی خپل قوم په لاندې مطالبو سره دعوت کړ چې:

الف: ای زمونږ قومه! يقيناً مونږ داسې الهي کتاب واورېد کوم چې د موسی ﷺ څخه وروسته د الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی.

ب: دا کتاب د ټولو اسماني کتابونو عموماً او د تورات خصوصاً تصديق کوونکی دی. چې هدايات او ارشادات يې سره يو تربله متحد دي.

ج: دا کتاب د عقيدې په لحاظ حقې عقيدې ته او د عمل په لحاظ سمې لارې ته بلل کوي. په دې کتاب کښې د دنيا او آخرت دواړو لارې بياني شوې دي.

د: ای زمونږ قومه! مونږ تاسو ته بلنه درکوو چې د هغه چا اجابت وکړئ کوم چې د دغه کتاب په بنياد بلل کوي او په همدې لحاظ داعي الی الله دی. تاسو په دغه شخص باندې د يوه پيغمبر په حيث ايمان راوړئ لکه څنګه چې ورباندې مونږ ايمان راوړی او په همدغه صفت مو قبول کړی دی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: که تاسو دغه کار وکړئ نو د یو پلوه به الله ﷻ تاسو ته هغه گناهونه وبښي کومې چې حقوق الله پورې ارتباط لري او هم به د پخوانيو کفرياتو څخه درتېر شي، او د بله پلوه به الله ﷻ تاسو د دردناک عذاب څخه بچ کړي، حال دا چې دغه دواړه کارونه ډېر لوی عظیم الشان کارونه دي.

و: ای زموږ قومه! تاسو په یاد ولرئ هرڅوک چې د داعي الی الله اجابت ونه کړي او د یوه پيغمبر په حيث ورباندې عقيده خپله نه کړي نو

اول: هغه په ځمکه کښې د الله ﷻ عاجزکوونکی نه دی، چې د عذاب څخه يې خپل ځان پټ‌کله بچ کړی شي او چرته وتښتي، حال دا چې د اسمان د طرفه په ستورو ويشتلی کېږي.

دوهم: نوموړي کس ته د الله ﷻ څخه په غير نور دوستان هم نشته چې په دوستۍ سره ترې د عذاب مخنیوی وکړي.

درېيم: دغه کسان په ښکاره گمراهۍ کښې واقع دي چې د خپلې کمزورۍ سره- سره د داعي الی الله اجابت نه کوي.

## توضيحات

۱ـ موږ د الله ﷻ په توفيق د احاديثو په رڼا کښې د [الحجر ۱۸] ايت لاندې څه مطالب ليکلي دي چې د دې مقام د ښه وضاحت دپاره ډېر ضرور دي، لکه

الف: د بعثت په لومړيو وختونو کښې کاهنان پيريان په شدت سره اسمان ته د ختلو څخه منعه کړی شوه او په ستورو باندې يې ويشتلو شدت وموند

ب: هغوی په ځمکه کښې شرقًا او غربًا خواره واره شوه چې د دغې منعې د شدت وجه معلومه کړي چې دغه بنديز په څه وجه کلک کړی شوی دی

ج: د همدې پلټونکو کاهنانو پيريانو يوه ډله په نبي کريم ﷺ باندې وربرابره شوه البته په داسې وخت کښې چې نبي کريم ﷺ په "نخله" نومې ځای کښې د سهار په لمانځه کښې په جهر سره قرآن کريم لوست او پيريانو واورېد.

نو هيله ده چې محترم لوستونکي هلته مراجعه وکړي ترڅو دا مقام ورته ښه واضحه وگرځي

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په ﴿وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ﴾ الآيات- کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې گرځي راگرځي

الف: که څوک وايي چې د پيريانو ذکر شوی ټولگی څو کسان وه؟

موږ وايو چې د دغه ټولگي په شمير کښې زښت ډېر اقوال شته[۱]. مگر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په قول دوی اوه (۷) کسان وه[۲].

---

(۱) التحرير والتنوير ج۱۵ ص۳۹
(۲) تفسير الطبري ج۲۲ ص۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دغې واقعې په کوم مکان کښې صورت نیولی وه؟

مونږ وایو چې: دغه پېښه په "نخلة" نومې ځای کښې واقع شوې وه کوم چې د مکې معظمې څخه په یوه شپه منزل سره لرې پروت دی[1]. په دغه سفر کښې نبي کریم ﷺ د عکاظ بازار ته روان وه چې هلته خلک دین او ایمان ته دعوت کړي.

ج: نبي کریم ﷺ په کوم لمانځه کښې قرآن کریم لوست چې پېریانو واورېد؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ماسخوتن لمونځ ښودلی دی[2] مگر په یوه حدیث کښې صراحت شوی دی چې دغه لمونځ د سبا لمونځ وه[3] چې د صحابه کرامو ﷺ سره یې په جمه اداء کاوه.

د: نبي کریم ﷺ کوم سورت په لمانځه کښې قرائت کاوه چې پېریانو واورېد؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو په قول[4] نبي کریم ﷺ د "العلق" سورت قرائت کاوه.

هـ: ایا نبي کریم ﷺ پوه شوی وه چې د پېریانو یوې ډلې یې قرائت ته غوږ نیولی دی؟

مونږ وایو چې: نبي کریم ﷺ وریاندې نه وه پوه شوی، خو د پوهېدلو په هکله یې لاندې دوه صورتونه روایت شوي دي:

یو دا چې عبد الله بن مسعود ﷺ وایي هلته یوې ونې نبي کریم ﷺ ته په دغې ډلې باندې خبر ورکړ[5]. او بل دا چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په اوږده حدیث کښې وایي چې: الله ﷻ د "الجن" سورت نازل کړ[6]. او نبي کریم ﷺ ته یې وریاندې وحې وکړه.

خو څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ ته په عین وخت کښې ونې خبر ورکړی وي او بیا وریاندې ذکر شوی سورت هم نازل شوی وي، نو د دواړو روایتونو ترمنځ څه منافات نشته.

و: که څوک وایي: د عبد الله بن مسعود ﷺ روایت دی چې: «مَا صَحِبَهُ مِنَّا أَحَدٌ»[7] یعنې د نبي کریم ﷺ سره په لیلة الجن کښې زمونږ څخه یو کس هم ملگری نه وه. حال دا چې تاسو وړاندې لیکلي دي چې نبي کریم ﷺ د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ سره د سهار په جمه ولاړ وه چې پېریانو د قرآن کریم قرائت واورېده؟

مونږ وایو چې: لیلة الجن په متعددو وارونو سره صورت موندلی دی[8]، څه لرې نه ده چې ذکر شوې صحابي ﷺ به د خپلو معلوماتو په بنیاد ذکره شوې خبره کړې وي.

---

(۱) روح المعاني ج۲٦ ص۳۰
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱٦۲
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۲
(٤) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۳۲
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۱۸٤
(٦) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۰
(۷) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۳٤
(۸) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱٦۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: که څوک وايي: تاسو وړاندې ولیکل چې : پیریانو د ډلګۍ استماع په هغه سفر کښې پېښه شوې وه په کوم کښې چې نبي کریم ﷺ د مکې معظمې څخه د عکاظ بازار ته روان وه، حال دا چې ځینې علماء کرام د دوهم روایت په بنیاد وایي چې دغې استماع په هغه وخت کښې صورت نیولی دی په کوم کښې چې نبي کریم ﷺ د طائف څخه مکې معظمې ته راستون شوی وه[1]. نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه روایتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینې مفسرین کرام دوهم روایت صحیح نه ګڼي مګر څه لرې نه ده چې دواړه روایتونه صحت ولري او د پیریانو بوګې دوه کرته د قرآن کریم اورېدلو ته غوږ ایښی، یو کرت هلته چې د مکې معظمې څخه د عکاظ بازار ته روان وه، او بل کرت هلته چې د طائف څخه بیرته مکې معظمې ته راستون شوی وه، والله ﷻ اعلم.

حتی ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د انفرادي ملاقاتونو څخه علاوه د پیریانو جرګو شپږ کرته صورت نیولی دی[2]، نو په روایتونو کښې د ځینو برخو اختلاف په همدغه تعدد باندې ولاړ دی او تناقض یې د منځه ځي.

ح: که څوک وایي: څه وجه وه چې د پیریانو ډلګۍ خپل قوم ته د قرآن کریم په معرفي کولو کښې په ﴿ كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ ﴾ په کلماتو سره اکتفاء وکړه او د عیسی ؈ نوم او هم د انجیل نوم یې ذکر نه کړ، حال دا چې نبي کریم ﷺ آخرنی پیغمبر دی او قرآن کریم وروستنی کتاب دی.

مونږ وایو لکه څنګه چې د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۵۰] ایت لاندې ورته اشاره شوې ده، د قرآن کریم څخه وروسته په اسماني کتابونو کښې تورات محوري کتاب وه، حتی چې عیسی ؈ هم ورته دعوت چلاوه او انجیل وریاندې د همدغه کتاب د تتمیم دپاره نازل شوی وه چې د هغه ځینې احکام یې د تحریم څخه تحلیل ته راښکته او را اسان کړه.

نو ځکه د پیریانو ډلګۍ نه انجیل او زبور یاد کړ او نه یې د عیسی ؈ او د داوُد ؈ نومونه واخستل. او د همدې کبله ورقه بن نُوفل د موسی ؈ په ذکر باندې اکتفاء وکړه البته کله یې چې نبي کریم ﷺ ته داډ ورکاوه چې «هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللهُ عَلَى مُوسَى»[3] دا هغه د سر خاونده پرښته ده کومه چې الله ﷻ په موسی ؈ باندې رانازله کړې وه.

ط: که څوک وایي: ایا په ﴿ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴾ کښې دوهمه جمله د لومړۍ جملې دپاره تاکید واقع شوې ده؟

مونږ وایو چې: د تاکید څخه تاسیس بهتر دی نو د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو لومړۍ جمله په عقیدوي احکامو سره تفسیره کړې ده او دوهمې جملې ته یې په عملي احکامو پورې اختصاص

(۱) سیرت ابن هشام ج۲ ص۳۱؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۱۷۲
(۲) روح المعاني ج۲۶ ص۳۱
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړې دی[۱]. یعني قرآن کریم حقې او واقعي عقیدې ته او مستقیمې کړنلارې ته هدایت کوي.

ي. که څوک وايي: د پیریانو ذکره شوې ډلګی په څه وجه پوه شوه چې قرآن کریم اسماني کتاب دی او په حقه د الله ﷻ د پلوه لاریښود دی؟

مونږ وايو: شاید چې هغوی به د قرآن کریم په اوریدل شوې سورت کښې هغه صفات پیژندلي وي کوم چې هغوی ته د وروستني اسماني کتاب په هکله په تورات کښې معلوم وه. او یا به د هغوی ایمان راوړل د ابو بکر الصدیق ﷺ ایمان راوړلو ته ورته وي چې بدون د معجزې غوښتلو بې په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړو، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال.

یا. که څوک وايي: په ﴿ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ أَجِيبُواْ ﴾ کلمه د ﴿ وَءَامِنُواْ بِهِۦ ﴾ په مضمون باندې مشتمله ده. نو په دغې جملې باندې په صراحت کولو کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو: په ﴿ وَءَامِنُواْ بِهِۦ ﴾ یا په ایمان باندې صراحت به د دې دپاره صورت نیولی وي چې دا د اجابت اشرفه او اعظمه برخه ده. ترڅو ورته زیات اهتمام وکړی شي.

یب. که څوک وايي: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَإِنَّ الْإِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهُ»[۲] یعني نو یقیناً اسلام هغه ګناهونه د منځه وړي کوم چې د اسلام څخه وړاندې صورت نیولی وي. نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد په ﴿ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ کښې د "من" توری نازل شو چې په بعضیت باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو: دلته خو الله ﷻ د پیریانو د ټولګې خبره هوبهو راحکایت کړې ده او څه لرې نه ده چې هغوی ته به معلومات نه وه چې په ایمان راوړلو سره ټول پخواني ګناهونه بښلي کېږي.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه احتمال شته چې دلته خیني ګناهونه د هغو ګناهونو څخه عبارت وي کومې چې د الله ﷻ په نزد د دوزخ موجبې ګرځي او یا پکښې د تل پاتې کېدلو غوښتونکي وي. په همدغه احتمال باندې متصله جمله هم دلالت کوي چې ﴿ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ یعني او الله ﷻ به تاسو ته د دردناک عذاب څخه پنا درکړي.

یج. که څوک وايي: د پیریانو ډلګی خپل قوم ته د ایمان راوړلو په صورت کښې د جنت بشارت ورنه کړ. نو پوښتنه دا ده چې ایا مؤمنان پیریان جنت ته داخلیدلی شي؟

مونږ وايو: صحیحه خبره دا ده چې پیریان د انسانانو غوندې په دوه وو برخو ویشلی شوي دي، خیني یې مؤمنان دي او خیني یې کفار دي. نو لکه څنګه چې دوی ته جنت او دوزخ دواړه شته همدارنګه به د قیامت په ورځ د هغوی مؤمنان هم جنت ته لاړ شي او کفار به یې په دوزخ کښې په ابدي توګه معذب کړی شي[۳].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۳۰
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۳۲
(۳) شرح النووي علی مسلم ج۱ ص۱۵۸ - تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَـٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن
يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ
أَلَيْسَ هَـٰذَا بِٱلْحَقِّ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٤﴾
فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا
يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍۭ ۚ بَلَـٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[٣٣] ایا (دغه) گمراهان نه گوري (نه پوهېږي) چې یقیناً هغه الله ﷻ چې اسمانونه او ځمکې یې په داسې شان پیدا کړي دي چې په پیداکولو سره یې ستومانه شوی نه دی، په دې باندې د قدرت خښتن دی چې مړي (بېرته را) ژوندي کړي؟
دغسې نه ده (چې نه پوهېږي) یقیناً الله ﷻ د هر شي په پیدا کولو باندې قدرت درلودونکی دی
[٣٤] او هغه ورځ (یاده کړه) کله چې هغه کسان په اور باندې وروړاندې کړی شي کومو چې کفر غوره کړی دی، (نو ورته به وویلی شي چې) ایا دغه عذاب حق نه دی (چې تاسو په دنیا کښې ورباندې هسدغسې گومان کاوه)؟
هغوی به (په جواب کښې) ووایي چې ولې نه، زمونږ دې په خپل رب ﷻ سوگند وي.
(نو) الله ﷻ به (ورته) ووایي چې په دې سبب د دوزخ عذاب وڅکئ چې تاسو (په دنیا کښې) دئ چې د استمرار په توگه مو کفر خپل کړی وه
[٣٥] نو (ای پیغمبره!) ته داسې صبر کوه لکه څنگه چې د پیغمبرانو د جملې څخه د کلک عزم (ثبات) خاوندانو صبر کړی دی، او کفارو ته (د عذاب په نزول سره) عجله مه کوه.
(او دا څکه) کله چې دوی هغه عذاب (په سترگو) وگوري کوم چې ورسره وعده کېږي نو (خپل خانونه به ورته داسې ورڅرگند شي) لکه چې دوی (په دنیا کښې) درنگ (معطل) نه وي کړی مگر د ورځې یوه گړی (او بس)
(دغه قرآن کریم د مسئولیت د جینه فقط د احکامو) رسونه ده (په تاباندې نوره ذمواري نشته)
نو ایا هلاک به کړی شي مگر داسې قوم چې د احکامو څخه سرغړونکی وي؟

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د پېریانو د یوې ډلگۍ حال ته اشاره شوې وه چې بدون د دلایلو او بدون د تهدیده یې په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راووړ او د قرآن کریم حقانیت یې ومانه. حال دا چې هغوی نه د نبي کریم ﷺ همجنس وه او نه ورته د ده ﷺ د عفت څلوېښت کلن عمر معلوم وه. خو د حق په پلټنې پسې وتلي وه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ایتونو کښې علاوه په دې چې نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شوې ده د توحید یو دلیل او یوه تهدید ته هم پکښې اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ستا د دعوتي امت کفار د پیریانو د ډلګۍ غوندې نه دي چې د حق پلټنه وکړي او بدون د معجزې او دلیل غوښتلو ایمان راوړي. که نه نو:

۱ـ ایا دوی نه ګوري او نه پوهېږي چې یقیناً الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې بوازې پیدا کړې دي او هیڅوا ورسره پکښې اشتراک نه دی کړې او نه د چا اشتراک ته اړ وه او هم نه د هغو په پیدا کولو سره ستومانه شوی دی او نه یې د عالي شان سره ستوماني مناسبت درلودلی شي؟!

نو ایا الله ﷻ (چې د داسې عالي شان خاوند دی) قادر نه دی چې مړی بېرته راژوندي کړي او د لېرونو څخه یې راپورته کړي؟ هو! الله ﷻ په دغه کار باندې کامل قدرت لري بلکې الله ﷻ د هر ممکن شي په پیداکولو د قدرت درلودونکی دی.

۲ـ ای پیغمبره! کله چې مړي راژوندي کړی شي نو هغه کسان به دوزخ ته ورواندې کړی شي کوم چې د مرګ تر ورځې پورې په کفري عقیدې باندې کلک ولاړ دي، نو د تخجیل دپاره به ورسره داسې سوال جواب صورت ونیسي:

الف: ایا دغه عذاب (چې دوزخ ورباندې مشتمل دی) حق نه دی چې په دنیا کښې وربانديٰ تاسو عقیده نه کوله او دروغ درته برېښېده؟

ب: کفار به په جواب کښې ووایي چې ولې نه، دا عذاب حق او د عدل سره مطابق دی، او مونږ په خپل رب ﷻ سره سوګند یادوو چې دا حق دی، او مونږ په دنیا کښې غلط شوي وو چې د ناحق ګومان مو ورباندې کړی وه.

ج: بیا به الله ﷻ ورته ووایي چې: نو اوس دغه عذاب وڅکئ او مزه یې واخلئ، په دې سبب چې تاسو ورباندې په دنیا کښې په دوامداره توګه کفر غوره کړی وه.

۳ـ ای پیغمبره! څرنګه چې ستا د دعوتي اُمت کفار عناد نیولي دي چې نه ورباندې دلیل اثر غورزوي او نه د تهدید د اثر لاندې واقع کېږي، نو لاندې کړنلاره ټینګه کړه:

الف: نو ته د همدغو عنادیانو کفارو په اذیت باندې داسې صبر وکړه لکه څنګه چې د پیغمبرانو د جملې څخه اولو العزمو او باثباته پیغمبرانو کړی وه، او دا ځکه چې ته د همدغو اولو العزمو پیغمبرانو د ډلې څخه یې.

ب: په دغو کفارو باندې د عذاب په نزول سره عجله مه کوه چې خپله حوصله او استقامت په اضطراب کښې واچوې او د عذاب د نزول غوښتنه ورته وکړې. او دا ځکه چې:

د کفارو دنیاوي عمر (چې په مزو او چړچو کښې یې تېروي) د اُخروي عمر په نسبت ډېر لږ او ناچیزه دی، د همدې کبله کله چې کفار هغه عذابونه په سترګو وګوري کوم چې ورسره نن ورخ وعده کېږي نو داسې به ورته ځرګند شي چې په دنیا کښې یې درنګ او معطل نه دی کړی مګر د ورځې فقط یوه ګړۍ او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په دې باندې علاوه ستا په غاړه خو فقط د قرآن کريم رسونه ده او بس، د کفارو په کافر پاتې کېدلو سره خو تاته څه ملامته نه راجع کېږي. نو ايا د کفرياتو او فسقونو په ارتکاب سره پرته د فاسق او جنايتکار قوم څخه بل قوم هلاکولی کېږي (په دوزخ کښې اچولی کېږي)؟.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ ﴾ کښې د "لَمۡ يَعۡيَ" کلمه د "عي" څخه په زير او شد سره اشتقاقه شوې ده چې د عُجز او ناتوانۍ معنی ورکوي[1]، او مونږ ترې په ستومانۍ سره تعبير کولی شو. يعنې حال دا دی چې الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو په پيداکولو سره ستومانه شوی هم نه دی، او نه د ده ﷻ د شان سره ستوماني مناسبه ده.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ [العنكبوت: ۱۹] يعنې يقيناً دغه کار (پيدا کول او اعاده کول) په الله ﷻ باندې اسان دي چې فقط د امر (كُن) په کولو سره صورت نيسي.

۲_ په ﴿ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّ ﴾ کښې د "هَٰذَا" کلمه هغه عذاب ته اشاره ده کوم چې د وړاندېنۍ جملې څخه فهمېږي او په وروستنۍ جمله ﴿ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ ﴾ کښې ورباندې صراحت شوی دی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه دغه جمله ﴿ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّ ﴾ د مقدر "يُقَالُ لَهُمۡ" دپاره مقوله ده[2]. يعنې او په هغې ورځ چې کفار په دوزخ باندې وروړاندې کړی شي دوی ته به د تخجيل دپاره وويلی شي چې: ايا دغه عذاب چې تاسو يې په سترګو ګورئ حق نه دی؟ ايا نن ورځ هم ورته تاسو د دروغو لقب ورکولی شئ لکه چې په دنيا کښې به مو ورته دغه لقب ورکاوه؟.

## اولو العزم پيغمبران څوک-څوک دي؟

۳_ د ﴿ فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ﴾ د جملې په تفسير کښې علماء کرام په لاندې دوه ډلو ويشلي شوي دي[3]:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې ټول پيغمبران د عزم او ثبات خاوندان دي، نو د "مِن" توری به ذکره شوې جمله کښې د بيان دپاره دی. يعنې ای پيغمبره! نو ته د کفارو په اذيت باندې داسې صبر او استقامت خپل کړه لکه څنګه چې پرې د عزم او ثبات خاوندانو صبر او استقامت خپل کړی دی" چې دغه ډله د ټولو پيغمبرانو څخه عبارت ده.

ب: مشهوره دا ده چې اولو العزم پيغمبران پنځه تنه دي چې په [الأحزاب:۷] ايت کښې ورته اشاره

(۱) القاموس المحيط ج۳ ص۳٦۳؛ مفردات الراغب ص۳٦۸
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص٤٤
(۳) تفسير البغوي ج٤ ص۱۷٦؛ تفسير ابن كثير ج٤ ص۱۷۲؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص٤٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده، نو په دې تقدیر د "مِن" ذکر شوی توری د بعضیت معنی ورکوي. یعنې نو ته د پیغمبرانو د جملې څخه د هغه ټولګي غوندې صبر وکړه کوم چې د ډېر ثبات او حوصلې او هم د عالي همت او عالي شان خاوندان دي چې ته هم په همدغې ډله کښې شامل یې.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ﴾ د جملې څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې نبي کريم ﷺ د کفارو په دنیاوي عذاب باندې عجله کوله، حال دا چې نبي کريم ﷺ د یوه پیغمبر څخه په حکایت کښې فرمایلي چې یو پیغمبر خپل قوم وهلی او زخمي کړی وه نو د خپل مخ څخه یې وینې پاکولې او په خوله یې دا سوال جاري وه چې: «رَبِّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ»[1] یعنې ای ربه! ته زما قوم ته مغفرت وکړې (او دنیاوي عذاب ورباندې په عجله سره مه نازلوې) ځکه چې یقیناً دوی نه پوهېږي.

ته به وايې چې نبي کريم ﷺ د اولو العزمو پیغمبرانو یوه خاصیت ته اشاره کړې ده چې پخپله هم په همدغې ډله کښې شامل وه؟

مونږ وایو چې: په ذکره شوې جمله کښې کفار په غوږ وهلی شوي دي چې که بالفرض نبي کريم ﷺ د عذاب په نزول سره عجله وکړې نو ډېر ژر به ورباندې ورنازل کړی شي، خو د الله ﷻ د پلوه ورته توصیه کېږي چې په عذاب باندې عجله نه کولو ته ادامه ورکړه ترڅو د کفارو د ایمان راوړلو فرصت ښه اوږد شي.

همدا مضمون په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی لکه: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا﴾ [الطارق:۱۷] یعنې نو ای پیغمبره! کفارو ته انتظار وباسه او لږ وخت ورته مهلت ورکړه، ترڅو ته پخپله وګورې چې د څنګه عذاب سره مخامخ کېږي.

## یو نحوي تحلیل

۵_ د ﴿بَلَٰغٌ﴾ کلمې په اعراب کښې مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[2] خو مونږ ته دا بهتره بریښي چې دغه کلمه به د مقدرې مبتدا څخه خبر وي چې مونږ ترې په "هَذَا الْقُرآن" سره تعبیر کولی شو.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې کلمه د "تبلیغ" معنی ورکوي[3]. یعنې دغه قرآن کريم فقط د احکامو رسونه ده، د نه منلو مسئولیت یې تاته متوجه نه دی، ستا ذمواري په رسونې سره ختمېږي، نور نو الله ﷻ پوهېږي او کار یې.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۲۴: صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۸: مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۹
(۲) روح المعاني ج۲۶ ص۳۵: اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۴۲۱
(۳) مفردات الراغب ص۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ، څکه ذکر شوی تحلیل خوښ کړ چې په بل ایت کښې وریاندې صراحت شوی دی چې: ﴿ هَٰذَا بَلَـٰغٌ لِّلنَّاسِ ﴾ [إبراهيم: ٥٢] یعنې دغه قرآن کریم خلکو ته فقط رسونه ده او بس.

## د دې ایت خاصیتونه

۶_ ځینو مفسرینو کرامو د دې سورت د وروستني ایت په ارتباط ځینې خاصیتونه لیکلي دي نو هیله ده چې محترم لوستونکي ترې د ضرورت په وخت ګټه پورته کړي هغه دا:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: ای مخاطبه: کله چې ته د یوه حاجت غوښتنه کوې او غواړې چې پکښې کامیاب شې نو داسې ووایه (دعاء وکړه) چې:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ. لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ. الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا. كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ بَلَاغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالْفَوْزَ بِالْجَنَّةِ وَالنَّجَاةَ مِنَ النَّارِ. اللَّهُمَّ لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ»[1].

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) ویلي دي چې کله په کومه أمیدواره ښځه باندې د ماشوم زیږول سخت شي، نو لاندې دوه ایتونه او دوه کلمې دې په یوه لوښي کښې ولیکلی شي او بیا دې لوښی په اوبو وویندلی شي او ذکره شوې زنانه دې هماغه اوبه وڅښي. هغه دا:

اول: «بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ».

دوهم: «سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ».

دریم: ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾ [النازعات: ٤٦].

څلورم: ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍۭ ۚ بَلَـٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾ [الأحقاف: ۳۵][2].

د "الأحقاف" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ آمِنْ رَوْعَاتِنَا وَاسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَاقْضِ حَاجَاتِنَا بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

۱۴۲۳/۱۰/۲۵ هـ ق - ۱۳۸۱/۱۰/۸ هـ ش.

---

(۱) المعجم الاوسط للطبراني ج۳ ص۳۵۸؛ المعجم الصغير للطبراني ج۱ ص۲۱۳

(۲) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۲۲۲

Scanned by CamScanner

# محمد (٤٧)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

١_ دا سورت د نورو سورتونو څخه په دوه نومونو سره جدا شوی دی[١]: یو نوم یې "مُحَمَّد" دی چې همدغه مبارکه کلمه د دې سورت په دوهم ایت کښې نازله شوې ده، او بل نوم یې "القِتَال" دی چې په [٢٠] ایت کښې نازل شوی دی.

٢_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی[٢]:

الف: د ایتونو شمېر یې اته دېرش (٣٨) دی.

ب: د کلماتو تعداد یې پنځه سوه او نهه دېرشو (۵٣٩) ته رسېدلې ده.

ج: د تورو شمېر یې دوه زره درې سوه او نهه څلوېښتو (٢٣۴٩) ته پوره شوی دی.

٣_ د اکثرو علماوو کرامو په نزد دا سورت ټول مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[٣] خو ځینې علماء کرام د دې سورت د [١٣] ایت په مدنیتوب کښې شک لري[۴] چې د هجرت په سفر کښې نازل شوی دی چې نبي کریم ﷺ لا مدینې منورې ته نه وه رسېدلی، ان شاء الله ﷻ په خپل ځای کښې به وروباندې رڼا واچوله شي.

۴_ د دې سورت په اصلي محتویاتو کښې د نورو مدني سورتونو غوندې د عملي احکامو بیان لیدل کېږي خو في سبیل الله قتال او اړونده موضوعګانې یې پکښې ډېرې څرګندې شوې دي، لکه:

الف: مسلح جهاد (قتال) ته هڅونه او په قوت سره یې تعمیل.

ب: د جنګي اسیرانو احکام.

ج: د مجاهدینو او شهیدانو اجرونه.

د: د دوی سره د نصرت وعده.

ه: د جهاد د فرضیت سره د منافقانو ظهور او د دوی خاصیتونه.

و: کفارو ته د سولې د وړاندیز ممنوعیت او داسې نور.

۵_ د دې سورت او د وړاندېني سورت (الأحقاف) تناسب بالکل واضحه دی، هغه داسې چې دیني احکام په دوه وو برخو ویشل کېږي، یوه برخه یې عقیدوي احکام دي چې په وړاندېني سورت کښې پرې ټینګار شوی وه او بله برخه یې عملي احکام دي چې په دې سورت کښې په کلکه سره بیانېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ أَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

(١) روح المعاني ج۶ ص٣۶؛ الدر المنثور ج٧ ص۴۵۶

(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص۴٢۴؛ تفسير الطبري ج٢۶ ص٣٨

(٣) تفسير الخازن ج۵ ص۴٩۵

(۴) المحرر الوجيز ج١۵ ص۴٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ
بَالَهُمۡ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن
رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی او د الله ﷻ د لارې څخه (خلک) اړوي، الله ﷻ د دوی عملونه (او دسيسې) بې لارې (بې نتيجې) کړي دي (مطلب ته به ورباندې ونه رسېږي).

[٢] او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي او هم يې په هغه شي (قرآن کريم) باندې ايمان راوړی دی کوم چې (د الله ﷻ د پلوه) په محمد ﷺ باندې په داسې حال کښې نازل کړی شوی دی چې همدا د دوی د رب ﷻ د خوا څخه حق دی، نو الله ﷻ به د دوی څخه د دوی ګناهونه پټ کړي (عفوه کړي) او حال به يې سم کړي (چې کمزوري به يې په قوت بدله کړي).

[٣] (ای پيغمبره!) دغه (ذکر شوی چال چلند ته الله ﷻ) په دې سبب (صورت ورکوي) چې يقيناً هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی د باطل (ناحق) پيروي کوي، او يقيناً هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی د خپل رب ﷻ د پلوه د حق پيروي کوي (نو همدغه چال چلند ورسره مناسبت لري).
الله ﷻ د خلکو دپاره په دغه ډول سره د دوی صفات (او کړه وړه) وهي (بيانوي، ترڅو دوی د خير په ډله کښې شامل شي او د شر د ډلې څخه اجتناب وکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د دې سورت د اولنې ايت او د وړاندېنې سورت (الأحقاف) د وروستنې ايت تناسب دومره قوي دی چې که بالفرض د "بسم الله الرحمن الرحيم" د کلماتو څخه نظر پرې کړی شي نو سړی به ګومان وکړي چې دا د هغه بيان واقع شوی دی او د ﴿ ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ کلمه يې تشريح کړې ده.نو حاصل يې داسې راخيژي:

ای پيغمبره! د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه شروع وکړه او په خپل أمت باندې د کفارو او مؤمنانو څه حالات قرائت کړه هغه دا چې:

١ـ کوم کسان چې فاسقان دي او کفر يې غوره کړی دی او په دې باندې علاوه نور خلک هم د الله ﷻ د لارې څخه اړوي نو الله ﷻ د هغوی عملونه ضائع کړه، که څه هم هغوی به ورته په تمه وي چې په ګټه به يې تمام شي او خلک به پرې بې لارې کړی شي.

٢ـ بالمقابل کومو کسانو چې په ټولو پيغمبرانو باندې يې ايمان راوړی وي او صالح اعمال يې ورسره ضميمه کړي وي، او په خاصه توګه په هغه کتاب باندې يې هم ايمان راوړی وي کوم چې د الله ﷻ د پلوه په محمد ﷺ باندې نازل کړی شوی دی حال دا چې په دې زمانه کښې فقط همدغه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کتاب (قرآن کریم) حق دی چې د قیامت تر ورځې پورې به باقي وي او بل کتاب ترې وروسته نه نازلېږي، نو الله ﷻ به د دغو صفاتو درلودونکو کسانو ګناهونه محوه کړي او په مغفرت سره به يې پټ کړي، او په دې باندې علاوه، حالات به يې نور هم صالح وګرځوي او زیات توفیق به ورکړي. او هم به ورته د هر نېک عمل دپاره چندونه‌چندونه اجرونه او ثوابونه په دنیا او آخرت کښې ورکړي.

۳_ ای پیغمبره! الله ﷻ ځکه د هغوی (کفارو) اعمال ضائع کوي او د دوی (مؤمنانو) اعمالو ته اجرونه ورکوي چې: هغوی د باطلو پیروي کوي او حق يې د پښو لاندې کړی دی، او دوی د هغه حق پیروي کوي کوم چې ورته د خپل رب ﷻ د پلوه ورغلی دی او د باطلو د پیروۍ څخه ډډه کوي.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ خلکو ته حالات دغسې بیانوي او واضحه کوي، نور نو د دوی کار دی چې په کومه ډله کښې شمولیت خوښوي او د کومې ډلې څخه اجتناب کوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ کښې د "صَدُّوا" کلمه د "صُدُود" _لکه "قُتُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې يوه معنی يې د لارې څخه اوښتل دي او بله معنی يې د لارې څخه اړول دي[1]؛ په دې مقام کښې دواړه معنی مراده ده چې په اولنۍ معنی باندې د ﴿كَفَرُوا﴾ کلمه دلالت کوي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿أَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو د ﴿أَعْمَٰلَهُمْ﴾ څخه هغه نېک اعمال اراده کړي دي کوم چې کفار يې په اخلاص سره اداء کړي لکه صله رحمي او نور[2]، لکه چې څه بیان ته يې په [الفرقان:۲۳] او [الأحقاف:۲] ایتونو کښې اشاره شوې ده. مګر مونږ ته د مقام په لحاظ بهتره برېښي چې دلته د ﴿أَعْمَٰلَهُمْ﴾ څخه د کفارو هغه حیلې او چلونه مطلب شي کوم به چې هغوی د اسلام د مخنیوي دپاره او د خلکو د ګمراه کولو دپاره په کار اچول؛ یعنې الله ﷻ به د کفارو چلونه ټول بې اثره کړي او د دوی د اسلام د مخنیوي هلې ځلې به ټولې ضائع کړي.

زمونږ په فکر کومه معنی چې ځینو مفسرینو کرامو دلته اراده کړې ده هغه به په راتلونکي ایت کښې مراده وي چې: ﴿فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ﴾ [محمد:۹] یعنې نو الله ﷻ د کفارو نېک اعمال (د هغوی د کفر او عدم ایمان د کبله) ضائع کړه چې هیڅ أخروي اجر او ثواب ورباندې نه شي مرتب کېدلی.

### بال څه معنی؟

۲_ په ﴿وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ﴾ کښې د "بَال" کلمه د حال او شان په معنی هم استعماله شوې ده[3] چې دلته همدغه معنی مناسبه برېښي.

ځینو مفسرینو کرامو دلته ذکره شوې کلمه دنیاوي او أخروي دواړو حالونو ته شامله ګڼلې ده[4].

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۸۳
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۷۲
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۷۴
(۴) روح المعاني ج۲۶ ص۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته صرف دنیاوي حال مراد شي او دا څکه چې په اُخروي حال باندې وړاندېنۍ جمله ﴿ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ ﴾ په څرګنده توګه دلالت کوي. نو په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې: الله ﷻ به د مؤمنانو حال اصلاح کړي او کومه مالي کمزري چې پکښې لیده کېږي هغه به په قوت بدله کړي، ترڅو د ټولو کفارو سره د جهاد توان ولري (لکه چې الله ﷻ خپله وعده پوره کړه او مؤمنانو ته یې جهاني برلاسي ورېښله).

## امثال څه معنی؟

۳_ په ﴿ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَٰلَهُمْ ﴾ کښې مفسرینو کرامو د "أَمْثَال" کلمه ښه پوره تفسیره کړې ده[۱]، کوم تفسیر چې مونږ ته د مقام سره مطابق برېښي هغه دا دی چې: دغه کلمه د "مَثَل" _لکه "شَرَف"_ جمعه ده او د صفت معنی ورکوي لکه چې همدغه کلمه مفسرینو کرامو په راتلونکي پنځلسم ایت کښې په همدې معنی سره تفسیره کړې ده[۲]. دا د یو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ أَمْثَٰلَهُمْ ﴾ ضمیر په ﴿ لِلنَّاسِ ﴾ کښې د "النَّاس" کلمې ته راجع دی کومه چې ورسره متصله ذکره ده.

یعنې ای پیغمبره! په دغه ذکر شوي ډول سره الله ﷻ د خلکو دپاره د دوی صفات او حالات بیانوي او په همدغه ډول سره یې په دوه وو ګروپونو ویشي، ترڅو دوی هغه حالت او صفت خپل کړي کوم چې ورته په ګټه تمامېږي او په هغې ډلې کښې شامل شي کومه چې په دنیا او آخرت دواړو کښې کامیابه ډله ده.

﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّواْ ٱلْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚ ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَاْ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٤﴾ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾ وَيُدْخِلُهُمُ ٱلْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٨﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٩﴾ ﴾

[۴] نو کله چې تاسو (د جنګ په میدان کښې) د هغو کسانو سره ملاقي (مخامخ) شوئ کومو چې کفر غوره کړی دی، نو (څټونه یې ووهئ) څټونه وهل (ککرې یې والوزوئ).

آن تردې چې کله تاسو په هغوی کښې ښه ډېر وژل وکړه نو (بیا په اسیرانو باندې) خپل پړي سخت

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۱۶؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۹۲

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۸۱؛ تفسیر الطبري ج۴ ص۴۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(او کلک) کړئ (محکم یې وتړئ)، نو د تړلو څخه وروسته یا (په هغوی باندي احسان وکړئ) احسان کول، او یا (دې هغوی فدیه ورکړي) فدیه ورکول.

(تاسو ترهغه پورې د کفارو د ککریو الوزولو ته ادامه ورکړئ) ترڅو چې جنګ خپل وسائل (په ځمکه باندې) کېږدي (او د کفارو د مقابلې توان د منځه لاړ شي او فتنه ورکه شي).

(ای پیغمبره!) دغه کار (وکړئ او ادامه ورکړئ) او که الله ﷻ اراده کړې وی (چې د کفارو څخه پخپله انتقام واخلي) نو هرومرو به یې ترې (په اسماني آفت سره) انتقام اخستی وی، مګر (الله ﷻ دا کار) د دې دپاره (ونه کړ) ترڅو ستاسو (بنیادمانو) خینې کسان په خینو نورو سره امتحان کړي (او هر چاته خپل وزن پخپله څرګند شي).

او هغه کسان کوم چې د الله ﷻ په لاره کښې ووژلی شي نو هیڅکله به الله ﷻ د هغوی اعمال ورک نه کړي (چې نتائج ورباندې مرتب نه شي).

[۵] ډېر ژر به الله ﷻ هغوی (د خپلې رضامندۍ په لور) هدایت کړي (او مطلب ته به یې ورسوي)، او هم به یې (راتلونکي هر یو) حال صالح (او بهتر) وګرځوي.

[۶] او هم به یې جنت ته داخل کړي چې (په دنیا کښې) یې ورته (د پیغمبرانو په ذریعه) ښودلی دی (او په آخرت کښې به یې په ورداخلېدلو سره ورته وښیي).

[۷] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! که چرته تاسو د الله ﷻ نصرت وکړئ (په جهاد باندې کلک شئ) نو الله ﷻ به ستاسو نصرت وکړي او قدمونه به مو ثابت وګرځوي (صبر او استقامت به درپېرزو کړي).

[۸] او هغه کسان چې دي کومو چې کفر غوره کړی دی هغوی ته (به الله ﷻ پښې ښویېدل او سقوط ورکړي) پښې ښویېدل، او هم به یې اعمال (او وسائل) بې نتیجې کړي.

[۹] دغه کار به په دې سبب (ترسره شي) چې یقیناً دوی هغه شی (قرآن کریم) نه خوښوي کوم چې الله ﷻ نازل کړی دی، نو الله ﷻ د دوی (نېک) اعمال ضائع کوي (چې دوی ایمان نه لري او کافران دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې خلک په دوه وو ډلو ویشلی شوي وه چې یوه شیطاني ډله وه او بله رحماني ډله، په دې ایتونو کښې الله ﷻ په رحماني ډلې باندې جهاد فرض کړی دی ترڅو دوی د شیطاني ډلې د اضلال (ګمراه کولو) مخه ونیسي او خلک یې د شره خلاص کړي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! څرنګه چې د شیطاني ډلې سره جهاد فرض دی چې ترڅو یې د شیطانت مخه ونیوله شي، نو په همدې اره د الله ﷻ د پلوه په مؤمنانو باندې څه مطالب قرائت کړه او ورته ووایه چې:

١ـ ای مؤمنانو! کله چې تاسو د جنګ په میدان کښې د کفارو (شیطاني) ډلې سره مخامخ شوئ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د هغوی په وژلو او سر پرېکولو باندې هیڅ دریغ مه کوئ او په ډېر شدت سره یې په څټونو باندې ووهئ او ککرۍ یې والوزوئ.

۲ـ تاسو خپل ذکر شوی چال چلند ته تر هغه ادامه ورکړئ ترڅو په هغوی کښې ښه پوره مرګ ژوبله رامنځته کړئ چې زور یې مات شي او ستاسو د مقابلې توان پکښې پاتې نه شي.

۳ـ کله چې هغوی د مقابلې توان د لاسه ورکړ نو تاسو متباقي جنګیالان اسیران وګرځوئ او خپله قبضه ورباندې ښه پوره کلکه کړئ، هسې نه چې یا په تښتېدلو بریالي شي او یا تاسو ته د څه ضرر د رسولو پلان جوړ کړي. کله مو چې ورباندې خپله قبضه ټینګه کړه او په قابو کښې مو راوستل نو بیا ورسره لاندې چال چلند وکړئ او دائمي یې په اسارت کښې مه ساتئ:

الف: یا ورباندې احسان وکړئ چې د وژلو څخه یې بچ کړئ، نو یا ترې غلامان جوړ کړئ او یا یې بالکل ازاد کړئ او د غلامانو لقب هم ورنه کړئ.

ب: یا ترې فدیه واخلئ او په مالي عوض سره ازادي ورکړئ او یا یې په بدل کښې مسلمانان اسیران د کفارو د اسارت څخه خلاص کړئ.

۴ـ ای مؤمنانو! په تاسو باندې ترهغه وخته پورې جهاد فرض دی چې کله د کفارو د پلوه جنګ ختم شي او جنګیالي یې په یقیني توګه خپله وسله په ځمکه کېږدي. یا په بل عبارت: ترڅو د بې لارې کولو فتنه د منځه لاړه شي او داسې کفار موجودیت ونه لري چې د خلکو د ایمان راوړلو مخه نیسي.

۵ـ ای پیغمبره! مؤمنانو ته یو خل بیا ووایه چې تاسو جهاد ته ادامه ورکړئ او تنبلي پکښې مه کوئ، ځکه چې دا کار ستاسو په ګټه دی، الله ﷻ ستاسو جهاد ته څه ضرورت نه لري، که اراده یې وشي نو په کوم اسماني آفت باندې به د کفارو څخه انتقام واخلي، خو په دې صورت کښې به تاسو د جهادي اجرونو څخه بې برخې جوړ شئ. یا په بل عبارت: په تاسو باندې جهاد کول د دې دپاره فرض ګرځولی شوي دي ترڅو الله ﷻ ستاسو ځینې بنیادمان په ځینو نورو سره وآزمایي او په نتیجه کښې هر چاته موافقه جزا یا سزا ورکړي.

۶ـ په جهاد کښې تکلیفونه او زحمتونه حتی شهادتونه شته خو ستاسو هیڅ زحمت او درد به بې اجره پرېښودلی شي. د مثال په توګه:

الف: کوم کسان چې د الله ﷻ په لاره کښې ووژلی شي او شهادت یې په برخه شي نو الله ﷻ به یې د شهادت څخه علاوه نور عملونه او زحمتونه هم ضائع نه کړي چې بې اجره یې پرېږدي، بلکې به خو چنده ثوابونه به ورکړي.

ب: ډېر ژر به الله ﷻ هغوی مطلوب ته ورسوي او خپله رضامندي به ورپېرزو کړي، او همدارنګه به ورته قبر د جنت یوه روضه وګرځوي بلکې ټول برزخي حالات به یې ښک او سپېڅلي جوړ کړي چې ارواګاني به یې جنت ته خي راخي.

ج: بالآخره الله ﷻ به د قیامت په ورځ هغوی داسې جنت ته داخل کړي کوم یې چې د پخوا څخه ورپېژندلی وي، ته به وایې چې خپل دنیاوي کور یې دی او ښه پکښې بلد دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٧_ ای مؤمنانو! که تاسو د الله ﷻ د دین سره نصرت وکړئ او په جهاد سره د کفارو مخه بنده کړئ چې خلک د سمې لارې څخه واړوي، نو الله ﷻ به تاسو سره مرسته او نصرت وکړي او ستاسو لږو کسانو ته به په ډېرو کفارو باندې غلبه ورکړي او په لږو وسائلو باندې به مو ډېر اثارات او نتائج مرتب کړي، او همدارنګه الله ﷻ به ستاسو قدمونه ثابت وګرځوي او د ډېر مقاومت او مقابلې توان به دربېرزو کړي، او بالآخره د فتحې څخه وروسته به مو قدمونه د بنوېېدلو څخه بچ کړي چې په مغلوبه ځمکه کښې د شریعت د چوکاټ څخه وتلي کارونه انجام کړئ او یا په مغلوبو کسانو باندې ظلم او تېری غوره کړئ.

٨_ بالمقابل هغو کسانو ته به د الله ﷻ د پلوه سقوط او د پښو بنویېدل په برخه کړی شي کومو چې کفر غوره کړی دی او ستاسو په وړاندې جنګېږي، په دې باندې علاوه، الله ﷻ به د دغو جنګیالیو کفارو جنګي پلانونه او وسائل شنډ او بې نتیجې کړي او د ماتې سره به یې مخامخ کړي او دا ځکه چې:

٩_ هغوی هغه قرآن کریم او شرعي ارشادات نه خوښوي کوم چې الله ﷻ د خلکو د ګټو دپاره نازل کړي دي چې ټوله دنیا ورباندې روښانه کړي. نو د همدې کبله یې الله ﷻ هغه نېک اعمال هم ضائع کوي کوم چې هغوی ورته په تمه دي چې په درد به یې دوا شي، لکه صله رحمي او نور.

## توضیحات

١_ په ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ کښې د ﴿ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ کلمات په اصل کښې "فَاضْرِبُوا الرِّقَابَ ضَرْبًا" وه نو د تاکید او اختصار دپاره د "اضْرِبُوا" کلمه حذفه شوه، او د "ضَرْبًا" کلمه یې په داسې حال قائم مقام وګرځوله شوه چې د ﴿ ٱلرِّقَابِ ﴾ کلمې ته یې اضافت وموند، نو ﴿ فَضَرْبَ الرِّقَابِ ﴾ کلمات ترې جوړ شوه[1].

یعني ای مؤمنانو! نو کله چې تاسو د کفارو سره د جنګ په میدان کښې ملاقي شوئ نو څټونه یې ووهئ، څټونه وهل (سرونه یې والوزوئ او هیڅ صرفه ورباندې مه کوئ).

## د جنګي اسیرانو حکم

٢_ په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا۟ ٱلْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً ﴾ کښې الله ﷻ د جنګي بندیانو په هکله ارشادات فرمایلي دي، خو مونږ د همده ﷻ په توفیق د [الأنفال: ٦٧] ایت لاندې په همدې اړه څه اجمالي معلومات لیکلي دي او د تفصیل دپاره مو د ځینو فقهي کتابونو نومونو ته هم اشاره کړې ده چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو. مګر د مقام په لحاظ ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف د ﴿ حَتَّىٰٓ ﴾ کلمه دلته په ﴿ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ پورې تعلق نیسي[2]. او د ﴿ أَثْخَنتُمُوهُمْ ﴾ کلمه

(١) تفسیر الکشاف ج٤ ص٣١٦
(٢) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص١٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اصلاً د "ثُخُونَة" _لکه "صُعُوبَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "ثخُونَة" دېته وايي چې يو بهېدونکی شی غلظت (ټينګوالی) پيدا کړي او د بهېدلو توان د لاسه ورکړي[١]. يعني تاسو د کفارو سرونو پرېکولو ته تر هغه ادامه ورکړئ ترڅو چې هغوی د حرکته ولوېږي او ستاسو د مقابلې توان د لاسه ورکړي (تاسو ورباندې غلبه مونده کړئ).

ب: د ذکرې شوې ﴿ حَتَّىٰٓ ﴾ څخه څرګندېږي چې د جنګي کفارو وژل په همدغه إثخان باندې ختمېږي او په کار دي چې په مغلوبو او اسيرانو کفارو باندې إثخان تطبيق نه کړی شي چې د اسارت په حال کښې ووژلی شي، او نه يې عامو مجاهدينو ته د وژلو اجازه شته.

ج: هو! د مجاهدينو قائد (مشر) کولی شي چې په خاصو ملحوظاتو (د شرارتونو په ارتکاب) سره د ځينو اسيرانو د اعدامولو او وژلو امر صادر کړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: د بدر په اسيرانو (بنديانو) کښې د نبي کريم ﷺ د پلوه په عقبه بن أبي مُعَيط باندې د اعدام حکم صادر او تطبيق کړی شو[٢].

دوهم: نبي کريم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ وفرمايل چې: «كُفُّوا عَنِ الْقَوْمِ إِلَّا أَرْبَعَةً»[٣] يعني د قوم (مکيانو) څخه ځنګ وکړئ (مه يې وژنئ) مګر څلور کسان (ووژنئ هر چرته چې لاس ته درغله).

دغه څلور کسان د عکرمة بن أبي جهل، عبد الله بن خطل، مقيس بن صبابة، عبد الله بن سعد بن ابي السرح څخه عبارت وه[٤]. خو د دغو څلورو کسانو د جملې څخه دوه کسانو (عکرمة بن ابي جهل، او عبد الله بن سعد بن ابي السرح) نجات وموند، چې مونږ يې د الله ﷻ په توفيق په ترتيب سره د [الأنعام: ٤١، ٩٣] ايتونو لاندې د نجات قيصې ليکلې دي.

د: په ﴿ فَشُدُّواْ ٱلْوَثَاقَ ﴾ کښې د "وَثَاق" کلمه د هغه شي نوم دی په کوم سره چې بل شی تړل کېږي[٥] څه لرې نه ده چې مونږ ترې په پړي يا رسۍ سره تعبير وکړو، مګر په دې مقام کښې د بنديانو د پړي کلکوالی د ښه حفاظت څخه کنايي دی چې ونه تښتي او يا څه ضرر پېښ نه کړي.

هـ: په ﴿ فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً ﴾ کښې د "مَنًّا، فِدَاءً" دواړه کلمې په مقدرو فعلونو سره منصوبې دي چې مونږ ترې په "تَمُنُّونَ مَنًّا، يَفْدُونَ فِدَاءً" سره تعبير کولی شو[٦]. يعنې نو د اسيرانو د ښه کلکولو څخه وروسته به تاسو يا د هغوی سره احسان کوئ احسان کول، او يا به هغوی تاسو ته فديه درکوي فديه درکول.

و: په احسان کولو کښې لاندې دواړه صورتونه شامل دي:

---

(١) القاموس المحيط ج١ ص٣٩٨؛ مفردات الراغب ص٧٥
(٢) سنن ابي داوٗد ج٢ ص١٠؛ سيرت ابن هشام ج٢ ص٢٨٦
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٥
(٤) تحفة الأحوذي على الترمذي ج٩ ص٤٤٥
(٥) مفردات الراغب ص٥٤٨
(٦) تفسير الكشاف ج٥ ص٣١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: چې بنديان وړيا (بدون د قيده او شرطه) ازاد کړی شي لکه چې نبي کريم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ ټولو اسيرانو ته ازادي ورکړه او ورته يې وويل چې تاسو ټول ازاد یاست[۱]، او اتيا نفره اسيران يې په هغه وخت کښې وړيا ازاد کړه کله چې هغوی په نبي کريم ﷺ باندې غلچکې حمله وکړه خو د مجاهدينو د پلوه ټول ونيولی شوه[۲]، همدارنګه نبي کريم ﷺ ثمامه بن أثال هم بدون د قيده او شرطه (مفت) خوشې کړی وه کله چې مجاهدينو نيولی وه او مدينې منورې ته يې لاس تړلی راووست[۳].

دوهم: د إحسان يو صورت دا هم . دی چې بنديان د مملوکيت په صفت ژوندی پرېښودل شي او د وژلو څخه يې صرف نظر وکړی شي[۴].

دغو مملوکانو ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ﴾ [النور:۳۲] يعنې او (ای مؤمنانو!) تاسو د خپلو ځانونو (اصيلانو) د جملې څخه مجردان په نکاح ورکړئ (او يا ورته نکاح وکړئ) او همدارنګه تاسو د خپلو غلامانو او وينځو څخه (هم) صلاح درلودونکي په نکاح ورکړئ (او يا ورته نکاح وکړئ).

ز: په فديه کښې لاندې ټول صورتونه شموليت لري:

اول: چې د بنديانو څخه څه مالي عوض واخستلی شي او ازادي ورکولی شي، لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ د بدر بنديان په مالي عوض سره خوشې کړي وه[۵].

دوهم: چې کفري اسيران د هغو مسلمانانو په بدل کښې ازاد کړی شي کوم چې د کفارو په لاس بنديان او نيولی شوي وي، لکه چې نبي کريم ﷺ يوه کافره اسيره ښځه کفارو ته ورکړه او د هر مؤمنان اسيران يې ورباندې راخلاص کړه کوم چې د کفارو په اسارت کښې وه[۶]، همدارنګه نبي کريم ﷺ کفارو ته يو اسير کافر ورکړ او په عوض کښې يې ترې دوه مؤمنان اسيران د کفارو د بنده او اسارت څخه راخلاص کړه[۷].

درېيم: د فديه اخستلو يو صورت دا هم دی چې بنديان خپل صنعت مسلمانانو ته ورزده کړي او د همدغې زده کړې په بدل کښې ازاد کړی شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «كَانَ نَاسٌ مِنَ الْأَسْرَى يَوْمَ بَدْرٍ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِدَاءٌ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِدَاءَهُمْ أَنْ يُعَلِّمُوا أَوْلَادَ الْأَنْصَارِ الْكِتَابَةَ»[۸] يعنې د بدر په ورځ د بنديانو څخه ځينې داسې

(۱) السنن الكبرى للبيهقي ج۹ ص۱۱۸
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۱۱۶
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۲۷؛ سنن ابي داؤد ج۲ ص۸
(۴) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۵۲
(۵) سيرت ابن هشام ج۲ ص۲۰۶
(۶) سنن ابن ماجه ص۲۰۴
(۷) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۰۰ او ج۷ ص۲۰۸
(۸) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم (۲۶) ملک وه چې فدیه یې نه درلوده (مګر لیک یې زده وه) نو نبي کریم ﷺ د هغوی فدیه دا وګرځوله چې د انصارو اولادونو (ماشومانو) ته لیک (او لوست) ورزده کړي.

## سوال جواب

ح: که څوک وايي چې: د [الأنفال:۶۸] ایت څخه څرګندېږي چې د بدر په اسیرانو کښې مجاهدینو ته د دې کبله عتاب متوجه شوی وه چې فدیه یې ترې اخستې وه، حال دا چې په دغه ایت کښې -چې بحث پکښې روان دی- هغوی ته د فدیه اخستلو اجازه ورکړه شوې ده، نو ایا دغه دواړه ایتونه سره څه منافات نه لري؟

ج: مونږ وایو چې: د ځینو مفسرینو کرامو په نظر دغه ایت د [الأنفال:۶۸] ایت څخه وروسته نازل شوی دی نو څه منافات یې سره نشته[1]، مګر دغه جواب په زړه پوری نه برېښي، نو په زړه پوری جواب دا دی چې د بدر په غزا کښې مجاهدینو ته د دې کبله عتاب متوجه شوی وه چې هغوی د إثخان څخه وړاندې د اسیرانو څخه فدیه اخستې وه، او دغه ایت -چې بحث پکښې روان دی- د فدیه اخستلو دپاره "إثخان" شرط کړی دی لکه چې د ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ ﴾ کلمات ورباندې په صراحت سره دلالت کوي.

همدغه مضمون کټ مټ د امیر المؤمنین عمر ﷺ د خولې څخه هم روایت شوی دی چې لنډیز یې په لاندې ټکو کښې لوستلی شئ:

اول: امیر المؤمنین عمر ﷺ وايي چې: نبي کریم ﷺ د أبو بکر ﷺ څخه د بدر د اسیرانو په هکله مشوره وغوښتله چې څه ورسره وکړو؟ نوموړي ﷺ مشوره ورکړه چې: ای پیغمبره! د دغو څخه فدیه واخله او خوشې یې کړه (ازادي ورکړه) چې د یو پلوه به زمونږ دپاره په نورو غزاګانو کښې د قوت سبب وګرځي او د بله پلوه اُمید دی چې اسیران په ایمان مشرف شي (نو زما په فکر د إثخان څخه فدیه اخستل بهتر دي).

دوهم: کله چې نبي کریم ﷺ ذکره شوې پوښتنه ماته راجع کړه نو ما ورته وویلې چې زما نظر د ابو بکر الصدیق ﷺ د نظر څخه مخالف دی هغه دا چې: ای پیغمبره! مونږ ته امر وکړه چې د اسیرانو سرونه والوزوو او هرڅوک دې د خپلو اقاربو سره همدغه کار وکړي، ځکه چې دغه اسیران د کفر إمامان او مشران دي (نو د دوی په هکله د فدیه اخستلو څخه په وژلو کښې إثخان بهتر دی).

دریم: «فَهَوِيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَا قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَلَمْ يَهْوَ مَا قُلْتُ»[2] یعنې نبي کریم ﷺ هغه خبره خوښه کړه کومه چې ورته ابو بکر ﷺ ویلې وه، او هغه مشوره یې خوښه نه کړه کومه چې ما ویلې.

څلورم: سبا ته ګورم چې نبي کریم ﷺ او أبو بکر ﷺ دواړه ناست دي او ژاړي، نو ما پوښتنه وکړه چې: ولې؟ نو نبي کریم ﷺ یوې نژدې ونې ته اشاره وکړه او په جواب کښې یې وویلې چې: د دغې

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۷۲
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۹۳؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونې څخه صحابه وو کرامو ﷺ ته عذاب ډېر نږدې شوی وه څکه چې د اسیرانو څخه یې فدیه واخستله (او إثخان یې پکښې ونه کړ لکه څنګه چې ستا نظر وه).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾ کښې خو د "أَوْزَار" کلمه د "وِزْر" لکه "عِلْم" ـ جمعه ده، چې د دروند پېټي او بار معنی ورکوي[1]، او په دې مقام کښې ترې د جنګ آلات او سامانونه مطلب دي[2]، نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ حَتَّىٰ ﴾ توری دلته د څه شي پورې تعلق نیسي؟ یا په بل عبارت: باید مجاهدین کوم کار ته ترهغه ادامه ورکړي ترڅو چې جنګیان خپله وسله په ځمکه کېږدي او جنګ ختم شي او د بیا راپورته کېدلو احتمال یې د منځه لاړ شي؟

مونږ وایو: مفسرینو کرامو د ذکر شوي توري په متعلق کښې متعدد اقوال کړي دي[3]، خو بهتره دا ده چې دغه توری د "فَاضْرِبُوا" په هغې کلمې پورې تعلق ونیسي کومه چې د ﴿ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ سره مقدره ده او په اولنۍ توضیح کښې ورته اشاره شوې ده. یعنې ای مؤمنانو! په هر ځای کښې او په هر وخت کښې چې تاسو د کفارو سره د جنګ په موقع ملاقي شوئ نو سرونه یې والوزوئ او دغه کار ته تر هغه ادامه ورکړئ ترڅو چې جنګ ختم شي او د کفارو مقاومت د منځه لاړ شي.

لنډه دا چې ذکر شوی عبارت د "حَتَّى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" معنی ورکوي[4] یعنې تاسو د قیامت تر ورځې پورې د کفارو سره وجنګېږئ.

پورتنی مطلب په ډېرو نصوصو کښې واضحه شوی دی، د مثال په توګه:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ ﴾ [البقرة:۱۹۳] یعنې او تاسو د کفارو سره تر هغه وجنګېږئ ترڅو چې فتنه نشت (ورکه) شي او دین (غاړه ایښودل) یوازې الله ﷻ ته مفوض شي او بس، (هیڅوک ونه کړی شي چې د چا د ایمان راوړلو په وړاندې خنډ واقع شي).

ب: یوه ورځې یوه سړي وویلې چې: ای د الله رسوله! «أَذَالَ النَّاسُ الْخَيْلَ وَوَضَعُوا السِّلَاحَ وَقَالُوا لَا جِهَادَ قَدْ وَضَعَتِ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا» یعنې خلک آسونو ته په سپک نظر ګوري او وسلې یې کېښودې او وایي چې جهاد ختم شو یعنې جنګ خپل آلات او سامان په ځمکه کېښود. نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «كَذَبُوا الْآنَ الْآنَ جَاءَ الْقِتَالُ»[5] یعنې خلک دروغ وایي اوس اوس جنګ راغی (دا ختمېږي نه ترڅو چې قیامت قائم شي).

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۵۸
(۲) روح المعاني ج۲٦ ص۴۱
(۳) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۹۳
(۴) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۵۳
(۵) سنن النسائي ج۲ ص۱۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَيَنْزِلَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ﷺ»[1] یعنې زما د اُمت څخه به یوه ډله همیشه په حق باندې ولاړه وي، په هغه چاباندې به غلبه موندونکې وي کوم چې ورسره دښمني کوي. ترڅو چې د الله ﷻ امر (قیامت) راشي او عیسی بن مریم ﷺ د اسمانه رانښکته شي.

## یو نحوي تحلیل

۴ـ په ﴿ ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو جائزه ګڼلې ده چې د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه د مقدرې مبتدا دپاره خبر واقع شي، نو ظهور به یې داسې صورت ونیسي چې "الأمْرُ ذَلِكَ" یعنې کار همدغه دی چې وړاندې ذکر شو[2].

مونږ ته بهتره بربښي چې ذکره شوې کلمه د مقدر فعل دپاره مفعول وي او دا خکه چې وړاندې د ﴿ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾، ﴿ مَنًّۢا ﴾، ﴿ فِدَآءً ﴾ درېواړو کلمو دپاره افعال مقدر ګڼلی شوي دي، نو ظهور به یې داسې جوړ شي چې "افْعَلُوا ذَلِكَ"، یعنې ای مؤمنانو! تاسو د کفارو سره د امتحان په ملحوظ په دغې ذکرې شوې طریقې سره جنګ او جهاد ته ادامه ورکړئ، که نه نو الله ﷻ د هغوی څخه په اسماني آفت سره هم انتقام اخستلی شي، خو په دې صورت کښې به تاسو د ثوابونو او اجرونو څخه بې برخې یاست.

## د شهیدانو فضائل

۵ـ په دې کتاب کښې د الله ﷻ په توفیق خای په خای د نصوصو په رڼا کښې د شهیدانو ډېر فضائل لیکلي شوي دي او په خاصه توګه د [البقرة:۱۵۴] ایت لاندې پکښې ښه اوږد بحث تېر شوی دی، خو د مقام په لحاظ ورباندې لاندې څه وضاحتونه وراضافه کوو:

دلته الله ﷻ د شهیدانو په هکله لاندېنۍ درې جملې نازلې کړې دي:

الف: په ﴿ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ څخه د شهیدانو ټول نېک اعمال مطلب دي، برابره خبره ده چې جهاد پورې مربوط وي او که نه. یعنې الله ﷻ به هیڅکله د شهیدانو نېک اعمال بې اجره پرېنږدي، او هم به یې جهادي هلې ځلې بې نتیجې ونه ګرځوي چې کامیابي او بریالیتوب ورباندې مرتب نه شي.

ب: د ﴿ سَيَهْدِيهِمْ ﴾ کلمه د "هُدَىٰ" څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [حم السجدة: ۱۷] ایت لاندې لیکلي دي چې "هُدَىٰ" د هغې لارښوونې څخه عبارت ده په کومې سره چې الله ﷻ لارښوولی شوی کس موصوف وګرځوي (مطلب ته یې ورسوي). یعنې ډېر ژر به الله ﷻ هغوی خپل مطلب ته ورسوي او د اروا ګانو په لحاظ به سمدستي جنت ته د ورداخلېدلو نعمت ورپېرزو کړي

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۱۹۸
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۴۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴾ کښې د "بَال" کلمه د شهیدانو هغو ټولو حالاتو ته شامله ده کوم چې په هغوی باندې د روح د قبض څخه نیولې آن جنت ته د داخلېدلو پورې تېرېږي. یعنې الله ﷻ به د هغوی راتلونکي حالات ټول صالح او بهتر وګرځوي چې نه به وربانديې په ځنکدن کښې مشقت وي او نه په برزخ او نه په نورو مقاماتو کښې.

د: په ﴿ وَيُدْخِلُهُمُ ٱلْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾ کښې د "عَرَّفَ" کلمه د تعریف څخه اشتقاقه شوې ده چې د وربښودلو او وربېژاندلو معنی ورکوي. په همدې باب لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِي الدُّنْيَا»[1] یعنې نو په هغه اقدس ذات مې دې سوګند وي چې د محمد روح د هغه ﷺ په بلا کیفه لاس کښې دی چې د جنتیانو هر یو کس به په جنت کښې خپل کور ته د ده څخه دنیاوي کور ته ښه لاره موندونکی وي. یا په بل عبارت: هر یو کس به د دنیاوي کور څخه خپل جنتي کور ښه پېژني او ښه به وربښودلی شوی وي.

## تَعس څه معنی؟

۶ـ په ﴿ فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ کښې د "تَعْسًا" کلمه په مقدر فعل سره منصوبه ده چې مونږ ترې په "فَتَعِسَ لَهُمْ تَعْسًا" سره تعبیر کولی شو[2]. دغه کلمه د ښوېېدلو او غورزېدلو معنی ورکوي[3].

یعنې الله ﷻ به د جنګ په میدان کښې (د مؤمنانو په عکس) کفارو ته سقوط ورکړي او پښې به یې وروښويوي، او هغه ټول اعمال او وسائل به یې بې نتیجې وګرځوي کوم چې هغوی د خپلو ښو د ټینګولو دپاره په کار اچولي وي.

﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ
وَلِلْكَٰفِرِينَ أَمْثَٰلُهَا ﴿١٠﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوْلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَأَنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿١١﴾
إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ ٱلْأَنْعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِىَ
أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ
مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم ﴿١٤﴾ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٩۶٧
(٢) روح المعاني ج٢۶ ص۴۴
(٣) القاموس المحیط ج١ ص٣٧٠؛ المحرر الوجیز ج١۵ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ وَسُقُوا۟ مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

[۱۰] ایا نو کفار په ځمکه کښې نه ګرځي (راګرځي) چې وګوري چې د هغو کسانو عاقبت څنګه شوی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي؟.

(د دوی عاقبت داسې شوی وه چې) مونږ وړباندې هلاک (عقوبت) وربښکته کړ (او د ځرمې مو پوپنا کړه). او (د دې زمانې) کفارو ته د هغه عقوبت امثال (تاکلي شوي) دي (چې وخت په وخت به د دوی په مختلفو ډولو باندې ورنازل کړی شي).

[۱۱] دِغه (ذکر شوي عقوبتونه ورته) په دې سبب (تاکلي شوي) دي چې يقيناً الله ﷻ د هغو کسانو ناصر (مددګار) دی کومو چې ایمان راوړی دی او یقیناً کفار چې دي دوی ته ناصر نشته.

[۱۲] (د همدې کبله) يقيناً الله ﷻ هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي داسې جنتونو ته داخلوي چې (د ونو) لاندې یې (څلور ډوله) ویالې بهېږي. او يقيناً هغه کسان چې کفر یې غوره کړی (د دنيا څخه) ګټه پورته کوي او داسې خوراک (ترې) کوي لکه څنګه چې (ترې) څاروي خوراک کوي، او اور (دوزخ) چې دی د همدوی دپاره د (دائمي) اوسېدانې ځای دی.

[۱۳] او مونږ د داسې ښارونو څخه څومره ډېر هلاک کړي دي چې (هر يو يې) د قوت د حيثه د هغه ښار څخه کلک وه کوم چې ته يې (د خپله خانه) ويستلی (او شړلی) يې، نو هغوی ته هيڅ مددګار نه وه (چې زمونږ د عذابه يې نجات ورکړی وی).

[۱۴] ايا نو هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د پلوه په څرګنده لاره (او دليل) باندې وي د هغه چا غوندې دی کوم ته چې خپل بد عمل ښايسته کړی شوی وي او د خپلو خواهشاتو پيروي کوي؟.

[۱۵] (ايا) د هغه جنت (عجيب) صفت چې متقيانو ته (د جزا په حيث) وعده کړی شوی دی، چې په هغه کښې د داسې اوبو ويالې بهېږي چې غير متغيرې دي (خوند، رنګ او بوی يې په خپل اصليت باقي دي) او د داسې شودو ويالې هم چې خوند يې پيکه نه دی، او د داسې شرابو ويالې هم چې څښونکو ته مزه درلودونکې دي، او د داسې شاتو ويالې هم چې (د خيرو ميرو څخه) صاف کړی شوي دي، او (بالآخره) چې په هغه کښې متقيانو ته د هر ډول ميوجاتو څخه او د خپل رب ﷻ د پلوه لوی مغفرت هم شته؛ د هغه چا (د جزا) غوندې دی کوم چې په اور (دوزخ) کښې همېشه اوسېدونکی دی (او کومو ته) چې ګرمې (خوټېدلې) اوبه ورڅښولی کېږي، نو کولمې يې ټوټه-ټوټه ګرځوي؟ (هيڅکله هغه د دې غوندې نه شي جوړېدلی او نه سره تناسب لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې کفار د اشارې په توګه تهديد شوي وه چې په کفر باندې د کلک پاتې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېدلو په صورت کښې به وزباندې مؤمنان مسلط کړي او د زوره به يې وغورزوي. په دې ايتونو کښې هغوی په اسماني عذاب سره تهديدېږي چې په ذکر شوي صورت کښې به وزباندې ورنازل کړی شي او بنياد به يې وويستلی شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل دعوتي اُمت باندې د ذکر شوي تهديد په تعقيب څه نور تهديدات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ ايا نو کفار په ځمکه کښې نه ګرځي راګرځي ترڅو پخواني تاريخي اثار وګوري او پوه شي چې د هغو کفارو عاقبت څنګه تېر شوی دی کوم چې د دوی څخه وړاندې په کفر باندې کلک وه او د خپلو-خپلو پيغمبرانو تکذيب ته يې ملاوې تړلې وې؟ ترڅو ترې عبرت واخلي.

د هغوی عاقبت دا تېر شوی دی چې الله ﷻ ورباندې هلاکت او بربادي ورنازله کړه چې نه يې سرونه په امن کښې پاتې شوه او نه مالونه، بلکې ټول د ځرمې پوپنا شوه.

۲ـ د دې زماني کفارو ته د الله ﷻ په نزد د پخوانيو کفارو د عقوبت او تعذيب متعدد مثالونه ټاکلي شوي دي چې په متعددو او مختلفو ډلو به په مختلفو وختونو کښې تطبيق کړی شي. او دا ځکه چې الله ﷻ د مؤمنانو مددګار او ناصر دی او کفار مددګار او ناصر نه لري چې د عقوبتونو څخه نجات ورکړي.

۳ـ په آخرت کښې به هم الله ﷻ د مؤمنانو او کفارو سره موافق چال چلند وکړي هغه دا چې:

الف: مؤمنان به داسې جنتونو ته داخل کړي د کومو د ونو لاندې چې څلور ډوله ويالې بهېږي، ځکه چې دوی ايمان راوړی دی او صالح اعمال يې ورسره ملګري کړي دي.

ب: هغه کسان چې نه يې ايمان راوړی دی او نه يې صالح اعمال کړي دي بلکې برسېره په کفري عقيده او کفري اعمالو باندې د دنيا څخه د څارويو غوندې فقط خوراکونه او څښاکونه کوي او آخرت يې بالکل هېر کړی دی، د دوی دپاره د الله ﷻ د پلوه دوزخ د دائمي اوسېدانې ځای ټاکلی شوی دی چې د دوی د کړو وړو سره پوره سمون خوري.

۴ـ ای پيغمبره! مونږ څومره ډېر پخواني کفري ښارونه هلاک کړي دي، حال دا چې هغوی ستا د هغه ښار څخه د قوت د حيثه زيات او قوي وه کوم چې ته د خپله خانه وويستلې او اوسېدونکو يې پرېښنبودلې چې ژوند پکښې وکړې، خو کفري هلاک کړی شوو ښارونو ته نه قوت څه ګټه ورسولی شوه چې نجات ورکړي او نه يې څه ناصر او مددګار وموند چې د هلاک مخه يې ونيسي.

نو ايا که ستا په ښار باندې (ستا د اخراج څخه وروسته) مونږ څه مهلک عذاب ورنازل کړو دوی به نجات مونده کړي او څه مددګار به ولري؟.

۵ـ مونږ ځکه په دنيا او آخرت کښې د مؤمنانو او کفارو سره جدا-جدا چال چلند کوو چې دغه دواړه ډلې په خاصيتونو کښې سره جدا-جدا او بېلې-بېلې دي. يا په بل عبارت: ايا نو هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د پلوه په څرګند حجت باندې ولاړ وي او په اخلاص سره يې د خپل پيغمبر ﷺ پيروي کړې وي، د هغه چا غوندې کېدلی شي کوم ته چې خپله بده کړنلاره د نفس او شيطان د پلوه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نابسته کړي شوې وي او د خپلو خواهشاتو پیروي کوي (شریعت یې د پښو لاندې کړی وي)؟

۶_ ای پیغمبره! د ښه وضاحت دپاره په خپل اُمت باندې د ذکرو شوو دواړو ډلو اُخروي جدا جدا حالتونه هم قرائت کړه، هغه دا چې:

الف: مؤمنانو (متقیانو) ته په آخرت کښې د هغه جنت وعده ورکړه شوې ده چې صفات یې دا دي:

اول: په دغه جنت کښې د پاکو او صافو اوبو ویالې بهېږي چې د تل دپاره به مزناکې او خوندورې وي چې نه به پکښې بد بوی پیداکېږي او نه به یې په خوند او رنګ کښې څه بدلون راځي.

دوهم: په دغه جنت کښې د شودو ویالې هم بهېږي چې د همېشه دپاره تازه او خوندورې دي او هېڅکله یې خوند نه بدلېږي، دغه شوده د دنیاوي شودو غوندې نه دي چې د ساکښانو او څارویو څخه رالوشلی کېږي.

دریم: په دغه جنت کښې د خوندورو شرابو ویالې هم بهېږي چې د څښونکو دپاره لذت او مزه ښونکي دي، چې نه ورته سر درد پیدا کوي او نه یې په عقل کښې څه قصور رامنځته کوي.

څلورم: په دغه جنت کښې د صافو او خالصو شاتو ویالې هم بهېږي، چې د دنیاوي شاتو په څېر مچیو نه دي کړي، چې عادةً د خیرو او خلو څخه خالي نه وي او چاڼ ته ضرورت لري.

پنځم: په دغه جنت کښې د هر ډول میوجاتو څخه ښه پرېمانه شتون لري چې تل به د تازګۍ او پوخوالي په حال په ونو کښې موجودې وي، چې نه به ورباندې موسم څه اثر درلودلی شي او نه به په ونو کښې ختمېږي.

شپږم: په دغه جنت کښې به په مادي نعمتونو باندې علاوه زښت ډېر روحي او معنوي نعمتونه هم جنتیانو ته ورکړی شي هغه دا چې د خپل رب ﷻ د پلوه به ورته ډېر لوی مغفرت په برخه کړی شي.

ب: کفار او مشرکان به (د متقیانو په عکس) د قیامت په ورځ په اور (دوزخ) کښې وغورزولی شي، هلته به نه خوړې او سړې اوبه موجودیت ولري او نه کوم میوجات، بلکې هغوی ته به هلته ډېرې سختې ګرمې خوټېدلې اوبه ورڅښولی کېږي چې محض د ستوني څخه په ښکته کېدلو سره به یې کولمې ټوټې-ټوټې کړي او د مقعد څخه به یې ورته وغورزوي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا جنتیان (متقیان) د هغه چا غوندې کېدلی شي کوم به چې همېشه په دوزخ کښې وي او ذکري شوې خوټېدلې اوبه به یې پکښې څښاک وي؟.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلِلْكَٰفِرِينَ أَمْثَٰلُهَا ﴾ کښې د "هَا" ضمیر هغه عقوبت ته راجع دی په کوم باندې چې د ﴿ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ جمله دلالت کوي؛ نو د دې زماني کفارو ته د پخوانیو کفارو څو چنده عذاب ټاکلو وجه څه ده، چې د هغوی د عذابونو په څو مثله عذابونو سره به معذب کړی شي؟ مونږ وایو چې: د دې پوښتنې دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[۱]، څو کوم جواب

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۹۴؛ روح المعاني ج۲۶ ص۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې بهتر برېښي هغه دا دی چې: پخواني اکثره کافر قومونه په یو ډول عذاب سره هلاک کړی شوي دي لکه چې په عادیانو باندې تېز باد وچلېد، فرعونیان په دریاب کښې غرق کړی شوه او داسې نور، اما څرنګه چې محمدي ﷺ اُمت د قیامت تر ورځې پورې امتداد لري نو د دوی د کفارو مختلفې ډلې به په مختلفو عقوبتونو سره هلاکې وګرځولی شي چې د پخوانیو عقوبتونو امثال ګڼل کېږي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ داسې اشاره کړې ده چې فرمایلي یې دي: «يَكُونُ فِي آخِرِ هَذِهِ الْأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَقَذْفٌ»[١] یعنې د دغه اُمت په آخر کښې به خسف (په ځمکه ډوبېدل) او مسخ (د څېرې بدلون) او قذف (په ډبرو ویشتل) هم پېښ شي.

څه لرې نه ده چې خپلمنځې جنګ هم د پخوانیو عقوبتونو یو مثل وي کوم ته چې په [الأنعام: ۶۵] ایت کښې اشاره شوې ده، په کوم باندې چې نن ورځ[٢] تېوله نړۍ اخته ده او روزمره سرونه او ککرۍ الوزولی کېږي.

## مولی څه معنی؟

٢ـ په ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوْلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَأَنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ﴾ کښې د ﴿مَوْلَى﴾، ﴿مَوْلَىٰ﴾ کلمه د متعددو معناوو دپاره وضعه شوې ده[٣]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: یوه معنی یې "مَالِك" ده، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ثُمَّ رُدُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ﴾ [الأنعام: ۶۲] یعنې بیا ټول بنیادمان خاص الله ﷻ ته ورتاولی کېږي چې په حقه (حقیقي) مالک دی.

ب: بله معنی یې د "نَاصِر" او مددګار ده. د مثال په توګه:

اول: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په دې مقام کښې د ﴿مَوْلَى﴾ دواړه کلمې په همدغې معنی سره تفسیرې کړې دي[٤]، یعنې الله ﷻ د مؤمنانو ناصر او مددګار دی او د کفارو دپاره ناصر او مددګار نشته. په همدې معنی باندې په راتلونکي ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿أَهْلَكْنَٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ﴾ [محمد: ۱۳] یعنې مونږ د هر ښارونه هلاک کړي دي نو هیڅ ناصر (مددګار) ورته موجودیت نه درلود (چې د هلاک څخه یې نجات ورکړی وی).

دوهم: د اُحد په غزا کښې چې کله أبو سفیان (تردې وخته د "رضي الله عنه" لایق نه وه ګرځېدلی) مجاهدین مخاطب کړه چې: "لَنَا عُزَّى وَلَا عُزَّى لَكُمْ" مونږ ته عُزا شته او تاسو ته عُزا نشته (مونږ عُزا بوت لرو او تاسو عُزا بوت نه لرئ)؛ نو نبي کریم ﷺ صحابه وو کرامو ؓ ته داسې جواب تلقین کړ چې: «اللهُ مَوْلَانَا وَلَا مَوْلَى لَكُمْ»[٥] یعنې الله ﷻ زمونږ مددګار (ناصر) دی او تاسو ته مددګار نشته.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٤٢؛ سنن ابن ماجه ص٢٩٥
(٢) ١٤٢٣/١١/٢٣ هـ ق - ١٣٨١/١١/۶ هـ ش.
(٣) القاموس المحيط ج۴ ص۶۵۸
(۴) تفسير القرطبي ج١۶ ص٢٣۴؛ تفسير الطبري ج٢۶ ص۴٧
(۵) صحيح البخاري ج٢ ص۵٧٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د کافرو غونډې خوراک او څښاک

۳ـ په ﴿ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ ٱلْأَنْعَٰمُ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د کفارو په نزد (د څارویو غونډې) د دنیا د نعمتونو څخه استفاده کول اصلي مراد او نهايي هدف دی چې د آخرت په نعمتونو باندې عقیده نه لري.

همدغه مطلب ته نبي کریم ﷺ داسې اشاره کړې ده چې: «الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ»[۱] یعنې مؤمن کس په یوه کولمه کښې خوراک کوي (چې قناعت لري) او کافر کس په اوو کولمو کښې خوراک (او څښاک) کوي (چې حارص دی او په آخرت عقیده نه لري).

## د نبي کریم ﷺ قریه

۴ـ په ﴿ مِّن قَرْيَتِكَ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَتْكَ ﴾ کښې د "قَرْيَة" د کلمې څخه مکه معظمه مراده ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث شریف کښې مکه معظمه مخاطبه ګرځولې او فرمایلي یې دي چې: «وَاللهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ اللهِ إِلَيَّ وَاللهِ لَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ»[۲] یعنې په الله ﷻ سوګند دی چې ته د الله ﷻ په ځمکو کښې بهتره ځمکه یې، او هم د الله ﷻ په ځمکو کښې ماته ډېره محبوبه (ګرانه) ځمکه یې، او سوګند دی چې که چرته زه ستا څخه نه وی ویستلی شوی نو زه به ستا څخه نه وی وتلی.

ب: همدارنګه په یوه بل حدیث کښې نبي کریم ﷺ مکه معظمه مخاطبه کړه چې: «مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ»[۳] ته څومره پاکیزه یې چې د ښار څخه عبارت یې، او څومره ماته محبوبه یې، او که زه خپل قوم ستا څخه نه وی ویستلی نو زه به ستا څخه په غیر په بل ښار کښې نه وی اوسېدلی.

## څو نکات

۵ـ په ﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ الآیة- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مفسرینو کرامو د ﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ﴾ په اعراب کښې متعدد تحلیلونه کړي دي[۴]، مګر څرنګه چې ـزمونږ په نظرـ دغه ایت د وراندېني ایت دپاره تفصیل واقع شوی دی نو کوم تحلیل چې مونږ ته د مقام په لحاظ غوره او په زړه پورې برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

اول: د ﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ عبارت مبتدا ده چې استفهامیه انکاریه همزه ورسره

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۸٦
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۲۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳۰
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۲۱؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۴۴۰؛ روح المعاني ج۲٦ ص۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقدره ده لکه څنګه چې په وړاندېني ايت کښې وړباندې صراحت شوی دی، او د "مِثْلُ" کلمه د عجيب صفت معنی ورکوي[١].

دوهم: د ﴿ فِيهَآ أَنْهَٰرٌ ﴾ جمله د خپلو ټولو متعلقاتو او معطوفاتو سره آن تر ﴿ مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ پورې بياني استيناف دی، ته به وايې چې دا سوال (ما صفة الجنة؟) پکښې جواب شوی دی.

درېم: د ﴿ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ ﴾ كلمات د ذکرې شوې مبتدا خبر دی، خو مضاف ورسره مقدر دی چې ظهور يې داسې کېږي چې: "كَجَزَاءُ مَنْ هُوَ خَالِدٌ".

نو پورتنيو ټکو ته په پام سره د دې مقام د معنی حاصل داسې راځېږي چې: ايا نو هغه څوک چې متقي وي د هغه چا غوندې کېدلی شي کوم چې غير متقي او هوا پرست وي؟ ايا د هغه جنت عجيب صفت کوم چې متقيانو ته د جزا په حيث وعده کړی شوی دی په کوم کښې چې څلور ډوله ويالې بهېږي، د هغه چا د جزا غوندې کېدلی شي کوم چې په دوزخ کښې همېشه وي او د جنتي څښاکونو په مقابل کښې خوټېدلې اوبه ورڅښلولی کېږي؟.

ب: د جنتي ويالو په هکله زښت ډېر أحاديث روايت شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَحْرَ الْمَاءِ وَبَحْرَ الْعَسَلِ وَبَحْرَ اللَّبَنِ وَبَحْرَ الْخَمْرِ ثُمَّ تُشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ»[٢] يعنې په جنت کښې د اوبو درياب، د شاتو درياب، د شودو درياب او د شرابو درياب دی بيا (د دغو دريابونو څخه د جنت ټولو څانګو ته) ويالې شکولی شوې (بهولې شوې) دي.

دوهم: نبي كريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً وَمِنْهَا تَخْرُجُ الْأَنْهَارُ الْأَرْبَعَةُ»[٣] يعنې جنت الفردوس په جنتونو کښې د درجې د حيثه لوړ (او اوچت) دی او د همدغه جنت الفردوس څخه (نورو جنتونو ته) څلور ويالې وتلې دي.

درېم: أنس بن مالک رضی الله عنه په خپل يوه حديث کښې ويلي دي چې: «وَاللهِ إِنَّهَا تَجْرِي سَائِحَةً عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ»[٤] يعنې شايد چې تاسو به ګومان کوئ چې د جنت ويالې به د ځمکې په ژورو کښې بهېږي، په الله ﷻ سوګند دی چې دغه جنتي ويالې د ځمکې په مخ باندې په هوار ميدان بهېږي.

ج: په ﴿ مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ ﴾ کښې د ﴿ ءَاسِن ﴾ کلمه هغو اوبو ته وضعه شوې ده کومې چې په خپل اصليت باندې باقي پاتې نه وي او څه بدلون پکښې راغلی وي[٥]. يعنې په جنت کښې د داسې اوبو ويالې دي چې هيڅکله يې خوند او رنګ نه تغير کېږي او د دنيا د اوبو غوندې بد بويه نه ګرځي، د همېشه دپاره په خپل اصليت باندې باقي دی.

---

(١) تفسير البغوي ج٤ ص١٨١؛ تفسير ابي السعود ج٨ ص٩٥
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٨٤
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٣٩٨؛ صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٤
(٤) تفسير ابن كثير ج٤ ص١٧٦
(٥) مفردات الراغب ص١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ﴿ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ کښې د "لذة" کلمه د "لذيذة" معنی ورکوي[1]. يعنې په جنت کښې د خوږو او خوندورو شرابو وياله بهيږي چې نه د دنيا د شرابو غونډې پيکه خوند لري او نه سردرد او بې هوښي پيدا کوي.

## سوال جواب

د که څوک وايي چې: په ﴿ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ کښې د "مغفرة" کلمه که څه هم د اصلي تورو (غ، ف، ر) په لحاظ په لغت کښې د پټولو معنی ورکوي[2]، مګر په استعمال کښې د ګناهونو د ببښنې او عفوې څخه عبارت ده، نو پوښتنه دا ده چې په داخل د جنت کښې د ګناهونو ببښل څه معنی، حال دا چې هلته نه مکلفيت شته او نه د ګناهونو ارتکاب؟!

موږ وايو چې: د دغه سوال د مختلفو دپاره مفسرينو کرامو متعدد جوابونو ليکلي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: دلته د ﴿ مَغْفِرَةٌ ﴾ څخه د الله ﷻ رضامندي او ديدار د کنايې په توګه مراد دی[3] لکه چې په [يونس: ۲۶] ايت کښې ترې په "زِيَادَةٌ" سره تعبير شوی دی.

دوهم: دلته د ﴿ مَغْفِرَةٌ ﴾ کلمه د ګناهونو د ببښنې معنی نه ورکوي بلکې د ګناهونو د ذکر او يادونې معنی ورکوي ترڅو ورباندې خجالت ونه خوري[4]، همدې مطلب ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴾ [الواقعة: ۲۵] يعنې جنتيان به په جنت کښې نه چټي خبرې اوري او نه ګناه ته نسبتول (چې فلانی، ګناه دې په دنيا کښې کړې وه).

دريم: دلته د ﴿ مَغْفِرَةٌ ﴾ معنی دا ده چې جنتيان به د جنتي خوراک ښښاک څخه استفاده کوي مګر د دنياوي خوراک او ښښاک غونډې عواقب به نه لري، او د فُضلاتو څخه به ورته ببښنه کړې شوې وي[5]. لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ»[6] يعنې يقيناً جنتيان په جنت کښې خوراک او ښښاک کوي او لاړې به پکښې نه تو کوي او متيازې به نه کوي او هم به غټې متيازې نه کوي او ګرينګ به نه سوڼ کوي (بلکې ټول خوراک او ښښاک به يې د خوشبويه خولې په توګه حل کېږي).

## ماثور تفسير

و: موږ د الله ﷻ په توفيق د [الحج: ۲۰] ايت لاندې په ﴿ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ ﴾

(۱) لسان العرب ج۳ ص۵۰۷
(۲) القاموس المحيط ج۳ ص۳۰۵
(۳) تفسير المظهري ج۸ ص۴۲۸
(۴) روح المعاني ج۲٦ ص۴۹
(۵) التفسير الكبير ج۲۸ ص۵۵
(٦) صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د "خمیم" کلمه د یوه حدیث په رڼا کښې په ماثوره توګه تفسیره کړې ده، خو په دې مقام کښې وروباندې څه نور ماثور وضاحت هم وراضافه کوو هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ»[1] یعنې کله چې دوزخي د دوزخیانو (خوټېدلې) زوې وڅښي نو کولمې به یې ټوټه ټوټه کړي آن تردې چې د مقعد څخه به یې ووځي (بیا نبي کریم ﷺ ذکره شوې جمله د استشهاد په توګه قرائت کړه).

﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُوا۟ مِنْ عِندِكَ قَالُوا۟ لِلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ زَادَهُمْ هُدًى وَءَاتَىٰهُمْ تَقْوَىٰهُمْ ﴿١٧﴾ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا ۚ فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرَىٰهُمْ ﴿١٨﴾ فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۶] او د منافقانو (کفارو) څخه خینې هغه کسان دي چې تاته غوږ ږدي آن تردې چې کله ستا د نزده بهر ووځي نو هغو کسانو ته وايي کومو ته چې علم (پوهه) ورکړه شوې ده چې هغه څه خبره وه کومه چې محمد ﷺ دستي (لږ وړاندې) وویله؟.

دغه (ذکر شوي) هغه کسان دي د کومو په زړونو باندې چې الله ﷻ مهر وهلی دی، او کوم چې د خپلو (نفساني) خواهشاتو پیروي کوي.

[۱۷] او هغه کسان کومو چې (سمه) لاره موندلې ده الله ﷻ ورته (پرې) هدایت (لاره موندل) زیاتوي (قوي کوي)، او پرهېزګاري یې ورته ورکوي (ثبات او استقامت او هم توفیق یې تقویه کوي).

[۱۸] نو ایا منافقان (او کفار) منتظر دي مګر د قیامت قیام ته چې په ناڅاپي توګه ورته ورشي؟ (که نه) نو د قیامت نښانې خو ورته ورغلې دي (د بر ژر به قائم شي).

نو د هغوی پند اخستل (ایمان راوړل) به ورته څنګه (د مقبولیت په حیث) صورت ونیسي البته کله چې ورته ورشي (او وروباندې قائم شي)؟.

[۱۹] نو (ای پیغمبره!) پوه شه! (خپلې پوهې او باور ته ادامه ورکړه) چې یقیناً شان دا دی چې په حقه (او حقیقي توګه) معبود نه دی مګر الله ﷻ دی (او بس). او ته د خپلې ګناه (خلاف الأولی) دپاره (د الله ﷻ څخه) مغفرت وغواړه او د نارینه وو او ښځینه وو مؤمنانو (د ګناهونو) دپاره هم.

او (دا ځکه چې) الله ﷻ ستاسو د ګرځېدلو راګرځېدلو په ځای او هم ستاسو د استوګنې په ځای علم لري (پوهېږي، ستاسو ټول حالات ورته څرګند دي).

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی. هلته مؤمنان د څرګندو کفارو سره د کړنلارې او نتیجې په حیث مقایسه شوي وه او په دې ایتونو کښې هغوی د منافقانو سره پرتله کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د منافقانو څه خاصیتونه قرائت کړه او د مؤمنانو د خاصیت سره یې پرتله کړه هغه دا چې:

۱ـ د کفارو څخه یوه ډله (چې د منافقانو څخه عبارت ده) د تظاهر او خپل ځان ښودلو په غرض ستا مجالسو ته حاضرېږي او ستا ارشاداتو ته د مجلس تر پایه پورې غوږ ږدي، آن تردې چې کله ستا مجلس ختم شي او هغوی ستا د حضور څخه بهر ووځي نو هغو کسانو ته وایي کومو ته چې د الله ﷻ د پلوه علم ورکړی شوی دی او رښتیاني مؤمنان دي چې: هغه څه خبره ده کومه چې دستي (لږ وړاندې) نبي کریم ﷺ وکړه، تاسو ورباندې مونږ ته خبر راکړئ چې زمونږ د ذهن څخه وتلې ده او بالکل مو هېره ده.

۲ـ ای پیغمبره! دغه د منافقانو ډله هغه کسان دي د کومو په زړونو باندې چې الله ﷻ مهر وهلی دی نو ستا ارشادات پکښې ځای نه نیسي، او کوم چې د خپلو خواهشاتو پیروي کوي او ستا اتباع یې د پښو لاندې کړې ده.

۳ـ بالمقابل کوم کسان چې د راسخ علم درلودونکي دي هغوی ته الله ﷻ ستا په ارشاداتو سره نور فضائل هم ورکوي هغه دا چې:

الف: د هغوی د پوهې او هدایت رڼا ورباندې زیاتوي او د زړه بصیرت یې ورباندې بیاورې کوي.

ب: هغوی ته الله ﷻ د همدغو ارشاداتو په سبب کامله تقوی او پرهیزګارۍ ورپه برخه کوي.

۴ـ نو ته د کفارو او منافقانو په کړنلاره باندې ډېر مه متاثر کېږه چې په دلایلو سره د غفلت د خوبه نه راېبدارېږي، او دا ځکه چې د قیامت ورځ نژدې راروانه ده چې ټول غافلان به پکښې راویښ شي. یا په بل عبارت: ایا نو هغوی منتظر دي مګر قیامت ته؟ چې په ناڅاپي توګه به ورباندې قائم شي او د خوبه به یې راویښ کړي، قیامت ډېر نژدې راروان دی او د قیام نښې یې څرګندې شوې دي او د هغوی د سترګو لاندې دي.

۵ـ هو! هغوی به د قیامت په قیام سره د خوبه راویښ شي او په ارشاداتو باندې به عقیده خپله کړي چې ته په حقه پیغمبر یې او په خپل دعوت کښې رښتینی یې. خو د دغه وخت راویښېدل او عقیده به ورته څه ګټه ورسوي؟ کله چې هغوی په تاباندې بالغیب ایمان رانه وړ نو ایمان بالمشاهده به ورته څه ګټه ورسوي او د الله ﷻ په نزد به څنګه مقبول وګرځي؟

۶ـ نو ای پیغمبره! د کفارو او منافقانو د دعوت په څنګ کښې څه نور ارشادات هم په نظر کښې وساته هغه دا چې:

الف: پوه شه چې یقیناً شان دا دی چې په حقه معبود نه دی مګر الله ﷻ دی او بس، ته همدغې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوهې او همدغه يقين ته ادامه ورکړه او ستا اجابتي أمت دې هم په همدغې عقيدې او پوهې باندې قائم اوسېږي. يا په بل عبارت: كه د قاطعو دلايلو او براهينو څخه وروسته هم منافقان او كفار د توحيد علم او عقيده نه خپلوي، نه دې خپلوي خو تاسو وربانديې کلک اوسېږئ او د حقوقو حفاظت ته يې ادامه ورکړئ، او دعوت ورته وچلوئ.

ب: خو په عين حال کښې خپل ځان ته د الله ﷻ څخه د خلاف الأولى (ذنب) د ارتکاب په هکله مغفرت او ښښنه وغواړه او خپله عاجزي ورته وړاندې کړه.

ج: همدارنګه د خپل اجابتي أمت نارينه او زنانه وو دپاره هم د سوال لاسونه پورته کړه او د ګناهونو مغفرت ورته وغواړه او هم ورته د توفيق ورکولو غوښتنه وکړه چې لا زيات صالح اعمال ترسره کړي. او دا ځکه چې:

الله ﷻ په هغه ځاى باندې پوه دى په كوم کښې چې تاسو اوړئ را اوړئ او په هغه ځاى هم پوه دى كوم چې ستاسو دپاره دائمي ارامګاه ده، نو تاسو ته په كار دي چې په هر حال ترې وډار شئ، چې هيڅ حالت مو هم ورڅخه پټ نه دى.

## توضيحات

١ـ په ﴿مَاذَا قَالَ ءَانِفًا﴾ کښې د "آنِف" کلمه د "الآن، الساعة" معنى ورکوي[١]، نو نصب يې د ظرفيت په ملحوظ صورت نيولى دى، اما د دغه قول په کولو کښې لاندې دوه وجې احتمال درلودلى شي:

الف: منافقانو دغه وينا د استهزاء او ملنډو په توګه کوله. يعنې اى مؤمنانو! دستي او ډېر لږ وخت وړاندې نبي کريم ﷺ څه خبره وکړه؟ (هيڅ مهمه خبره نه وه).

ب: هغوى د نبي کريم ﷺ خبرو ته توجه نه کوله چې په زړونو کښې يې ورته ځاى نيولى وى او پوښتنې ته اړتيا نه وى پاتې شوې.

په هر تقدير، د دې ايت مضمون وړاندې په [التوبة:١٢٥] ايت کښې هم نازل شوى دى چې د قرآن کريم په اورېدلو سره د کفارو او منافقانو کفر او منافقت تقويه کېږي آن تردې چې په زړونو باندې يې مهر لګولى کېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ءَانِفًا﴾ کلمه مجردو کښې مشتقات نه لري او په مزيد فيه کښې ترې بابونو صورت موندلې دي لکه "اِسْتَأْنَفَ يَسْتَأْنِفُ اِسْتِيْنَافًا" او داسې نور[٢].

### غوره تفسير

٢ـ ځينو مفسرينو کرامو دا ايت ﴿وَٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ زَادَهُمْ هُدًى﴾ الآية- په متعددو معناوو سره

---

(١) لسان العرب ج٩ ص١٥

(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٧ ص٤٤٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیر کړی دی[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د [التوبة:۱۲۴] ایت مضمون ته اشاره شوې وي، هغه دا چې د قرآن کریم په نزول او د نبي کریم ﷺ د ارشاداتو په اورېدلو سره د مؤمنانو ایمان د کیفیت په ملحوظ زیاتېږي او د ثواب مونډلو تمه یې تقویه پیدا کوي چې په همدې باندې یې خوشالي او بشارت وار په وار اوج ته رسېږي.

## څو نکات

۳_ په ﴿ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ ﴾ کښې لاندې نُکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۳۱] ایت لاندې لیکلي دي چې: د ﴿ ٱلسَّاعَةَ ﴾ کلمه د زمانې د یوې کوچنۍ برخې څخه عبارت ده، خو د قیامت د نومونو څخه یو نوم هم ګرځېدلې ده چې په ډېر کوچني وخت کښې به د شپېلۍ په پوکولو سره سمدستي خلک مړه کېږي او په بلې شپېلۍ سره به سمدستي بېرته راژوندي کېږي.

ب: د ﴿ بَغْتَةً ﴾ کلمه مو هم د همده ﷻ په توفیق د [الأعراف:۱۸۷] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې ښه شرحه کړې ده چې د قیامت قیام به په ناڅاپي توګه په داسې حال کښې صورت ونیسي چې خلک به په معاملاتو او راکړه ورکړه باندې مشغول وي.

ج: په ﴿ فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا ﴾ کښې د "أَشْرَاط" کلمه د "شرط" _لکه "شرف"_ جمعه ده چې د نښې او علامې معنی ورکوي[۲]. پاتې شوه دا خبره چې د قیامت د قیام نښې او علامې کومې دي؟ نو د دې خبرې جواب دا دی چې:

د قیامت د قیام وخت الله ﷻ د خپل اقدس ذات سره پټ ساتلی دی چې نه یې کوم پیغمبر ته ښودلی دی او نه کومې مقربې پرښتې ته، اما د قیام نښو او علامو ته یې په ډېرو نصوصو کښې ښه تفصیل ورکړی شوی دی او د ډېرو په نومونو باندې صراحت شوی دی، هیله ده چې علاقمندان د احادیثو کتابونو[۳] ته مراجعه وکړي، چې دلته رانقلول یې ډېر اوږدوالی پیدا کوي؛ ځینې مفسرینو کرامو په همدې موضوع کښې ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۴] الله ﷻ دې اجرونه ورکړي.

خو کومو علامو ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده. یا په بل عبارت: د قیامت کومو علامې چې د ایت شریف د نزول تر وخته پورې راڅرګندې شوې وې؛ د هغو لاندې مثالونه ولولئ:

اول: د نبي کریم ﷺ بعثت د قیامت لومړۍ نښه ده چې آخر الزمان پیغمبر دی او د ده ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نه مبعوث کېږي بلکې قیامت به قائمېږي او دنیا به ورانېږي. همدې مطلب ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَذِهِ مِنْ هَذِهِ إِنْ كَادَتْ لَتَسْبِقُهَا»[۵] یعنې زه د

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۳۹
(۲) لسان العرب ج۷ ص۳۲۹
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۴؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۸؛ جامع الترمذي ج۲ ص۴۴
(۴) الدر المنثور ج۷ ص۴۶۷
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قیامت د قیام سره داسې مبعوث شوی یم لکه چې دغه ګوته (سبّابه) د دغې بلې ګوتې (وُسطی) څخه ده. یقیناً هغه ګوته نژدې وه چې د دغې ګوتې څخه وړاندې شي، (همدارنګه د قیامت قیام هم نژدې وه چې زما څخه وړاندې شي).

دوهم: تر دغه پورې د سپوږمۍ انشقاق (چاودېدل) هم صورت نیولی وه چې د قیامت د نژدېکت یوه نښه ده. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴾ [القمر: ۱] یعنې د قیامت قیام نژدې شو او سپوږمۍ وچاوده.

درېم: همدارنګه د ایت شریف د نزول تر وخته پورې د دُخان (لوګي) نښه هم څرګنده شوې وه کومې ته چې د یوه تفسیر په بنیاد په [الدخان: ۱۰] ایت کښې اشاره شوې ده.

د: د ﴿ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرَىٰهُمۡ ﴾ نحوي تحلیل په لاندې تکو کښې خلاصه کېږي[1]:

اول: په ﴿ فَأَنَّىٰ ﴾ کښې د "أنّى" کلمه د "كَيْفَ" معنی ورکوي، چې د متعلق په اعتبار سره خبر مقدم ده، چې مونږ ترې په "يَنْفَعُ" سره تعبیر کولی شو.

دوهم: په همدغه "يَنْفَعُ" پورې د ﴿ لَهُمۡ ﴾ او ﴿ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ﴾ کلمات هم تعلق نیسي.

درېم: د ﴿ ذِكۡرَىٰهُمۡ ﴾ کلمه موخره مبتدا ده، نو لکه چې داسې نازل شوي وي چې: "فَذِكْرَاهُمْ كَيْفَ يَنْفَعُ لَهُمْ إِذَا جَاءَتْهُمُ السَّاعَةُ" یعنې کفارو ته به د دوی پند اخستل په هغه وخت کښې څه ګټه ورسوي کله چې قیامت راشي او ایمان د بالغیب څخه بالمشاهده وګرځي؟.

همدې مضمون ته الله ﷻ په بل ایت کښې اشاره کړې ده چې: ﴿ يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴾ [الفجر: ۲۳] یعنې په دغه وخت کښې به (چې قیامت قائم شي) بنیادم پند واخلي (او په خپلو کړو وړو به پښېمانه شي) او څنګه به ورته پند اخستل ګټه ورسوي (چې وخت یې تېر شوی وی).

## سوالونه او جوابونه

۴ـ په ﴿ فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ الآیة- کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راولاړېږي:

الف: که څوک وايي چې: نبي کریم ﷺ خو پوه وه چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی (د ده ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک په حقه معبود نه شي جوړېدلی)، نو پوښتنه دا ده چې په ﴿ فَٱعۡلَمۡ ﴾ سره یې مخاطب ګرځول څه معنی لري؟

مونږ وایو چې: د دې معنی دا ده چې همدغې پوهې او همدغې عقیدې ته ادامه ورکړه، او شاید چې په ادامه باندې به یې د څه حکمتونو په بنیاد مخاطب ګرځولی شوی وي لکه:

اول: ترڅو د کفارو تمه پرې شي چې نبي کریم ﷺ به کفري عقیدې ته ورواوړي او یا به د توحیدي عقیدې د دعوت څخه لاس واخلي.

دوهم: ترڅو د نبي کریم ﷺ ټول اجابتي اُمت په همدغې توحیدي پوهې او توحیدي عقیدې باندې

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حم(٢٦) کلک پاتې شي او د کفارو او منافقانو د دسیسي ښکار ونه ګرځي چې په تخویف یا تطمیع سره کفري عقیدې ته ورواوړي.

ب: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې نبي کریم ﷺ په ﴿ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ ﴾ کښې مامور کړی شو چې د خپلو ګناهونو دپاره ښښنه وغواړي حال دا چې پیغمبران د ګناه څخه په عصمت کښې دي؟

مونږ وایو چې: د همدې پوښتنې جواب د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:٣٧] ایت لاندې تېر شوی دی چې د "ذَنۡب" د کلمې څخه د پیغمبرانو په هکله عصیان او نافرماني نه اراده کېږي بلکې خلاف الأولی (نه بهتر) کار معنی ورکوي چې د عصمت سره هیڅ منافات نه لري. خو دلته ورباندې د مقام په ارتباط لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

اول: د [المؤمن:٥٥] ایت شریف لاندې مونږ د احادیثو په رڼا کښې لیکلي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې نبي کریم ﷺ به په هره ورځ کښې یا په هر مجلس کښې سل کرته د الله ﷻ څخه ښښنه غوښتله.

دوهم: مغفرت غوښتل یو عبادت دی چې د تواضع او شکرګزارۍ څخه نمایندګي کوي، د همدې کبله به نبي کریم ﷺ د شپې دومره عبادت کاوه چې مبارکې پښې به یې وپړسېدلې، کله چې په همدې اړه ورپوښتل شو نو په جواب کښې یې وفرمایل چې: «أَفَلَا أَكُونُ عَبۡدًا شَكُورًا»[١] یعنې ایا نو زه (د خپل رب ﷻ) شکرګزار بنده ونه ګرځم؟ (چې وړاندې او بېرته ګناهونه یې راته ټول ښښلي دي).

ج: که څوک وايي چې: په ﴿ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ کښې د عاطف "و" څخه هغه مطلوب فهمېږي په کوم باندې چې په همدې عبارت کښې د جاره "ل" توری دلالت کوي. نو د څه حکمت په بنیاد "الۡمُؤۡمِنِينَ وَالۡمُؤۡمِنَاتِ" بدون د جاره "ل" څخه نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: دا د دې دپاره ـ والله ﷻ أعلم ـ ترڅو څوک ګومان ونه کړي چې د نبي کریم ﷺ د خپل ځان دپاره استغفار او د مؤمنانو (نارینه وو او زنانه وو) دپاره استغفار (دواړه) به متحد وي او څه فرق به نه لري، حال دا چې اول د خلاف الأولی (نه بهتر) کار استغفار دی او دوهم د عصیان (نافرمانۍ) استغفار دی، که بالفرض په ذکر شوي عبارت کښې د "ل" توری نه وی نازل شوی او په عاطفه "و" باندې اکتفاء شوې وی نو ذکر شوي فرق ته به اشاره نه وی شوې.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه که څه هم نبي کریم ﷺ په دنیا کښې د مؤمنانو نارینه وو او زنانه وو دپاره وخت په وخت مغفرت غوښتی دی خو د قیامت په ورځ به یې هم ورته وغواړي (الله ﷻ دې پکښې زمونږ برخه وکړي). د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: په یوه حدیث کښې راغلي دي چې: «فَرَفَعَ يَدَيۡهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي وَبَكَى»[٢] یعنې نو نبي کریم ﷺ (یوه ورځ) لاسونه پورته کړه او (د سوال په توګه یې) وویلې چې: ای الله! زما اُمت، زما اُمت

---

(١) صحیح البخاري ج١ ص١٥٢
(٢) صحیح مسلم ج١ ص١١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ته ورته مغفرت وکړې)، او ویې ژړل.

دوهم: په یوه بل ډېر اوږده حدیث کښې هم داسې جمله روایت شوې ده چې: «وَسَلْ تُعْطَ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَقُلْ يُسْمَعْ لِقَوْلِكَ»[١] یعنې د قیامت په ورځ به نبي کریم ﷺ ته وویلی شي چې: ای پیغمبره! وغواړه چې درکړی شي او شفاعت وکړه چې قبول کړی شي او وایه چې خبره دې واورېدله شي.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ قَدْ دَعَا بِهَا فِي أُمَّتِهِ وَخَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٢] یعنې د هر پیغمبر دپاره (د الله ﷻ په نزد) یوه مقبوله دعاء ده چې هر یوه په خپل-خپل أمت کښې پرې غوښتنه کړې ده، او یقیناً ما خپله مقبوله دعاء د قیامت په ورځ د خپل أمت دپاره د شفاعت کولو په حیث پټه ساتلې ده.

د: که څوک وایي چې: په ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ﴾ کښې د "مُتَقَلَّب" او "مَثْوَىٰ" دواړه کلمې څه فرق لري؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو د "مُتَقَلَّب" کلمه په "مُسْتَوْدَع" سره او د "مَثْوَىٰ" کلمه په "مُسْتَقَرّ" سره تفسیره کړې ده[٣] چې دغه دواړه کلمې (مُسْتَوْدَع، مُسْتَقَرّ) د [الأنعام:٩٨] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه شرحه شوې دي، مګر د مقام په اقتضاء بهتره ده چې د "مُتَقَلَّب" کلمه د هغو ځایونو څخه عبارت شي چرته چې سړی د ورځې د پلوه ګرځي راګرځي او کاروبار پکښې کوي، او د "مَثْوَىٰ" کلمه د هغو ځایونو څخه کنایه شي چرته چې سړی د شپې د پلوه ارام کوي او پکښې پتېږي.

یعنې ای پیغمبره! ته څکه د استغفار غوښتنې ته ادامه ورکړه چې الله ﷻ ستاسو د هغو ځایونو په حالاتو باندې پوه دی په کومو کښې چې تاسو د ورځې ګرځئ راګرځئ او ډول- ډول کارونو ته پکښې صورت ورکوئ، او هم مو ورته د هغو ځایونو حالات معلوم دي په کومو کښې چې تاسو د شپې د پلوه ارام کوئ او یا پکښې د څه پټو کارونو مرتکب کېږئ.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ﴾ [الرعد: ١٠] یعنې او (الله ﷻ ته) هغه څوک کوم چې په شپه کښې پټېدونکی دی او (هغه څوک کوم چې) په ورځ کښې (د خپل ځان) څرګندونکی دی (په علم کښې یو برابر دي او هیڅ تفاوت نه لري).

هـ: که څوک وایي چې: "سَيِّدُ الْاِسْتِغْفَار" د کومې دعاء نوم دی؟

مونږ وایو چې: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې لاندې دعاء ته د "سَيِّدُ الْاِسْتِغْفَار" لقب ورکړی دی: «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ»[٤] یعنې: ای الله!

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٧
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٥ ص١٨٩
(٣) البحر المحيط ج٩ ص٤٦٩، روح المعاني ج٢٦ ص٦٦؛ زاد المسير ج٧ ص١٥٢
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٩٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه زما رب یې په حقه معبود نشته مګر یوازې ته یې، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم او زه ستا په عهد او ستا په وعده (ترهغه کلک) ولاړ یم ترڅو چې زما توان وي، زه په تا سره د هغه شي د شر څخه پنا غواړم چې ما کړي دي، زه تاته ستا په نعمت سره رجوع کوم (د شکر توفیق یې راکړې) او زه تاته په خپلې ګناه سره رجوع کوم نو ماته مغفرت وکړې (ځکه چې شان دا دی چې ګناه نه ښښي (او نه یې ښنبلی شي) مګر یوازې ته.

﴿وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ
رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ﴿٢٠﴾
طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ﴿٢١﴾ فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ
إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ﴿٢٢﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ
فَأَصَمَّهُمۡ وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَٰرَهُمۡ ﴿٢٣﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقۡفَالُهَآ ﴿٢٤﴾﴾

[۲۰] او هغه کسان وايي کومو چې ایمان راوړی دی (برابره خبره ده چې رښتیانی ایمان وي او که دروغین) چې ولې یو سورت نازل نه کړی شو (چې د قتال ذکر پکښې وي)؟. نو کله چې مضبوط (محکم) سورت نازل کړی شي او د قتال (جنګ) ذکر پکښې شوی وي، ته هغه کسان ګورې د کومو په زړونو کښې چې (د منافقت) مرض دی چې تاته د هغه چا د کتلو غوندې ګوري په کوم باندې چې د مرګ (سا ختلو) د کبله بې هوښې ورغلې وي. نو دوی ته هلاک (او حسرت) دی.

[۲۱] (منافقان وايي چې: زمونږ کار تاته) اطاعت او شرعي (معروفه) وینا کول دي (ستا په خلاف نه قول کوو او نه عمل). نو کله چې (اهل) کار کلک قصد وکړي (او د جهاد خبره فیصله کړی شي) نو که منافقانو الله ﷻ ته رښتیا وینا کړې وي (د عمل په میدان کښې یې اطاعت ته صورت ورکړی وي) نو دا (کار) به ورته بهتر وه (د رسوایۍ څخه بچ پاتې شوي وی).

[۲۲] نو (ای منافقانو!) که چرته تاسو اطاعت ته شا کړئ، ایا تاسو نژدې یاست چې په ځمکه کښې به فسادونه وکړئ او (د خپلوانو سره به) خپلې خپلوۍ پرې کړئ؟ (هو، دغسې به وکړئ).

[۲۳] (ای پیغمبره!) دغه (منافقان) هغه کسان دي کوم چې الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړي دي نو (په غوږونو) یې کاڼه کړي دي او (د زړه) سترګې یې ورړندې کړې دي.

[۲۴] نو ایا منافقان (د) قرآن کریم (په ارشاداتو) کښې تدبر (غور) نه کوي یا (یې) په زړونو باندې خپل (معنوي) قلفونه پراته دي؟ (هو، د دوی په زړونو باندې د عدم تدبر د کبله مهرونه لګېدلي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب د منافقانو په خاصیتونو باندې څه نوره رڼا هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اچولي شوي ده. نو حاصل یې داسې راځېږي چې

ای پیغمبره! د منافقانو څه نور خاصیتونه هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه ترڅو هغوی د مخلصو مؤمنانو د صف څخه په ډاګه جدا وپېژندلی شي. هغه دا:

۱ ـ کومو کسانو چې ایمان راوړی دی او په دروغو یا رښتیاوو د "انما" په کلمه خوله ښوروي، د هغوی خاصیتونه دا دي

الف: هغوی وسلوال جهاد ته خپله لېوالتیا ښیي او وایي چې: ای کاش! چې په مونږ باندې جهاد فرض شوی وی ترڅو د کفارو په مقابل کښې جنګېدلي وی. څه وجه ده چې د جهاد د فرضیت سورت نه نازلېږي؟

ب: نو کله چې د وسلوال جهاد د فرضیت په هکله کوم سورت نازل کړی شي چې د جهاد فرضیت پکښې په صریحو ټکو ذکر شوی وي او د بهانو پلمو مخه پکښې په بشپړه توګه بنده کړی شوې وي، نو په دغه وخت کښې د "انما" د کلمې ویونکي په لاندې دوه وو ډلو وېشلی کېږي:

ج: مخلص او حقیقي مؤمنان د خوشالۍ په حال کښې سمدستي په تجهیزاتو پیل کوي، ترڅو ثرګنده کړي چې پخوا یې د جهاد غوښتنه په دروغو نه وه کړې.

د: خو بالمقابل منافقان او هغه کسان چې په زړونو کښې یې مرض دی هیښ پاتې کېږي او د ډېرې ورخطایی څخه یې سترګې په کولکونو اوړي را اوړي. او تاته ـ ای پیغمبره! ـ داسې ګوري لکه چې د ځان ختکدن وي او سات ګړی ته یې روح قبض کېږي (سا یې ستونې ته راپورته شوې وي).

لنډه دا چې: په دغه وخت کښې منافقان د مخلصو مؤمنانو د صف څخه په ثرګنده توګه جلا کېږي او هر چا ته معلومېږي چې هغوی د وسلوال جهاد غوښتنې په دروغو سره کړې وې، نو هغوی ته دې هلاک وي چې خپل ځانونه یې په دنیا او آخرت کښې د خسران او تاوان سره مخامخ کړه.

۲ ـ ای پیغمبره! منافقان په خوله وایي چې زمونږ کار د پیغمبر اطاعت دی او وېناوې مو معروفې او شرعي وېناوې دي چې په غیر شرعي او ناجائزو خبرو باندې مونږ هیڅکله خوله نه ښوروو، خو د ذکرو شوو ثرګندونو سره ـ سره کله چې د جهاد خبره فیصله شي او پوره تصمیم پکښې ونیولی شي هغوی پکښې سستي کوي او په یوه او بله بهانه ترې خپل ځانونه په ځنګوي بلکې نورو مجاهدینو ته هم پښو نه نیږي وراچوي چې جهاد مه کوئ او زمونږ سره په خپلو کورونو کښې پټ کېنئ.

نو که هغوی خپلو ثرګندونو ته عملي بڼه ورکړې وی او د الله ﷻ سره یې خپلې وعدې او ثرګندونې رښتیا کړې وی نو دا کار به ورته ډېر غوره وه، چې د دنیا او آخرت د رسوایی څخه به پرې بچ شوي وی.

۳ ـ ای پیغمبره! هغوی د الله ﷻ د پلوه مخاطب کړه او ورته ووایه چې: ای منافقانو! که چېرته تاسو په یوه او بله بهانه د نبي کریم ﷺ ارشاداتو ته شا کړئ او خپل اظهارات په عمل کښې پیاده نه کړئ نو ایا تاسو نږدې یاست چې په دغه صورت کښې به په ځمکه کښې د پخوا په شان فساد وکړئ او د خپلو اقاربو سره به خپلوي او صله رحمي پرې کړئ؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو تاسو به په داسې صورت کښې د دغو جنايتونو او د دغسې نورو جنايتونو مرتکب وګرځئ او خپل اُخروي پېټی به دروند کړئ.

۴ـ لنډه دا چې منافقان هغه کسان دي چې الله ﷻ د خپل رحمت څخه لرې کړي دي او د حقائقو د اورېدلو څخه يې کاڼه ګرځولي دي او هم يې د زړونو سترګې ړندې کړي دي (په زړونو باندې يې ورته مهر وهلی دی) که نه نو د ايمان راوړلو دپاره دې کار هم کفايت کاوه چې د قرآن کريم په ارشاداتو کښې يې تدبر او غور کړی وی او د خپلو ځانونو د قناعت دپاره يې ترې کار اخستی وی.

۵ـ نو ايا منافقان په قرآن کريم کښې تدبر او تفکر نه کوي چې ايمان راوړي او که په زړونو باندې يې معنوي قلفونه پراته دي او مهرونه پرې لګېدلي دي؟ حقيقت دا دی چې هغوی د يو پلوه په قرآن کريم کښې تدبر او تفکر نه کوي او د بله پلوه يې په زړونو باندې مهر لګېدلی دی، نو د دغسې خلکو څخه د ايمان راوړلو تمه کول څه ګټه نه لري.

## توضيحات

۱ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې: په ﴿ وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ الآية- کښې هغه مضمون انځور شوی دی کوم چې په [النساء: ۷۷] ايت کښې نزول موندلی دی[1]، خو مونږ ته دا دول تفسير په زړه پورې نه برېښي او دا ځکه چې هلته د مؤمنانو هغه حال ته اشاره شوې ده کوم چې ورباندې په مکه معظمه کښې تېر شوی وه چې د مسلح جهاد اجازه دې راکړی شي، او په دې ايت کښې ـ چې بحث پکښې روان دی ـ د هغوی هغه حال ته اشاره کېږي کوم چې ورباندې په مدينه منوره کښې تېرېده چې: ای کاش! چې د جهاد په هکله قطعي حکم نازل شوی وی. د همدې کبله دلته د مضارع صيغه ﴿ وَيَقُولُ ﴾ نازله شوې ده او هلته د ماضي صيغې "قِيلَ" نزول موندلی دی.

زمونږ په فکر ـ والله ﷻ اعلم ـ په دې ايت کښې هغه مضمون نازل شوی دی کوم ته چې په [الأحزاب: ۱۸، ۱۹] ايتونو کښې اشاره شوې ده، نو هيله ده چې د ښه وضاحت دپاره هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## اولی څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴾ کښې د "أَوْلَىٰ" د کلمې په ارتباط مفسرينو کرامو اوږده بحثونه ليکلي دي[2]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي. خو مونږ د لاندې بحثونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف. د "أَوْلَىٰ" کلمه د "وَلْيٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د قُرب او نږدېکت معنی ورکوي[3].

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۱۷۸

(۲) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۵۳؛ روح المعاني ج۲۶ ص۶۷؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۴۵۱

(۳) القاموس المحيط ج۴ ص۶۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څه هم دغه کلمه اصلاً د اسم تفضيل صيغه ده مګر په عربي کلام کښې د "زجر" او تهديد دپاره هم استعمالېږي چې د وَيْل او معنوي هلاک او حسرت معنی ورکوي. په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده(١)، والله ﷻ اعلم.

ج: نو په همدې بنياد د "أَوْلَىٰ" کلمه مبتدا ده او د متعلق په ملحوظ يې د "لَهُمْ" کلمه خبر ده. نه په وايي چې داسې نازل شوی دی: "وَيْلٌ لَهُمْ مِنْ صَنِيعِهِمُ الْمَذْكُور"، يعنې منافقانو ته د ذکرې شوې کړنلارې د کبله هلاک او حسرت دی(٢).

په همدې مضمون باندې په بل ايت کښې د يهودانو په هکله صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ ٱلْكِتَٰبَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ [البقرة:٧٩] يعنې نو يهودانو ته د دې کبله هلاکت دی چې په خپلو لاسونو سره کتاب ليکي او بيا وايي چې دا د الله ﷻ کتاب دی.

## يو نَحوي تحليل

٣ـ مفسرينو کرامو د ﴿ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ﴾ په اعراب کښې متعدد تحليلونه کړي دي، خو کوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه دا دی چې: دغه کلمات د مقدرې مبتدا دپاره خبر واقع شوي دي چې مونږ ترې په "أَمْرُنَا" سره تعبير کولی شو، بيا دغه جمله د مقدر "يَقُولُونَ" دپاره مقوله ګڼلې کېږي، لکه چې داسې نازل شوی وي: "يَقُولُونَ أَمْرُنَا طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ".

يعنې اى پيغمبره! ستا په حضور کښې منافقان وايي چې زمونږ کار فقط ستا اطاعت او د شرعي معروفو خبرو کول دي (چې نه ستا بې اطاعتي کوو او نه غير شرعي خبرې کوو).

مونږ ځکه دغه تحليل غوره او بهتر وګڼه چې په بل ايت کښې همدغه مضمون دغو کلمو ته په ورته کلمو کښې نازل شوی دی چې: ﴿ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِي تَقُولُ ﴾ [النساء:٨١] يعنې منافقان (ستا په حضور کښې) وايي چې: زمونږ کار ستا اطاعت دی، نو کله چې ستا د حضوره بهر ووځي نو يوه ډله يې د هغې خبرې څخه په غير (په خلاف) پټې مجلسونه کوي کومه چې ته وايې.

## هېر مو نه شي

٤ـ په کار دي چې د ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ ﴾- الآية- په ارتباط لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:٢٤٦] ايت لاندې ليکلي دي چې دلته د "هَلْ" توری د تقريري استفهام دپاره دی او د ﴿ عَسَيْتُمْ ﴾ کلمه د "قَارَبْتُمْ" معنی ته متضمنه ده، چې د "تُمْ" کلمه يې اسم دی او ﴿ أَن تُفْسِدُواْ ﴾ الآية يې خبر دی.

---

(١) المحرر الوجيز ج١٥ ص٦٧؛ مفردات الراغب ص٥٧٢
(٢) تفسير ابي السعود ج٨ ص٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ إِن تَوَلَّيْتُمْ ﴾ په تفسیر کښې مفسرین کرام په لاندې دوه وو ډلو باندې ویشلی شوي دي:

اول: دغه کلمه اصلاً د "وَلَايَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د واکدارۍ معنی ورکوي[1]. یعنې: ای "منافقانو! نو په کوم صورت کښې چې تاسو د پیغمبر ﷺ اطاعت ونه کړئ، په تاسو کښې به څه خیر پاتې شي، که بالفرض تاسو د خلکو د کارونو متولیان او واکداران هم وګرځئ څه خیر به ورته ونه رسوئ، بلکې په دې صورت کښې: ایا تاسو نژدې یاست چې په ځمکه کښې فسادونه وکړئ او د خپلوانو سره به صله رحمي او خپلوي پالل (په بې رحمۍ سره) پرې کړئ؟ (هو! همداسې به وکړئ).

دوهم: چې د ﴿ تَوَلَّيْتُمْ ﴾ کلمه د "أَعْرَضْتُمْ" معنی ورکوي[2]. یعنې: ای منافقانو! نو که چرته تاسو د نبي کریم ﷺ د اطاعت څخه اعراض وکړئ او د جهاد فرضیت د پښو لاندې کړئ، ایا (په دغه صورت کښې) تاسو نژدې یاست چې په ځمکه کښې فسادونه وکړئ او د اقاربو سره خپلوي او خواخوږي پرېکړئ؟ (هو! تاسو به همداسې وکړئ او خپلو پخوانیو جنایتونو ته به بېرته وروګرځئ).

یا په بل عبارت: تاسو غواړئ چې خپلې بې بندو بارۍ ته بېرته ورتاو شئ.

ج: ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري او د بدلیت په لحاظ دواړه هم اراده کېدلی شي مګر د مقام په ملحوظ دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي.

د: که څه هم د ﴿ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرْحَامَكُمْ ﴾ جملې مضمون د ﴿ أَن تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ جملې په مضمون کښې شامل دی، خو د دې کبله ورباندې صراحت وکړی شو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې په هغه وخت کښې د صله رحمي پرېکول عادي کار وه حتی چې ځینو خلکو به خپلې لورګانې ژوندۍ ښخولې.

ه: په احادیثو کښې هم د صله رحمۍ په باب زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو کرامو یې یوه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[3]، خو مونږ د کتاب د اوږدېدلو د ډاره د نبي کریم ﷺ د لاندې احادیثو په ذکر باندې د مثال په توګه اکتفاء کوو:

اول: «تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ»[4] یعنې د خپلو نسبونو څخه هومره زده کړئ چې خپله خپلوي ورباندې پالئ (صله رحمي پرې کوئ)، ځکه چې صله رحمي په أهل (خپلوانو) کښې د محبت سبب دی او په مال کښې د ډېروالي سبب دی (او بالآخره) په عمر کښې د وروستوالي (اوږدوالي) سبب دی.

دوهم: «أَسْرَعُ الْخَيْرِ ثَوَابًا الْبِرُّ وَصِلَةُ الرَّحِمِ وَأَسْرَعُ الشَّرِّ عُقُوبَةً الْبَغْيُ وَقَطِيعَةُ الرَّحِمِ»[5] یعنې د خیریه کارونو د جملې څخه د اجر او ثواب د حیثه نېکي کول او خپلوي پالل ډېر چوست دي (الله ﷻ ورباندې په دنیا کښې هم اجر او ثواب مرتبوي) او د شر په کارونو کښې د عقوبت (سزا) د حیثه

---

(۱) روح المعاني ج۲۶ ص۶۸
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۸۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۸۳
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۴۹۷
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹
(۵) سنن ابن ماجه ص۳۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بغاوت او صله رحمي پرېکول د هر چوست دي (الله ﷻ وربانديې جنايتکار ته د أخروي سزا څخه وړاندې په دنيا کښې هم سزا ورکوي).

## قُفل څه معنی؟

۵ـ په ﴿ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴾ کښې د "أقفال" کلمه د "قُفْل" ـ لکه "شُغْل" ـ جمعه ده، "قُفْل" هغه شي ته وايي، په کوم سره چې د دروازې ورونه کلک تړلی کېږي چې په پښتو کښې ورته "قُلف" يا "تالا" ويل کېږي. په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ قُلُوبٍ ﴾ ضمير ته مضافه ده، نو دلته د دروازو قلفونه مطلب نه دي بلکې هغه قلفونه مطلب دي کوم چې په زړونو پورې اختصاص لري او په "ختم"، "طَبَع" او نورو کلماتو سره ترې تعبير کېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ايت شريف کښې اولنۍ جمله د دوهمې جملې دپاره د سببيت حيثيت لري. يعني منافقانو په زړونو باندې د دې کبله مهر لګولی شوی دی او په حق باندې د پوهېدلو څخه قلف کړی شوي دي چې دوی د قرآن کريم ارشادات د زړه په غوږونو باندې نه اوري او په دقت سره پکښې سوچ او تفکر نه کوي.

عين مضمون ته لږ وړاندې په [محمد: ۱٦] ايت کښې هم اشاره شوې ده.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَى ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِى بَعْضِ ٱلْأَمْرِ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ ﴿٢٧﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسْخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضْوَٰنَهُۥ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٢٨﴾ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ ٱللَّهُ أَضْغَٰنَهُمْ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٠﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ ٱلْمُجَٰهِدِينَ مِنكُمْ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبْلُوَاْ أَخْبَارَكُمْ ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۵] يقيناً کوم کسان چې (د اسلام څخه) بېرته په خپلو شاګانو باندې ګرځېدلي دي (البته) د هغه څخه وروسته چې سمه لاره ورته څرګنده شوې ده.

هغوی ته شيطان (بېرته ګرځېدل) ښايسته کړي دي (او ګمراه کړي يې دي) او هم يې ورته (د ګمراه کولو په زمانو کښې) اوږدوالی کړی دی (چې ارتداد پرېنږدي).

[۲٦] دغه (ارتداد) په دې سبب چې يقيناً مرتدان هغو کسانو ته وايي کوم چې هغه شی نه خوښوي چې الله ﷻ نازل کړی دی چې: د هر ژر به مونږ په ځينو کارونو کښې ستاسو اطاعت وکړو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ستاسو ملګرتیا به غوره کړو): حال دا چې الله ﷻ یې په پټو مشورو (او رازونو باندې) پوهېږي.

[۲۷] نو د مرتدانو به په هغه وخت کښې څه حال وي چې کله پرښتې د هغوی ارواګانې په داسې شان سره اخلي چې په مخونو او شاګانو باندې یې وهي؟!

[۲۸] دغه (په شدت سره د ارواګانو قبض) په دې سبب دی چې یقیناً مرتدان د هغه شي پیروي کوي کوم چې الله ﷻ (ورته) په غضب کوي، او (هم په دې سبب چې) هغوی د الله ﷻ رضامندي نه خوښوي (چې بدکارونه کوي) نو الله ﷻ یې (نېک) اعمال ضائع (بې لجره) کړه.

[۲۹] ایا هغه کسان ګومان کوي د کومو په زړونو کښې چې مرض (نفاق) دی چې هیڅکله به الله ﷻ د هغوی عداوت (او د اسلام سره دښمني) څرګنده نه کړي (او پټه به یې پرېږدي)؟.

[۳۰] او (ای پیغمبره!) که زمونږ اراده وشي نو مونږ به هرو مرو تاته منافقان دروښیو، نو ته به یې په نښو سره وپېژنې، او سوګند دی چې ته به هرومرو ضرور هغوی د خبرو کولو په طرز (طریقه) کښې وپېژنې. او الله ﷻ (د منافقانو په شمول) ستاسو په عملونو باندې پوهېږي.

[۳۱] او هرو مرو ضرور به مونږ تاسو امتحان کړو ترڅو مونږ ستاسو د جملې څخه په مجاهدینو او صابرینو باندې (په شهودي پوهې سره) پوه شو، او (هم ترڅو) مونږ (د ایمان د خبر څخه علاوه) ستاسو نور خبرونه هم امتحان کړو (چې رښتیا وایاست او که لاپې کوئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب د منافقانو د منافقت په خوښولو باندې رڼا اچولې شوې ده او څه تهدید یې پکښې نازل شوی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د هغې وجې څه بیان قرائت کړه د کومې په سبب چې منافقانو منافقت غوره کړی دی او بېرته کفر ته اووښتي دي. هغه دا چې:

۱_ یقیناً کومو کسانو چې ایمان راوړی دی او سمه لاره ورته ښه پوره روښانه شوې ده خو د دې سره‌سره بېرته کفر ته وراووښتي دي او مرتد شوي دي، د هغوی د دې کار وجه دا ده چې:

الف: شیطان ورته کفري لاره ښایسته کړې او اسانه کړې ده، نو د اسلام څخه ورته کفر غوره برېښي چې هغوی (کفار) حق په جانب دي او په سمه لاره باندې روان دي.

ب: همدارنګه د هغوی غولوني ته شیطان اوږده زمانه ادامه ورکړې ده او لا لګیا دی ادامه ورکوي چې په همدغې کفري عقیدې باندې د مرګ تر وخته پورې باقي پاتې شي.

۲_ هغوی ته ځکه کفر غوره برېښېدلی دی چې د کفارو سره د مؤمنانو په مقابل کښې مینه او محبت لري حتی هغو کسانو ته جاسوسي کوي کوم چې قرآن کریم نه خوښوي او په مَا أَنزَلَ الله باندې په غُصه دي. هغوی څرګندو کفارو ته وایي چې: ډېر ژر به مونږ په ځینو کارونو کښې عموماً او په جهادي کارونو کښې خصوصاً ستاسو اطاعت وکړو او ستاسو په ګټه به اجراءات وکړو.

حال دا چې الله ﷻ د منافقانو په شمول د ټولو خلکو په اسرارو او پټو رازونو باندې پوهېږي او حتی په هغو خبرو باندې هم پوهېږي کومې چې د چا په زړه کښې ګرځي راګرځي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ نو د کفارو به څه حال وي کله چې هغوی ته د ارواګانو د قبض دپاره پرښتې ورشي او ارواګانې يې په داسې حال کښې قبض کړي چې مخونو ته يې وهل ورکوي چې ولې مو د اسلام څخه مخونه واړول، او شاګانو ته يې هم وهل ورکړي چې ولې مو د پيغمبر ﷺ ارشاداتو ته شا کړې وه او خپل خانونه مو ورباندې رانده کانه اچولي وه؟.

۴_ ای پيغمبره! څکه به پرښتې هغوی ته وهل ورکوي چې:

الف: هغوی د هغه شي پيروي کړې ده کوم چې الله ﷻ په غضب کوي، نو خپلو خانونو ته يې الله ﷻ په غضب کړی دی.

ب: او هم هغوی د الله ﷻ رضامندي نه ده خوښه کړې او ټول زيار او کوښښ يې د شيطان او کفارو د رضامندۍ په حاصلولو کښې تېر کړی دی، نو ځکه يې الله ﷻ هغه عملونه ضائع کړه کوم يې چې د منافقت په لباس کښې ترسره کړي وه، لکه لمونځ او نور.

۵_ ايا هغه کسان ګومان کوي د کومو په زړونو کښې چې د منافقت مرض دی چې الله ﷻ به يې رسوا نه کړي او هغه کينه او عداوت به يې په ډاګه نه کړي کوم چې هغوی په زړونو کښې د مؤمنانو په هکله پټ ساتلی دی؟ دغسې به الله ﷻ هيڅکله ونه کړي لکه چې د هغوی خيال دی بلکې:

الف: ای پيغمبره! که زمونږ اراده وشي نو مونږ به تاته منافقان په نښو سره دروښيو نو هرومرو به يې ته په نښو سره وپېژنې، او يا به يې په اشخاصو سره دروپېژنو نو چې ته به يې ښه پوره وپېژنې چې فلانکی او فلانکی منافقان دي، خو تر اوسه پورې دغه کار ته زمونږ اراده نه ده شوې.

ب: هو! زمونږ د ښودانې څخه ورانده هم ته منافقان پېژاندلی شې چې د خبرو طرز او لهجې ته يې متوجه شې، نو په دغه صورت کښې به هم ته هغوی وپېژنې چې دغه منافق دی او هغه منافق دی.

ج: الله ﷻ ستاسو د ټولو (منافقان ياست او که مخلص مؤمنان) په اعمالو باندې ښه پوهېږي چې تاسو يې په کوم غرض اجراء کوئ، نو هر چاته به موافقه سزا يا جزا ورکړي.

۶_ ای د آمنّا ويونکو! هرومرو او ضرور به مونږ تاسو په داسې ډول د امتحان لاندې ونيسو:

الف: په تاسو به جهاد فرض کړو ترڅو مونږ خپل خان ته په شهودي علم سره معلومه کړو چې ستاسو د جملې څخه واقعي مجاهدين څوک څوک دي او څومره-څومره اندازه ايماني اخلاص لري؟

ب: تاسو به د مشقتونو په نزول سره هم د امتحان لاندې ونيسو ترڅو په خپل شهودي علم سره صابران او بې صبران خپل خان ته معلوم کړو، چې ستاسو د جملې څخه څوک په ايمان باندې ډېر کلک دي او په همدې هکله څومره مشکلات په اوږو اخلي؟

ج: همدارنګه ترڅو مونږ د جهاد په فرضيت او د مشقاتو په نزول سره (د ايمان په امتحان باندې علاوه) ستاسو نور اخبارات هم امتحان کړو چې تاسو په خپلو اخباراتو کښې رښتيني ياست او که محض د خولې لاپې شاپې کوئ؟.

## توضيحات

۱_ ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّواْ ﴾ الآية- کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿ ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ سَوَّلَ ﴾ کلمه د "تَسْوِيْل" ـ لکه "تَكْرِيْم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يوسف:۱۸] ايت لاندې ليکلي دي چې "تَسْوِيْل" د "تَزْيِين" معنى ورکوي. خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې که ذکره شوې کلمه نفس ته منسوبه شي نو "تَزْيِين" ترې مرادېږي او که شيطان ته نسبت شي لکه چې په دې مقام کښې ورته نسبت شوې ده نو په "إِغْوَاء" گمراه کولو باندې هم دلالت کوي[۱].

ب: په ﴿ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴾ کښې د "أَمْلَى" کلمه اصلاً د "مَلَاوَة" ـ لکه "شَرَافَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده.

او د [مريم:۴۶] ايت لاندې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ ليکلی شوي دي چې د "مَلَاوَة" څخه د زماني اوږدوالى اراده کېږي.

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې: مرتدانو ته شيطان کفري لاره ښايسته کړې ده او د سمې لارې څخه يې اړولي دي، او د زماني په اوږدو کښې د هغوى گمراه کولو ته ادامه ورکوي چې د ارتداد څخه پښېمانه نه شي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ ٱلْأَمْرِ ﴾ کښې د ﴿بَعْضِ ٱلْأَمْرِ﴾ څخه کوم ځينې کارونه مراد دي، يا په بل عبارت: هغه ځينې کارونه کوم کوم دي چې منافقانو به يې کفارو ته په پټه وعده ورکوله؟

مونږ وايو چې: د دغو کارونو څخه په ځينو باندې په بل ايت کښې رڼا اچولې شوې ده چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ ﴾ [الحشر:۱۱] يعني ايا ته هغو کسانو ته نه گورې کومو چې منافقت غوره کړی دی چې د اهل الکتابو څخه خپلو هغو کفري ورونو ته وايي کومو چې (څرگند) کفر غوره کړی دی چې: که چرته تاسو (د خپل وطن څخه) وويستلی شئ نو هرومرو به مونږ درسره يو ځاى ووځو، او مونږ به هيڅکله ستاسو (د ضرر) په هکله د هيچا اطاعت ونه کړو، او که تاسو (د مسلمانانو د پلوه) وژل کېدلئ نو هرومرو به مونږ ستاسو مرسته وکړو (او ستاسو په گټه به د هغوى سره وجنگېږو).

## أضغان څه معنى؟

۳ـ په ﴿ أَن لَّن يُخْرِجَ ٱللَّهُ أَضْغَٰنَهُمْ ﴾ کښې د "أَضْغَان" کلمه د "ضَغْن" ـ لکه "ضَرْب" ـ جمعه ده چې د کينې او عداوت معنى ورکوي[۲] او جمعيت يې د مضاف اليه "کُمْ" په اعتبار سره صورت نيولى

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۶۵۱
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۲۵۵؛ مفردات الراغب ص۳۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی چې د متعددو منافقانو ځخه کنایه دی. یعني ایا د منافقانو گومان دی چې هیڅکله به الله ﷻ د هغوی عداوتونه او کینې څرګندې نه کړي او په زړونو کښې به یې ورته پټې پرېږدي؟.

دغه کلمه (أضغان) په راتلونکي [محمد:۳۷] ایت کښې هم راروانه ده او هلته هم د عداوتونو معنی ورکوي.

## څو نکات

۴_ په ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ ﴾ الآیتین- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۹] ایت لاندې لیکلي دي چې منافقت په مدینه منوره کښې وده وکړه، چې ځینو خلکو د تمې یا د ډار له کبله په طیبه کلمه باندې تلفظ وکړ او په زړونو کښې سوچه کفار وه او کفر پکښې ځای نیولی وه.

ب: الله ﷻ تر څه وخته پورې د منافقانو په منافقت پرده اچولې وه او د رسوایي ځخه یې بچ ساتلي وه، ترڅو هغوی ته موقع په لاس ورشي چې د خالص ایمان خاوندان وگرځي.

ج: حتی چې تر یو وخته پورې الله ﷻ په نامه ونه ښودل چې هغه منافق دی او دغه منافق دی، همدې مطلب ته په ﴿ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ ﴾ سره اشاره شوې ده، یعنې که زمونږ اراده وشي نو تاته به منافقان درولید کړو (او په بیل-بیل نفر به دې پوه کړو).

د: خو په عین وخت کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته هغوی په نښو او علامو سره وروښودل چې په خپل فراست سره یې پېژاندل[۱]، چې په دې مقام کښې ورته په ﴿ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ﴾ سره اشاره شوې ده، یعنې نو هرومرو به یې ته په نښو سره وپېژني.

هـ: د خبرو په طرز او أسلوب سره هم نبي کریم ﷺ ته منافقان وروپېژاندلی شوي وه، چې په ﴿ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ﴾ جملې سره ورته اشاره شوې ده او دا ځکه چې د "لَحن" کلمه د خبرو کولو أسلوب او طرز او طریقې ته وضعه شوې ده، چې متکلم خپل اصلي مطلب په لفافه کښې (په ناڅرګنده توګه) بیان کړي[۲]. یعنې او هرومرو ضرور به ته د خبرو کولو په طرز او طریقه کښې هم منافقان وپېژني.

د ﴿ لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ﴾ دپاره په یوه اوږده حدیث کښې د محمد بن مسلمه ﷺ کلام مثال گرځېدلی شي چې کله یې ورباندې کعب بن الأشرف یهودي (د اسلام ډېر کلک دښمن د نبي کریم ﷺ په اجازه) مخاطب کړ چې: «وَإِنَّهُ قَدْ عَنَّانَا وَإِنِّي قَدْ أَتَيْتُكَ أَسْتَسْلِفُكَ»[۳] یعنې یقیناً دغه سړی (محمد ﷺ) مونږ ستومانه کړي یاستو او یقیناً زه تاته راغلی یم چې څه قرض راکړې. نوموړي صحابي ﷺ د خپل کلام حقیقي مضمون نه اراده کاوه بلکې په همدې بهانه ذکر شوي یهودي ته ورنژدې شو او ویې واژه.

---

(۱) د "فراست" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الحجر:۷۵] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده.
(۲) مفردات الراغب ص۴۶۹
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۵۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: د دې ډول پېژاندنې ډېرو مثالونو ته په "الأحزاب" سورت کښې او خاصتاً په "التوبة" سورت کښې اشاره شوې ده، د همدې کبله د "التوبة" سورت ته د "الْفَاضِحَة" لقب ورکړی شوی دی چې د شرموونکې او رسواکوونکې معنې ورکوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّى وَلَا تَفْتِنِّىٓ ﴾ [التوبة:٤٩] يعنې او د منافقانو څخه هغه څوک هم دی کوم چې (تا مخاطب ګرځوي او درته) وايي چې: ای پیغمبره! ماته اجازه راکړه (چې د تبوک غزا ته لاړ نه شم او) فتنه کښې مې مه اچوه[١].

دوهم: ﴿ وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴾ [الأحزاب:١٣] يعنې او د منافقانو څخه یوه لویه ډله د پیغمبر ﷺ څخه اجازه غواړي، وایي چې یقیناً زمونږ کورونه په خطرناکو ځایونو کښې واقع دي، حال دا چې کورونه یې په خطرناکو ځایونو کښې واقع نه دي (بلکې) دوی اراده نه لري مګر (د خندق د غزا څخه) د تېښتېدلو.

ز: الله ﷻ د جهاد په فرضیت سره هم خپل پیغمبر ﷺ ته د منافقانو منافقت څرګند کړ، چې په ﴿ حَتَّىٰ نَعْلَمَ ٱلْمُجَـٰهِدِينَ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده، او یو مثال یې لږ وړاندې په [محمد: ٢٠] ایت کښې تېر شو.

ح: څه وخت وروسته الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د هغوی اشخاص هم وروښودل چې هغه او دغه منافقان دي، خو تر دغه وخته پورې یې عامو خلکو ته نه وه په ډاګه کړي، یوازې حذیفه ﷺ یې وریاندې خبر کړی وه چې د یوه راز په توګه یې د خپل ځان سره وساتي، د همدې کبله دغه صحابي ﷺ ته د "صَاحِبُ السِّرِّ" لقب ورکړی شوی دی[٢] چې د نبي کریم ﷺ رازدار وه.

ط: بالآخره، الله ﷻ د منافقانو څخه پرده پورته کړه او ټولو صحابه وو کرامو ﷺ ته یې په ډاګه وګرځول آن تردې چې نبي کریم ﷺ په یوه مجلس کښې په شپږ دېرشو تنو باندې غږ وکړ چې: «قُمْ يَا فُلَانُ! قُمْ يَا فُلَانُ! قُمْ يَا فُلَانُ!»[٣] ودرېږه ای فلانکیه!، ودرېږه ای فلانکیه!، ودرېږه ای فلانکیه!، او ټول یې د خپل مجلس څخه وشړل چې تاسو منافقان یاست.

او آن تردې چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته ارشاد نازل کړ چې: ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ﴾ [التوبة:٨٤] یعنې ای پیغمبره! د منافقانو په یو کس باندې هم چې مړ شي هیڅکله د جنازې لمونځ مه اداء کوه او مه یې په قبر باندې درېږه.

ي: په ﴿ حَتَّىٰ نَعْلَمَ ﴾ کښې د ﴿ نَعْلَمَ ﴾ کلمې غوندې بله کلمه ﴿ لِنَعْلَمَ ﴾ د [البقرة:١٤٣] ایت لاندې ښه پوره تشریح شوې ده او د اعتراض مخه پکښې نیولی شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې په بیا تشریح کولو سره یې کتاب نه شو اوږدولی.

---

(١) د دې مثال د ښه وضاحت دپاره باید هملته د [التوبة:٤٩] ایت ته مراجعه وکړه شي
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢١
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٣١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا: په ﴿ وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ﴾ کښې د "نَبۡلُوَ" کلمه په ﴿ نَعۡلَمَ ﴾ عطفه ده، او د ﴿ أَخۡبَارَكُمۡ ﴾ څخه د منافقانو د "آمنّا" ویلو څخه په غیر نور اخبارات او ښکاره کول مطلب دي.

یعنې ترڅو مونږ د جهاد په فرضیت سره او د مشقاتو په نزول سره (ای منافقانو!) ستاسو نور اخبارات هم امتحان کړو چې ښکاره کوونکي مو رښتیاني دي او که محض لاپې شاپې کوئ.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ
لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ (٣٢) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ
ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ (٣٣) إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمۡ
كُفَّارٞ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ (٣٤) فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ
وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ (٣٥) إِنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤۡتِكُمۡ
أُجُورَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ (٣٦) إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُواْ وَيُخۡرِجۡ أَضۡغَٰنَكُمۡ
(٣٧) هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُۖ وَمَن يَبۡخَلۡ
فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦۚ وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُۚ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا
غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم (٣٨) ﴾

[٣٢] یقینًا هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او د الله ﷻ د لارې (نور خلک) اړوي، او هم د پیغمبر ﷺ څخه د هغه څخه وروسته مخالفت کوي چې سمه لاره ورته ښکاره شوې (ښکاره شوې) ده، دوی به هیڅکله الله ﷻ ته د هیڅ شي ضرر ونه رسوي، او ژر به یې الله ﷻ عملونه ضائع کړي (چې نه به یې نیکي په درد وخوري او نه به یې د اسلام ضد پلانونه نتیجه ورکړي).

[٣٣] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ اطاعت وکړئ او (هم) د پیغمبر اطاعت وکړئ او خپل عملونه (په کفر او ارتداد سره) مه باطلوئ.

[٣٤] یقینًا هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او د الله ﷻ د لارې څخه (خلک) اړوي (او بیا په داسې حال کښې مړه شي چې کفار وي، نو هیڅکله به ورته الله ﷻ مغفرت ونه کړي.

[٣٥] نو (ای مؤمنانو!) تاسو سستي مه کوئ او (د بې همتۍ د کبله کفارو) روغې ته مه بلې حال دا چې تاسو (په هغوی باندې) اوچت (غالب) یاست او الله ﷻ ستاسو (ملګری) دی، او هیڅکله به الله ﷻ تاسو د خپلو عملونو څخه یوازې نه کړي (چې ضائع یې وګرځوي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۶] بې شکه نژدې (او حقیر) ژوند لوبې او مشغولتیا ده (البته کله چې ورسره آخرت په نظر کښې نه وي).

او (ای مؤمنانو!) که چرته تاسو (په صحیحو معناوو کښې) ایمان ته ادامه ورکړئ او تقوی خپله کړئ نو الله ﷻ به تاسو ته ستاسو اجرونه پوره درکړي او مالونه به مو درڅخه ونه غواړي (چې کوم مخلوق ته روزي ورکړئ).

[۳۷] او که (بالفرض المحال) الله ﷻ درڅخه مالونه وغواړي بیا په غوښتلو باندې تینګار وکړي نو تاسو به بخل (شومتیا) وکړئ او الله ﷻ به (په همدې سبب) ستاسو کینې (او عداوتونه) راوباسي (د اسلام ناخوښي به څرګنده کړئ).

[۳۸] اګاه اوسئ! تاسو چې یاست ای دغو کسانو (چې وړاندې مو خاصیت بیان شو د الله ﷻ د پلوه) دېته بلل کېږئ چې د الله ﷻ په لار کښې (څه مال) نفقه کړئ، نو ستاسو د جملې څخه هغه څوک هم دي چې (په دغه انفاق کښې) شومتیا غوره کوي.

او هرڅوک چې شومتیا غوره کړي نو یقیناً هغه د خپل خان څخه (په اجرونو کښې) شومتیا غوره کړه (چې ضرر یې خاص همده ﷻ ته راجع دی او بس).

او الله ﷻ همدی بې پروا دی او تاسو فقیران (او محتاجان) یاست.

او (ای مؤمنانو!) که تاسو (ایمان او تقوی ته) شا کړئ نو الله ﷻ به (ستاسو) په بدل کښې ستاسو څخه په غیر بل قوم راولي چې بیا به هغوی ستاسو غوندې (بې همته او بخیلان) نه وي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د منافقانو په حالاتو باندې څه نوره رڼا هم اچولې شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د منافقانو په باب څه نور مطالب هم قرائت کړه:

۱ ـ کومو منافقانو ته چې سمه لاره څرګنده شوې ده او ښه پوره ورته واضحه ګرځېدلې ده خو د دې څخه وروسته هم د لاندې خاصیتونو درلونکې دي:

الف: چې کفر یې غوره کړی دی او د اسلام څخه کفر ته بېرته وراوښتي دي.

ب: چې مؤمنان د الله ﷻ د لارې څخه اړوي او غواړي چې د خپلو خانونو غوندې یې مرتدان وګرځوي (همدې کار ته دعوت چلوي).

ج: چې د پیغمبر ﷺ سره دښمني کوي او په مقابل طرف کښې ورته ولاړ وي.

دغه کسان فقط خپلو خانونو ته ضرر رسوي او الله ﷻ ته به هیڅکله د هیڅ شي ضرر ونه شي رسولی، نو الله ﷻ به یې نېک اعمال ضائع کړي او پلانونه به یې شنډ کړي چې مطلوبه نتیجه به ورباندې مرتبه نه شي.

۲ ـ نو په همدې بنیاد ای مؤمنانو! تاسو د ارتداد څخه خپل خانونه وساتئ او په لاندې ارشاداتو عمل وکړئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: تاسو خاص د الله ﷻ اطاعت ته ادامه ورکړئ او هم د پیغمبر ﷺ په اطاعت باندې ګلک ودرېږئ، د شیطان اطاعت مه کوئ او پیروي ته یې شا کړئ.

ب: تاسو د خپلو اعمالو حفاظت وکړئ او په مرتدکېدلو او نورو شیانو سره یې مه باطلوئ چې مطلوبه نتیجه وربانديې مرتبه نه شي. یا په بل عبارت: تاسو د ارتداد په شمول د ریاکارۍ او ګناهونو څخه اجتناب وکړئ.

۳_ ای مؤمنانو! که ستاسو څخه څوک په ذکر شوي مرض اخته شوي وي او مرتد شوي وي نو هغه دې بېرته اسلام ته راواوړي او په خپله تګلاره باندې دې بیا نظر وکړي، هسې نه چې په همدغه کفري حال باندې مړ او د سختو ستونزو سره مخامخ شي.

او دا ځکه چې: کومو کسانو چې کفر غوره کړی وي او د الله ﷻ د لارې څخه یې د مؤمنانو د اړولو هڅې کړې وي (کفر ته یې دعوت چلولی وي) او بیا په داسې حال کښې مړه شي چې د ذکر شوي خاصیت درلودونکي وي، نو الله ﷻ به ورته هیڅکله مغفرت ونه کړي او د کفر څخه به ورته نه شي چې توبه یې قبوله کړي. یا په بل عبارت: د توبې د قبول ځای همدغه نړدې دنیاوي ژوند دی په آخرت کښې بیا توبه نه قبلېږي.

۴_ نو ای مؤمنانو! د ذکرو شوو بیاناتو په پام کښې نیولو سره تاسو د کفارو او منافقانو سره په جهاد کښې سستي مه کوئ او د سستۍ او بې همتۍ د کبله هغوی ته د روغې جوړې وړاندیز مه کوئ، چې دغه وړاندیز نه فقط د بې همتۍ د کبله صورت ورکړئ او کوم اصلاحي اجتماعي هدف مو پکښې مرموز نه وي. او دا ځکه چې:

الف: تاسو په هغوی باندې هسک او لوړ یاست، نو مناسبه نه ده چې په ذکر شوي وړاندیز سره خپل ځانونه ښکته وغورزوئ او په ذلت کښې قرار ولرئ.

ب: الله ﷻ ستاسو ملګری دی، تاسو کمزوري نه یاست، نو تاسو مه بې زړه کېږئ.

ج: او هیڅکله به الله ﷻ په جهاد کښې ستاسو عملونه او زیار ویستنې ضایعې نه کړي چې نتیجه وربانديې مرتبه نه کړي او تاسو وربانديې مطلب ته ورنه رسېږئ.

د: په تاسو باندې دې د نړدې ژوند محبت باعث نه شي چې جهاد ته شا کړئ او روغې جوړې ته لاس واچوئ. او دا ځکه چې یقیناً پرته د اُخروي ملحوظه دغه ستاسو نړدې او حقیر ژوند نه دی مګر د دوه وو شیانو مجموعه ده. هغه دا:

اول: دا ژوند د ماشومانو د لوبو حیثیت لري او ډېر ژر د فنا سره مخامخ کېږي.

دوهم: دا ژوند د ابدي اُخروي ژوند څخه مشغولوونکی او په غفلت کښې اچوونکی دی.

۵_ ای مؤمنانو! که چرته تاسو خپل ایمان ته په ربښتیانیو معناوو کښې ادامه ورکړئ او تقوی او پرهېزګاري وکړئ نو الله ﷻ به تاسو ته ستاسو ثوابونه پوره درکړي او هم به درڅخه مالونه ونه غواړي چې خپلو ځانونو یا نورو مخلوقاتو ته روزي ورکړئ، بلکې په وړیا توګه به تاسو ته اجرونه درپېرزو کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ که بالفرض المحال الله ﷻ ستاسو څخه مالونه وغواړي او په همدې باندې ټینګار وکړي چې هلئ زر شئ کوم مخلوق ته روزي ورکړئ، نو تاسو به ضرور شومتیا وکړئ او د مال ورکړې ته به حاضر نه شئ. په دې باندې علاوه، په دغه صورت کښې به الله ﷻ ستاسو عداوت څرګند کړي. یا په بل عبارت: ستاسو په زړونو کښې به د مالونو په ورکړه باندې ناخوښې پیدا شي او دغه ناخوښې به پټه ونه شئ ساتلی بلکې هر څوک به پرې پوه شي.

خو الله ﷻ په تاسو باندې ډېر زیات مهربان دی او په دیني کارونو کښې مو د دومره دروند امتحان سره نه مخامخ کوي چې تاسو پکښې ټول ناکامان وګرځي إلا من شاء الله.

۷_ ای مؤمنانو! اګاه اوسئ چې تاسو بل څوک نه یاست بلکې هغه خلک یاست چې وړاندې مو څه خاصیتونو ته اشاره وشوه، هغه دا چې: تاسو په سخت امتحان کښې نه شئ کامیابېدلی او الله ﷻ مو د خپلې مهربانۍ د کبله د دروند امتحان سره نه مخامخ کوي. نو تاسو د دغه نعمت شکریه وکړئ او په سپک امتحان کښې خپل ځانونه مه ناکاموئ چې په تعمیل کښې یې سستي وکړئ. د مثال په توګه:

۸_ تاسو د الله ﷻ د پلوه دېته بلل کېږئ چې په جهاد کښې په ځاني قربانۍ باندې علاوه څه مالي قربانۍ ته هم خپل ځانونه چمتو کړي او خپل څه مالونه د الله ﷻ په لار کښې ولګوئ. مګر په تاسو کښې داسې خلک شته چې په دغه خفیف امتحان کښې هم د ناکامۍ سره مخامخ کېږي او د لږ مال په انفاق کښې هم شومتیا غوره کوي، خو تاسو پوه شئ چې:

الف: هرڅوک چې د لږ مال په خرڅولو کښې هم شومتیا غوره کړي نو هغه په حقیقت کښې د خپل ځان په ضرر باندې شومتیا غوره کړه او خپل ځان یې د اجرونو څخه بې برخې کړ.

ب: الله ﷻ ستاسو څخه لا څه چې د خپلو ټولو مخلوقاتو څخه بې پروا دی او هیچا ته څه اړتیا او احتیاج نه لري، خو بالمقابل ستاسو په شمول ټول مخلوقات همده ﷻ ته اړ او محتاج دي.

۹_ ای مؤمنانو! الله ﷻ په تاسو باندې ډېره زیاته مهرباني نازله کړې ده چې تاسو یې په جهاد باندې مکلف ګرځولي یاست او په همدې هکله یې د څه مالي انفاق په امتحان کښې واقع کړي یاست. او که تاسو دغو خفیفو ارشاداتو ته شا کړئ نو الله ﷻ دا هم کولی شي چې د ځمکې مخ ستاسو څخه خالي کړي او ستاسو په عوض یې په بل قوم باندې ډک (اباد) کړي، او همدغه بل قوم په مالي او ځاني جهاد باندې مکلف وګرځوي، چې هغوی به بیا ستاسو غوندې نه وي او ارشاداتو ته به خپلې شاګانې نه اړوي او سستي به پکښې نه کوي.

لنډه دا چې په دې صورت کښې به تاسو د اجرونو څخه محروم وګرځئ او ستاسو په عوض به بل عوضي قوم د لوړو مراتبو خاوندان جوړ شي او فضیلتونه به یې په برخه شي.



## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَا تُبْطِلُوٓا۟ أَعْمَـٰلَكُمْ ﴾ کښې د "لاَ تُبْطِلُوا" کلمه اصلاً د "بُطْلان" _لکه "غُفْرَان"_ څخه اشتقاق

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده، "بُطْلان" دې ته وايي چې کوم شی د ضائع کېدلو او تاوان موندلو د حیثه د منځه لاړ شي[۱].
يعني ای مؤمنانو! تاسو خپل نېک اعمال په ضائع کېدلو او تاوان موندلو سره د منځه مه وړئ.

۲ـ پاتې شوه دا خبره چې په کوم شي باندې نېک اعمال د منځه خي او د عامل په درد نه خوري، نو د دغه شي په تعین کښې علماوو کرامو ګڼ اقوال کړي دي[۲]. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: هر نېک عمل په ارتداد او نفاق خپلولو سره باطلېږي. لکه چې په وړاندې متصل ايت [محمد: ۳۲] کښې ورباندې صراحت شوی دی.

ب: په احسان اېښودلو او اذيت رسولو سره نېک اعمال (لکه صدقات) باطلېږي.

ج: همدارنګه په رياکارۍ سره هم د نيکو اعمالو مقبوليت اوبه وړي.

همدغو دواړو ډولونو ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبْطِلُواْ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ ﴾ [البقرة: ۲۶۴] يعني ای هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! تاسو خپل صدقات په احسان اېښودلو او ضرر رسولو سره مه ضائع کوئ لکه چې هغه څوک يې ضائع کوي کوم چې خپل مال د خلکو د ليدلو دپاره انفاق کوي (او اخلاص ونه لري).

د: د هغه چا نېک عمل هم په کار نه ورځي چې په نورو خلکو باندې يې ظلم کړی وي، البته ترڅو پورې چې د ظلمونو او جنايتونو بدله او قصاص پوره شي. همدغه ډول عامل ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې د مفلس لقب ورکړی دی[۳].

## تبصره

۳ـ که څه هم د ايت شريف کلمات عام دي او ذکرو شوو ټولو صورتونو ته شموليت لري مګر د مقام په لحاظ لومړی صورت غوره برېښي چې بحث په کفارو او منافقانو کښې راروان دی، نو څه لرې نه ده چې لومړی صورت په عبارة النص سره مقصود وګڼو او متباقي صورتونه په اشارة النص سره اثبات وبولو.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: ايا د ايت شريف په حکم کښې هغه نفلي عبادت شاملېدلی شي کوم چې د شروع څخه وروسته ناتمام نقض کړی شي، لکه چې څوک په نفلي روژه کښې د ماښام څخه وړاندې افطار وکړي؟

موږ وايو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: که څوک نفلي حج يا عمره نقض کړي او ناتمامه يې پرېږدي نو د ټولو فقهاوو کرامو په نزد په هغه باندې واجبه ده چې د نقض کړی شوی نفلي حج يا نفلي عمرې قضايي راوړي او د ذکر شوي

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۵۶؛ القاموس المحيط ج۱ ص۲۸۸
(۲) نظم الدرر ج۷ ص۱۷۷؛ روح المعاني ج۲۶ ص۷۹
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ايت شريف په بنياد د نقض کولو د کبله د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي.

ب: د دغو دواړو عبادتونو څخه په غير په نورو عبادتونو کښې فقهاء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ويشلى شوي دي:

اول: يو ګروپ فقهاء کرام (چې په سر کښې الشافعي علیه الرحمة واقع دى) وايي چې: د دغو عبادتونو نه اتمام واجب دى او نه يې په نقض کښې قضايي راوړل شته. او دا ځکه چې عائشه رضي الله عنها وايي چې: نبي کريم ﷺ يو ځل څه خوراکي شى وخوړ او بيا يې وفرمايل چې: «قَدْ كُنْتُ أَصْبَحْتُ صَائِمًا»[1] يعنې يقينًا ما په داسې حال سبا کړى وه چې روژه دار وم.

دوهم: د بل ګروپ په سر کښې أبو حنيفه علیه الرحمة واقع دى، دوى وايي چې: نظر همدغه ايت شريف ته چې بحث پکښې روان دى د نفلي عبادت ناتمام نقض کول جواز نه لري، او که څوک يې نقض کړي نو وربانډې واجبه ده چې قضايي يې راوړي ځکه چې: يوه ورځې عائشې او حفصې رضي الله عنهما دواړو نفلي روژه نېولې وه او بيا يې ناتمامه ماته کړې وه نو چې کله يې وربانډې نبي کريم ﷺ خبر کړ دواړو ته يې امر وکړ چې: «اقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ»[2] يعنې تاسو دواړه د همدغې ماتې کړى شوې روژې په عوض بله ورځ قضايي روژه ونيسئ.

همدغه حديث دلالت کوي چې نفلي عبادت په شروع سره واجب ګرځي که بالفرض واجب نه ګرځېدلى نو قضايي راوړل به يې هم واجب نه وى ګرځول شوي.

## تبصره

۵ـ خينو علماوو کرامو په دغې مسئله کښې متوسطه لاره غوره کړې ده هغه دا چې: د نفلي عبادت نقض کول نظر هغو نصوصو ته جائز دي په کومو باندې چې الشافعي علیه الرحمة استدلال کړى دى، خو قضايي راوړل يې نظر هغو نصوصو ته هم واجب دي په کومو باندې چې ابو حنيفه علیه الرحمة استدلال نيولى دى[3].

مونږ ته همدغه متوسطه لاره بهتره برېښي چې د يو پلوه په ټولو نصوصو باندې عمل ترلاسه کېږي، او د بله پلوه همدغه متوسطه لاره احتياطي هم ده.

## وَهن څه معنى؟

۶ـ په ﴿ فَلَا تَهِنُوا۟ وَتَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّلْمِ ﴾ کښې د "لا تَهِنُوا" کلمه د "وَهْن" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "وَهْن" د ضعف او کمزورۍ معنى ورکوي[4]، خو په دې مقام کښې د دغې کلمې (وَهن) څخه ـ زمونږ په فکر ـ هغه معنى مراده ده کومې ته چې په يوه حديث کښې اشاره شوې ده

(١) صحيح المسلم ج١ ص٣٦٤
(٢) جامع الترمذي ج١ ص١٥٥
(٣) تفسير المظهري ج٨ ص٤٤٤
(٤) مفردات الراغب ص٥٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه دا چې: «فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ»[۱] يعنې: نو يوه صحابي ﷺ پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! وَهَن څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې د دنيا محبت او د مرګ څخه ډاربدل (وهن دی).

نو کله چې مؤمنان وهن خپل کړي او جهاد ته شا کړي، نو د هره طرفه به ورته کفار لاسونه وروغزوي او د هره طرفه به يې د محاصرې لاندې ونيسي.

نو په دې تقدير به د ايت شريف معنی داسې راوخېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو وهن مه خپلوئ چې خاص د وهن د خپلولو د کبله کفارو ته د روغې جوړې لاس وراوږد کړئ او په همدې ذريعه د جهاد څخه خپلې اوږې سپکې کړئ.

## د کفارو سره صلحه

۷_ د کفارو سره د جنګ د نه کولو صلحه او روغه جوړه متعدد صورتونه درلودلی شي چې ځينې جائز دي او ځينې ناجائز دي. د مثال په توګه:

الف: که مسلمانان کمزوري وه او د جنګ وسائل يې نه درلوده نو صلحه ورسره جائزه ده[۲] لکه چې نبي کريم ﷺ د هجرت په اول وخت کښې د مدينې منورې د يهودانو سره صلحه کړې وه[۳].

ب: چې په صلحه کښې شرعي ټولنيزې موخې په پام کښې نيول شوي وي هم جواز لري، لکه چې نبي کريم ﷺ په حديبيه مقام کښې د مشرکانو سره صلحه وکړه[۴] خو بيا د هغوی د پلوه ماته شوه.

ج: چې د صلحې وړانديز د کفارو د پلوه صورت ونيسي او د مسلمانانو د پلوه منظور کړی شي لکه چې په [الأنفال: ٦۱] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، دا هم په شرعي چوکاټ کښې جائزه ده.

د: د کفارو سره هغه صلحه او روغه جوړه جواز نه لري په کومې باندې چې فقط وهن باعث ګرځېدلی وی، لکه چې په همدې ايت کښې ورته اشاره ده چې بحث پکښې روان دی.

ه: هغه صلحه هم جواز نه لري چې په مداهنت (غوړمالی) باندې ولاړه وي، لکه چې په [نٓ:۹] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

دغه ناجائزه صلحه لاندې دوه صورتونه درلودلی شي:

اول: چې په صلحه کښې د شرعي حکم د پښو لاندې کول قبول کړی شي. لکه چې د ثقيف قبيلې د خپلو ځانونو دپاره شرط کوله چې دوی ته به سود کول جواز لري او هم به دوی د زکات څخه معاف وي، چې پوره بيان يې د [الإسراء:۷۳] ايت په شان نزول کښې تېر شوي دي، والحمد الله ﷻ.

دوهم: چې په صلحه کښې ناجائز حکم جائز او مشروع وګڼلی شي لکه چې د مکې مشرکانو نبي

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۳۴
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۷۰؛ تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۸۱
(۳) سيرت ابن هشام ج۲ ص۱۲۲
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۳۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کریم ﷺ ته په صلحه کښې دا شرط کوله چې ته به د بوتانو قباحت نه بیانوې او په حقانیت به ورته قول کوې، چې وضاحت يې د الله ﷻ په توفیق د "صۤ" سورت د لومړنیو ایتونو په شان نزول کښې تېر شوی دی.

## د "وَتْر" معنی

۸_ په ﴿ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴾ کښې د "لَنْ يَتِرَ" کلمه د "وَتْر" _لکه "ضَرَب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "وتر" په پښتو کښې د "طاق" معنی ورکوي او د "شفع" مقابل دی چې په دَري لغت کښې په "جوفت" سره معنی کېږي[1]. یعنې الله ﷻ به د جهاد په صورت کښې هیڅکله تاسو د خپلو اعمالو څخه طاق (یوازې) ونه ګرځوي چې عوض يې درنه کړي او مطلوبه نتیجه درته وړاندې مرتبه نه کړي.

## سوال جواب

۹_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴾ جمله د عطف په لحاظ د ﴿ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا ﴾ شرطیه جملې دپاره جزا واقع شوې ده چې په همدې ملحوظ يې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې ای مؤمنانو! که چرته تاسو خپل ایمان ته په رښتیانیو معناوو کښې ادامه ورکړئ او پرهېزګاري خپله کړئ نو الله ﷻ به تاسو ته اجرونه درکړي او مالونه به مو درڅخه ونه غواړي چې زکات یا عشر ورکړئ؛ حال دا چې دغه معنی خو د زکات د فرضیت سره منافي ده؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره علماوو کرامو ګڼ جوابونه کړي دي[2]، د مثال په توګه:

الف: دلته د ﴿ أَمْوَالَكُمْ ﴾ کلمه په "جَمِيعًا" سره مقیده ده. یعنې په دې صورت کښې به الله ﷻ ستاسو څخه ستاسو ټول مالونه ونه غواړي، بلکې د نصاب په غوښتنه به اکتفاء وکړي.

خو دا جواب مونږ ته خوندور نه برېښي ځکه چې د "جَمِيعًا" په تقدیر باندې هیڅ دلیل نشته.

ب: په ﴿ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴾ کښې مستتر ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع دی چې وړاندېني کلام څخه حکما معلومېږي. یعنې په دغه صورت کښې به الله ﷻ تاسو ته اجرونه درکړي او نبي کریم ﷺ به درڅخه (په خپل دعوت باندې) ستاسو مالونه ونه غواړي چې ماته څه أجرت او مزدوري راکړئ.

دا جواب هم مونږ ته بې مزې ښکاري، ځکه چې دا جمله ﴿ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴾ په ﴿ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ ﴾ په جمله باندې عطفه ده نو چې په لومړۍ جمله کښې مستتر ضمیر الله ﷻ ته راجع دی نو په کار دي چې په دوهمه (معطوفه) جمله کښې هم ضمیر الله ﷻ ته راجع شي، نه نبي کریم ﷺ ته.

ج: دلته د ﴿ أَمْوَالَكُمْ ﴾ څخه زکاتي او عُشري مالونه مطلب نه دي ترڅو اعتراض وارد شي بلکې

---

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۵۶۸

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۴۷۰؛ اضواء البیان ج۷ ص۵۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلته ترې مطلق مالونه مراد دي. مونږ ته همدا جواب بهتر برېښي.

نو حاصل به یې داسې راوځېژي چې: ای مؤمنانو! د ایمان راوړلو او تقوی خپلولو په صورت کښې الله ﷻ تاسو ته وړیا اجرونه درکوي او ستاسو څخه د اجرونو په عوض کښې مالونه نه غواړي چې خپلو خانونو او نورو مخلوقاتو ته څه روزي ورکړئ، ځکه چې الله ﷻ تاسو ته احتیاج نه دی بلکې تاسو ورته اړ او احتیاج یاست.

مونږ ځکه دا جواب بهتر وګڼه چې:

اول: همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ ﴾ [الذاريات: ٥٧] یعنې زه د پیریانو او بنیادمانو څخه (د خپل عبادت څخه په غیر) اراده نه لرم چې دوی خپلو خانونو او یا نورو مخلوقاتو ته روزي ورکړي (او نه ترې د دې غوښتنه کوم).

دوهم: په همدې جواب باندې راتلونکې متصله جمله هم دلالت کوي چې ﴿ إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَـٰنَكُمْ ﴾ یعنې که بالفرض المحال الله ﷻ ستاسو څخه مالونه وغواړي (چې خلکو ته روزي ورکړئ) او (په همدې خبره باندې) ټینګار وکړي (چې دا کار به ضرور او هرومرو کوئ) نو سمدستي به تاسو شومتیا خپله کړئ او په زړونو کښې به د دین سره عداوتونه پیدا کړئ او بالآخره دغه عداوتونه به الله ﷻ په ذکرې شوې غوښتنې سره په ډاګه کړي، او تاسو به یې په خپلو خولو سره څرګند کړئ.

درېم: د انسان شومتیا ته داسې اشاره هم شوې ده چې: ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَـٰنُ قَتُورًا ﴾ [الإسراء: ١٠٠] یعنې او بنیادم ډېر زیات سخت بخیل (شوم) دی.

## یو نحوي تحلیل

۱۰ـ په ﴿ هَـٰٓأَنتُمْ هَـٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ ﴾ کښې نحوي تحلیل په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي[1]:

الف: د ﴿ هَـٰٓأَنتُمْ ﴾ کلمه مبتدا ده.

ب: د ﴿ هَـٰٓؤُلَآءِ ﴾ کلمه منادی ده او د نداء توری پکښې مقدر دی چې مونږ ترې په "یاهؤلاء" سره تعبیر کولی شو.

ج: ﴿ تُدْعَوْنَ ﴾ د خپلو متعلقاتو سره د ذکرې شوې مبتدا دپاره خبر ده، بیا دا جمله د نداء دپاره جواب ده.

نو حاصل به یې داسې راوځېژي چې: ای دغو کسانو چې د شومتیا په خاصیت مو وړاندې نه پوره رڼا اچولې شوې ده! تاسو د الله ﷻ د پلوه دېته بلل کېږئ چې في سبیل الله لږ څه مال انفاق کړئ او جهادي وسائل وریاندې ترلاسه کړئ. خو په تاسو کښې داسې خلک شته چې د مال لږ انفاق ته هم چمتو نه دي.

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۰۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۱۱_ د ﴿ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ﴾ شرطيه جمله په وړاندېنۍ شرطيه جملې ﴿ يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ ﴾ باندې عطفه ده[۱]. يعنې اى مؤمنانو! او كه تاسو ايمان او تقوى ته شا كړئ (او د جهاد څخه په يوه بهانه او بله بهانه خپلې اوږې سپكې كړئ) نو الله ﷻ به ستاسو څخه په غير د بدل په حيث بل قوم راولي (پيدا كړي) چې هغوى به بيا ستاسو غوندې نه وي چې جهاد ته يې سترګې سپينې وي.

## سوال جواب

۱۲_ كه څوک وايي: دغه كوم قوم دى چې په ايت شريف كښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وايو: كه څه هم د دغه سوال د جوابولو په هكله علماوو كرامو ګڼ تفسيرونه ليكلي دي چې شمېر يې آن تر اَتو تفسيرونو پورې رسېږي[۲]، مګر په ټولو كښې بهتر تفسير هغه دى كوم ته چې په يوه حديث كښې اشاره شوې ده هغه دا چې:

يوه ورځې ذكره شوې پوښتنه د نبي كريم ﷺ څخه په داسې حال كښې وكړى شوه چې سلمان الفارسي ﷺ يې په څنګ كښې ناست وه، نو نبي كريم ﷺ د دغه صحابي ﷺ په ورانه باندې لاس كېښود او ويې وفرمايل چې: «هَذَا وَأَصْحَابُهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ مَنُوطًا بِالثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ فَارِسَ»[۳] يعنې نوموړى قوم دغه سړى او د ده ملګري دي، زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زما ځان د ده ﷻ په بلاكيفه لاس كښې دى كه چرته بالفرض ايمان د ثريا ستورو پورې نښتى وى نو د فارس څخه به ځينو سړيو رانيولى وى.

ځينې علماء كرام دلته د فارسيانو څخه مطلق عجم اراده كوي.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ أَصْحَابِ سَلْمَانَ فِي الْجَنَّةِ.

د "مُحَمَّد" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

والحمد لله ﷻ على ذلک.

۱۴۲۳/۱۲/۱۹ هـ ق - ۱۳۸۱/۱۲/۱ هـ ش.

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۳۳۱

(۲) زاد المسير ج۷ ص۱۵۷

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱٤۲

Scanned by CamScanner

# الفتح (٤٨)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (اَلْفَتْح) د لومړني ایت څخه اخستلې شوي دي، نو دا سورت د نورو سورتونو څخه په همدې نامه جدا کړی شوی دی.

۲ـ دا سورت ټول په یو ځل[1] د هجرت په شپږم کال د ذو القعدې په میاشت کښې[2] په هغه وخت کښې نازل شوی دی چې کله نبي کریم ﷺ د حدیبیې د صلحې څخه بېرته مدینې منورې ته ستون شو او دا خکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ ﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا ﴾ »[3] یعنې یقینًا په ما باندې بېګا شپه داسې یو سورت نازل شوی دی چې هرومرو ماته د هغو ټولو شیانو څخه محبوب دی په کوم باندې چې لمر راخېژي (چې د ټولو دنیا څخه عبارت دی)، بیا یې د ذکر شوي سورت اولنی ایت قرائت کړ.

۳ـ نو په همدې بنیاد دا سورت ټول مدني سورت دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[4].

۴ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[5]:

الف: د ایتونو عدد یې فقط نهه ویشتو (۲۹) ایتونو ته رسېږي.

ب: د کلماتو شمېر یې پنځه سوه او شپېتو (۵۶۰) کلمو ته پورته شوی دی.

ج: د حروفو تعداد یې دوه زره څلور سوه او اته دېرش (۲۴۳۸) دي.

۵ـ دا سورت (اَلْفَتْح) او وړاندېنی سورت (مُحَمَّد) دواړه سره یو تربله ډېرې نژدې اړیکې لري چې دواړه مدني سورتونه دي او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هلته په وسلوال جهاد باندې ډېر زور اچولی شوی وه او دلته د جهاد په نتائجو ډېره رڼا اچولې شوې ده چې بری او فتحه د مؤمنانو په برخه دي.

ب: هلته د مخلصو مؤمنانو او منافقانو په څرګندولو کښې ډېر بحث نازل شوی دی او دلته هم عین موضوع مطرحه شوې ده او د منافقانو او مخلصو مؤمنانو څه امتیازاتو ته اشاره شوې ده.

ج: هلته په [۱۹] ایت کښې نبي کریم ﷺ ته د استغفار توصیه شوې ده او دلته په دوهم ایت کښې د استغفار قبول نازل شوی دی.

د: هلته په [۳۵] ایت کښې ارشاد نازل شوی وه چې د بې همتۍ د کبله صلحې (روغې جوړې) ته لاس مه اوږدوئ او دلته ارشاد کېږي چې د اجتماعي اسلامي مصالحو په غرض دغه کار ته اقدا. کول ښه کار دی (او داسې نور).

---

(۱) الدر المنثور ج۷ ص۵۰۷
(۲) روح المعاني ج۲۶ ص۱۲۸
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۶؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۲
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۵۹
(۵) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۴۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه مقدمه

کومې صلحې ته چې په دې سورت کښې اشاره شوې ده هغه د سیرت کتابونو[۱] او ځینو مفسرینو کرامو[۲] ښه په تفصیل سره لیکلې ده، او ځینو مفسرینو کرامو په همدې هکله زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي[۳]. خو مونږ دلته د دغې صلحې د ځینو ټکو په ذکر باندې (د مقدمې په شکل) اکتفاء کوو البته کوم ټکي چې د سورت د مطالبو سره ډېر کلک تړاو لري او په پوهېدلو باندې د لوستونکو سره لاس کوي هغه دا:

۱ـ قتاده ﷺ وایي چې: نبي کریم ﷺ خوب ولید چې مکې معظمې ته د صحابه کرامو ﷺ سره داخل شي او هلته د بیت الله شریف څخه طواف وکړي[۴]. نو دغه خوب یې صحابه وو کرامو ﷺ ته حکایت کړ.

۲ـ څرنګه چې د پیغمبر خوب د وحې معنی ورکوي نو داسې وګڼلی شو لکه چې نبي کریم ﷺ ته امر کړی شوی وي چې تاسو لاړ شئ او د بیت الله څخه طواف وکړئ (عمره اداء کړئ).

۳ـ نو د همدې کبله نبي کریم ﷺ په څرګنده توګه اعلان وکړ چې زه د عمرې کولو اراده لرم او هرڅوک چې زما ملګرتیا کوي هغه دې مکې معظمې ته د سفر کولو تیاری ونیسي.

۴ـ دغه خوب او دغه اعلان د ذو القعدې په میاشت کښې صورت ونیوه، دغه میاشت د هغو څلورو میاشتو څخه ده په کومو کښې چې په ټول عربستان کښې جنګ حرام ګڼلی کېده، چې چا پکښې د پلار په قاتل باندې هم تعرض نه کاوه.

۵ـ څرنګه چې د دغه وخت څخه وړاندې د بدر، أحد او خندق غزا ګانې رامنځته شوې وې چې دواړو لورو ته پکښې درانده تلفات رسېدلي وه او د مؤمنانو او کفارو دښمني اوج ته رسېدلې وه او یو تربله یې سره هډونه مات شوي وه، نو په دغسې حال کښې مکې معظمې ته سفر کول او د کلک دښمن کور ته ورداخلېدل څه اسان کار نه وه او دا پوښتنې راولاړېدې چې: ایا قریش به د محترمې میاشتې احترام وساتي او مؤمنان به د عمرې عبادت کولو ته پرېږدي؟ ایا د څرمې به یې ونه وژني؟

۶ـ د همدې کبله د ذکر شوي اعلان په اورېدلو سره خلک په دوه وو ډلو تقسیم شوه:

اول: کومو کسانو چې قوي ایمان درلود او خالص مؤمنان وه هغوی وویلې چې دا کار یقیني کېدونکی دی او قریش نه شي کولی چې د عمره کوونکو په وړاندې خنډ واقع شي او یا یې د څرمې قتل کړي، نو ځکه یې دغه سفر ته په تیارۍ نیولو پیل وکړ، چې تقریبًا یو زرو پنځه سوه (۱۵۰۰) کسه د عمرې سفر ته چمتو شوه.

دوهم: بالمقابل منافقانو خیال کاوه چې قریش به عمره کوونکي د څرمې قتل کړي او هیڅوک

---

(۱) سیرت ابن هشام ج۳ ص۳۵۵

(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۳؛ تفسیر المظهري ج۹ ص۶

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۹۴

(۴) الدر المنثور ج۷ ص۵۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به ترې بېرته مديني منورې ته راستون نه شي، نو د همدې کبله دغه ډله د خپله کوره ونه بښورېده چې مونږ هلته په تللو باندې خپل ځانونه نه وژنو.

۷_ نو مخلصو مؤمنانو د عمرو احرامونه وتړل او بيت الله شريف ته تلبيه ويونکي روان شوه او همدارنګه يې د خپلو ځانونو سره د شکرګزارۍ څاروي هم سوق کړه.

۸_ کله چې دغه مخلص ټولګی مکې معظمې ته نژدې د حديبيه نومي ځای ته ورسېد او د قريشو په تصميم باندې خبر شو چې مخه يې ورته بنده کړې ده او د محترمې مياشتې (ذو القعدې) احترام يې تر پښو لاندې کړی دی، نو په دغه مقام کښې نبي کريم ﷺ او صحابه کرام ﷺ د سلا مشورې دپاره تم شوه چې اوس بايد مونږ څه وکړو؟ ايا د مخه نيوونکو سره وجنګېږو او که د خبرو لاره غوره کړو؟.

۹_ په نتيجه کښې نبي کريم ﷺ قريشو ته عثمان ﷺ ورولېږه ترڅو هغوی پوه کړي چې مونږ جنګ ته نه ياستو راغلي[1]، مونږ احرامونه تړلي دي او غواړو چې په دغې محترمه مياشت کښې د عمرې عبادت اداء کړو، زمونږ مخه مه نيسئ.

۱۰_ بيا يوه دروغ خبره خوره شوه چې عثمان ﷺ د قريشو د پلوه وژل شوی دی، د دغې خبرې په اورېدلو سره مؤمنانو ته د جنګ څخه پرته بله لاره پاتې نه شوه، نو د همدې کبله نبي کريم ﷺ د يوې ونې لاندې د صحابه وو کرامو ﷺ څخه د وسلوال جهاد بيعت واخست چې ټولو ورته په ډېر اخلاص سره خپل چمتوالی وښود.

۱۱_ د بيعت اخستلو څخه وروسته معلومه شوه چې د عثمان ﷺ د قتل خبره دروغ وه او حقيقت يې نه درلود، نو ځکه نبي کريم ﷺ د خبرو اترو لړۍ ته ادامه ورکړه، آن تردې چې د قريشو سره په لاندې ټکو فيصله وشوه او صلحه منعقده شوه[2]:

اول: لس کاله به دواړه لوري جنګ ته لاس نه غزوي او نه به د دواړو لورو حليفان دغه کار ته اقدام کوي.

دوهم: صحابه کرام ﷺ به سږ کال د همدغه ځايه بېرته مديني منورې ته ستنېږي او په راتلونکي کال کښې به د دغې عمرې قضايي راوړي.

او بالآخره د قضايي عمرې د اداء کولو په وخت کښې به فقط درې ورځې په مکه معظمه کښې تم کېدلی شي او بس، د اضافه وخت تېرولو حق به نه لري.

دريم: نبي کريم ﷺ به د قريشو د خوا څخه تښتېدلي کسان بېرته هغوی ته سپاري خو بالمقابل که د صحابه وو کرامو ﷺ د ډلې څخه څوک قريشو ته وروتښتي نو هغه به بېرته نه سپارل کېږي او نه به يې څوک د مطالبې حق لري.

۱۲_ په پورتنيو درېواړو شرطونو کښې وروستني دواړه شرطونه په صحابه وو ﷺ باندې ډېر

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۱

(۲) سيرت ابن هشام ج۳ ص۳٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درانه تمام شوه، حتی عمر بن الخطاب ﷺ د نبي کریم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

عمر ﷺ: ای د الله رسوله! ایا تا نه وه ویلي چې مونږ به بیت الله ته لاړ شو او هلته به طواف وکړو؟

نبي کریم ﷺ: ایا ما ویلي وه چې همدا سږ کال به ته مکې معظمې ته لاړ شې؟

عمر ﷺ: نه، سږ کال خو دې نه وه ټاکلی.

نبي کریم ﷺ: «فَإِنَّكَ آتِيهِ وَمُتَطَوِّفٌ بِهِ»(۱) یعنې زه تاته اوس هم وایم چې یقیناً ته به بیت الله ته لاړ شې او هلته به ترې طواف کوونکی وګرځې.

عمر ﷺ: ای د الله رسوله! ایا مونږ په حقه نه یاستو او هغوی په باطله نه دي؟ نو مونږ دغه حقارت څنګه وزغمو چې د بندیانو تسلیمي به یو جانبه وي؟.

نبي کریم ﷺ: «يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِنِّي رَسُولُ اللهِ وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللهُ أَبَدًا»(۲) یعنې ای د خطاب زویه! یقیناً زه د الله ﷻ پیغمبر یم او هیڅکله به الله ﷻ ما ضائع نه کړي (چې په تاواني لاره مې سوق کړي).

نو الله ﷻ دغه سورت (الفتح) نازل کړ او د نبي کریم ﷺ خبره یې تاییده کړه.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَيَنصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] یقیناً مونږ تاته ښکاره فتحه درکړه.

[۲] د دې دپاره چې الله ﷻ تاته هغه شی وبښي کوم چې ستا د ګناه (خلاف الأولی) څخه وړاندې تېر شوي دي او هغه چې وروسته دي، او (د دې دپاره چې) الله ﷻ خپل نعمت په تاباندې پوره کړي (او دین درته کامل وګرځوي) او (هم د دې دپاره چې) الله ﷻ تاته سمه (سیده) لاره وښيي (او په همدې باندې دې سوق کړي).

[۳] او (هم د دې دپاره چې) الله ﷻ ستا سره نصرت (مدد) وکړي ډېر کلک (او قوي) نصرت.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (مُحَمَّد) په وروستنیو ایتونو کښې د ایمان او تقوی او هم د جهاد څخه تخلف کوونکي تهدید شوي وه، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته د فتحې زیرې ورکړی شوی دی او د بله پلوه پکښې د اشارې په توګه مؤمنان جهاد ته هڅولی شوي دي، چې حاصل به داسې راځېږي:

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۹۹

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د ډېر مهربان الله ﷻ په نامه د ډېر لوی بریالیتوب او فتحې بشارت واوره او قبول یې کړه، هغه دا چې:

۱ـ یقیناً مونږ تاته ډېره څرګنده فتحه درکړه چې د خپلو هغو کلکو غلیمانو سره مو د صلحې کولو توفیق دروبابنه کوم چې د څو کالو څخه راپه دېخوا ستا سره په جنګ اخته وه او د مخامخ خبرو امکان مو بالکل د منځه تللی وه، بلکې ستاسو سره خبرو ته کېناستل د هغوی په نزد شرم او عار بریښېد.

۲ـ دغه لویه فتحه مو د دې دپاره درکړه ترڅو الله ﷻ تا د څه خاصو فضائلو خاوند وګرځوي هغه دا:

الف: د همدغې فتحې او روغې جوړې په نتیجه کښې به خلک په ټولنیزه توګه په ایمان مشرف شي او ډلې-ډلې به د الله ﷻ په دین کښې داخل شي. نو په دغه وخت کښې به ته مغفرت وغواړې او د الله ﷻ د پلوه به درته وړاندې او بېرته ګناهونه (خلاف الأولی کارونه) وبښلی شي.

ب: د الله ﷻ دین به کمال ته ورسېږي او په دنیا کښې به په تاباندې د ده ﷻ نعمتونه بشپړ او تمام کړی شي، البته چې د نعمتونو کمال به په اخرت کښې صورت ونیسي.

ج: ترڅو الله ﷻ تاته په درپېښېدونکې مشکله مسئله کښې د سمې لارې ښودانه وکړي لکه چې ستا سره یې په ټولو مشکلاتو کښې همدغه چال چلند کړی دی او په آینده کښې لا ادامه ورکوي.

د: بالآخره ترڅو الله ﷻ داسې کلک او قوي نصرت درپېرزو کړي چې ستا ټول دښمنان به درته په ګونډو کړي او په دائمې توګه به یې ستا سره د مقاومت توان د لاسه وباسي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾ کښې څرګنده فتحه د کومې فتحې څخه عبارت ده چې نبي کریم ﷺ ته یې بشارت ورکړی شوی وه؟

مونږ وایو چې: د دغې فتحې په تعین کښې علماء کرامو متعدد اقوال کړي دي[1]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې وایي چې دلته د مکې معظمې فتحه مطلب ده چې د هجرت په اتم (۸) کال پېښه شوه، او د دې کبله چې تحقق یې یقیني وه نو په ماضي ﴿ فَتَحْنَا ﴾ سره ترې تعبیر کړی شوی دی.

ب: ځینې نور وایي چې: دلته د خیبر فتحه مراده ده چې په راتلونکي [الفتح:۱۵] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: د جمهور علماوو کرامو په نزد دلته د حدیبیې صلحه د "فَتح" په نامه نومولې شوې ده.

## تبصره

۲ـ که څه هم جائزه ده چې د "ما یطلق علیه الفتح" (هر هغه شی چې د الفتح اطلاق پرې کېږي)

---

[1] روح المعاني ج۲۶ ص۸۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۶۱؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۴۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په لحاظ ایت شریف ذکرو شوو درېواړو فتحو ته شامل وګڼلی شي، مګر ظاهره دا ده چې دلته همدغه صلحه مطلب ده او د فتحې لقب ورکړی شوی دی. او دا څکه چې:

الف: البراء بن عازب ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: «تَعُدُّونَ أَنْتُمُ الْفَتْحَ فَتْحَ مَكَّةَ وَقَدْ كَانَ فَتْحُ مَكَّةَ فَتْحًا وَنَحْنُ نَعُدُّ الْفَتْحَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ»[1] یعنې تاسو (په ایت شریف کښې ذکره شوې) فتحه د مکې معظمې فتحه شمېرئ (ربنتیا چې) د مکې فتحه فتحه وه، حال دا چې مونږ (صحابه کرام ﷺ) ډېره لويه فتحه "بَيْعَةَ الرِّضْوَان" ګڼو، کومه چې د حدیبیې په ورځ رامنځته شوه (چې په راتلونکي [۱۸] ایت کښې یې بیان راروان دی).

ب: أنس ﷺ هم په ایت شریف کښې د "فتح" کلمه په همدغې صلحې سره تفسیره کړې ده[2].

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د صلحې څخه په ﴿ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی؟

مونږ وایو چې: د "فتح" کلمه اصلاً دې ته وضعه شوې ده چې مشکلات د منځه لاړ شي او د بندو منافعو دروازه بېرته شي[3]، برابره خبره ده چې دغه کارونه په جنګ سره صورت ونیسي او که بدون د جنګه. پوره واضحه ده چې په دغې صلحې سره هغه مطالب ترلاسه شوه د کومو د تحصیل دپاره چې نبي کریم ﷺ را استولی شوی وه، همدغه مطالب د لاندې جملو څخه د سړي ذهن ته ورځي:

الف: ﴿ لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ یعنې ای پیغمبره! د دغې صلحې په نتیجه کښې به ته وګورې چې خلک به ډلې-ډلې د الله ﷻ په دین کښې داخلېږي، او په دغه وخت کښې به تاته توصیه وکړی شي چې: ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَٱسْتَغْفِرْهُ ﴾ [النصر:۳] یعنې تا خپله دنده په ډېره ښه توګه انجام کړه او مطلب ته ورسېدې نو د دې څخه وروسته د آخرت سفر ته تیاری ونیسه او زیاته توجه ورواړوه، هغه دا چې د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبیحات ملګري کړه او مغفرت ترې غواړه. نو ستا د دغه استغفار په اړوند به تاته الله ﷻ وحې وکړي چې تاته یې وړاندېني او وروستني ګناهونه (خلاف الأولی کارونه) ټول ښنلي دي.

لنډه دا چې ذکره شوې جمله په حقیقت کښې د ټولو ګناهونو (خلاف الأولی کارونو) څخه کنایه ده او د نبي کریم ﷺ تشریف او تکریم پکښې نغښتی دی. لکه چې یو ځل ورته چا پوښتنه راجع کړه چې د دومره زیات عبادت وجه څه ده، چې د قیام د اوږدوالي د کبله دې مبارکې پښې وپړسېدې، حال دا چې تاته الله ﷻ ټول ګناهونه ښنلي دي؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا»[4]

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۹۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۶
(۳) مفردات الراغب ص۳۸۳
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې نو ایا زه د الله ﷻ شکرګزار بنده نه شم؟.

ب: ﴿ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ ﴾ یعنې د همدغې صلحې په نتیجه کښې به دین کمال ته ورسېږي او په تاباندې به الله ﷻ خپل نعمت پوره کړي.

په همدغه مطلب باندې الله ﷻ د "حجة الوداع" په ورځ صراحت وکړ چې: ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى ﴾ [المائدة:۳] یعنې نن ورځ ما تاسو ته خپل دین کامل وګرځاوه او خپل نعمت مې درباندې په دنیا کښې تمام کړ.

ج: ﴿ وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ یعنې د همدغې صلحې په ذریعه به الله ﷻ تاته هغه برابره لاره دروښیي په کومې سره چې ته پرته د جنګه خپل مطلب ته ورسېږې.

لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې (د صلحې په اړه) وفرمایل چې: «يَا ابْنَ الْخَطَّابِ! إِنِّي رَسُولُ اللهِ وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللهُ أَبَدًا»[۱] یعنې ای ابن الخطابه! یقینًا زه د الله ﷻ پیغمبر یم او ابداً به ما هیڅکله الله ﷻ ضائع نه کړي (چې په کومه لاره مې سوق کړي او په سمه لاره مې روان نه کړي).

د: ﴿ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴾ یعنې الله ﷻ به دغه صلحه د دې سبب وګرځوي چې په ټوله عربي جزیره کښې به ستا د مقابلې توان په چا کښې پاتې نه شي او د داسې نصرت خاوند به دې جوړ کړي چې د کفر او شرک جرړې به وباسي.

دغه نصرت ته د حجة الوداع په ورځ نبي کریم ﷺ اشاره وکړه چې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ»[۲] یعنې یقینًا شیطان د دې څخه نااُمیده شوی دی چې لمونځ کوونکي (مؤمنان) به یې په عربي جزیره کښې عبادت وکړي (او بېرته به یې مرتدان وګرځوي) مګر نوموړی به دې کښې زیار باسي چې مؤمنان په خپلو منځو کښې په جنګ واچوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: څه وجه ده چې دغه صلحه د ذکرو شوو ګټو مصدر جوړه شوه؟

مونږ وایو چې: په دغې صلحې سره د ډېر داسې کارونه وشوه چې د اسلام په ګټه تمام شوه لکه:

الف: په غیر مستقیمه توګه قریشو دا اعتراف وکړ چې مؤمنان یو قوي طاقت دی، دوی اوس د پخوا په څېر کمزوري نه دي چې شپې کاله وړاندې مو هجرت کولو ته مجبور کړي وه. د قریشو په اعتراف سره هغه ټول خلک په ایمان مشرف شوه کومو چې د مؤمنانو بنیاد وتلو ته سترګې نیولې وې چې په نن سبا کښې به یې تغر ټول شي.

ب: د صلحې څخه وروسته د مؤمنانو او کفارو ترمنځ ناسته ولاړه پیدا شوه او هغه کفار هم په ایمان مشرف شوه کوم چې د اسلام په مزایاوو باندې خبر نه وه او یا خپلو مشرانو موقع نه ورکوله چې خپل خانونه پرې خبر کړي. د مثال په توګه: په دغې صلحې کښې د مؤمنانو تعداد ایله یو زر

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۶
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۶؛ مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځه سوو (۱۵۰۰) کسانو ته رسېده، خو درې کاله وروسته نبي کريم ﷺ د مکې د فتحې په موقع لس زره (۱۰۰۰۰) ملګري درلوده.

ج: کومو کسانو چې ايمان راوړی وه او د قريشو د ډاره يې په مکه معظمه کښې اسلامي شعاير په ښکاره توګه نه شو اجراء کولی د هغوی مخه خلاصه شوه چې په ليدلو سره يې د خلکو په اذهانو کښې د اسلام څخه د نفرت روحيه کمزورې شوه.

د: مؤمنان د قريشو د خطر څخه بې غمه شوه او د جهاد مخه يې يهودي مناطقو ته واړوله، د همدې کبله د دغې صلحې څخه لږ وخت وروسته خيبر فتحه شو.

هـ: بالآخره، عمرې ته د سفر کولو په ذريعه او بيا په حديبيه مقام کښې د صلحې په ذريعه د منافقانو څخه پرده پورته شوه او منافقت يې ښه ښکاره شو، چې وروسته يې د پخوا په څېر د لستوڼي د مارانو غوندې تخريب نه شو کولی.

﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا۟ إِيمَـٰنًا مَّعَ إِيمَـٰنِهِمْ ۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٤﴾ لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٥﴾ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ وَٱلْمُشْرِكَـٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ۚ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٦﴾ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٧﴾ ﴾

[۴] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د مؤمنانو په زړونو کښې يې ډاډينه د دې دپاره نازله (پيدا) کړه ترڅو دوی د خپل ايمان سره‌سره (نور هم) د ايمان د حيثه زيات شي (او ايمان يې ښه قوي وګرځي). او (دا ځکه چې) د اسمانونو او ځمکو لښکرې خاص الله ﷻ لره دي (يوازې الله ﷻ يې مالک دی او بس)، او الله ﷻ د علم څښتن (او) د حکمت خاوند دی.

[۵] (البته) د دې دپاره (الله ﷻ د صلحې جريان ته صورت ورکړ) ترڅو مؤمنان او مؤمنانې داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې ترې (ځلور ډوله) ويالې بهېږي حال دا چې دوی به پکښې همېشه (اوسېدونکي) وي، او (هم د دې دپاره چې) الله ﷻ د دوی (نارينه وو او زنانه وو) څخه ګناهونه ورژوي (او ورته يې عفوه کړي)، او دغه (نعمتونه) د الله ﷻ په نزد ډېره لويه کاميابي ده.

[۶] او (د دې دپاره هم) ترڅو الله ﷻ منافقان او منافقانې او هم مشرکان او مشرکانې معذب کړي (چې دوی ټول) په الله ﷻ باندې ګومان کوونکي دي بدګومان کول (چې مؤمنانو ته به کاميابي ورنه کړي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) د بدۍ (او عدم نصرت) کړۍ په همدوی باندې راچاپېره شوې ده (الله ﷻ به همدوی د ذلت سره مخامخ کړي)، او الله ﷻ ورباندې غضب (نازل) کړی دی او د خپل رحمت څخه يې لرې کړي دي او هم يې ورته دوزخ تيار کړی دی، او دوزخ د ورتګ د ځای د حيثه ډېر بد ځای دی.

[۷] او (څکه به الله ﷻ منافقان او مشرکان معذب کړي او ملعونان به يې وګرځوي چې) د اسمانونو او ځمکو لښکرې خاص الله ﷻ لره دي (ملکيت يې الله ﷻ پورې اختصاص لري).

او (همدارنګه) الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د پوره حکمت څښتن دی (چې هر څه يې په اختيار کښې دي او هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د صلحې په اثراتو باندې څه نوره رڼا هم اچولې شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د ذکرې شوې فتحې (صلحې) څه نور اثرات هم قرائت کړه:

۱_ د صلحې ځينې شرطونه او د عمرې عدم انجام ستا په ملګرو (صحابه وو کرامو ﷺ) باندې ډېر دروند تمام شو حتی نژدې وه چې په زړونو کښې ورته اضطراب او تزلزل واچوي، خو الله ﷻ هغه اقدس مهربان ذات دی چې ستا سره يې نصرت وکړ او ستا ملګري يې تفرق او خوړېدلو ته پرېنښودل بلکې په زړونو کښې يې ورته اطمنان او ډاډينه واچوله او د اضطراب او تزلزل مخه يې ترې واړوله.

۲_ البته الله ﷻ دا کار د دې دپاره وکړ ترڅو ستا ملګري په پخواني ايمان باندې د پاسه نور هم د ايمان د حيثه قوي او زيات شي او د ډېرو لويو اجرونو او ثوابونو خاوندان جوړ شي.

۳_ الله ﷻ کولی شوه چې همدا سږ کال يې تاسو بيت الله ته رسولي وی او په مشرکانو باندې يې غلبه درکړې وی، او يا يې د خپلو غيبو لښکرو په ذريعه ستاسو نصرت کړی وی او د کفارو بنياد يې ويستلی وی، چې د اسمانونو او ځمکو لښکرې د همده ﷻ په ملکيت کښې دي او په هر چا يې مسلطې ګرځولی شي چې اراده يې ورته وشي؛ خو د دې سره‌سره الله ﷻ د لاندې صفاتو درلودونکی هم دی:

الف: د کامل علم خاوند دی، او پوهېده چې بالفعل نصرت ستاسو په زياته ګټه نه تمامېده، چې د امتحان لمن به ټوله شوې وی او تاسو به د کاميابۍ د منافعو څخه بې برخې شوي وی.

ب: الله ﷻ د حکمت څښتن هم دی، چې کفارو ته يې فرصت او مهلت ورکړ ترڅو په خپل اختيار سره په ايمان مشرف شي او ستاسو ربښتياني ملګري جوړ شي.

۴_ ای پيغمبره! الله ﷻ د دې دپاره دغه صورت حال ته موجوديت ورکړ ترڅو:

الف: ټول مؤمنان (نارينه وي او که زنانه) داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې ترې ځلور ډوله ويالې بهېږي، او ترڅو يې ورته ګناهونه محوه کړي او درجات يې ورته لوړ وګرځوي.

ب: ترڅو منافقان او مشرکان (نارينه وي او که زنانه) معذب کړي، او دا ځکه چې دوی ټول په الله ﷻ باندې بدګومان کوونکي دي چې د مؤمنانو سره به الله ﷻ هيڅ نصرت ونه کړي او د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشرکانو د لاسه به تول ووژلی شي.

۵_ دغو بدګومان کوونکو ته د الله ﷻ د پلوه دغه سزاوې ټاکلې شوې دي:

الف: د بدۍ خط د همدوی څخه راچاپېر شوی دی او د مصیبت دائرې پرې احاطه کړې ده.

ب: په همدوی باندې د الله ﷻ غضب دی چې روزمره وربانديې ورېږي.

ج: الله ﷻ همدوی د خپل رحمت څخه لرې کړي دي او همدغه د لرې کولو سلسله لا روانه ده.

د: بالآخره، الله ﷻ ورته په آخرت کښې دوزخ تیار کړی دی چې د بېرته ورتاوېدلو د حیثه ډېر بد ځای دی او په رنګارنګ عذابونو باندې ډک دی.

۶_ الله ﷻ ته د منافقانو او مشرکانو هلاک (د منځه وړل) څه ستونزمن کار نه دی او دا ځکه چې د ځمکو او اسمانونو ټولې لښکرې د همده ﷻ ملکیت دی او د همده ﷻ اطاعت کوونکي دي او په هرڅه یې مسلطولی شي. همدارنګه الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، خو د دې سره-سره د حکمت غښتنتن هم دی چې کفار په جلتۍ سره نه تعذیبوي او نه یې هلاکوي او تر څه وخته پورې یې د ایمان راوړلو فرصت د لاسه نه وباسي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ ﴾ الآية- مضمون ته ورته مضمون په بل ایت کښې هم نازل شوی دی چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ [الأنفال:۶۲] یعنې که چرته کفار (په صلحې سره) وغواړي چې تاته دوکه درکړي نو هیڅ تشویش مه کوه ځکه چې یقیناً الله ﷻ ستا بس دی، الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ته یې په خپل نصرت او په مؤمنانو سره تائید (قوي) کړی یې او هم یې د دوی په زړونو کښې یو تربله ډېر لوی اُلفت او محبت اچولی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د همدغه ایت شریف څخه اشارتاً څرګندېږي چې صحابه کرام ﷺ د صلحې په خینو شرطونو سره د ډېر اضطراب سره مخامخ شوي وه، خو الله ﷻ وربانديې خپل فضل او مرحمت وکړ او سکینه او ډاډینه یې وربانديې نازله کړه. د ښه وضاحت دپاره لاندې روایتونه ولولئ:

الف: عمر بن الخطاب ﷺ په ډېرې وارخطایۍ سره نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: ای د الله رسوله! ایا دا فتحه ده (چې مونږ د مشرکانو سره په معلومو شرطونو سره صلحه وکړه)؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ»[۱] یعنې هو، (همدغه صلحه فتحه ده چې په راتلونکي کښې به وربانديې پوه شي)

ب: د صلحې کولو څخه وروسته نبي کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: «قُومُوا فَانْحَرُوا ثُمَّ احْلِقُوا»[۲] یعنې پورته شئ نو خپلې هدایا نحرې کړئ بیا سرونه حلق کړئ (وخریئ). خو هیڅوک هم د ذکر شوې ماموریت د اجراء دپاره پورته نه شو، چې څنګه د همدې ځایه مدینې منورې نه ستانه شو حال دا چې د عمرې عبادت به مو نه وي انجام کړی؟

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۶- مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۳۰

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا نبي کریم ﷺ د أُم سلمی (أم المؤمنین) رضي الله عنها په مشوره د خپل قول سره عمل ملګرې کړ او د صحابه وو ﷺ د نظر لاندې یې خپله اوښه نحره کړه او خپل سر یې حلق کړ (د احرام څخه یې خپل ځان خلاص کړ). نو د دغه کار په لیدلو سره هغوی هم پورته شوه او ذکر شوې ماموریت یې اجراء کړ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ ﴾ کښې د "ل" توری څه شي پورې تعلق نیسي؟

مونږ وایو چې: د دغه توري د تعلق په هکله مفسرینو کرامو زښت ډېر احتمالات لیکلي دي[1]، کوم احتمال چې بهتر برېښي او د څه تاویلاتو په بنیاد په ټولو احتمالاتو اشتمال موندلی شي هغه دا دی چې: ذکر شوی د "ل" توری په یوې مقدرې جملې پورې تعلق نیسي چې مونږ ترې په "فَعَلَ اللهُ مَا فَعَلَ" سره تعبیر کولی شو، چې لږ څه تفصیل یې په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي:

الف: الله ﷻ د عمرې سفر نبي کریم ﷺ ته په خوب کښې وروليد کړ خو صحابه وو کرامو ﷺ ورباندې په قطعي توګه باور وکړ او په خپلو اذهانو کښې یې شک او تردد ته ځای ورنه کړ.

ب: د صحابه وو کرامو ﷺ خیال وه چې همدا سږ کال به عمره اداء کړو، خو کله یې چې د اداء کولو کال راتلونکی کال وټاکل شو نو بیا هم ورته په پوره اخلاص قانع شوه او څه شک یې پکښې ونه کړ.

ج: د صلحې په شرطونو کښې ځینې شرطونه په صحابه وو کرامو ﷺ باندې ډېر درانه تمام شوه خو د ایمان په قوت سره ورته هر یوه غاړه کېښودله او په اخلاص سره یې قبول کړه.

د: صحابه وو کرامو ﷺ د جنګ څه تیاری نه درلود او تعداد یې هم د مشرکانو په پرتله ډېر لږ وه خو په پوره متانت سره یې بیعت ته اقدام وکړ او د الله ﷻ په لاره کښې د خپلو سرونو څخه تېر شوه.

نو د پاسنیو وجوهو د کبله الله ﷻ جنت ته داخل کړه او د ګناهونو د مغفرت او عفوې وعده یې ورکړه. اما کفارو په ذکرو شوو څلورو وارو حالاتو کښې د صحابه وو کرامو ﷺ په مقابل لور کښې قرار ونیو، چې د نبي کریم ﷺ د خوب په وحې باندې یې باور ونه کړ، د عمرې د کال په تاخیر او بدلون یې اعتراض وکړ، د صلحې شرطونه یې د مؤمنانو تحقیر ګڼانه او د مشرکانو سره یې جنګ کولو ته د حماقت او ځان وژنې لقب ورکړ؛ نو ځکه الله ﷻ د دوزخ مستحق وګرځول او خپل غضب او لعنت یې ورباندې ورنازل کړ.

## پوښتنې او جوابونه

۳_ په دې مقام کښې لاندې پوښتنې هم جوابونه غواړي:

الف: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ دلته په زنانه وو ﴿ ٱلْمُؤْمِنَـٰتِ ﴾، ﴿ ٱلْمُنَـٰفِقَـٰتِ ﴾، ﴿ ٱلْمُشْرِكَـٰتِ ﴾ سره صراحت وکړ، حال دا چې په دغه صورت حال کښې د دوارو

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۷ ص۴۸۱؛ البحر المحيط ج۹ ص۴۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جانبو څخه د نارینه وو مطلق اکثریت وه؟

مونږ وایو چې: دلته د زنانه وو په ذکر باندې څکه صراحت شوی دی ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د دواړو جانبو زنانه وو د خپلو نارینه وو خاصیتونه خپل کړي وه. یا په بل عبارت: مؤمنانو زنانه وو عقیده درلوده چې نارینه یې په حقه لاره روان دي او د همدغې لارې د خپلولو دپاره یې هڅوی هخول، بالمقابل کافرو او منافقو زنانه وو خپل نارینه په حقه ګڼل او ترغیب یې ورکاوه چې په خپلې تګلارې باندې کلک اوسېږئ.

ب: که څوک وایي چې: په ﴿ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ﴾ کښې کومو بدو ګومانونو ته اشاره شوې ده چې منافقانو او مشرکانو خپل کړي وه؟

مونږ وایو چې: د منافقانو د بدو ګومانونو څخه په یوه مثال باندې په راتلونکي [الفتح: ۱۱] ایت کښې صراحت شوی دی، چې هیڅکله به نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ؓ د دغه سفر څخه بېرته ژوندي راستانه نه شي. او د مشرکانو د بدوګومانونو یوه مثال ته په [الحج: ۱۵] ایت کښې اشاره شوې ده چې الله ﷻ به هیڅکله د خپل پیغمبر سره نصرت ونه کړي (او زمونږ په لاس به یې بنیاد وخېژي).

څه لرې نه ده چې د مشرکانو یو ګومان به دا هم وه چې مؤمنان د عمرې په بهانه غواړي چې مکه معظمه اشغال کړي.

ج: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ذکره شوې مجموعه کښې په لږ تغیر سره د ﴿ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ الآیة- تکراراً نازل کړی شوی دی؟

مونږ وایو چې: په اولني ایت کښې د مخکښې ایت مضمون (د مخلوقاتو تدبیر د الله ﷻ په اختیار کښې دی) تائید شوی دی، د همدې کبله د ﴿ حَكِيمًا ﴾ د کلمې سره د ﴿ عَلِيمًا ﴾ کلمې نزول موندلی دی. او په دوهم ایت کښې هم وړاندېنی مضمون تائید شوی دی چې د منافقانو او مشرکانو د تهدید څخه عبارت دی، نو د همدې کبله د ﴿ حَكِيمًا ﴾ د کلمې سره د ﴿ عَزِيزًا ﴾ کلمه نازله شوې ده چې تهدید سره ښه تناسب لري، نو په دواړو ایتونو کښې تکرار نشته[۱].

﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ۝٨ لِّتُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ۝١٠ ﴾

[۸] (ای پیغمبره!) یقیناً مونږ ته د شهادت ورکوونکي په حیث او د زېري ورکوونکي په حیث او

(۱) روح المعاني ج۲٦ ص۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(هم) د ډاروونکي په حيث (خلکو ته) استولی يې.

[۹] (البته) د دې دپاره چې تاسو ټول د الله ﷻ په توحيد او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ په نبوت سره خپل ايمان ته ادامه ورکړئ، او (همدارنگه) د الله ﷻ (د دين) سره کومک وکړئ او د ده ﷻ (په عقيدې او عمل سره) تعظيم وکړئ او د الله ﷻ تسبيحاتو ته سبا او بيگا ادامه ورکړئ (لمونخونه ورته ودروئ).

[۱۰] يقيناً کوم کسان چې ستا سره (په بيعة الرضوان کښې) بيعت کوي بې شکه هغوی د الله ﷻ سره بيعت کوي (چې ستا اطاعت د همده ﷻ اطاعت دی، نو د بيعت په حال کښې) د الله ﷻ بلا کيفه لاس د دوی د لاسونو د پاسه دی.

نو هرڅوک چې خپل بيعت (او عهد) مات کړي نو هغه (په حقيقت کښې) د خپل ځان (په ضرر) باندې بيعت مات کړ، او کوم کس چې په هغه شي وفاء وکړي په کوم باندې يې چې د الله ﷻ (او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ) سره عهد (او بيعت) کړی وي نو ډېر ژر به الله ﷻ ورته لوی اجر (او ثواب) ورکړي.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې ـ د صلحې د نتائجو د بيان څخه وروسته ـ بيا نبي کريم ﷺ مخاطب گرځولی شوی دی او څه نورو بشارتونو ته پکښې اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! څه نور بشارتونه هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ يقيناً مونږ ته په داسې حال کښې دنيا ته استولی يې چې د لاندې صفاتو درلودونکی يې:

الف: ته به د قيامت په ورځ د شاهد په حيث د خپل اُمت تزکيه کوې البته کله چې ستا اُمت د نورو پيغمبرانو په اُمتونو باندې شهادت اداء کړي چې هر اُمت ته خپل خپل پيغمبر د الله ﷻ احکام ابلاغ کړي دي.

ب: ته مؤمنانو ته زيری ورکوونکی يې چې د توحيدي عقيدې په خپلولو سره به ترې الله ﷻ راضي شي او جنتونو ته به يې داخل کړي.

ج: ته کفارو ته د الله ﷻ د عذابه ډاروونکی يې او بس، نو د خلکو ايمان راوړل ستا مکلفيت نه دی چې په زور به يې ته په ايمان مشرف گرځوې.

۲ـ ای پيغمبره! ستا په شمول ټول مؤمنان په لاندې کارونو باندې مکلفيت لري:

الف: چې تاسو ټول د الله ﷻ په وحدانيت او د پيغمبر په رسالت خپلې عقيدې ته ادامه ورکړئ.

ب: چې تاسو ټول د الله ﷻ د دين نصرت وکړئ او په ډېر اخلاص سره ورته دعوت وچلوئ.

ج: چې د الله ﷻ تعظيم او توقير وکړئ (ارشاداتو ته يې غاړې کېږدئ او د عذابه يې ووډار شئ).

د: چې سبا او بيگا يې د حمد او ثناء سره تسبيحات ووایاست او خپل دغه ذکر ته ټول عمر ادامه ورکړئ او هم په لمونځونو سره يې ژوندي وساتئ.

۳ـ ای پيغمبره! يقيناً کوم کسان چې د ايمان راوړلو څخه وروسته تاسره په جهادي کارونو کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیعت کوي او خپل بیعت د خپلو لاسونو په درکولو سره څرګندوي، هغوی په حقیقت کښې د الله ﷻ سره بیعت کوي او دا ځکه چې ته د الله ﷻ پیغمبر یې او ستا اطاعت د همده ﷻ اطاعت دی. یا په بل عبارت: د بیعت په وخت کښې د الله ﷻ بلا کیفه لاس د همدوی د لاسونو د پاسه دی او د همده ﷻ سره یې بیعت صورت نیولی دی.

۴ـ نو په همدې بنیاد هرڅوک چې ستا بیعت مات کړي او په خپل عهد باندې ونه دریږي نو هغه فقط خپل ځان ته ضرر ورساوه، د بیعت ماتولو ضرر یوازې همده ته راجع دی چې د لوی عذاب سره به مخامخ شي. بالمقابل هرڅوک چې په هغه شي باندې وفا وکړي او کلک پرې ودریږي په کوم باندې یې چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ سره عهد کړی وي نو ډېر ژر به هغه ته الله ﷻ ډېر لوی اجر ورکړي او په جنتونو کښې به یې داخل کړي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د نبي کریم ﷺ د القابو څخه یو لقب د "شَاهِد" کلمه ده (چې د "شَهِید" د کلمې سره مرادفه ده) او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۴۳] ایت لاندې شرحه کړې ده.

ب: په ﴿ لِّتُؤْمِنُواْ ﴾ کښې په مستتر ضمیر سره د تغلیب په توګه د نبي کریم ﷺ په شمول ټول مؤمنان مخاطب ګرځولې شوي دي چې خپلې توحیدي عقیدې ته ادامه ورکړي، او نبي کریم ﷺ هم مکلف وه چې د یوه پیغمبر په صفت په خپل ځان باندې د نورو مؤمنانو غوندې عقیده ولري.

ج: د ﴿ وَتُعَزِّرُوهُ ﴾ کلمه د "تَعْزِیر" څخه اشتقاقه شوې ده چې د هغه نصرت معنی ورکوي د کوم سره چې تعظیم ملګری وي(۱) خو دلته ترې یوازې نصرت مراد دی چې:

د: دلته ورسره د ﴿ وَتُوَقِّرُوهُ ﴾ کلمه هم نازله شوې ده چې د "تَوْقِیر" ـ لکه "تَکْرِیم" ـ څخه یې اشتقاق موندلی دی او د تعظیم معنی ورکوي(۲).

ه: ځینو مفسرینو کرامو(۳) په ﴿ تُعَزِّرُوهُ ﴾، ﴿ تُوَقِّرُوهُ ﴾ کښې دواړه بارز ضمیرونه نبي کریم ﷺ ته راجع ګڼلي دي خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمیرونه به د الله ﷻ څخه کنایي وي لکه چې په "تُسَبِّحُوهُ" کښې بارز ضمیر په اتفاق سره د همده ﷻ څخه کنایي دی. نو په دې تقدیر د یو پلوه د ایت شریف ضمائر د تفکیک څخه ساتل کېږي او د بله پلوه په اصلي مطلب باندې څه منفي اثر نه غورځېږي.

## بیعة څه ته وایي؟

۲ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ ﴾ کښې د "يُبَايِعُونَ، يُبَايِعُونَ" دواړه کلمې اصلاً

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۵

(۲) لسان العرب ج۵ ص۲۹۱

(۳) تفسیر القرطبي ج۱٦ ص۲٦۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "بَیعَة" ـ لکه "بَیعَة" ـ څخه اشتقاقي شوې دي، "بَیعَة" دېته وایي چې څوک بل چا ته د اطاعت لاس ورو ښوي[1]، او په همدې باندې ورسره کلک عهد وکړي.

د "بَیعَة" په کلمه باندې به په [الفتح:۱۸] ایت کښې ـ ان شاء الله ﷻ ـ څه رڼا واچولی شي خو په دې مقام کښې په همدې اړوند د لاندې معلوماتو په ذکر اکتفاء کوو:

الف: په ذکرو شوو دواړو کلمو کښې "بَیعَةُ الرِّضْوَان" ته اشاره ده، کوم چې د سورت د نزول څخه وړاندې صورت نیولی وه، نو په کار وه چې ذکرې شوې دواړه کلمې د ماضي صیغې نازلې شوې وی، خو په استعمالاتو کښې کله-کله تېر شوی حال حاضر ګڼلی کېږي او په حالي مضارع سره ترې تعبیر صورت نیسي، لکه چې په همدې مطلب باندې د [البقرة:۹۱] ایت لاندې به پوره رڼا اچولې شوې ده، نو شاید چې په دې مقام کښې همدغه ډول استعمال د اجراء لاندې نیولی شوی وي.

ب: د ﴿ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ﴾ جمله د وړاندېنۍ جملې دپاره تاکید واقع شوې ده، چې د هغې جملې مضمون یکښې په بل عبارت سره نازل شوی دی[2].

یعني ای پیغمبره! کومو کسانو چې ستا سره په بیعت الرضوان کښې بیعت او عهد کړی وه چې په جنګ کښې به ستا اطاعت کوي او تر مرګه پورې به دې ملاتړ ته ادامه ورکوي، نو هغوی په حقیقت کښې د الله ﷻ سره بیعت کړی دی، نو که بالفرض هغوی بیعت مات کړي نو د الله ﷻ سره به بیعت او عهد مات کړي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴾ [النساء:۸۰] یعني هرڅوک چې د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي نو بې شکه هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ.

ج: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَـٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ ﴾ کښې د "عَلَيهُ" ضمیرې "هُ" په پېښ سره قرائت کېږي حال دا چې په نورو ځایونو کښې دغه ډول "هٔ" په زبر سره نزول موندلی دی، لکه ﴿ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ ﴾ [سبا:۱۴] یعني نو کله چې مونږ په سلیمان ﷺ باندې د مرګ فیصله وکړه؟

مونږ وایو چې: د "هٔ" ضمیر د "هُوَ" څخه تخفیف شوی دی، نو کله چې ورباندې د "عَلَيٰ" توری داخل شو، نو د "وَ" توری ترې حذف شو او د "هٔ" توری د لاندې وجوهو د کبله دلته مضموم پرېښودلی شو:

اول: ترڅو د ﴿ ٱللَّهَ ﴾ مبارکه کلمه په تفخیم (ډکوالي) سره قرائت کړی شي[3] چې د عهد ماتوونکي دپاره ډېر زیات تهدید افاده کړي، که بالفرض دغه "هٔ" په زیر سره قرائت شوې وی نو بیا به ذکره شوې مبارکه کلمه په ترقیق سره قرائت شوې وی او دغه افاده به فوته شوې وی.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۲۶

(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۳۵

(۳) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: ترڅو د اشارې په توګه ایت شریف دلالت وکړي چې باید عهد او بیعت په خپل اصلیت سره باقي پرېښودل شي لکه څنګه چې ضمیري "ه" په خپل اصلیت سره مضمومه پرېښودلې شوې ده[۱]. همدغې اشارې ته ورته اشاره د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:۸۲] ایت لاندې هم تېره شوې ده چې د ﴿لَمْ تَسْطِع﴾ په عوض "لَمْ تَسْتَطِع" نازل نه کړی شو، ترڅو د اشارې په توګه دلالت وکړي چې د موسی علیه السلام اندېوالي د خضر علیه السلام څخه داسې پرې شوه لکه څنګه چې د "ت" د توري اندېوالي د "اِسْتِفْعَال" د باب سره پرې شوه.

﴿ سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًۢا ۚ بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١١﴾ بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِى قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾ وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿١٣﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾ ﴾

[۱۱] (ای پیغمبره!) ژر به تاته د عمرې د سفر څخه وروسته پاتې شوي کسان د پلمې په توګه ووایي کوم چې د باندچیانو (منافقانو) څخه عبارت دي چې: مونږ خپلو مالونو او خپلو کورنیو مشغول کړي وه (نو ځکه مو ستا سره ملګرتیا ونه شوه کړی)، نو مونږ ته (د الله ﷻ څخه) مغفرت وغواړه (او معذرت مو قبول کړه).

دوی (منافقان) په خپلو ژبو هغه خبرې کوي کومې یې چې په زړونو کښې نشته (بهانې یې درغیني دي. ته ورته په جواب کښې) ووایه چې: نو هغه څوک دي چې ستاسو دپاره د داسې څه شي ملکیت ولري (البته) که چرته الله ﷻ تاسو ته د څه ضرر رسولو اراده وکړي او یا درته د ګټې رسولو اراده وکړي؟ (دغسې نه ده لکه چې تاسو وریاندې قول کوئ) بلکې الله ﷻ په هغو کړو وړو باندې

---

(۱) روح المعاني ج۲٦ ص۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبردار دی کومو ته چې تاسو د عمل جامه وراغوندئ (هغه دا چې:)

[۱۲] بلکې تاسو گومان کاوه چې هیڅکله به پیغمبر ﷺ او مؤمنان خپلو کورونو ته د همېشه دپاره راونه گرځي (هلته به ټول ووژلی شي)، او دغه خبره ستاسو په زړونو کښې ښایسته کړی شوې وه او (همدارنگه) تاسو (په الله ﷻ باندې) گومان کاوه بدگومان (چې د مؤمنانو سره به نصرت ونه کړي)، او تاسو (په معنوي هلاکت سره) هلاکېدونکی قوم وئ.

[۱۳] او هرڅوک چې (په اخلاص سره) په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ ایمان رانه وړي نو مونږ (د دوی په شمول ټولو) کفارو ته گرم اور (دوزخ) تیار کړی دی.

[۱۴] او خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري ده، چې د هغه چا دپاره مغفرت کوي کوم ته یې چې اراده وشي او هغه څوک معذب گرځوي کوم ته یې چې اراده وشي، او الله ﷻ ډېر ښنونکی مهربان دی (د منافقانو څخه د توبې فرصت لا نه دی فوت شوی).

[۱۵] ډېر ژر به (تاته) د عمرې د سفر څخه وروسته پاتې شوي کسان په هغه وخت کښې ووایي کله چې تاسو ډېرو غنیمتونو ته د دې دپاره روان شئ چې (په اسانی سره) یې راواخلئ، چې: مونږ پرېږدئ چې ستاسو پیروي وکړو (او غزا ته درسره لاړ شو).

منافقان (په دغې خبرې سره) اراده لري چې د الله ﷻ کلام تغییر (او تبدیل) کړي (د خیبر د غنیمتونو اختصاص مات کړي او ځانونه پکښې ورگډ کړي).

(ای پیغمبره! ته ورته په رد کښې) ووایه چې تاسو به هیڅکله (په دغې غزا کښې) زمونږ پیروي ونه کړئ (تاسو به گډون ته پکښې پرېنږدو) الله ﷻ لا پخوا دغسې خبره (د خپل پیغمبر په خوله) کړې وه.

ډېر ژر دی چې (منافقان به ستا خبره رده کړي او) وبه وایي چې: (دغسې نه ده) بلکې تاسو زمونږ سره کینه کوئ (او غنیمت مو راباندې نه لورېږي).

(دغسې نه ده لکه چې منافقان یې وایي) بلکې دوی نه پوهېږي (زیرکي نه لري) مگر لږ پوهه (او لږ زیرکي، که دوی هوښیار وی نو د عمرې د سفر څخه به نه پاتې کېدلی).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د منافقانو هغو بهانو او ویناوو ته اشاره شوې ده په کومو باندې چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ د حدیبیې څخه د بېرته ستنېدلو په وخت په لاره کښې خبر کړی وه، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې ته بېرته مدینې منورې ته ورسېدې نو د منافقانو د پلوه به د لاندې ویناوو سره مخامخ شې:

۱ـ ډېر ژر دی چې هغه کسان به کوم چې ستا د ملگرتیا څخه خپل منافقت وروسته کړي دي او د عمرې د سفر څخه یې برخې برخې کړي دي چې د باندچیانو منافقانو څخه عبارت دي، تاته اعتذار وراندې کړي او د بهانې په توگه به ووایي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مونږ ستا د ملګرتیا څخه منافقت نه یاستو وروسته کړي بلکې مونږ خپلو مالونو او کورنیو وروسته کړي یاستو، هیله ده چې زمونږ اعتذار قبول کړې او د ملامتې ګوته راته ونه نیسې.
ب: زمونږ اُمید دی چې مونږ ته د الله ﷻ څخه د ببرته پاتې کېدلو د ګناه مغفرت هم وغواړې ترڅو زمونږ معذرت د الله ﷻ په نزد هم قبول وګرځي.
۲_ ای پیغمبره! د هر څه څخه وړاندې ته په دې پوه شه چې د بانډچیانو ذکر شوی اعتذار واقعي اعتذار نه دی بلکې محض بهانه جوړول دي چې محض خپلې ژبې ورباندې ښوروي او د زړونو څخه یې نمایندګي نه کوي، او واقعیت دغسې نه دي لکه چې هغوی به ورباندې قول وکړي. نو کله چې هغوی تاته ذکر شوی دروغین اعتذار وړاندې کړي نو ته ورته د هغه په رد کښې ووایه چې:
الف: ای بانډچیانو! ستاسو ذکر شوی اعتذار د قبول وړ نه دی او دا ځکه چې ټول کارونه د الله ﷻ په اراده څرخېږي او هیڅوک او هیڅ شی د ده ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، نو په همدې بنیاد تاسو د دغو پوښتنو جوابونه راکړئ:
اول: هغه څوک دی چې پخپله ستاسو څخه د ډېر لږ شي مخه ونیسي البته که چرته الله ﷻ تاسو ته د څه ضرر او نقصان رسولو اراده وکړي؟.
دوهم: هغه څوک دی چې پخپله ستاسو څخه د څه ګټې مخنیوی وکړي البته که چرته تاسو ته الله ﷻ د څه ګټې رسولو اراده وکړي؟.
په همدې بنیاد که الله ﷻ ستاسو مالونو او ستاسو کورنیو ته د څه ګټې رسولو او یا نقصان رسولو اراده کړې وی نو ستاسو موجودیت به څه اثر درلودلی وی؟ حال دا چې ستاسو موجودیت په خپله ستاسو په هکله څه اثر نه شي درلودلی.
ب: نو پوره څرګنده ده چې ستاسو اعتذار دروغین اعتذار دی بلکې الله ﷻ ستاسو په ټولو کارونو او کړو وړو باندې خبردار دی حتی ستاسو د زړونو حالات ترې هم پټ نه دي.
ج: ای بانډچیانو منافقانو! ستاسو د عدم ملګرتیا وجه هغه نه ده کومه چې تاسو په خولو باندې وایاست بلکې واقعي وجه یې دا ده چې:
اول: ستاسو (په خپلو زړونو کښې) ګومان کاوه چې هیڅکله به پیغمبر ﷺ او مؤمنان د دغه سفر څخه روغ رمټ خپلو کورونو ته راستانه نه شي، بلکې ټول به د مشرکانو د پلوه هلته ووژلی شي او بنیاد به یې وویستلی شي.
دوهم: همدغه ګومان تاسو ته په خپلو زړونو کښې ښایسته کړی شوی وه او د همدغه ګومان د کبله تاسو د عمرې په سفر کښې زمونږ سره ملګرتیا خوښه نه کړه.
دریم: تاسو په الله ﷻ باندې ډېر بدګومان کاوه چې هیڅکله به د خپل پیغمبر ﷺ او مؤمنانو سره نصرت ونه کړي او نه به یې بېرته روغ رمټ راستانه کړي.
څلورم: ذکرو شوو ګومانونو ته تاسو ځکه په خپلو زړونو کښې ځای ورکړی وه چې تاسو د الله ﷻ په نزد هلاک شوی او زیانمن شوی قوم یاست. او هرڅوک چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې واقعي او په اخلاص سره ایمان رانه وړي بلکې کفر پرې غوره کړي، نو یقینًا مونږ د دوی په شمول ټولو کفارو ته دوزخ تیار کړی دی چې تل به پکښې کړېږي.

د یقینًا د اسمانونو او ځمکو واکداري یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري، اوس هم تاسو د دې جوګه یاست چې کوم غیبي مصیبت درباندې نازل کړي او ټول پوپنا کړي خو د دې سره-سره الله ﷻ هغه چا ته مغفرت کوي کوم ته یې چې اراده وشي او هغه څوک معذبوي کوم ته یې چې اراده وشي، او دا ځکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی د همدې کبله تاسو سمدستي نه هلاکوي او فرصت درکوي چې په اخلاص سره د منافقت څخه توبه تائب وګرځئ او مخلص مؤمنان جوړ شئ.

۳ـ ای پیغمبره! کله چې تاسو د مدینې منورې څخه هغې غزا ته د روانېدلو تیاری نیسئ په کومه کښې چې الله ﷻ ستاسو دپاره زښت ډېر غنیمتونه په خپل علم کښې ټاکلي دي او د کومې په باب چې تاسو ته بشارت درکړی شوی دی چې دغه غنیمتونه فقط په هغو کسانو پورې خاص دي کومو چې د عمرې په سفر کښې ګډون کړی دی، نو بېرته پاتې کړی شوي باندچیان منافقان به د خپل عادت په خلاف تاسو ته وړاندیز وکړي چې مونږ پرېږدئ چې په دغه جهادي سفر کښې ستاسو اتباع وکړو او ستاسو انډیوالان جوړ شو.

په دغه وخت کښې به هغوی سره نه د خپلو مالونو د حفاظت غم وي او نه به په خپلو کورونیو باندې ډارېږي. یا په بل عبارت: هغوی به خپلې هغې بهانې ته شا کړي په کومې باندې یې چې د عمرې د سفر په ارتباط استدلال کاوه. ایا هغوی به په دغه وخت کښې اراده لري چې د الله ﷻ کلام ته بدلون ورکړي او هغه بشارت سرچپه وګرځوي په کوم باندې چې د بلې غزا غنیمتونو ته د عمرې سفر کوونکو پورې اختصاص ورکړی شوی وه؟

۴ـ نو ته د منافقانو ذکر شوی وړاندیز رد کړه او ورته ووایه چې: هیڅکله به تاسو په دغې غزا کښې زمونږ اتباع ونه کړی شئ او هیڅکله به مونږ تاسو ملګري نه کړو چې راسره لاړ شئ، دغه خبره الله ﷻ لا پخوا د عمرې د سفر په وخت کښې مونږ ته کړې وه چې تاسو په دغې غزا کښې ګډون نه شئ کولی.

۵ـ په دغه وخت کښې به منافقان یو ځل بیا خپل منافقت څرګند کړي او تاسو ته به ووایي چې: دغسې نه ده چې د دغې غزا څخه الله ﷻ مونږ محروم کړي یاستو بلکې تاسو زمونږ سره حسد لرئ او غواړئ چې په دغې بهانې سره زمونږ د اشتراک مخه بنده کړئ.

۶ـ خو تاسو د حسد د کبله نه دي منعه کړي، بلکې منافقان ذکاوت او زیرکي نه لري، مګر ډېره لږه زیرکي، چې د دنیا منافع یې په نظر کښې نیولي دي او آخرت یې د پښو لاندې کړی دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ ﴾ کښې د "أعْرَاب" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [التوبة:۹۷] ایت لاندې بنه پوره تحلیله شوې ده چې د خپل لفظ څخه مفرد نه لري او د باندچیانو معنی ورکوي، نو بیا تحلیلولو ته یې اړتیا نه ګورو.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢ـ په ﴿ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا ﴾ کښې د "اَهْلُونَا" کلمه او په ﴿ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا ﴾ کښې د ﴿ أَهْلِيهِمْ ﴾ کلمه دواړه بالترتيب په رفعي او جري حالونو کښې د شذوذ په توګه د "اَهْل" کلمې سالمې جمعې دي چې د اعراب (نونونه) يې په اضافت سره ساقط شوي دي(١). دغه جمعه د دوهم ځل دپاره په "اَهَالِي" ـ لکه "اَنَاسِي" ـ سره جمعه کېږي چې بيا د جمع الجمع په نامه يادېږي(٢).

## د "بائر" کلمې معنی

٣ـ په ﴿ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴾ کښې د "بُور" کلمه د "بَائِر" ـ لکه "قَائِل" ـ جمعه ده چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الفرقان: ١٨] ايت لاندې تحليله کړې ده، چې "بَائِر" هغه چا ته ويل کېږي کوم چې په معنوي هلاک سره هلاک شوی وي او د الله ﷻ د غضب لاندې واقع وي. يعنې: ای منافقانو! تاسو د الله ﷻ د غضب لاندې واقع شوی قوم ياست چې په همده ﷻ باندې بدګومانونه کوئ.

## سوالونه او جوابونه

٤ـ په ﴿ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَـٰمَ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ﴾ کښې بايد لاندې سوالونه جوابونه په نظر کښې وساتلی شي:

الف: که څوک وايي چې: دلته د ﴿ مَغَانِمَ ﴾ څخه کوم غنيمتونه مطلب دي چې منافقانو پکښې د اشتراک تمه کوله؟

مونږ وايو چې: دلته د خيبر د غزا غنيمتونه مراد دي او دا ځکه چې د حديبيې څخه د بېرته راستنېدلو په وخت کښې نبي کريم ﷺ (د الله ﷻ د پلوه) مؤمنانو ته وعده ورکړه چې ډېر ژر به خيبر فتحه کړي او ښه پرېمانه غنيمتونه به ترلاسه کړي او دغه غنيمتونه به په همدوی پورې اختصاص ولري(٣). شايد چې په ذکر شوي بشارت باندې به منافقان هم خبر شوي وي نو د همدې کبله يې زور واچاوه چې مونږ د خيبر په غزا کښې ستاسو ملګرتيا کوو، مونږ ته هم پکښې د ګډون اجازه راکړئ.

ب: که څوک وايي چې: په څه وجه نبي کريم ﷺ هغوی ته د خيبر په غزا کښې د ګډون اجازه نه ورکوله چې د مجاهدينو ملګرتيا وکړي؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ د خيبر د غزا غنيمتونه مجاهدينو ته د انعام په توګه ورعنايت کړي وه او خپل پيغمبر ته يې ارشاد فرمايلی وه چې د حديبيې د مجاهدينو څخه پرته بل چا ته پکښې اشتراک ورنه کړي کوم چې په بهانو سره د هغه سفر (حديبيه) څخه بېرته پاتې شوي وه.

ج: که څوک وايي چې: ايا په قرآن کريم کښې بل داسې نظير شته چې منافقان پکښې د غزاګانو څخه منعه کړی شوي وي او د اشتراک اجازه نه وي ورکړه شوې؟

---

(١) روح المعاني ج٢٦ ص٩٩

(٢) لسان العرب ج١١ ص٢٨

(٣) تفسير الطبري ج٢٦ ص٨٠؛ تفسير ابن کثير ج٤ ص١٨٩؛ تفسير القرطبي ج١٦ ص٢٧٠؛ روح المعاني ج٢٦ ص١٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: هو همدغه ډول منعې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَن تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا ﴾ [التوبة:۸۳] یعنې ای پیغمبره! کوم کسان چې د تبوک د غزا څخه د منافقت د کبله پاتې شوي دي هغوی ته ابلاغ کړه چې: د نن څخه وروسته به تاسو هیڅکله د همېشه دپاره زما سره جهاد ته ونه وځئ او نه به زما سره د دښمن په جنګ کښې اشتراک وکړئ.

د: که څوک وایي چې: د خیبر د غنیمتونو وعده خو صحابه وو کرامو ؓ ته نبي کریم ﷺ ورکړې وه، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد د همدغې وعدې څخه په ایت شریف کښې په ﴿ كَلَامَ اللَّهِ ﴾ او ﴿ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ ﴾ سره تعبیر نازل شو؟

مونږ وایو ــ والله ﷻ أعلم: دا د دې دپاره چې د نبي کریم ﷺ وعده او قول د الله ﷻ وعده او قول دی، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۞ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴾ [النجم:۳، ۴] یعنې او نبي کریم ﷺ د خپل خواهش څخه خبرې نه کوي، د ده ﷺ خبرې نه دي مګر وحي دي چې (د الله ﷻ د پلوه ورته) وحي کېږي.

په دې باندې علاوه، که څه هم الله ﷻ په ذکره شوې وعده باندې صراحت نه دی کړی مګر په [الفتح: ۲۰] ایت کښې یې ورته اشاره کړې ده، او د الله ﷻ اشاره صراحت ته ډېره نژدې ده، ته به وایې چې عین صراحت دی.

ه: که څوک وایي چې په همدې بنیاد باید د هر یوه حدیث انکار کوونکی کافر وګڼلی شي لکه چې د هر یوه ایت انکار کوونکی کافر ګڼل کېږي؟

مونږ وایو چې: د ایت او حدیث ترمنځ د سند په لحاظ فرق صورت نیولی دی، که نه نو هغه څوک به د حدیث په انکار سره هم کافر ګرځېدلی وي کوم چې د نبي کریم ﷺ د مبارکې خولې څخه مستقیماً (بدون د سنده) څه قول اورېدلی وي او بیا ترې انکاري شوی وي.

و: که څوک وایي چې: د خیبر غزا په کوم تاریخ صورت ونیوه؟

مونږ وایو چې: نبي کریم ﷺ د د هجرت په شپږم کال د ذو القعدې په میاشت کښې د حدیبیې د صلحې څخه مدینې منورې ته راستون شو او فقط د ذو الحجې یوه میاشت هلته تم شو، او د اوم کال د محرمې په میاشت کښې د خیبر په لور وخوځېد[1]، چې الله ﷻ ورته د خپلې وعدې سره سم بنه پرېمانه غنیمتونه ورپېرزو کړو.

﴿ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ فَإِن تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۞ لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَمَن يُطِعِ

---

(۱) سیرت ابن هشام ج۳ ص۳۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اَللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٧﴾

[۱۶] وروسته پاتې کړی شوو کسانو ته چې د باندچیانو څخه عبارت دي ووایه چې: ډېر ژر دی چې تاسو به د داسې یو قوم مقابلې ته وروبللی شئ کوم چې د ډېر سخت جنګ خاوندان دي، تاسو به د دغه قوم سره یا جنګ وکړئ یا به هغوی مسلمانان جوړ شي (د دغو دواړو ډولو څخه به وتلي نه وي) نو که تاسو (په ذکرو شوو بللو کښې د داعي) اطاعت وکړ نو الله ﷻ به تاسو ته ښایسته اجر (جنت) درکړي، او که تاسو (دعوت ته) شا کړه لکه چې وړاندې مو (د عمرې په سفر کښې ورته) شا کړې وه نو الله ﷻ به مو په دردناک عذاب سره معذب کړي.

[۱۷] په ړانده باندې ګناه نشته (چې جهاد ته لاړ نه شي) او نه په ګوډ باندې او نه په مریض (او نورو معذورینو) باندې.

او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر اطاعت وکړي نو الله ﷻ به یې داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې به ترې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، او هرڅوک چې (د الله ﷻ اطاعت ته) شا کړي نو الله ﷻ به یې په دردناک عذاب سره معذب کړي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د عمرې د سفر څخه بیرته پاتې کړی شوو باندچیانو منافقانو ته دا هم ابلاغ کړه او ورته ووایه چې:

۱ ـ دغې د خیبر په غزا باندې خو د غزاګانو لړۍ نه ختمېږي چې تاسو پکښې په ګډون کولو باندې زور اچوئ بلکې نورې غزاګانې هم راروانې دي، تاسو تکړه شئ په هغو کښې برخه واخلئ چې هلته په تاسو باندې بندیز نه دی لګېدلی. هغه دا چې: تاسو به د مؤمنانو د مشر د پلوه د یوه داسې قوم جنګ او مقابلې ته دعوت کړی شئ چې ډېر سخت جنګیالان به وي او د ښه قوت خاوندان به وي، خو د دې سره-سره به هغوی په دوه وو حالونو باندې تقسیم شي، یا به ستاسو سره وجنګېږي او نهایي برلاسي به ستاسو په برخه وي، او یا به پرته د جنګه مسلمانان جوړ شي او د مؤمنانو مشر ته به بدون د قیده او شرطه تسلیم شي.

۲ ـ ای متخلفینو! نو که تاسو ذکر شوی دعوت قبول کړ او په اخلاص سره جهاد ته روان شوئ نو الله ﷻ به تاسو ته نېک اجرونه درکړي او په دنیا او آخرت کښې به مو سرلوړي وګرځوي، او که دعوت مو قبول نه کړ او جهاد ته مو شا واړوله لکه څنګه چې تاسو د عمرې سفر ته شاګانې اړولې وې (پخوانۍ عادت مو بیا تکرار کړ)، نو الله ﷻ به مو په دردناک عذاب سره معذب کړي او دنیا او آخرت به مو دواړه خوار کړي.

۳ ـ ای متخلفینو! د ذکر شوي دعوت په عدم قبول کښې هغو کسانو باندې څه حرج او مواخذه نشته کوم چې د معذرت درلودونکي وي، نو په ړانده، ګوډ، مریض او دغسې نورو معذورینو باندې څه ملامته نشته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! په دې مقام کښې په خپل اُمت باندې د الله ﷻ یوه عمومي قاعده بیان کړه هغه دا چې: هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي او په اخلاص سره یې دعوت ومني نو الله ﷻ به هغه داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې به ترې څلور ډوله ویالې بهېږي، بالمقابل هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ اطاعت ته شا کړي او د قبول په عوض یې د پښو لاندې کړي نو الله ﷻ به هغه په دردناک عذاب سره معذب کړي او سوزوونکي اور ته به یې ورواچوي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: الله ﷻ په ﴿ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ ﴾ کښې کوم قوم ته اشاره کړې ده؟

مونږ وایو چې: د دغه قوم په تعین کښې علماوو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي چې تقریبًا لسو ته رسېږي[1]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: دلته د هوازن او حنین دواړو غزاګانو جنګیالانو ته اشاره ده چې پخپله نبي کریم ﷺ پکښې ګډون کړی وه.

ب: دلته د مرتدانو غزاګانې مطلب دي چې په دغو غزاګانو کښې ابو بکر الصدیق ﷺ د هغوی سره جنګېدلی وه.

ج: دلته د فارسیانو او رومیانو جنګیالان مراد دي چې امیر المؤمنین عمر ﷺ ورسره جنګېدلی وه.

## تبصره

۲_ مونږ ته د ایتـونو څخه داسې څرګندېږي _والله ﷻ أعلم_ چې د ﴿ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ ﴾ څخه د مکې معظمې جنګیالان مطلب دي او دا څکه چې:

الف: په ﴿ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ ﴾ کښې د "اَلْمُخَلَّفِينَ" کلمې څخه هغه مشخص کسان مراد دي کومو ته چې وړاندې په [الفتح:۱۱، ۱۵] ایتـونو کښې په ﴿ ٱلْمُخَلَّفُونَ، ٱلْمُخَلَّفُونَ ﴾ کلمو سره اشاره اشاره شوې ده، نه په نورو زمانو کښې د هغوی أمثال.

ب: د ﴿ سَتُدْعَوْنَ ﴾ د کلمې څخه د اشارې په توګه لاندې مطلبونه څرګندېږي:

اول: د "س" توری په قرب او نژدېکت باندې دلالت کوي، او کومه غزا چې د خیبر غزا ته ډېره نژدې پېښه شوې وه او نبي کریم ﷺ پکښې پخپله ګډون کړی وه هغه د مکې معظمې فتحه وه او بس. او دا څکه چې که څه هم د "موتة" غزا د خیبر غزا ته ډېره په نژدې وخت کښې واقع وه مګر نبي کریم ﷺ پکښې پخپله ګډون نه وه کړی.

دوهم: دلته مستتر ضمیر د هغو کسانو څخه کنایه دی کوم چې د عمرې د سفر څخه وروسته باتې شوې وه، نه د هغوی د أمثالو څخه په راتلونکو زمانو کښې.

درېم: داسې معلومېږي چې د قوي خلکو جنګ ته بلونکی به هغه څوک وي چا چې د عمرې سفر

---

(۱) زادالمسیر ج۷ ص۱۶۶؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۰۲؛ نظم الدرر ج۷ ص۲۰۲؛ تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۸۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته بلل کړي وه چې د نبي کريم ﷺ څخه عبارت دی، نه د ده ﷺ د خليفګانو يا نورو اميرانو څخه.

ج: د ﴿ تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَ ﴾ د دوارو جملو مضامين د مکې معظمې په فتحه کښې په ځرګنده توګه متحقق شوي دي، نه په نورو غزاګانو کښې. او دا ځکه چې دلته د "او" توری د تنويع دپاره دی[1] چې د ځينو کسانو سره به تاسو جنګ وکړئ او ځينې نور به مسلمانان وګرځي او په ايمان به مشرف شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه احاديث ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَإِنَّمَا أُذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ»[2] يعنې او ماته الله ﷻ د ورځې څخه يو سات (ګړی) دپاره اجازه راکړه (چې په مکه معظمه کښې جنګ وکړم او دا ځکه چې په همدومره وخت کښې مقاومت ختم شو).

دوهم: يو صحابي په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: «فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ أَهْلِ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ»[3] يعنې نو کله چې د اهل الفتح واقعه رامنځته شوه نو هر قوم په خپلو مسلمانېدلو سره تونډي وکړه (آن تردې چې ډلې ډلې په اسلام کښې داخل شوه).

نو پورتنيو دلايلو ته په پام سره به د ايت شريف مضمون داسې راوخېژي چې:

ای متخلفينو! تاسو خو د عمرې په سفر کښې د نبي کريم ﷺ ملګرتيا ونه کړه، د مکې معظمې مشرکان درته ډېر قوي جنګيالان برېښېدل چې يو عمره کوونکی به هم ترې خپل کور ته ژوندي راستون نه شي، نو ځکه مو د عدم اشتراک دپاره بهانې وتراشلې. د خيبر په غزا کښې ستاسو د اشتراک دپاره اجازه نشته خو څه وخت وروسته به تاسو د توريالي (جنګيالي) قوم د مقابلې دپاره بيا وبلل شئ او ډېر ژر به د مکې معظمې د مشرکانو سره جنګ اعلان کړی شي، نو بيا به وګورو چې تاسو اطاعت خپلوئ او که بيا به د دوهم ځل دپاره بهانو ته لاس واچوئ.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد الله ﷻ د مکې معظمې په غزا باندې صراحت ونه کړ چې دغه غزا راروانه ده؟

مونږ وايو: که بالفرض الله ﷻ وربانديې صراحت کړی وی نو ضرور به مشرکانو ترې د عهد ماتونې معنی اخستې وی او نبي کريم ﷺ به يې مخاطب ګرځولی وی چې د حديبيې صلحه تا ماته کړه چې د مکې د جنګ اراده لرې.

## حرج څه معنی؟

۴ـ په ﴿ لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ ﴾ الآية- کښې د ﴿ حَرَجٞ ﴾ دريواړه کلمې د ګناه معنی ورکوي[4].

---

(۱) روح المعاني ج۲٦ ص۱۰۴

(۲) سنن النسائي ج۲ ص۳۱

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص٦۱٦

(۴) مفردات الراغب ص۱۱۱

Scanned by CamScanner

یعنې په معذورو کسانو باندې څه ګناه نشته چې جهاد ته لاړ نه شي، نو د اعذارو سره-سره جهاد نه تلل ورته بهتر دي، د همدې کبله یوه په سترګو ړوند صحابي (عبد الله بن أم مکتوب ﷺ) په غزا کښې ګډون کړی وه، لکه چې انس ﷺ په یوه حدیث کښې وایي چې: «وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَوْمَ الْقَادِسِيَّةِ مَعَهُ رَايَةٌ سَوْدَاءُ»(۱) او یقینًا ما نوموړی معذور صحابي د قادسیه په ورځ (په دغې غزا کښې) ولید چې تور بیرغ ورسره وه.

﴿لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ أَيْدِىَ ٱلنَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ ءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾ وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوَلَّوُا۟ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾﴾

[۱۸] بې شکه الله ﷻ د مؤمنانو (صحابه کرامو ﷺ) څخه په هغه وخت کښې راضي شو کله چې هغوی د اغزي لرونکې ونې لاندې تا سره (د جهاد) بیعت کوي، نو الله ﷻ (په شهودي پوهې سره هم) په هغه (اخلاص) باندې پوه شو کوم چې د هغوی په زړونو کښې یې شتون درلود، نو الله ﷻ ورباندې سکینه (ډاډ) نازل کړ او په نژدې فتحې سره یې ورته عوضونه ورکړه (چې ډېر لږ وخت وروسته به ورته خیبر فتحه کړي).

[۱۹] او ډېر غنیمتونه (یې ورته هم په عوض کښې ورکړه) چې په اسانۍ سره به یې (په دغې فتحې کښې) ترلاسه کړي. او الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

[۲۰] (ای مؤمنانو!) تاسو ته الله ﷻ (د خیبر په فتحه کښې) د ډېرو غنیمتونو وعده درکوي چې په اسانۍ سره به یې ترلاسه کړئ، نو ستاسو دپاره یې په دغو (خیبري) غنیمتونو (په درکولو) سره تلوار وکړ (چې ډېر ژر به یې درتبریک کړي) او ستاسو څخه یې د خلکو (قریشو) لاسونه بند کړه (حال دا چې تاسو د جنګ تیاری نه درلود).

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(دا ټول د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ) او د دې دپاره چې دا نعمتونه (د قیامت تر ورځې پورې) د مؤمنانو دپاره ډېره لویه قدرتي نښه وګرځي او (هم د دې دپاره چې) الله ﷻ تاسو ته سمه لاره وښيي (او په همدې لارې باندې د تللو توفیق درکړي).

[۲۱] او (الله ﷻ تاسو ته د حنین په غزا کښې) د نورو غنیمتونو (وعده هم درکوي) چې تاسو يې په غنیمت کولو قدرت نه لرئ (خو) یقینًا الله ﷻ ورباندې (په کامل قدرت سره) احاطه کړې ده، او الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی.

[۲۲] او که چرته ستاسو سره هغو کسانو جنګ کړی وی (او صلحه يې نه وی کړې) کومو چې کفر (او شرک) غوره کړی دی، نو هرومرو به يې (تاسو ته) شاګانې دراړولې وی (او ماتې به يې خوړلې وی) بیا به يې نه دوست او نه نصرت کوونکی موندلی وی.

[۲۳] (تاسره) د الله ﷻ په هغې طریقې (باندې د الله ﷻ د پلوه تلل کېږي) کومه چې پخوا تېره شوې ده او ته به هیڅکله د الله ﷻ طریقې ته بدلون موندونکی نه کړې (چې د خپلو دوستانو سره نصرت ونه کړي).

[۲۴] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د خلکو (مکیانو) لاسونه يې ستاسو څخه بند کړه او ستاسو لاسونه يې د هغوی څخه (بند کړه البته) د مکې معظمې څخه په لاندې جهت (حدیبیه کښې، دغه د لاسونو بندول يې) د هغه څخه وروسته (وکړه) چې تاسو ته يې په هغوی باندې برلاسي درکړه (چې هغوی ستاسو په اسارت کښې واقع شوه).

او الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو باندې بینا دی چې تاسو يې کوئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د منافقانو د حالاتو د بیان څخه وروسته په خپل اُمت باندې د مؤمنانو څه حالات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ الله ﷻ د مؤمنانو څخه هغه وخت راضي شو چې کله هغوی ستا سره د کیکر د ونې لاندې بیعت وکړ البته کله چې تاسو ته خبر ورسېد چې د قریشو د پلوه عثمان ﷺ وژلی شوی دی، او دا څکه ترې الله ﷻ راضي شو چې:

۲ـ الله ﷻ د مؤمنانو په هغه اخلاص باندې پوهېده کوم چې د دوی په زړونو کښې يې ځای نیولی وه، حال دا چې دوی د جنګ په نیت نه وه راروان شوي او نه يې جنګي وسائل درلوده، خو دې سره-سره دوی د مرګ تر وخته پورې په جنګېدلو تعهد وکړ چې تښتېدل به نه خپلوي.

۳ـ نو کله چې الله ﷻ د مؤمنانو څخه راضي شو نو داسې مهرباني يې ورباندې پېرزو کړې:

الف. کله چې د عثمان ﷺ د وژلو خبره دوروغ شوه او د مشرکانو سره په څو شرطونو باندې روغې جوړې صورت ونیوه، نو په مؤمنان باندې ځینې شرطونه ډېر درانه تمام شوه، خو الله ﷻ ورباندې د خپلې مهربانۍ د مخې داډ او سکینه نازله کړه او ټول ورته غاړه اېښودونکي وګرځېدل.

ب. که څه هم الله ﷻ مؤمنانو ته سمدستي مکه معظمه فتحه نه کړه مګر په عوض کښې يې ورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خپل پیغمبر ﷺ په ذریعه د خیبر د فتحې زیرې ورکړ چې په نږدې وخت کښې به صورت ونیسي او دوی به پکښې په ډېرې اسانۍ سره پرېمانه غنیمتونه ترلاسه کړي. او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی او هم د حکمت څښتن دی.

۴ـ ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ دغه مهربانۍ په یاد ولرئ:

الف: الله ﷻ تاسو ته د ښو ډېرو (پرېمانه) غنیمتونو وعده درکوي چې په خیبر کښې به یې ترلاسه کړئ، نو د دغو غنیمتونو په درکولو باندې یې تلوار وکړ ترڅو تاسو ډاډه او مطمئن جوړ شئ؛ یا په بل عبارت: تاسو دغه غنیمتونه داسې وګڼئ لکه چې سمدستي په تلوار سره درکړی شوي وي او دا ځکه چې د الله ﷻ په خبره کښې دروغ نشته.

ب: الله ﷻ ستاسو څخه د مکیانو مخنیوی وکړ او توان یې ورنه کړ چې تاسو ته د تعرض لاسونه دروغزوي، حال دا چې تاسو نه د جنګ تیاری نیولی وه او نه د جنګ په نیت راوتلي وئ.

ج: البته دا د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او د دې دپاره چې دغه معجزانه کامیابي د قیامت تر ورځې پورې د ټولو مؤمنانو دپاره یوه لویه نښه وګرځي چې الله ﷻ ورسره خپل نصرت جاري ساتي.

د: بالآخره، دا د دې دپاره چې الله ﷻ ستاسو هدایت ته ادامه ورکړي او په هغې سمې لارې باندې مو سوق کړي په کومه کښې چې ستاسو د دنیا او آخرت ښېګڼې نغښتې دي، که څه هم تاسو ورباندې نه پوهېږئ.

هـ: الله ﷻ تاسو ته د خیبر د غنیمتونو څخه علاوه د نورو غنیمتونو وعده هم درکوي د کومو په رانیولو باندې چې تاسو قدرت او توان نه لرئ او په اسانۍ سره یې نه شئ ترلاسه کولی، خو الله ﷻ ورباندې په علم او قدرت سره احاطه کړې ده، نو په خپل کامل قدرت سره به یې تاسو ته درپېرزو کړي، او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن دی.

۵ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ ستاسو څخه د مشرکانو لاسونه لنډ کړه او د تعرض توان یې ورنه کړ، خو که بالفرض هغوی تاسو سره د صلحې په عوض د جنګ لاره غوره کړې وی نو هرومرو به یې د جنګ په میدان کښې ماتې خوړلې وی او تاسو ته به یې د تښتېدلو په حال کښې شاګانې دراړولې وی، او دا ځکه چې الله ﷻ ستاسو ملګری دی، نو په دغه وخت کښې به یې نه دوست موندلی وی او نه څه مددګار چې لاس یې ورکړی وی او د شکست څخه یې بچ کړي وی.

۶ـ دغه د نصرت لاره د الله ﷻ هغه لاره ده چې په پخوانیو زمانو کښې تېره شوې ده او په هره زمانه کښې کامیابي د پیغمبرانو او مؤمنانو په برخه شوې ده. دغه لاره به د قیامت تر ورځې پورې جاري وي او هیڅکله به ته دغې الهي لارې ته بدلون او تغیر مونده نه کړې چې الله ﷻ د خپلو دوستانو سره نصرت ونه کړي.

۷ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د کفارو لاسونه یې ستاسو څخه بند کړه او د هغوی جنګي ټولګی ونه توانېد چې تاسو ته څه ضرر ورسوي. دغه ټولګي په داسې موقع کښې په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو باندې د تعرض نیت درلود چې مکې ته د هر نژدې وه حال دا چې تاسو د خپل تاتوبي څخه د هر لرې په حدیبیه مقام کښې تم شوي وئ، خو د دې سره-سره الله ﷻ هغوی ستاسو د قابو لاندې راوستل او تاسو کولی شوه چې ټول مو پوپنا کړي وی.

مګر الله ﷻ ستاسو لاسونه د هغوی څخه بند کړه چې په نتیجه کښې مو بدون د قیدو شرطه خوشې کړه او دا ځکه چې الله ﷻ ستاسو په ټولو کارونو باندې بینا دی چې په دغې موقع کښې د هغوی خوشې کول ستاسو په ګټه وه.

## توضیحات

١ـ په ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: کوم بیعت ته چې په دغه ایت کښې اشاره شوې ده هغه د "بیعة الرضوان" په نامه یادېږي او دا ځکه چې دلته د ﴿رَضِيَ﴾ کلمه نازله شوې ده چې د "رِضْوَان" څخه یې اشتقاق موندلی دی.

ب: دغه رضوان ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ»[١] یعنې د هغو کسانو څخه به یو کس هم دوزخ ته داخل نه شي کومو چې د ونې لاندې بیعت کړی دی.

همدارنګه یې فرمایلي دي چې: «لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مَنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ»[٢] یعنې هرومرو به هغه څوک جنت ته داخل شي چا چې د ونې لاندې (د نبي کریم ﷺ سره) بیعت کړی وه، مګر د سور اوښ خاوند به جنت ته داخل نه شي چې بیعت یې ونه کړ.

ج: د سور اوښ خاوند قیس نومېده چې د بیعت په وخت کښې د خپل اوښ د ګېډې لاندې پټ شو[٣]، او دا ځکه چې دغه یو کس منافق وه[٤].

د: دغه ونه یوه اغزیداره ونه وه چې مونږ ترې د "کیکر" په ونې سره تعبیر کولی شو. خو صحابه وو کرامو ؓ دغه ونه د قضایي عمرې په سفر کښې ونه شوه پېژاندلی چې مونږ تېر کال د دغې ونې لاندې د نبي کریم ﷺ سره د جهاد بیعت کړی وه[٥] (د الله ﷻ هر کار د حکمت په بنیاد صورت نیسي).

ه: په بیعت کښې د ګډون کوونکو صحابه وو کرامو ؓ شمېر په روایتونو کښې مختلف ښودلی شوی دی لکه څوارلس سوه (١۴٠٠) کسه او پنځلس سوه (١۵٠٠) کسه او داسې نور[٦]؛ نو که مونږ ووایو چې د هغوی شماره په تقریبي توګه پنځلس سوه کسانو ته رسېده ـ إن شاء الله ﷻ ـ څه باک به یې نه وي.

و: د دغه بیعت په کیفیت او څرنګوالي کښې لاندې دوه روایتونه ولولئ:

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢۵، سنن ابي داؤد ج٢ ص٢٨٣، مسند احمد بن حنبل ج۵ ص١٢٣
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢۵
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص١٢٩
(۴) البحر المحيط ج٩ ص۴٨٧
(۵) صحيح البخاري ج٢ ص۵٩٩
(٦) صحيح البخاري ج٢ ص۵٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: یوه ورځې د سلمه بن الاکوع ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې تاسو په حدیبیه مقام کښې د نبي کریم ﷺ سره په څه شي بیعت وکړ؟ هغه جواب ورکړ چې: «عَلَى الْمَوْتِ»[1] یعني په مرګ باندې مو ورسره بیعت کړی وه.

دوهم: جابر ﷺ په یوه حدیث کښې ویلي دي چې: «بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ ﷺ عَلَى أَنْ لَا نَفِرَّ وَلَمْ نُبَايِعْهُ عَلَى الْمَوْتِ»[2] یعني مونږ د نبي کریم ﷺ سره (په بیعت الرضوان کښې) په دې خبره بیعت کړی وه چې مونږ به نه تښتو او په مرګ باندې مو ورسره بیعت نه وه کړی.

مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په مرګ باندې بیعت به هم د عدم فرار (نه تښتېدلو) څخه کنایي وي نو پورتني دواړه روایتونه په مصداق کښې سره متحد دي او څه منافات سره نه لري.

ز: نو کله چې مشرکان په بیعت خبر شوه چې د مرګ تر وخته پورې راسره جنګېږي، نو وډار شوه او د صلحې وړاندیز یې وکړ[3] چې د نبي کریم ﷺ د پلوه منظور شو او په نتیجه کښې هغه صلحه منعقده شوه کومې ته چې د دې سورت (الْفَتْح) په مقدمه کښې لږ څه زیاته شرحه ورکړه شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ح: په ﴿ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ ﴾ کښې د "ما" کلمه د هغه اخلاص څخه کنایه ده کوم چې د بیعت کولو په وخت کښې د صحابه وو کرامو ﷺ په زړونو کښې موجود وه. نو الله ﷻ ورته په دغه اخلاص باندې په عاجله توګه دوه نتیجې مرتبې کړې:

اول: یوه دا چې هغه اضطراب یې ورته په ډاډینه تبدیل کړ کوم چې هغوی ته لږ څه وروسته د صلحې د شرطونو د کبله پیدا شو. دغې نتیجې ته الله ﷻ د ﴿ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ ﴾ په نزول سره اشاره کړې ده، یعني نو الله ﷻ په هغوی باندې ډاډ او سکینه نازله کړه (او اضطراب یې ترې لرې کړ).

دوهم: بله دا چې په ډېر نژدې وخت کښې به ورته خیبر فتحه کړي او بیا پرېمانه غنیمتونه به ورته په نصیب کړي. دغه نتیجه د ﴿ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ۝ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي[4]، یعني او الله ﷻ صحابه وو کرامو ته (په اختصاصي صورت سره) نژدې فتحه او بیا ډېر غنیمتونه د دنیاوي أجر په توګه ورکړه چې په اسانۍ سره به یې ترلاسه کړي.

## هېر مو نه شي

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ﴾ کښې د ډېرو غنیمتونو څخه د خیبر غنیمتونه مطلب دي، او د ﴿ يَأْخُذُونَهَا ﴾ جمله د دغو غنیمتونو په اسانۍ تر لاسه کولو باندې دلالت کوي چې صحابه کرام ﷺ

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۰

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۸؛ مسند أحمد بن حنبل ج۵ ص۲۱۳

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۸۶؛ سیرت النبي لابن هشام ج۳ ص۸۵؛ صحیح مسلم ج۲ ص۱۱۲؛ مسند أحمد بن حنبل ج۵ ص۵۵۱

(۴) تفسیر البغوي ج۴ ص۱۹۴؛ تفسیر الطبري ج۲۶ ص۸۸

Scanned by CamScanner

په یې بدون د مشقته ترلاسه کړي.

ب: که څه هم جمهورو مفسرینو کرامو په ﴿ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا ﴾ کښې د ﴿ مَغَانِمَ كَثِيرَةً ﴾ څخه هغه ټول غنیمتونه اراده کړي دي کوم چې مومنانو ته د قیامت تر ورځې پورې وخت په وخت ورکولی کېږي[۱]، خو زمونږ په نزد دلته هم د خیبر غنیمتونو ته اشاره شوې ده، ځکه چې

اول: لکه څنګه چې وړاندې د خیبر د غنیمتونو په ارتباط د ﴿ يَأْخُذُونَهَا ﴾ کلمه نازله شوې وه کوم چې په اسانۍ باندې دلالت کوي همدارنګه دلته هم د ﴿ مَغَانِمَ كَثِيرَةً ﴾ په تعقیب د ﴿ تَأْخُذُونَهَا ﴾ جملې نزول موندلی دی، چې په اسانۍ سره رانیول ترې معلومېږي.

دوهم: د ﴿ فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ ﴾ د جملې غوښتنه هم دا ده چې دلته د خیبر غنیمتونه مراد کړی شي او دا ځکه چې د حدیبیې د صلحې څخه وروسته په نژدې وخت کښې په تلوار سره فقط همدغو غنیمتونو تحقق موندلی دی چې تقریبًا څلوېښت ورځې وروسته خیبر فتحه شو.

ج: که څوک وايي چې په دغه تقدیر پوښتنه راولاړېږي چې د کوم حکمت په بنیاد د خیبر غنیمتونو ته په دې ایت کښې تکرارًا اشاره وشوه حال دا چې په وړاندې ایت کښې یې ذکر نازل شوی دی؟

مونږ وایو چې: هلته په دغو غنیمتونو سره نبي کریم ﷺ مخاطب ګرځولی شوی وه تر څو د قیامت تر ورځې پورې ټولو مخلصو مومنانو ته بشارت جوړ شي، او په دوهم ځل نزول باندې یې صحابه کرام ﷺ مخاطب کړی شوي دي، ته به وايې چې د الله ﷻ د پلوه ورته د نژدې غنیمتونو تبریکي ورکړه شوې ده.

د: د ﴿ وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُواْ عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ﴾ کلمات په ﴿ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً ﴾ کښې په ﴿ مَغَانِمَ كَثِيرَةً ﴾ باندې عطف دي او هغو غنیمتونو ته پکښې اشاره ده کوم چې الله ﷻ د حنین په غزا کښې صحابه وو کرامو ﷺ ته د شکست څخه وروسته په خپل کامل قدرت سره وربېرزو کړه، چې پوره بیان یې د [التوبة:۲۵] ایت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ ﴾ الآیة کښې کومو کسانو ته اشاره ده، یا په بل عبارت: د صحابه وو کرامو ﷺ سره څوک په مقابله کښې واقع شوي وه چې الله ﷻ د دواړو جانبو لاسونه یو تربله لنډ کړه او جنګ صورت ونه نیوه؟

مونږ وایو چې: د دغو کسانو په تعین کښې مفسرینو کرامو متعدد واقعات روایت کړي دي[۲]، لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) روح المعاني ج۲۶ ص۱۰۹؛ البحر المحیط ج۹ ص۴۹۳

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۹۲؛ نظم الدرر ج۷ ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: أنس ﷺ وايي چې د مکې د مشرکانو څخه اتيا (٨٠) تنه وسلوال کسان د تنعيم د غره څخه رابکته شوه او غوښتل يې چې په ناخبرۍ کښې په نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ باندې يرغل وکړي «فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا فَاسْتَحْيَاهُمْ»[١] يعنې نو نبي کريم ﷺ په داسې حال کښې ونيول چې ټول ورته تسليم شوه خو نبي کريم ﷺ ټول ژوندي پرېښودل.

ب: عبد الله بن المغفل المزني ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: د بيعت الرضوان په موقع کښې په مونږ باندې دېرش (٣٠) وسلوال ځوانان راڅرګند شوه چې حمله راباندې وکړي، خو نبي کريم ﷺ ورته ښېرا وکړه نو الله ﷻ په سترګو باندې ټول ړانده کړه نو مونږ ټول اسيران کړه «فَخَلَّى سَبِيلَهُمْ»[٢] يعنې نو نبي کريم ﷺ تر څه تحقيق وروسته د ټولو لاره خالي کړه (او د اسارت څخه يې خوشې کړه).

## د "بَطْن" کلمې معنی

۴_ په ﴿بِبَطْنِ مَكَّةَ﴾ کښې د "بَطْن" کلمه کله-کله د يوه شي د لاندېنې جهت څخه کنايه اخستله کېږي چې په مقابل کښې يې د يوه شي په پاسنې جهت باندې د "ظَهر" اطلاق کېږي[٣].

خو په دې مقام کښې ترې د حديبيې مقام مطلب دی په کوم چې "بيعة الرضوان" صورت نيولی وه، کوم چې د مکې معظمې په لاندې جهت کښې نهه ميله فاصله کښې موقعيت لري[٤]، او ځينې برخې يې په حرم شريف کښې شاملې دي[٥].

﴿ هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْىَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا۟ لَعَذَّبْنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾ إِذْ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ وَكَانُوٓا۟ أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ ﴾

(١) صحيح مسلم ج٢ ص١١٦
(٢) مسند أحمد بن حنبل ج٥ ص٦٢٨
(٣) مفردات الراغب ص٤٩
(٤) زاد المسير ج٧ ص١٦٠
(٥) تفسير القرطبي ج١٦ ص٢٨٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] مشرکان هغه کسان دي کومو چې کفر غوره کړی دی او تاسو یې د المسجد الحرام څخه منعه کړي یاست، او د قرباني څاروي (یې هم) په داسې حال کښې (منعه کړي دي) چې خپل د حلالولو ځای (حرم شریف) ته د رسېدلو څخه ایسارې کړی شوي (ولاړې) دي.

او که چرته (په مکه معظمه کښې) مؤمنان نارینه او مؤمناني زنانه موجود نه وی چې تاسو وریاندې علم نه لرئ (نو الله ﷻ به ستاسو لاسونه د مشرکانو څخه نه وی لنډ کړي او جنګ به نښتی وی. یقیناً الله ﷻ ستاسو لاسونه د هغوی څخه) د دې کبله (لنډ کړه) چې تاسو به هغوی (د جنګ په صورت کښې) بدون د علمه (او پېژاندلو) د پښو لاندې کړئ نو تاسو ته به ترې زړه سوی (خفګان ورسېږي (او هم به مشرکان پیغور درکړي).

(الله ﷻ په حدیبیه مقام کښې) د دې دپاره (صلحه منعقده کړه) ترڅو په خپل رحمت کښې هغه څوک داخل کړي کومو ته یې چې اراده وشي (او په ایمان باندې یې مشرف وګرځوي).

(لنډه دا چې) که چرته مشرکان او مؤمنان یو تربله بېل (جدا) شوي وی نو مونږ به د دوی څخه هغه کسان په دردناک عذاب سره معذب کړي وی کومو چې کفر غوره کړی دی (او کلک وریاندې ولاړ دي).

[۲٦] (دغه تعذیب به په هغه وخت کښې صورت نیولی وی) کله چې هغو کسانو په خپلو زړونو کښې سخت غضب واچاوه کومو چې کفر غوره کړی دی (البته) جاهلي غضب (چې په کوم دلیل او حجت باندې ولاړ نه وه).

نو الله ﷻ په خپل پیغمبر او په مؤمنانو باندې سکینه (ډاډینه) ورنازله کړه (او د هغوی د جاهلي غضب په مقابل کښې یې عکس العمل ونه ښود)، او (هم) الله ﷻ د دوی سره د تقوی کلمه (لا إله إلّا الله) لازمه (او کلکه) وګرځوله، او همدوی د تقوی د کلمې سره لیاقت درلود او آهل (او مستحقین) یې وه. او (دا څکه چې) الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه پوښتنه جوابه شوې ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو څخه د چا په ذهن کښې راپورته کېدلی شوه هغه دا: کله چې د جنګ په صورت کښې د مشرکانو شکست یقیني وه نو د څه حکمت په بنیاد د جنګ مخه ونیوله شوه؟. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې په حدیبیه کښې د قتال د نه واقع کېدلو په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ په حدیبیه مقام کښې مشرکان مستحق وه چې جنګ ورسره واقع شوی وی او بنه فاحش شکست ورکړی شوی وی چې آن تر مکې معظمې پورې د جنګ لمن اوږده کړی شوې وی. او دا څکه چې:

الف: همدغو مشرکانو ستاسو مخه بنده کړه او موقع یې درنه کړه چې المسجد الحرام ته تللي وی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هلته مو د خپل رب عبادت کړی وی او د عمرې ارکان مو اداء کړي وی، حال دا چې هغوی دغه کار ته په محترمه میاشت کښې لاس واچاوه.

ب. هغوی ستاسو قرباني، هم پرېنښودلې چې خپل ځای (حرم شریف) ته رسېدلې وی، او هلته د شرعي قانون په مطابق نحرې کړی شوې او حلالې کړی شوې وی.

۲ـ نو په همدې بنیاد که چرته څه وجوهو موجودیت نه درلودی نو ضرور به الله ﷻ تاسو ته د قتال اجازه درکړې وی او په نتیجه کښې به مو مشرکان د فاحشې ماتې سره مخامخ کړې وی او آن د مکې معظمې په داخل کښې به مو وژلي او ټکولي وی. هغه ځینې وجوه دا دي:

الف. په مکه معظمه کښې ځینې نارینه مؤمنان او ځینې زنانه مؤمنانې شتون لري، نو د جنګ په صورت کښې به تاسو هغوی نه وی پېژندلي او په ناپوهۍ سره به مو وژلي وی او هم به مو د پښو لاندې کړي وی.

ب. په دغه وخت کښې به تاسو د مشرکانو د پلوه د ناپوهۍ د کبله د سخت پېغور سره مخامخ شوي وی، چې صحابه کرام ﷺ د خپلو همعقیده خلکو خیال هم نه ساتي او په وژلو باندې یې صرفه نه کوي. همدارنګه په دغه وخت کښې به تاسو ته هم د خپلې ناپوهۍ د کبله حسرت او افسوس در رسېدلی وي چې په ناپوهۍ سره مو په خپل لاس مؤمنان (زنانه یا نارینه) ووژل.

نو د همدې کبله الله ﷻ د جنګ مخنیوی وکړ او لاتجه یې د دې دپاره په صلحې فیصله کړه چې د مشرکانو د جملې څخه هغه کسان په خپل رحمت کښې داخل کړي او په ایمان یې مشرف کړي کومو ته یې چې اراده وشي ترڅو په خپله خوښه ستاسو ملګرتیا غوره کړي او په ایمان مشرف شي.

لنډه دا چې: که چرته په مکه معظمه کښې د مؤمنانو او مشرکانو ډلې یو تربله سره جدا جدا وی او خلط ملط نه وی نو هرومرو به مونږ د مکې د اوسېدونکو د جملې څخه هغه کسان په دردناک عذاب سره معذب کړي وی کومو چې کفر او شرک غوره کړی دی.

۲ـ مونږ په خکه ذکر شوي کسان په دردناک عذاب باندې معذب کړي وی او تاسو به مو وریاندې مسلط ګرځولي وی، چې همدغو کسانو د خپل کفر د کبله په خپلو زړونو کښې هغه کفري ننګ او غیرت اچولی وه کوم چې د جاهلیت د زمانې څخه نمایندګي کوله.

د همدې کبله یې د صلحې په لیک کښې د "بسم الله الرحمن الرحیم" او همدارنګه د "محمد رسول الله ﷺ" د لیکلو سره په کلکه مخالفت وکړ چې په مؤمنانو باندې یې د هر منفي (بد) اثر واچاوه او نژدې وه چې د صلحې پروسه د خاورو سره برابره شي.

۴ـ خرنګه چې الله ﷻ د دغې پروسې ناکامېدل نه غوښتل نو په خپل پیغمبر ﷺ او په مؤمنانو (صحابه وو کرامو ﷺ) باندې یې سکینه او ډاډینه نازله کړه او حوصله یې ورکړه چې د کفارو غوښتنې نه غاړې کېږدي او په صلحه لیک کښې د ذکرو شوو دواړو کلمو د لیکلو څخه تېر شي.

۵ـ دغه غاړه اېښودل په دې معنی نه وه چې د مؤمنانو د تقوی د کلمو سره مینه او محبت کم شو او دا څکه چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ د مؤمنانو سره د تقوی کلمې پیوند کړې دي او د دوی په زړونو کښې يې ورته ځای ورکړی دی، چې په صلحه نامه کښې په نه لیکلو سره ورباندې څه اثر نه پرېوځي.

ب: مؤمنان د همدغو کلمو مستحقین دي او همدوی حق په جانب وه خو مشرکانو د جاهلیت د ننګ څخه کار واخست او په نه لیکلو باندې يې زور واچاوه.

ج: مؤمنان د همدغو کلمو اهل دي او د همدوی په نزد قدر او عزت لري، اما مشرکانو د دغو کلمو اهلیت نه درلود او نه يې د هغوی په نزد څه عزت درلود، نو د همدې کبله يې په نه لیکلو باندې کلک پاتې شوه.

٦_ الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی نو د تقوی د کلمو سره د مؤمنانو مینه او د کفارو ضدیت (عناد) دواړه ورته معلوم او پوره څرګند دي، چې د هر چا سره به د خپلو کړو وړو مطابق چال چلند وکړي.

## توضیحات

١_ په ﴿هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّوكُمْ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: زیارت کوونکي چې کوم څاروي کعبې شریفې ته د تحفې او سوغات په توګه روانوي ترڅو يې هلته حلال او ذبحه کړي، هغو ته د "هَدْيٌ" کلمه وضعه شوې ده، چې د همدغو د جملې څخه یوه څاروي ته "هَدْيَة" ویل کېږي[١]، د دغو څارویو څخه مونږ په قربانیو سره تعبیر کوو.

ب: په حدیبیه مقام کښې اویا (٧٠) څاروي مشرکانو پرېنښودل چې د حلالولو خپل ځای ته ورسيږي بوتللی شي او هلته قرباني کړی شي[٢].

ج: د ټولو علماوو کرامو اتفاق دی چې د قربانیو د حلالې ځای حرم شریف او خاصتاً مِنَا ده، خو دوی د ایسار کړی شوو زیارت کوونکو د قربانیو په هکله اختلاف لري[٣]: الشافعي علیه الرحمة وايي چې د دوی د قرباني کولو او حلالو ځای همغه ځای دی په کوم کښې چې ایسارېدل واقع شوي وي، او د آبو حنیفه علیه الرحمة په نزد د دغو زیارت کوونکو قرباني هم باید په حرم شریف کښې حلالې کړی شي.

څرنګه چې د حدیبیه مقام ځینې برخې په حرم شریف کښې شاملې دي نو نبي کریم ﷺ په همدغو برخو کښې خپل څاروي قرباني کړه.

ج: که څوک وايي چې: په ﴿وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ﴾ کښې د "لولا" توری د شرط معنی ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې د دغه شرط دپاره کومه یوه جمله جوابیه جمله ده؟

مونږ وایو چې: د دغې جوابیې جملې په تعین کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[٤]

(١) مفردات الراغب ص٥٣٩؛ روح المعاني ج٢٦ ص١١٢

(٢) تفسیر البغوي ج٤ ص٢٠٣؛ تفسیر البغوي ج١٦ ص٢٨٣

(٣) روح المعاني ج٢٦ ص١١٣

(٤) اللباب في علوم الکتاب ج٦٧ ص٥٠٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو بهتره پکښې دا ده چې دلته به جوابیه جمله مقدره وي چې په "مَا كَفَّ اللهُ أَيْدِيَكُمْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ" سره ترې تعبیر کېدلی شي یعنې که چرته په مکه معظمه کښې څه نارینه او زنانه مؤمنانو موجودیت نه درلودی چې تاسو ورباندې علم نه لرلو او نه مو پېژاندل. نو الله ﷻ به ستاسو لاسونه د مشرکانو څخه نه وی لنډ کړي او د جنګ مخنیوی به یې نه وی کړی.

د: په دغه وخت کښې په مکه معظمه کښې ټول نهه کسه مؤمنان وه چې اوه کسان یې نارینه وه او دوه تنه یې زنانه وې[۱]، نو د همدوی د برکته مشرکانو د جنګ څخه نجات وموند

ه: که څوک وایي چې: د ﴿ أَن تَطَئُوهُمْ ﴾ کلمات په اعراب کښې څه شی واقع شوي دي؟

مونږ وایو چې: دغه کلمات د حرف جر (ل) په تقدیر سره په یوې مقدرې جملې پورې تعلق نیسي په کومې باندې چې وراندېنۍ مقدره جوابیه جمله دلالت کوي، چې په "إِنَّمَا كَفَّ اللهُ أَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ" سره ترې تعبیر امکان لري. یعنې یقیناً الله ﷻ ستاسو لاسونه د مشرکانو څخه د دې کبله لنډ کړه چې د جنګ په صورت کښې به تاسو ذکر شوي نارینه او زنانه مؤمنان کسان د پښو لاندې کړئ او د هلاک سره به یې مخامخ کړئ.

و: په ﴿ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌ ﴾ کښې د ﴿ مَّعَرَّةٌ ﴾ کلمه د "عَرَّ" لکه "شَدَّ" څخه اشتقاقه شوې ده، "عر" هغه جلدي سخت مرض ته ویل کېږي په کوم باندې چې اوښان اخته کېږي[۲]، چې مونږ ترې په "پوم" سره تعبیر کوو، او هغه اوښ د پمن په نامه یادوو کوم ته چې دغه مرض رسېدلی وي.

خو ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: دغه کلمه د زړه سوي او خفګان معنی ورکوي، که د ﴿ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ کلمات په ﴿ أَن تَطَئُوهُمْ ﴾ پورې تعلق ونیسي. یعنې د هغوی د وژلو په صورت کښې به تاسو ته د خپلې ناپوهۍ د کبله زړه سوی در رسېده چې خپل همعقیده خلکو مو ووژل.

دوهم: او که ذکر شوي کلمات په ﴿ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم ﴾ پورې ارتباط ولري، نو دغه کلمه ﴿ مَّعَرَّةٌ ﴾ د پیغور او طعن څخه عبارت ګرځي. یعنې په دغه صورت کښې به تاسو ته د مشرکانو د پلوه پیغور متوجه کېده چې تاسو د خپلو همعقیده کسانو په وژلو باندې هم صرفه نه کوئ. حال دا چې دا پیغور به تاسو ته متوجه نه وه ځکه چې تاسو به ورباندې علم نه درلود.

ز: نو په همدې بنیاد د أبو حنیفه رحمه الله په نزد په لاندې صورتونو کښې مجاهدینو ته هیڅ ګناه نشته چې د کفارو سره وجنګېږي[۴]:

اول: چې د دوی په منځکښې خینې مؤمنان استوګنه ولري.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۹۲
(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۵۵
(۳) البحر المحیط ج۹ ص۴۹۶
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۹۴، تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: چې کفار د مؤمنانو بندیانو څخه د سپر (ډال) کار واخلي.

دریم: چې د کفارو ډله په ماشومانو او کافرو زنانه وو باندې مشتمله وي او داسې نور.

ح. که څوک وایي چې: په ﴿ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ ﴾ "ل" توری په کومې جملې پورې تعلق نیسي؟

مونږ وایو چې: دغه توری (ل) په بلې مقدرې جملې پورې تعلق لري په کومې باندې چې وړاندېنی مقدره جوابیه جمله دلالت کوي، څه لرې نه ده چې په "أَوْقَعَ اللهُ الصُّلْحَ" سره ترې تعبیر وکړی شي.

یعنې برسېره په دې چې الله ﷻ د طرفینو لاسونه د جنګ څخه لنډ کړه، د صلحې عقد ته یې هم صورت ورکړ ترڅو په خپل رحمت کښې هغه کسان داخل کړي کومو ته یې چې اراده وشي. یا په بل عبارت: ترڅو الله ﷻ توفیق ورکړي چې په خپله خوښه په ایمان مشرف وګرځي.

ط: لنډه دا چې په ﴿ وَلَوۡلَا رِجَالٞ ﴾ کښې د "لَوۡلَا" توری په لاندې دریوو مقدرو جملو باندې دلالت کوي:

اول: جوابیه جمله "مَا كَفَّ اللهُ أَيْدِيَكُمْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ".

دوهم: د ﴿ أَن تَطَـُٔوهُمۡ ﴾ د کلماتو دپاره متعلقه جمله "إِنَّمَا كَفَّ اللهُ أَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ".

دریم: د ﴿ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ ﴾ دپاره متعلقه جمله "أَوْقَعَ اللهُ الصُّلْحَ".

ي: د ﴿ لَوۡ تَزَيَّلُواْ لَعَذَّبۡنَا ﴾ الآية- کښې د زیات اهتمام دپاره هغه مضمون یو ځل بیا منعکس شوی دی او صراحت ورباندې صورت نیولی دی کوم ته چې د ایت شریف په اولنۍ جمله کښې اشاره شوې ده.

## حَمِيَّة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ﴾ کښې د "حَمِيَّة" کلمه د شدید غضب دپاره وضعه شوې ده[۱]، په حدیبیه مقام کښې د مشرکانو د غضب څه مثالونو ته د دې سورت په مقدمه کښې اشاره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ. خو په دې مقام کښې ورباندې د لاندې مثالونو ذکر وراضافه کوو:

الف: نبي کریم ﷺ د صلحې د لیک لیکونکي ته امر وکړ چې صلحنامه په "بسم الله الرحمن الرحیم" سره پیل کړه، خو د مشرکانو استازي (سُهَیل) وویلې چې: «أَمَّا الرَّحْمَنُ فَوَاللهِ مَا أَدْرِي مَا هُوَ وَلَكِنْ اكْتُبْ بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ»[۲] یعنې هر چې "الرَّحْمَن" دی نو په الله ﷻ سوګند دی چې زه یې نه پېژنم چې دا څه شی دی (نو د صلحې د خط شروع کول په "بسم الله الرحمن الرحیم" سره نه منم) مګر ولیکه چې: ای الله! ستا په نامه شروع کوم.

ب: بیا نبي کریم ﷺ لیکونکي ته امر وکړ چې داسې ولیکي: «هَذَا مَا صَالَحَ عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۲

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سُهَيْلَ بْنَ عَمْرٍو»⁽¹⁾ يعنې دا هغه مضمون دی په کوم باندې محمد رسول الله ﷺ د سهيل بن عمرو سره صلحه وکړه.

نو د مشرکانو استازي سمدستي انکار وکړ او وېې ويلې چې: د "محمد رسول الله" په عوض "محمد بن عبدالله" وليکه، که ته ما د "رسول الله" په صفت پېژاندلی نو جنګ به مې درسره نه کولی.

نبي کريم ﷺ د مشرکانو د استازي (سُهَيل) دواړه غوښتنې ومنلې او صلحنامه وليکله شوه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ کښې ﴿ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ د کومې کلمې څخه عبارت ده؟

مونږ وايو چې: د ﴿ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ په هکله علماوو کرامو متعدد تفسيرونه کړي دي⁽²⁾، خو د ټولو څخه بهتر تفسير هغه دی کوم چې د نبي کريم ﷺ څخه روايت شوی دی هغه دا چې: ﴿ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ د «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ» څخه عبارت ده⁽³⁾، دا ځکه چې په همدغې کلمې سره سړی د اور (دوزخ) څخه ساتل کېږي او نجات مومي.

خو هېر مو نه شي چې دغه ﴿ كَلِمَةَ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ د اشارې په توګه په هغو دوه وو کلمو باندې هم مشتمله ده د کومو د ليکلو څخه چې د مشرکانو نماينده (سُهَيل) انکار وکړ، چې تفصيل يې لږ وړاندې په دوهمه توضيح کښې تېر شو، والحمد لله ﷻ.

﴿ لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾ ﴾

[۲۷] الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته (ورلېدل شوی) خوب په حقه ربښتيا کړ چې:

هرومرو (او) ضرور به تاسو ان شاء الله په داسې حال کښې المسجد الحرام ته داخل شئ چې أمن درلودونکي به ياست او هم به خپل سرونه خريونکي او لنډوونکي ياست، (او) په داسې حال (به هلته اوسېدونکي ياست) چې (د هيڅا څخه) به نه دارېږئ.

نو الله ﷻ (د صلحې) په هغو (ګټو) باندې پوهېده په کومو باندې چې تاسو نه پوهېدلئ، نو

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۹۰؛ صحيح مسلم ج۲ ص۱۰۴
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۵۳۶؛ زاد المسير ج۷ ص۱۷۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۲؛ مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



المسجد الحرام ته د داخلېدلو څخه وړاندې يې (ستاسو دپاره د خيبر) فتحه وګرځوله (او درته يې په نصيب کړه).

[۲۸] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل پيغمبر (محمد ﷺ) يې په هدايت سره او د حق په دين (اسلام) سره د دې دپاره استولی دی چې دا (د اسلام دين) په ټولو دينونو باندې څرګند کړي (او په ټولو يې غالب وګرځوي). او (په همدې خبره باندې) الله ﷻ د شاهد په حيث بس دی (يوازې د همده ﷻ شهادت يې د صدق او تحقق دپاره کفايت کوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هغه مضمون نازل شوی دی کوم ته چې د دې سورت په مقدمه کښې اشاره شوې ده او په کوم سره چې نبي کريم ﷺ خپل ډېر نژدې ملګری (عمر ؓ) مخاطب کړی وه، نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د ډاډ او تسکين دپاره په خپلو صحابه وو کرامو ؓ باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ ای مؤمنانو! کوم خوب چې تاسو ته پيغمبر ﷺ اورولی وه الله ﷻ به هغه په راتلونکي کال کښې رښتيا کړي او په عين شکل سره به تاسو د عمرې مناسک اجراء کړئ. يا په بل عبارت: تاسو د عمرې اداء کول داسې وګڼئ لکه چې لا پخوا په حقه واقع شوي وي. نو:

الف: هرومرو ضرور به تاسو ـکه د الله ﷻ اراده وشيـ په راتلونکي کال کښې مسجد حرام ته په داسې حال داخل شئ چې تاسو به د هر حيثه د أمن خاوندان ياست، او هيڅوک به درته د لارې خنډ واقع نه شي.

ب: تاسو به هلته د عمرې مناسک په ښه اطمنان سره ترسره کړئ او خپلو احرامونو ته به خاتمه ورکړئ چې ستاسو ځينې کسان به د خپلو سرونو خريبوونکي وي او ځينې نور به يې لنډوونکي او بياتي کوونکي وګرځي. تاسو به هلته نه د مناسکو په اداء کولو کښې د چا څخه ډارېږئ او نه به درته په بېرته ستنېدلو کښې د چا څخه څه خطره موجوده وي.

۲ـ الله ﷻ پوهېده چې تاسو به په راتلونکي کال د عمرې مناسک په ښه شان سره اداء کړئ نو څکه يې دغه صورت حال خپل پيغمبر ﷺ ته په خوب کښې ورولید کړ. خو تاسو نه پوهېدئ، ستاسو ګومان وه چې دغه صورت حال به همدا سږ کال تحقق ومومي حال دا چې حقيقت دغسې نه وه.

الله ﷻ پوهېده چې په دغه تاخير کښې زښت ډېر حکمتونه نغښتي دي نو د همدې کبله يې ذکر شوی صورت حال وروسته کړ او د صلحې عقد يې ورباندې وړاندې کړ، او هم يې د خيبر نژدې فتحه رامنځته کړه، چې تاسو پکښې د ډېرو غنيمتونو خاوندان وګرځېدلئ.

۳ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل پيغمبر يې په هدايت سره لېږلی دی او ټول کاروبار يې په روښانه رڼا کښې ورته روان کړی دی، او همدارنګه يې په حق دين سره استولی دی ترڅو دغه حق دين په ټولو اديانو باندې غالب وګرځوي. نو په همدې بنياد:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د پیغمبر ﷺ هره یوه وینا وحي ده او هره یوه وحي واقعیت لري، برابره خبره ده چې په خوب کښې صورت ونیسي او که په ویښه.

ب: د پیغمبر د خوب رښتیا کول د همده ﷺ په نبوت باندې د الله ﷻ د پلوه د شهادت معنی ورکوي او د نورو معجزاتو څخه پرته یوازې همدغه شهادت هم کفایت کوي چې د نبوت منکرین ورباندې قناعت وکړي او د انکار څخه تېر شي. همدارنګه د الله ﷻ شهادت د دې خبرې د اثبات دپاره هم کافي دی چې د اسلام دین به په ټولو ادیانو باندې غالب وګرځي.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: په ﴿ لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا ﴾ الآیة- کښې د منافقانو د اعتراض مخه نیولې شوې ده چې د نبي کریم ﷺ خوب رښتیا نه شو چې د عمرې مناسک یې اداء نه کړې او د حدیبیې مقام څخه بېرته راستون شو[۱]. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دغه ایت شریف کښې به د صحابه وو کرامو ﷺ اطمنان مراد وي لکه چې د دې سورت په مقدمه کښې ورباندې څه رڼا اچولې شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ او دا ځکه چې په ایت شریف کښې همدوی مخاطب ګرځولې شوي دي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د ﴿ صَدَقَ ﴾ کلمه د "یَصْدُقُ" په معنی سره ده چې کله-کله د راتلونکي متحقق الوقوع شي څخه په ماضي سره تعبیر کولی شي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: مکې معظمې ته خو د مؤمنانو داخلېدل متحقق او یقیني وه، نو د څه حکمت په بنیاد په ﴿ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ جملې سره مقید وګرځولی شوه چې په شک باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۲]، بهتر قول دا برېښي چې دلته الله ﷻ بندګانو ته هغه کلمات په عین شکل سره رانازل کړي دي کوم چې نبي کریم ﷺ ته د پرښتې د پلوه په خوب کښې وحي شوي وه، ترڅو ترې د قیامت تر ورځې پورې بندګان عبرت واخلي او په خپلو راتلونکو اخباراتو کښې د ﴿ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ جمله هېره نه کړي.

لنډه دا چې دا ﴿ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ﴾ کلمات د خوب کلمات دي چې په عین شکل سره راحکایت شوي دي.

## د قصر څخه حلق بهتر دی

۳ـ د احرام څخه د خپل ځان د حلالولو په وخت کښې نارینه وو محرمانو ته د خپل سر د قصر (لنډولو) څخه حلق (خرېل) بهتر دي، او دا ځکه چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ په تکرار سره وفرمایل

(۱) تفسیر الطبري ج۲۶ ص۱۰۷

(۲) روح المعاني ج۲۶ ص۱۲۰؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۳۴۵؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: «اللَّهُمَّ ارْحَمْ الْمُحَلِّقِينَ»[1] یعني ای الله! ته په سر خریونکو باندې رحم وکړې. او په دریم یا څلورم وار یې ورسره د سرلنډوونکي هم ملګري کړه چې: ای الله! په دوی باندې هم رحم وکړې.

## هېر مو نه شي

۴ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا ﴾ کښې د "ما" توری د هغو حکمتونو څخه کنایې دی کومو ته چې وړاندې په [الفتح:۲۵] ایت کښې اشاره شوې ده، چې په بې علمۍ سره مؤمنان ونه وژلی شي او هم خینې مشرکان په خپله خوښه په ایمان مشرف وګرځي.

ب: په ﴿ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾ کښې خینو مفسرینو کرامو د ﴿ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾ کلمات د صلحې د عقد او د خیبر د فتحې په مجموعې سره تفسیر کړي دي[2]، خو مونږ ته بهتر برېښي چې دلته هم ذکر شوي کلمات یوازې د خیبر په فتحې سره تفسیر کړی شي لکه څنګه چې عین کلمات په [الفتح:۱۸] ایت کښې په همدغې فتحې سره تفسیر کړی شوي دي.

ج: د ﴿ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ ﴾ الآیة په مضمون سره یو بل ایت شریف وړاندې په [التوبة:۳۳] کښې تېر شوی دی، نو هیله ده چې د دې ایت د ښه وضاحت دپاره هلته یو ځل مراجعه وکړی شي چې د اسلام د دین اظهار پکښې ډېر ښه تشریح شوی دی، والحمد لله ﷻ.

﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ۖ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا ۖ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ ﴾

[۲۹] محمد (ﷺ) د الله ﷻ پیغمبر دی.

او هغه کسان کوم چې د ده ﷺ سره (ملګري) دي (هغوی) په کفارو باندې سخت دی (او) په خپلو منځو کښې (یو تربله) مهربانان دي.

ته هغوی رکوع کوونکي (او) سجده کوونکي (لمونځ کوونکي) ګورې چې (په عبادت سره) د الله ﷻ څخه لوی فضل او لویه رضامندي غواړي. په مخونو کښې یې د سجدو (عبادت) د اثراتو د

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۳۳ - مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۴۶۴

(۲) تفسیر الطبري ج۲۶ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله خپلي (د دینداري) نښي شته.

او دغه (ذکر شوی صفت) په تورات کښي د هغوی صفت دی، او په انجیل کښي د هغوی صفت د داسي یو کښت په څېر دی چي (په ابتداء کښي) خپل تېغ (د کمزوري په حال د خمکي څخه) راوباسي، نو بیا یې قوي کړي نو (په وروورو) بیا کلک شي نو په خپل ډډ باندي ودرېږي (آن تردي چي) پخپله بزګران (دهقانان) په حیرانتیا (تعجب) کښي واچوي

(الله ﷻ هغوی ته معجزانه وده) د دي دپاره (ورکوي) چي کفار پرې په قهر کړي (حال دا چي هیڅ شی به یې د وسي پوره نه وي)

الله ﷻ هغو کسانو ته د (لوی) مغفرت او لوی اجر وعده ورکړې ده کومو چي سوچه ایمان راوړی دی او صالح عملونه یې کړي دي. چي د همدغو (صحابه وو کرامو ﷺ) څخه عبارت دي

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وراندېنیو ایتونو کښي دا مضمون هم شامل وه چي حق دین به ضرور په ټولو ادیانو باندي غلبه مونده کړي. په دي ایتونو کښي هغو شرطونو ته اشاره شوي ده کوم چي د غلبي موندلو اسباب دي نو حاصل یې داسي راځېږي

۱ــ محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی او د الله ﷻ د پلوه په حقه سره د خلکو د هدایت دپاره استولی شوی دی ترڅو په ټولو اهل الادیانو باندي غلبه ومومي او دا څکه چي د ده ﷺ ملګري د لاندي صفاتو درلودونکي دي

الف دوی په خپلو منځو کښي یو تربله مهربانان او زړه سوونکي دي او په کفارو باندي سخت زړي دي چي د مقابلي په وخت کښي دوی د خپلو دیني ورونو په څنګ کښي درېږي. نه د کفارو په څنګ کښي

ب ای پیغمبره! ته خپل ملګري ګوري چي رکوع کوونکي او سجده کوونکي (عبادت کوونکي) دي. او په عبادت کښي ډېر زیار ویستونکي دي

ج ستا ملګري په خپل هر یو کار سره د الله ﷻ د پلوه فضل غواړي او یوازي د همده ﷻ رضامندي حاصلول یې مطلب دی. چي د ریاکارۍ څخه بیزار دي

د ستا د ملګرو په مخونو کښي داسي نښاني شتون لري چي د عبادت د ډېروالي څخه نمایندګي کوي او لیدونکي یې پېژندلی شي چي دوی ډېر سجده کوونکي دي

هـ لنډه دا چي ستا ملګري لا په تورات کښي په همدغو صفاتو سره ستایلي شوي وه چي دغه ذکر شوي صفات په ولري. او همغي ستاینې اوس واقعیت مونده کړ

۲ــ ای پیغمبره! ستا د ملګرو ودي او ترقی ته په انجیل کښي د کښت سره تشبیه ورکړه شوي ده چي حاصل یې داسي راځېږي

الف ستا ملګري به په اول وخت کښي کمزوري وي لکه یو کښت چي په ابتداء کښي خپل نری او ډېر باریکه تېغ راوباسي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب بیا به دوی قوت مونده کړي لکه چې کښت خپل نری تبغ قوي کړي.

ج په ورو ورو به ستا د ملګرو څخه د قوت په موندلو سره یو کلک او پېړ ټولګی تشکیل شي لکه څنګه چې د کښت نری تبغ د غټې ونې خاوند جوړ شي.

د بیا به ستا ملګري په خپلو پښو ودرېږي او د هیچا د اثر لاندې به نه واقع کېږي لکه چې د کښت نری تبغ د ونې مرحلې ته ورسېږي او د بادو باران اثر ورباندې نه پرېوځي.

هـ لنډه دا چې ستا د ملګرو اجتماع به دومره قوتناکه جوړه شي چې پخپله ته به هم ورته په تعجب کښې واقع شې لکه چې دهقانان د خپل کښت قوت ته پخپله په تعجب کښې شي.

٣ـ ای پیغمبره! هرومرو او ضرور به الله ﷻ ستا ملګري ډېر زیات پیاوړي وګرځوي چې هیڅوک به یې د مقابلې توان ونه لري، البته دا د دې دپاره چې الله ﷻ د دوی په قوت سره کافران د غُصو په اور کښې وسوزي.

یا په بل عبارت: د هرې زمانې کفار ستا د ملګرو قوت نه خوښوي اوورباندې په غُصه کېږي خو الله ﷻ د دې کار کوونکی دی. او دا څکه چې

الله ﷻ د هغو کسانو سره وعده کړې ده کومو چې ایمان راوړی دی او نېک اعمال یې ورسره ضمیمه کړي دي چې ګناهونه به ورته وبښي او په دنیا او آخرت کښې به ډېر لوی اجرونه ورکړي، دغه ایمان راوړونکي او د نیکو اعمالو کوونکي همدا ستا د ملګرو څخه عبارت دي.

## توضیحات

١ـ په دې ایت شریف کښې د صحابه وو کرامو ﷺ څه اختصاصي صفاتو ته اشاره شوې ده چې د همدغو صفاتو په برکت الله ﷻ د اسلام دین ته په ټولو ادیانو باندې برلاسي ورکړه او دغه برلاسي تر هغه وخته پورې مخ په وړاندې روانه وه ترڅو چې په اسلامي اجتماع کښې ذکرو شوو صفاتو شتون درلود، خو کله چې دغو عالي صفاتو په نقصان شروع وکړه نو ذکره شوې برلاسي هم د خپله زوره ولوېده او روزمره مخ په کمزورۍ روانه شوه، چې په نتیجه کښې یوه اسلامي اجتماع په متعددو اجتماعګانو باندې ووېشله شوه.

نن ورځ په دغو متعددو اجتماعګانو کښې د صحابه وو کرامو ﷺ ذکر شوي صفات موجودیت نه لري، بلکې اضداد یې پکښې شتون لري، چې د کفارو دوستي یې خپلې کړې دي، په خپلو منځو کښې په اختلافاتو او دښمنیو اخته دي او حتی د کفارو سره یې اندیوالۍ کلکې کړې دي او حربي کفارو ته یې په خپلو خپلو ټاټوبو کښې جنګي اډې ورکړې دي چې د اسلامي حکومتونو په ضد ترې کار اخلي. نو څکه نن ورځ کفر مخ په وړاندې روان دی چې امریکایانو د عراق حکومت منحل کړ[1]، او نورو اسلامي حکومتونو ته یې تهدید متوجه کړ.

نن ورځ مونږ ته په ټوله نړۍ کښې داسې اسلامي حکومت په نظر نه راځي چې د کفري حکومت

(١) ٢٧/٧/١٤٢٤ هـ ق - ٢٠/١/١٣٨٢ هـ ش.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مقابلې توان ولري او په هر ارځیز دول یې خپل استقلال ساتلی وي او هیڅ کفري حکومت نه یې د دوستۍ لاس نه وي غځولی. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

نو د محمدي ګیله مونږ د امام مهدي رضي الله عنه ظهور او د عیسی علیه السلام نزول ته سترګې په لار پاستو، ترڅو دجالان د منځه یوسي او په ټوله نړۍ کښې اسلامي حکومت (اسلامستان) جوړ کړي.

اللَّهُمَّ أَيِّدِ الإِسْلَامَ وَالْمُسْلِمِينَ وَاخْذُلِ الْكَفَرَةَ وَالْمُبْتَدِعَةَ وَالْمُشْرِكِينَ، آمين يا ربَّ العالمين.

## د عالي صفاتو وضاحتونه

۲ـ د ذکرو شوو عالي صفاتو څه وضاحتونه لاندې ولولئ:

الف. الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴾ [المائدة: ۵۴] یعنې ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو د دین څخه بېرته واوړئ نو د بهر زړ به الله ﷻ د دین د نصرت دپاره داسې قوم راوړي (پیدا کړي) چې الله ﷻ به یې خوښوي او هغوی به د الله ﷻ سره محبت کوي، هغوی به په مؤمنانو باندې نرمي کوونکي وي او په کفارو باندې به سختي کوونکي وي.

ب. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ [التوبة: ۱۲۳] یعنې او کفار دې په تاسو کښې کلکوالی مونده کړي (تاسو په هغوی باندې کلکوالی ولرئ).

ج. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»[۱] یعنې ای کتونکیه! ته مؤمنان یو تربله په مهربانۍ او دوستۍ او نرمۍ کښې ګورې چې د یوه جسد غوندې عجیب صفت لري، هغه دا چې کله دغه جسد د یوه اندام د حیثه شکایت وکړي (مریض شي) نو متباقي اندامونه یې په بې خوبۍ او تبې سره یو تربله اواز وکړي (ټول بې خوبه او مریضان شي).

د. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا»[۲] یعنې یو مؤمن د بل مؤمن دپاره د ابادۍ (یوه تعمیر) غوندې دی چې ځینې برخې یې ځینې نورې کلکوي (او قوي کوي).

## سیما څه معنی؟

۲ـ په ﴿ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِ ﴾ کښې د "سِيمَا" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۲۷۳] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده چې په اصل کښې "وِسْمَى" وه او د نښې (علامې) معنی ورکوي. خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۸۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۱۰۱؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۲۵؛ تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۲۹۲؛ تفسیر الطبري ج۲۶ ص۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته د لمانځه هغه نښې مطلب دي کومې به چې د قیامت په ورځ څرګندې کړی شي[۱]، کومو ته چې په لاندې احادیثو کښې اشاره شوې ده:

اول: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَإِنَّ أُمَّتِي يَوْمَئِذٍ غُرٌّ مِنَ السُّجُودِ مُحَجَّلُونَ مِنَ الْوُضُوءِ»[۲] یعنې زه به د قیامت په ورځ خپل اُمتیان داسې پېژنم چې دوی به په دغې ورځ کښې د لمونځونو د کبله سپین خلېږي او د اودسونو د امله به یې پښې او لاسونه سپین (روښانه) کړی شوي وي.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «حَرَّمَ اللهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ»[۳] یعنې د قیامت په ورځ به الله ﷻ پرښتو ته امر وکړي چې د دوزخ څخه موحدین عاصیان راوباسئ، نو پرښتې به دغه ډول کسان د نورو دوزخیانو څخه په هغو آثارو او نښو سره پېژني کوم به چې د هغوی په اندامونو باندې د دنیاوي لمونځونو د کبله خلېږي. او دا ځکه چې الله ﷻ په دوزخ باندې حرام کړي دي چې د سجودو نښې وخوري او د منځه یې یوسي.

ب: مجاهد رحمه الله وایي چې: د "سیمًا" کلمې څخه په دنیا کښې معنوي آثار مطلب دي[۴]، لکه خشوع، تواضع او نور.

ج: ځینو نورو علماوو کرامو دغه کلمه په هغو حسي نښو باندې تفسیره کړې ده چې د ښه فراست او قوي ذهن خاوندان یې په دنیا کښې د خلکو په مخونو کښې لیدلی شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ يَعْمَلُ فِي صَخْرَةٍ صَمَّاءَ لَيْسَ لَهَا بَابٌ وَلَا كُوَّةٌ لَخَرَجَ عَمَلُهُ لِلنَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ»[۵] یعنې که چرته ستاسو یو کس (بالفرض) په یوه (ښویه) ډبره کښې کوم عمل وکړي چې نه دروازه لري او نه دریڅه، نو خلکو ته به یې عمل څرګند شي هر ډول عمل چې وي (ښه وي او که بد).

دوهم: عبد الله بن سلام رضي الله عنه په یوه حدیث کښې وایي چې: «فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهُ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ»[۶] یعنې کله چې ما د نبي کریم ﷺ مبارک مخ په ښه دقت سره وکوت نو پوه شوم چې دا د دروغژن سړي مخ نه دی.

## تبصره

۳ـ څرنګه چې وړاندېنې تفسیرونه سره څه منافات نه لري، نو څه لري نه ده چې د "ما یطلق

---

(۱) زاد المسیر ج۷ ص۱۷۴

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۱۳

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۰۶، صحیح مسلم ج۱ ص۱۰۱

(۴) الدر المنثور ج۷ ص۵۴۲، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۰۴، صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۶

(۵) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۸

(۶) سنن ابن ماجه ص۲۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



علیه السیما· (هر هغه شی چې د سیما اطلاق پرې کېږي) په ملحوظ تول اراده کړی شي چې ټولو په صحابه وو کرامو ﷺ کښې شتون درلود، او هم به پکښې د قیامت په ورځ شتون ولري.

## یو نحوي تحلیل

۴_ مفسرینو کرامو د ﴿ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ﴾ په نحوي تحلیل کښې متعدد اقوال کړي دي[۱]، خو مونږ دلته فقط یو تحلیل راخلاصه کوو هغه دا چې:

الف: د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه مبتدا ده او هغو صفاتو ته اشاره ده کوم چې په ایت شریف کښې وړاندې ذکر دي، او ﴿ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ ﴾ یې خبر دی. یعنې د نبي کریم ﷺ د صحابه وو کرامو ﷺ دغه ذکر شوی عجیب صفت په تورات کښې هم نازل شوی وه چې دوی به دغه دغه صفات ولري.

ب: د ﴿ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ ﴾ کلمات مبتدا ده او د ﴿ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ﴾ کلمات یې خبر دی. یعنې د نبي کریم ﷺ د ملګرو صفت په انجیل کښې د یوه کښت سره تشبیه کړی شوی وه چې په ورو ورو وده کوي.

## هیر مو نه شي

۵_ په دې مقام کښې باید لاندې ټکي هم هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ أَخْرَجَ شَطْأَهُ ﴾ کښې د "شطأ" کلمه د طرف دپاره وضعه شوې ده[۲]، خو دلته ترې د کښت هغه طرف مطلب دی کوم چې په اول خل د ځمکې څخه ظهور کوي، نو که مونږ یې په "تبغ" تعبیر کړو ان شاء الله ﷻ څه باک به یې نه وي.

ب: په ﴿ فَآزَرَهُ ﴾ کښې د "آزر" کلمه اصلاً د "أزر" ـ لکه "ضرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د الله ﷻ په توفیق د [طه: ۳۱] ایت لاندې به پوره تشریح شوې ده چې د قوت معنی ورکوي.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ د نبي کریم ﷺ ملګري په انجیل کښې د یوه کښت سره تشبیه کړي دي چې د ډېرې کمزورۍ په حالت کښې د ځمکې څخه خپل نرۍ تبغ (څوکه) راوباسي (را اوچت کړي)، بیا یې بنه قوي کړي چې بنه پېړ وګرځي او بالآخره په خپل ډډ (په خپلو پښو) ودرېږي او د هیڅ شي د اثر لاندې نه واقع کېږي، حتی دغه تدریجي قوت یې نور خلک لا څه بلکې پخپله دهقانان (کروندګران) په تعجب کښې واچوي او ورباندې خوښ شي.

همدارنګه د اسلام دین هم په ابتداء کښې ډېر کمزورۍ وه چې ورو ورو یې وده وکړه او په ټوله نړۍ کښې خور شو او ظهور یې وکړ[۳].

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۱۰۳
(۲) لسان العرب ج۱ ص۱۰۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه سوالونه او ځوابونه

۶_ دلته د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راپيدا کيدی شي.

الف: که څوک وايي: په ﴿ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلْكُفَّارَ ﴾ کښې د "ل" توری څه شي پورې تعلق نيسي؟

ځواب وايو چې: دغه توری په يوې مقدرې جملې پورې متعلق دی چې په "جَعَلَهُمُ اللهُ بِهٰذِهِ الصِّفَاتِ" سره ترې تعبير کيدلی شي[1]. يعنې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ ملګري په ذکرو شوو صفاتو سره د دې دپاره موصوف وګرځول ترڅو د همدغو صفاتو په سبب په کفارو باندې برلاسي مونده کړي او هغوی ورباندې په غصه شي. او د غُصې څخه په غير يې نور هيڅ شی د وسې وړنه شي چې د پرمختګ مخه يې سده کړي.

ب: که څوک وايي: دا مقام د ضمير دی نو د څه حکمت په بنياد دلته د صحابه وو کرامو ؓ څخه په ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنْهُم ﴾ کښې په موصول سره تعبير نازل شو، او په ضمير سره تعبير نه کړی شو چې "وَعَدَهُمُ اللهُ" نازل شوی وی؟

ځواب وايو: والله ﷻ اعلم. دا د دې دپاره چې د دغې وعدې وجې ته اشاره وکړی شي چې صحابه کرام ؓ د سوچه ايمان او صالحو اعمالو درلودونکي وه نو ځکه ورته دغه وعده ورکړی شوه. نو د اشارې په توګه دغه وعده د قيامت تر ورځې پورې ټولو هغو کسانو ته شموليت لري کوم چې د سوچه ايمان او صالحو اعمالو درلودونکي جوړ شي.

همدغه مضمون په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مِنْهُم ﴾ په نزول سره تائيد شوی دی، او دا ځکه چې دلته د "مِن" توری د بعضيت دپاره نه بلکې د بيان دپاره دی[2]. يعنې صحابه کرام ؓ د همدغو کسانو څخه عبارت دي چې قوي ايمان لري او د صالحو اعمالو خاوندان دي.

**اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.**

**د الله ﷻ په مرسته د "الفتح" سورت پښتو ترجمه او تفسير پای ته ورسيد، او ټولې ستاينې خاص الله ﷻ لره دي.**

**۱۴۲۴/۲/۱۴ هـ ق - ۱۳۸۲/۱/۲۸ هـ ش.**

---

۱. التحرير والتنوير ج۱۵ ص۱۲۸

۲. تفسير الکشاف ج۴ ص۳۴۸

Scanned by CamScanner

# الحجرات (٤٩)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت د نورو سورتونو څخه د "اَلْحُجُرَات" په نامه بېل شوی او همدغه نوم يې د همدې سورت د څلورم ايت څخه اخستلی شوی دی.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۱]:

الف: د ايتونو شمېر يې فقط اتلس (۱۸) دی.

ب: د کلماتو شمېر يې درې سوه او درې څلوېښتو (۳۴۳) ته رسېږي.

ج: د حروفو شمېر يې يو زر څلور سوه او اوه شپېتو (۱۴۶۷) ته پوره شوی دی.

۳_ دا سورت ټول مدني سورت دی او ټول ايتونه يې د هجرت څخه وروسته په مدينه منوره کښې نازل شوی دی[۲].

۴_ د دې سورت (اَلْحُجُرَات) او د وړاندېنې سورت (اَلْفَتْح) لاندې مناسبات د مثال په توګه ولولئ:

الف: دواړه سورتونه د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي.

ب: هلته د يوې عظيمې فتحې بشارت نازل شوی وه چې په نتيجه کښې به مؤمنان د قوي حکومت او قوي اجتماع خاوندان وګرځي، او دلته د قوي حکومت او اجتماع د ساتنې أصول او د عالي اخلاقو مجموعې ته اشاره شوې ده.

ج: هلته د کفارو سره د چال چلند کيفيت نازل شوی وه او دلته د باغيانو سره د چال چلند لار ښوولې شوې ده.

د: په دواړو سورتونو کښې مؤمنان پوه کړی شوي دي چې د نبي کريم ﷺ توقير او تعظيم ته ادامه ورکړي او په هيڅ حالت کښې يې د نظره ونه غورزوي او داسې نور.

۵_ بالآخره، په دې سورت کښې د نورو مدني سورتونو غوندې احکام مطرح شوي دي او په مکارم الأخلاق باندې ډېر ټينګار شوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ۝١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ۝٢ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ

(۱) تفسير الخازن ج۶ ص۳۷
(۲) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۳۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَظِيمٌ ﴿٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلْحُجُرَٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا۟ حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر په مخکښې وړاندېوالی مه کوئ، او د الله ﷻ څخه وډار شئ، یقیناً الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی.

[۲] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو خپل اوازونه د نبي کریم ﷺ د اواز د پاسه مه اوچتوئ او هم ورته په خبرې سره داسې جهر مه کوئ لکه ستاسو د خینو کسانو خینو نورو ته جهر کول، چې (نېک) اعمال به مو ضائع شي حال دا چې تاسو به ورباندې شعور (خبرتیا) درلودونکي نه یاست.

[۳] یقیناً هغه کسان کوم چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ په نزد خپل اوازونه ټیټوي دغه هغه کسان دي د کومو زړونه چې الله ﷻ د تقوی (پرهېزګاری) دپاره سوچه ګرځولي دي. د همدوی دپاره (د الله ﷻ په نزد) عظیم الشان مغفرت او ډېر لوی اجر دی.

[۴] یقیناً هغه کسان کوم چې تاته د کورونو (انګړونو) ترشا نارې وهي، اکثره یې د هوښیارۍ څخه کار نه اخلي.

[۵] او که چرته یقیناً دوی ترهغه صبر کړی وی (او نارې یې نه وی وهلې) ترڅو چې ته ورته (په خپله خوښه) راوتلی وی، نو هرومرو دا کار به ورته ډېر بهتر وه.

او الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی (که دوی د ذکر شوي کار څخه توبه تائب شي نو مغفرت به ورته وکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت (الْفَتْح) وروستنی ایت په هغې عالي اخلاقو مشتمل وه کوم چې صحابه وو کرامو ﷺ درلوده او یا یې باید ټول مؤمنان د قیامت تر ورځې پورې ولري. په دې ایتونو کښې د همدغو عالي اخلاقو او کریمه خویونو بیان تعقیب شوی دی چې باید صحابه کرام ﷺ یې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ د ارشاداتو په وړاندې ولري او یا یې باید ټول مؤمنان د ایت او حدیث په ارتباط د قیامت تر ورځې پورې خپل کړي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه شروع کړه او په خپل اُمت باندې د خپل رب ﷻ د پلوه څه اخلاقي ارشادات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ ـ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت خپل خانونه اداره کړئ نو:

الف د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ په وړاندې په هیڅ قول او فعل کښې مخکښوالی مه کوئ او ارشاد ته منتظر اوسئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. تاسو خپل قول او فعل ته په ارشاداتو باندې ترجیح مه ورکوئ چې د ارشاداتو په تعمیل کښې سستي یا تنبلي وکړئ.

ج. د الله ﷻ څخه ووار شئ چې الله ﷻ ستاسو د ټولو اقوالو او پېژندونکی دی او په ټولو کړو وړو باندې مو پوه دی. هسې نه چې د تخلف په صورت کښې دربانديې عذاب درنازل کړي.

۲ـ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت د نبي کریم ﷺ په حضور کښې لاندې ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ:

الف. تاسو د پیغمبر ﷺ په اواز باندې خپل اواز مه اوچتوئ، چې په لوړ اواز سره وغږېږئ او د هغه ﷺ اواز د خپل اواز د اثر لاندې واقع کړئ. البته کله چې نبي کریم ﷺ خبرې کوي.

ب. او کله چې نبي کریم ﷺ چپ وي نو تاسو ورته په ډېر لوړ اواز سره خبرې مه کوئ لکه څنګه چې تاسو خپلې کسان خپلو نورو ته په لوړ اواز سره خبرې کوئ. یا په بل عبارت تاسو نبي کریم ﷺ د خپلو خانونو غوندې عادي سړی مه ګڼئ او عالي شان یې مه هېروئ.

ج. هسې نه چې د اواز په اوچتولو او یا په زوره خبرو کولو سره ستاسو نیک اعمال ضائع شي حال دا چې تاسو به وربانديې شعور او خبر نه لرئ. نو په خپلو خبرو او خپلو اوازونو کښې د احتیاط څخه کار واخلئ او بې احتیاطي مه کوئ.

۳ـ یقیناً کوم کسان چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ په حضور کښې خپل اوازونه ټیټه کړي او په لوړو اوازونو سره نه غږېږي دغه ډله هغه کسان دي د کومو زړونه چې الله ﷻ د تقوی او دینداری دپاره امتحان کړي او تیار کړي دي. او ایمان یې په زړونو کښې ځای نیولی دی چې هر قول او فعل ته د ایمان په رڼا کښې اقدام کوي. په دې باندې علاوه همدغې ډلې کسانو ته د الله ﷻ د پلوه عظیم الشان مغفرت او ډېر لوی اجر ټاکلی شوی دی.

۴ـ ای پیغمبره! یقیناً کوم کسان چې تانه د حجرو د شاوخوا څخه چیغې وهي چې هله ژر شه راووځه چې زمونږ درسره کار دی. د دوی اکثره سادګان دي او د عقلونو څخه کار نه اخلي او تانه د یوه عادي سړي خیال کوي. نو که دوی د عقلونو څخه کار اخستی وی او تر هغه پورې یې صبر کړی وی ترڅو چې ته ورته په خپله خونه راوتلی وی نو دا به ورته ډېر بهتر وه او الله ﷻ به ورته اجر ورکاوه. نو د بې صبری د کبله یې خپل ځانونه ګنهګاران کړل.

څرنګه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او مهربان دی نو که دغه سادګان د خپلو ګناهونو څخه مغفرت وغواړي او په خپلو کړو وړو پښېمانه شي څه لرې نه ده چې الله ﷻ ورته مغفرت او عفوه وکړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ ﴾ الایه. کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف. څرنګه چې د دې سورت ارشادات په صالحه ټولنه کښې ډېر زیات اهمیت لري. نو د اٰلسو (۱۸) ایتونو څخه یې پنځه ایتونه په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ سره پیل شوي دي چې باید د قوي ایمان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خاوندان وربانديې عمل وکړي او ګټه ترې پورته کړي

ب د ﴿لا تُقَدِّمُوا﴾ کلمه د "التَقدِیْم" ـ لکه "التَکْرِیْم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام کښې علماوو کرامو د "التَقدِیْم" دپاره متعدد تفسیرونه کړي دي[1]، خو مونږ ته دا تفسیر جامع او بې تکلفه برېښيدلی دی چې: دلته "التَقدِیْم" متعدي نه دی بلکې لازم دی او د "التَقدُّم" معنی ورکوي لکه چې کله‌کله "التَبیِین" د "التَبیُّن" په معنی سره استعمالېږي[2].

ج د ﴿بَیْنَ یَدَیِ اللهِ﴾ کلمه د کنايې په توګه د "قُدَّام" څخه عبارت ده[3]، چې مونږ ترې په "وړاندې" سره تعبير کولی شو. نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ بَیْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ»[4] يعنې د قيامت د قيام په وړاندې به ډېر دروغژنان (د نبوت مدعيان) ظهور وکړي نو تاسو ترې ودار شئ او ځېل ځانونه ترې بچ وساتئ.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) په دې مقام کښې د ﴿بَیْنَ یَدَیِ اللهِ وَرَسُولِهِ﴾ کلمات په "کتاب الله" او "سُنَّةُ الرَّسُول" سره تفسير کړي دي[5]. برابره خبره ده چې د نبي کريم ﷺ د ژوند حالت وي او يا د وفات حالت.

نو د پورتنيو نکاتو په ملحوظ د ايت شريف حاصل داسې راځيږي چې:

اې مؤمنانو! تاسو د "کتاب الله" او "سُنَّةُ الرسول" په وړاندې مخکښېدل مه کوئ چې د شرعي ارشاد څخه وړاندې ځېل نظر څرګند کړئ بلکې تاسو منتظر اوسئ چې شريعت څه هدايت درکوي.

ﻫ د ذکر شوي ايت شريف د شان نزول په ارتباط مفسرينو کرامو متعدد واقعات ليکلي دي[6]، خو مونږ فقط د لاندې يوې واقعې په ذکر باندې اکتفاء کوو چې ذکر شوی مضمون پکښې ډېر ښه منعکس شوی دی.

عبد الله بن الزبير رضي الله عنه وايي چې: مدينې منورې ته د بني تميمو يوه جرګه راغله (او په ايمان باندې مشرفه شوه) نو د دغې جرګې د امير په ټاکلو کښې لا نبي کريم ﷺ اقدام نه وه کړی چې يوه واقعه پېښه شوه هغه دا چې:

ابو بکر الصديق رضي الله عنه ووېلې چې اې د الله رسوله! د دغې جرګې دپاره القعقاع بن معبد د امير په حيث وټاکه. او عمر الفاروق رضي الله عنه وړانديز وکړ چې اې د الله رسوله! دغې جرګې ته الأقرع بن حابس د امير په حيث وټاکه.

په همدې موضوع کښې د دواړو شيخينو رضي الله عنهما اوازونه پورته شوه او جګړې زور واخست. نو

---

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۳۴۹، تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۰۶
(۲) أضواء البيان ج۷ ص۶۱۳، تفسير أبي السعود ج۸ ص۱۱۶
(۳) القاموس المحيط ج۴ ص۴۷۲، لسان العرب ج۱۵ ص۴۲۵
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۱۲
(۵) تفسير الطبري ج۲۶ ص۱۶۶
(۶) تفسير القرطبي ج۱۶ ص۳۰۲، روح المعاني ج۲۶ ص۱۳۳، زاد المعاد ج۷ ص۱۷۷، أسباب النزول للواحدي ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ، «فَلَمَّا انْقَضَتِ الْآيَاتُ»[1] یعنی تر څو چې ایت شریف پوره نازل شو او ارشاد تکمیل شو

۶. د ایت شریف مضمون او ارشاد د معاذ رضی الله عنه په حدیث کښې هم څه منعکس شوی دی چې لنډ مضمون یې دا دی چې نبی کریم ﷺ د یمن په لور د معاذ رضی الله عنه د لیږلو په وخت کښې د قاضي په حیث ورسره دا لاندې سوال جواب وکړ

نبی کریم ﷺ: ای معاذه! ته به په قضاياوو کښې په څه سره حکم کوې؟

معاذ رضی الله عنه: ای د الله رسوله! زه به د هر څه فیصله د الله ﷻ په کتاب سره فیصله کوم

نبی کریم ﷺ: که مطلوب حکم د الله ﷻ په کتاب کښې په صراحت سره موجود نه کړې نو بیا به څه کوې؟

معاذ رضی الله عنه: بیا به د رسول الله ﷺ په سنتو سره فیصله کوم

نبی کریم ﷺ: که د رسول الله ﷺ په سنتو کښې هم مطلوب حکم په نظر درنه شي نو بیا به څه کوې؟

معاذ رضی الله عنه: بیا به زه د کتاب الله او سنة الرسول په رڼا کښې د خپل فکر څخه کار اخلم او د مطلوب حکم په موندلو کښې به هیڅ قصور نه کوم

نبی کریم ﷺ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ لِمَا يُرْضِي رَسُولَ اللَّهِ»[2] یعنی شکر د الله ﷻ دی شاباسه ده چې د خپل پیغمبر استازي ته یې د هغې طریقې توفیق ورکړ کومه چې د ده ﷺ پیغمبر ﷺ خوشالوي او راضي یې کړي

## سوال جواب

۲. که څوک وایي چې نیک اعمال هم په کفر او ارتداد سره ضائع کیږي او په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې د نبی کریم ﷺ توهین او قصدي ایذاء کفر او ارتداد دی[3]. نو پوښتنه دا ده چې د «أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ» د جملې څخه په ښکاره سره څرګندیږي چې د نبی کریم ﷺ په مکالمه کې مطلق اواز پورته کولو او په لوړ اواز خبره کولو کښې هم د نیکو اعمالو د ضائع کیدلو خطره شته که څه هم توهین او ایذاء په نظر کښې نه وي؟

جواب دا چې په دې مقام کښې علماوو د نبی کریم ﷺ د عالي شان په ارتباط د خطر اعلان نازل شوی دی او د عمومي قاعدې بیان مطلب نه دی تر څو ذکر شوی اعتراض وارد شي

په هغه چې جواب باندې د «وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ» د جملې تعقیب دلالت کوي یعنی د دې خطر شته چې د نبی کریم ﷺ په حضور کښې اواز اوچتول او شور ماشور کول د اعمالو د ضائع کیدلو سبب وګرځي حال دا چې تاسو به دغه خطر باندې شعور نه لرئ. او دا ځکه چې تاسو ته د اعمالو د

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۹
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۱۴۹، مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۲۳۲، جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۹
(۳) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۱۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضیاع دپاره یوازې ارتداد او کفر سبب جوړېدل بربښي او بس.

## د ایت شریف ښه وضاحت

۳ــ د ایت شریف ښه وضاحت ته د نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره شوې ده هغه دا چې: «إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ فَيَكْتُبُ اللهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ فَيَكْتُبُ اللهُ عَلَيْهِ بِهَا سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ»[۱] یعنې یقینًا ستاسو یو کس د الله ﷻ د رضامندۍ څخه په یوې کلمې باندې تکلم کوي او ګومان نه کوي چې دا کلمه به هغه مقام ته ورسېږي کوم ته چې هغه رسېدلې ده (هغه دا چې) نو الله به ورته پرې خپله رضامندي آن تر قیامته پورې ولیکي (د نېکیو کولو توفیق به ورکړي). او ستاسو یو کس د الله ﷻ د غضب څخه په یوې کلمې باندې تکلم کوي او ګومان نه کوي چې دا کلمه به هغه ځای ته ورسېږي کوم ته چې رسېدلې ده (هغه دا چې) نو الله ﷻ به پرې (ورته) خپل غضب آن تر هغې ورځې پورې ولیکي په کومه کښې چې نوموړی د الله ﷻ سره ملاقي کېږي.

## یوه مسئله

۴ــ علماء کرام وایي چې د ذکر شوي ایت شریف په استناد په کار دي چې د نبي کریم ﷺ د مبارک قبر ترڅنګ هم مؤمنان نه په اوچت اواز سره خبرې وکړي[۲]، او نه په لوړ اواز سره دعاوې ولولي. همدارنګه مؤمنانو ته مناسب دي چې همدغه آدب د آحادیثو په درس کښې هم د پامه ونه غورزوي[۳].

## د "إمتحان" د کلمې معنی

۵ــ په ﴿ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰ ﴾ کښې د ﴿ ٱمۡتَحَنَ﴾ کلمه د "إِمْتِحَان" څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام کښې "إِمْتِحَان" د تصفیه کولو[۴] او پراخولو[۵] معنی ورکوي. یعنې کوم کسان چې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې خپل اوازونه ټیټوي د هغوی زړونه په حقیقت کښې الله ﷻ تصفیه کړي دي او د تقوی دپاره یې پکښې پراخي موجوده کړې ده او شک شبهې ته یې پکښې ځای نه دی پرېښی.

د ښه وضاحت دپاره د تصفیه کړی شوو کسانو لاندې مثالونه ولولئ:

الف: د نبي کریم ﷺ په حضور کښې به صحابه کرام ﷺ داسې غلي اوارام ناست وه چې: «كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرُ»[۶] یعنې لکه چې یقینًا په سرونو باندې یې مرغان ناست وي (که څه حرکت وکړي نو مرغان به والوزي).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸؛ صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۹
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۰۷
(۳) روح المعاني ج۲۶ ص۱۳۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۷
(۵) القاموس المحیط ج۴ ص۲۱۱؛ لسان العرب ج۱۳ ص۴۰۱
(۶) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۱۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. د ذکر شوي ایت شریف د نزول څخه وروسته به عمر الفاروق ﷺ د نبي کریم ﷺ په حضور کښې په دومره ټیټ اواز سره خبرې کولې چې پوښتنې ته به اړتیا پاتې کېده چې ته څه وایې[۱].

ج. کله چې دغه ایت شریف نازل شو، نو یو لوړ اوازی صحابي (ثابت بن قیس ﷺ) په خپل کور کښې غلی کېناست او په خپل خان باندې یې ژړل، چې زه دوزخي یم ما د نبي کریم ﷺ په حضور کښې په لوړ اواز سره خبرې کړې دي او نېک اعمال مې ضائع شوي دي. کله چې نبي کریم ﷺ ته د نوموړي صحابي ﷺ د حال اطلاع ورکړه شوه نو وېې فرمایل چې: «بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ»[۲] یعنې نوموړی دوزخي نه دی بلکې د جنتیانو څخه دی.

د دغه عظیم الشان بشارت څخه وروسته ذکر شوي صحابي ﷺ عهد وکړ چې زه به د دې څخه وروسته هیڅکله د نبي کریم ﷺ په اواز باندې خپل اواز اوچت نه کړم[۳].

## څو نُکات

۶_ د ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلْحُجُرَٰتِ﴾ الآیة- په ارتباط لاندې نکات په یاد ساتل په کار دي:

الف. د دغه ایت په شان نزول کښې مفسرینو کرامو متعدد واقعات لیکلي دي[۴]، څه لرې نه ده چې ذکر شوی ایت شریف د ټولو واقعاتو څخه وروسته نازل شوی وي او په هرې یوې واقعې باندې یې د شان نزول اطلاق وکړی شي.

ب. د دغو واقعاتو څخه یوه واقعه د بني تمیمو واقعه ده چې ځینو علماوو کرامو په تفصیل سره لیکلې ده خو مونږ یې فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: د هجرت نهم کال ته د عام الوفود (د جرګو کال) لقب ورکړی شوی دی[۵]، چه په دغه کال کښې د عـ ـې قبائلو جرګې نبي کریم ﷺ ته راماتې شوې او د خپلوخپلو قومونو څخه به یې نمایندګي کوله او په ایمان باندې به مشرفېدلې.

دوهم: د دغو جرګو څخه یوه د بني تمیمو جرګه وه چه د کسانو تعداد تقریباً اویا تنو ته رسیده.

درېم: د دغې جرګې څخه یوه کس چې الأَقرع بن حابس نومېده د نبي کریم ﷺ د کوټو ترشا په لوړ اواز سره نارې کړې چې: "یَا مُحَمَّدُ إِنَّ حَمْدِي زَيْنٌ وَإِنَّ ذَمِّي شَيْنٌ" یعنې ای محمده! (ماته نه راووځه چې) زما ستاینه ښایست دی او زما غندنه عیب دی. نو نبي کریم ﷺ ورته جواب ورکړ چې: «ذَاکُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ»[۶] یعنې دغه الله ﷻ دی چې ستاینه یې ښایست دی او غندنه یې بدرنګي (عیب) دی یا په بل عبارت: عزت او ذلت یوازې د الله ﷻ په اختیار کښې دی او بس.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۲
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۷۵؛ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۷۵
(۳) روح المعاني ج۲۶ ص۱۳۷
(۴) الدر المنثور ج۷ ص۵۵۲؛ البحر المحیط ج۹ ص۵۰۹
(۵) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۳۰۹؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۱۸
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۳۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څلورم: که څه هم د نبي کريم ﷺ د کورونو ترشا يوازې الأقرع بن حابس په لوړ اواز سره غږ کړی وه چې هله ژر شه راووځه چې مونږ د ډېر محترم خلک ياستو: مګر په ايت شريف کښې ټولې جرګې ته د چيغو کولو نسبت وکړی شو. او دا ځکه چې د نوموړي په چيغه کولو باندې هغوی ټول راضي وه او نوموړي د هغوی په استازيتوب چيغه وهله.

او دا هم څه لرې نه ده چې ځينو کسانو د نبي کريم ﷺ يوه کور ته چيغه کړې وي او ځينو نورو يې نورو کورونو ته چيغې وهلې وي، او يا يوازې همدغه يو سړی د نبي کريم ﷺ د کورونو څخه چارچاپېره تاو شوی وي او د هر کور سره يې يوه يوه چيغه اوچته کړې وي.

پنځم: دغه جرګه هم په ايمان مشرفه شوه[1]، او د مشر په ټاکنه کښې يې د أبو بکر الصديق ﷺ او عمر الفاروق ﷺ ترمنځ هغه اختلاف پېښ شو کوم ته چې وړاندې د لومړۍ توضيح په پنځمه کړۍ کښې اشاره شوې ده.

ج: په ايت شريف کښې د ﴿ ٱلْحُجُرَٰتِ ﴾ کلمه د "حُجْرَة" ـ لکه "غُرْفَة" ـ جمعه ده، د ځمکې هغې برخې ته د "حُجْرَة" نوم اېښودلی شوی دی کومه چې احاطه کړی شوې وي او د خلکو د تېرېدنې راتېرېدنې مخه ترې نيولی شوې وي[2]، لکه باغچه او يا د اوښانو چوغالي او د ګډو پنډغالي او داسې نور.

د: په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْحُجُرَٰتِ ﴾ کلمې څخه کوټې مراد نه دي بلکې د نبي کريم ﷺ هغه کورونه ترې مطلب دي کوم چې د کوټو لرونکي وه، څه لرې نه ده چې مونږ ترې په انګړونو سره تعبير وکړو.

هـ: د نبي کريم ﷺ د کورونو په هکله لاندې لنډ معلومات[3] هېر نه کړئ:

اول: نبي کريم ﷺ د وفات په وخت کښې نهه بېبيانې درلودې او د هرې يوې دپاره يې بېل بېل کور ټاکلی وه، نو د کورونو تعداد يې نهو ته رسېده.

دوهم: هر يوه کور د انګړ د وره څخه د کوټې تر دروازې پورې شپږ يا اوه ګزه فاصله درلوده.

درېيم: د هرې کوټې داخل يې لس مربع ګزونه اټکل شوي دي.

څلورم: د کوټې په داخل کښې د ولاړ سړي لاس چت ته رسېده.

پنځم: ذکر شوي مبارک کورونه د عائشې رضي الله عنها د کور څخه په غير نور ټول د الوليد بن عبد الملک د حکومت په دوران کښې تخريب کړی شوه او نبوي جومات وړباندې پراخه کړی شو. حال دا چې په دغه کار باندې د وخت ټول خلک خپه او په ژړا شوه.

شپږم: د عائشې رضي الله عنها په کور (کوټه) کښې نبي کريم ﷺ او د ده ﷺ دوه نژدې ملګري دفن کړی شوي دي چې يو د عائشې رضي الله عنها پلار أبو بکر الصديق ﷺ او بل عمر الفاروق ﷺ دی، او هم به

---

(۱) سيرت ابن هشام ج۴ ص۱۳۲
(۲) لسان العرب ج۴ ص۱۶۸
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۵۵۴؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۳۹؛ البحر المحيط ج۹ ص۵۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پکښې عیسی ﷺ دفن کړی شي البته کله چې د قیامت په نژدې وخت کښې د اسمان څخه رانښکته شي او د ټاکلي ژوند څخه وروسته وفات شي.

## یادونه

۷ـ رئیس المفسرین عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د خپلو استاذانو په وړاندې هغه چال چلند خپل کړی وه کوم چې د نبي کریم ﷺ په هکله په ایت شریف کښې نازل شوی دی[1]. همدارنګه علامه الالوسي علیه الرحمه هم همدغه ارشاد آن د ماشومتوب تر وخته خپله تګلاره ټاکلې وه، شاید چې د همدغې تګلارې په برکت به ورته الله ﷻ په علومو کښې ښه پوره برخه ورکړې وي، والله ﷻ أعلم.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوْمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَٰدِمِينَ ﴿٦﴾ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ ٱلْكُفْرَ وَٱلْفُسُوقَ وَٱلْعِصْيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ﴿٧﴾ فَضْلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعْمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٨﴾ ﴾

[۶] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! که چېرته تاسو ته فاسق (بدکار سړی) په مهم خبر سره درتګ وکړي، نو تاسو (پکښې) پوره څېړنه وکړئ (سمدستي ورباندې عمل مه کوئ) چې تاسو به (د عمل په صورت کښې) په ناپوهۍ سره یوه قوم ته مصیبت ورسوئ نو په هغه کار باندې به پښېمان وګرځئ کوم چې تاسو کړی وي (خو بیا وخته پښېماني به درته څه ګټه ونه رسولی).

[۷] او تاسو پوه شئ چې په تاسو کښې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ موجود دی، که په ډېرو کارونو کښې ستاسو د نظر پیروي وکړي نو تاسو به په مشقت کښې واقع شئ (حال دا چې پیغمبر ﷺ ستاسو مشقت نه خوښوي)، مګر (تاسو دغسې نظرونه نه وړاندې کوئ او دا ځکه چې) الله ﷻ تاسو ته ایمان محبوب ګرځولی دی او په زړونو کښې یې درته ښایسته کړی دی، او کفر او د شرعي چوکاټ څخه وتل او نافرماني کول یې درته (ټول په زړونو کښې) کرکجن ګرځولي دي. دغه ډله کسان چې دي همدوی په سمه لاره باندې تلونکي دي.

[۸] (او دا ځکه چې په سمه لاره تلل په دوی باندې) د الله ﷻ د پلوه لوی فضل او لوی نعمت دی، او الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی (هر څه ورته معلوم دي او ټول کارونه یې په حکمت باندې څرخېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو څخه په لومړي ایت کښې دوه وو تکو ته اشاره شوې وه، یو دا چې عجله مه

---

(۱) روح المعاني ج۲۶ ص۱۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوئ او بل دا چې په نبي کریم ﷺ باندې خپل نظر مه تحمیلوئ. په دې ایتونو کښې د عدم مراعات په صورت کښې د همدغو دوارو ټکو د خطرونو یو-یو مثال ښودلی شوی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! خپل اُمت مخاطب کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې:

۱- ای مؤمنانو! تاسو په ټولو کارونو کښې عموماً او د شرعي احکامو په لاس ته راوړلو کښې خصوصاً هیڅ عجله مه کوئ. نو په همدې بنیاد:

الف: که چرته تاسو ته یو فاسق سړی (چې په فسق سره شهرت لري) او یا مستور الحال سړی (چې د فسق د اشتباه لاندې وي) څه مهم خبر درورسوي نو تاسو د دغه خبر په مقتضی په عجله سره اجراءات مه کوئ بلکې ښه تحقیق پکښې وکړئ چې خبر یې حقیقت لري او که څنګه؟، نو د تحقیق او پلټنې څخه وروسته بیا مناسب اقدام وکړئ.

او دا ځکه چې که بالفرض پرته د تحقیقه تاسو څه غبرګون څرګند کړئ نو څه لرې نه ده چې د پښېمانۍ سره به مخامخ شئ، خو د دغه وخت پښېماني به درته هیڅ په ګټه تمامه نه شي. البته دا په هغه وخت کښې چې ذکر شوی خبر دروغین خبر وي او هیڅ واقعیت ونه لري.

ب: تاسو پوه شئ چې ستاسو په منځکښې د الله ﷻ پیغمبر موجودیت لري، تاسو په هر کار کښې انتظار وباسئ چې الله ﷻ خپل پیغمبر ته په څه ډول سره وحې کوي. که بالفرض تاسو وحې ته منتظر نه شئ او د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته د خپل نظر وړاندیز وکړئ او نبي کریم ﷺ هم ستاسو نظر په ډېرو کارونو کښې قبول کړي نو څه لرې نه ده چې په ډېرو کارونو کښې خطرناک کارونه هم شمولیت ولري او تاسو پکښې د حرج او مشقت سره مخامخ شئ، نو په دې صورت کښې به مو په خپل لاس خپل ځانونه په لا شعوري توګه په حرج او مشقت کښې اچولي وي حال دا چې نبي کریم ﷺ ستاسو حرج نه خوښوي او ستاسو دپاره د اسانۍ غوښتونکی دی.

۲- مګر ای مؤمنانو! تاسو دغسې نه یاست چې په ډېرو کارونو کښې د نبي کریم ﷺ څخه د خپلو نظرونو غوښتونکي جوړ شئ، یا په بل عبارت: تاسو په نبي کریم ﷺ باندې خپل نظریات نه تحمیلوئ، او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ ستاسو په زړونو کښې تاسو ته ایمان محبوب ګرځولی دی او په چا باندې مو چې ایمان راوړی دی هغه درته ډېر ګران دی.

ب: ستاسو په زړونو کښې درته الله ﷻ ایمان ښایسته کړی دی نو خپل پیغمبر ﷺ هم درته په زړونو کښې ښایسته او لوړ مقام لري

ج: الله ﷻ تاسو ته کفر او د شریعت د چوکاټ څخه وتل او هم د خپل پیغمبر ﷺ څخه نافرماني ناخوښه ګرځولې ده. نو تاسو د دغه شیانو څخه د ډېر زیات نفرت درلودونکي یاست.

د همدې کبله تاسو د خپل نظر په تحمل باندې ټینګار نه کوئ او ستاسو د جملې څخه چې کوم یو د خپل نظر په تعمیل زور اچولی وه هغه ترې پښېمانه او توبه تائب ګرځېدلی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! دغه ډله کسان کوم چې د ذکرو شوو عادتونو درلودونکي دي همدوی په سمه لاره باندې تلونکي دي، او د ضلالت د لارې څخه د خپلو خانونو په ژغورلو کوونکي دي.

البته چې دغه خاصیتونه ورکول د الله ﷻ د پلوه ډېر لوی فضل دی او ډېر لوی نعمت دی چې تاسو ته درکړی شوی دی. او الله ﷻ ډېر ښه پوه دی، د دغې ډلې د کسانو خاصیتونه ورته ښه پوره معلوم دي چې په زړونو کښې یې ورته ثابت ګرځولي دي، او هم د حکمت څښتن دی چې ستا د ملګرو سره همدغسې خاصیتونه ډېر ښه تناسب لري.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په هکله متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] چې مونږ یې فقط یو روایت[۲] په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: نبي کریم ﷺ الولید بن عقبه ﷺ ولېږه چې د بني المصطلق د قبیلې څخه راغونډ کړی شوي زکاتي مالونه مدینې منورې ته را انتقال کړي.

ب: کله چې هغوی د نوموړي (الولید ﷺ) په ورتللو خبر شوه نو د خوشالۍ د کبله یې استقبال ته راووتل، خو نوموړی ﷺ ترې وډار شو او ګومان یې وکړ چې دوی زما د وژلو دپاره لاره نیولې ده، شاید چې چا به ورته غلط راپور ورکړی وي.

ج: نوموړی ﷺ د نیمایي لارې څخه بېرته ستون شو او نبي کریم ﷺ ته یې اطلاع ورکړه چې بني المصطلق د زکاتي مالونو ورکړې ته حاضر نه وه او غوښتل یې چې ما قتل کړي.

د: نبي کریم ﷺ دغې قبیلې ته د خالد بن ولید ﷺ په مشرۍ یو ټولګی مجاهدین ورواستول، ترڅو موضوع تحقیق کړي چې ایا ربښتیا بني المصطلق مرتدان شوي دي او ربښتیا یې د الولید بن عقبه ﷺ د قتل پلان جوړ کړی وه، که دا خبر ربښتیا وي نو جهاد دې ورسره وکړی شي. خو په نتیجه کښې دغه اطلاع غلطه ثابته شوه، او الله ﷻ وراندېني ایتونه نازل کړه.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا صحت لري چې په ﴿ جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ ﴾ کښې د "فاسق" کلمه په ذکر شوي (الولید بن عُقبه ﷺ) سره تفسیره کړی شي کوم چې د نبي کریم ﷺ صحابي دی او عالي شان لري؟

مونږ وایو چې: که څه هم صحابه کرام ﷺ د ګناه څخه د پیغمبرانو غوندې په عصمت کښې نه وه او امکان یې درلود چې د نوموړي صحابي (الولید ﷺ) څخه دروغ صادر شوي وي او بیا ترې توبه تائب شوی وي، مګر په جواب کښې وایو چې:

اول: ذکر شوی روایت ضعیف دی او دا څکه چې که بالفرض ذکر شوې قیصه ربښتیا پېښه شوې وی نو د هجرت په نهم کال کښې به پېښه شوې وی چې عام الوفود (د جرګو کال) نومېږي، حال دا چې یو کال وړاندې د هجرت په اتم کال -چې مکه معظمه پکښې فتحه شوې وه- نوموړی

(۱) تفسیر الطبري ج۲٦ ص۱۲۳، اسباب النزول للواحدي ص۲٦۱
(۲) مسند احمد بن حنبل ج٦ ص۳۹٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صحابي (الولید بن عقبه ﷺ) ماشوم وه او د ماشومانو په ډله کښې نبي کریم ﷺ ته وروستلی شوی وه چې دعاء ورته وکړي او په سر باندې یې مبارک لاس راکش کړي[۱].
نو ایا دا امکان لري چې په یوه کال کښې نوموړی د دې جوګه شوی وي چې د زکاتونو د راغونډولو دپاره کوم طرف ته واستولی شي؟
دوهم: که بالفرض روایت کمزوری ونه ګڼو نو په جواب کښې وایو چې: په ایت شریف کښې د ﴿ فَاسِقٌۢ ﴾ د کلمې څخه هغه څوک مراد دی چا چې نوموړی صحابي (الولید ﷺ) ته دروغین راپور ورکړی وه چې ته وژل کېږې (بېرته ستون شه)، او نوموړي ﷺ ورباندې بدون د تحقیقه باور کړی وه چې نبي کریم ﷺ ته یې پرې اطلاع ورکړې وه.
په همدې جواب باندې د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ خطاب دلالت کوي، او دا ځکه چې که دلته د الولید بن عقبه ﷺ اطلاع مطلب وي نو "یاأیها النبي" به نازل شوی وی.
دریم: څه لرې نه ده ـ والله ﷻ اعلم ـ چې په دې مقام کښې به د خبریال څخه ـ که څه هم عادل وي ـ د دې دپاره د "فَاسِق" په کلمې سره تعبیر نازل شوی وي ترڅو مؤمنان ترغیب کړی شي چې په خطرناکه موضوع کښې د عادل خبریال خبر هم بدون د تحقیقه قبول نه کړی شي او د فاسق خبریال د خبر غونډې پکښې پلټنې ته صورت ورکړی شي.

## څو ارشادات

۲ـ د ذکرو شوو ایتونو څخه لاندې ارشادات هم د اشارې په توګه معلومېږي:
الف: په ﴿ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ ﴾ کښې د "نَبَأ" کلمه د ډېر مهم او خطرناک خبر دپاره وضعه شوې ده[۲]، نو په همدې بنیاد د ذکرې شوې کلمې څخه لاندې حکمونه هم د اشارې په توګه څرګندېږي:
اول: کوم خبر چې خطرناک نه وي بلکه ګټه یې یقیني وي د هغه په قبول او تعمیل کښې سرعت او تلوار په کار دی. الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ ﴾ [آل عمران: ۱۳۳] یعنې ای مؤمنانو! تاسو د خپل رب ﷻ مغفرت او جنت ته په تلوار سره ورودانګئ چې یو د بل څخه وړاندې کېدونکي یاست.
دوهم: کوم خبر چې خطرناک نه وي او قبول یې هم ضرور نه وي د هغه په قبول کښې هم پلټنه ضرور نه ده. د مثال په توګه: که څوک د چا کور ته د ننوتلو اجازه وغواړي او د فاسق پیردار د پلوه ورته خبر ورکړی شي چې تاته اجازه درکړه شوه، کور ته داخل شه. نو د دغه خبر په قبول کښې پلټنې ته څه ضرورت نشته[۳].
ب: لکه څنګه چې د خطرناک خبر په قبول کښې پلټنه ضرور ده همدارنګه پرته د پلټنې څخه د

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۲۰
(۲) مفردات الراغب ص۵۰۰
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغسې خبر رد هم ښه کار نه دی. د ښه وضاحت دپاره بايد د [النساء:۹۴] ايت شان نزول ته يو ځل مراجعه وکړی شي چې د احاديثو په رڼا کښې يې هلته څه مثالونه تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

لنډه دا چې نبي کريم ﷺ په تلوار سره يوازې د خطرناک خبر قبول يا رد ته د شيطاني کار لقب ورکړی دی چې: «الْأَنَاةُ مِنَ اللهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ»[1] يعنې ارامي (نه تلوار) د الله ﷻ د پلوه دي او تلوار کول د شيطان د پلوه دي.

ج: د ﴿لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ﴾ څخه ځرګندېږي چې نبي کريم ﷺ په ځينو موضوعاتو کښې د صحابه وو کرامو ﷺ وړانديزونه قبول کړي دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې يو مثال ولولئ:

د بدر په غزا کښې نبي کريم ﷺ يو ځای د مرکز په حيث وټاکه، خو الحباب بن المنذر ﷺ بل ځای ته اشاره وکړه چې دغه ځای د مرکز ګرځولو دپاره بهتر دی، نبي کريم ﷺ سمدستي د خپل نظر څخه تېر شو او د ذکر شوي صحابي ﷺ وړانديز يې قبول کړ[2].

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ﴾ الآية- کښې د "لكن" توری د هغه تَوَهُّم د پورته کولو دپاره وضعه شوی دی کوم چې د وړاندېني کلام څخه د چا په ذهن کښې خطور کوي: نو په دې مقام کښې پورته کړی شوی توهم د څه شي څخه عبارت دی؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه وه چې د وړاندېني کلام څخه د چا په ذهن کښې تېر شوي وی چې صحابه وو کرامو ﷺ به د نبي کريم ﷺ په حضور کښې زښت ډېر وړانديزونه کول نو ځکه ذکر شوی ارشاد نازل شو، حال دا چې حقيقت داسې نه وه او دا ځکه چې: ﴿وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ﴾ الآية- يعنې ای صحابه وو کرامو! که څه هم په خطرناکو موضوعاتو کښې ستاسو د پلوه وړانديز کول ښه عواقب نه لري، مګر الله ﷻ په تاسو باندې فضل کړی دی او د ايمان په قوت سره يې تاسو داسې جوړ کړي ياست چې ايمان درته محبوب دی او د جنايتونو څخه اجتناب کوئ.

يا په بل عبارت: تاسو د ذکرو شوو وړانديزونو څخه خانونه په جدي توګه په څنګوئ او که کوم يو وړانديز درڅخه صادر شوی وي د هغه څخه توبه تائب ياست.

ذکر شوي مضمون ته په لاندې حديث کښې اشاره شوې ده چې:

يو سړي د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ايمان څه شی دی؟

نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ»[3] يعنې چې کله ته خپلې نېکۍ خوشاله کړې او خپلې بدۍ خپه کړې نو ته (رښتياني) مؤمن يې.

﴿وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱
(۲) سيرت ابن هشام ج۱ ص۲۵۹
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلۡأُخۡرَىٰ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِۚ فَإِن فَآءَتۡ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَا بِٱلۡعَدۡلِ
وَأَقۡسِطُوٓاْۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٩﴾ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٠﴾

[۹] او که د مؤمنانو څخه دوه ډلې (یو تربله) سره په جنګ (او جګړه) شوې نو تاسو د دواړو ترمنځ اصلاح وکړئ (د جګړې مخه یې ونیسئ).

نو که چېرته یوې ډلې په بلې ډلې باندې (د اصلاح څخه وروسته) بغاوت (او تېری) وکړ (او یا یې بالکل اصلاح ونه منله) نو تاسو د هغې ډلې سره جنګ وکړئ کومې چې بغاوت غوره کړی دی، (البته) تر هغه پورې ترڅو چې بغاوت کوونکې ډله د الله ﷻ امر (شریعت) ته راجع شي (او د بغاوت څخه لاس واخلي).

نو که چېرته (د الله ﷻ د امر منلو ته) راجع شوه نو تاسو د دواړو (متخاصمو) ډلو ترمنځ په عدل (انصاف) سره اصلاح وکړئ او جَور (تېری) مه کوئ (خکه چې) یقیناً الله ﷻ انصاف کوونکي (او تېری نه کوونکي) کسان خوښوي.

[۱۰] بې شکه ټول مؤمنان (دیني) ورونه دي نو تاسو د خپلو دوه وو ورونو ترمنځ اصلاح وکړئ.
او د الله ﷻ څخه وډار شئ شاید چې رحم (مهرباني) درباندې وکړی شي.

## شان نزول او ارتباط

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې علماوو کرامو ګڼ شمېر واقعات لیکلي دي[۱]، د مثال په توګه:

۱ـ ځینې علماء کرام وايي چې: دا ایتونه د هغې شخړې په ارتباط نازل شوي دي کومې چې د اوس او خزرج (د انصارو د دوه وو قبیلو) ترمنځ صورت نیولی وه او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۱۰۳] ایت لاندې مشرحه لیکلې ده.

۲ـ ځینې نورو د دې ایتونو د شان نزول دپاره هغه شخړه ټاکلې ده کومې چې د صحابه وو کرامو ﷺ او د رئیس المنافقین (عبدالله بن اُبَي) د ملګرو ترمنځ یې صورت نیولی وه، او سوک څپېړې پکښې تبادله شوې وې، چې څه بیان یې د "المنافقون" په سریزه کښې ـ ان شاء الله ـ راروان دی.

خو دغه روایات څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې هر یو یې شان نزول ومنلی شي.

اما د دغو ایتونو د ارتباط وجه دا ده چې وړاندېنې ایتونه د دې دپاره نازل شوي وه چې باید مؤمنان د شخړو د پېښېدلو مخه ونیسي او په دې ایتونو کښې د پېښو شوو شخړو د محوه کولو لارې چارې ښودلې شوې دي، چې هغې او دغې چال چلند ورسره وکړئ. نو حاصل یې داسې راځېږي:

[۱] صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۰، الدر المنثور ج۷ ص۵٦۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! تاسو تر خپلې وسې وسې پورې زيار وباسئ چې د مؤمنانو ترمنځ شخړې او جګړې پېښې نه شي، او كه چرته پېښې شوې نو بايد تاسو لاندې چال چلند خپل كړئ:

۱ـ بايد تاسو دواړو جنګيالانو ډلو ته د نندارچيانو په حيث ونه ګورئ بلكې زيار وباسئ او د دواړو ترمنځ روغې جوړې ته صورت وركړئ او د جنګ مخه يې ونيسئ.

۲ـ كه په دغو دواړو جنګيالانو ډلو كښې يوې ډلې ستاسو هلې ځلې قبولې نه كړې او په بله ډله باندې يې خپل بغاوت او تېري ته ادامه وركوله، نو بيا هم تاسو قرار مه كېنئ چې د جنګ ننداره يې وكړئ او بس بلكې په دې صورت كښې تاسو د هغې ډلې سره ملګري شئ كومه چې په حقه وي او د بلې بغاوت كوونكې ډلې په مقابل كښې ورسره ترهغه لاس يو كړئ ترڅو چې دغه ډله د خپل بغاوت او تيري څخه لاس واخلي او د الله ﷻ امر (شريعت) ته غاړه كېږدي.

۳ـ بيا تاسو زيار وباسئ چې د دواړو جنګيالانو ډلو څخه د حكميت (جرګې) واک اختيار ترلاسه كړئ او د دوی ترمنځ روغه جوړه وكړئ.

۴ـ نو د دغه (منځګړيتوب) په صورت كښې تاسو د عدل او انصاف څخه كار واخلئ او يو طرفه قضاوت مه كوئ. او دا ځكه چې:

الف: الله ﷻ بې انصافه كسان نه خوښوي بلكې انصافداران خوښوي، تاسو زيار وباسئ چې الله ﷻ درڅخه په انصاف كولو سره راضي شي.

ب: يقيناً ټول مؤمنان ديني وروڼه دي، په عارضي جګړو سره يې ديني ورورولي د منځه نه ځي، حال دا چې دواړو جانبو د جګړو څخه لاس اخستی دی او ستاسو منځګړيتوب (جرګې) ته راجع شوي دي، نو داسې يې وګڼئ چې تاسو د دوه ورونو ترمنځ فيصله كوئ نه د دوه وو دښمنانو ترمنځ.

يا په بل عبارت: تاسو په نظر كښې ولرئ چې د دواړو لورو عارضي دښمني ختمه كړئ او پخوانۍ ورورولي يې ترمنځ را اعاده كړئ.

په دې باندې علاوه، تاسو اميد وكړئ چې په دغه صورت كښې به په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه مهرباني او رحمت وكړی شي او د ډېرې بهترې فيصلې توان به دركړی شي.

### توضيحات

۱ـ په ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ الآية- كښې لاندې ټكو ته توجه په كار ده:

الف: د ﴿ ٱقْتَتَلُواْ ﴾ كلمه د "اِقْتِتَال" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "تَقَاتُل" معنى وركوي، خو په دې مقام كښې د دواړو جانبو څخه مطلق جنګ او جګړه مطلب ده، برابره خبره ده چې د خولې نانډرۍ وي يا د سوک څپېړې جنګ وي او هم برابره خبره ده چې وژل پكښې واقع شي او يا نه[۱].

ب: په همدغې كلمه ﴿ ٱقْتَتَلُواْ ﴾ كښې د "النَّاس" په تاويل سره ﴿ طَآئِفَتَان ﴾ ته د جمعي ضمير

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۲۱؛ مفردات الراغب ص۴۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راجع کړی شوی دی چې د جنګ په حالت کښې د متعددو ډلو څخه یوه ډله تشکیلیږي. د همدې کلمه ورته په ﴿ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَا ﴾ کښې د ﴿ بَيْنَهُمَا ﴾ مثنی ضمیر راجع شوی دی چې په اصلاح سره ګډوډي د منځه ځي او د مجموعه جنګیانو څخه بېلې‌بېلې دوه ډلې جوړېږي لکه څنګه چې د جنګ د شروع څخه وړاندې دوه ډلې وې.

ج: په ﴿ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَا ﴾ کښې د هر ډول جګړې مخنیوی مطلب دی او لاندې دوه وو ټکو ته پکښې اشاره ده:

اول: چې تاسو جنګ بند کړئ ترڅو اصلاح ته لاره هواره شي، په روانه جګړه کښې خو اصلاح امکان نه لري.

دوهم: چې تاسو په هغې ډلې باندې پړه واچوئ کومه چې د جنګ په پیل کولو کښې ملامته وي.

د: په ﴿ فَإِنۢ بَغَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا ﴾ کښې د "ف" د توري څخه څرګندېږي چې که ملامتې ډلې خپله پړه ونه منله او د زور (بغاوت) څخه یې کار واخست، نو په مؤمنانو باندې د مظلومې ډلې ملاتړ او د ظالمې ډلې مقابله په کار ده ترڅو یې زور اوبه شي او حق ته غاړه کېږدي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا»[1] یعنې ای مؤمنه! ته د خپل ورور سره نصرت وکړه برابره خبره ده چې نوموړی ظالم وي او یا مظلوم، (په اول صورت کښې یې د ظلم مخه ونیسه، او په دوهم صورت کښې ورته د ظلم څخه نجات ورکړه).

هـ: د ﴿ فَقَٰتِلُواْ ﴾ په کلمې سره ټول هغه مؤمنان د مراتبو په تفاوت سره مخاطب کړی شوي دي کوم چې په جنګ کښې لتهاړ نه وي، برابره خبره ده چې د اسلامي حکومت غړی وي او یا نور عادي افراد او ټولنې وي، نو په کار دي چې هرڅوک د خپل توان په اندازه د ظالمې ډلې د ظلم مخنیوی وکړي.

و: که چرته جګړماري دواړه ډلې ملامتې وي، البته یوه ډله په یو حیث او بله ډله په بل حیث چې یوې هم په بلې باندې په بغاوت کښې ترجیح نه درلوده، نو باید چې بې طرفه مؤمنان په دې صورت کښې د دواړو جګړمارو ډلو سره وجنګېږي[2].

ز: که ملامته او بغاوت کوونکې ډله په دواړو کښې ورکه وه او سړي نه شو کولی چې یوې ته د بغاوت کوونکې ډلې لقب ورکړي، نو په دغه صورت حال کښې پټه خوله کېناستل په کار دي.

لکه چې یو صحابي په یوه حدیث کښې علي رضي الله عنه ته ویلي دي چې: «إِنَّ خَلِيلِي وَابْنَ عَمِّكَ عَهِدَ إِلَيَّ إِذَا اخْتَلَفَ النَّاسُ أَنْ أَتَّخِذَ سَيْفًا مِنْ خَشَبٍ»[3] یعنې ماته خپل دوست او ستا د تره خوی (نبي کریم ﷺ) توصیه کړې ده چې کله خلک په اختلاف کښې واقع شوه (حال دا چې حقداره ډله نه پېژندل کېده، نو په کار دي) چې زه توره د لرګي څخه جوړه کړم (د یوې ډلې سره هم ملګرتیا ونه کړم).

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۰

(۲) البحر المحیط ج۹ ص۵۱٦؛ تفسیر القرطبي ج۱ ص۳۱۷

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

ح: که څوک وايي چې د څه حکمت په بنياد په ﴿ فَإِن فَآءَتْ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَا بِٱلْعَدْلِ ﴾ کښې د ﴿ فَأَصْلِحُواْ بَيْنَهُمَا ﴾ جمله په ﴿ بِٱلْعَدْلِ ﴾ سره مقيده وګرځولی شوه حال دا چې همدغه جمله لږ وړاندې بدون د قيده نازله شوې وه؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: شايد په دغې جمله کښې په خکه په ﴿ بِٱلْعَدْلِ ﴾ سره صراحت شوی وي ترڅو اصلاح کوونکي مؤمنان د اصلاح په صورت کښې خپله بې طرفي وساتي او د بغاوت کوونکې ډلې څخه په بې عدلی سره غچ وانخلي چې لږ وخت وړاندې ورسره په جنګ اخته وه.

ط: په همدې مطلب باندې د ﴿ وَأَقْسِطُوٓاْ ﴾ د جملې تعقيب هم دلالت کوي، څکه چې د "أَقْسِطُوا" کلمه اصلاً د "قِسْط" ـ لکه "عِلْم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د جَور او ظلم معنی ورکوي[۱]، خو همزه پکښې د سلب دپاره ده[۲]. يعنې ای مؤمنانو! په دغه وخت کښې تاسو په عدل (انصاف) سره اصلاح وکړئ او د ظلم او تيري څخه خپل ځانونه بچ وساتئ.

ي: اصلاح په لاندې دوه وو طريقو سره صورت نيولی شي:

اول: چې دواړه لوري مؤمنانو ته د حکميت (منځګړيتوب) واک او اختيار ورکړي، په دې صورت سره په بهتره توګه شخړه د منځه وړل کېدی شي.

دوهم: چې حکميت موجوديت ونه لري او صرف په دعوت او تذکير سره اصلاح صورت ونيسي، البته چې دا کمزورې ډول اصلاح ده.

يا: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې د ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴾ جمله ډېره ښه تفسيره کړې ده چې: «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ فِي الدُّنْيَا عَلَى مَنَابِرَ مِنْ لُؤْلُؤٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْنَ يَدَيْ الرَّحْمَنِ بِمَا أَقْسَطُوا فِي الدُّنْيَا»[۳] يقيناً په دنيا کښې ظلم او تېری د منځه وړونکي (انصافداران) به د قيامت په ورځ د ډېر مهربان الله ﷻ په حضور کښې د دې کبله د ملغلرو په ممبرونو (چوکيو) باندې ناست وي چې په دنيا کښې يې ظلم او تېری د منځه وړی وه او د عدل او انصاف څخه يې کار اخستی وه.

## يادونه

يب: د دغه ايت لاندې ځينو مفسرينو کرامو د باغيانو موضوع مطرحه کړې ده چې که د اسلامي حکومت څخه څوک بغاوت وکړي د هغوی په هکله شرعي حکم څه شی دی؟[۴]. همدارنګه ځينو نورو علماوو کرامو دغه اوږده موضوع په خپلو کتابونو کښې ښه پوره څېړلې ده[۵].

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۸

(۲) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۲۴

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۵۲

(۴) تفسير المظهري ج۹ ص۴۹؛ تفسير الخازن ج۶ ص۴۸؛ احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۹۸

(۵) اعلاء السنن ج۱۲ ص۴۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځرنګه چې دا کتاب د ډېرو اوږدو بحثونو حوصله نه لري نو مونږ د محترمو لوستونکو څخه هيله کوو چې هملته مراجعه وکړي، هغوی ورباندې د احاديثو په رڼا کښې ډېره ښه رڼا اچولې ده چې باغيان څوک دي او څو ډولونه لري؟، او همدارنګه يې هلته د صحابه وو کرامو ﷺ خپلمنځي جنګونه هم ډېر ښه تشريح کړي دي چې وروستنيو مؤمنانو ته پکښې توقف او سکوت بهتر دی.

## اسلامي ورورولي

٢ـ د ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ جمله په ډېرو احاديثو کښې تفسيره شوې ده چې ځينو مفسرينو کرامو يې يوه وړه مجموعه راغونډه کړې ده[١]، خو مونږ د نبي کريم ﷺ د يوه حديث په ذکر اکتفاء کوو چې فرمايي: «اَلْمُؤْمِنُ مِرآةُ الْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ يَكُفُّ عَلَيْهِ ضَيْعَتَهُ وَيَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ»[٢] يعنې (په اخلاص) يو مؤمن د بل مؤمن آينه ده (چې تېګي ورسره نه کوي) او يو مؤمن د بل مؤمن ورور دی چې ضائع کېدونکی شی ورباندې رابندوي (ضياع ته يې نه پرېږدي) او چارچاپېر يې احاطه کوي (په غياب کښې يې حفاظت کوي).

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا تَجَسَّسُوا۟ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ۝ ﴾

**[١١] ای هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! (ستاسو) هيڅ يو قوم دې د بل قوم څخه مسخرې (او ملنډې) ونه وهي شايد چې دغه (ملنډې وهلی شوی قوم) د هغوی (ملنډې وهونکي قوم) څخه (د الله ﷻ په نزد) غوره وي.**

**او نه دې (ستاسو) ځينې زنانه د نورو زنانه وو څخه (مسخرې او ملنډې ووهي) شايد چې دغه (ملنډې وهلې شوې زنانه د الله ﷻ په نزد) د هغوی (ملنډې وهونکو زنانه وو) څخه بهترې وي.**

**او تاسو خپلو ځانونو ته عيبونه مه نسبتوئ (خپل ورور ته پيغورونه مه ورکوئ) او تاسو يو تربله**

(١) تفسير القرطبي ج١۶ ص٣٢٣

(٢) سنن ابي داؤد ج٢ ص٣١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په بدو القابو (نوموټو) سره بلل مه کوئ (بد نومونه سره یو تربله مه ږدئ او دا ځکه چې) په ایمان سره د یادښت څخه وروسته په عصیان (فسق) سره یادېدل ډېر بد شی دی. (که تاسو د ذکرو شوو جنایتونو مرتکب شوي یاست نو توبه تائب شئ) او هر څوک چې (الله ﷻ ته) توبه تائب جوړ نه شي نو دغه ډله کسان همدوی (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي دي.

[۱۲] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د گومان څخه د ډېرو څخه اجتناب وکړئ (د احتیاط څخه کار واخلئ ځکه چې) خینې گومان گناه ده (چې پکښې واقع نه شئ).

او تاسو پټ عیبونه مه لټوئ او خینې د خینو نورو په غیاب کښې عیبونه مه ذکر کوئ، ایا ستاسو یو کس خوښوي چې د خپل ورور غوښه په داسې حال کښې وخوري چې هغه مړ وي؟ نو (ښکاره ده چې) تاسو دا (خوراک) نه خوښوئ.

او تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ. یقینًا الله ﷻ ډېر توبه قبلوونکی (او) ډېر مهربان دی.

[۱۳] ای خلکو! مونږ تاسو د یوه نارینه (آدم ﷺ) او یوې زنانه (حواء رضي الله عنها) څخه پیدا کړي یاست. او تاسو مو ډېرې څانگې او قبیلې د دې دپاره گرځولي یاست ترڅو تاسو یو تربله وپېژنئ.

یقینًا د الله ﷻ په نزد ستاسو ډېر معزز ستاسو زیات تقواداران دي (نو تاسو په نسب فخر مه کوئ بلکې تقوی خپله کړئ)، بې شکه الله ﷻ په هر شي پوه (او) خبردار دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او هغه ارشادات پکښې نازل شوي دي په کومو سره چې د جگړې د واقع کېدلو مخه نیوله کېږي، او همدارنگه دلته د اسلامي اخوت (ورورولی) مقتضیاتو نزول موندلی دی د کوم په بیان سره چې وړاندېني ایتونه ختم شوي وه. نو حاصل بې داسې راځېږي.

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې څه نور هغه ارشادات قرائت کړه د کومو په ذریعه چې اسلامي اخوت پیاوړی کېږي او هم ورباندې د جگړو او جنگونو مخه نیوله کېږي. نو:

۱ـ د الله ﷻ د پلوه یې مخاطب کړه چې ای مؤمنانو!

الف: ستاسو خینې قومونه دې په خینو نورو قومونو باندې مسخرې او ملنډې نه وهي چې خپل ځانونه ورباندې بهتر وبولي او هغوی ته د اهانت او سپکاوي په سترگه وگوري چې خلک وریورې وخاندي. او دا ځکه چې څه لرې نه ده چې همغوی د الله ﷻ په نزد د ملنډو وهونکو قومونو څخه بهتر وي او د خندا په عوض د آفرین لیاقت ولري.

ب: ستاسو خینې زنانه دې په خینو نورو زنانه وو باندې خپل ځانونه بهتر نه گڼي چې د حقارت په نظر ورته وگوري او خلک وریورې وخندوي او یا وریورې پخپله وخاندي. او دا ځکه چې تاسو د خندا وړ کسان نه پېژنئ، څه لرې نه ده چې مسخره کړی شوې زنانه د الله ﷻ په نزد د مسخره کوونکو زنانه وو څخه غوره او بهترې وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: تاسو د خپلو خانونو عیب مه وایاست. یا په بل عبارت: تاسو د خپلو دیني ورونو (مؤمنانو) عیبونه مه په ډاګه کوئ، دا کار په حقیقت کښې د خپلو خانونو عیبونه په ډاګه کول دي. او دا ځکه چې هر مؤمن د خپل ورور دپاره هغه څه خوښوي کوم چې د خپل خان دپاره یې خوښوي، نو بل ته عیب خوښول په حقیقت کښې خپل خان ته عیب خوښول دي.

د: تاسو په بدو القابو سره بلل مه کوئ، لکه چې چاته ووایې: ای ګوډه!، ای ړونده! او داسې نور، دا ډول بلل هم د کینې او عداوت سبب جوړېدلی شي.

هـ: ای مؤمنانو! تاسو ذکر شوي درېواړه ارشادات په عمل کښې پلي کړئ که نه نو تاسو به په کامل ایمان سره د یادښت څخه وروسته په فسوق او عصیان سره یاد شئ، حال دا چې دغه ډول یادښت ډېر بد کار دی. یا په بل عبارت: په دغه صورت کښې به تاسو د کامل مؤمن د لقب څخه وروسته د فاسق په لقب یاد شئ چې دا ډېر بد لقب دی.

و: ای مؤمنانو! ستاسو د جملې څخه چې هر چا د ذکر شوو ارشاداتو څخه سرغړونه کړې وي هغوی دې توبه تائب شي او په خپله کړنلاره باندې دې پښېمان شي، که نه نو دوی به په خپلو خانونو باندې د تېري او ظلم کوونکو کسانو څخه وشمېرل شي.

۲ـ همدارنګه د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه چې:

الف: ای مؤمنانو! تاسو د ډېرو ګومانونو څخه خانونه وساتئ او بې دلیله په چا باندې بدګومان مه کوئ، او دا ځکه چې د ځینو ګومانونو په سبب تاسو په ګناه کښې اخته کېږئ، نو تاسو ډېر احتیاط وکړئ چې خپل خانونه په لوی لاس په ګناه کښې اخته نه کړئ.

ب: تاسو جاسوسي مه کوئ او د خلکو په عیبونو پسې مه ګرځئ (خپل مؤمنان ورونه مه شرموئ).

ج: ستاسو ځینې کسان دې د ځینو نورو غیبت نه کوي او د هغوی په غیاب کښې دې د هغوی داسې یادونه نه کوي کومه چې د خبرتیا په صورت کښې د خفګان لامل ګرځي.

دغه کار په حقیقت کښې د خپل مړه ورور د غوښو خوړل دي نو ایا ستاسو څخه څوک دا خوښوي چې د خپل مړه ورور د کالبوت څه غوښې وخوري؟، پوره څرګنده ده چې د دغو غوښو خوړل تاسو نه خوښوئ. نو په همدې بنیاد تاسو ته توصیه کېږي چې په غیاب کښې یو د بل عیبونه هم مه بیانوئ.

د: ای مؤمنانو! تاسو په هر کار کښې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د غیبت په شمول د هر ډول ګناه څخه توبه تائب وګرځئ. او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ ډېر توبه قبلوونکی او ډېر مهربان دی.

۳ـ ای پیغمبره! ټول خلک (د الله ﷻ د پلوه) مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای خلکو! تاسو د پیدایښت په لحاظ ځینې په ځینو نورو باندې هیڅ فضیلت نه لرئ، او دا ځکه چې مونږ تاسو ټول د یوه نارینه (آدم ﷺ) او یوې زنانه (حواء رضي الله عنها) څخه پیدا کړي یاست، ستاسو د ټولو اصل یو دی، نو یو قوم بل قوم ته سپک نظر مه کوئ او په نسبونو باندې فخر مه کوئ او دا ځکه چې:

ب: مونږ د دې دپاره تاسو اولسونه او قبیلې نه یاست ګرځولي چې ستاسو د افتخار سبب وګرځي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې د دې دپاره مو په دغو نومونو باندې ویشلي یاست ترڅو تاسو سره یو تربله وپېژنئ او په راکړه ورکړه کښې درته په درد وخوري. که بالفرض مونږ ستاسو خلقت د څارویو غوندې جوړ کړی وی نو په پېژاندلو کښې به د سختو ستونزو سره مخامخ شوي وی، او په دې باندې علاوه په دغه صورت کښې به ستاسو ترمنځ صله رحمي او توارث هم تحقق نه وی موندلی.

ج: لنډه دا چې د الله ﷻ په نزد یوه قبیله او یو قوم په بلې قبیلې او بل قوم باندې هیڅ فضیلت نه لري، بلکې د الله ﷻ په نزد هغه څوک ډېر معزز او د کرامت څښتن دی کوم چې د خپل رب ﷻ څخه ډېر ډارېدونکی وي، نور نو د هر قوم څخه چې وي، وي به.

په همدې بنیاد که تاسو بالفرض فخر کوئ نو په تقوی سره فخر وکړئ نه په نسبونو سره. یقیناً الله ﷻ په تاسو او ستاسو په اعمالو باندې پوره علم لري او ستاسو په ټولو حالاتو باندې باخبره دی.

## توضیحات

١ـ د ذکرو شوو ایتونو د هر ایت دپاره بلکې تقریبًا د هرې یوې جملې دپاره مفسرینو کرامو متعدد شان نزولونه لیکلي دي[١]، نو که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي چې مونږ یې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو راحکایت کولی.

## د "سُخرِیَة" معنی

٢ـ په ﴿ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ ﴾ کښې د ﴿ لَا يَسْخَرْ ﴾ کلمه د "سُخْرِیَة" څخه اشتقاقه شوې ده، "سُخْرِیَة" د چا په هکله د هغه کار څخه عبارت ده کوم چې د حاضرینو د خندا سبب جوړېږي، چې متعدد صورتونه لري[٢] لاندې بیلګې یې ولولئ:

الف: چې په قول سره څوک توهین کړی شي او ملنډې ورپورې ووهلی شي.

ب: چې د سترګو په اشارو یا د لاس او یا سر په ښورولو سره ورپورې حاضرین وخندولی شي.

ج: چې په لیک یا پېښو کولو سره خندول او ټوکې ټکالې صورت ونیسي او داسې نور.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نبوي احادیث ولولئ:

اول: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ يُضْحِكُ بِهَا جُلَسَاءَهُ يَهْوِي بِهَا مِنْ أَبْعَدَ مِنَ الثُّرَيَّا»[٣] یعنې یو سړی په یوې خبرې سره په داسې حال تکلم کوي چې د خپل مجلس کسان ورباندې وخندوي، نو د همدغې یوې خبرې په سبب (په دوزخ کښې) دومره ښکته ژورې ته لوېږي، ته به وایې چې د ثریا ستورو څخه لا د لرې مسافې څخه ښکته راولوېد.

دوهم: «كَمْ مِنْ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ذِي طِمْرَيْنِ لَا يُؤْبَهُ لَهُ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ مِنْهُمُ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ»[۴] یعنې

(١) زاد المسير ج٧ ص١٨٢؛ روح المعاني ج٢٦ ص١٥٢؛ أسباب النزول للواحدي ص٢٦٣

(٢) روح المعاني ج٢٦ ص١٥٢؛ تفسير القرطبي ج١٦ ص٣٢۴

(٣) مسند احمد بن حنبل ج٣ ص٣٦٦

(۴) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خومره ډېر ښېښېږي چې یو ناګومنځ سړی، ګرد وهلی، د دوه وو زړو جامو اغوستونکی سړی وي چې (د حقارت د کبله) ورته نه کتلی کېږي (او خلکو ته سپک ښکاري)، خو د الله ﷻ په نزد ډېر معزز وي حتی) که بالفرض په الله ﷻ باندې سوګند یاد کړي (چې دا کار به وشي) نو الله ﷻ به يې په سوګند کښې رښتینی وګرځوي (او پکښې حانث به يې نه کړي)، د دې ډلې څخه البراء بن مالک ﷺ هم دی.

## قوم څه معنی؟

۳ـ که څه هم په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ قَوْمٌ ﴾ کلمه د هغې مجموعې دپاره وضعه شوې ده کومه چې په نارینه وو او زنانه وو (دواړو) باندې مشتمله وي[۱] او یا یوازې د نارینه وو مجموعې ته وضعه شوې ده خو زنانه پکښې ضمناً شاملې دي[۲]، مګر په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه یوازې د نارینه وو مجموعه مطلب ده او دا ځکه چې دلته په ﴿ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ ﴾ کښې د زنانه وو په تولګي باندې صراحت نازل شوی دی، او په ضمني ذکر باندې يې اکتفاء نه ده کړه شوې.

شاید ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د دغه صراحت وجه به دا وي چې خندنې او ټوکې ټکالې په اکثره وختونو کښې د هغو کسانو ترمنځ صورت نیسي کوم چې یو تریله سره ناسته پاسته لري، او پوره واضحه ده چې د زنانه وو ناسته پاسته د زنانه وو سره ډېره وي نه د نارینه وو سره، که بالفرض دلته د زنانه وو په ټولګیو باندې صراحت نه وی شوی نو ذکر شوی مطلب به پټ پاتې وی.

## د لمز معنی

۴ـ په ﴿ وَلَا تَلْمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ وَلَا تَلْمِزُوٓاْ ﴾ کلمه د "لمز" ـ لکه "ضرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "لمز" دې ته وضعه شوی دی چې په چا کښې د عیب پلټنه وکړی شي او مخامخ يې ورته نسبت کړي چې ته دغسې يې[۳].

ذکره شوې جمله په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه ډوله تفسیره کړې ده[۴]:

الف: ای مؤمنانو! تاسو نورو مؤمنانو ته مخامخ عیب مه نسبتوئ، او دا ځکه چې د دغسې کار معنی دا ده چې تاسو په خپلو خانونو پورې پخپله عیب تپئ؛

په بل ایت کښې همدا ډول کلمات داسې نازل شوي دي چې: ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ [النساء:۲۹] یعنې او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ؛ چې خپل مؤمنان ورونه په ناحقه قتل کړئ، نو د بل مؤمن قتل د خپل ځان د قتل څخه کم نه دی.

ب: ای مؤمنانو! په خپلو ځانونو پورې عیبونه مه تپئ؛ چې نورو ته عیبونه نسبت کړئ او بالمقابل هغوی يې تاسو ته نسبت کړئ.

---

(۱) القاموس المحیط ج۳ ص۷۱۸

(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۵۰۵

(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۲٦۹

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۷ ص۵۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې ډول تفسير يوه نظير ته په يوه حديث كښې هم اشاره شوې ده هغه دا چې: «مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ»(۱) يعنې نبي كريم ﷺ وفرمايل: خپلو والدينو ته د سړي كنځل كول د لويو ګناهونو څخه دي صحابه كرامو ﷺ پوښتنه وكړه چې: اى د الله رسوله! ايا خپلو والدينو ته هم سړي كنځل كوي؟ نبي كريم ﷺ په جواب كښې وويلې چې: هو، څوك چې د بل سړي پلار ته كنځل وكړي نو هغه د ده پلار ته كنځل وكړي، او چې سړى د بل سړي مور وكنځي نو هغه د ده مور وكنځي (چې د خپلو والدينو د كنځلو سبب وګرځي).

## نبز څه معنى؟

۵ـ په ﴿وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلْأَلْقَٰبِ﴾ كښې د ﴿وَلَا تَنَابَزُواْ﴾ كلمه اصلاً د "نَبْز" ـلكه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې چاته د لقب وركولو معنى وركوي(۲)، خو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې راځي چې: اى مؤمنانو! تاسو يو بل ته داسې لقبونه مه وركوئ چې توهين پكښې نغښتى وي او تاسو يې نه خوښوئ، لكه خر، غوايه، لنډى، كجى، پيت او داسې نور.

نو په همدې بنياد لاندې صورتونه په ايت شريف كښې شموليت نه لري:

الف: چې په لقب وركولو كښې توهين مطلب نه وي. لكه چې نبي كريم ﷺ په خپل يوه حديث كښې يوه صحابي ﷺ ته ـچې "الخرباق" نومېده ـ د "ذُو الْيَدَيْن" لقب وركړ(۳). يعنې د اوږدو لاسونو درلودونكى.

ب: چې كله په لقب وركولو كښې مدحه او ستايل مطلب وي او مخاطب كړى شوي ورباندې خوشالېږي. لكه، چې نبي كريم ﷺ په يوه سفر كښې د "مُهرَان" په نوم يو صحابي ﷺ په "سَفِينَة" سره ملقب كړ چې: «أَنْتَ السَّفِينَة»(۴) يعنې ته د خپلو ملګرو بېړۍ يې، چې خپل درانه سامانونه په تاباندې درباروي كله چې هغوى ستومانه شي.

ج: كله چې پخپله لقب كړى شوى سړى ورباندې نه خپه كېږي كه څه هم نور خلك ورباندې خپه كېږي. لكه چې عبد الله بن سرجس ﷺ په يوه حديث كښې وايي چې: «رَأَيْتُ الْأَصْلَعَ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ»(۵) يعنې ما "أَصلع" (هغه څوك چې د سر وراندېنى برخه يې وېښتان ونه لري) وليد، چې حجر أسود يې مچې كړ. د نوموړي د "الأَصْلَع" څخه مراد عمر الفاروق ﷺ وه.

د: چې كله لقب وركول د پېژاندلو دپاره صورت ونيسي لكه "حَمِيدُ الطَّوِيْل" (اوږد حميد) او "حَمِيدُ

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۶۴
(۲) مفردات الراغب ص۵۰۲
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۶۹
(۴) تحفة الأحوذي شرح جامع الترمذي ج۶ ص۲۹۵
(۵) صحيح مسلم ج۱ ص۴۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الاعرج: (کوږ حمید)[۱]، یا لکه چې وایي: کوډ تیمور (تیمور لنګ) او داسې نور.
ه. چې کله د متکلم د خبرو څخه څوک د اشارې په توګه کوم لقب فهم کړي. لکه چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «خَيْرُ دُورِ الأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ»[۲] یعنې د انصارو د کورونو ډېر بهتر کورونه بنو النجار دي.
نو په دې حدیث کښې د بنو النجارو څخه په غیر نورو کورونو ته د اشارې په توګه د بهتروالي لقب ورکړی شو، او د ډېر بهتروالي لقب ترې د اشارې په توګه سلب کړی شو.

## په یاد ولرئ

۶. په یاد ولرئ چې د ﴿بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِ﴾ جمله مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]، خو کومه معنی چې مونږ ته د مقام په لحاظ بهتره برېښېدلې ده هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:
الف. د ﴿ٱلِٱسۡمُ﴾ کلمه دلته د نوم په معنی سره نه ده بلکې د ذکر او یادښت معنی ورکوي[۴].
ب. د ﴿ٱلۡفُسُوقُ﴾ کلمه مصدر ده چې د عصیان معنی ورکوي او د ﴿ٱلِٱسۡمُ﴾ د کلمې دپاره د مبالغې په توګه صفت واقع شوې ده.
ج. په ﴿بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِ﴾ کښې د "بَعْدَ" څخه وروسته ذکره شوې موصوفه کلمه ﴿ٱلِٱسۡمُ﴾ مقدره ده چې د ﴿ٱلۡإِيمَٰنِ﴾ کلمه ورته د مبالغې په توګه صفت واقع کېږي.
د. دغه جمله د وړاندېنیو دریوارو ارشاداتو سره ارتباط نیسي.
نو دغو څلورو وارو ټکو ته په پام سره یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې:
ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت وړاندېني دریواړه ارشادات عملي کړئ که نه نو تاسو به په ایمان سره د یادښت څخه وروسته په فسوق (عصیان) سره یاد شئ، حال دا چې په ایمان سره د یادښت څخه وروسته په عصیان سره یادېدل ډېر بد شی دی.
یا په بل عبارت: که کافر شری په عصیان او فسوق سره یاد شي دومره بد نه ښکاري لکه څومره چې مؤمن سړی د ایمان سره‌سره په دغه ډول یادېدلو سره بد ښکاري.
هـ. د ذکر شوې جملې نظیر په عربي کلام کښې داسې جوړېږي چې: "بِئْسَتِ الصَّبْوَةُ بَعْدَ الْكَبْرَةِ"[۵].
یعنې د بوډاتوب څخه وروسته ماشومتوب ډېر بد شی دی، چې بوډا د ماشومانو کارونه وکړي.
و. نو لکه څنګه چې بوډا سړی د ماشومانو په کارونو خپلولو سره د بوډاتوب څخه نه وځي

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص ۳۳۰
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص ۸۹۴
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص ۱۲۹
(۴) تفسیر ابي السعود ج۸ ص ۱۲۱
(۵) روح المعاني ج۲۶ ص ۱۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنگه په گناه او فسق سره هم مؤمن سړی د ایمان څخه نه وځي، لکه څنګه چې معتزله خیال کوي[۱] (الله ﷻ دې ورته هدایت وکړي).

## هېر مو نه شي!

۷ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ ﴾ کښې د اجتناب امر د ګومانونو ډېروالي ته د ډېروالي د حیثه متوجه نه دی چې ډېر جواز نه لري او لږ جواز لري، بلکې هغه مبهم ګومان ته متوجه دی کوم چې په ډېرو ګومانونو کښې پټ دی او په ﴿ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ ﴾ کښې ورباندې صراحت شوی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د احتیاط څخه کار واخلئ او د خپلو ګومانونو کچه د ډېروالي څخه لږوالي ته راښکته کړئ، هسې نه چې تاسو د هغو ځینو ګومانونو مرتکب وګرځئ د کومو ارتکاب چې د عصیان سبب جوړېږي.

احتیاط په هغه وخت کښې صورت نیولی شي چې تاسو د ګومان ډولونه وپېژنئ هغه دا چې:

## د ګومان ډولونه

۸ـ ګومان په څلور ډوله دی: اول ممنوع، دوهم واجب، درېیم مستحب او څلورم مباح دی[۲]، چې په لاندې کرښو کښې یې تفصیل لوستلی شئ:

الف: په الله ﷻ باندې بدګومان کول ممنوع دي، په کار دي چې پیروي یې ونه کړی شي. نبي کریم ﷺ په قدسي حدیث کښې د الله ﷻ څخه حکایت کوي چې: «أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي إِنْ ظَنَّ بِي خَيْرًا فَلَهُ وَإِنْ ظَنَّ شَرًّا فَلَهُ»[۳] یعنې زه د خپل بنده د ګومان په نزد یم چې په ماباندې یې لري، که چرته په ما سره د خیر ګومان کوي نو د خپل ځان دپاره یې دی، او که د شر ګومان راباندې کوي هم نو د خپل ځان دپاره یې دی.

همدارنګه په مؤمنانو باندې بد ګومان کول جائز نه دي او ځان ساتل ترې واجب دي ترڅو قطعي دلیل موجودیت ونه لري. همدې موضوع ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ»[۴] یعنې تاسو د ګومان څخه ځانونه وساتئ، ځکه چې په ګومان کښې دروغ ډېر پېښېږي.

ب: په الله ﷻ او هم په پیغمبر ﷺ باندې نېک ګومان واجب دی، همدارنګه په هغو کارونو کښې هم ګومان واجب دی د کوم د معرفت دپاره چې د ګومان څخه پرته بله لاره شتون ونه لري. لکه د قاضي دپاره د دوه شاهدانو شهادت، د لمونځ کوونکي دپاره د قبلې پېژاندل، په هلاکو کړی شوو قیمتي مالونو کښې د عادلانو دپاره قیمت ټاکل او داسې نور.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۱۴۷

(۲) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۰۵

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۴۴، صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۱

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په مؤمنانو باندې نېک ګومان کول مستحب دی ترڅو چې ورباندې د بدۍ دلایل اقامه او ښکاره نه شي. که څه هم په دغه صورت کښې جائزه ده چې نه ورباندې نېک ګومان وکړي او نه بد بلکې په سکوت کښې پرېښودل شي.

د همدې کبله الله ﷻ د إفک په پېښه کښې په هغو مؤمنانو باندې هم پړه وراچوله کومو چې پکښې څه نا څه اشتراک کړی وه چې: ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا ﴾ [النور: ۱۲] یعنې کله چې تاسو دغه (دروغ) واورېده ولې داسې ونه شوه چې نارینه مؤمنانو او زنانه مؤمناتو په خپلو ځانونو باندې د خیر ګومان کړی وی او ویلي یې وی چې دا ښکاره دروغ دي.

د: مباح ګومان هغه دی چې اتباع او غیر اتباع دواړه پکښې جواز ولري. لکه څوک چې د لمانځه د رکعتونو په تعداد کښې شکمن شي چې څو رکعتونه یې اداء کړي دي او څو ورته پاتې دي؟.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وایي چې: ایا هغه څوک ګنهګار دی د کوم په زړه کښې چې د بل مؤمن په هکله بدون دلیله او بدون د اختیاره څه بد ګومان وګرځي؟

مونږ وایو چې: د دغه ډول بدګومان په هکله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِي عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَكَلَّمْ»[۱] یعنې یقینًا الله ﷻ زما دپاره زما د اُمت (د نیولو) څخه د هغه شي په ارتباط تېر شوی دی کوم چې د دوی په زړونو کښې تېرېږي راتېرېږي، (البته) ترڅو چې د هغه په مقتضی عمل ونه کړي او یا ورباندې تلفظ ونه کړي.

نو په دې صورت کښې په کار دي چې فقط د خپل ځان حفاظت وکړي، لکه څنګه چې سړی په خطرناکه لاره کښې د خپل ځان حفاظت کوي.

## د "تَجَسس" د کلمې معنی

۱۰ـ د ﴿ وَلَا تَجَسَّسُوا ﴾ کلمه د "تَجَسُّس" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَجَسُّس" دېته وایي چې څوک پټ کارونه د بل چا دپاره پلټي، چې پلټونکي ته جاسوس وایي او اکثرًا په شر کښې استعمالېږي.

اما "تَحَسُّس" په "ح" سره د پټو کارونو پلټنې ته وضعه شوې دی، خو د خپل ځان دپاره، نه د بل چا دپاره[۲]. نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې شیطان ته د حساس لقب ورکړی دی[۳]، چې د پټو کارونو ښکاره کوونکی دی.

... یعني د پټو کارونو څرګندونه د شرمولو دپاره کوي چې خلک ورباندې وشرموي.

د همدې موضوع په باب نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا»[۴] یعنې ای مؤمنانو! او تاسو د خپل ځان د

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۴۳
(۲) النهایة في غریب الحدیث والاثر ج۱ ص۲۷۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۹۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوهولو دپاره (د خلکو عیبونه) مه پلټئ او د بل چا دپاره یې هم پلټنه مه کوئ، او هم تاسو یو تر بله بغض مه کوئ او یو بل ته شا مه وراړوئ (چې ناسته ولاړه سره پرېږدئ)، او ای د الله ﷻ بندګانو! تاسو ټول سره وروڼه وګرځئ (چې یو په بل دردېږئ).

## آیا غیبت پېژنئ؟

۱۱ـ د "غِيبَة" کلمه ـ د "خِيفَة" په وزن ـ په غیاب کښې د خاص ډول یادولو دپاره وضعه شوې ده کوم چې په لاندې یوه حدیث کښې تفسیر شوی دی:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ صحابه کرام ؓ مخاطب کړه چې: ایا تاسو غیبت پېژنئ؟ هغوی په جواب کښې وویلې چې: الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ډېر ښه پوهېږي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: غیبت دېته وایي چې ته خپل ورور په غیاب کښې په داسې شي سره یاد کړې کوم چې هغه یې نه خوښېږي.

چا ترېنه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! که زما په ورور کښې همغه شی شتون ولري په کوم باندې چې ما یاد کړی وي نو دا هم غیبت دی؟ نبي کریم ﷺ په جواب کښې وویل چې: «إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ»[۱] یعنې که ستا په ورور کښې هغه څه موجودیت لري چې ته پرې قول کوې نو یقینًا تا یې غیبت وکړ، او که هغه پکښې شتون ونه لري نو یقینًا تا په هغه باندې بهتان وتاړه.

دغه خاص ډول یادښت ته عملي بڼه ورکول د "اِغْتِيَاب" ـ لکه "اِکْتِسَاب" ـ په نامه یادېږي، د کوم څخه چې په ﴿وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا﴾ کښې د "لَا يَغْتَبْ" کلمه اشتقاقه شوې ده. او اصلاً یې د "غِيبَة" ـ لکه "عِيلَة" ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د لرېوالي او پنا کېدلو معنی ورکوي[۲]. نو د دغې جملې د مضمون حاصل داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو! ستاسو ځینې کسان دې ځینې نور په هغه خاص ډول سره یاد نه کړي کوم ته چې په ذکر شوي حدیث کښې اشاره شوې ده.

## د غیبت ډولونه

۱۲ـ د "غِيبَة" کلمه هغو ټولو ډولونو ته شامله ده کوم ته چې مونږ د الله ﷻ په توفیق وراندې په دوهمه توضیح کښې څه شرحه ورکړې ده. یا په بل عبارت: غیبت لکه چې په قول سره صورت نیسي همدارنګه په لیک او د سر او سترګو په اشارو سره هم صورت نیولی شي او په پېښو کولو سره هم تحقق مومي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: عائشه رضي الله عنها په یوه حدیث کښې وایي چې: ما نبي کریم ﷺ ته د یوه سړي پېښې وکړې نو راته ویې فرمایل چې: «مَا يَسُرُّنِي أَنِّي حَكَيْتُ رَجُلًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا»[۳] یعنې ما دا خبره نه خوشالوي

(۱) صحیح مسلم ج۳ ص۳۲۶
(۲) المعجم الوسیط ج۶۶۷
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۵۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې زه یقیناً د یوه سړي پېښې وکړم حال دا چې ماته (پرې د دنیا څخه) دومره-دومره راکړه شي.

ب: عائشه رضی الله عنها په بل حدیث کښې وایي چې: ما نبي کریم ﷺ مخاطب کړ او په لاس مې اشاره وکړه چې صفیه رضی الله عنها دغومره ده (ټیټکې ده)، نو نبي کریم ﷺ جواب راکړ چې: «لَقَدْ مَزَجْتِ بِكَلِمَةٍ لَوْ مُزِجَ بِهَا مَاءَ الْبَحْرِ لَمُزِجَ»[۱] یعنې یقیناً تا (د خپلو خبرو سره) داسې یوه خبره ګډه کړه که بالفرض دغه (غیبتي خبره) د دریاب د اوبو سره ګډه کړی شوې وی هم، ورسره به ګډه کړی شوې وی (او تغیر به یې ورکړی وی).

هو! په مجلس کښې د یو چا بد ویل په دې شرط غیبت شمېرل کېږي چې غیبت کړی شوی سړی ورباندې پوه نه شي که څه هم په مجلس کښې حضور ولري او غائب نه وي، ځکه چې په دغه وخت کښې د غائب غوندې ګڼلی کېږي.

## د غیبت تحریم د احادیثو په رڼا کښې

۱۳_ د غیبت کولو د تحریم او غندلو په باب ډېر احادیث روایت شوی دی چې ځینو مفسیرینو کرامو یې ښه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[۲]، خو مونږ د لنډون په غرض فقط د لاندې احادیثو په لیکلو سره اکتفاء کوو هغه دا چې:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایي چې: د معراج په شپه زه په یوه قوم باندې تېر شوم چې د تانبې (زېړو) نوکان یې درلوده او خپل مخونه او ټټرونه یې ورباندې شوکاري کول (تراشل)، ما پوښتنه وکړه چې: ای جبرائیله! دغه قوم څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام جواب راکړ چې: «هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ»[۳] یعنې دغه ډله هغه کسان دي کوم چې د خلکو غوښې خوري او په پت او عزت کښې یې واقع کېږي (په غیبت کولو سره یې سپکوي).

ب: جابر بن عبد الله رضی الله عنه وایي: یوه ورځې مونږ د نبي کریم ﷺ سره موجودیت درلود چې د مردارې ډېر بدبویه باد پورته شو، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَتَدْرُونَ مَا هَذِهِ الرِّيحُ هَذِهِ رِيحُ الَّذِينَ يَغْتَابُونَ الْمُؤْمِنِينَ»[۴] یعنې ایا تاسو پوهېږئ چې دغه څنګه بدبویه باد دی؟ دغه د هغو کسانو بدبویه باد دی چې د مؤمنانو غیبت کوي (او په غیاب کښې یې په بدی سره یادوي).

## د مړي غیبت

۱۴_ لکه څنګه چې د ژوندي ورور غیبت حرام دی همدارنګه د مړه ورور غیبت هم جواز نه لري. لاندې حدیث د استدلال په توګه ولولئ:

ماعز رضی الله عنه په زنا باندې اعتراف وکړ او د رجم فیصله ورباندې صادره او تطبیق شوه، د فیصلې د

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۷
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۵۷۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۱۳
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۱۳؛ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۴۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۲۴

Scanned by CamScanner

تطبیق په وخت کښې دوه صحابه وو کرامو رضي الله عنهما یو تر بله وویلې چې وګورئ! د غه خپل ځان یې سوا کړ او په زنا باندې یې اعتراف (اقرار) وکړ چې په نتیجه کښې د سپي غوندې رجم کړی شو.

نبي کریم ﷺ دغه (غیبتي خبره) واورېده خو ساکت پاتې شو آن تردې چې په یوه مردار خره باندې تېر شو چې پړسېدلی وه او پښې یې نېغې نیولې وې. نو نبي کریم ﷺ ذکر شوي دواړه صحابه کرام رضي الله عنهما مخاطب کړل چې: ښکته شئ او د دغه مردار خره غوښه وخورئ!

هغوی دواړو عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! د مردار خره غوښه به څوک وخوري؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فما نلتما من عرض أخيكما آنفا أشدُّ من أكلٍ منه»[1] یعنې تو تاسو دواړو چې لږ وړاندې (دستي) د خپل ورور پت (عزت) واخست هغه د دې څخه ډېر سخت وه چې د دغه مردار خره غوښه مو خوړلې وی.

## د غیبت د ګناه چاره

۱۵ـ په غیبت کولو کښې دوه حقونه د پښو لاندې کېږي، چې یو د الله ﷻ حق دی چې د ده ﷻ ارشاد ته یې اعتناء ونه کړه او بل د بنده حق دی چې په غیبت سره یې خپه کړ. نو غیبت کوونکي ته په کار دي چې په لاندې دوه وو کارونو سره خپل ځان د ګناه څخه خلاص کړي:

الف: باید الله ﷻ ته توبه تائب وګرځي او په استغفار زور واچوي، نو هیله ده چې عفو ورته وکړي او په خپل حق باندې یې ونه نیسي.

همدغه مطلب ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «كفَّارةُ المجالسِ أنْ يقولَ العبدُ: سُبحانَكَ اللَّهمَّ وبحمدِكَ أستغفِرُكَ وأتوبُ إليكَ»[2] یعنې په مجالسو کښې د ګناهونو کفاره دا ده چې بنیادم ووایي چې: ای الله! تاته پاکي ده، او (زه د تسبیح سره) ستا حمد (ثناء هم ضمیمه کوم)، زه ستا څخه بښنه غواړم او همدا تاته په ندامت سره توبه (رجوع) کوم.

ب: باید د هغه چا څخه عفوه او بښنه واخلي د کوم په غیبت چې اخته شوی وي. نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهَا فَإِنَّهُ لَيْسَ ثَمَّ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ»[3] یعنې هرڅوک چې د ده په نزد د خپل ورور دپاره په ظلم سره اخستلې شوې شی وي نو د نوموړي څخه دې د همدغه حق د خلاصون مطالبه وکړي (او عفوه دې ترې وغواړي) څکه چې یقیناً شاېد دا دی چې هلته (د قیامت په ورځ) نه دینار شته او نه درهم.

یا په بل عبارت: دغه عفوه دې د هغې ورځې وړاندې ترلاسه کړي چې نیکي یې مظلوم ورور ته ورکړی شي او که نیکي ونه لري نو د همدغه مظلوم ورور څه ګناهونه به وربانديې وراچولی شي.

هو! که غیبت کړی شوی بنیادم د عفوه کولو قابل نه وه لکه لیونی یا ماشوم. او یا ترې د عفوې

(۱) سنن ابي داؤد ج۲ ص۲۵۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۳۰۰
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښتل مشکل یا محال وه لکه مفقود یا مړی او داسې نور، نو په دغه صورتونو کښې د عفوې موضوع د قیامت ورځې ته تالېږي[1].

## سوال جواب

۱۶_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په ﴿ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا ﴾ کښې د ﴿ مَيْتًا ﴾ کلمه نازله کړی شوي ده حال دا چې د خپل ورور غوښې خوراک بد کار دی، برابره خبره ده چې هغه مړ وي او که ژوندی؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ اعلم: شاید چې د دغې کلمې په نزول کښې به دې ته اشاره وي چې غیبت کړی شوی بنیادم د مړي سره ډېر زیات شباهت لري چې یو هم د خپله ځانه دفاع نه شي کولی او غیبت کوونکی یې په مړه ګېډه غوښې خوړلی شي.

دا د یو پلوه، او د پلوه د ذکرې شوې تشبیه په نزول کښې دېته اشاره ده چې باید مؤمنان د غیبت کولو څخه په ډېره جدي توګه ډډه او کرکه وکړي لکه چې د مړي د غوښو څخه کرکه کوي او په خپلو ځانونو باندې ناکاره مثال تطبیق نه کړي.

دغه ایت شریف ډېر نظائر لري، د مثال په توګه: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ»[2] یعنې مونږ (مؤمنانو) ته بد مثال نشته (باید خپل ځانونه ترې وساتو) هغه څوک چې په خپل بښلی شوي شي کښې بېرته وروګرځي، د داسې سپي مثال لري چې خپلو کانګو ته بېرته ورتاو شي (ویې څټي).

## د غیبت د جواز صورتونه

۱۷_ ځینو علماوو کرامو په څو صورتونو کښې د غیبت په جواز باندې حکم کړی دی[3]، چې مونږ یې د الله ﷻ په توفیق د نصوصو په رڼا کښې په لاندې ډول سره وړاندې کوو:

الف: مظلوم ته روا ده چې د حاکم په حضور کښې د ظالم غیبت وکړي او مظالم یې بیان کړي چې دا ډول او هغه ډول ظلم ته یې ملا تړلې ده.

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ لَّا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ﴾ [النساء:۱۴۸]

یعنې الله ﷻ په بدۍ سره ښکاره ویل نه خوښوي په داسې حال کښې چې بدي د وینا څخه عبارت ده، مګر هغه څوک چې ظلم وربانډې شوی وي (نو نوموړي ته د ظلم د ښکاره ونې اجازه شته).

ب: جائزه ده چې د منکراتو د محوه کولو دپاره هغه چا ته ښکاره وکړی شي کوم چې د منکراتو په محوه کولو باندې توان او قدرت لري.

---

(۱) روح المعاني ج۲۶ ص۱۶۰

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۵۷

(۳) شرح النووي علی صحیح مسلم ج۲ ص۳۲۲؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ رَأى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ» (الحديث)[١] يعني ستاسو د جملې څخه چې هرڅوک بدکار وګوري نو په خپل لاس دې تغير ورکړي، نو که د دغه ډول تغير توان يې نه درلود نو په ژبې (بيان) سره دې تغير ورکړي (چې وعظ ورته وکړي او يا ورباندې د توان او قدرت خاوند خبر کړي).

ج: فتوی غوښتونکي ته هم جواز لري چې د فتوی ورکوونکي په وړاندې د مسئلې صورت بيان کړي که څه هم د يو مؤمن په غيبت اشتمال ولري. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث ولولئ:

يوه ورځې "هندة بنت عتبة" نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! يقينًا (زما خاوند) ابو سفيان ډېر سخت بخيل دی او ماته دومره نفقه نه راکوي چې زما او زما د اولادونو دپاره کفايت وکړي، مګر هله چې د نوموړي په بې علمۍ کښې يې زه د مال څخه څه شی واخلم (ايا دا کار زما دپاره جواز لري؟).

نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ»[٢] يعنې هوا د نوموړي د مال څخه هومره اندازه واخله څومره چې ستا او ستا د اولادونو دپاره په متعارفه طريقه سره بسنه کوي.

د: په دې غرض هم غيبت کول رخصت دی چې مؤمنان د يوه شرير د شره وساتل شي. او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ درې ځله تکرار کړ چې: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ»[٣] دين د خير غوښتنې او اخلاص څخه عبارت دی. چا وپوښتل چې: ای د الله رسوله! د چا دپاره؟ نبي کريم ﷺ په جواب کښې وفرمايل چې: د الله ﷻ دپاره، او د الله ﷻ د کتاب (قرآن کريم) دپاره، او هم د مسلمانانو د امامانو دپاره او د عامو مسلمانانو دپاره.

دا ډول په ډېرو صورتونو باندې متشمل دی، لاندې صورتونه يې د بيلګې په توګه ولولئ:

اول: د راويانو او شاهدانو او هم د مصنفينو او ليکوالانو جرحه جائزه ده، ترڅو مؤمنان ونه غولېږي او شريعت د پېښو لاندې نه کړی شي.

دوهم: د مشورې ورکولو په وخت کښې هم غيبت جائز دی. لکه چې يوه ورځې فاطمه بنت قيس رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ په حضور کښې حاضره شوه او مشوره يې ترې وغوښتله چې ماته فلانی او فلانی دعوت راکوي چې په نکاح سره يې واخلم، ته راته څرنګه مشوره راکوې؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: «أَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ»[۴] يعنې ابو جَهم چې دی نو هغه خپله لکړه د خپلې اوږې څخه نه ښکته کوي (ډېر جنګي دی) او معاويه چې دی نو هغه خوار دی مال نه لري (زما مشوره دا ده چې:) أسامه بن زيد په نکاح واخله. نو هغې همدغه مشوره ومنله.

---

(١) صحيح مسلم ج١ ص٥١
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٨٠٨
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١۴
(۴) صحيح مسلم ج١ ص۴٨٣

Scanned by CamScanner

درېيم: كه څوک د يوه فاسق او مبتدع سره ناسته پاسته لري حال دا چې په فسق او بدعت باندې يې خبر نه وي، نو تا ته جائزه ده چې ورته خبر ورکړې ترڅو دوکه نه شي او د بې دينی سره مخامخ نه شي. د همدې کبله يوه ورځې نبي کريم ﷺ يوه سړي ته اشاره وکړه او د صحابه وو کرامو ؓ د اطلاع دپاره يې وفرمايل چې: «بِئْسَ أخُو الْعَشِيرَةِ أوِ ابْنُ الْعَشِيرَةِ»[1] يعني دغه سړی په خپله قبيله کښې ډېر بد سړی دی.

د نبي کريم ﷺ خبره رښتيا شوه، نوموړی سړی د أبو بکر الصديق ؓ په زمانه کښې مرتد شو او کفر يې غوره کړ.

څلورم: دا هم جواز لري چې د واليانو او حاکمانو په نه اهليت باندې مرکزي حکومت خبر کړی شي ترڅو يې د ناکلې دندې څخه کوښه کړي او داسې نور.

هـ: د هغه چا په غيبت باندې هم څوک نه ګنهګارېږي، کوم چې په فسق او بد اخلاقی سره شهرت لري (بلکې ورباندې وياړي).

و: يو مؤمن په غياب کښې د القابو په هغو صورتونو سره يادول هم ممنوع غيبت نه دی کومو ته چې وړاندې په پنځمه توضيح کښې اشاره شوې ده والحمد لله ﷻ علی ذلک.

ز: د يوه غلط حکم رد او تقبيح هم ممانعت نه لري، که څه هم حکم کوونکی غائب وي او ورباندې خپه شي.

همدا موضوع په يوه حديث کښې ډېره ښه واضحه شوې ده چې مونږ يې د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

اول: يوه ورځې يو اعرابي سړی په خپل اوښ باندې سور شو او په لوړ اواز سره يې وويلې چې: ای الله! په ما او په محمد ﷺ باندې رحم وکړې، او هيڅوک راسره پکښې شريک نه کړې.

دوهم: نبي کريم ﷺ صحابه کرام ؓ مخاطب کړه چې: «أتَقُولُونَ هُوَ أضَلُّ أمْ بَعِيرُهُ ألَمْ تَسْمَعُوا إلَى مَا قَالَ؟»[2] يعني ايا تاسو واياست چې نوموړی اعرابي سړی ډېر ګمراه دی او که د ده اوښ؟ ايا تاسو د نوموړي هغې خبرې ته غوږ کېښود کومه يې چې وکړه؟

درېيم: صحابه کرامو ؓ وويلې چې: هو! مونږ د نوموړي جاهلانه خبره واورېده (چې د الله ﷻ څخه يې د پراخه رحمت د راښندولو سوال وکړ).

## د شعوب او قبائل معناوې

۱۸ـ په ﴿ وَجَعَلْنَـٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ ﴾ کښې لاندې وضاحتونه د نظره تېر کړی[3]:

الف: د خلکو هغه ډېره لويه ډله چې په يوه پلار راغونډ شوي وي، د "شَعْب" ـلکه "عَرْض"ـ په

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۹۴

(۲) سنن ابي داؤد ج۲ ص۳۱۴

(۳) لسان العرب ج۱ ص۵۰۰؛ تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نامه يادېږي او په "شعوب" سره جمعه کېږي.

ب: د يوه پلار اولاده چې د "شعب" څخه بېلکنه وي په "قبيلة" سره نومول کېږي، چې جمعه يې "قبائل" او رېدلي شوي دي.

ج: د "قبيلة" څخه وړه اجتماع چې يوه پلار ته منسوبه وي د "عمارة" په نامه نومولي شوې ده، چې په "عمائر" سره جمعه کېږي.

د: د "عمارة" څخه وړې اجتماع ته "بطن" وايي، چې جمعه يې "بطون" راځي.

ه: د "بطن" څخه ورپېښه اجتماع د "فخذ" نوم لري، چې "افخاذ" يې جمعه ده.

و: بالآخره، د "فخذ" څخه هم وړه اجتماع چې په يوه پلار باندې راغونډه شوې وي فصيلې ته "فصيلة" وايي چې جمعه يې "فصائل" او رېدل کېږي.

نو په ايت شريف کښې په دوه وړو نومونو باندې د مثال په توګه صراحت نازل شوی دی.

## تعارف څه معنی؟

۱۹ ـ په ايت شريف کښې د ﴿لِتَعَارَفُوا﴾ کلمه د "تعارف" ـ لکه "تقارب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې يو تر بله د پېژندلو معنی ورکوي. دغه دول پېژندل (نسب) د ډېرو مطالبو سبب جوړېږي لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: که بالفرض په بنيادمانو کښې د خاروېو غوندې په نسب سره پېژندلو شئون نه درلودی نو معاملات او راکړه ورکړه به يې د ستونزو سره مخامخ شوې وې.

ب: که بالفرض په انسانانو کښې د خاروېو غوندې د نسب اړيکو موجوديت نه درلودی نو په دوی کښې به د زړه سوی او صله رحمی لمن هم تړله شوې وې.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ»[1] يعنې اى مؤمنانو! تاسو د خپلو نسبونو څخه څه زده کړئ ترڅو ورباندې خپله خپلوي وپالئ او صله رحمي پرې وکړئ. يقيناً صله رحمي په کورنۍ کښې د محبت سبب دی او په مال کښې د ډېروالي سبب دی او بالآخره په عمر کښې د وروسته والي (اوږدوالي) سبب دی.

## غوره نکات

۲۰ ـ د ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ﴾ الآية په ارتباط يو څل بيا لاندې نکاتو ته توجه په کار ده

الف: د الله ﷻ په نزد يوازې او يوازې تقوی اعتبار لري او بس. چې په همدې تقوی سره الله ﷻ اجرونه او ثوابونه ورکوي. د هر چا د پلوه چې صورت ونيسي، برابره خبره ده چې عربي وي او که

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اعجمي، او يا هندي وي يا حبشي او داسې نور

ب: په ايت شريف کښې د تقوی څخه پرته د نورو اعتباراتو سلب مطلب نه دی. د همدي کبله نبي کريم ﷺ يوه حديث کښې فرمايلي دي چې «وَالنَّاسُ مَعَادِنُ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا»[1] يعني او ټول خلک د معادنو مثال لري چې په عاداتو او خاصيتونو کښې د توپيرونو درلودونکي دي، لکه څنګه چې معادن د مختلفو جواهراتو درلودونکي دي، (نو په همدې بنياد) په جاهليت کښې د خلکو غوره په اسلام کښې هم د خلکو غوره دي خو کله چې (ديني) پوهه زده کړي

د ښه وضاحت دپاره لاندي ټکي د نظره تېر کړئ

اول: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ»[2] يعني امامان د قريشو څخه دي (ترڅو د عظمی امامت په هکله شخړي او جګړې رانه پورته نه شي)

دوهم: نبي کريم ﷺ په بل يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې «لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ أَوْ أَنْصَارِيٍّ أَوْ ثَقَفِيٍّ أَوْ دَوْسِيٍّ»[3] يعني يقيناً ما قصد وکړ چې (د دې څخه وروسته) زه د هيچا څخه سوغات قبول نه کړم، مګر د قريشي يا انصاري يا ثقفي او يا د دوسي څخه (چې دوی په سوغات ورکولو کښې د عوض تمه نه کوي او نور خيني خلک په ښه ډېر عوض هم قناعت نه لري)

دريم: نبي کريم ﷺ د حنين غزا د ماتې په وخت کښې د خلکو د راستنېدلو دپاره په يوه حديث کښې وويلي چې «أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ»[4] يعني اى مؤمنانو! بېرته راستانه شئ (ما يوازې مه پرېږدئ) چې د يو پلوه زه رښتينی پيغمبر يم او د بله پلوه زه ستاسو د پخواني مشر عبد المطلب زوی يم

څلورم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَعِيلَ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ»[5] يعني الله ﷻ د اسماعيل ﷺ د اولادې څخه (د ښو اخلاقو په اعتبار) بني کنانه غوره کړه او د بني کنانه وو څخه يې (په همدې لحاظ) قريش غوره کړه او د قريشو څخه يې بني هاشم غوره کړه او (بالآخره) د بني هاشمو څخه يې زه (د پيغمبر په صفت) غوره کړم (چې دا په ماباندې د الله ﷻ ډېر لوی فضل دی)

پنځم: د ميراث استحقاق په نسب سره صورت نيسي او هم د نسب په قُرب او بُعد سره ترجيح موندله کوي

شپږم: جمهورو فقهاوو کرامو په نکاح کښې فقط د دې دپاره کفاءة معتبر ګرځولی دی چې د

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹٦
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۵۹
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳۱
(۴) مسند احمد بن حنبل ج٦ ص۲۹۹
(۵) صحيح مسلم ج۲ ص۲۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه څنګه چې د أسامه بن زید رضي الله عنه او زینب بنت جحش رضي الله عنها ګوزاره او ژوند خراب نه شي مېړه او ماندينې ګوزاره او ژوند خراب شو، چې د الله ﷻ په توفيق يې د [الأحزاب: ۳۷] لاندې مفصله قیصه تېره شوې ده.

## د نسب په ارتباط د احاديثو مجموعه

۲۱ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د نسب په ارتباط زښت ډېر نبوي احاديث راغونډ کړي دي[1] الله ﷻ دې ورته أجر ورکړي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: «إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ، مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ»[2] يعنې يقينًا الله ﷻ ستاسو څخه د جاهليت تکبر او د جاهليت په پلرونو باندې فخر کول په څنګ کړي دي (د الله ﷻ په نزد ټول خلک په دوه ډوله دي چې:) يو مؤمن متقي دی او بل فاجر بد بخت دی، تاسو ټول د آدم ﷺ زامن ياست او آدم ﷺ د خاورو څخه جوړ کړی شوی دی (نو ټول يو برابر ياست).

ب: «لَا تَفْتَخِرُوا بِآبَائِكُمُ الَّذِينَ مَاتُوا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَمَا يُدَهْدِهُ الْجُعَلُ بِمَنْخَرَيْهِ خَيْرٌ مِنْ آبَائِكُمُ الَّذِينَ مَاتُوا فِي الْجَاهِلِيَّةِ»[3] يعنې تاسو په خپلو هغو پلرونو سره فخر مه کوئ کوم چې په جاهليت کښې مړه شوي دي، نو زما دې په هغه اقدس ذات سوګند وي چې زما روح يې په بلا کيفه لاس کښې دی چې ضرور هغه شی کوم چې ګونګټيان يې په خپلو اوربوزونو سره رغړوي ستاسو د هغو پلرونو څخه بهتر دی کوم چې په جاهليت کښې مړه شوي دي.

﴿ قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ وَلَٰكِن قُولُوٓا۟ أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ ٱلْإِيمَٰنُ فِى
قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَٰلِكُمْ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۱۴)
إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا۟ وَجَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ
وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ (۱۵) قُلْ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمْ
وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ (۱۶) يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ
أَسْلَمُوا۟ ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا۟ عَلَىَّ إِسْلَٰمَكُم ۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَىٰكُمْ لِلْإِيمَٰنِ إِن كُنتُمْ
صَٰدِقِينَ (۱۷) إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ (۱۸) ﴾

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۱۷
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۴۱
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴] باندچیان وايي چې: مونږ ایمان راوړی (مونږ کامل مؤمنان یاستو).
ته (ورته) ووایه چې: تاسو کامل ایمان نه دی راوړی (نو آمَنَّا مه وایاست)، مګر (تاسو اسلام قبول کړی دی نو) تاسو ووایاست چې مونږ اسلام راوړی دی، حال دا چې ایمان ستاسو په زړونو کښې نه دی ننوتلی (ترڅو پورې چې ستاسو همدا حال وي نو د آمَنَّا څخه ډډه وکړئ).
او که چرته تاسو د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ (او په کامله توګه مؤمنان جوړ شئ) نو الله ﷻ به ستاسو د اعمالو (د ثوابونو) څخه هیڅ شی هم کم نه کړي (او په چندونو ثوابونه به درکړي). یقینًا الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی (د ایمان په پخوانۍ کمزورۍ باندې به مو ونه نیسي).
[۱۵] یقینًا کامل مؤمنان هغه کسان دي کومو چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړی دی بیا یې (په توحیدي عقیده کښې) شک نه وي کړی او په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره یې د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کړی وي. دغه ډله همدوی (د آمَنَّا په ویلو کښې) رښتیني دي.
[۱۶] ته (اعراب مخاطب کړه او ورته) ووایه چې: ایا تاسو (بل چا ته نه بلکې) الله ﷻ ته خپل دین وروپېژنئ (معلومات ورکوئ) حال دا چې الله ﷻ په هغو شیانو باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو کښې دي او په هغو شیانو باندې هم کوم چې په ځمکو کښې دي.
او (لنډه دا چې) الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.
[۱۷] (ای پیغمبره!) اعراب په تاباندې د دې کار احسان باروي چې دوی اسلام راوړی دی (او همدغه اسلام ته د ایمان لقب ورکوي).
ته ورته په رد کښې) ووایه چې: په مابانديې د خپل اسلام راوړلو احسان مه کوئ، بلکې الله ﷻ په تاسو باندې احسان کوي چې ایمان ته یې تاسو هدایت کړی یاست (البته په دې شرط) که چرته تاسو (په خپله وعده کښې) رښتیني یاست (خو خبره دغسې نه ده).
[۱۸] یقینًا الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو په غیبو باندې پوهېږي (چې ستاسو زړونه هم پکښې شامل دي)، او الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو سره بینا دی کوم چې تاسو یې (روزمره) کوئ.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې سورت د لومړي ایت په لومړۍ توضیح کښې لیکلي دي چې د دې سورت د ارشاداتو تعمیل قوي ایمان ته ارتیا لري.
په دې ایتونو کښې همدغه مطلب تعقیب شوی دی او د کمزوري ایمان د خاوندانو یوه مثال ته پکښې اشاره شوې ده، چې په شان نزول کښې وربانديې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده. هغه دا چې:
۲ـ یوه ورځې د باندچیانو څخه یوه ډله خلک نبي کریم ﷺ ته ورغله او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! نورو خلکو تا سره جنګونه وکړه او مونږ پرته د جنګه په تاباندې ایمان راوړ[۱].

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۲۰؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۶۶؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دغه وړاندیز کښې هغوی لاندې دوه غرضونه په نظر کښې نیولي وه:

الف: ای د الله رسوله! زمونږ شکریه وکړه او احسان مو ومنه.

ب: مونږ ته د بیت المال څخه ښه پوره برخه راکړه، ځکه چې مونږ د نورو خلکو په پرتله زیات مستحق یاستو.

نو په ذکرو شوو ایتونو کښې الله ﷻ د هغوی دواړه غرضونه رد کړه، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د کمزوري ایمان د خاوندانو څه حالات قرائت کړه ترڅو ترې عبرت واخلي. هغه دا چې:

۱ـ باندچیان (د کمزوري ایمان خاوندان) تاته راځي او وایي چې: مونږ په تاباندې ایمان راوړی دی او هیڅ جنګ او جګړه مو درسره نه ده کړې، نو زمونږ احسان ومنه او مننه مو وکړه او په دې باندې علاوه د بیت المال څخه مونږ ته ښه درنه ونډه راکړه، ځکه چې مونږ د جنګیانو خلکو څخه زیات مستحق یاستو.

۲ـ ته دغو باندچیانو ته د هغوی د غرضونو په رد کښې ووایه چې:

الف: ای باندچیانو! تاسو هغه ایمان نه دی راوړی کوم چې د یوه مؤمن سره مناسب وي، بلکې ستاسو ډېر زیات کمزوری ایمان دی، نو په همدې بنیاد تاسو د "آمَنَّا" کلمه مه تکراروئ بلکې تاسو وایاست چې: "أَسْلَمْنَا" یعنې مونږ تاته منقاد یاستو او مونږ جنګ نه کوو بلکې تاته بې جنګه تسلیم شوي یاستو. او دا ځکه چې:

ب: ستاسو په زړونو کښې ایمان نه دی ننوتلی او رېښې یې پکښې نه دي غزولې چې ستاسو حرکات او سکنات او هم أقوال او أفعال یې کنترول کړي وي.

ج: ای باندچیانو! اوس وخت دی چې تاسو په خپل ایمان باندې بیا نظر وکړئ، او د الله ﷻ اطاعت او د پیغمبر ﷺ اتباع بدون د قیدو شرطه خپله کړئ او خپل ایمان د کمال مقام ته ورسوئ.

د: که تاسو دا کار وکړئ او خپل خانونه د سوچه ایمان څښتنان جوړ کړئ، نو الله ﷻ به ستاسو د اعمالو اجر او ثواب ښه پوره درکړي او هیڅ شی به درڅخه کم نه کړي، نو په دې تقدیر به ستاسو ایمان کمال ته ورسېږي.

هـ: برسېره پر دې تاسو د خپلو پخوانیو کړو وړو څخه مغفرت وغواړئ او پښېماني ورباندې څرګنده کړئ، نو الله ﷻ به درته مغفرت وکړي او خپله مهرباني به درېېرزو کړي. او دا ځکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی.

۳ـ ای پیغمبره! د کاملو مؤمنانو خاصیتونه خپل اُمت ته ورزده کړه ترڅو په همدې کچه خپل ایمان ته وده ورکړي هغه دا چې: یقینًا کامل مؤمنان هغه کسان دي کومو چې په رښتیانیو معناوو کښې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړی دی او بیا په همدغه حالت باندې کلک

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ولاړ دي او شک شبه یې پکښې نه ده کړې. همدارنګه کامل مؤمنان هغه کسان دي کوم چې د الله ﷻ په لاره کښې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي، نه دا چې خپل ایمان یې د مالونو د راغونډولو ذریعه ګرځولې وي چې مونږ ایمان راوړی دی مونږ ته د بیت المال څخه برخه پوره ونډه راکړه.

ای پیغمبره! یقیناً همدغه کسان همدوی د "آمَنّا" په ویلو کښې رښتیني دي او د همدوی په زړونو کښې ایمان رېښې غزولې دي.

۴ـ ای پیغمبره! باندچیان یو ځل بیا مخاطب کړه او ورڅخه وپوښته چې: ایا تاسو بل چا ته نه بلکې الله ﷻ ته خپل دین ورښیئ چې مونږ دېر کلک مؤمنان یاستو؟، حال دا چې الله ﷻ ستاسو د ایمان په شمول په هغو ټولو شیانو او کیفیاتو باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې شتون لري. نو الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی، ستاسو عقیده او ستاسو زړونه ورته ښه پوره ښکاره دي او پوهېږي چې ستاسو ایمان په کومه درجه کښې موقعیت لري؟.

۵ـ نو ای پیغمبره! باندچیان په تاباندې د دې خبرې احسان ږدي چې دوی پرته د جنګه تاته تسلیم شوي دي او خپل انقیاد یې درته وړاندې کړی دی، نو ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

ای باندچیانو! تاسو په ماباندې خپل اسلام او انقیاد مه احسانوئ او زما څخه یې منته مه غواړئ. ځکه چې په ماباندې احسان اېښودل په حقیقت کښې په الله ﷻ باندې احسان اېښودل دي، حال دا چې په الله ﷻ باندې هیڅوک احسان نه شي اېښودلی او نه د چا احسان او ښېګنې ته څه اړتیا لري. بلکې تاسو د الله ﷻ احسان ومنئ چې تاسو ته یې د ایمان راوړلو توفیق درکړ او د ایمان راوړلو لاره یې دروښودله، البته دا په هغه صورت کښې چې تاسو د کامل ایمان راوړلو په دعوه کښې رښتیني یاست.

۶ـ ای پیغمبره! یقیناً الله ﷻ د باندچیانو د عقائدو په شمول د اسمانونو او ځمکو په غیبو باندې پوهېږي او هیڅ شی ورته مجهول او بې علمه نه دی، او په دې باندې علاوه الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو باندې بینا دی کوم چې تاسو لګیا یاست چې کوئ یې.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق په ﴿ قَالَتِ ٱلْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ﴾ کښې د ﴿ ٱلْأَعْرَابُ ﴾ کلمه د [التوبة ۹۷] ایت لاندې ښه پوره تحلیله کړې ده چې د باندچیانو معنی ورکوي. خو څرنګه چې د قرآن کریم د نزول په وخت کښې په باندچیانو کښې مؤمنانو او منافقانو دواړو ډلو موجودیت درلود، نو که څه هم د ځینو مفسرینو کرامو نظر دا دی چې دلته هغه باندچیان مطلب دي کومو چې پټ په زړونو کښې ایمان نه وه راوړی[1] او منافقان وه، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته د کمزوري ایمان خاوندان مراد دي چې د سورت د اول سر څخه په همدوی کښې بحث را روان دی او د منافقانو موضوع هیڅ مطرحه نه ده.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۶ ص۳۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ایمان او اسلام کلمې

۲ـ څرنګه چې په ﴿ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا ﴾ کښې الله ﷻ د ذکرو شوو باندې چیانو څخه ایمان نفي کړ چې تاسو ایمان نه دی راوړی. او د ﴿ أَسْلَمْنَا ﴾ د ویلو اجازه یې ورکړه، چې تاسو خپلو خانونو ته د مسلمانانو لقب ورکړئ؛ نو په دې مقام باندې د ښه پوهېدلو دپاره ځینو علماوو کرامو زښت اوږد بحث کړی دی او د ایمان او اسلام دواړه کلمې یې د متعددو حیثیتونو څخه ښې پوره شرحه کړې دي[۱]، خو مونږ دلته د لنډون په غرض لاندې نصوص د مقدمې په توګه وړاندې کوو:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴾ [آل عمران ۱۹] یعنې مقبول دین د الله ﷻ په نزد (فقط) اسلام دی او بس.

ب: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ سره جبرائیل ﷺ د ناأشنا سړي په څېره د تعلیم دپاره په اوږده حدیث کښې لاندې سوال جواب وکړ:

جبرائیل ﷺ: «ما الْإِيمَانُ؟» یعنې ایمان د څه شي نوم دی؟

نبي کریم ﷺ: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكِتَابِهِ وَلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ» یعنې شرعي ایمان دا دی چې ته په الله ﷻ سره ایمان راوړې او د ده ﷻ په پرښتو هم، او د ده ﷻ په (جنس) کتاب هم، او د ده ﷻ په ملاقات هم، او د ده ﷻ په پیغمبرانو هم، او چې ته ایمان راوړې د ځمکې څخه په وروستنيو راپورته کېدلو باندې هم.

جبرائیل ﷺ: «ما الْإِسْلَامُ؟» یعنې اسلام څه شی دی؟

نبي کریم ﷺ: «الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ»[۲] یعنې اسلام دا دی چې ته د الله ﷻ عبادت وکړې او هیڅ شی ورسره پکښې شریک ونه ګرځوې، او چې ته فرض لمونځ ودروې او چې ته فرض زکات اداء کړې او چې ته د رمضان میاشت روژه ونیسې.

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ»[۳] یعنې اسلام په پنځو بنیادونو باندې ولاړ دی چې یوه کلمه طیبه ده او بل د لمانځه درول او زکات ورکول دي، او بل حج دی او بل د رمضان د میاشتې روژه ده.

د: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَإِذَا قَالُوهَا عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ»[۴] یعنې زه د الله ﷻ د پلوه مامور کړی شوی یم چې

---

(۱) عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج۱ ص۱۶۲ - ص۱۷۵
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۲۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۶
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خلکو سره ترهغه وجنګېږم ترڅو چې دوی طیبه کلمه ووایي، نو کله چې دوی طیبه کلمه وویلې، نو د دوی وینې او مالونه زما څخه په عصمت کښې شوه، مګر د همدغې کلمې طیبې په حق سره، او (باطني) حساب یې په الله ﷻ دی چې پټ او ښکاره ورته ټول څرګند دي.

هـ: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْمُؤْمِنُونَ فِي الدُّنْيَا عَلَى ثَلَاثَةِ أَجْزَاءٍ: الَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالَّذِي يَأْمَنُهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ الَّذِي إِذَا أَشْرَفَ عَلَى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»[1] یعنې په دنیا کښې مؤمنان په درېوو برخو ویشلی شوي دي:

اول: هغه ډله کومې چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړی وي، بیا یې په خپل زړه کښې شک او تردد ته ځای نه وي ورکړی او په دې باندې علاوه د الله ﷻ په لاره کښې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره یې جهاد هم کړی وي.

دوهم: بله هغه ډله ده چې خلک ترې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو کښې په امن وي او څه خطره ترې نه لري.

درېیم وروستنۍ: هغه ډله ده چې کله په یوه (ناجائزه) تمه باندې توان مونده کړي او د خپل اشراف لاندې یې راولي خو محض د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره یې پرېږدي.

و: یو ځل نبي کریم ﷺ په ممبر باندې ودرېد او (په خپل یوه حدیث کښې یې) په لوړ اواز یې وویل چې «يَا مَعْشَرَ مَنْ قَدْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ إِلَى قَلْبِهِ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ»[2] یعنې ای د هغو کسانو ډلې کومې چې په خپله ژبه اسلام راوړی دی (طیبه کلمه یې ویلې ده) او ایمان یې زړه ته نه دی رسېدلی! تاسو مسلمانانو ته ضرر او اذیت مه رسوئ او مه پېغورونه ورکوئ او بالآخره مه یې د پټو عیبونو پلټنه کوئ.

ز: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ»[3] یعنې هرڅوک چې خاص د الله ﷻ دپاره محبت کوي او خاص د الله ﷻ دپاره بغض کوي او خاص د الله ﷻ دپاره ورکړه کوي او خاص د الله ﷻ دپاره د ورکړې څخه منعه کوي، نو یقیناً دغه کس خپل ایمان کامل کړ.

ح: په یوه حدیث کښې یوه ورځې سعد بن وقاص ﷺ یوه سړي ته اشاره وکړه او بیا یې نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: ای د الله رسوله! دغه سړی مؤمن دی. نبي کریم ﷺ بالمقابل نوموړی مخاطب کړ چې: «لَا تَقُلْ مُؤْمِنٌ وَقُلْ مُسْلِمٌ»[4] یعنې ته مه وایه چې دغه سړی مؤمن دی ځکه چې ایمان باطني شی دی ته یې په سترګو نه شې لیدلی. بلکې ووایه چې دغه سړی مسلم دی (غاړه ایښودونکی دی) چې ته یې غاړه ایښودل په خپلو حواسو درک کولی شې.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۳
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۲۸۷
(۴) سنن النسائي ج۲ ص۲۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې حدیث کښې مطلب دا نه دی چې مسلمان ته د "مؤمن" لقب ورکول جواز نه لري بلکې مطلب پکښې دا دی چې د "مسلم" په نامه باندې یې يادول بهتر دي[1]، چې شواهد يې ليدل کيږي.

## تبصره

۳ـ د ذکر شوې مقدمې څخه لاندې ټکي په اثبات رسيږي:

الف: د "إسلام" کلمه دوه معناوې لري چې يوه د ټول دين څخه عبارت ده او ايمان ته هم شامله ده، او بله يوازې د طيبې کلمې د ويلو څخه عبارت ده چې د مال او ځان د امنيت سبب ده[2].

ب: ايمان د توحيدي عقيدې معنی ورکوي چې دوه صورتونه درلودلی شي: يو ناقص ايمان، چې په جوارحو کنټرول نه لري، او بل کامل ايمان چې ټول جوارح او ټول بدن اداره کوي.

## د دې مقام وضاحت

۴ـ نو د دې مقام څه وضاحت ته توجه وکړئ:

الف: د باندېچيانو "آمَنَّا" ويلو سره مطلب دا وه چې مونږ د کامل دين درلودونکي ياستو او ايمان مو پوره کمال ته رسيدلی دی.

ب: الله ﷻ د هغوی مطلب رد کړ، چې تاسو د کامل دين درلودونکي نه ياست او ايمان مو کمال ته نه دی رسيدلی که نه نو تاسو به په نبي کريم ﷺ باندې خپل ايمان نه احسانولی او هم به مو تړې په ايمان راوړلو باندې د مالي مرستې غوښتنه نه کولی، او دا ځکه چې تاسو د مؤمنانو خاصيت نه دی خپل کړی، د مؤمنانو خاصيت دا دی چې: ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ ﴾ الآية.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَمَّا يَدْخُلِ ٱلْإِيمَـٰنُ فِى قُلُوبِكُمْ ﴾ مضمون په وړاندې جمله ﴿ لَّمْ تُؤْمِنُوا۟ ﴾ کښې اداء شوی دی؛ نو د همدغه يوه مضمون په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي مضمون په نزول کښې د لاندې وجوهو د کبله تکرار نشته:

الف: دغه جمله د ﴿ قُولُوٓا۟ ﴾ د ضمير څخه حال واقع شوې ده.

ب: دلته د "لَمْ" په عوض "لَمَّا" نازل شوی دی چې په توقع او تمنی باندې دلالت کوي[3].

يعني اې اعرابو! تاسو د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ په عوض د ﴿ أَسْلَمْنَا ﴾ جمله په داسې حال کښې واياست، چې ايمان مو زړونو ته نه دی ننوتلی او په جوارحو باندې مو کنټرول نه لري. نو ترڅو مو چې همدا حال وي د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ د ويلو څخه اجتناب وکړئ، خو د دې سره-سره تاسو توقع او تمه ولرئ چې په آينده کښې به ورباندې کنټرول مونده کړې او تاسو به د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ د ويلو جوګه وګرځئ.

---

(۱) شرح النووي على صحيح مسلم ج۱ ص۸۵

(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۱۵۵

(۳) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۳۷۶؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۳۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## وَلت څه معنی؟

٦_ په ﴿ لَا يَلِتكُم مِّنۡ أَعۡمَـٰلِكُمۡ شَيۡـًٔا ﴾ کښې د ﴿ لَا يَلِتكُم ﴾ کلمه د "وَلت" _لکه "ضَرْب" _ څخه اشتقاقه شوې ده، چې نقصان ورکولو ته وضعه شوې دی[1]. یعنې ای اعرابو! که تاسو په رښتیایو معناوو کښې اسلام عملي کړئ او ایمان مو په زړونو کښې ځای ونیسي نو تاسو ته به الله ﷻ د اعمالو پوره اجر درکړي او د ایمان په پخوانۍ کمزورۍ باندې به مو ونیسي

## سوالونه او جوابونه

٧_ په ﴿ يَمُنُّونَ عَلَيۡكَ أَنۡ أَسۡلَمُواْ ﴾ الآية- کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې کرځي

الف. لکه چې د وړاندې څخه څرګنده شوه چې اعرابو په نبي کریم ﷺ باندې د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ په ویلو باندې احسان ایښود، نو په کار وه چې د ﴿ أَنۡ أَسۡلَمُواْ ﴾ په ع وض "أنْ آمَنُوا" او د ﴿ عَلَيَّ إِسۡلَـٰمَكُم ﴾ په عوض "عَلَيَّ إيْمَانَكُمْ" نازل شوی وی؟

مونږ وایو. څرنګه چې الله ﷻ د اعرابو د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ کلمه رده کړه او د ﴿ أَسۡلَمۡنَا ﴾ کلمه یې ورته تصحیح کړه نو د هغوی د ﴿ ءَامَنَّا ﴾ کلمې د ﴿ أَسۡلَمۡنَا ﴾ معنی ورکړه. نو ته به وایې چې هغوی په خپل ایمان سره په نبي کریم ﷺ باندې احسان نه وي بار کړی بلکې په خپل اسلام سره به یې ورباندې احسان بار کړی وي، نو هغوی ته ارشاد نازل شو چې د دغه کار څخه لاس واخلئ.

ب. که څوک وایې چې: د ذکر شوي جواب په بنیاد باید چې په ﴿ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَـٰنِ ﴾ کښې د ﴿ لِلۡإِيمَـٰنِ ﴾ په عوض "لِلْإسْلَام" نازل شوی وی؟

مونږ وایو چې: د همدغې جملې دپاره د ﴿ إِن كُنتُمۡ صَـٰدِقِينَ ﴾ جمله د قید حیثیت لري. یعنې ای اعرابو! دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ (چې کامل ایمان مو راوړی دی) که بالفرض همدغسې وي او تاسو په خپله خبره کښې رښتیني یاست، نو تاسو د الله ﷻ احسان ومنئ چې په دې تقدیر یې تاسو ایمان ته هدایت کړي یاست، نه دا چې په نبي کریم ﷺ باندې احسان بار کړئ.

د "الحُجُرات" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق پای ته ورسېد.

اللّهُمَّ إنا نَسْأَلُكَ كَمَالَ الْإِيْمَانِ وَنَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالنِّفَاقِ وَالشِّقَاقِ وَسُوءِ الأَخْلَاقِ وَضَعْفِ الْإِيْمَانِ

١١/٥/١٣٨٢ هـ ق = ١٣٨٢/۴/٢٠ هـ ش

31

(١) لسان العرب ج٢ ص١٠٨

Scanned by CamScanner

# ق (۵۰)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت اولنی توری "ق" د همدې سورت نوم گرځولی شوی دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول سره دي[۱]:

الف: د ایتونو شمېره یې پنځه څلوېښتو (۴۵) ته رسېږي.

ب: د کلماتو شمېره یې درې سوه او اوه پنځوسو (۳۵۷) ته پورته شوې ده.

ج: بالآخره د حروفو ټوله شمېره یې یو زر څلور سوه او څلور نوي (۱۴۹۴) حرفونو ته اوچتېږي.

۳_ د دې سورت ټول ایتونه په اجماع سره مکي دي او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۲].

## د دې سورت محتویات

۴_ که څه هم د قرآن کریم د سورتونو محتویات محدودیت نه لري مگر د اغلبیت په لحاظ سره د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو غوندې عقیدوي ارشادات تشکیلوي. لکه ابتدایي خلقت، البعث بعد الموت، جنت او دوزخ، حساب کتاب او داسې نور، خو د بیان زیات زور یې په بیا راژوندي کولو باندې اچولی شوی دی.

څرنگه چې دا سورت په عقیدې مهمو احکامو باندې مشتمل دی نو نبي کریم ﷺ به په لویو غونډو کښې ډېر قرائت کاوه د همدې کبله أم هشام بنت حارثه (رضي الله عنها) وایي چې: «مَا حَفِظْتُ "قٓ" إِلَّا مِنْ فِي رَسُولِ اللهِ ﷺ يَخْطُبُ بِهَا كُلَّ جُمُعَةٍ وَكَانَ تَنُّورُنَا وَتَنُّورُ رَسُولِ اللهِ ﷺ وَاحِدًا»[۳] یعني ما د "ق" سورت نه دی حفظ کړی مگر د نبي کریم ﷺ د مبارکې خولې څخه، چې په هره جمعه کښې به یې پرې خطبه ورکوله او زمونږ تنور او د نبي کریم ﷺ تنور (تر څه وخته پورې) یو وه (چې زمونږ کور ورته نژدې وه).

## د دواړو سورتونو تناسب

۵_ وړاندېنی سورت (الحُجُرَات) مدني سورت دی او عملي احکامو پورې زیات تعلق لري او دا سورت (ق) مکی سورت دی او په عقیدوي احکامو پورې زیات ارتباط لري، څرنگه چې دین د دغو دواړو ډولو احکامو مجموعه ده نو هلته یې یوه برخه نازله شوې ده او دلته یې بلې برخې نزول موندلی دی.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قٓ ۚ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْمَجِيدِ ۝ بَلْ عَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۵۹، اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۱
(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۵۸
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۲۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شَىْءٌ عَجِيبٌ ﴿٢﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذَٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيدٌ ﴿٣﴾ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ ٱلْأَرْضُ
مِنْهُمْ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظٌۢ ﴿٤﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِىٓ أَمْرٍ مَّرِيجٍ ﴿٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

او په باعظمته قرآن باندې سوګند دی (چې مشرکان بلا برهانه ستا تکذیب کوي).

[۲] بلکې دوی د دې خبرې څخه تعجب کوي چې د همدوی د جنس څخه ورته ډاروونکی ورغی نو کفارو (د خپل کفر د أمله) وویلې چې دا عجیب شی دی (چې بشر پیغمبر شي او مړي بېرته راژوندي شي).

[۳] (کفار وایي چې) ایا کله چې مونږ مړه شو او خاورې وګرځو (نو بیا به راژوندي کړی شو)؟ دغه (بیا راژوندي کېدل) ډېر لرې راګرځېدل دي (چې زمونږ عقل یې نه شي قبلولی).

[۴] یقیناً مونږ ته هغه بڅرکي (او جزونه) ښه معلوم دي کوم چې د دوی څخه یې ځمکه کموي (او تیت پرک یې ګرځوي)، او (هم) زمونږ په نزد ساتلی شوی کتاب دی (چې هر څه پکښې ثبت دي).

[۵] (کفارو کوم برهان نه درلود) بلکې حق ته یې په عجلې سره د درغو نسبت وکړ کله چې ورته ورغی (او هیڅ تدبر یې ونه کړ)، نو (د همدې کبله) دوی په ګډوډ کار کښې واقع دي (په یوه خبره ولاړ نه دي، کله یو څه وایي او کله بل څه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت (الحُجُرات) په وروستنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د علم احاطې ته اشاره شوې ده چې په هر څه باندې پوهېږي. او د دې سورت (قٓ) په وړاندېنیو ایتونو کښې یې د قدرت احاطې ته اشاره کېږي چې په هر څه باندې د قدرت څښتن دی. نو حاصل یې داسې راځېږي.

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ویلو څخه وروسته په خپل أمت باندې د الله ﷻ د پلوه لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ په دې قرآن کریم باندې، چې د مَجد او عَظمت درلودونکی دی، سوګند یادوم چې ته په حقه پیغمبر او الهي ډاروونکی یې. یا په بل عبارت: ستا د نبوت د اثبات دپاره همدغه قرآن کریم ښه دلیل او برهان دی. او دا ځکه چې دغه قرآن کریم د هغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې روزمره د خلکو کلامونه ترکیب مومي لکه "قٓ" او داسې نور. خو د دې سره-سره هیڅوک او هیڅ ډله ورسره د یو سورت یا څو ایتونو په جوړولو کښې سیالي نه شي کولی. که بالفرض دا د الله ﷻ د پلوه په حقه نه وی نازل شوی نو یو سیال لا څه بلکې ډېر سیالان به یې درلودلي وی.

۲ـ د همدې کبله ستا د نبوت د رد دپاره مشرکان هیڅ دلیل او برهان نه شي درلودلی. بلکې

الف: هغوی فقط د دې څخه تعجب کوي چې دوی ته د خپل جنس څخه ډاروونکی ورغلی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هغوی د خپل کفر د امله وايي چې دا عجيب شی دی چې مونږ ته پرښته د پيغمبر په حيث راوانستوله شوه او بنيادم په همدې حيث راواستولی شو.

ب: بيا خپل تعجب ته ادامه ورکوي او ستا د ارشاداتو په هکله وايي چې: ايا کله چې مونږ مړه او خاوري شو او هډوکي او غوښې مو په خمکه کښې تيت پرک وګرځي نو مونږ به بيا راژوندي کړی شو؟ دغه بېرته راګرځېدل او راژوندي کېدل د واقعيت څخه ډېر لرې دي او د باور کولو قابليت نه لري.

۳_ ای پيغمبره! د مشرکانو د تعجب په رد کښې ابلاغ کړه چې:

الف: هغوی دې د بيا راژوندي کېدلو څخه تعجب نه کوي، او دا ځکه چې مونږ د هغوی په هغو ټولو بخرکو او ذراتو پوهه لرو، کوم چې د هغوی د کالبوتونو څخه ځمکه ناقص ګرځوي او يا يې بادونه يو پلو او بل پلو ته الوزوي راالوزوي.

ب: په دې باندې علاوه زمونږ په نزد داسې کتاب شته چې د هر ډول بدلون څخه ساتلی شوی دی چې د لوح محفوظ څخه عبارت دی. په دغه کتاب کښې د هغوی د هرې ذرې او هر بخرکی د تقرر ځای (لا په أزل کښې) ليکل شوی دی، نو په مونږ باندې د مړو بيا راژوندي کول هيڅ مشکل کار نه دی. نو هغوی ته په کار دي چې د بيا راژوندي کېدلو څخه تعجب ونه کړي.

۴_ مشرکان يوازې په تعجب باندې اکتفاء نه کوي چې د حق تکذيب پکښې نغښتی دی بلکې کله چې ورته حق ورشي په عجلې سره (پرته د سوچ او غور څخه) يې په تکذيب سره صراحت کوي. نو کله يې د سحر او جادو په نامه يادوي او کله پرې بل نوم ږدي.

لنډه دا چې کفار د حق د رد په هکله په تشويش کښې موقعيت لري که بالفرض د هغوی مفکورې واقعيت درلودی نو په يوه لقب به کلک ولاړ وی او حق ته به يې ډول-ډول لقبونه نه وي ورکړي.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ قٓ ﴾ کلمه په ګڼو تاويلونو سره معنی کړې ده چې تقريبًا ديارلسو معناوو ته رسېږي[۱]، چې ځينو علماوو کرامو ذکره شوې کلمه د يوه غره څخه کنايي اخستې ده کوم چې د ټولې دنيا څخه _د هغوی په ګومان_ راچاپېر دی. دغه معنی څه واقعيت نه لري او محض خيال دی او د اسرائيلياتو څخه ده[۲]، نو مونږ ته بهتره برېښي چې د (ق) کلمه دلته د مقطعاتو څخه وګڼله شي او اصلي تفسير يې الله ﷻ ته وسپارل شي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې په ﴿ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ﴾ کښې د "و" توری د قسم دپاره دی، نو پوښتنه دا ده چې د دغه قسم جواب کومه جمله ده؟

---

(۱) البحر المحيط ج۹ ص۵۲۸

(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دغه جواب په ارتباط مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[1]. خو کوم احتمال چې ښکښې مونږ ته غوره برېښي هغه دا دی چې دلته د قسم جواب هغه مقدره جمله ده د کومې څخه چې په ﴿ بَلْ عَجِبُوٓا ﴾ کښې د "بل" توری په اضراب باندې دلالت کوي. څه لږې نه ده چې په "مَا كَذَّبُوكَ بِبُرْهَانٍ" سره ترې تعبیر وکړی شي"[2]. یعنې په دغه قرآن باندې ـچې د شرف او عظمت څښتن دی ـ سوګند دی چې مشرکان بدون د برهان څخه ستا تکذیب کوي. د دوی تکذیب فقط په تعجب باندې ولاړ دی او بس.

## مرج څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فِىٓ أَمْرٍ مَّرِيجٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّرِيجٍ ﴾ کلمه د "مَرَج" ـلکه "ضَرَب" ـ یا "مَرِج" ـلکه "شَرِف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان ۵۳] ایت لاندې لیکلي دي چې "مَرج" د خلط معنی ورکوي. یعنې کفار د نبي کریم ﷺ او د قرآن کریم ﷺ په هکله په ګډوډ حال کښې واقع دي چې کله ورباندې یو نوم کېږدي ـلکه جادو، جادوګر او نورـ او کله بل؛ که بل بالفرض د کفارو لښونه په کوم برهان باندې ولاړ وی نو به یوه نامه په کلک درېدلي وی. خو خبره دغسې نه ده.

﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَـٰهَا وَزَيَّنَّـٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴿٦﴾ وَٱلْأَرْضَ
مَدَدْنَـٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴿٧﴾ تَبْصِرَةً وَذِكْرَىٰ لِكُلِّ عَبْدٍ
مُّنِيبٍ ﴿٨﴾ وَنَزَّلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً مُّبَـٰرَكًا فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ جَنَّـٰتٍ وَحَبَّ ٱلْحَصِيدِ ﴿٩﴾ وَٱلنَّخْلَ
بَاسِقَـٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ ﴿١٠﴾ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلْخُرُوجُ ﴿١١﴾ ﴾

[۶] ایا نو دوی (د حشر منکران) اسمان ته نه ګوري چې د پاسه ورباندې (د چترۍ غوندې ولاړ) دی چې مونږ په څه کیف سره جوړ کړی دی او (په څه کیف سره) مو ښایسته کړی دی حال دا چې هیڅ چاودونه (درزونه) ورته نشته.

[۷] او ځمکه چې ده مونږ غوړولې ده او (د غرونو) مېخونه مو پکښې اچولي دي (چې اضطراري حرکت یې ورته درولی دی) او (هدارنګه) مو پکښې د هرې تازه (ښایسته) نوعې څخه نباتات رازرغون کړي دي.

[۸] (دا ټول) د دې دپاره چې (خپل) هر رجوع کوونکی بنده ته (پرې) د زړه بصیرت او هم پند (او عبرتي درس) ورکړو.

[۹] او مونږ د اسمان څخه برکتناکې اوبه (باران) رانازلوو نو په دغو اوبو سره باغونه او د رېبلو دانې (لکه غنم او جوار) رازرغونوو.

---

(۱) زاد المسیر ج۷ ص۱۹۰؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۷۲
(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰] او (په همدې سره) د خرما ونې هم په داسې حال (زرغونوو) چې د هسکو قدونو او داسې وږو درلودونکې وي چې د کجورو دانې یې (د ډېروالي د کبله) خینې په خینو نورو باندې سورې وي.
[۱۱] (دا د دې دپاره چې) بندګانو ته (روزي ورکړو) روزي ورکول.
او (په دې باندې علاوه) مونږ په دغو (أوبو) سره مړ (وچ کلک) ښار (ځمکه) را ژوندۍ کوو (او په نباتاتو سره یې ډولي ګرځوو).
(لکه څنګه چې ذکر شوي کارونه زمونږ په قدرت سره صورت نیسي) همدارنګه د قبرونو څخه بېرته راوتل (او بعث بعد الموت هم زمونږ د کامل قدرت لاندې) دي (په کار دي چې انکار ترې ونه کړی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني متصل ایت مضمون دا وه چې کفار بدون د تفکره په عجلې سره حق تکذیبوي، په دې ایتونو کښې د تفکر طریقه ښودله شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! کفار په ډېرې توندۍ سره د حق تکذیب کوي او د بعث بعد الموت څخه منکرېږي که نه نو د الله ﷻ قدرت په ټولو مخلوقاتو کښې پوره څرګند دی د مثال په توګه:
۱_ ایا نو دوی اسمان ته نه ګوري حال دا چې کتل یې څه مشقت هم نه غواړي بلکې د دوی د سرونو د پاسه په دوامداره توګه ولاړ دی، ترڅو په لاندې کیفیاتو کښې یې تفکر وکړي:
الف: مونږ په څومره ښه توګه پرته د ستنو د خېمې او تجیر غوندې درولی دی او ټوله ځمکه مو پکښې نغښتې ده.
ب: په څومره ډېرو ستورو مو ښایسته کړی دی چې د شپې د پلوه پکښې څرګندېږي، دغه ستوري برسېره پر دې چې شیطانان ورباندې ویشتلي کېږي، د شپې مزل کوونکو او مسافرینو ته دسمې لارې ښوونه هم کوي.
ج: په دغه اسمان کښې هیڅ چاود او درز نشته او نه پکښې لوړې ژورې او سُوری موری موجودیت لري، بلکې ټول ښه ښویه په شین رنګ کښې ځلېږي.
نو ایا بدون د کامل قدرت څخه د ذکر شوي اسمان جوړول امکان لري؟
۲_ ایا کفار ځمکې ته نه ګوري حال دا چې دوی ورباندې شپه او ورځ استوګنه لري، ترڅو په لاندې کیفیاتو کښې یې تدبر وکړي او خپل رب ﷻ وپېژني:
الف: مونږ ځمکه خوره کړې ده او د استوګنې دپاره مو قابله ګرځولې ده، که بالفرض یا ډېره کلکه وی او یا ډېره پسته او نرمه وی نو د سکونت قابله به نه وی.
ب: په همدغې ځمکه باندې مونږ د مېخونو په شکل غرونه نصب کړي دي چې د دې د اضطراري حرکت مخه یې نیولې ده. که نه نو دوامداره به لړزېدلی او هیچا به ورباندې ګوزاره نه وی کړې.
ج: په دې ځمکه کښې مو د هر ډول ښایسته او تازه بوټو څخه زرغون کړي دي او ځمکه مو ورباندې ښایسته کړې ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ مونږ د اسمان او ځمکې په پیدا ښت کښې دغه کارونه د دې دپاره وکړه ترڅو د خپل هغه بنده ، د زړه سترګې رڼې کړو کوم چې مونږ ته رجوع کوونکی وي، او هم ورته د پند او عبرت درس ورکړو.

۴_ ایا کفار باران ته نه ګوري چې مونږ یې د اسمان څخه نازلوو، داسې باران چې:

الف: اوبه یې برکتناکې دي، او د ځاځکو په شکل یې نازلوو که بالفرض د سېلاب په شکل یې نازلې کړو نو ډېر ضررونه به هم د خانه سره ولري.

ب: د همدغو باران په برکتناکو اوبو سره مونږ د هر ډول مېوجاتو باغ ـنه رازرغونوو چې ونې یې ولاړې وې او مېوجات یې وخت په وخت راشکلولی کېږي. او هم ورباندې هغه دانې او حبوبات د ځمکې څخه رازرغونوو د کومو پتې چې لو کېږي او حاصلات ترې اخستلی کېږي او د نورو حاصلاتو دپاره بیا کرلو او رېبلو ته اړتیا لري.

ج: په همدغه باران سره د همدغې ځمکې څخه د کجورو لوړې ونې هم رازرغونوو چې د ښو ډېرو ورږو درلودونکې وي او په هر یوه وږي کښې د کجورو ځینو دانې په نورو باندې سورې کړې شوې وي، چې ښه تخته وږي یې تشکیل کړي وي.

ذکر شوي کارونه مونږ د دې دپاره کوو چې خپلو بندګانو ته د رنګارنګ خوراکونو څخه روزي ورکړو او هم د دوی څارویو ته واښه او ګیاه ورکړو.

د: په همدغه باران سره مونږ مړ ښار او وچه کلکه ځمکه راژوندۍ کوو او د نباتاتو د زرغونولو دپاره پکښې حرکت پیدا کوو، ترڅو ترې تېغونه رابهر شي او ځمکه تروتازه شي.

۵_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې ذکر شوي کارونه هر یو زمونږ په کامل قدرت سره موجود ېږي او په ځینو کښې لا د موجودیت سلسله روانه ده، همدارنګه د قبرونو څخه بېرته راوتل او بیا ژوندي کېدل به هم زمونږ په کامل قدرت سره صورت ونیسي، نو کفارو ته په کار دي چې بعث بعد الموت ته د تعجب په نظر ونه ګوري او عقیده ورباندې وکړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ کښې د ﴿ فُرُوجٍ ﴾ کلمه د "فَرْج" _لکه "ضَرْب"_ جمعه ده چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په چاودونو او درزونو سره تفسیره کړې ده[۱]. یعنې او اسمان هیڅ چاودونه او درزونه نه لري. خو د قیامت په ورځ به یې رنګېدل په چاودونو او درزونو سره پیل شي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴾ [المرسلات: ۹] یعنې او هغه وخت چې اسمان چاودونه (درزونه) کړی شي.

## بَهْجَة څه معنی؟

۲_ په ﴿ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴾ کښې د ﴿ بَهِيج ﴾ کلمه د "بَهْجَة" _لکه "نَضْرَة"_ څخه اشتقاقه شوې

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۱۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، چې د ښایسته رنګ او تازګۍ معنی ورکوي[۱]. یعني مونږ د خرې پرې ځمکې څخه هر ډول ښایسته رنګي او تازه نباتات رازرغون کړي دي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په ﴿ تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ﴾ کښې د ﴿ تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ ﴾ دواړو کلمو ته څه شي نصب ورکړی دی؟

مونږ وایو چې: د دغو دواړو کلمو په نصب کښې مفسرینو کرامو ډېر احتمالات لیکلي دي[۲]. بهتره دا ده چې دغه هره یوه کلمه د مقدر فعل دپاره مَفعُول لهُ واقع شوې ده چې مونږ تري په "فعلنا ما فعلنا" سره تعبیر کولی شو[۳]. یعني په اسمان او ځمکه کښې مونږ دغه کارونه د دې دپاره وکړه ترڅو ورباندې د خپل راجع کېدونکي بنده د زړه سترګې رڼې کړو او هم ورته د عبرت درس ورکړو.

## د درېیو لغاتو معناوې

۴ـ په ﴿ وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ﴾ کښې د لاندې درېیو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د ﴿ بَاسِقَٰتٖ ﴾ کلمه د "بُسُوق" ـلکه "قُتُول"ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د اوږدوالي معنی ورکوي[۴].

ب. مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۱۴۸] لاندې لیکلي دي چې: د "طَلۡعٌ" کلمې څخه د کجورو هغه وړې مراد دی کوم چې د ښخولې څخه راوتلي وي.

ج: د ﴿ نَّضِيدٞ ﴾ کلمې د "نَضۡد" ـلکه "ضَرۡب"ـ څخه یې اشتقاق موندلی دی، "نَضۡد" دېته وایي چې: ځینې شیان د ځینو نورو د پاسه کېښودل شي[۵].

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: مونږ په اسماني اوبو سره په داسې حال کښې د خرما ونې رازرغونوو چې دنګ او لوړ قدونه لري او د داسې وړو درلودونکي وي چې د کنوالي د کبله یې کجورې ځینې په ځینو نورو باندې د پاسه سورې او پرتې وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ﴾ کښې په "ذلك" سره څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وایو: ځینو مفسرینو کرامو دغه اشاره هغه "الحَيَاة" ته ګڼلې ده په کوم باندې چې په وړاندېنۍ جمله کښې د "أَحۡيَيۡنَا" کلمه مشتمله ده، خو بهتره دا ده چې په "ذلك" سره به د "مذکور" په

(۱) لسان العرب ج۲ ص۲۱۶
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۱۷
(۳) روح المعاني ج۲۶ ص۱۷۶
(۴) القاموس المحیط ج۱ ص۲۷۴
(۵) لسان العرب ج۳ ص۴۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لحاظ هغو ټولو کارونو ته اشاره وي په کومو باندې چې د ایتونو مجموعه مشتمله ده[1]. یعنې د اسمان او ځمکې د خلقت او هم د باران د نزول او د نباتاتو د زرغونولو غوندې کټ مټ د قبرونو څخه بیا ژوندي راوتل (راپورته کېدل) هم دي، چې د کامل قدرت په نسبت هیڅ تفاوت نه لري.

﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَٰنُ لُوطٍ ﴿١٣﴾ وَأَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ أَفَعَيِينَا بِٱلْخَلْقِ ٱلْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِى لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ ﴾

[۱۲] ستا د زمانې د کفارو څخه وړاندې د نوح ﷺ قوم هم (خپل پیغمبر ته) د دروغو نسبت کړی وه، او د څا ملګرو (کفارو هم) او ثمودیانو هم.

[۱۳] او عادیانو هم (چې هود ﷺ یې تکذیب کړی وه) او فرعون هم او د لوط ﷺ وروڼو هم.

[۱۴] او د ځنګله ملګرو هم او د تُبع د پاچا قوم هم.

(دغو) ټولو (قومونو) پیغمبرانو ته د دروغو نسبت کړی وه نو (زمونږ د جانبه ورباندې) عذاب ثابت (او متحقق) شو (ټول پوپنا شوه).

[۱۵] ایا نو مونږ (د دوهم ځل پیدا کولو څخه) په لومړي ځل پیدا کولو سره عاجز شوو (قدرت مو ورباندې ختم شو؟ دغسې نه ده)، بلکې کفار د نوي پیدایښت څخه په شک (او اشتباه) کښې واقع دي (او څه دلیل په لاس کښې نه لري).

## ارتباط او توضیحات

۱_ په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې ته غمژن کېږه مه، ستا د قوم د کفارو غوندې پخوانیو قومونو هم د خپلو پیغمبرانو تکذیب کړی وه چې په نتیجه کښې په عذابونو باندې اخته شوه، نو د دې زمانې کفار او معاندین به هم بې تعذیبه پاتې نه شي.

۲_ د دې ایتونو ځینې اړونده مطالب وړاندې تېر شوي دي _والحمد لله ﷻ_ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو. هغه دا چې:

الف: د ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ ﴾ بیان د [الفرقان:۳۸] ایت لاندې تېر شوی دی چې دا یو کافر قوم وه او په عذاب اخته کړی شو، نور اضافه معلومات الله ﷻ پورې اختصاص لري چې دوی د کوم پیغمبر څخه بغاوت غوره کړې وه.

ب: په ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ ﴾ کښې د ﴿ٱلْأَيْكَةِ﴾ کلمه د [الشعراء:۱۷٦] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د ځنګله معنی ورکوي، او کوم قوم چې د همدغه ځنګله خواوشا استوګنه درلوده هغوی د شعیب ﷺ تکذیب کړی وه.

(۱) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿وَقَوْمُ تُبَّعٍ﴾ کښې د ﴿تُبَّعٍ﴾ کلمه د [الدخان:٣٧] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې واضحه کړی شوې ده چې دا د یوه مسلمان پاچا نوم وه چې د ده د مرګ څخه وروسته د ده قوم په کفر کلک شو او بیا هلاک شو.

## سوال جواب

٣_ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد د ﴿وَإِخْوَانُ لُوطٍ﴾ په عوض د ﴿قَوْمُ نُوحٍ﴾ غوندې "قَوْمُ لُوطٍ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې _والله ﷻ أعلم_ د لوط ﷺ ماندینه د هغه قوم څخه وه کوم ته چې لوط ﷺ د پیغمبر په صفت ورغلی وه[١]، او هم ورسره هغوی د نصرت وعده کړې وه[٢]، د همدغه زومتوب او عهد د کبله د هغوی څخه په "إِخْوَانُ" سره تعبیر نازل کړی شو، خو په نتیجه کښې هغوی د زومتوب مراعات ونه کړ او د عهد وروړولي یې د پښو لاندې کړه چې د عذاب سره مخامخ شوه.

## عيّ څه معنی؟

٤_ په ﴿أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ﴾ کښې د "عَيِينَا" کلمه د "عَيّ" _لکه "حَيّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د عجز معنی ورکوي[٣]، خو په دې مقام کښې په لاندې دوه ډوله تفسیره کېدلی شي.

الف: ایا نو مونږ د لومړي پیدا کولو څخه عاجز شوو او ومو نه شو کړی چې تحقق ورکړو؟ که بالفرض داسې وی نو د دوهم ځل پیدا کولو څخه به هم عاجز شوي وی.

ب: ایا نو مونږ په لومړي ځل پیدا کولو سره د دوهم ځل پیدا کولو څخه عاجز شوو او قدرت مو ختم شو. دوهم ځل پیدا کول نه شو کولی؟ دغسې نه ده بلکې کفار د نوي پیدا کولو څخه په اشتباه کښې لوېدلي دي او غلط ګومان یې خپل کړی دی.

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَّقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾﴾

[١٦] او یقیناً مونږ انسان پیدا کړی دی او مونږ په هغه شي باندې هم پوهېږو په کوم سره چې

---

(١) روح المعاني ج٢٦ ص١٧٧
(٢) نظم الدرر ج٧ ص٢٥٣
(٣) لسان العرب ج١٥ ص١١١؛ القاموس المحیط ج٣ ص٣٦٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حال دا چې مونږ انسان ته د ده د ده د خان وسوسه کوي (او په زړه کښې یې تېرېږي راتېرېږي)، شارګ (د ده د خان) څخه (په علم او قدرت سره) ډېر نږدې یاستو

[۱۷] هغه وخت یاد کړه چې کله دوه پیوسته کېدونکې د ښي طرف څخه (ناسته پرښته) او د چپ طرف څخه ناسته پرښته (دواړه د انسان د هرو کړو وړو سره په دوامداره توګه په حفظ او کتابت سره) متصلې شي

[۱۸] (نو) بنیادم په هیڅ قول سره تلفظ نه کوي مګر د ده په نزد څارونکې (او کتابت ته) چمتو پرښته موجوده ده (او قول یې د مراقبت لاندې نیسي)

[۱۹] او د مرګ بې هوشي په حقه (رښتیا) راغله، (داسې یې وګڼه لکه چې راغلې وي. په دغه وخت کښې به انسان ته وویلی شي چې) دغه مرګ هغه شی دی د کوم څخه چې تا څنګ (نفرت) کاوه (خو تښتېدلو درته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی)

[۲۰] او په شپېلی کښې به (دوهم ځل) پوکی وکړی شي، (او خلک به ټول د قبرونو څخه را اوچت شي او ورته به وویلی شي چې) دغه د وعید (عذاب) ورځ ده (چې څوک یې استحقاق ولري نو په هیڅ وجه به نجات مونده نه کړي)

[۲۱] او هر نفس به په داسې حال راشي چې (د حساب کتاب مقام ته) سوق کوونکې پرښته او شهادت ورکوونکی به ورسره وي

[۲۲] (په دغه وخت کښې به ورته وویلی شي چې) یقینًا ته (په دنیا کښې) د دې ورځې څخه په غفلت کښې واقع وې، نو مونږ ستا د سترګو څخه پرده اوچته کړه نو نن ورځ ستا نظر ښه تېز دی (هر څه ګورې)

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په آفاقو کښې د کامل قدرت د بیان او نبي کریم ﷺ ته د تسلی ورکولو څخه وروسته په دې ایتونو کښې د کامل قدرت او کامل علم بیان د انسان په ارتباط نازل شوی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د کامل علم او کامل قدرت څه مثالونه د انسان په ارتباط په خپل أمت باندې قرائت کړه. هغه دا چې

۱ـ یقینًا انسان مونږ په ډېر ښایسته تقویم سره پیدا کړی دی او مونږ یې په ټولو حالاتو باندې کامل علم لرو او ټول کیفیات یې راته معلوم دي. د مثال په توګه

الف: مونږ په هغو ټولو کیفیاتو باندې کامل علم لرو کوم چې د انسان په زړه کښې د وسوسې په توګه تېرېږي او راتېرېږي. یا په بل عبارت: مونږ انسان ته د ده د شارګونو څخه ډېر نږدې یاستو (مونږ چې د ده په کومو حالاتو باندې پوهه لرو په هغو باندې پخپله انسان نه پوهېږي)

ب: او هم مونږ په هر انسان باندې د هغه د کړو وړو د کنټرول دپاره دوه دوه پرښتې ټاکلې دي. نو اول ای پیغمبره! بنیادم ته هغه وخت وریه زړه کړه چې په دوامداره توګه هم دغه تماس نیوونکې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوه پرښتي د هر چا د ټولو کړو وړو سره د همېشه دپاره په لیکلو تماس نیسي

دوهم په داسې حال کښې چې دغه دوه پرښتې یوه د هر چا په ښي طرف کښې ناسته ده او د نیکیو په لیکلو یې بوخته ده او بله یې په چپ طرف کښې ناسته ده چې د بدیو لیکنه یې کوي

دریم نو په همدې بنیاد انسان په هیڅ خبره باندي تلفظ نه کوي مګر د ده په حضور کښې د لیکلو دپاره څارونکې پرښته چمتو او حاضره وي چې هیڅکله ترې نه غائبه کېږي

ج همدغه د لیکلو سلسله د انسان تر ژوندو پورې ادامه لري او په مرګ سره ختمېږي

د د انسان د مرګ شروع په سکراتو او سختیو سره صورت نیسي چې دغه سختې په حقه او رښتیا سره رانلونکې دي، لکه چې سمدستي راغلي وي

هـ که څه هم انسان د مرګ څخه تېښتې خو هیڅوک ترې نجات نه شي موندلی، نو په همدې اساس به د ځنکدن په حال کښې هر چاته وویلی شي چې دا هغه مرګ دی چې ته د هغه څخه تښتېدونکی او ډډه کوونکی وې

۲ـ کله چې انسان مړ شي او کالبوت یې په خاورو کښې تپت پرک شي نو ضرور د لاندې حالاتو سره مخامخ کېږي

الف دوهمه شپېلۍ به ووهلی شي او ټول مړي به راژوندي شي او د قبرونو څخه به را اوچت کړی شي. نو په همدغه حالت کښې به ورته وویلی شي چې دا د عذاب او ثواب ورځ ده د کومې څخه چې کافر انسان انکار کړی وه او باور یې نه درلود چې بېرته به راژوندی کړی شي. بلکې د همدغې ورځې څخه به زیات تعجب کښې واقع وه

ب په دغې ورځ کښې به هر څوک د محاسبې مقام ته د خپلو حساباتو د تصفیه کولو دپاره به داسې شان سره ورشي چې د خپلې دوسیې سره به د یوې پرښتې د پلوه سوق کېږي او هم به ورسره شهادت ورکوونکې پرښته حاضره وي

ج نو په دغه وخت کښې به ورته وویلی شي چې ای انسانه! ته د دغې ورځې څخه په دنیا کښې غافل وې او زینت ډېر غفلت دې حپل کړی وه. خو ستا غفلت او انکار د دغې ورځې په راتګ باندې هیڅ اثر ونه غورزاوه

د نو د همدې کبله نن ورځ ته هغه ټول حالات په خپلو سترګو ګورې د کومو څخه چې په دنیا کښې ته انکاري وې او حپل ځان دې ورڅخه په پرده کښې ساتلی وه. دغه دی نن ورځ موږ ستا څخه د غفلت پرده پورته کړه نو ستا سترګې د نظر د حیثه ښې پوره تېزې دي او ټول حالات درته ځرګند دي

## توضیحات

۱ـ په «وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ» الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه وکړئ:

الف په «حَبْلِ الْوَرِيدِ» کښې د «الْوَرِيدِ» کلمه د هغه رګ دپاره وضعه شوې ده کوم چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرۍ څخه تېرېږي او د زړه سره پیوستون لري او ټول بدن ته پکښې وینه خورېږي[١]، چې مونږ ترې په شارګ سره تعبیر کوو.

ب: او د ﴿ حَبۡلِ ﴾ کلمه ـ چې د رسۍ معنی ورکوي ـ ورته په بیاني اضافت سره مضافه شوې ده. نو د ﴿ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ﴾ کلمات د بنیادم د خان څخه کنایي دي چې نهایت قرب پکښې منعکس شوی دی[٢].

ج: دا د یو پلوه، او د بله پلوه ځینو مفسرینو کرامو په ذکر شوي عبارت کښې د "نَحۡنُ" کلمه د پرښتو څخه عبارت اخستې ده[٣]، او حاصل یې داسې اخستی دی چې زمونږ پرښتې بنیادم ته د ده د خان څخه ډېرې نژدې دي. خو بهتره دا ده چې دلته به الله ﷻ د خپل اقدس ذات څخه د تعظیم دپاره په "نَحۡنُ" سره تعبیر نازل کړی وي[۴]، یعنې مونږ بنیادم ته د ده د خان څخه ډېر نژدې یاستو.

د: که څوک وایي چې: ایا د الله ﷻ د شان سره أقربیت منافات نه لري چې په مکان باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: دلته د أقربیت څخه مکاني اقربیت مراد نه دی بلکې د علم او قدرت أقربیت مراد دی لکه چې په همدې مطلب باندې په عین ایت کښې د ﴿ خَلَقۡنَا ﴾، ﴿ وَنَعۡلَمُ ﴾ کلمې دلالت کوي.

هـ: د همدغه ډول دلالت یو نظیر وروسته راروان دی چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ وَلَآ أَدۡنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ أَيۡنَ مَا كَانُواْ ﴾ [المجادلة: ٧] یعنې نه د دغو څخه وړوکی مجلس (شورۍ) شته او نه غټ، مګر الله ﷻ ورسره د علم په لحاظ شتون لري په هر ځای کښې چې تحقق ومومي.

په دې ایت کښې هم د ﴿ مَعَهُمۡ ﴾ څخه مکاني معیت مطلب نه دی بلکې علمي معیت ترې مراد دی، چې ـ ان شاء الله ﷻ ـ په خپل ځای کښې به تشریح شي.

## یو نحوي تحلیل

٢ـ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ إِذۡ يَتَلَقَّى ٱلۡمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ ﴾ په نحوي تحلیل کښې متعدد صورتونه لیکلي دي[٥]، که څه هم په ټولو صورتونو کښې په اصل مطلب باندې څه اثر نه پرېوځي مګر کوم صورت چې پکښې مونږ ته لنډ بربنډلی دی هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: په ﴿ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ ﴾ کښې د "عَنۡ" توری په ﴿ قَعِيد ﴾ پورې تعلق نیسي.

ب: د ﴿ عَنِ ٱلۡيَمِينِ ﴾ متعلق مقدر "قَعِيدٌ" دی چې مذکور ﴿ قَعِيد ﴾ ورباندې دلالت کوي.

---

(١) مفردات الراغب ص٥٥٧
(٢) تفسیر الکشاف ج۴ ص٣٨۴؛ روح المعاني ج٢٦ ص١٧٨
(٣) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص٢٢٣
(۴) تفسیر القاسمي ج١٥ ص١٥٨
(٥) تفسیر الطبري ج٢٦ ص١٥٨؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص٣٨١، نظم الدرر ج٧ ص٢٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج مقدر "قعيدٌ" او مذكور ﴿ قَعِيدٌ ﴾ دواړه د ﴿ ٱلْمُتَلَقِّيَانِ ﴾ څخه بدل واقع کېږي[۱].

د بالاخره د ﴿ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ ﴾ دواړو کلمو دپاره مفعول هم مقدر دی چې مونږ ترې په "جميع ما يصدُرُ من الإنسان" سره تعبير کولی شو[۲].

نو پورتنيو ټکو ته په پام سره يې د معنی حاصل يې داسې راخېژي چې:

ای پيغمبره! د الله ﷻ په کامل علم باندې علاوه خپل اُمت ته هغه وخت هم ورپه ياد کړه چې کله دوه پيوسته کېدونکې پرښتې (يا په بل عبارت ښي طرف ته ناسته پرښته او چپ طرف ته ناسته پرښته دواړه) د انسان د ټولو کړو وړو سره په حفظ او کتابت سره په دوامداره توګه پيوسته کېږي.

## څو نکات

۳ـ په ﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف. په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ مِن قَوْلٍ ﴾ کلمه نکره ده او د نفي "مَا" په سياق کښې واقع ده نو عموم افاده کوي[۳] او دغو ټولو صورتونو ته شموليت لري: چې ذکر شوی قول د خير وي، يا د شر وي او يا د مباحاتو څخه وي لکه د مريض زويرګي او داسې نور چې څه جزا يا سزا ورباندې ترتب نه شي موندلی.

ب. په ايت کښې د "قَوْل" په ذکر باندې صراحت د حصر دپاره نه دی، نو د بنده افعال هم د ده د اقوالو غوندې ليکل کېږي لکه چې په [الإنفطار: ۱۰ ـ ۱۲] ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

ج. ځينې مفسرين کرام وايي چې ذکره شوې ليکنه لاندې ټولو طائفو ته شامله ده[۴]:

اول: د ماشوم اقوال، چې لا بلوغ ته نه وي رسېدلی.

دوهم: د کافرانو اقوال هم بې ليکلو نه پاتې کېږي.

دريم: د دغو ليکلو څخه د پيريانو اقوال هم نه دي وتلي.

د. په دې باندې علاوه په ذکر شوي ايت کښې د ﴿ عَتِيدٌ ﴾ کلمه د "عَتَاد" ـ لکه "عَذَاب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "عَتَاد" دې ته وايي چې کوم شی د حاجت څخه وړاندې ذخيره کړی شي[۵]، چې مونږ ترې په تياروالي او چمتو والي سره تعبير کوو. يعنې انسان په هيڅ قول سره تلفظ نه کوي مګر څارونکې پرښته ورته د ليکلو دپاره تياره او چمتو ده چې سمدستي يې ليکي.

## مرګ سختي لري

۴ـ په ﴿ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ ٱلْمَوْتِ بِٱلْحَقِّ ﴾ کښې د ﴿ سَكْرَةُ ﴾ کلمه د هغې بې هوشی څخه عبارت

---

(۱) تفسير المظهري ج۹ ص۶۹
(۲) أضواء البيان ج۷ ص۶۴۸
(۳) أضواء البيان ج۷ ص۶۵۱
(۴) روح المعاني ج۲۶ ص۱۸۰
(۵) مفردات الراغب ص۳۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده کومه چې په بنیادم باندې د خنکدن په وخت کښې واقع کېږي همدغو سختیو ته نبي کریم ﷺ اشاره کړي ده چې «اللّهمّ أعنّي على سكرات الموت»[1] یعني ای الله! زما سره د مرګ په سکراتو (سختیو) باندې معونت وکړې چې را باندې اسان شي

## حید څه معنی؟

۵_ په ﴿ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴾ کښې د ﴿ تَحِيدُ ﴾ کلمه د "حَيْد" _لکه "بَيْع"_ څخه اشتقاق شوې ده چې د میلان او نښتېدلو معنی ورکوي[2] یعني د خنکدن په حال کښې به بنیادم ته وویلی شي چې دا هغه مرګ دی چې تا ترې ډېره کوله او ترې تښتېدلې

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې ﴿ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ﴾ [الجمعة:۸] یعني ووایه چې یقینًا هغه مرګ د کوم څخه چې تاسو تښتئ نو بې شکه هغه درسره ملاقي کېدونکی دی

## دوه پرښتې (سائق او شهید)

۶_ د ﴿ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴾ جمله عثمان بن عفان ؓ داسې تفسیره کړې ده چې د ﴿ سَآئِقٌ ﴾ څخه بوه پرښته مطلب ده چې بنیادم بې د محاسبې مقام ته روان کړی وي او د "شهید" څخه بله پرښته مطلب ده چې د محاسبې په مقام کښې ورباندې شهادت اداء کوي[3]

﴿ وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِى جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِى ٱلْعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطْغَيْتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِى ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا۟ لَدَىَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِٱلْوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَىَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۳] او د انسان ملګری (سائق یا شهید) به وایي چې: دغه هغه (شي یا کس) دی چې زما په نزد چمتو دی (محاسبې ته تیار دی)

[۲۴] (نو د حساب د تصفیه کولو څخه وروسته به ذکر شوو دواړو پرښتو ته وویلی شي چې) به جهنم کښې هر یو ناشکره عنادګر ورواچوئ

1. مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۳۲
2. القاموس المحیط ج۱ ص۷۴۷، مفردات الراغب ص۱۳۷
3. التحریر والتنویر ج۱۵ ص۱۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] خیر لره هر منعه کوونکی د شرعي حدودو څخه تجاوز کوونکی شک کوونکی هم (وروغورزوی).

[۲۶] (البته چې ذکر شوی هر یو کس) هغه څوک (دی) کوم چې د الله ﷻ سره یې (په عبادت کښې) بل معبود ګرځولی دی، نو په ډېر سخت عذاب کښې یې ورواچوئ (او هیڅ زړه خوږی ورباندې مه کوئ).

[۲۷] د انسان (بل) اندیوال به (په دغه وخت کښې) ووایي چې ای زموږ ربه! دا کافر انسان ما نه دی سرکښه (ګمراه) کړی مګر نوموړی (پخپله په دنیا کښې د حق څخه) په لرې ګمراهۍ کښې واقع وه (نو ځکه یې زما دعوت قبول کړ).

[۲۸] نو الله ﷻ به ووایي چې: تاسو (شیطانان او کفار) زما په نزد جګړې مه کوئ (یو په بل ملامته مه وراچوئ. تاسو ته هیڅ ګټه نه شي رسولی) حال دا چې یقیناً ما تاسو ته (د پیغمبرانو په ژبه په دنیا کښې لا) پخوا د عذاب خبر درلیږلی وه.

[۲۹] (نو) زما په نزد د عذاب خبر نه شي بدلیدلی (تاسو نجات نه شئ موندلی) او زه په خپلو بندګانو باندې ظلم کوونکی نه یم.

[۳۰] (ای پیغمبره!) هغه ورځ یاده کړه چې موږ جهنم ته ووایو چې: آیا ته (په دوزخیانو) ډک شوې؟ او هغه (په جواب کښې) ووایي چې: آیا نور څه زیات (دوزخیان) شته؟ (چې ماته یې راواچوئ).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې خلاصه یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې ذکر شوې دواړه پرښتې بنیادم د حساب کتاب مقام ته ورحاضر کړي نو بیا به دغه کیفیت صورت ونیسي:

۱ـ سوق کوونکې پرښته به وایي چې: دغه بنیادم چې زما په نزد موجودیت لري د محاسبې دپاره چمتو او تیار دی، او شهادت ورکوونکې پرښته به هم خپل فرض اداء کړي، چې د دغه بنیادم هغه ټول کړه وړه زما په نزد حاضر دي چې هیڅ زیادت او نقصان پکښې نه دی پیښ شوی او محاسبې ته چمتو دی.

۲ـ په نتیجه کښې به کافر بنیادم په خپل کفر باندې ملزم او ملامته وګرځي او د خلاصون هیڅ وجه به مونده نه کړی شي، نو د الله ﷻ د پلوه به ذکرې شوې دواړه پرښتې مخاطبې کړی شي چې: تاسو دواړه! کافر بنیادم او ډېر عنادګر په دوزخ کښې سر په څټ ورګوزار کړئ چې په دائمي توګه هلته وکړېږي. یا په بل عبارت: تاسو د لاندې صفاتو درلودونکی هر یو کس دوزخ ته ورټېل وهئ:

الف: هرچا چې د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري کړې وي او نازل کړی شوی دین یې د عناد د کبله نه وي قبول کړی. 32

ب: هغه څوک چې د خیر منعه کوونکی وه او د اسلام د مخنیوي هڅې یې کولې.

ج: هر څوک چې د شرعي پولو څخه تېری کوونکی او په حق دین کښې شک کوونکی وه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



البته چې دغه هر يو كس هغه څوک دی چې د الله ﷻ سره په عبادت كښې بل څوک يا بل شی شريكوي، او شرک يې غوره كړی دی.

لنډه دا چې: ای دواړو پرښتو! تاسو د ذكرو شوو صفاتو خاوند په سخت او دوامدار عذاب كښې ورختا كړئ.

۳_ په دغه وخت كښې به ذكر شوی كافر د خپل كفر پړه په شيطاني انډيوال وروا چوي چې زما د كفر مسئول همدغه دی، چې زه ده په كفري لاره باندې روان كړی وم او زه هيڅ ملامته نه يم.

۴_ دغه كفري شيطان ملګری به د خپل ځان څخه دفاع وكړي او وبه وايي چې: ای زمونږ ربه! تاته هر څه معلوم دي، نوموړی ما نه دی ګمراه كړی او د سركشي په لاره باندې مانه دی سوق كړی مګر نوموړی پخپله د حق څخه په لرې ګمراهی كښې واقع وه، ما فقط دعوت وركړی وه، د دعوت څخه پرته ما په نوموړي باندې هيڅ تسلط نه درلود، نوموړی پخپله ملامته دی.

۵_ په دغه وخت كښې به الله ﷻ دواړه مخاطب كړي چې: تاسو دواړه زما په حضور كښې نن ورخ جګړې مه كوئ، د دغه وخت جګړې تاسو دواړو ته هيڅ ګټه نه شي رسولی او دا ځكه چې ما وړاندې په دنيا كښې تاسو دواړو ته د كفر د ادامې په صورت كښې په عذاب سره اطلاع دركړې وه، چې دغه د عذاب اطلاع نن په تاسو دواړو باندې تطبيق كېدونكې ده. دغه د عذاب خبره زما په نزد نه بدلېدونكې ده او همدارنګه زه په خپلو بندګانو باندې تېری كوونكی هم نه يم چې بدون د استحقاقه يې تعذيب كړم.

۶_ په ذكرې شوې طريقې سره به ټول كفار په دوزخ كښې ور واچول شي حتی چې بيا به مونږ دوزخ ته پوښتنه راجع كړو چې: ای جهنمه! ايا ته ډک شوې؟ جهنم به په جواب كښې ووايي چې: ايا څه نور كفار هم شته چې ما ورباندې ډک كړې؟ (زه نور هم خايولی شم).

## توضيحات

۱_ نبي كريم ﷺ د "قرين" كلمې په ارتباط په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِينُهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ»[۱] يعنې ستاسو يو كس هم نه دی مګر په داسې حال دی چې يقيناً يو قرين (ملګری) يې د پيريانو څخه ټاكلی شوی دی او بل ملګری ورسره د پرښتو څخه (چې په دنياوي ژوند كښې ورسره ملازمت لري).

پاتې شوه دا خبره چې په ﴿وَقَالَ قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ﴾ الآية- كښې څوک او كوم قرين مطلب دی، نو په دې كښې د اختلاف سره-سره د مثال په توګه لاندې قولونه ليكو:

الف: ځينې مفسرين كرام وايي چې: دلته د "قرين" د كلمې څخه هغه سائق يا شهيد مطلب دی كومو ته چې وړاندې په [ق: ۲۱] ايت كښې اشاره شوې ده[۲]. يا په بل عبارت: دلته يا سوق

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۹
(۲) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکې پرښته مراده ده یعنې دغه بنیادم کوم چې زما په نزد د سوق لاندې دی د حساب کتاب دپاره حاضر او چمتو دی؛ او یا شهادت ورکوونکې پرښته مراده ده یعنې دغه عملنامه د محاسبې دپاره تیاره ده کومه چې زما په نزد او زما د نظر لاندې تکمیله شوې ده.

ب: ځینې نور وایي چې: دلته د بدلیت په لحاظ ذکرې شوې دواړه پرښتې (سائقه او شاهده) مرادې دي[1]، چې دواړه پرښتې به د محاسبې په میدان کښې خپل‌خپل مسئولیت اداء کړي، او اظهارات به وکړي لکه چې د "الف" په توضیح کښې دستې تېر شوه والحمد لله ﷻ.

اما د "قَرِين" کومه کلمه چې په راتلونکې [ق:۲۷] ایت کښې نازله شوې ده نو د هغې څخه بالاتفاق شیطاني قرین مراد دی[2]، او د هیچا پکښې اختلاف نشته.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ ﴾ او په ﴿ فَأَلْقِيَاهُ فِي ٱلْعَذَابِ ﴾ کښې د "أَلْقِيَا، أَلْقِيَا" سره څوک څوک مخاطب ګرځولی شوي دي؟

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې د جوابولو دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه لیکلي دي[3]، خو ظاهره دا ده چې په دغو دواړو کلمو سره به همغه دواړه پرښتې مخاطبې وګرځولې شي د کومو ذکر چې وړاندې په [ق: ۲۱] ایت کښې نازل شوی دی، چې د سائق او شهید څخه عبارت دي[4].

## پنځه لمونځونه او پنځوس ثوابونه

۳_ د معراج په شپه په محمدي ﷺ أمت باندې په ځلبرښتو ساتونو کښې پنځوس لمونځونه فرض وګرځولی شوه، خو د نبي کریم ﷺ په مکررو سوالونو سره یې تعداد پنځو ته راښکته کړی شو، اما د ثواب د حیثه یې تعداد هیڅ تغیر ونه خوړ او دا څکه چې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ ﴾ یعنې زما په نزد خبره بدلون نه شي موندلی (نو د پنځو لمونځونو اجر او ثواب د پنځوسو لمونځونو سره یو برابر دی)[5].

## جهنم به څه وایي؟

۴_ د ﴿ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴾ د جملې په ارتباط زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو کرامو یې ښه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[6]، خو مونږ فقط د نبي کریم ﷺ د لاندې دوه حدیثونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۶ ص۱۶۴
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۱۷۷
(۳) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۱۷۲؛ روح المعاني ج۲۶ ص۱۸۵
(۴) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۲۶
(۵) صحيح البخاري ج۱ ص۵۱
(۶) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: «يُلْقَى فِي النَّارِ وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ قَدَمَهُ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ»[۱] يعني په جهنم کښې به کفار وراچولی کېږي حال دا چي جهنم به وایي چي: ایا څه نور زیات کړی شوي کفار شته چي ماته راواچولی شي؟، آن تردې چي الله ﷻ به پکښې بلا کیفه قدم کېږدي، نو جهنم به ووایي چي بس-بس (زه ډک شوم).

ب: «لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ تَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ الْعِزَّةِ قَدَمَهُ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ وَعِزَّتِكَ وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ»[۲] يعني جهنم به په دوامداره توګه وایي چي ایا څه زیات دوزخیان شته (چي راته راوغوزول شي)؟ آن تردې چي رب العزت ﷻ به پکښې خپل بلاکیفه قدم کېږدي، نو وبه وایي چي: بس-بس (زه ډک شوم) ستا په عزت مې دې سوګند وي، او ځینې برخې به یې ځینو نورو ته ورغونجې کړی شي.

﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَـٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ ٱلرَّحْمَـٰنَ بِٱلْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَـٰمٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۳۱] او متقیانو ته به جنت ښه ورنږدې کړی شي په داسې حال چي لرې به ترې نه وي.

[۳۲] (ورته به وویلی شي چي) دا هغه شی دی د کوم چي ستاسو سره وعده کړی شوې وه (البته) د هر رجوع کوونکي (او د حدود الله) ساتونکي کس دپاره.

[۳۳] (همدغه کس) هغه څوک دی کوم چي د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیبو سره ډارېده، او په توبه کوونکي زړه سره ورغلی وي.

[۳۴] (او هم به جنتیانو ته وویلی شي چي) په سلامتۍ سره جنت ته داخل شئ، دغه د خلود (همېشوالي) ورځ ده.

[۳۵] او د جنتیانو دپاره به په جنت کښې هغه شی شتون ولري کوم ته یې چي اراده وشي، او (په دې باندې علاوه ورته) زمونږ په نزد د نعمتونو زیادت هم شته.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! د مقایسې په توګه په خپل اُمت باندې اوس د جنتیانو څه حالات هم قرائت کړه هغه دا چي:

۱ ـ متقیانو ته به جنت ورنږدې کړی شي او هیڅ لرېوالی به ترې ونه لري، بلکې د سترګو په رپ کښې به هلته ورورسېږي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۹

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱٦۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ په دغه وخت کښې به جنتیان مخاطب کړی شي چې دا جنت هغه شی دی د کوم چې ستاسو سره په دنیا کښې وعده کړی شوې وه. دا وعده د هغو کسانو دپاره ده کوم چې د لاندې صفاتو درلودونکي دي:

الف. هرڅوک چې الله ﷻ ته ډېر رجوع کوونکی او د شریعت د حدودو ساتونکی وه چې هر شرعي حکم یې په خپل چوکاټ کښې اداء کاوه.

ب. هرڅوک چې د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیبو ډارېده، که څه هم آخرت یې په سترګو نه وه لیدلی خو عقیده یې ورباندې دومره کلکه وه لکه چې لیدلی یې وي.

ج. بالآخره، خپل رب ﷻ ته په تائب زړه باندې ورغلی وي (چې ایمان یې تېر کړی وي او په اسلامي عقیده مړ شوی وي).

۳_ جنتیانو ته به د داخلېدلو په وخت کښې وویلی شي چې تاسو جنت ته د سلامتیا په حال ورداخل شئ چې تاسو به پکښې د هر آفت او غم څخه مامون یاست.

۴_ ای پیغمبره! په جنت کښې به جنتیانو ته هغه شیان شتون ولري کوم چې د دوی زړونه یې غواړي او اشتهاء یې ورته راشي، او په دې باندې علاوه زمونږ په نزد د جنتیانو دپاره څه زیات داسې نعمتونه هم شته چې د هغوی د اشتهاء لاندې نه شي واقع کېدلی، چې نه غوږونو اورېدلي دي او نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي، هملته به ورباندې خبر شي چې ورته ورکړی شي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ جمله وړاندې د [الشعراء: ۹۰] ایت لاندې ښه شرحه شوې ده خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې حدیث وراضافه کوو چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ عَلِيٍّ وَعَمَّارٍ وَسَلْمَانَ»[۱] یعنې نن ورځ هم جنت درې کسانو ته د ملاقات شوق (مینه) لري چې د علي، عمار، او سلمان ﷺ څخه عبارت دي (د محشر په میدان به ټولو جنتیانو ته شوقمند وي او استقبال ته به یې ورنږدې کړی شي).

## د جنتیانو اشتهاء او مزید نعمت

۲_ په ﴿ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف. د ﴿ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا ﴾ جمله د الله ﷻ په توفیق د [الزخرف: ۷۱] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې ښه پوره تفسیره شوې ده چې بیا تفسیرولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

ب. په ﴿ وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾ کښې د ﴿ مَزِيدٌ ﴾ کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په متعددو دولونو سره تفسیره کړې ده[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۰

(۲) تفسیر الطبري ج۲۶ ص۱۷۳؛ الدر المنثور ج۷ ص۶۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: ځینې مفسرین کرام وايي چې د دغې کلمې څخه د الله ﷻ دیدار مراد دی[۱]، د کوم څخه چې په [یونس: ۲۶] ایت کښې په "زِیَادَة" سره تعبیر نازل شوی دی.

دوهم: ځینې نور وايي چې د ﴿ مَزِيدٌ ﴾ د کلمې اصلي مصداق به په جنت کښې څرګند شي[۲]. او دا ځکه چې په احادیثو کښې هم ورته په اجمالي توګه اشاره شوې ده لکه چې نبي کریم ﷺ په قدسي حدیث کښې د الله ﷻ د پلوه ویلي دي: «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ»[۳] یعني ما د خپلو صالحو بندګانو دپاره هغه نعمتونه چمتو کړي دي کوم چې نه سترګو لیدلي دي او نه غوږونو اورېدلي دي او نه د کوم کس په زړه باندې تېر شوي دي.

﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا۟ فِى ٱلْبِلَـٰدِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾ ﴾

[۳۶] او د دې زماني د کفارو څخه وړاندې مونږ څومره ډېرې کفري پېړۍ هلاکې کړې دي چې هغوی د دوی څخه د زانیولو (قوت) د حیثه سخت کلک وه، نو هغوی په ښارونو کښې وګرځېدل راوګرځېدل (مېلې او چرچې يې پکښې وکړې خو په پای کښې د هلاک سره مخامخ شوه) ایا د خلاصون کوم ځای (ورته) وموندلی شو؟.

[۳۷] یقینًا په دغه (بیان) کښې د هغه چا دپاره لوی پند دی کوم ته چې وېښ زړه شتون ولري او یا په داسې حال کښې (ناصح ته) غوږ کېږدي چې په زړه سره (ورته) حاضر (او متوجه) وي.

[۳۸] او یقینًا مونږ اسمانونه او ځمکې او هغه شیان کوم چې د دواړو ترمنځ موجود دي، په شپږو ورځو کښې پیدا کړي دي او شان دا وه چې مونږ لره هیڅ ستوماني مسه نه کړه (نو یوازې په بعث بعد الموت به مونږ ته څه ستوماني ورسېږي چې د وسې مو ونه شي؟!).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د آخرت څه حالات نازل شوي وه او په جنت او دوزخ باندې څه رڼا اچولې شوې وه، او په دې ایتونو کښې د بعث بعد الموت منکرین تهدید شوي دي چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپل دعوتي أمت کفار او د بعث بعد الموت منکرین) تهدید کړه او زمونږ دپلوه ورته ووایه چې:

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۸۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۸۶
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١ـ د دې زمانې د کفارو څخه وړاندې مونږ څومره ډېرې کفرې پېړۍ هلاکې کړې دي لکه عادیان، ثمودیان او داسې نور، حال دا چې هغوی د دوی څخه د قوت او ثروت د حیثه ډېر کلک او سخت وه خو قوت او ثروت ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او د مرګ (هلاک) څخه یې نجات ورنه کړی شو. لنډه دا چې هغوی په ښارونو کښې وګرځېده راوګرځېده او مېلې چرچې یې پکښې وکړې، نو ایا هغوی ته د مرګ او هلاک څخه کوم ځای مونده شو چې نجات ورکړي او خلاصون یې په برخه شي؟

٢ـ یقیناً په ذکر شوي بیان او د پخوانیو پېړیو په هلاک کښې د هغه چا دپاره ډېر لوی پند او د عبرت درس دی کوم چې دوه صفته ولري چې پخپله ویښ زړه ولري او پخپله ترې عبرت واخلي. او یا بل ناصح ته په داسې حال کښې غوږ ونیسي چې زړه یې حاضر وي او نصیحت ته به پوره متوجه وي. اما څوک چې د دغو دواړو صفتونو څخه بې برخې وي هغه ترې عبرت او ګټه نه شي اخستی.

٣ـ ای پیغمبره! د بعث بعد الموت منکران ـ چې نه ویښ زړونه لري او نه د زړه په غوږونو خبره اوري ـ دېته نه ګوري چې مونږ په یقین سره اسمانونه او ځمکې او هغه شیان کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجودیت لري په شپږو ورځو کښې پیدا کړه او مونږ ته هیڅ ډول ستومانې ونه رسېده او نه راته رسېدلی شوه؛ نو ایا په بعث بعد الموت باندې به مونږ ته څه ستوماني ورسېږي؟

## توضیحات

١ـ په ﴿ فَنَقَّبُواْ فِى ٱلْبِلَـٰدِ ﴾ کښې د "نَقَّبُوا" کلمه اصلاً د "نقب" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "نقب" په لرګي کښې د سوري کولو معنی ورکوي[1]، مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د ګرځېدلو او تللو په معنی سره تفسیر کړی دی[2].

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِى ٱلْبِلَـٰدِ ﴾ [آل عمران ١٩٦] یعنې تا دې په ښارونو کښې د هغو کسانو ګرځېدل راګرځېدل دوکه نه کړي کومو چې کفر غوره کړی دی (دا ځکه چې دغه حال یې ادامه نه لري چې لږ وخت وروسته به د هلاک سره مخامخ شي).

## یادونه

٢ـ دا مضمون (چې اسمانونه او ځمکې او د ما بین کائنات الله ﷻ په شپږو ورځو کښې پیدا کړي دي) د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف ٥٤] ایت لاندې تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## لُغُوب څه معنی؟

٣ـ په ﴿ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴾ کښې د ﴿ لُّغُوبٍ ﴾ کلمه د ستوماني دپاره وضعه شوې ده[3].

---

(١) مفردات الراغب ص ٥٢٤

(٢) تفسیر القاسمي ج ١٥ ص ١٨٣

(٣) لسان العرب ج ١ ص ٧٤٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې کله چې مونږ د ټول عالم پیدا کولو ستومانه نه کړی شوو نو د بنیادم بیا راژوندي کول به مو څنګه ستومانه کړي چې د راژوندي کولو څخه یې تېر شو؟

﴿ فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ ٱلۡغُرُوبِ ﴿٣٩﴾
وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَأَدۡبَٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَٱسۡتَمِعۡ يَوۡمَ يُنَادِ ٱلۡمُنَادِ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٤١﴾
يَوۡمَ يَسۡمَعُونَ ٱلصَّيۡحَةَ بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيۡنَا
ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلۡأَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعٗاۚ ذَٰلِكَ حَشۡرٌ عَلَيۡنَا يَسِيرٞ ﴿٤٤﴾ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ
بِمَا يَقُولُونَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِجَبَّارٖۖ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۳۹] (ای پیغمبره!) ته په هغو خبرو صبر کوه کومې چې کفار وايي، او (د خپل اطمنان دپاره) د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبیح هم ضمیمه کوه (البته) د لمر خاته څخه وړاندې او هم د لمر پرېواته څخه مخکښې.

[۴۰] او د شپې څخه هم (په څه برخو کښې د حمد سره) خپل رب ﷻ ته تسبیح وایه، او د (ټولو) لمونځونو په شاګانو کښې هم (دغه کار ته ادامه ورکړه).

[۴۱] او (هغه شي ته) غوږ ونیسه (کوم چې په تاباندې لوستلی کېږي هغه دا چې:) په کومه ورځ چې اواز کوونکی (پرښته) د نږدې ځای څخه اواز وکړي (نو ټول مړي به د قبرونو څخه ژوندي رابهر شي).

[۴۲] (البته) په دغه ورځ کښې به ټول خلک په حقه سره (د دوهمې شپېلۍ) تېز اواز (کړیکه) اوري (او هیڅ شک شبه به پکښې نه کوي. ای پیغمبره!) دغه (د قبرونو څخه) د بهر راوتلو ورځ ده.

[۴۳] یقیناً همدا مونږ ژوندي کول کوو او هم مړه کول کوو، او خاص مونږ ته (د ټولو خلکو او ټولو چارو) راګرځېدل دي.

[۴۴] په کومه ورځ چې د خلکو څخه ځمکه وچوي (نو ټول به) په داسې حال (رابهر شي) چې (د حشر میدان ته به) تلوار کوونکي وي. (ای پیغمبره!) دغه بیا راژوندي کول په مونږ باندې ډېر اسان دي.

[۴۵] مونږ په هغو خبرو باندې ډېر ښه پوهېږو کومې چې کفار (او مشرکان) وايي. او (ای پیغمبره!) ته په هغوی باندې د زور چلوونکي په حیث نه یې استولی شوی (چې ایمان راوړلو ته یې مجبور کړې، ته فقط پند ورکوونکی یې) نو ته په قرآن کریم سره هغه چا ته پند ورکړه کوم چې زما د وعید (عذاب) څخه ډارېږي (چې همدغه کسان ترې ګټه پورته کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

پس د مرګه د ژوندون څخه د منکرینو دپاره د متعددو دلایلو د اقامه کولو او همدارنګه د عبرتي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تهدیداتو څخه وروسته په دې ایتونو کښې د نبي کريم ﷺ په تسلی او ډاډيني باندې زور اچولی شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! څرنګه چې تا خپله فريضه په ډېره ښه توګه اداء کړه او د کفارو د قناعت دپاره دې ډول-ډول اساليب په کار واچول خو بيا هم هغوی د توحيد عقيده خپله نه کړه، نو د هغوی په دغې کړنلارې باندې ډېر مه غمژن کېږه او د خپل ځان د ډاډينې دپاره دغه ارشادات په نظر کښې ونيسه:

۱_ د مشرکانو د چټي خبرو په اورېدلو باندې صبر کوه او خپله حوصله وربانديې د لاسه مه ورکوه، او په دې باندې علاوه په ټولو وختونو کښې عموماً او په لاندې وختونو کښې خصوصاً د خپل رب ﷻ تسبيحات وايه او ستاينه يې کوه:

الف: د لمر خاته څخه وړاندې په سهار کښې په تسبيح او تحميد سره خپل رب ﷻ يادوه.

ب: او د لمر پرېواته مخکښې.

ج: د شپې په څه برخو کښې.

د: او د لمونځونو څخه وروسته.

۲_ ای پيغمبره! دا خبره واوره او خلکو ته يې هم ورواوروه چې:

الف: په کومه ورځ چې اوازکوونکی اواز وکړي او د قيامت د قيام دپاره هر چا ته د ډېر نژدې ځای څخه ورواورولی شي چې پورته شه قيامت قائم شو، نو په دغه وخت کښې به ټول مړي د خپلو-خپلو قبرونو څخه را اوچت شي. البته چې دا به هغه ورځ وي چې ټول خلک به د قيامت د قيام چيغه او اواز په حقه واوري او هيڅ شک او تردد به پکښې نه کوي.

ب: نو همدغه د قبرونو څخه د راوتلو او د بيا راژوندي کېدلو ورځ ده.

۳_ په دې کښې هيڅ شک او شبه نشته چې يوازې مونږ ژوندي کول او مړه کول کوو، او يوازې مونږ ته د ټولو مخلوقاتو بېرته راګرځېدل دي چې بالکل چاته د تېښتېدلو لاره نشته.

۴_ ای پيغمبره! په کومه ورځ چې ځمکه وچوي او د هغو مړو څخه پرده اوچته کړی شي کوم چې د هغې په ګېډه کښې پټ دي، نو په منډه منډه به د حشر ميدان ته خغلي او هيڅ سستي به نشي کولی. دغه (د ټولو خلکو) حشر دی چې په مونږ باندې ډېر اسان دي او هيڅ مشکلات راته نه لري.

۵_ ای پيغمبره! يو خل بيا واوره چې مونږ په هغو ټولو خبرو باندې ښه پوهېږو په کومو باندې چې کفار قول کوي او يا يې تاته دراوروي، نو ضرور به يې د تعذيب سره مخامخ کړو او انتقام به ترې واخلو، نو ته مه غمژن کېږه او دا خکه چې: ته خو په کفارو باندې جبر کوونکی نه يې استولی شوی چې په زور به يې په ايمان مشرف ګرځوي که نه نو ته به مسئول يې، بلکې ته فقط د يوه داعي او مبلغ په حيث استولی شوی يې او تا په دغې سپارلې شوې دنده کښې هيڅ قصور نه دی کړی.

۶_ نو ته د کفارو په انکار باندې هيڅ حوصله مه بايله او بيا-بيا په دې قرآن کريم سره هر هغه چا ته پند ورکوه او خير يې غواړه کوم چې زما د وعيد او عذاب څخه ډارېږي، چې همدوی ترې ګټه پورته کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ـ ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې پنځو لمونځونو ته اشاره کړې ده[١] چې: د ﴿ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ ﴾ څخه د سهار لمونځ، د ﴿ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴾ څخه د ماسپښین او مازیګر دوه لمونځونه او د ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ ﴾ څخه د ماښام او ماسخوتن دواړه لمونځونه مطلب دي. مګر بهتره دا ده چې دلته تسبیحات او تحمیدات په اطلاق سره پرېښودل شي ترڅو ټولو فعلي اذکارو (لمونځونو) او قولي اذکارو دواړو ته شمولیت ولري.

٢ـ په ﴿ وَأَدْبَـٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴾ کښې د "أَدْبَارَ" کلمه د "دُبُر" ـلکه "قُفْل"ـ جمعه ده چې د شا معنی ورکوي او د "سُجُود" کلمه د لمانځه د یوه رکن نوم دی خو په دې مقام کښې ترې د کنایې په توګه "لمونځ" مراد دی[٢]. یعنې ته د لمونځونو په شاګانو کښې (د فراغت څخه وروسته) تسبیحات او تحمیدات وایه.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه که څه هم ځینې علماء کرام وایې چې دلته د تسبیحاتو څخه دولس رکاته نوافل مطلب دي کومو ته چې نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده[٣] چې: «مَنْ ثَابَرَ عَلَى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ دَخَلَ الْجَنَّةَ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ»[٤] یعنې هرڅوک چې په شپه او ورځ کښې په دولس رکاتونو (نفلي لمونځونو) باندې همېشوالی وکړي نو جنت ته به داخل شي، هغه دا چې: څلور رکاته د ماسپښین د لمانځه څخه وړاندې او دوه رکاته ترې وروسته، او دوه رکاته د ماښام د لمانځه څخه وروسته، او دوه رکاته د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته، او دوه رکاته د سبا د لمانځه څخه مخکښې (دغو دولسو لمونځونو ته سنن رواتب ویل کېږي).

مګر مونږ ته د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) تفسیر غوره برېښي چې عمومیت لري، هغه دا چې: «أَمَرَهُ أَنْ يُسَبِّحَ فِي أَدْبَارِ الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا»[٥] یعنې په ذکره شوې جمله کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر کړی دی چې د ټولو لمونځونو په شاګانو کښې (د فراغت څخه وروسته) تسبیحات او تحمیدات ووایې.

## یو اعرابي تحلیل

٣ـ په دې مقام کښې لاندې اعرابي تحلیل په نظر کښې ساتل په کار دي[٦]:

---

(١) تفسیر القرطبي ج١٧ ص٢٤
(٢) روح المعاني ج٢٦ ص١٩٣
(٣) تفسیر المظهري ج٩ ص٧٦
(٤) سنن النسائي ج١ ص٢٥٦
(٥) صحیح البخاري ج٢ ص٧١٩
(٦) روح المعاني ج٢٦ ص١٩٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿ وَٱسْتَمِعْ ﴾ دپاره مفعول مقدر دی چې مونږ ترې په "مَا يُتْلَى" سره تعبير کولی شو.

ب: په ﴿ يَوْمَ يُنَادِ ٱلْمُنَادِ ﴾ کښې د ﴿ يَوْمَ ﴾ کلمه د يوې مقدرې جملې پورې تعلق نيسي، څه لرې نه ده چې په "يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ" سره ترې تعبير وشي. په همدغې مقدرې جملې باندې د ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُرُوجِ ﴾ کلمات دلالت کوي.

ج: په ﴿ يَوْمَ يَسْمَعُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَوْمَ ﴾ کلمه د وړاندېنی ﴿ يَوْمَ ﴾ څخه بدل واقع شوې ده.

د: مقدره جمله د بدل او مبدل منه سره د مقدر مفعول دپاره بيان واقع کېږي.

يعنې ای پيغمبره! په تاباندې دېر مهم خبر لوستل کېږي نو ښه ورته متوجه اوسه هغه دا چې مړي به په هغې ورځ د قبرونو څخه را اوچت شي چې کله اواز کوونکی هر چا ته اواز وکړي، البته داسې اواز چې د هيڅا څخه به لرې نه وي او هرڅوک به ګومان وکړي چې دغه چيغه په حقه سره بدون د شکه د ډېر نژدې ځای څخه د ده غوږ ته ورسېده.

## لومړی ژوندی کېدونکی څوک دی؟

۴_ د ﴿ يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ﴾ په ارتباط نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ»[1] يعنې او زه هغه لومړی کس يم د کوم څخه چې د قيامت په روځ ځمکه وچوي (او ژوندي ترې راپورته شي) حال دا چې زما فخر پکښې نشته (چې تکبر ورباندې وکړم، بلکې زه صرف د الله ﷻ د نعمت يادونه کوم).

## د جبار معنی

۵_ په ﴿ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ ﴾ کښې د "جَبَّار" کلمه علماوو کرامو په دې مقام کښې په هغه چا سره معنی کړې ده کوم چې په نورو باندې خپله اراده تحميلوي او يوه کار ته يې مجبوروي[2]. يعنې ای پيغمبره! مونږ ته په خلکو باندې د جبار په حيث نه يې استولی چې په اسلام راوړلو باندې يې مجبور کړې بلکې ته مو د مُذَکِّر او مُنْذِرْ په حيث استولی يې او بس. هو! ستا د تذکير او اِنذار څخه بوازې د الله ﷻ څخه ډارېدونکی بنده ګټه پورته کوي.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُونَ مِنْ عَذَابِكَ وَيَرْجُونَ رِضَاكَ. آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق د "ق" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

۱۴۲۴/۵/۲۵ هـ ق - ۱۳۸۲/۵/۲ هـ ش.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۶

(۲) تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۳۵، لسان العرب ج۴ ص۱۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# الذاریات (٥١)



Scanned by CamScanner

## سریزه

۱ـ د دې سورت اولنۍ کلمه "الذٰرِيٰت" د همدې سورت دپاره نوم ګرځولی شوی دی چې د نورو سورتونو څخه پرې جدا شوی دی.

۲ـ د دې سورت د ایتونو شمېر په اتفاق سره شپېتو (۶۰) ته رسېږي[۱] او په اتفاق سره یې ټول ایتونه مکي دي او د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي[۲].

۳ـ د دې سورت د کلماتو شمېر درې سوه او شپېتو (۳۶۰) ته رسېږي او د تورو شمېر یې یو زر دوه سوه او نهه دېرش (۱۲۳۹) تورو ته پوره شوی دی[۳].

۴ـ د دې سورت محتویات هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي موضوعاتو باندې څرخېږي، لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت او د قیامت قیام او داسې نور.

۵ـ دا سورت (الذٰرِيٰت) د وړاندېني سورت (قٓ) سره د ډېرو وجوهو د کبله تناسب لري. مثلاً:

الف: هلته د قیامت قیام په آفاقي او أنفسي دلایلو سره په اثبات رسولی شوی وه او دلته همدغه مطلب په سوګندونو سره تائید شوی دی.

ب: هلته کفري هلاکو کړی شوو قومونو ته په اجمال سره اشاره شوې وه او دلته یې ځینو مثالونو ته لږ څه تفصیل ورکړی شوی دی.

ج: دغه دواړه سورتونه نبي کریم ﷺ ته په تسلي ورکولو باندې اشتمال لري او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجَارِيَاتِ يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا ﴿٤﴾
إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾ إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ
مُخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ
﴿١١﴾ يَسْأَلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُوا فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا
الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٤﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] په الوزوونکو بادونو باندې سوګند دی الوزول.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۹۷
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۲
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲] د درنو بارونو په اوچتوونکو وريځو باندې سوګند دی.

[۳] نو (په اوبو کښې) په اسانۍ سره په چلېدونکو بېړيو باندې سوګند دی.

[۴] نو د شیانو ویشونکو پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی، چې

[۵] یقینًا هغه شی (بعث بعد الموت) کوم چې ستاسو سره یې وعده کېږي هرومرو رښتینی دی (دروغین خبر نه دی).

[۶] او یقینًا (د کړو وړو) جزا یا سزا ضرور واقع کېدونکې ده.

[۷] د لارو (او ښایست) په درلودونکي اسمان باندې سوګند دی چې

[۸] یقینًا تاسو (ای مشرکانو!) په ګډه وډه خبره کښې اخته یاست.

[۹] داسې ګډه وډه خبره چې د همدې خبرې د کبله (یوازې) هغه څوک (د حق څخه) اړولی کېږي کوم چې (د الله ﷻ په علم کښې) اړولی شوی وي (او د خیر استعداد یې ختم وي).

[۱۰] اټکل کوونکي (دروغژنان) وژلی شوي (لعنت کړی شوي) دي (چې په اټکل سره یې سنده نبي کریم ﷺ ته دروغین لقبونه ورکوي).

[۱۱] (البته) هغه (دروغژنان) چې په لوی جهل کښې غفلت درلودونکي (پراته) دي.

[۱۲] (د ملنډو په توګه) پوښتنه کوي چې د جزا ورځ به کله (پېښه) شي؟

[۱۳] (ای پیغمبره!) دا به په هغې ورځ (پېښه) شي چې کله همدوی په اور باندې سوزولی کېږي.

[۱۴] (او چې ورته به ویلی کېږي) خپل عذاب (او سوزول) وڅکئ، دغه عذاب همغه دی په کوم سره به چې تاسو (د ملنډو په توګه) تلوار کاوه (چې قیامت به کله قائم شي).

## ارتباط او توضیحات

۱ ـ وړاندېنی سورت (ق) د اُخروي اُمورو او د بعث بعد الموت په ذکر باندې ختم شوی وه او دا سورت (الذّاريات) په همدغو مطالبو باندې د سوګند په یادولو پیل شوی دی.

۲ ـ په دې مقام کښې لاندې مطالب په ذهن کښې ساتل په کار دي

الف په ﴿ وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرۡوٗا ﴾ کښې د ﴿ذَرۡوٗا﴾ کلمه د بادونو د صفاتو څخه ده چې یوه خوا بله خوا شیان الوزوي را الوزوي، الله ﷻ فرمايي ﴿ تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُ ﴾ [الکهف ۴۵] یعني نباتات د باران په اوبو سره سمه تروتازه وګرځي خو بیا وروسته مېده مېده شي چې بادونه یې اخوا دېخوا الوزوي.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې په بادونو باندې سوګند دی چې په دنیا کښې چلېږي او بنیادمان ترې ډول ډول ګټې پورته کوي

ب په ﴿ فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ وِقۡرٗا ﴾ کښې د ﴿وِقۡرٗا﴾ کلمه د دېر درووند بار معنی ورکوي[1]. وریځې -چې د باران په اوبو باندې بار دي- د یوه ځای څخه بل ځای ته د بادونو په ذریعه انتقالېږي. الله ﷻ همدا

(۱) القاموس المحیط ج۵ ص۶۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مضمون په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ حَتَّىٰ إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا ﴾ [الأعراف ٥٧] یعني الله ﷻ بادونه چلوي آن تردې چې دغه بادونه په باران سره درنه وریځ پورته کړي (نو مونږ یې مړه ښار ته سوق کړو او هغه ورباندې راژوندي کړو).

نو د معنی حاصل به یې دلته داسې شي: نو سوګند دی په وریځو باندې چې د درنو بارونو پورته کوونکې دي.

ج: په ﴿ فَالْجَارِيَاتِ يُسْرًا ﴾ کښې د "جاریات" کلمه د "جري" ـ لکه "رمي" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. او په بل ایت کښې د بېړیو صفت واقع شوې ده چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ ﴾ [لقمان: ٣١] یعني ته نه ګورې چې یقیناً (په دریاب کښې) بېړۍ د الله ﷻ په نعمت (فضل) سره چلېږي

په دې مقام کښې به یې حاصل داسې راوځېږي چې: نو په داسې بېړیو باندې سوګند دی چې په دریاب کښې د دروندوالي سره-سره په اسانۍ سره چلېږي او پکښې دوبېږي نه، ترڅو ترې بنیادمان په خپل ژوند کښې ګټې پورته کړي.

د: په ﴿ فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا ﴾ کښې د "أمر" کلمه د شي (څیز) په معنی سره ده، او د دې کېبله چې اسم جنس ده ټولو شیانو ته شامله ده[١]. دلته د پرښتو هغه متعدد ټولګي مطلب دي کوم چې د الله ﷻ د پلوه د شیانو په وېشلو باندې مکلفیت لري، چې چاته لږ روزي ورکړي او چاته پراخه، چاته د علم لږ برخه ورکوي او چاته ډېره، چا ته په رحم کښې یو ډول شکل او څېره ورکوي او چاته بل ډول او همداسې نور.

د همدغو پرښتو ټولګیو ته الله ﷻ په بل ایت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴾ [النازعات: ٥] یعني نو سوګند دی د پرښتو په هغو ټولګیو باندې کوم چې د شیانو تدبیر کوونکې او انتظام کوونکې دي.

نو دلته به یې مضمون داسې راوځېږي چې: نو د پرښتو په وېشونکو او توزیع کوونکو ټولګیو باندې سوګند دی چې د مخلوقاتو ترمنځ مقدر شیان وېشي.

هـ: که څه هم خینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو څلورو واړو سوګندونو دپاره متعدد تفسیرونه لیکلي دي[٢]، مګر جمهورو علماوو کرامو همغه تفسیرونه خوښ کړي دي کوم چې وړاندې ذکر شوه[٣]، په دې باندې علاوه، د عمر الفاروق ﷺ او علي ﷺ څخه هم ذکر شوي څلورواړه تفسیرونه روایت شوي دي[٤].

و: د دغو سوګندونو جواب دا دی چې: ﴿ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ۝ وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ ﴾ یعني یقیناً

---

(١) المحرر الوجیز ج١٥ ص١٩٨
(٢) روح المعاني ج٢ ص١٧
(٣) اضواء البیان ج٧ ص٦٥٩
(٤) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٢٣١؛ الدر المنثور ج٧ ص٦١٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه شی ربښتیا دی د کوم چې ستاسو سره یې وعده کړه شوې ده چې د بعث الموت څخه عبارت دی، همدارنګه یقینًا د قیامت په ورځ د ټولو کړو وړو جزا یا سزا هرومرو واقع کېدونکې ده (هیڅ شک پکښې شتون نه لري).

## سوال جواب

ز: که څوک وایي چې: دا قانون دی، په کوم شي باندې چې الله ﷻ سوګند یاد کړي همغه شی د سوګند دپاره برهان او دلیل وي[1]، نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه قانون دلته تطبیق دی؟

مونږ وایو چې: هوا دلته هم ذکر شوي سوګندونه د خپل جواب دپاره په حقیقت کښې دلایل او براهین دي او دا څکه چې: که بالفرض بعث بعد الموت دروغ وی او مکافات او مجازات واقعیت نه درلودی نو دنیا به عبث وی او دغه انتظام به یې نه درلودی په کوم باندې چې روانه ده چلېږي، بلکې په دې تقدیر به د ماشومانو د لوبو غوندې بې نظمه او بې ترتیبه وی.

## یادونه

۳ـ د شرعیاتو د اثبات په هکله د سوګندونو په ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۵۳] .ایت لاندې ښه خوندور بحث لیکلی دی خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې: الله ﷻ په قرآن کریم کښې د لاندې درېوو احکامو د اثبات دپاره سوګندونه یاد کړي دي:

الف: د قیامت د اثبات دپاره، لکه همدغه ایتونه چې بحث پکښې روان دی.

ب: د نبوت د اثبات دپاره، لکه ﴿ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ۝ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [یس:۲ـ ۳] یعنې په قرآن حکیم باندې سوګند دی چې یقینًا ته ـ ای پیغمبره!ـ د پیغمبرانو د جملې څخه یې.

ج: د توحید د اثبات دپاره، لکه ﴿ إِنَّ إِلَـٰهَكُمْ لَوَٰحِدٌ ﴾ [الصافات:۴] یعنې د پرښتو په متعددو ټولګیو سوګند دی چې یقینًا ستاسو (حقاني) معبود فقط واحد لا شریک دی.

## حُبُک څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْحُبُكِ ﴾ کښې د "حُبُكْ" کلمه د "حَبِيكَة" جمعه ده، "حَبِيكَة" هغې مورې یا لارې ته ویل کېږي کومه چې په شګه (رېګ) یا ولاړو اُوبو کښې د باد په ذریعه صورت ونیسي[2].

که څه هم په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ورته همدغه د جمعیت معنی خوښه کړې ده او د اسمان په هغو لارو سره یې تفسیره کړې ده کومې چې د ستورو دپاره ټاکلې شوې دي[3]، خو ځینې نور مفسرین کرام وایي چې ذکره شوې کلمه مفرده ده او په متعددو معناوو سره یې تفسیره کړې ده لکه ښایست، قوت او محکموالی او داسې نور[4].

---

(۱) تفسیر المراغي ج۲۶ ص۱۷۵

(۲) لسان العرب ج۸ ص۴۰۸

(۳) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۱۹۱

(۴) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۳۱؛ زاد المسیر ج۷ ص۲۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ په فکر ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري او د بدلیت په ملحوظ ټولې اراده کېدلی شي.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ په ﴿ إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ۝ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴾ کښې لاندې تحلیل په لحاظ کښې ساتل په کار دي

الف. د ﴿ مُّخْتَلِفٍ ﴾ کلمه د ﴿ قَوْلٍ ﴾ دپاره مفرد صفت دی.

ب. د ﴿ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴾ ورته دوهم صفت دی، چې جمله ده او عائد هم ورته ضرور دی.

ج. په ﴿ عَنْهُ ﴾ کښې د "ه" ضمیر په همدغې صفتي جمله کښې د عائد حیثیت لري او د "عن" توری د سببیت معنی ورکوي[1].

یا په بل عبارت دغه "عن" د هغه "عن" غوندې معنی ورکوي کوم چې په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې ﴿ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ ﴾ [هود ۵۳] یعنې ای هوده! او مونږ ستا د قول (خبرې) د کبله او سببه د خپلو معبودانو پرېښودونکي نه یاستو

نو پورتنیو ملحوظاتو ته په پام سره بې د معنی حاصل داسې راځېږي چې

په هغه اسمان سوګند دی کوم چې د ستورو دپاره د مختلفو او متعددو لارو درلودونکی دی او هیڅکله پکښې ټکر صورت نه نیسي او کوم چې د ډېر ښایسته او محکم جوړ شوی دی چې بې انتظامي پکښې نه پېښېږي او هم د ماشومانو د لوبو په شان عبث او بې حکمته نه دی جوړ شوی چې:

ای مشرکانو! تاسو په ګډو وډو خبرو کښې اخته یاست، کله پیغمبر ته یو دروغجن لقب ورکوئ او کله بل (تاسو په یوه خبره ولاړ او کلک نه یاست) که بالفرض المحال تاسو دروغژنان نه وی نو په یوه خبره به درېدلي وی.

د دغسې دروغجنو خبرو په سبب د حقې لارې څخه یوازې هغه څوک اړول کېږي کوم چې د الله ﷻ په علم کښې اړول شوی وي او د نېکو استعداد یې ختم وي یا په بل عبارت د اقوالو د اختلاف د کبله ستاسو د خط السیر بطلان هر چاته څرګند دی مګر هغه څوک چې د زړه بصیرت یې د لاسه ورکړی وي هغه یې په بطلان باندې نه پوهېږي

همدغه مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې ﴿ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ۝ مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ۝ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴾ [الصافات ۱۶۱ـ۱۶۳] یعنې ای مشرکانو! نو یقیناً تاسو او هغه معبودان چې تاسو یې (د الله ﷻ څخه په غیر) عبادت کوئ. تاسو ټول په الله ﷻ باندې (د هیچا) په فتنه کښې اچوونکي نه یاست (چې عقیده یې فاسده کړئ) مګر هغه څوک کوم چې (د الله ﷻ په علم کښې) دوزخ ته داخلېدونکی وي (او د نېکو استعداد یې ختم شوی وي)

---

(۱) اضواء البیان ج۷ ص۶۶۴، تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ځو لغاتو معناوې

۵ـ په دغو ایتونو کښې د لاندې لغاتو معناوې داواړئ:

الف: په ﴿قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ﴾ کښې د ﴿قُتِلَ﴾ کلمه د "قتل" ـ لکه "ضرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د وژلو معنی ورکوي، مګر علماوو کرامو دلته د لعنت په معنی سره تفسیره کړې ده[۱].

ب: او د "خراصون" کلمې د "خرص" ـ لکه "ضرب" ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د اټکل او تخمین دپاره وضعه شوې دی، خو په دې مقام کښې د دروغو څخه کنايي ده[۲].

ج: په ﴿فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ﴾ کښې د ﴿غَمْرَةٍ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [المؤمنون:۵۴] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د نېه غټ معنوي جهل څخه عبارت ده.

د: او د ﴿سَاهُوْنَ﴾ کلمه د "سهو" څخه مشتقه ده چې په لاندې معناوو کښې استعمالېږي[۳].

اول: د فکر هغه خطايي چې د بنيادم د قصور څخه يې منشاء اخستې نه وي، لکه چې کوم لېونی سړی چا ته پوچ او کنځلې وکړي (په دې ډول کښې مواخذه نشته).

دوهم: د فکر هغه خطايي چې د بنيادم د قصور څخه يې منشاء نيولې وي، لکه په شرابو مست سړی چې څوک وکنځي (په همدغې ډول سهوې باندې مواخذه شته او همدغه ډول دلته مراده ده).

هـ: په ﴿عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ﴾ کښې د ﴿يُفْتَنُوْنَ﴾ کلمه د "فتنة" څخه اشتقاقه شوې ده کومه چې په ﴿ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ﴾ کښې نازله شوې ده، کومه چې د احراق (سوزولو) او تعذيب معنی ورکوي[۴].

## د مطلب خلاصه

۶ـ د ذکرو شوو لغاتو په ملحوظ يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې:

الف: ای مشرکانو! په اسمان باندې ـ چې په منتظمه توګه پکښې هر يو ستوری په خپل مدار کښې ګرځېږي او د ډېر استحکام او ښايست درلودونکی دی ـ سوګند دی چې: يقيناً تاسو په ډېرو ګډو وډو خبرو کښې واقع یاست او پيغمبر ته ګډ وډ لقبونه ورکوئ. همدا ستاسو د اقوالو د بطلان ستره نښه ده، که بالفرض تاسو په حق باندې خولې ښورولی نو په يوه لقب ورکولو به کلک ولاړ وی او متناقضې خبرې به مو نه کولی.

ب: په همدې بنياد ستاسو د متناقضو خبرو د کبله يوازې هغه څوک د حقې لارې څخه اړولی کېږي کوم چې د الله ﷻ په علم کښې ترې اړولی شوی وي او د نېکۍ استعداد يې ختم وي.

ج: ای پيغمبره! ذکر شوې اټکل کوونکي کسان دې د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وي لکه چې روزمره ترې لرې کېږي، او دا خکه چې دوی د لاندې خاصيتونو خاوندان دي:

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۰۳
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۶
(۳) مفردات الراغب ص۲۵۲
(۴) تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۳۷، تفسير الكشاف ج۴ ص۳۹۷، القاموس المحيط ج۲ ص۴۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دوی په غټ معنوي جهل کښې پرېوتلي دي او لا خپل ځانونه ورته په حقه برېښي.
دوهم: دوی د دې کبله د غفلت خاوندان دي چې نه ویښ زړونه لري او نه ناصح ته غوږ ږدي، بلکې د بصیرت ټول دلایل یې د پښو لاندې کړي دي.
دریم: د استهزاء او مسخرو په توګه پوښتنه کوي چې د جزا ورځ به کله واقع شي؟ څومره وخت ورته پاتې دی؟.

د: ای پیغمبره! د دغو کسانو په جواب کښې ووایه چې: دغه ورځ به په هغه وخت کښې تحقق ومومي په کوم کښې چې دوی او د دوی امثال په اور کښې معذب ګرځولی کېږي او په دوزخ کښې سوزول کېږي.

ه: په دغې ورځ کښې به ذکر شوي مسخره کوونکي او نور کفار مخاطب کړی شي چې: په خپل لاس ګټلی عذاب او سوزول وڅکئ او مزه یې واخلئ، دا هغه شی دی د کوم په واقع کېدلو باندې به چې تاسو په دنیا کښې د ملنډو په توګه تلوار کاوه چې کله به تحقق ومومي.

﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ
مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِىٓ
أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾ وَفِى ٱلْأَرْضِ ءَايَٰتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا
تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَفِى ٱلسَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ
مِّثْلَ مَآ أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾ ﴾

[۱۵] یقینًا متقیان به (په اخروي ژوند کښې) په باغونو او (ځلور ډوله) چینو کښې وي.

[۱٦] دوی به (په ډېرې خوښۍ سره) د هغو نعمتونو اخستونکي (قبلوونکي) وي کوم چې ورته خپل رب ﷻ ورکوي. (او دا ځکه چې) بې شکه متقیان د دغه وخت څخه وړاندې (په دنیا کښې) محسنان (نېکان) وه (مثلاً):

[۱۷] دوی چې وه د دوی خوب د شپې د مخې لږ وه (زیات وخت به یې په عبادت کښې تېراوه).

[۱۸] او (د دې سره-سره) د سهار په مهال به دوی (د الله ﷻ څخه د ګناهونو) مغفرت غوښت.

[۱۹] او د دوی په مالونو کښې د سوال کوونکي (فقیر) او د محروم (ناڅرګند فقیر) دپاره حق ثبوت درلود (یو یې هم بې برخې نه پرېښوده).

[۲۰] او (ای خلکو! تاسو پوه شئ چې) په ځمکې کښې د یقین کوونکو دپاره (د الله ﷻ د علم او قدرت) زښتې ډېرې نښې شته دي.

[۲۱] او (ای خلکو!) ستاسو په ځانونو کښې هم (د همدغو مطالبو دپاره ګڼ دلایل شتون لري) ایا نو تاسو د زړه په سترګو نه ګورئ؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] او (ای خلکو!) په اسمان کښې ستاسو روزي (باران) ده او (هم پکښې) هغه ټول شیان مقدر دي د کومو چې تاسو ته وعده درکوله کېږي (او هملته په ازلي کتاب کښې لیکلي شوي دي).

[۲۳] نو (ای خلکو!) د اسمان او ځمکې په رب ﷻ باندې سوګند دی چې وعده درکړی شوې خبره په داسې حال کښې حقه ده (چې په حقیقت او واقعیت کښې دېته ورته ده) لکه چې تاسو خبرې کوئ (هیڅ شک شبه پکښې ځای نه لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو څه اُخروي حالاتو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د متقیانو څه اُخروي حالاتو ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مقایسې دپاره د کفارو د حالاتو څخه وروسته په خپل اُمت باندې د مؤمنانو او متقیانو څه حالات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ په اخروي ژوند کښې به مؤمنان (متقیان) د لاندې صفاتو درلودونکي وي:

الف: دوی به د هر ډول میوجاتو په باغونو کښې استوګن وي.

ب: او هم به ترې لاندې څلور ډوله چینې او ویالې روانې وي، چې د شودو، شاتو، شرابو او صافو اوبو به ببلې-ببلې ویالې جارې وي.

ج: جنتیان به د هغو نعمتونو په ډېرې خوشالۍ سره رانیوونکي وي کوم چې ورته د خپل رب ﷻ د پلوه ورپا ورکولی کېږي.

۲ـ جنتیان به په جنت کښې ځکه د ډول-ډول نعمتونو درلودونکي وي چې:

الف: دوی په دنیا کښې نېکو کاران او اخلاصمندان وه. د مثال په توګه:

ب: د دوی خوب به د شپې په لږ برخو کښې صورت نیوه او زیاتې برخې به یې ورته په عبادت سره رېنولې.

ج: خو د دې سره-سره به یې خپل ځانونه تقصیر کوونکي ګڼل او په سهار کښې به یې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د مغفرت لاسونه اوچتول چې: ای ربه! مونږ ته د تقصیراتو څخه راتېر شه.

د: په بدني عبادت باندې علاوه، دوی به په دنیا کښې په مالي عبادتونو باندې هم صرفه نه کوله او په خپلو مالونو کښې به هر ډول فقیر ته په استحقاق قائل وه، دوی به هغه فقیر ته د خپلو مالونو څه برخه ورکوله کوم به چې خپله فقیري په سوال کولو سره څرګندوله او دوی به هغه فقیر هم بې برخې نه پرېښود چې د خپلې فقیرۍ څخه به یې په سوال کولو سره پرده نه پورته کوله، بلکې دغو جنتیانو به پلټنه کوله چې پټ فقیران هم وپېژني او په خپلو مالونو کښې څه برخه ورکړي.

۳ـ ای خلکو! په ځمکه کښې زښت ډېر دلایل شتون لري، او په دغو افاقي دلایلو باندې علاوه، ستاسو په ځانونو کښې ښه پرېمانه انفسي دلایل هم موجودیت لري چې تاسو ته د اسلامي لارې واقعیت په اثبات رسوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ او همدارنګه ستاسو روزي او هغه شی د کوم چې تاسو ته یې وعده درکوله کېږي، دا ټول په اسمان کښې ټاکل کېږي او اختیار یې یوازې د الله ﷻ پورې اختصاص لري او بس، او بلکې همدغه په ازلي کتاب کښې ثبت دی.

۵ـ نو ای خلکو! د اسمان او ځمکې په رب ﷻ باندې سوګند دی چې یقینًا ذکر شوې خبره داسې حقه ده لکه څنګه چې تاسو خبرې کوئ. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې ستاسو خبرې کول واقعیت لري او څه شک پکښې نشته همدارنګه دا خبره هم واقعیت لري او هیڅ دروغ پکښې شتون نه لري چې ستاسو روزي د اسمان د پلوه نازلېږي او د کوم خیر یا شر چې تاسو ته وعده درکوله کېږي هغه ټول د اسمان د پلوه صورت نیسي او فقط د الله ﷻ په اختیار پورې اختصاص لري او بس.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو د "ما" توری د الله ﷻ د هغو ارشاداتو څخه کنایي اخستی دی کوم چې د پیغمبرانو په ذریعه په دنیا کښې بنیادمانو ته ورنازل شوي وه[1]. یعني په داسې حال کښې به هلته جنتیان سکونت ولري چې دوی په دنیا کښې د الهي ارشاداتو رانیوونکي وه.

خو دغه کنایه د لاندې وجوهو د کبله خوندوره نه برېښي:

الف: په جنت کښې د سکونت یوه زمانه ده او په ارشاداتو باندې د عمل کولو بله زمانه ده، حال دا چې نحویان په حَالِیَت کښې د زماني اتحاد ضرور ګڼي.

ب: همدغه مضمون په متصله جمله ﴿ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ﴾ کښې نازل شوی دی، نو په کار نه ده چې په لوی لاس په ایت کښې د تکرار متحمل وګرځو.

زمونږ په نظر بهتره دا ده چې ذکر شوی د "ما" توری د جنتي نعمتونو څخه کنایي وګڼلی شي، یعني جنتیان به په جنت کښې د هغو نعمتونو په ډېرې خوشالۍ سره اخستونکي (رانیوونکي) وي کوم چې ورته خپل رب ﷻ اعطاء کوي نو د نعمتونو قبول به ورباندې تحمیلي نه وي او نه به موقت وي بلکې تل ترتله به دوام لري.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿ كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ﴾ کښې مفسرینو کرامو متعدد نحوي تحلیلونه کړي دي[2]. خو کوم تحلیل چې بهتر برېښي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي[3]:

الف: د ﴿ كَانُواْ ﴾ دپاره خپل مستتر ضمیر اسم دی چې ﴿ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ ته راجع دی.

ب: د ﴿ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ ﴾ کلمات د ﴿ كَانُواْ ﴾ دپاره خبر واقع شوي دي.

---

(۱) البحر المحیط ج۹ ص۵۵۱
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۷، اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۶۸
(۳) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۳۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج په ﴿ ما يَهْجَعُونَ ﴾ کښې د "ما" توری مصدریه دی چې د ﴿يَهْجَعُونَ﴾ جمله د "هُجُوعُهُمْ" تاویل ته اړوي. "هُجُوع" ـ لکه "فُتُول" ـ د خوب کولو معنی ورکوي[1].

د دغه تاویلي مصدر د ﴿ كَانُوا ﴾ د اسم څخه په بدل اشتمال سره بدل دی، نو څه لړې نه ده چې په "كَانَ الْمُتَّقُونَ هُجُوعُهُمْ قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ" سره ترې تعبیر وکړی شي. یعنې: متقیان جنتیان چې وه د دوی خوب کول د شپې د محې لږ وه چې اکثره شپه به یې په عبادت تېروله، خو د دې سره-سره به په سهار کښې د خپل قصور مغفرت غوښتونکی هم وه.

## محروم څوک دی؟

۳ـ په ﴿ وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴾ کښې خو د "سَائِل" کلمه واضحه ده چې د هغه فقیر سړي څخه عبارت ده کوم چې خپل احتیاج خلکو ته وړاندې کړي او خپل فقر ورته څرګند کړي. د کوم په هکله چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ»[2] یعنې سوال کوونکی د ورکړې حق لري اګر که په آس باندې سور راشي (نو په کار دی څه ناڅه ورکړی شي).

اما په همدغه ایت شریف کښې د "مَحْرُوم" په هکله علماوو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي چې تقریبًا اتو قولونو ته رسېږي[3]. خو بهتر قول پکښې دا برېښي چې: "مَحْرُوم" د هغه فقیر نوم دی کوم چې د سوال کولو څخه ډډه کوي او نابلده سړی ورباندې د غني (مالدار) ګومان کوي.

همدغه تفسیر ته نبي کریم ﷺ هم په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «وَلَكِنَ الْمِسْكِينُ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ»[4] یعنې هغه څوک کامل مسکین نه دی چې په خلکو باندې ګرځي راګرځي او په یوه لمړۍ دوه لمړۍ او په یوه کجوره دوه کجورو باندې یې مخه نیوله کېږي، مګر کامل مسکین هغه څوک دی چې دومره غنا نه لري چې د احتیاج څخه یې بې پروا کړي او (په دې باندې علاوه) په احتیاج باندې یې چاته معلومات هم نه وي چې صدقه ورباندې وکړی شي. او همدارنګه نوموړی نه اوچتېږي چې خلکو ته سوال وکړي (او په خپل احتیاج باندې یې خبر کړي).

## هېر مو نه شي

۴ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ ﴾ کښې د "رِزْق" کلمه د باران څخه عبارت ده، لکه چې په بل ایت کښې ورباندې تقریبًا صراحت شوی دی چې: ﴿ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ رِزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ [الجاثية: ۵] یعنې په هغه شي کښې هم د توحید دلایل دي کوم چې

(۱) لسان العرب ج۸ ص۳٦۷؛ القاموس المحیط ج۴ ص۴۸۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۴۲۸؛ سنن ابي داوُد ج۱ ص۲۳۵
(۳) زاد المسیر ج۷ ص۲۰۷؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۰۷
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د اسمان څخه نازل کړی دی چې د روزی، (باران) څخه عبارت دی، نو الله ﷻ په همدغه باران سره مړه ځمکه راژوندی کوي البته د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾ کښې د "ما" کلمه د هغو ټولو خوږو او ترخو (خير او شر) څخه عبارت ده کوم چې بنيادمانو ته په دنيا او آخرت کښې وربېښېږي[۱].

يعني ای بنيادمانو! ستاسو د روزی، سبب په اسمان کښې دی چې د باران په شکل کښې دربانديې راورېږي، او همدارنګه ستاسو ټول کړه وړه او خير او شر هم په لوح محفوظ کښې مقدر دی کوم چې په اسمان کښې ساتلی شوی دي. همدغه لوح محفوظ ته په [الرعد. ۳۹] ايت کښې د "أم الکتاب" لقب ورکړی شوی دی چې څه تفصيل يې د الله ﷻ په توفيق هملته تېر شوی دی.

## دوه نُکتې

۵ـ په ﴿ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ﴾ کښې لاندې دوه وو نکتو ته توجه په کار ده:

الف. د ﴿ إِنَّهُۥ ﴾ په ضمير کښې خو علماوو کرامو زښت ډېر احتمالات ليکلي دي[۲]، مونږ ته پکښې دا بهتره برېښي چې دغه ضمير به په وړاندېنۍ جمله ﴿ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾ کښې د "ما" کلمې ته راجع وي.

ب. په ﴿ مِّثۡلَ مَآ ﴾ کښې د ﴿ مِّثۡلَ ﴾ کلمه ﴿ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ﴾ ته مضافه ده او د هغه ضمير څخه د حاليت په بنياد منصوبه ده کوم چې په ﴿ لَحَقّٞ ﴾کښې مستتر دی او په ﴿ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾ کښې د "ما" کلمې ته راجع دی[۳].

اما د "مَا" توری د مضاف او مضاف إليه ترمنځ زيات نازل شوی دی. لکه چې په دغې مقوله کښې د "لَا" توری زيات دی: "فِي بِئۡرِ لَا حُورِ سَرَی وَمَا شَعَرَ"، مطلب پکښې "فِي بِئۡرِ حُورِ"[۴] دی، يعني فلانی سړی د هلاکت په ځا کښې لاړ (ولوېد) او پوه نه شو چې دا د هلاکت ځا ده.

نو د ذکرو شوو نکتو په ملحوظ به د ايت شريف مضمون داسې راوخېژي چې:

نو د اسمان او ځمکې په رب ﷻ باندې سوګند دی چې تاسو ته وعده کړی شوي شيان ټول حق دي او د الله ﷻ په علم باندې علاوه په ازلي کتاب (لوح محفوظ) کښې مقدر دي. حال دا چې دغه مقدرات (په حقيقت او واقعيت کښې) دېته ورته دی لکه چې تاسو خبرې کوئ، نو څرنګه چې ستاسو په خبرو کولو کښې څه شک نشته همدارنګه په أم الکتاب (ازلي کتاب) کښې د مقدراتو په ثبوت کښې هم شک او تردد شتون نه لري.

(۱) تفسير الطبري ج۲٦ ص۲۰٦؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۳۹۳
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۰
(۳) تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۳۹
(۴) لسان العرب ج۴ ص۲۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ
قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ
أَلَا تَأۡكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٢٨﴾
فَأَقۡبَلَتِ ٱمۡرَأَتُهُۥ فِي صَرَّةٖ فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوزٌ عَقِيمٞ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِۖ
إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۴] ايا تاته د ابراهيم ﷺ د عزتمندو مېلمنو خبره درغلې ده؟ (هغه دا چې)

[۲۵] کله چې هغوی په ابراهيم ﷺ باندې (کور ته) ورداخل شوه نو ويې ويلې چې: (په تاباندې دې سلامتيا وي) سلامتيا.

ابراهيم ﷺ (په جواب کښې) وويلې چې: (په تاسو باندې دې هم) سلامتيا وي (خو د خپله خانه سره يې په پټه وويلې چې) دوی ناآشنا (نابلده) قوم دی!

[۲۶] نو ابراهيم ﷺ غلی خپل کور ته لاړ نو څورب خوسی يې راووړ (د څاربه خوسي غوښه يې راوړه)

[۲۷] نو غوښه يې مېلمنو ته ورنژدې کړه او (ورته يې) وويلې چې: ايا تاسو خوراک نه کوئ؟ (مهرباني وکړئ خوراک وکړئ)

[۲۸] نو (د هغوی د نه خوراک د کبله) ابراهيم ﷺ ترې په خپل زړه کښې وېره واچوله (ورځخه وډار شو) مېلمنو (ورته) وويلې چې مه ډارېږه (مونږ پرښتې يو ستو خوراک او څښاک نه کوو)، او هم يې په يوه پوه هلک سره زېری ورکړ (چې ته به ډېر ژر د دغه ماشوم پلار جوړ شې)

[۲۹] نو د ابراهيم ﷺ مېرمنې (د حيرانتيا) په اواز کښې (مېلمنو ته) مخ کړ او خپل مخ يې (د تعجب د امله بنه کلک) وواهه او ويې ويلې چې: زه خو زړه بوډۍ (او) شنډه يم (په دې باندې علاوه مېړه مې هم دغه بوډا دی، دا خو عجيب بشارت دی)

[۳۰] پرښتو (ورته) وويلې چې: همدغه ډول ستا رب ﷻ فرمايلې دي، يقيناً ستا رب ﷻ همدی د حکمت خاوند (او) د پوهې څښتن دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

تردې ځايه الله ﷻ په سوګندونو او أنفسي او آفاقي دلايلو سره د بعث بعد الموت واقعيت او هم د نبي کريم ﷺ د نبوت حقانيت څرګند کړ. په دې اينونو کښې د ځينو کفري هلاکو شوو قومونو لنډو قيصو ته اشاره شوې ده. ترڅو د يو پلوه د کفارو د تهديد معنی ورکړي او د بله پلوه نبي کريم ﷺ ته تسلي او ډاډينه وکړي. نو خلاصه يې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اې پیغمبره! د خپلې ډاډګېرنې دپاره او د کفارو عنادیانو د تهدید دپاره په خپل اُمت باندې د پخوانیو هېرو هلاک شوو قومونو څه حالات قرائت کړه.

۱_ ایا تاته د ابراهیم ﷺ د معززو مېلمنو خبره درغلې ده؟ هغه دا چې:

الف: کله چې د هغه مېلمانه (د پرښتو یوه ډله) د بنیادمانو په څېره کښې ابراهیم ﷺ ته ورغله نو د هر څه څخه وړاندې یې ورباندې سلام واچاوه چې "سلام" (په تاسو باندې دې سلام وي).

ب: ابراهیم ﷺ سلام ته جواب ورکړ چې "وعلیکم السلام" (په تاسو باندې دې هم سلام وي)

خو په عین حال کښې ابراهیم ﷺ د هیله خانه سره ووېلې چې دا څو نااشنا قوم دي چې د دې وخت څخه وړاندې مې ما چرته نه وو لیدلي (چې دوی په څنګه راغلي دي؟)

ج: د سلام د تبادلې څخه وروسته ابراهیم ﷺ خپل کور ته غلی او په چټه خوله ورښووت ترڅو د خپلو مېلمنو دپاره د خوراک او څښاک بندوبست وکړي.

د: نو په چلتکې سره یې د یوه څاربه خوسکي غوښه تیاره کړه او خپلو معززو مېلمنو ته یې په مخکښې کېښوده چې د دغې غوښې څخه استفاده وکړئ.

هـ: مېلمنو خوراک ته لاسونه وړاندې نه کړه، نو ابراهیم ﷺ هغوی مخاطب کړه چې: ایا تاسو خوراک نه خورئ؟ څه باعث دی چې د خوراک څخه مو لاسونه ونیول؟

و: په عین حال کښې ابراهیم ﷺ د مېلمنو د نه خوراک د امله په خپل زړه کښې ډار محسوس کړ او ویره ورسره پیدا شوه چې دغه قوم څه مطلب لري؟ ایا دوی په غصه دي؟

ز: کله چې مېلمنو په ابراهیم کښې د ډار نښې ولیدې نو د ډاډینې او اطمنان د ورکولو دپاره یې مخاطب کړ چې ډار مه کوه، موږ ځکه خوراک ته لاسونه وړاندې نه کړه چې موږ پرښتې یاستو. بیا یې د نه تسکین دپاره په یوه پوه هلک سره بشارت ورکړ چې د بوډاتوب په حال کښې به یې درته الله ﷻ روزي کړي.

۲_ د ابراهیم ﷺ مېرمنه (ساره رضي الله عنها) هم په تشویش کښې واقع وه خو چې کله یې ذکر شوی بشارت او د خوښۍ خبر واورېد نو:

الف: د حیرانتیا اواز یې خپل کړ او په تعجب سره یې خپل مخ په څپېړه ووهه او مېلمانه یې مخاطب کړه چې: زه خو زړه بوډۍ یم چې په ځوانۍ کښې هم شنډه وم او دغه بوډا مې مېړه دی!

ب: پرښتو جواب ورکړ چې: واقعیت همدغسې دی لکه څنګه چې موږ تاسو ته بشارت درکړ او دا ځکه چې همدغه ستا د رب ﷻ فرمان دی، او هیڅ بدلون پکښې صورت نه شي نیولی. بې شکه ستا رب ﷻ په هر شي کښې د حکمت درلودونکی او په هر شي باندې ښه پوه دی، ستاسو حالات ورته ښه پوره ځرګند دي.

## توضیحات

۱_ دا قیصه د "هود" په سورت کښې او هم په څینو نورو سورتونو کښې په تفصیلوار ډول نازله

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده او مونږ پکښې هلته هومره شرحه لیکلې ده کومه چې الله ﷻ راښودلې وه، نو که دلته چا ته په کوم تکي کښې سودا پیښه شي هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، الله ﷻ ته أمید دی چې سودا به یې ووځي

## د ځو لغاتو معناوې

۲ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ ﴾ کښې د "رَاغَ" کلمه د "رَوْغ" ـ لکه "قول" ـ یا "رَوَغَان" ـ لکه "خفوان" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الصافات ۹۱] ایت لاندې لیکلي دي چې "رَوْغ" یا "رَوَغَان" دې ته وایي چې سړی یوه ځای ته په پټه او حیله سره ورشي او هلته میلان وکړي یعنې نو ابراهیم ﷺ میلمانه خبر نه کړه چې زه تاسو ته خوراک راوړم بلکې پټه خوله کورته ننووت او د غوسي غوښه یې ورته حاضره کړه.

ب: په ﴿ فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ﴾ کښې د "أَوْجَسَ" کلمه د "إِيجَاس" ـ لکه "إِبْعَاد" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "إِيجَاس" دېته وایي چې سړی په خپل زړه کښې څه شی مونده کړي[1]. یعنې نو ابراهیم ﷺ د میلمنو څخه په خپل زړه کښې دار مونده کړ او تری ودار شو چې په څه وجه دوی د خوراک څخه لاسونه ونیول؟

ج: په ﴿ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ ﴾ کښې د ﴿ صَرَّةٍ ﴾ کلمه د ډېر تېز اواز دپاره وضعه شوې ده[2] چې مونږ تري په "کریکه" یا په "چیغه" تعبیر کولی شو، خو دلته تری د حیرانتیا هغه اواز مطلب دی کوم چې عمومًا د زنانه وو د خولو څخه د ناأشنا خبر په اورېدلو سره وځي لکه "هی، وی" او داسې نور.

د: په ﴿ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا ﴾ کښې د "صَكَّتْ" کلمې د "صك" ـ لکه "مد" ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د ډېرو کلکو وهلو معنی ورکوي. یعنې د ابراهیم ﷺ مېرمنې د ذکر شوي بشارت په اورېدلو سره د زنانه وو د عادت په مطابق خپل مخ ته کلکه څپېړه ورکړه او په تعجب سره یې پرښتې مخاطبې کړې چې ایا دا بشارت زما د شنډې بوډۍ او زما د بوډا مېړه سره سمون خوري؟

په همدې ځای د شپږ ویشتمې سپارې پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو. د الله ﷻ څخه نور توفیق او کومک هم غواړو چې په خپل فضل سره دا کتاب پای ته ورسوي او زمونږ په لاس یې بیا بیا چاپ او توزیع کړي چې د مسلمانانو دپاره د دنیا او آخرت د ګټو مصدر وګرځي.

۱۴۲۴/۶/۱۵ هـ ق - ۱۳۸۲/۵/۲۲ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۵۰

(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۸۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ۝ قَالُوٓا۟ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ۝ لِنُرْسِلَ
عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ۝ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ۝ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ۝ وَتَرَكْنَا فِيهَآ ءَايَةً لِّلَّذِينَ
يَخَافُونَ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ۝ ﴾

[۳۱] ابراهیم وویلې چې: نو ستاسو عظیم الشان کار څه شی دی؟ ای استول شوو پرښتو!

[۳۲] پرښتو وویلې چې: یقیناً مونږ یو مجرم (جنایتکار) قوم ته را استولی شوي یاستو (چې د لوط ﷺ د قوم څخه عبارت دی).

[۳۳] (البته) د دې دپاره چې مونږ ورباندې د خټو څخه جوړې کړی شوي ډبرې (قرتکاڼي) ورخوشې کړو (ترڅو دوی ټول د خرمې هلاک کړی شي).

[۳۴] حال دا چې همدا (قرتکاڼي) ستا د رب ﷻ په نزد د مسرفانو (د حد څخه د تجاوز کوونکو خلکو) دپاره نښه داره کړی شوې دي (عادي کاڼي نه دي).

[۳۵] نو مونږ (د دغه ښار څخه) هغه څوک وویستل کوم چې پکښې استوګن وه (او) د مؤمنانو څخه عبارت وه.

[۳۶] نو مونږ په همدې ښار کښې د مسلمانانو څخه د یوه کور څخه پرته نور څوک (مسلمانان) موندلی نه کړه (د لوط ﷺ د کور څخه پرته بل مسلمان کور پکښې موجودیت نه درلود).

[۳۷] (نو د خرمې مو هلاک کړه) او په همدغه ښار کښې مو د هغو کسانو دپاره (د خپل قدرت لویه نښه (د قیامت تر ورځې پورې) پرېښودله کوم چې د دردناک عذاب څخه ډارېږي (ترڅو ترې عبرت واخلي).

## د مطلب خلاصه

کله چې پرښتو خپل ځانونه ابراهیم ﷺ ته وروپېژاندل او د هلک (زوی) زېری یې ورکړ نو:

۱ـ بیا یې ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

ابراهیم ﷺ: ای د الله ﷻ د پلوه رالېږلو شوو پرښتو! ستاسو ډېر مهم کار څه شی دی د کوم د تعمیل دپاره چې تاسو دلته رااستولی شوي یاست؟ ایا همدغه د ماشوم بشارت ستاسو مهم کار وه؟

پرښتې: مونږ د یوه مجرم قوم د پوېنا کولو دپاره رااستولي شوي یاستو چې د خرمې یې هلاک کړو چې هغه د لوط ﷺ د قوم څخه عبارت دی. مونږ د الله ﷻ د پلوه د دې دپاره رااستولي شوي یاستو چې په دغه قوم باندې داسې ډبرې ورخوشې کړو او باران یې پرې وکړو کومې چې اصلاً د خټې څخه جوړې شوې دي او قرتکاڼې دي، دغه ډبرې عادي ډبرې نه دي بلکې ستا د رب ﷻ په نزد د تجاوز کوونکي قوم دپاره په نښه کړی شوې او د همدوی دپاره جوړې کړی شوې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابراهیم ﷺ په دغه قوم کښې لوط ﷺ هم استوګن دی چې د یوه پیغمبر په حیث هلته د الله ﷻ د ارشاداتو د پلي کولو دپاره دعوت چلوي

پرښتې مونږ هلته د لوط ﷺ په موجودیت باندې پوه یاستو نو هغه ته به د خپلې تولې کورنۍ سره نجات ورکړو، خو یوازې مېرمنه به یې هلاکه کړی شي چې کافره ده او په لوط ﷺ باندې یې ایمان نه دی راوړی

۲ـ ای پیغمبره! په همدې بنیاد مونږ هغو ټولو کسانو ته نجات ورکړ کوم چې د دغو هلاکو شوو قومونو په ښارونو کښې اوسېدل او د مومنانو څخه وه. خو مونږ په دغو ښارونو کښې د یوې مسلمانې کورنۍ څخه پرته نور څوک مسلمانان مونده نه کړه.

یا په بل عبارت هلته د لوط ﷺ د کورنۍ څخه په غیر هیڅ مسلمان موجودیت نه درلود، او د ده ﷺ په کورنۍ کښې هم د ده ﷺ ماندینه د مسلمانې زنانه په حیث شامله نه وه بلکې کافره وه.

۳ـ نو مونږ هغوی په خارق العاده عذاب سره هلاک کړه او د قیامت تر ورځې پورې مو د هغو کسانو دپاره د خپل کامل قدرت یوه ډېره لویه نښه پرېښودله کوم چې زمونږ د دردناک عذاب څخه دارېږي او د عبرت اخستلو استعداد یې نه وي ضائع شوی

## توضیحات

۱ـ په ﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ ﴾ کښې د "خطب" کلمه د هغه لوی عظیم الشان کار دپاره وضعه شوې ده په کوم کښې چې ډېرو خبرو اترو ته ضرورت وي[1] یعني ابراهیم ﷺ پرښتې مخاطبې کړې چې د بشارت څخه علاوه ستاسو ډېر عظیم الشان کار څه شی دی؟

۲ـ د ذکرو شوو ایتونو ځینې مربوط مضامین وړاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو هغه دا چې

الف: مومنانو په څه کیفیت سره نجات وموند او کفار په څه کیفیت سره هلاک کړي شوه (د "الحجر" سورت)

ب: په کومو کاڼو باندې چې د لوط ﷺ قوم ویشتلی شوی وه او په دې مقام کښې ترې په ﴿ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی، هغه د [هود ۸۲] ایت لاندې ښه شرحه شوې دي.

ج: همدارنګه د ﴿ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ﴾ کلمات د [هود:۸۳] ایت لاندې په مناسبه اندازه شرحه شوي دي

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: پوره واضحه ده چې په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾، ﴿ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ دواړه کلمې د لوط ﷺ د کورنۍ څخه عبارت دی البته د ده ﷺ د مېرمنې په استثناء سره؛ څرنګه

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې ذکر شوي دواړه کلمې په ترتیب سره د ایمان او اسلام څخه اشتقاقي شوي دي نو ایا ایمان او اسلام سره په مصداق کښې اتحاد لري؟

موږ وایو چې په دې مقام کښې د "ایمان او اسلام" دواړه کلمې یوه د بلې څخه نه جلا کیدونکي دي او په مصداق کښې دواړه متحدې دي[1]. اما په دې کښې علماء کرام اختلاف لري چې ایا دواړه کلمې د مفهوم په لحاظ څه فرق لري، چې بحث یې د الله ﷻ په توفیق د [الحجرات:۱۴] ایت لاندې تیر شوی دی، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي

## یادونه

۴ـ په ﴿ وَتَرَكْنَا فِيهَآ ءَايَةً ﴾ کښې د ﴿ فِيهَا ﴾ ضمير د ذکر شوي قوم ښار (قریې) ته راجع دی، که څه هم د "القرية" کلمه دلته په صراحت سره ذکره نه ده مګر مقام وړاندې دلالت کوي، او په بل ایت کښې وړاندې صراحت هم نازل شوی دی چې ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ﴾ [العنكبوت:۳۱] یعنې پرښتو وویلې چې یقیناً موږ د دغه ښار د اوسیدونکو هلاکوونکي یاستو.

﴿ وَفِى مُوسَىٰٓ إِذْ أَرْسَلْنَٰهُ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِى عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلْعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَىْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾ وَفِى ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا۟ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا۟ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ فَمَا ٱسْتَطَٰعُوا۟ مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُوا۟ مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٤٦﴾ ﴾

[۳۸] او موږ د موسى ؑ په قیصه کښې هم (د واریدونکو دپاره د خپل قدرت لویه نښه پرېښې ده) کله وخت چې موږ فرعون ته په ښکاره برهان سره ورولیږه

[۳۹] نو فرعون ورته د خپل قوم (لښکر) په سبب شا کړه او (د تکبر په توګه یې) وویلې چې (دا سړی) جادوګر دی (او) یا لیونی (او پیریانی) دی

[۴۰] نو موږ فرعون او د ده لښکر ونیوه نو ټول مو په دریاب کښې په داسې حال وروغورځول چې فرعون خپل ځان ته د ملامتی ګوته نیوونکی وه

[۴۱] او د عادیانو په قیصه کښې (هم موږ د قدرت نښې پرېښې دي) کله چې وړاندې موږ پر هغوی باندې خیره (شنډه) باد ورخوشې کړ

---

[1] [illegible]

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۲] دغه باد هيڅ شی نه پرېښود چې ورباندې به ورغی (وچلېد) مگر په داسې حال چې هغه شی به يې د ورستو (خاورو خوړلو) هډوکو غوندې گرځاوه.

[۴۳] او د ثموديانو په قيصه کښې (مو هم قدرتي نښې پرېښې دي) کله چې ورته (د صالح ﷺ د پلوه) ووېلې شو چې تاسو (د خپل ژوند څخه) تر څه وخته پورې استفاده وکړئ او بس (ستاسو د ژوند فقط درې ورځې پاتې دي).

[۴۴] (لنډه دا چې) ثموديانو د خپل رب ﷻ د امر څخه سرکشي (او طُغيان) وکړ، نو (په نتيجه کښې) هغوی لره تکې (تندر) په داسې حال کښې ونيول چې دوی ورته کتل (او هيڅ شی يې د لاسه پوره نه وه).

[۴۵] (يا په بل عبارت:) نو ثموديانو د درېدلو توان ونه شو درلودی (چې وتښتي) او (همدارنگه) دوی (د بل چا په ذريعه، انتقام اخستونکي هم نه وه.

[۴۶] او (د وراندې قومونو غوندې مونږ) د نوح ﷺ قوم د دوی څخه لا پخوا (هلاک کړی وه) څکه چې دوی فاسق قوم وه (د الله ﷻ د ارشاداتو څخه وتونکي خلک وه).

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! د لوط ﷺ د هلاک کړی شوي قوم په تعقيب په خپل اُمت باندې د څو نورو کفري هلاکو کړی شوو قومونو څه لنډ حالات هم قرائت کړه چې:

۱ـ د موسى ﷺ په قيصه کښې هم مونږ د هغو کسانو دپاره د خپل قدرت ډېره لويه نښه پرېښې ده کوم چې د قيامت تر ورځې پورې د الله ﷻ د دردناک عذاب څخه ډارېږي چې څه لږ بيان يې دا دی:

الف: ورنږ موسى ﷺ د وخت کفري مشر فرعون ته د پيغمبر په حيث ورلېږلی وه او څرگند دلايل او معجزات مو ورته ورکړي وه ترڅو د نوموړي کفري مشر په وراندې خپل رسالت په اثبات ورسوي.

ب: موسى ﷺ په معجزاتو سره عموماً او د اژدها په معجزې سره خصوصاً خپل نبوت په اثبات ورساوه، مگر فرعون په خپل قوت او خپل لښکر باندې غره شو او نفس يې قبوله نه کړه چې د پيغمبر په حيث ورته معتقد وگرځي.

ج: نو د همدې کبله يې د خپل خان او د خپل قوم د غولونې او تېرويستنې په غرض موسى ﷺ ته دروغين لقبونه ورکړه، چې دا د الله ﷻ پيغمبر نه دی بلکې نوموړی د دوه وو کيفيتونو څخه په يوه کيفيت مبتلا دی هغه دا چې نوموړی يا ډېر پوخ جادوگر دی او په کار دي چې د ښو غښتو جادوگرانو په ذريعه يې مقابله وکړی شي، يا نوموړی ليونی او پېرياني دی او معالجې ته ارتيا لري. په هر تقدير بايد د پيغمبر په صفت ورته هېڅوک معتقد ونه گرځي.

د: په نتيجه کښې مونږ فرعون او د ده لښکرې په عذاب سره ونيول او ټول مو د څرمې په درياب کښې وروغورزول او ټول مو پوپنا کړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: هو! د غرق او هلاک په وخت کښې فرعون د غفلت د خوبه راببدار شو او خپل خان ته يې د ملامتې ګوته ونیوله چې زه هم په موسی ﷺ باندې د بني اسرائیلو غوندې د نبوت عقیده لرم او د پیغمبر په حیث يې پېژنم. مګر دغه اضطراري ایمان راوړلو ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او د عذاب څخه يې نجات ورنه کړی شو.

۲ـ همدارنګه مونږ د عادیانو په معجزانه هلاک کښې هم د متقیانو دپاره زښت ډېر عبرتي درسونه پرېښي دي چې کله مو په هغوی د هُود ﷺ د تکذیب په وخت کښې په خارق العاده توګه داسې تېز باد وچلاوه چې:

الف: دغه باد زمونږ د غضب یوه بیلګه وه او د هوسایی هیڅ نښې پکښې موجودیت نه درلود بلکې د خیر څخه شنډ او خالي وه.

ب: هغه دا چې دغه تېز باد هیڅ شی نه پرېښود په کوم باندې به چې تېرېده مګر هغه به يې د ایرو غوندې سوزولی شوی ګرځاوه او هم به يې عادیان د خرماګانو د ډډونو په څېر په ځمکه باندې غورزول او ځملول.

۳ـ د ثمودیانو په هلاک کښې هم مونږ د خپلو ډارېدونکو بندګانو دپاره ښه پرېمانه عبرتي درسونه پرېښودل چې:

الف: کله چې هغوی ته د صالح ﷺ د پلوه وویلی شو چې نور نو ستاسو د کبر کاسه نسکوره ده او د هلاکت وخت مو رانژدې دی نو تاسو تر همدغه ټاکلي وخته پورې د دنیا څخه استفاده وکړئ او بس.

ب: نو ثمودیانو د خپل رب ﷻ د ارشاداتو څخه سرکشي وکړه او خپل طغیان ته يې ادامه ورکړه بلکې د صالح ﷺ نصائح يې په خندنی سره رد کړه.

ج: نو په هغوی باندې د خپل رب ﷻ د پلوه تندر ورنازل کړی شو چې ځمکه يې وربانديې وجړقوله چې ډېر تېز اواز هم ورسره ملګری وه، نو ټول يې د ځرمې په داسې حال کښې پوپنا کړه چې ټولو ورته کتل او هیڅا توان او وسه نه درلوده چې خپل خان ته یا بل چا ته نجات ورکړي او همدارنګه دوی نه وه چې د بل چا په ذریعه انتقام واخلي.

۴ـ ای پیغمبره! مونږ د ذکرو شوو قومونو څخه لا وړاندې د نوح ﷺ قوم د کفریاتو د کبله هلاک کړی او غرق کړی وه او د خپلو ډارېدونکو بندګانو دپاره مو د هغوی په هلاک کښې ښه عبرتي درسونه پرېښي وه. او دا خکه چې: د نوح ﷺ قوم فاسق او سرکشه قوم وه چې د نوح ﷺ د اوږده دعوت د اثر لاندې واقع نه شوه او ورځ په ورځ يې طغیان او بغاوت ته زور ورکاوه، آن تردې چې د الله ﷻ په غضب اخته شوه.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام پورې اړونده ځینې کلمات د الله ﷻ په توفیق وړاندې شرحه او تحلیل شوي دي. د مثال په توګه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. په ﴿ فَتَوَلَّى بِرُكْنِهِ ﴾ کښې د "رُكْن" کلمه د [هود: ۸۰] ایت لاندې واضحه شوې ده چې د جانب (څنګ) معنی ورکوي، د همدې کبله د کوټې څلور وارو دیوالونو ته د کوټې ارکان ویل کېږي.

ذکره شوې کلمه په دې مقام علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسیره کړې ده:

اول. دغه کلمه دلته د تکبر او اعراض څخه کنایي ده[۱]. یعنې نو فرعون د موسی ﷺ د دعوت څخه خپل څنګ تاو کړ او د تکبر د کبله یې ترې اعراض او ډډه وکړه.

همدې مضمون ته ورته مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ ثَانِيَ عِطْفِهِ ﴾ [الحج: ۹] یعنې ځینې خلک د الله ﷻ په هکله په داسې حال کښې جګړې کوي چې د خپل څنګ تاوونکي او تکبر کوونکي دي.

دوهم. دغه کلمه دلته د قوت او لښکر څخه کنایي ده[۲]. یعنې نو فرعون د خپل قوت او خپل لښکر په سبب د موسی ﷺ د دعوت څخه مخ په شا شو.

که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره منافات نه لري چې په فرعون کښې دواړو شتون درلود، مګر په راتلونکي ایت کښې د ﴿ فَأَخَذْنَهُ وَجُنُودَهُ ﴾ کلماتو سره دوهم تفسیر ډېر ښه پیوند اخلي. یعنې نو مونږ فرعون او د ده لښکر دواړه ونیول او په دریاب کښې مو ورواچول چې هیڅ ډول دفاع یې ونه کړی شوه.

ب. په ﴿ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ مُلِيم ﴾ کلمه د یونس ﷺ په ارتباط په [الصافات: ۱۴۲] ایت کښې نازله شوې او هملته تحلیله شوې ده. یعنې نو یوه ماهي یونس ﷺ په داسې حال کښې ښویه تېر کړ چې د خپل ځان ملامته کوونکی وه او دا ځکه چې بدون د الله ﷻ د اجازې څخه له ښاره وتلی وه، نو الله ﷻ یې پښېماني قبوله کړه او نجات یې ورکړ.

اما په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: مونږ فرعون او فرعوني لښکر په داسې حال کښې په دریاب کښې وغورزول چې فرعون خپل ځان ته د ملامتۍ د ګوتې نیوونکی وه چې د موسی ﷺ دعوت یې نه وه قبول کړی، خو الله ﷻ د نوموړي پښېماني او توبه په دغه مرګاني حالت کښې قبوله نه کړه.

په همدغه مضمون باندې د [یونس: ۹۰] ایت لاندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

ج. په ﴿ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلْعَقِيمَ ﴾ کښې د "عَقِيم" کلمه د [الحج: ۵۵] ایت لاندې تحلیله شوې ده چې د شنډتوب معنی هم ورکوي مګر په دې مقام کښې ورته راتلونکي متصل ایت تفسیر واقع شوی دی

د. دا د یو پلوه، او د بل پلوه په همدغه تفسیري ایت کښې د "رَمِيم" کلمې د [یس: ۷۸] ایت لاندې ښه پوره شرحه موندلې ده چې د ورستو او خمکې خوړلو هډوکو معنی ورکوي. یعنې مونږ په

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۵، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۳۷

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۱۰۲۰، مفردات الراغب ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عادیانو باندې داسې سخت باد ورخوشې کړ چې په هیڅ شي به نه تېرېده مګر هغه به یې (زموږ په امر) داسې ګرځاوه لکه وراسته ځمکې خورلي هډوکي.

## د دغه باد ماثور کیفیت

۲ـ د دغه باد د ماثور کیفیت په هکله لاندې احادیث ولولئ:

الف: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې د عادیانو د هلاک اوږده قیصه تېره کړی شوه، نو نبي کریم ﷺ د همدغې قیصې د اورېدلو په تعقیب دا هم یاده کړه چې: «أَنَّهُ لَمْ يُرْسَلْ عَلَيْهِمْ مِنَ الرِّيحِ إِلَّا قَدْرُ هَذِهِ الْحَلْقَةِ»[۱] یعنې یقینًا شان دا دی چې په عادیانو باندې د باد څخه نه وه ورخوشې کړی شوی مګر د دغې کړۍ په اندازه (د مهر کړۍ ته یې اشاره وکړه)، بیا یې ذکر شوي دواړه ایتونه قرائت کړه

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ»[۲] یعنې ماته (د الله ﷻ د پلوه د خندق په غزا کښې) په ښکیني باد سره نصرت راکړی شو او عادیان په پاسني (برو) باد سره هلاک کړی شول.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ ﴾ کښې د "ف" توری په وراندېنۍ نژدې جملې ﴿ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ باندې مرتب نه دی نرخو اعتراض وارد شي چې د ثمودیانو طغیان او سرکشي خو د هغه د وخت څخه شروع شوې وه په کوم کښې چې ورته صالح ﷺ د پیغمبر په صفت ورغی، نه د ذکرې شوې جملې د اورولو څخه.

بلکې ذکر شوی د "ف" توری په ټوله قیصه مرتب دی (چې دلته ورته په اجمالي توګه اشاره شوې ده). نو حاصل به یې داسې راوخېژي: کله چې ثمودیانو د خپل رب ﷻ امر ته شا کړه نو صالح ﷺ ورته تر درې ورځو پورې مهلت ورکړ چې کله دغه ورکړه شوې نېټه هم پوره شوه نو د الله ﷻ د پلوه ورباندې تندر ورنازل شو او ټول یې د خرمې پوپنا کړه.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ﴾ [هود: ۶۵] یعنې کله چې ثمودیانو طغیان اوج ته ورسېد او د معجزې او ښه یې زخمې کړ نو صالح ﷺ ورته درې ورځې مهلت ورکړ چې تاسو د خپل ژوند څخه فقط تر درې ورځو پورې استفاده وکړئ (بیا نو ضرور د هلاک سره مخامخ کېدونکي یاست).

## یو نحوي تحلیل

۴ـ په ﴿ وَقَوْمَ نُوحٍ مِنْ قَبْلُ ﴾ کښې د "قَوْمَ" کلمه په مقدر "أَهْلَكْنَا" سره منصوبه ده او بیا دغه جمله

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۳

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هغې جملې باندې عطفه ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو د مضامینو څخه فهمېږي چې مونږ ترې په "اهلکنا" سره تعبیر کولی شو.

یعنې مونږ پخواني کفري عنادي قومونه هلاک کړه او د نوح ﷺ کفري عنادي قوم مو لا د هغوی څخه وړاندې هلاک کړی وه.

﴿ وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ۝٤٧ وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ ۝٤٨
وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝٤٩ فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ
مُّبِينٞ ۝٥٠ وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ۝٥١ ﴾

[۴۷] او اسمان (مونږ جوړ کړی دی) په کامل قوت (قدرت) سره مو جوړ کړی دی او یقیناً مونږ د کامل قدرت درلودونکي یاستو.

[۴۸] او ځمکه (مونږ غوړولې ده) غوړولې مو ده نو مونږ (د خلکو دپاره) ډېر ښه ارام ځای تیاروونکي یاستو.

[۴۹] او د هر شي څخه مونږ جوړه (متضاد شیان) پیدا کړي دي شاید چې تاسو ترې پند واخلئ (او خپل رب ﷻ په وحدانیت سره وپېژنئ).

[۵۰] نو (ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې) تاسو (خاص) الله ﷻ ته ورونښتئ (د همده ﷻ اوامر عملي کړئ).

یقیناً زه تاسو ته د همده ﷻ د پلوه ښکاره ډاروونکی یم.

[۵۱] او (دا ورته هم ووایه چې) د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) بل څوک (یا بل شی) معبود مه ګرځوئ.

(او دا ځکه چې) یقیناً زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه ښکاره ډاروونکی یم (نو په همدې صفت مې ومنئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې الله ﷻ د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب د خپل کامل قدرت څه نورو مثالونو ته اشاره کړې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! هسې نه چې زمونږ قدرت او توان د پخوانیو کفري قومونو په هلاکولو باندې ختم شوی دی بلکې مونږ ازلاً او ابداً د کامل قدرت درلودونکي یاستو. د مثال په توګه:

۱ـ اسمان په دغه عجیب کیفیت او کمیت سره مونږ په خپل کامل قوت سره پیدا کړي او جوړ کړی دی چې نه پکښې سوري او چاودونه شته او نه د زمانو په تېرېدلو سره د زوړوالي سره مخامخ کېږي. نو په همدې بنیاد هرومرو مونږ د پوره ازلي او ابدي قدرت درلودونکي یاستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ځمکه چې ده مونږ د مخلوقاتو د معیشت دپاره خوره کړې ده او د استوګنې دپاره مو مساعده ګرځولې ده چې ټول پکښې ارام ژوند تېر کړي، نو په همدې اساس مونږ د ځمکې څخه د مخلوقاتو دپاره دېر ښه ارام ځای جوړوونکي یاستو.

۳_ په دې باندې علاوه، مونږ د متضادو شیانو په پیدا کولو باندې قدرت لرو نو د هر شي څخه مو متضادې جوړې پیدا کړې دي لکه نر او ښځه، شپه او ورځ او داسې نور. دا د دې دپاره چې تاسو زمونږ په مخلوقاتو کښې فکر وکړئ نو شاید چې پند ترې واخلئ او د توحید عقیده خپله کړئ.

۴_ ای پیغمبره! د قدرتي مثالونو په تعقیب زمونږ د پلوه کفار مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای کفارو! تاسو ته د کفر د ادامې په صورت کښې هیڅ د پنا درکولو ځای نشته چې د الله ﷻ د غضب څخه نجات درکړي، نو تاسو صرف الله ﷻ ته وروځغلئ او په همده ﷻ سره پنا واخلئ، زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه څرګند ډاروونکی یم، زما دعوت قبول کړئ او د الهي غضب څخه نجات ترلاسه کړئ.

ب: تاسو د الله ﷻ په عبادت کښې بل معبود مه شریکوئ او په توحید باندې عقیده وکړئ او هم ورباندې تر مرګه پورې کلک ودرېږئ.

همدارنګه تاسو په یاد ولرئ! چې زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه څرګند ډاروونکی یم، نو ما د الهي پیغمبر په حیث قبول کړئ چې په دنیا او آخرت کښې بریالي جوړ شئ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [ص:۱۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "أيد" کلمه مصدر ده او همزه پکښې اصلي ده چې د ډېر قوت معنی ورکوي، د "يَدٌ" جمعه نه ده چې همزه پکښې زائده شي[۱].

ب: د "مُوسِعُونَ" کلمه د اشتقاق په لحاظ لاندې دوه احتماله درلودلی شي:

اول: چې اصلي مصدر یې "وَسْع" _لکه "قفل"_ شي او د قوت او توان معنی ورکړي[۲]. یعنې مونږ هرومرو د کامل قوت او توان درلودونکي یاستو چې د اسمان مثل پیدا کول هم راته کوم مشکل کار نه دی.

دوهم: چې اصل مصدر یې "سِعَة" _لکه "عِدَة"_ وګڼلی شي چې د پراخې معنی ورکوي[۳]. یعنې هرومرو مونږ د پوره پراخې درلودونکي یاستو او د هر شي خزانې زمونږ په نزد موجودیت لري که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې په دې مقام کښې صحت لري چې الله ﷻ د دواړو

(۱) اضواء البیان ج۷ ص۶۶۹
(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۴۱۱؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۰۴
(۳) لسان العرب ج۸ ص۳۹۳؛ تفسیر القرطبي ج۷ ص۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درلودونکی دی مگر د مقام په لحاظ اوله معنی ډېره ښه پیوند اخستونکې ده چې د قدرت په کمال باندې دلالت کوي.

## د "زَوجين" د کلمې معنی

۲ـ په ﴿ وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ ﴾ کښې د ﴿ زَوْجَيْنِ ﴾ کلمه علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیره کړې ده:

الف: دلته د ﴿ زَوْجَيْنِ ﴾ څخه نر او ښځه مراد دی[۱]. یعنې او مونږ د هر ژوندي شي څخه نر او ښځه پیدا کړي دي چې د همدغه پیداینښت په سبب یې د نسل بقاء صورت نیسي.

ب: دلته ترې هغه دوه شیان (جوړه) مراده ده کومه چې یو تربله ضدیت لري[۲]، لکه شپه او ورځ، اسمان او ځمکه، تور او سپین، شقاوت او سعادت او داسې نور. یعنې مونږ د هر شي (ژوندی وي او که جماد) متضادین فردونه پیدا کړي دي که بالفرض زمونږ قدرت کامل نه وی نو د متضادو په پیدا کولو به مو توان نه درلودی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د دوهم ډول تفسیر په بنیاد ﴿ زَوْجَيْنِ ﴾ په کلمې سره په مثنی (یوه جوړه) باندې صراحت د حصر دپاره نه دی بلکې د مثال دپاره دی، چې په ضدیت کښې ډېره وړوکې مجموعه همدغه مثنی (دوه) ده. که نه ټول مخلوقات سره یو تربله بالانواع او هم بالاشخاص اضداد دي چې د بنیادمانو علم ورباندې احاطه نه شي کولی.

څرنگه چې دوهم تفسیر اول تفسیر ته هم شمولیت لري نو د همدغه تفسیر اراده کول بهتر برېښي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې د ﴿ إِنِّي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ جمله څکه دوه ځله نازله شوې ده چې لومړی ځل په امر ﴿ فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ پورې ارتباط لري او دوهم ځل د نهي ﴿ وَلَا تَجْعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ پورې مربوطه ده، نو په حقیقت او واقع کښې تکرار نشته.

﴿ كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴿٥٢﴾ أَتَوَاصَوْاْ بِهِۦ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ ﴿٥٤﴾ وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥٥﴾ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴿٥٨﴾ فَإِنَّ لِلَّذِينَ

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۷

(۲) الدر المنثور ج۷ ص۶۲۳؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۲۲؛ تفسير الطبري ج۲۷ ص۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ظَلَمُواْ ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن يَوْمِهِمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾

[۵۲] (ای پیغمبره! ستا حالت د نورو پیغمبرانو علیهم‌السلام په نسبت) دغسې دی چې هغو کسانو ته کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي هیڅ پیغمبر نه وه ورغلی مګر (هغوی به خپل-خپل پیغمبر ته اشاره کوله او) ویل به یې چې دا جادوګر دی (او) یا لیونی دی.

[۵۳] ایا دوی یو تربله (په همدغې کړنلارې باندې) وصیت کړی وه؟ بلکې دوی (ټول) سرکشه قوم وه (او همدغه کړنلاره د سرکشۍ خاصیت دی).

[۵۴] نو (ای پیغمبره!) ته د کفارو (د ناندریو) څخه مخ واړوه ځکه چې (د دوی په کافر پاتې کېدلو باندې) ته ملامت کړی شوی نه یې.

[۵۵] او ته پند ورکولو ته ادامه ورکړه ځکه چې یقیناً پند ورکول مؤمنانو ته ګټه رسوي (او کفار ترې محروم پاتې کېږي).

[۵۶] او ما پیریان او انسانان (د بل شي دپاره) نه دي پیدا کړي مګر د دې دپاره چې (په ټولو کړو وړو کښې) خاص زما (بالاختیار) عبادت وکړي.

[۵۷] زه ترې (د دوی خپلو ځانونو او یا بل چا ته) د څه رزق (او ګټور شي حاصلولو) اراده نه لرم او نه ترې اراده لرم چې په ماباندې څه خوراک وخوروي.

[۵۸] (او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ همدې روزي ورکوونکی (د ګټورو شیانو درلودونکی) د کلک قوت څښتن دی (چې خدمت ته څه اړتیا نه لري).

[۵۹] نو یقیناً د هغو کسانو دپاره (د عذاب) برخه ده کومو چې ظلم غوره کړی دی (البته) د دوی د انډیوالانو (د عذاب) د برخې غوندې، نو دوی دې په ماباندې تلوار نه کوي (چې همدا اوس یې راباندې رانازله کړه).

[۶۰] نو هغو کسانو ته ویل (هلاکت) دی کومو چې کفر غوره کړی دی چې (دا ویل) د هغې ورځې (د عذاب) څخه عبارت دی د کومې چې دوی ته وعده ورکوله کېږي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د تهدیدي او اقناعي دلایلو څخه وروسته په دې ایتونو کښې د کفارو د منفي عکس العمل په ارتباط نبي کریم ﷺ ته ډاډینه او تسلي ورکړه شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپل دعوت په مقابل کښې د کفارو په دغه عکس العمل باندې مه غمژن کېږه چې کله دې په یوه کفري لقب یادوي او کله بل دروغین لقب درکوي او دا ځکه چې:

۱_ لکه څنګه چې تاته د خپلې زمانې کفار د جادوګر او لیوني لقبونه درکوي همدارنګه پخوانیو کفارو هم خپلو-خپلو پیغمبرانو ته همداسې لقبونه ورکړي وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: مونږ د دې زمانې د کفارو څخه مخکښې هیڅ پیغمبر نورو کفارو ته نه دی استولی مګر هغوی به خپل خپل پیغمبر ته اشاره کوله نو ځینو به ویل چې دا جادوګر دی، ځینو به ویل چې دا لیونی دی او ځینو به په دواړو لقبونو باندې باله او ځینو به نور دروغجن لقبونه ورکول.

۲_ د ایمان نه راوړلو په هکله د ټولو کفارو بهانې آنې متشابهې دي حتی څه لرې نه ده چې چا ته پوښتنه پیدا شي چې: ایا ټولو کفارو د مړه کېدلو په وخت کښې وروستنیو ته وصیت کړی دی چې تاسو هم د هغو بهانو څخه کار واخلئ؛ د کومو څخه چې مونږ کار اخستی دی؟

دوی یو تربله توصیه نه ده کړې بلکې دهغې کبله یې بهانې او دروغجن لقبونه ورکول متشابه دي، چې دوی ټول سرکشان دي او د سرکشۍ اثار په هره زمانه کښې په یوه ډول او یوه شکل بروز کوي.

۳_ نو ای پیغمبره! ته د خپلې زمانې د کفارو په مقابل کښې دغه عادتونه خپل کړه چې:

الف: ته ورسره ناندرۍ مه وهه او مخ ترې واړوه، ته خو د هغوی په کفر باندې ملامته کړی شوی نه یې (تاته یې مسئولیت راجع نه دی).

ب: اما پند او نصیحت ته ادامه ورکړه او دا خکه چې ستا پند او نصیحت مؤمنانو ته ګټه رسوي او استفاده ترې کوي، او د کفارو دعوت هم د نظره مه غورزوه چې که څه هم دغه دعوت هغوی ته ګټه نه رسوي مګر ستا دپاره ګټور دی او بس، اجرونه دې ورباندې زیاتېږي.

۴_ ای پیغمبره! که څوک ستا دعوت قبول کړي نو خپل ځان ته یې ګټه ورسوله او دا ځکه چې ما پیریان او بنیادمان د بل هیڅ شي دپاره نه دی پیدا کړی مګر فقط د همدې دپاره چې زما عبادت وکړي او خپلو ځانونو ته ګټه ورسوي. لنډه دا چې:

الف: زه د پیریانو او بنیادمانو څخه نه غواړم چې خپلو ځانونو ته او یا بل چا ته څه روزي ورکړي او اړتیاوې یې پوره کړي، او نه دا کار د دوی د توانه پوره دی.

ب: همدارنګه زه د دوی دواړو ډلو څخه نه غواړم او اراده ترې نه لرم چې د بندګانو د غلامانو غونډې ماته څه خوراک او څښاک او څه اذوقه برابره کړي. او دا ځکه چې:

۵_ یقیناً خاص الله ﷻ یوازې همدی روزي ورکوونکی دی او د ټولو مخلوقاتو د اړتیاوو پوره کوونکی دی او یوازې همدی ﷻ د کلک قوت څښتن دی چې نه خوراک او نه د خوراک تیارولو اونه بل خدمت ته څه اړتیا لري، بلکې همدې ﷻ د ټولو نواقصو او عیوبو څخه پاک او منزه دی.

۶_ پوره واضحه ده چې د ذکر شوي قانون په بنیاد هغه کسان ظالمان دي کوم چې د غیر الله عبادت کوي او د الله ﷻ په عبادت کښې په اشتراک عقیده لري. نو د دې زمانې ظالمانو او کفارو ته د الله ﷻ په نزد د عذاب خپله برخه ټاکلې شوې ده لکه څنګه چې د دوی پخوانیو انډیوالانو کفارو ته د عذاب برخه د الله ﷻ په نزد په ثبوت رسېدلې وه.

نو هرومرو به ټول کفار د ټاکلی شوي عذاب سره ملاقي شي البته چې ټاکلی وخت یې راورسېږي، نو په مونږ باندې دې تلوار او تونديي نه کوي چې هله ژر شه همدا اوس یې رانازله کړه.

۷_ نو ای پیغمبره! هغو کسانو ته ویل او هلاکت دی کوم چې په کفر باندې کلک ولاړ دي او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هیڅ دول دلایلو ته غوږ نه نیسي چې د توحید عقیده خپله کړي. البته چې دغه ویل او هلاکت دوی ته د خپلو هغو ورځو څخه پیل کېږي د کومو چې ورسره وعده کړی شوې ده.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کلمه د مقدرې مبتدا دپاره خبر ده چې مونږ ترې په "شأنك" سره تعبیر کولی شو چې "شأنك كذلك"[1].

ب: د "ذلك" مشار إليه مبهم دی چې متصله جمله ﴿ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم ﴾ الآية- يې تفسیر واقع شوې ده[2].

ج: د ﴿ قَالُوا۟ ﴾ ضمیر د کفارو په ملحوظ ﴿ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم ﴾ ته راجع دی.

د: د ﴿ سَاحِرٌ ﴾ کلمه د مقدر "هُوَ" دپاره خبر ده چې په ﴿ مِّن رَّسُولٍ ﴾ کښې ﴿ رَّسُولٍ ﴾ ته راجع دی، همدارنګه د ﴿ مَجْنُونٌ ﴾ کلمه هم د مقدر "هُوَ" دپاره خبر ده.

هـ: که څوک وايي چې: په پخوانیو پیغمبرانو عليهم السلام کښې خو آدم عليه السلام هم شامل دی حال دا چې نه ورته د جادوګر لقب ورکړی شوی دی او نه د لیوني؟

مونږ وایو چې: نبي کريم ﷺ په خپل يوه حديث کښې نوح عليه السلام د «أَوَّلُ الرُّسُلِ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ» په نامه یاد کړی دی[3]، نو معلومه شوه چې دلته د نوح عليه السلام په شمول هغه پیغمبران عليهم السلام مطلب دی کوم چې د نوح عليه السلام څخه وروسته رالېږلی شوي دي، چې د شرکي عقيدې د محوه کولو دپاره يې دعوت چلولی دی، نه هغه پیغمبران کوم چې د نوح عليه السلام څخه وړاندې تېر شوي دي د کومو په زمانو کښې چې شرکي عقيدې موجوديت نه درلود، او دوی فقط د معلمانو حيثيت درلود او بس.

و: که څوک وايي چې: دغه دول ﴿ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴾ جمله خو يوازې د فرعون د خولې څخه وړاندې په [الذاريات:۳۹] ایت کښې راحکایت شوې ده حال دا چې دلته يې ټولو تېرو شوو کفارو ته نسبت کړی شوی دی؟

مونږ وايو چې: په ذکره شوې جمله کښې د "أَوْ" توری د منع الخلو معنی ورکوي چې د فرعون وینا يې يو مثال جوړېدلی شي.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ستا شان د خپل أمت د کفارو په نسبت دغسې دی لکه د پخوانيو پيغمبرانو شان د خپلو-خپلو زمانو د کفارو په نسبت، هغه دا چې هغو کفارو ته کوم چې د دې زمانې د کفارو څخه وړاندې تېر شوي دي هيڅ پيغمبر نه دی ورغلی مګر هغوی به د

---

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۳۹۸
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۹
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۵؛ جامع الترمذي ج۲ ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خپل پیغمبر په هکله ویل چې دا جادوګر دی یا لیونی دی، یا جادوګر او لیونی دواړه دی.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې باید لاندې سوالونه او جوابونه د نظر لاندې وسائل شي:

الف. که څوک وایې چې: د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې فقط د پیریانو او انسانانو په ذکر باندې اکتفاء وکړی شوه حال دا چې ټول مخلوقات ـد کیفیتونو په تفاوت سره ـ د الله ﷻ عبادت کوي؟

مونږ وایو چې: په ټولو مخلوقاتو کښې یوازې پیریان او انسانان د نېکیو او بدیو د استعداد درلودونکي دي، چې په همدې نسبت یوازې همدوی ته مکلفیت متوجه دی چې جزا او سزا ورباندې مرتبېږي، او دلته یوازې په همدوی کښې بحث راروان دی.

ب. که څوک وایې چې: په ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې د "ل" د توري څخه معلومېږي چې الله ﷻ د پیریانو او انسانانو په خلق کښې اراده درلوده چې دوی عبادت کوونکي وګرځي[۱]، په دې باندې علاوه تقریباً په همدغه مطلب باندې راتلونکی متصل ایت هم دلالت کوي چې د همدغه ایت دپاره تفسیر واقع شوی دی. نو د دواړو ایتونو مضمون داسې راخېژي چې:

زه د پیریانو او انسانانو څخه د رزق او اطعام اراده نه لرم بلکې د دوی دواړو څخه د خپل عبادت اراده لرم او د همدغه عبادت دپاره مې پیدا کړي دي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د دوی دواړو ډلو کافران د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ واقع کېږي او څخه یې نیسي چې عبادت یې نه کوي او کفر یې ورباندې غوره کړی دی؟

مونږ وایو چې: د همدغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه خوښ کړي دي[۲] لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول. که څه هم په ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ کښې د عبادت نسبت ټولو ته شوی دی مګر مطلب پکښې یوازې مؤمنان دي یعنې مونږ پیریان او بنیادمان د دې دپاره پیدا کړي دي چې د دوی مؤمنان زما عبادت وکړي، او د کفارو څخه یې د عبادت اراده نه لرم.

خو دا جواب بالکل بې خونده دی، ځکه چې مکلیفیت ټولو (مؤمنانو او کفارو) ته متوجه دی، نه یوازې مؤمنانو ته.

دوهم. د ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ څخه مطلب دا دی چې دوی زما عبادت وکړي، برابره خبره ده چې اختیاري عبادت وي او که غیر اختیاري، او پوره واضحه ده چې په غیر اختیاري عبادت باندې د کفارو په شمول هر شی مشغول دی او هیڅوک ترې تخلف نه شي کولی.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۴۴.

(۲) زاد المسیر ج۷ ص۲۱۴، روح المعاني ج۲۷ ص۲۱، تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۹۰.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو دا جواب د سیاق او سباق (وړاندې او ورپسې) سره تړاو نه لري، بحث فقط په اختیاري عبادت کښې روان دی.

دریم: دلته د ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ څخه "لیعرفون" مطلب دی، او پته نه ده چې کفار هم الله ﷻ پیژني، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ﴾ [لقمان: ۲۵] یعنې او که د مشرکانو (کفارو) څخه ته پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي نو هرومرو او ضرور به دوی ووایي چې الله ﷻ پیدا کړي دي.

خو دا جواب هم ډېر کمزوری دی او دا ځکه چې کفار په هغه شان سره الله ﷻ نه پیژني کوم چې د ده ﷻ سره مناسب دی که نه نو د ده ﷻ پیغمبران به یې قبول کړي وی.

څلورم: د ټولو څخه بهتر جواب دا دی چې دلته د الله ﷻ تکلیفي او تشریعي اراده مطلب ده[1]، چې تخلف ترې ممکن دی، او تکویني (ایجادي) اراده مطلب نه ده چې تخلف ترې امکان نه لري ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي.

په همدې ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۱۸۵] ایت په نولسمه توضیح کښې څه وضاحت تېر شوی دی چې یو خل کتل یې په کټه تمامېږي.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: یقیناً مونږ پیریان او انسانان د دې دپاره پیدا کړي دي چې بالاختیار زما عبادت وکړي او د همدغه اختیاري عبادت استعداد مو ورکړی دی.

ج: که څوک وایي چې: په دغه ایت کښې -چې بحث پکښې روان دی- د پیریانو او انسانانو د خلقت مطلب عبادت ښودل شوی دی چې جنت ورباندې مرتب دی، حال دا چې په بل ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ﴾ [الأعراف: ۱۷۹] یعنې او یقیناً مونږ د پیریانو او انسانانو څخه زښت ډېر د دوزخ دپاره پیدا کړي دي. نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه ایتونه سره تضاد نه لري؟

مونږ وایو چې: دغه ایت -چې معترض لیکلی دی- د الله ﷻ په توفیق په خپل ځای کښې ښه پوره توضیح شوی دی او د تضاد گومان ورباندې نفې کړی شوی دی چې:

پیریان او بنیادمان دواړه د ښېکو او بدو دواړو استعداد لري، نو په سلبي صورت کښې ورباندې دوزخ مرتب دی چې د ښېکیو استعداد بالکل د پښو لاندې کړي لکه چې هلته ورته اشاره شوې ده، او په ایجابي صورت باندې یې جنت ترتب مومي چې د خپل استعداد څخه یوازې: ښېکیو په تحصیل کښې کار واخلي، لکه چې په همدې ایت کښې ورته اشاره کېږي په کوم کښې چې بحث روان دی

## رزق او اطعام څه فرق لري؟

۳- په ﴿ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ ﴾ کښې د ﴿ رِّزْقٍ ﴾ کلمه د هغه عین څخه عبارت ده په کوم باندې

---

(۱) اضواء البیان ج۷ ص۶۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نفعه اخستله کېږي[1] لکه سره زر، سپین زر او د مالونو نور اجناس.

او په ﴿وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ﴾ کښې د ﴿يُطْعِمُونِ﴾ کلمه چې په اصل کښې "يُطْعِمُونِي" وه، "ن" پکښې اعرابي نه دی بلکې د وقايې دپاره دی، د "اِطْعَام"_ لکه "اِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې په بل چا باندې د خوراک خوړلو ته وضعه شوې ده. خو په دې مقام کښې د مثال په توګه د هغه فعل څخه کنايي ده کوم چې يو غلام يې د خپل بادار په وړاندې د خدمت په توګه اجراء کوي[2] لکه د خوراک تيارول، د لوښو وينځل، د کور شاوخوا جاروکول او داسې نور.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: زه د خپلو بندګانو څخه هغه څه نه غواړم کوم چې بنيادمان او پيريان يې د خپلو غلامانو څخه غواړي چې ورته اعيان (مالونه) وګټي او يا ورته د خپلو غړو په استعمال سره بدني خدمت وکړي.

## د ايت ارشادات

۴_ دغه ايت شريف ﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ﴾ مونږ ته لاندې ارشادات هم راکوي:

الف: بايد مونږ د رزق په تحصيل کښې د غيرو مشروعو لارو څخه خپل ځانونه په جدي توګه وژغورو، ځکه چې د رزق ضمانت الله ﷻ راکړی دی او زمونږ تالاش وربانديې کوم اثر نه غورزوي.

ب: بايد مونږ د رزق اکتساب د يوه عبادت په نيت ترسره کړو، عبادت يوازې په بدن پورې اختصاص نه لري لکه لمونځ روژه او نور، بلکې ټولو مالي معاملاتو او تجارتونو ته هم شامل دی.

ج: بنيادم د مال په ډېروالي نه مړېږي بلکې په قناعت مړېږي او قناعت په عبادت پورې تړلی دی چې نيت يې خالص او سوچه وي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې دوه کسان صحابه کرام ؓ مخاطب کړه چې: «لَا تَيْئَسَا مِنَ الرِّزْقِ مَا تَهَزَّزَتْ رُءُوسُكُمَا فَإِنَّ الْإِنْسَانَ تَلِدُهُ أُمُّهُ أَحْمَرَ لَيْسَ عَلَيْهِ قِشْرٌ ثُمَّ يَرْزُقُهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ»[3] يعنې ترڅو پورې چې ستاسو سرونه ښوربېږي (او ژوندي ياست) د رزق څخه مه نااُميده کېږئ، او دا ځکه چې يقيناً انسان چې دی مور يې په داسې حال زېږوي چې سور وي، لباس وربانديې نه وي (بربنډ وي) نو بيا ورته الله ﷻ روزي ورکوي (او اړتياوې يې پوره کوي).

دوهم: نبي کريم ﷺ په قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه حکايت کوي چې: «يَا ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِلَّا تَفْعَلْ مَلَأْتُ صَدْرَكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ»[4] يعنې اى بنيادمه! زما د عبادت دپاره خپل زړه فارغ کړه چې سينه (زړه) به دې د غنا څخه ډک کړم (قناعت به درکړم) او د

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۱۵

(۲) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۳۹۹

(۳) سنن ابن ماجه ص۳۰۷

(۴) مسند أحمد بن حنبل ج۳ ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فقيرۍ مخه به دې بنده کړم، او که ته دا کار ونه کړې نو سينه (زړه) به دې د مشغولتيا څخه ډک کړم او د فقيرۍ مخنيوی به دې ونه کړم (قناعت به درنه کړم).

## د "ذَنُوب" معنی

۵ـ په ﴿ ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَٰبِهِمْ ﴾ کښې د "ذَنُوب_ ذَنُوب" هره يوه کلمه د هغې لويې بوقې څخه عبارت ده کومه چې د اُوبو څخه ډکه وي[1]، دغه کلمه په "أذْنِبَة" ـلکه "أرْغِفَة"ـ يا "ذَنَائِب" ـلکه "شَعَاير"ـ جمعه کېږي[2]. خو په دې مقام کښې د مفسرينو کرامو په اتفاق سره د عذاب د هغې برخې څخه کنايي ده کومه چې مستحقينو ته ټاکلې شوې ده.

يعنې د دې زمانې ظالمانو ته هم د عذاب داسې برخه ټاکلې شوې ده لکه څنګه چې د دوی انډيوالانو (پخوانيو ظالمانو) ته ټاکلې شوې وه چې هرومرو ضرور به ورسره مخامخ شي، نو دوی ته په کار دي چې د استهزاء په توګه يې زما څخه په تلوار سره ونه غواړي چې هله ژر شه بې وخته يې راباندې رانازله کړه.

د "الذَّارِيَات" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق پای ته ورسېد.
۱۴۲۴/۷/۱ هـ ق - ۱۳۸۲/۶/۵ هـ ش.

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۱۹
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۲۶۹

Scanned by CamScanner

# الطور (۵۲)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت دپاره خپله لومړی کلمه "الطُّور" نوم ګرځولې شوې ده او په همدې نامه سره دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت ټول ایتونه نهه څلوېښت (۴۹) دي[2].

۴_ د کلماتو شمېره یې درې سوه او دولسو (۳۱۲) ته پورته شوې ده[3].

۵_ د حرفونو شمېره یې یو زرو پنځه سوو (۱۵۰۰) ته رسېږي[4].

۶_ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي مطالبو باندې مشتمل دي، لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت، د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کېدل او داسې نور.

۷_ دا سورت (الطور) د وړاندېني سورت (الذاریات) سره زښت ډېر تناسبونه لري لکه چې دواړه په سوګندونو پیل شوي دي او په دواړو کښې عقیدوي مطالب نازل شوي دي او په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلطُّورِ ۝١ وَكِتَٰبٖ مَّسۡطُورٖ ۝٢ فِي رَقّٖ مَّنشُورٖ ۝٣ وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ ۝٤ وَٱلسَّقۡفِ
ٱلۡمَرۡفُوعِ ۝٥ وَٱلۡبَحۡرِ ٱلۡمَسۡجُورِ ۝٦ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٞ ۝٧ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٖ ۝٨ يَوۡمَ
تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوۡرٗا ۝٩ وَتَسِيرُ ٱلۡجِبَالُ سَيۡرٗا ۝١٠ فَوَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ۝١١ ٱلَّذِينَ هُمۡ
فِي خَوۡضٖ يَلۡعَبُونَ ۝١٢ يَوۡمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ۝١٣ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا
تُكَذِّبُونَ ۝١٤ أَفَسِحۡرٌ هَٰذَآ أَمۡ أَنتُمۡ لَا تُبۡصِرُونَ ۝١٥ ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ
سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝١٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د طور په غره باندې سوګند دی.

[۲] او په داسې کتاب باندې (سوګند دی) چې لیکلی شوی دی.

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۲۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۵۸

(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۸۸

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۱۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] (البته) په داسې باریکه کاغذ کښې چې (په تو له نری کښې) خور کری شوی (او ثبت کری شوی) دی. (یا په بل عبارت: په قرآن کریم باندې سوګند دی).

[۴] او په اباد ې کوټې باندې.

[۵] او په اوچت کړی شوي چت (اسمان) باندې.

[۶] او په داسې درياب باندې چې اور پرې (د قیامت په ورځ) بل کړی شوی دی (او يا په تولد ځمکه باندې د ورختلو څخه منعه کړی شوی دی).

[۷] (په دغو ټولو شیانو باندې سوګند دی چې) یقیناً ستا د رب ﷻ عذاب هرومرو واقع کېدونکی دی.

[۸] چې هیڅ مخه نیوونکی ورته نشته.

[۹] (البته) په هغې ورځ کښې چې اسمان (پکښې د خرابۍ په لور) په تېزۍ سره په غیر منظمه توګه وخوځېږي خوځېدل.

[۱۰] او هم (پکښې) غرونه (د خرابۍ په لور) روان شي روانېدل.

[۱۱] نو په دغې ورځ کښې تکذیب کوونکو ته افسوس (او هلاک) دی.

[۱۲] (البته) هغه تکذیب کوونکی چې دوی په باطلو کښې په داسې حال لګیا دی چې عبثیات (چتي کارونه) کوي.

[۱۳] (او) په هغه ورځ کښې چې همدوی (تکذیب کوونکی) د جهنم اور ته په کلکه تېلوهلی شي په کلکه تېلوهل.

[۱۴] (نو ورته به وویلی شي چې:) دغه اور هغه اور دی په کوم باندې چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې د دغو نسبت به مو ورته کاوه.

[۱۵] ایا نو دغه عذاب جادو دی؟ یا تاسو یاست چې نه یې وینئ؟.

[۱۶] دغه اور ته ورداخل شئ! نو صبر وکړئ یا صبر مه کوئ (دغه دواړه حالته) په تاسو باندې یو برابر دي.

(ځکه چې) یقیناً تاسو ته د هغو کړو وړو جزا درکوله کېږي کوم چې تاسو وئ چې کول به مو.

## ارتباط

وړاندېنۍ سورت (الذّٰرِيٰت) د قیامت د موعودې ورځې عذاب ته په اشارې سره ختم شوی وه، او د دې سورت (الطُّور) په اولنیو ایتونو کښې په همدغه عذاب باندې صراحت نازل شوی دی او واقع کېدل یې په سوګندونو سره اثبات شوی دی.

## توضیحات او د مطلب خلاصه

۱_ په دې ایتونو کښې باید د لاندې لغاتو معناوې او لاندې نکات په نظر کښې وساتل شي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. په ﴿ وَٱلطُّورِ ﴾ کښې د "طُور" کلمه د مطلق غره[۱] یا د ونو لرونکي غره دپاره وضعه شوې ده[۲].

ب. په دې مقام کښې د "الطُّور" څخه هغه خاص غر مطلب دی په کوم کښې چې الله ﷻ د خپل خاص بنده (موسی ؑ) سره مناجات ته صورت ورکړی وه[۳].

ج. د ﴿ مَّسْطُورٍ ﴾ کلمه د کرښې کړی شوې یا لیکلی شوې معنی ورکوي.

د. په ﴿ فِى رَقٍّ ﴾ کښې د "فِي" توری په ﴿ مَّسْطُورٍ ﴾ پورې تعلق نیسي او ﴿ رَقٍّ ﴾ کلمه د هغې باریکې صحیفې دپاره وضعه شوې ده د کومې څخه چې مونږ په کاغذ سره تعبیر کولی شو[۴].

هـ. علماء کرامو دغه کتاب کوم چې په باریکه کاغذونو باندې لیکلی شوی او خور کړی شوی دی، په لاندې ډولونو سره تفسیر کړی دی[۵].

اول. دا د لوح محفوظ څخه عبارت دی په کوم کښې چې هرڅه په ازل کښې لیکلی شوي دي.

دوهم. د دې کتاب څخه أعمالنامې مطلب دي چې د قیامت په ورځ به چا ته په ښي لاس او چاته په کیڼ لاس ورکولی کېږي.

دریم. دا کتاب جنس دی او ټولو اسماني کتابونو ته شمولیت لري.

څلورم. دا کتاب یوازې د قرآن کریم څخه عبارت دی[۶].

و. مونږ ته همدغه څلورم تفسیر په زړه پورې برېښي چې په ﴿ يسٓ ۝ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی.

ز. که څه هم قرآن کریم د نزول په وخت کښې په باریکه کاغذونو باندې نه لیکلی شوی وه او نه خور شوی وه، مګر په دغه ایت کښې اشاره نازله شوې ده چې دا کار به په راتلونکي کښې صورت ونیسي لکه چې همدغه اشاره رښتیا شوه او قرآن کریم په باریکه کاغذاتو باندې چاپ او په ټوله نړۍ کښې خور شو.

ح. د ﴿ وَٱلْبَيْتِ ٱلْمَعْمُورِ ﴾ کلمه ـ چې د اباد کوټې معنی ورکوي ـ په دې مقام کښې په لاندې ډولونو سره تفسیره شوې ده[۷].

اول. دلته نړۍ هغه کوټه مطلب ده د کومې په هکله چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې «يُصَلِّي فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ»[۸] یعنې په اوم اسمان کښې یوه کوټه ده چې بیدو د کعبې شریفې په محاذات کښې موقعیت لري، په دغې

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۳۹
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۵۸
(۴) القاموس المحیط ج۲ ص۳۷۶؛ لسان العرب ج۱۰ ص۱۲۳
(۵) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۳۰
(۶) أضواء البیان ج۷ ص۶۸۳
(۷) زاد المسیر ج۷ ص۲۱۶
(۸) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۶؛ صحیح مسلم ج۱ ص۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوټه کښې هره ورځ اویا زره (۷۰۰۰۰) ملکې لمونځ کوي، او کله چې تري (د فراغت څخه وروسته) خارجې شي نو بیا ورته تر آخره پورې بیرته نه ورګرځي (د بل کرت لمونځ کولو نوبت ورته نه رسیږي).

دوهم: دلته بخپله کعبه شریفه مراده ده د کومې د ابادۍ پورې چې د دنیا ابادي تړاو لري، چې څه شرحه یې د الله ﷻ په توفیق د [المائدة ۹۷] ایت لاندې تیره شوې ده.

دریم: په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه دغو دواړو کوټو ته د "ما یطلق علیه البیت المعمور" په لحاظ سره شمولیت لري.

ي. د ﴿ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ﴾ څخه ـچې د پورته کړی شوې چت معنی ورکوي ـ په دې مقام کښې اسمان مطلب دی چې په بل ایت کښې ورته همدغه لقب ورکړی شوی دی چې ﴿ وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ﴾ [الأنبیاء ۳۲] یعنې او موږ اسمان داسې بې ستنو چت ګرځولی (جوړ کړی) دی چې د بیکته راغورزیدلو څخه ساتلی شوی دی.

یا. په ﴿ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ﴾ کښې د "مَسْجُور" کلمې د "سَجْر" ـلکه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاق موندلی دی، چې په دې مقام کښې په متعددو معناوو سره تفسیره شوې ده[1]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: "سَجْر" د اور بلولو معنی ورکوي چې د قیامت په ورځ به په ټولو دریابونو باندې اور بل کړی شي او د خاشاکو غوندې به په سوځېدو اوبو سره بلیږي (المبي به وهي). لکه چې په بل ایت کښې وریاندې تقریبًا صراحت شوی دی چې ﴿ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴾ [التكویر ۶] یعنې او کله چې په دریابونو سره اور بل کړی شي.

دوهم: دغه کلمه (سجر) د منعه کولو دپاره وضعه شوې ده چې الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دریابونه منعه کړي دي چې ټوله ځمکه ډوبه کړي او د استوګنې ځای پکښې پرینږدي.

یب. زموږ په فکر که د "ما یُطلق علیه البحرُ المسجور" په ملحوظ ذکرې شوې دواړه معناوې اراده کړی شي نو ډیر به ښه وي چې دواړه د دریابونو سره ډیر قوي تناسب لري.

یج. د دغو ټولو سوګندونو دپاره د ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴾ جمله جواب واقع شوې ده او دلته چې په کومو شیانو باندې سوګند یاد شوی دی، دغه ټول (پخپله واړه) په حقیقت کښې د همدغه جواب د اثبات دپاره دلایل او براهین دي، چې دنیا عبثه نه ده پیدا کړی شوې چې په پای کښې د تصفیه کولو ورځ ونه لري او قیامت قائم نه کړی شي، که بالفرض المحال دغسې وي نو الله ﷻ به د خپلو بندګانو دپاره ذکر شوي معنوي او مادي انتظامات نه وي نیولي.

ید. نو د پورتني بیان په نظر کښې نیولو سره به یې حاصل داسې راوځیږي چې:

د طور په غره باندې سوګند دی کوم چې د موسی ﷺ د دین او د تورات د نزول ځیره پکښې

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۳۰، تفسیر ابن کثیر ج ۴ ص ۲۰۴، تفسیر القرطبي ج ۱۷ ص ۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اېښودلې شوې ده، او په قرآن کريم باندې سوګند دی کوم چې د قيامت تر ورځې پورې د تولې دنيا دپاره لارښود تاکلی شوی دی، او په بيت المعمور باندې سوګند دی کوم چې د بنيادمانو او پرښتو د عبادت دپاره اباد شوی دی، او په اوچت اسمان باندې سوګند دی کوم چې نه يې څوک مسه کولی شي او نه پکښې د ګوتې ايښودلو ځای شته، او بالآخره په دريابونو باندې سوګند دی کوم چې په ځمکه باندې د ورختلو څخه منعه کړی شوي دي او د قيامت په ورځ به ورباندې اور بل کړی شي او د خاشاکو غونډې به وسوزي. نو په دغو ټولو شيانو باندې سوګند دی چې: يقيناً ستا د رب ﷻ عذاب هرومرو واقع کېدونکی دی او مخه نيوونکی هيڅ نه لري.

## "مَور" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا ﴾ کښې د "مَوْر" کلمه ـچې "تَمُور" ترې اشتقاق موندلی دیـ په اضطراب او سرعت (تونديٍ) سره د تللو معنی ورکوي[۱].

يعنې ذکر شوی عذاب به په هغې ورځ کښې واقع شي په کومه کښې به چې مضبوط اسمان د خرابۍ په لور په تلوار سره د اضطرابي حرکت درلودونکی وي، په کومه کښې به چې ثابت غرونه د خپلو ځايونو څخه وښورېږي او د ډانډس کړی شوو مالوچو غونډې به په هوا کښې خواره واره شي.

## د "دعّ" معنی

۳ـ په ﴿ يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴾ کښې د "دَعّ" کلمه ـچې د "يُدَعُّون" دپاره مصدر دهـ په توهين آميزه توګه د سختو ټېلوهلو او ديکه کولو دپاره وضعه شوې ده[۲]. يعنې په دغې ورځ کښې به تکذيب کوونکي او په باطلو کښې غوټه وهونکي د دوزخ اور ته ورديکه کړی شي او په سختو ټېلوهلو سره به ورټېلوهلی شي.

## يوه عجيبه قيصه

۴ـ يوه ورځې يوه سړي خوب وليد چې د نورو تعبير کوونکو په تعقيب يې د ابن سيرين عليه‌الرحمة سره لاندې سوال جواب وکړ:

خوب ليدونکی: ما خوب وليد چې په ورغوي باندې مې پنځه واوونه ليکلي شوي وه او بس. دا څه معنی؟

ابن سيرين عليه‌الرحمة: ته د يوې نه خوشالوونکې حادثې پيوستون ته منتظر اوسه.

خوب ليدونکی: دا تعبير تا په کوم دليل غوره کړ؟

ابن سيرين عليه‌الرحمة: دا مې د "الطُور" د سورت څخه فهم کړ چې الله ﷻ د پنځو واوونو (سوګندونو) څخه وروسته دا جمله ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ﴾ نازله کړې ده.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۱۸۶؛ القاموس المحيط ج۴ ص۲۹۶

(۲) مفردات الراغب ص۱۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دوه یا درې ورځې نه وې تېرې شوې چې تعبیر رښتیا شو او خوب لیدونکی په نه
خوشالوونکې حادثه اخته شو[1].

﴿إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ
ٱلْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ
وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ
أَلَتْنَٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ ۚ كُلُّ ٱمْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ وَأَمْدَدْنَٰهُم بِفَٰكِهَةٍ وَلَحْمٍ
مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ
لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا
قَبْلُ فِىٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا
مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾﴾

[۱۷] یقیناً متقیان بندګان (د قیامت په ورځ) په باغونو او نعمتونو کښې دي.

[۱۸] (البته) په داسې حال چې دوی به په هغه شي باندې خوشالېدونکي وي کوم چې ورته خپل رب ﷻ ورکړی وي، او هم به دوی لره خپل رب ﷻ د سوزوونکي (دوزخ) د عذابه بچ وساتي.

[۱۹] (هلته به ورته وویلی شي چې:) د هغو کړو وړو په سبب خورئ او څښئ برکتناک خوراک (او برکتناک څښکل) کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې په عمل کښې به مو پیاده کول.

[۲۰] په داسې حال چې دوی به په داسې تختونو باندې تکیا وهونکي (ناست) وي چې قطارونه کړی شوي (اېښودل شوي) به وي. او (په دې باندې علاوه) مونږ به ورسره تورسترګې غټې سترګې حورې جوړه کړو.

[۲۱] او هغه کسان چې دي کومو چې ایمان راوړی دی (جنتیان دي) او اولادونو یې په ایمان سره پیروي کړې وي، مونږ به یې اولادونه هم ورپورې (په خپل فضل سره په درجاتو کښې) پیوسته کړو (ترڅو خوښ او خوشاله شي).

حال دا چې مونږ به (په دغو اوچتولو سره) د پلرونو (اصولو) د عملونو څخه هیڅ شی ناقص کړو.

(اما په دوزخیانو کښې به) هر سړی (فقط) په هغو کړو وړو سره بندوي کوم یې چې پخپله کسب کړي وي (او بس).

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۲۲) او په دوامداره توګه به مونږ جنتیانو ته میوجات ورکوو او غوښې هم (البته) د هغو شیانو څخه چې اشتهاء یې ورته راځي (او زړونه یې غواړي)

(۲۳) جنتیان به په جنت کښې د شرابو څخه ډکې پیالې یو تربله اخلي او ورکوي حال دا چې هلته به نه چټي خبرې وي او نه داسې کار چې (په دنیا کښې) د ګناهګار ګرځېدلو سبب جوړېد

(۲۴) او په جنتیانو باندې به د دوی د پاره (پیدا کړی شوي) داسې خادمان تاوېږي راتاوېږي لکه چې دوی یقیناً د ګړدو ګوره څخه پټې ساتلی شوي ملغلرې وي

(۲۵) او ځینې جنتیان به په ځینو نورو باندې په داسې حال مخ وروړوي چې یو تربله به سره (د دنیا د حالاتو څخه) پوښتنې کوي

(۲۶) جنتیان به (په خپلو کښې سره) وایي چې یقیناً مونږ مخکښې په (دنیاوي) اهلونو (کورونو) کښې (د الله ﷻ د عذابه) وارېدونکي وه

(۲۷) نو الله ﷻ په مونږ باندې احسان وکړه او د تېز اور د عذابه یې وساتلو

(۲۸) یقیناً مونږ ورانده (په دنیا کښې) دی چې (بوازې) د الله ﷻ بلنه (عبادت) به مو کاوه، یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ ډېر احسان کوونکی (او) ډېر مهربان دی

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو څه اخروي حالاتو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د متقیانو څه اخروي حالاتو ته اشاره کېږي چې خلاصه یې داسې راځېږي

ای پیغمبره! د کفارو د اخروي حال د بیان څخه وروسته اوس د پرتلې په توګه په خپل امت باندې د متقیانو (مؤمنانو) څه اخروي حال قرائت کړه هغه دا چې

۱ ـ متقیان (مؤمنان) به په اخرت کښې په ډېرو باغونو او ډېرو نعمتونو کښې استوګن وي د مثال په توګه

الف: هغوی به هلته د یو پلوه د خپل رب ﷻ په ورکړی شوو نعمتونو باندې ډېر خوښ وي او د بله پلوه به په دې باندې هم ډېر خوشاله وي چې خپل رب ﷻ به ورته د سوزوونکي اور د عذابه نجات ورکړی وي

ب: هغوی ته به هلته وویلی شي چې د خپلو هغو کړو وړو په سبب خوړئ او څښئ کوم به چې په دنیا کښې تاسو کول، دا برکتناک خوراک او څښاک دی چې په تعقیب یې هغه عوارض یو هم موجودیت نه لري کومو به چې په دنیا کښې د خوراک او څښاک په تعقیب صورت نیوه. لکه پرسېدل، ارګی خوړمنا کېدل او نور

ج: هغوی به هلته په پاچاهي تختونو باندې چې قطارونه‌قطارونه به ایښودل شوي وي، صفونه‌صفونه ناست وي او یو تربله به سره خبرې اترې کوي، چې یو به هم بل ته خپل شا نه وراړوي او نه به یو بل ته خپله ښنهه ترېووي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د په عین حال کښې به مونږ د هغوی سره ستر گورې حورې یو ځای کړو او ورته به یې ورتېرېکې کړو

۲ـ ای پیغمبره! د هغو کسانو د خوشالۍ دپاره به کومو چې ایمان راوړی دی او د ایمان په برکت جنت ته داخل شوي دي، مونږ د هغوی اولادونه هم په درجو کښې وراُوچت کړو. البته هغه اولادونه چې د خپلو جنتیانو پلرونو او مورګانو پیروي یې په ایمان سره کړې وي، خو په درجاتو کښې ترې وروسته پاتې وي

هو! په دغو اُوچتولو سره به پلرونو ته په درجاتو کښې څه نقصان صورت ونه نیسي بلکې په وړیا توګه به د هغوی د خوښۍ دپاره وراوچت کړی شي

۳ـ دغه اوچتول صرف د الله ﷻ په فضل په ایماندارانو کښې صورت نیسي، که نه نو په جنایتکارانو کښې به هرڅوک د خپلو-خپلو اعمالو مرهون او بندي وي، نو د پلرونو جنایات په اولادونو باندې هیڅ اثر نه غورزوي چې په عذابونو کښې سره مساوې کړی شي.

۴ـ ای پیغمبره! مونږ به جنتیانو ته په دوامداره توګه میوجات ورکوو چې د جنت میوجات موسمي نه دي او په هر وخت کښې په تازګۍ سره شتون لري، په دې باندې علاوه مونږ به هغوی ته د هغو غوښو څخه هم په دوامداره توګه ورکړو کومو ته یې اشتهاء پېښېږي او اراده یې ورته وشي.

۵ـ جنتیان به هلته یو بل ته د شرابو ډکې پیالې ورکوي او خوشالۍ به څرګندوي، خو دغه ورکړه به په داسې حال صورت نیسي چې نه به هلته چتې خبرې شتون لري او نه پوچې ویناوې، د کومو شتون چې د دنیاوي شرابو سره تړلی دی او یو مجلس یې هم ترې بچ نه شي پاتې کېدلی.

۶ـ په جنتیانو باندې به هلته خدمتګاران تاوېږي راتاوېږي چې خاص د همدوی د خدمت دپاره به هلته پیدا کړی شوي وي. دغه خدمتګاران به داسې پاکیزه او سوتره وي لکه چې دوی د ګرد او غبار څخه په پرده کښې ساتلي شوي ملغلرې وي.

۷ـ جنتیان به په خپل منځ کښې په جنت کښې دنیاوي حالات یادوي او ځینې به ځینو نورو ته مخ واړوي او یو تربله به سره پوښتنې کوي چې فلانی کار څنګه وه او په فلانکۍ ورځ باندې څه پېښ شو؟ او داسې نور.

۸ـ دوی به په خپلو خبرو کښې دا هم ووایي چې: یقیناً مونږ وړاندې په دنیا کښې د خپلو کورونو ترمنځ د خپل رب ﷻ څخه ډارېدونکي وو چې د ده ﷻ د قدرت مخنیوی زمونږ څخه هیڅوک نه شي کولی او بدون د همده ﷻ څخه مونږ ته هیڅوک نجات نه شي راکولی. نو زمونږ د همدغې کړنلارې په اثر الله ﷻ په مونږ باندې احسان وکړ او د ډېر ګرم دوزخ د عذابه یې بچ وساتلو. که نه نو مونږ به اوس د نورو دوزخیانو په څېر په دوزخ کښې پراته وی.

۹ـ لنډه دا چې مونږ په دنیا کښې وو چې خاص د الله ﷻ عبادت او بلنه مو کوله او خاص د همده ﷻ په عبادت مشغول وو، نو الله ﷻ زمونږ سره احسان وکړ او د مهربانۍ باران یې راباندې ووراوه، او دا خکه چې: یقیناً الله ﷻ یوازې همدی ﷻ احسان کوونکی او زښت ډېر مهربان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ په ﴿ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ ﴾ كښې د ﴿ فَٰكِهِينَ ﴾ كلمه د "فَكَاهَة" ـ لكه "شرافة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يس:۵۵] ايت لاندې ليكلي دي چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د تفسير په بنياد دلته د "فَكَاهة" (ټوكو ټكالو) څخه لازمه معنى مراده ده چې خوشالي ده.

يعنې جنتيان به د خپل رب ﷻ د پلوه په وركړې شوو نعمتونو باندې خوشاله وي او د دې غم څخه به بچ وي چې ووايي: اى كاش! چې فلانكى نعمت يې هم راكړى وى.

### هَنِيئْ څه معنى؟

۲ـ په ﴿ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا ﴾ كښې د "هَنِيئ" كلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده د كوم په لاس ته راوړنه كښې چې مشقت موجوديت نه لري او په تعقيب باندې يې كوم وخامة (درونډوالى) صورت نه نيسي[۱]، د جنتي نعمتونو خوراک او څښاک ته څكه دغه لقب وركړى شوى دى چې هلته نه مشقت شته، او نه هغه عواقب شته كوم چې عادةً په دنيا كښې د ډېر خوراک او ډېر څښاک په تعقيب صورت نيسي لكه د ګېډې پړسېدل، اركي خوسا كېدل او داسې نور.

### يادونه

۳ـ په ﴿ بِحُورٍ عِينٖ ﴾ كښې د "حُور" كلمه د [الدخان:۵۴] ايت لاندې شرحه شوې ده چې د تور ستركو ښځو لقب دى، او د "عِين" كلمه د الله ﷻ په توفيق د [الصافات:۴۸] ايت لاندې څېړله شوې ده چې د غټې ستركو معنى وركوي، چې بيا شرحه كولو او تحليلولو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

### څو نكات

۴ـ په ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم ﴾ الآية- كښې بايد لاندې نُكات په نظر كښې وساتلى شي:

الف: كه څه هم د څينو علماوو كرامو په نظر په ﴿ ذُرِّيَّتُهُم ﴾، ﴿ ذُرِّيَّتَهُمۡ ﴾ كښې د "ذُرِّيَّة" كلمه دلته د ماشومانو اولادونو څخه عبارت ده[۲]، مګر د جمهورو علماوو كرامو په نزد د دغې كلمې څخه دلته كبيران اولادونه مراد دي[۳]، همدغه نظر په ﴿ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ﴾ جملې سره تائيد مومي چې په ايمان سره اتباع او پيروي د صغيرانو اولادونو په نسبت د كبيرانو اولادونو سره ښه تناسب لري.

ب: د ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ موصول دلته د پلرونو څخه علاوه مورګانو او نيكونو او نياګانو ته هم شموليت لري، كېدى شي چې مونږ ترې په "أُصولو" سره تعبير وكړو. نو څه لرې نه ده چې الله ﷻ څينې جنتيان د مورګانو او نياګانو او نيكونو په سبب هلته لوړو درجو ته اوچت كړي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۴۴

(۲) التفسير الكبير ج۴ ص۲۴۲؛ تفسير القرطبي ج۱۷ ص۶۷

(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۳۲؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم ﴾ کښې د "أَلَتۡنَا" کلمه د "أَلت" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د نقصان ورکولو دپاره وضعه شوې دی[۱]. یعنې مونږ به د اُصولو درجو ته د فروعو په اوچتولو سره د هغوی د نېکو اعمالو څخه هیڅ شی ناقص ونه ګرځوو.

د: په ﴿ كُلُّ ٱمۡرِيِٕۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٞ ﴾ کښې د ﴿ رَهِينٞ ﴾ کلمه د "رَهن" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په "ګروی" سره ترجمه کېږي، خو په دې مقام کښې د کنایې په توګه د بند (حبس) معنی ورکوي[۲]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه دغه جمله د وړاندېنې کلام دپاره د تائید حیثیت لري.

یعنې مونږ به په خپل فضل سره د اُصولو په نېکو اعمالو سره د جنت په داخل کښې فروع لوړو درجو ته اوچت کړو حال دا چې د هغوی نېکو اعمالو ته به د اَجرونو د حیثه هیڅ نقصان ورنه کړو، خو د عدل په سبب به هیڅوک (نه اُصول او نه فروع) د بل په بدو اعمالو سره ونیسو چې په داخل د دوزخ کښې ورته د استحقاق څخه اضافه عذاب ورکړو. او دا ځکه چې هرڅوک په خپلو کسبیاتو سره بند او محبوس دی او بس.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴾ [فاطر:۱۸] یعنې او هیڅ بار اوچتوونکی نفس به د بل نفس بار نه اوچتوي (د هر چا بد عمل به د هغه په خپلو اوږو بار وي او بس).

ه: په دې ایت کښې ـ چې بحث کښې روان دی ـ دېته اشاره ده چې الله ﷻ د خپلې ارادې مطابق د جنت په داخل کښې د اُصولو درجاتو ته فروع هم پورته کوي ترڅو هغوی خوښ او خوشاله شي. خو د [الرعد:۲۳] ایت څخه د اشارې په توګه څرګندېږي چې د جنت په داخل کښې د فروعو د خوشالولو دپاره اُصول هم عالي درجاتو ته اوچتول کېږي، چې همدلته پکښې د الله عزجل په توفیق ښه خوندور بحث تېر شوی دی.

و: په پای کښې لیکو چې د درجاتو د لوړولو دپاره د الله ﷻ په فضل ځینې نور شیان هم سبب جوړېدلی شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې اَحادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ»[۳] یعنې د قیامت په ورځ به هر سړی د هغه چا سره وي د کوم سره یې چې په دنیا کښې محبت درلود.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: یو سړی به په جنت کښې لوړې درجې ته اوچت کړی شي نو پوښتنه به وکړي چې دغه درجه ماته د کومه شوه؟ په جواب کښې به ورته وویلی شي چې: «بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ»[۴] یعنې دغه درجه تاته ستا د اولاد د پلوه په مغفرت غوښتلو سره درکړی شوې ده.

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۱۶۷

(۲) مفردات الراغب ص ۲۱۰

(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۲؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۳

(۴) سنن ابن ماجه ص ۲۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تنازع څه معنی؟

۵_ په ﴿ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأۡسٗا ﴾ کښې د ﴿ يَتَنَٰزَعُونَ ﴾ کلمه د "تَنَازُع" _لکه "تَضَارُب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې لاندې دوه معناوې لري[۱].

الف: یو تربله جګړه کول او شخړې جوړول.

ب: یو تر بله په لاس سره د یوه شي رانیول او ورکول.

په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده[۲].

یعنې جنتیان به په جنت کښې د شراب خورۍ په وخت کښې د خوشتبۍ په توګه یو تربله د شرابو ډکې پیالې په لاسونو سره یو تربله ورکوي او هم به یې یو تربله رانیسي. که څه هم دغه کار ته دنیاوي شرابیان هم د ټوکو ټکالو په توګه صورت ورکوي خو چټې خبرې او عبثیات ورسره ملګرې کوي، چې د ګناهونو د غټوالي باعث یې ګرځي؛ اما په جنت کښې د جنتیانو ترمنځ نه عبثیات موجودیت لري اونه سپکې سپورې خبرې.

## جنتي خادمان او نصوص

۶_ د جنتي خادمانو په باب لاندې نصوص ولولئ:

الف: په ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ غِلۡمَانٞ لَّهُمۡ ﴾ کښې جنتي خادمان د "غِلْمَان" په نامه یاد شوي دي، "غِلْمَان" د غلام جمعه ده، چې د مريي یا ماشوم معنی ورکوي، او خدمت کول ورسره لازم یا مناسب دي. یعنې په جنتیانو باندې به د خدمت کولو دپاره داسې خادمان تاوېږي راتاوېږي چې همغلته به د همدوی د خدمت دپاره خلق کړی شوي وي.

ب: الله ﷻ ذکر شوي خادمان د "وِلْدَان" په نامه هم یاد کړي دي چې: ﴿ يَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ ﴾ [الواقعة:۱۷]. "وِلْدَان" د "وَلِيد" جمعه ده چې د ماشوم معنی ورکوي[۳]. یعنې په جنتیانو باندې به د خدمت دپاره کم عمره خادمان تاوېږي راتاوېږي چې کم عمري به یې تغیر نه کوي او د همېشه دپاره به په یو حال پاتې وي[۴].

ج: نبي کريم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً الَّذِي يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مِنْ مَسِيرَةِ أَلْفِ سَنَةٍ»[۵] یعنې یقیناً د منزلت د حیثه د جنتیانو ادنی جنتي به خپلو باغونو او نعمتونو ته او هم خپلو خادمانو او تختونو ته د یو زر کاله مسافې څخه ګوري. یا په بل عبارت: دغو شیانو به دومره پراخه سیمه اشغاله کړې وي چې د یوې خوا څخه به یې

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۲۵۶؛ لسان العرب ج۸ ص۳۵۱
(۲) نظم الدرر ج۷ ص۲۹۸
(۳) لسان العرب ج۳ ص۴۶۹
(۴) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۶۳
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلې خوا ته يو زر کاله مزل وي. خو په عين حال کښې به د جنتي د نظر لاندې وي ته به وايې چې هيڅ لرېوالى ترې نه لري.

د: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الصافات:۴۵] ايت لاندې د يوه حديث په رڼا کښې ليکلي دي چې وړوکى (أدنى) جنتي به اتيا زره (۸۰۰۰۰) خادمان ولري.

## د "بر" د کلمې معنى

۷ـ په ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴾ کښې د "بَرّ" کلمه د "ب" توري په زور سره د "بِرّ" څخه اشتقاق شوې ده، چې د "ب" توری پکښې زېر لري او په احسان کښې د پراخې معنى ورکوي(۱).

يعنې مونږ د خپل رب ﷻ څخه په دنيا کښې ډارېدلو. خو په خپل فضل سره يې د السَّمُوم (ډېر تېز اور چې لوږی پکښې موجوديت نه لري) د عذابه وساتلو. بې شکه چې الله ﷻ ډېر پراخه احسان کوونکى او زښت ډېر مهربان دى.

﴿ فَذَكِّرۡ فَمَآ أَنتَ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٖ وَلَا مَجۡنُونٍ ۝٢٩ أَمۡ يَقُولُونَ شَاعِرٞ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ ۝٣٠ قُلۡ تَرَبَّصُواْ فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُتَرَبِّصِينَ ۝٣١ أَمۡ تَأۡمُرُهُمۡ أَحۡلَٰمُهُم بِهَٰذَآۚ أَمۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ۝٣٢ أَمۡ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥۚ بَل لَّا يُؤۡمِنُونَ ۝٣٣ فَلۡيَأۡتُواْ بِحَدِيثٖ مِّثۡلِهِۦٓ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ۝٣٤ ﴾

[۲۹] نو ته پند ورکولو ته ادامه ورکړه ځکه چې ته د خپل رب ﷻ په نعمت (او فضل) سره نه جوګى يې او نه لېونى (لکه چې کفار همدغه لقبونه درکوي).

[۳۰] ايا عنادي کفار وايي چې: محمد (ﷺ) شاعر دى (او) مونږ ورته د مرګ د نزول (يا د زماني د حوادثو) انتظار کوو.

[۳۱] (اى پيغمبره! ته ورته) ووايه چې: تاسو خپل انتظار ته ادامه ورکړئ! نو يقيناً زه هم ستاسو سره (ستاسو په هکله) د انتظار ويستونکو د ډلې څخه يم.

[۳۲] ايا کفارو ته په دغې تګلارې سره د دوى عقلونه حکم (او امر) کوي؟ يا دوى سرکشه قوم دى (او د سرکشۍ د کبله يې دغه لاره خپله کړې ده)؟.

[۳۳] ايا عنادي کفار وايي چې محمد (ﷺ قرآن کريم) د خپله خانه جوړ کړى دى؟ (دغسې نه ده) بلکې دوى ايمان نه راوړي (او د دغې خبرې څخه د پلمې په حيث کار اخلي).

[۳۴] (که نه) نو دوى خو دې د دې قرآن کريم په مثل په يوه کلام سره راتګ وکړي که چرته دوى (په خپله ذکره شوې خبره کښې) رښتيا ويونکي وي.

---

(۱) القاموس المحيط ج۱ ص۲۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وروستیو ایتونو د کفارو او د مؤمنانو أخروي حالات بیان شوي وه چې د نبي کریم ﷺ د رسالت دپاره ډېر پاخه دلایل ګڼل کېده، نو څه لرې نه وه چې همدغه براهین د عوامو دپاره د ایمان راوړلو سبب جوړ شوي وي.

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د کفارو غبرګون ته اشاره شوې ده چې په ډول-ډول حیلو سره د عوامو د ایمان راوړلو مخنیوی کوي، او د بله پلوه پکښې نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ته د کفارو عنادیانو په سپکو سپورو خبرو باندې ډېر مه غمژن کېږه او دغه لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسه:

۱ــ کفار غواړي چې په تاباندې د جوګي او لیوني نومونه کېږدي ترڅو ستا د رسالت د براهینو څخه د عوامو پام واړوي او تا د نااُمیدۍ سره مخامخ کړي چې د پند ورکولو څخه ډډه وکړې. نو ته خپل پند ورکولو ته ادامه ورکړه او د کفارو په عنادي القابو سره د پند ورکولو څخه لاس مه اخله. او دا ځکه چې ته د خپل رب ﷻ د فضل او عظیم الشان نعمت په سبب نه جوګی یې او نه لیونی، بلکې په حقه پیغمبر یې، حتی پخپله عنادیان هم په زړه کښې پوهېږي چې ستا کلام نه د جوګي د کلام سره تشابه لري او نه د لیوني د کلام غوندې دی. د همدې کبله دوی د یوه لقب په درکولو باندې اکتفاء نه کوي بلکې کله یو لقب ورکوي او کله بل.

نو که عوام د عقل څخه کار واخلي نو په ذکرو شوو لقب اېښودلو باندې به ونه غولېږي چې د ایمان راوړلو څخه امتناع وکړي.

۲ــ ایا کفار عنادیان تاته د شاعر لقب هم درکوي او د عوامو د تېرویستلو په غرض وایي چې: مونږ د محمد په هکله د زمانې تېرېدلو ته انتظار کوو چې د حوادثو په سبب به د نورو شاعرانو غوندې د منځه لاړ شي او د شاعرۍ دوره به یې ختمه شي (مونږ به ترې بې غمه شو او دعوت به یې نه اورو).

نو ورته په جواب کښې توبیخًا ووایه چې: ای کفارو! تاسو همدغه انتظار ته ادامه ورکړئ او زه هم ستاسو سره ستاسو په هکله د انتظار کوونکو څخه یم، نو په نتیجه کښې به څرګنده شي چې ستاسو انتظار ګټور دی او که زما انتظار؟ ستاسو دین به د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري او که زما دین؟ ستاسو دوره به ختمه شي او که زما؟.

۳ــ ای پیغمبره! تاته د جوګي او لیوني او هم د شاعر لقبونه د کفارو د پلوه د عناد د کبله درکول کېږي که نه نو دغسې متناقض لقبونه ورکول د عقل کار نه دی.

یا په بل عبارت: ایا کفارو ته په دغو لقبونو ورکولو باندې د دوی عقلونه امر کوي او یا دا چې دوی سرکشه قوم دی او ذکره شوې تګلاره د سرکشۍ او طغیان اثر دی؟ پوره واضحه ده چې لومړی شق منفي دی او دوهم شق مثبت دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ د عوام غولونې دپاره د کفارو بله پلمه دا ده چې په قرآن کریم باندې د دروغجن کتاب لقب پړدي چې محمد (ﷺ) د خپله خانه جوړ کړی دی یا په بل عبارت، ایا کفار په رښتیانی توګه د قرآن کریم په حقانیت کښې په شک او اشتباه کښې واقع دي؟

دغسې نه ده، هغوی پکښې واقعًا شک نه لري بلکې د عناد د کبله خپل خانونه شکمن معرفي کوي چې نه وربانديې پخپله ایمان راوړي او نه د خپلې وسې پورې نور خوک پرېږدي چې ایمان ورباندې راوړي. که بالفرض المحال په ذکر شوي لقب کښې دوی رښتیني وی نو د دغه قرآن کریم د کلامونو څخه دې د یوه کلام غونډې کلام جوړ کړي او د همدغه مطلب د تحصیل دپاره دې خپل ټول دوستان او مرستیالان وروغواړي؟.

نو کله چې هغوی د دومره قوي کوښښ سره-سره په ذکر شوي مطلب کښې کامیابي ترلاسه نه کړي نو په کار دي چې په حقانیت یې یقین وکړي او د دروغین کتاب لقب ور ونه تپي. ځکه چې د بنیادمانو ترمنځ خو دومره فاحش تفاوت موجودیت نه لري چې یو کس ټول کتاب جوړ کړي او نور ټول بنیادمان حتی د پرښتو او پیریانو په شمول د متشابه یوه کلام په جوړولو هم توان ونه لري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ کښې د ﴿ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ په هکله لاندې تحلیل په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: د "مَنُون" کلمه د "مَن" ـ لکه "مَد" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پرېکولو معنی ورکوي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴾ [التین: ۶] یعنې نو مؤمنانو صالحانو ته د قیامت په ورځ نه پرېکړې شوی اجر تاکلی شوی دی.

ب: ذکره شوې کلمه په استعمال کښې په لاندې دوه وو معناوو باندې اوړېدل شوې ده[۱]:

اول: یوه معنی یې زمان او دَهر دی، چې په دې تقدیر به د ﴿ رَيْبَ ﴾ کلمه د تغیر او تېرېدلو معنی ورکړي[۲]. یعنې مونږ دې ته منتظر یاستو چې د زمانې په دوران سره به د محمد(ﷺ) د دعوت دوره ختمه شي او مونږ به بې غمه شو.

دوهم: بله معنی یې موت (مرګ) دی، چې پرېکول ورسره لازم دی لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ»[۳] یعنې ای مؤمنانو! تاسو د خوندونو د پرېکوونکي ذکر ډېر کوئ (چې د مرګ څخه عبارت دی).

په دې معنی سره به د ﴿ رَيْبَ ﴾ کلمه د نزول معنی ورکړي. یعنې مونږ منتظر یاستو چې په محمد ﷺ باندې مرګ ورنازل شي او د دعوت سلسله یې ورته ختمه کړي.

---

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۴۱۹؛ لسان العرب ج۱۳ ص۴۱۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۲۱۴
(۳) سنن النسائي ج۱ ص۲۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۲ـ د الله ﷻ په توفيق د قرآن كريم د اعجاز په هكله د [البقرة: ۲۲] او [يونس: ۳۸] ايتونو لاندې مشرح بحث تېر شوى دى، هيله ده چې لوستونكي هلته يو خل مراجعه وكړي

﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾﴾

[۳۵] ايا مشركان بدون د (پيدا كوونكي) شي څخه پيدا كړى شوي دي او يا دوى (پخپله د خپلو خانونو) پيدا كوونكي دي؟

[۳۶] ايا اسمانونه او ځمكې مشركانو پيدا كړى دي؟ (دغسې نه ده) بلكې دوى (عناداً) باور نه خپلوي (چې الله ﷻ واحد او لا شريك دى).

[۳۷] ايا د مشركانو په نزد ستا د رب ﷻ (د رحمت) خزانې شتون لري؟ يا (وربانديې) دوى مسلط دي؟ (او په خپله اراده يې څرخولى شي).

[۳۸] ايا مشركانو لره زينه شتون لري چې پرې (اسمان ته خېژي او هلته پرې) اورېدل كوي؟ (كه داسې وي) نو د مشركانو اورېدونكى دې (په خپلو اورېدلو سره) څرګند دليل راوړي (او خپل اورېدل دې وربانديې اثبات كړي).

[۳۹] (اى مشركانو!) ايا الله ﷻ ته لوڼګانې دي او ستاسو دپاره زامن دي؟ (نو تاسو وربانديې فضيلت لرئ)؟

[۴۰] (اى پيغمبره!) ايا ته د مشركانو څخه (په خپل دعوت بانديې) څه مزدوري غواړې نو دوى د دغه تاوان څخه درانه كړى شوي دي (چې وركول يې وربانديې سخته تماميږي)؟.

[۴۱] ايا د مشركانو په نزد غيبي علم شتون لري نو دوى (د همدغه علم څخه) روزمره ليكنه كوي (او خپلې ارتياوې پرې پوره كوي)؟.

[۴۲] ايا مشركان (تاته) د بد تدبير اراده لري (چې ستا د قتل پلان جوړ كړي)؟ نو كومو كسانو چې كفر غوره كړى دى همدوى (پخپله) بد تدبير كړى شوي دي (چې په خپل ضرر به يې تمام شي).

Scanned by CamScanner

[۴۳] ایا مشرکانو لره د الله ﷻ څخه په غیر بل حقیقي معبود موجود دی؟ (دغسي نه ده بلکې الله ﷻ نه د هغو تولو شرکیاتو څخه پاکي ده کوم چې هغوی یې جوړوي.

[۴۴] او (بالفرض) که کفار د اسمان څخه یوه ټوټه راغورزېدلې وګوري نو (هم باور به پرې ونه کړي او) وبه وایي چې دا منجمده شوې (کرخته) وریځ ده (د اسمان ټوټه نه ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې کفارو ته د توبیخ او تخجیل په توګه د نبوت په ارتباط څو پوښتنې متوجه کړی شوې دي. او په دې ایتونو کښې ورته په همدغه منظور د توحید په اړوند څو پوښتنې متوجه کېږي چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! مشرکان د خپل شرک او کفر د توجیه کولو دپاره هیڅ دلیل په لاس کښې نه لري او بې دلیله په کفري عقیده کلک دي. ایا هغوی د دغو پوښتنو دپاره مثبت جوابونه لري:

۱ـ ایا کفار بدون د پیداکوونکي څخه پخپله پیدا شوي دي، نو د هیڅ پیدا کوونکي عبادت وربانديې واجب نه دی؟.

۲ـ ایا دوی خپل ځانونه پخپله پیدا کړي دي او په پیدایښت کښې د هیچا د احسان لاندې نه دي؟.

۳ـ په دې باندې علاوه ایا دوی اسمانونه او ځمکې پیدا کړي دي، نو مستحق دي چې د همدوی عبادت وکړی شي؟.

د ذکرو شوو درېواړو پوښتنو جوابونه د کفارو په نزد هم منفي دي او مثبت نه دي بلکې هغوی په عنادي توګه د خپلې پوهې سره انکار او جحود ملګری کوي او خپلو کفریاتو ته ادامه ورکوي.

۴ـ ایا د کفارو په نزد ستا د رب ﷻ د رحمت خزانې شتون لري، او دوی کولی شي چې خپلې ارتیاوې پخپله پوره کړي او هم کولی شي چې د نبوت تاج هغه چا ته وروپه سر کړي کوم ته یې چې اراده وشي؟.

۵ـ ایا ستا د رب ﷻ د رحمت په خزانو باندې کفار مسلط دي او د خپلې خوښې په مطابق یې په زور سره څرخولی شي؟

۶ـ ایا کفار د داسې زینې درلودونکي دي چې اسمان ته پرې خېژي او هلته وربانديې غیبي احکام اوري او د همدغسې غیبي احکامو په اورېدلو سره ستا ارشاداتو ته څه ارتیا نه لري؟ که بالفرض المحال داسې وی نو د دوی اورېدونکي او پورته ختونکي دې پرې څرګند دلیل ستا په حضور کښې وړاندې کړي.

۷ـ ای پیغمبره! کفار مخاطب کړه چې: ایا تاسو په الله ﷻ باندې بهتري لرئ چې د عبادت څخه یې دده کوئ او د همدې کبله (په خپل ګومان) الله ﷻ ته لورګانې نسبتوئ او خپلو ځانونو ته زامن خوښوئ؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸_ ایا ته به خپل دعوت سره د کاهنانو غوندي څه مزدوري او اُجرت غواړې؟ تو دغه اُجرت د هغوی اوږی درنی کړي دي او غواړي چي د دعوت په عدم قبول سره خپل ځانونه د دغه تاوان څخه بچ کړي؟

۹_ ایا د کفارو په نزد څه غیبي علم شته چي ستا ارشادات دروغ ګڼي او الله ﷻ ته په عبادت کښي شریکان دروي؟ یا په بل عبارت. ایا کفارو د خپلو فاسدو کړو وړو دپاره روزمره د غیبي علم څخه لیکنه کوي او روزمره یې خپله کرښلار ګرځوي او هم ورته خلک دعوتوي؟

۱۰_ ایا کفار پټ تدبیرونه نیسي او غواړي چي په کومي یوې دسیسي سره تا د منځه یوسي او خپل ځانونه د دعوت د قبول څخه بچ وساتي؟ دغسي نه ده لکه چي دوی خیال کوي، بلکي همدغه دسیسه جوړوونکي کفار به په خپله دسیسه کښي وغورزولی شي او پټ تدبیر به د همدوی په ضرر باندي تمام شي.

۱۱_ ای پیغمبره! ایا د کفارو دپاره د الله ﷻ څخه په غیر بل حقیقي معبود شتون لري چي د هغه په عبادات سره یې د خپل حقیقي رب ﷻ عبادات ته شا کړي ده او ستا دعوت یې د پښو لاندي کړي دي؟ دغسي نه ده، بلکي حقیقت دا دی چي الله ﷻ لره د هغو ټولو فاسدو خیالاتو څخه پاکي ده د کومو چي مشرکان مرتکب شوي دي او یا یې په آینده کښي مرتکب ګرځي.

۱۲_ بالآخره، د مشرکانو عناد بالکل اوج ته رسېدلی دی حتی چي د محسوساتو څخه انکار ته هم چمتو دي. د مثال په ډول که په دوی باندي د خپلي غوښتني سره سم د اسمان څخه یوه ټوټه راولوېږي هم دوی به وربانديې باور ونه کړي او وبه وایي چي دا د اسمان ټوټه نه ده کومه چي مونږ غوښتي وه بلکي دا متجمده وریځ ده چي رالوېدلي ده، مونږ ایمان نه راوړو څکه چي زمونږ غوښتنه نه ده پوره کړی شوې.

## توضیحات

۱_ په دغو ایتونو کښي توبیخًا یوولس پوښتني مطرحي شوي دي او په مشرکانو باندي پکښي هغه ټولي احتمالي دروازې بندي کړی شوي دي په کومو سره چي هغوی خپله شرکي عقیده توجیه کولی شوه او د بهانو انو په ټوکه یې ترې کار اخستی شو.

## مُصَیطِر څه معنی؟

۲_ په ﴿ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴾ کښي د "مُصَیطِرُون" کلمې په هکله لاندي معلومات په ذهن کښي ساتل په کار دي[۱]:

الف: دغه کلمه اسم تصغیر نه ده بلکي اسم فاعل ده او مفرد یې "مُصَیطِر" دی.

ب: اصلي مصدر یې "سَطر" _لکه "قَتل"_ دی چي د کرښو ویستلو معنی ورکوي.

[۱] روح المعاني ج۲۷ ص۳۸؛ لسان العرب ج۴ ص۴۵۶؛ القاموس المحیط ج۲ ص۸۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د "ي" توری پکښې د دې دپاره زیات شوی دی چې د "ذخرج" د ملحقاتو څخه وګڼلی شي.

د: د "ص" توری یې د "س" د توري څخه د دې دپاره بدل کړی شوی دی ترڅو د "ط" توري سره په اطباق کښې انډیوال جوړ شي.

ه: خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ذکره شوې کلمه په "الْغَالِبُونَ وَالْقَاهِرُونَ" سره تفسیره کړې ده[۱]. یعنې ایا د الهي رحمت خزانې د مشرکانو په ملکیت کښې نه دي خو دوی وربانديې زوږور دي او د خپلې ارادې په مطابق یې په زور سره څرخولی شي؟

## د سُلَّم معنی

۳ـ په ﴿ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ﴾ کښې د ﴿ سُلَّمٌ ﴾ کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده په کوم باندې چې سړی لوړو ځایونو ته ختلی شي[۲] چې په پښتو کښې ورته زینه وایي. دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ فِيهِ ﴾ کښې د "فِي" توری د "عَلى" معنی ورکوي[۳].

یعنې ایا د مشرکانو په نزد داسې زینه موجودیت لري چې دوی وربانديې اسمان ته خېژي او مستقیما د پرښتو وحې ترلاسه کوي چې ستا وحې ته څه اړتیا نه لري؟.

## "مَغْرَم" څه صیغه ده؟

۴ـ په ﴿ فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴾ کښې د ﴿ مَّغْرَمٍ ﴾ کلمه د میمي مصدر صیغه ده، او هغه تاوان ته وضعه شوې ده کوم چې بدون د جنایته او بدون د خیانته د چا په غاړه پرېوزي[۴].

یعنې ای پیغمبره! ایا ته د مشرکانو څخه په خپل دعوت باندې (د جوګیانو په څېر) څه مزدوري غواړې چې دوی ته دغه بې موجبه تاوان ګران تمامېږي او پورته کولو ته یې چمتو نه دي؟.

## د ایت شریف مصداق

۵ـ تقریبًا د بعثت په پنځم کال الله ﷻ خپل پیغمبر ته د ﴿ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ﴾ الآية- په نزول سره خبر ورکړ چې یو وخت به مشرکان ستا د قتل دسیسه جوړه کړي خو په نتیجه کښې به هغوی د خپلې دسیسې ښکار شي[۵]. خو څو کاله وروسته (د بعثت په دیارلسم کال) د ایت شریف مصداق تحقق ومونډ، البته کله چې مشرکانو په دار الندوه مقام کښې د نبي کریم ﷺ د قتل پلان جوړ کړ او په نتیجه کښې پخپله پلان جوړوونکي د بدر په غزا کښې ووژل شوه او بس.

همدا قیصه په لږ زیات تفصیل سره د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال: ۳۰] ایت لاندې تېره شوې ده.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۷۵
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۲۹۹
(۳) المحرر والوجیز ج۱۵ ص۲۴۸
(۴) مفردات الرغب ص۳۷۲
(۵) تفسیر البغوي ج۴ ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ایتونو تاثیر

۶_ جبیر بن مطعم _چې په هغه وخت کښې لا د "رضي الله عنه" لایق نه وه گرځېدلی_ وایي چې یو ځل ما د نبي کریم ﷺ څخه واورېده چې د ماښام په لمانځه کښې یې د "الطّور" سورت قرائت کاوه، کله چې د ﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ﴾ څخه نیولې تر ﴿أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ﴾ پورې ورسېده نو «كاد قلبي أن يطير»[1] یعني نژدې وه چې زړه مې والوزي (د ډېر زیات تاثیر لاندې واقع شوم) د همدغه تاثیر نتیجه وه چې نوموړی ؓ وروسته په ایمان مشرف شو[2].

## د "رکم" معنی

۷_ په ﴿سَحَابٌ مَّرْكُومٌ﴾ کښې د ﴿مَّرْكُومٌ﴾ کلمه د "رکم" _لکه "ضرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال: ۳۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "رکم" په یوه شي باندې د بل شي ایښودلو ته وایي. خو په دې مقام کښې ترې منجمده وریځ مطلب ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایت کښې د کفارو هغې غوښتنې ته اشاره شوې ده کومه چې الله ﷻ په بل ایت کښې راحکایت کړې ده چې ﴿فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ [الشعراء: ۱۸۷] یعني کفار وایي چې په مونږ باندې د اسمان څخه ټوټې را وغورزوه که ته په خپل دعوت کښې د رښتیا ویونکو د ډلې څخه یې.

﴿فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ۝٤٥ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ۝٤٦ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٤٧ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ۝٤٨ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ۝٤٩﴾

[۴۵] نو (ای پیغمبره!) مشرکان (تر هغه وخته پورې) پرېږده ترڅو دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقي شي په کومه کښې به چې دوی هلاک کړی شي.

[۴۶] (البته) هغه ورځ چې د دوی څخه به (په کښې) د دوی پټ تدبیر (چل) د هیڅ شي مخه ونه نیسي (که بالفرض چل وکړي) او نه به (په کښې) دوی داسې وي چې نصرت ورسره وکړی شي.

[۴۷] او یقینًا د هغو کسانو دپاره چې ظلم (او کفر) یې غوره کړی دی د دغه (ذکر شوي عذاب) څخه په غیر بل (دنیاوي) عذاب هم شته مگر اکثریت یې نه پوهېږي.

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۰؛ سنن ابن ماجه ص۶۰
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۸] (ای پیغمبره!) د خپل رب ﷻ حکم (ارشاد) ته صبرناک (ثابت قدم) اوسه ځکه چې یقیناً ته زمونږ د حفاظتونو (حراستونو) سره یې، او د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبیح هم ضمیمه کوه (البته په کوم وخت کښې چې ته پورته کېږې (هر کار او هر شي ته چې وې).

[۴۹] او د شپې د څه برخې څخه هم، نو د خپل رب ﷻ (حمد او) تسبیح وایه او په هغه وخت کښې هم چې کله ستوري رڼا ته شا کړي (او د ډوبېدلو پلو ته مخه کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د مشرکانو د عناد او سرتنبګۍ د بیان څخه وروسته په دې ایتونو کښې د ارشاداتو مخ نبي کریم ﷺ ته وراړولی شوی دی او ډاډینه (تسلي) ورکړه شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس نو د خپل ځان په هکله لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسه:

۱_ تا خپله ابلاغي دنده ترسره کړه، نو کفار پرېږده ترڅو د هغې ورځې سره ملاقي شي په کومه کښې به چې د دوی ارواګانې قبض کړی شي، په دغې ورځ کښې به ورته پخپله ستا حقانیت څرګند شي او په خپله خطا باندې به پخپله پوه شي.

په دغې ورځ کښې به کفارو ته خپل بد تدابیر او چلونه هیڅ ګټه ونه شي رسولی او نه به پکښې ورسره نصرت وکړی شي چې بل څوک ترې د عذاب او مصیبت مخ بلې خوا ته واړوي.

۲_ په دې باندې علاوه، د هغو کسانو دپاره د ذکر شوي دنیاوي عذاب څخه په غیر بل عذاب هم د الله ﷻ په نزد ټاکلی شوی دی کومو چې کفر غوره کړی دی او په خپلو ځانونو باندې یې ډېر لوی ظلم او تېری خپل کړی دی. کفر او شرک ډېر لوی ظلم دی چې دویورباندې اخته دي مګر اکثریت یې نه پوهېږي، چې نه ورته کفر او شرک ظلم برېښي او نه ورته د اُخروي عذاب موجب څرګندېږي.

۳_ ای پیغمبره! ته د خپل رب ﷻ حکم او فرمان ته په صبر او ثبات کښې اوسه او د کفارو هیڅ پروا مه کوه، یقیناً ته زمونږ د حفاظتونو لاندې یې، چې مونږ د کفارو او د هرې دسیسې او هر سوء قصد څخه نیسو. او په دې باندې علاوه ته په فارغ زړه سره په دغو وختونو کښې خپل رب ﷻ یادوه:

الف: هر یو کار ته چې ته پورته کېږې او د هر مجلس څخه چې ولاړېږې نو ته د خپل رب ﷻ تسبیحات او حمد ثناء وایه.

ب: د شپې په څېنو برخو کښې هم د خپل رب ﷻ تسبیحات او د تهجد لمونځونه مه هېروه.

ج: همدارنګه په هغو وختونو کښې هم خپل رب ﷻ په تسبیحاتو او لمانځه سره یادوه په کومو کښې چې ستوري د رڼا خوا ته شاګانې تاوې کړي او د پټېدلو په خوا روان شي، چې دا د سهار وختونه دي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿ ٱلَّذِى فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴾ كښې د ﴿ يُصْعَقُونَ ﴾ كلمه اصلا د "صَعِقَ" ـلكه "ضَرَبَ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الزمر:۶۸] ايت لاندې ليكلي دي چې "صَعِقَ" دوه معناوې درلودلى شي، چې يوه معنى يې بې هوښه كېدل دي او بله معنى يې هلاک (مرګ) دى، خو په دې مقام كښې ترې دواړه معنى مراده ده[1]، نو په دې تقدير ذكره شوې ورځ د قيامت د ورځې څخه عبارت ګرځي چې د مرګ څخه پيل كېږي او ابدي دوزخ ته شموليت لري.

ب: كه څوک وايې چې: ذكره شوې ورځ خو په ﴿ يَوْمَ لَا يُغْنِى عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴾ سره تفسيره شوې ده، حال دا چې د مرګ څخه وروسته خو كفار بد پلان او بد تدبير نه شي جوړولى، نو ايا بهتره نه ده چې د ذكرې شوې ورځې څخه دنياوي بده ورځ مطلب شي چې د دېر دروندوالي د كبله خلک بې هوښه ګرځوي، لكه چې ځينو مفسرينو كرامو اراده كړې ده[2]؟

مونږ وايو چې: د ذكر شوي تفسير معنى دا نه ده چې كفار به هلته د بد تدبير (چل) څخه كار اخلي خو ګټه به ورته نه شي رسولى، بلكې معنى يې دا ده چې كه بالفرض په دغې ورځ كښې كفار كوم بد تدبير (چل) وكړي هم په درد به يې دوا نه شي.

همدې مضمون ته په بل ايت كښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴾ [المرسلات:۳۹] يعنې د قيامت په ورځ به كفار مخاطب كړى شي چې كه بالفرض تاسو كوم بد تدبير (چل) كولى شئ نو زما سره يې په كار واچوئ (او زما د عذابه خپل ځانونه بچ كړئ).

ج: د ذكر شوي تفسير په بنياد په ﴿ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ ﴾ كښې د "عَذَاب" څخه دنياوي عذاب اراده كېږي، لكه د بدر په غزا كښې د كفارو قتل او نور. يعنې او يقينًا ظالمانو (كفارو) ته د ذكر شوي أخروي عذاب څخه په غير د الله ﷻ په نزد بل عذاب هم شتون لري چې د دنياوي عذاب څخه عبارت دى.

د: په همدې مضمون باندې په بل ايت كښې صراحت شوى دى چې: ﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ [السجدة:۲۱] يعنې او هرومرو به مونږ كفارو ته د لوى (أخروي) عذاب څخه په غير وړوكى (دنياوي) عذاب هم وروڅكو شايد چې دوى (حقې لارې ته) رجوع وكړي.

هـ: په ﴿ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ كښې دېته اشاره ده چې د مشركانو (كفارو) اقليت پوهېږي چې دنياوي عذابونه وربانديې د كفر او شرک د كبله ورنازل شوي دي خو د عناد د كبله خپل كفري تګلارې ته بدلون نه وركوي.

اما د هغوى اكثريت نه پوهېږي چې عذابونه وربانديې په څه منظور نازل كړى شوي دي، همدغې

[1] تفسير القاسمي ج١٥ ص٢١٧
[2] تفسير ابي السعود ج٨ ص١٥٢

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلې ته نبي کريم ﷺ په خپل يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيرِ عَقَلَهُ أَهْلُهُ ثُمَّ أَرْسَلُوهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوهُ وَلَمْ يَدْرِ لِمَ أَرْسَلُوهُ»[1] يعنې يقيناً منافق سړی چې دی، کله چې مريض شي او بيا د مرض څخه پرېښودلی شي د داسې اوبښ غوندې ګرځي چې خاوندان يې وتړي او بيا يې خوشې (خلاص) کړي، نو اوبښ نه پوهېږي چې خاوندانو د څه دپاره تړلی وه او نه پوهېږي چې د څه دپاره يې خوشې کړ.

## عَين څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾ کښې د "أَعْيُن" کلمه د "عَيْن" جمعه ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [هود: ۳۷] ايت لاندې ليکلي دي چې د "عَيْن" کلمه په محاوراتو کښې د حفظ او حراست په معنی هم استعمالېږي، په دې مقام کښې ورته علماوو کرامو همدغه معنی خوښه کړې ده[2]، چې جمعيت يې د حفظ او حراست په ډېروالي دلالت کوي.

يعنې اې پيغمبره! ته د خپل رب ﷻ په ارشاداتو باندې ثابت او کلک اوسه او د هيچا څخه مه دارېږه او دا خکه چې ته زمونږ په حفاظتونو او حراستونو کښې يې، مونږ دې د خلکو د هر ډول ناوړه قصدونو څخه بچ ساتو.

همدا مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ [المائدة: ۶۷] يعنې اې پيغمبره! ته خپل دعوت او د احکامو ابلاغ ته ادامه ورکړه او د هيچا څخه مه دارېږه، الله ﷻ دې د خلکو (د أضرارو) څخه ساتي.

## متعدد تفسيرونه

۳ـ دغه جمله: ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴾ علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسيره کړې ده. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته د شپې د خوب څخه پورته کېدل مطلب دی[3]. يعنې اې پيغمبره! په هغه وخت کښې د خپل رب ﷻ د حمد سره تسبيحات ضميمه کوه کله چې ته د شپې د پلوه تهجدو ته پورته کېږې.

ب: دلته د غرمې د خوب څخه پاڅېدل مراد دي[4]. يعنې کله چې ته د غرمې د خوب څخه اوچتېږې ذکر شوی کار کوه.

ج: دلته لمانځه ته پاڅېدل اراده کړی شوي دي[5]. يعنې کله چې ته لمانځه ته پاڅېږې نو تسبيح او تحميد دواړه وايه.

---

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۸۴

(۲) تفسير القرطبي ج۱۷ ص۷۸

(۳) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۱۸

(۴) تفسير الطبري ج۲۷ ص۳۸

(۵) زاد المسير ج۷ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دلته د هر مجلس څخه درېدل مقصود دي[۱] یعني کله چې ته د هر مجلس څخه درېږې نو د خپل رب ﷻ تسبیح او تحمید وایه.

## تبصره

۴ــ مونږ ته داسې برېښي ــ والله ﷻ اعلم ــ چې د علماوو کرامو په حصر مطلب نه وي بلکې یو مثال به یې ښودلی وي او دا څکه چې ذکره شوې جمله په کوم قید سره مقیده نه ده.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې ای پیغمبره! هر کار ته د پورته کېدلو په وخت کښې بلکې په خپلو ټولو وختونو کښې د خپل رب ﷻ د تسبیحاتو سره تحمیدات پیوسته کوه او په هیڅ وخت کښې یې مه هېروه.

همدې مضمون ته د أم المؤمنین عائشې رضي الله عنها په حدیث کښې اشاره شوې ده چې فرمایلي یې دي: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ»[۲] یعني نبي کریم ﷺ وه چې په خپلو ټولو وختونو کښې به یې الله ﷻ یاداوه.

## د مجالسو کفاره

۵ــ د مجالسو د کفارې په هکله ښېنې احادیث روایت شوي دي چې مونږ یې د لاندې مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ»[۳] یعني هرڅوک چې په یوه مجلس کښې کښېني او ګډوډې خبرې یې پکښې ډېرې صورت ونیسي نو وراندې د دې څخه چې د دغه مجلس څخه اوچت شي (ذکره شوې دعاء) ووایي مګر نومړی کس ته به (د الله ﷻ د پلوه) هغه نیمګړتیاوې وبښلی شي کوم چې ترې په خپل دغه مجلس کښې پېښې شوې وي.

ب: نبي کریم ﷺ به د خپل عمر په آخر کښې ذکره شوې دعاء لوستله البته په کوم وخت کښې به یې چې د مجلس څخه د پاڅېدلو اراده وکړه. صحابه وو کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ته اوس (د مجلس په پای کښې) داسې کلام (دعاء) لولې کومه به دې چې پخوا نه لوستله (دا څه وجه ده؟).

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «هَذَا كَفَّارَةُ مَا يَكُونُ فِي الْمَجْلِسِ»[۴] یعني دغه دعاء د هغو تقصیراتو کفاره ده کوم چې په مجلس کښې واقع کېږي او صورت نیسي.

---

[۱] روح المعاني ج۲۷ ص۴۰
[۲] صحیح مسلم ج۱ ص۱۶۲
[۳] جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۱
[۴] مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۱۹۱، سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د سبا دوه رکعته سنت

ځينې په ﴿وَإِدْبَارَ النُّجُومِ﴾ کې د "إدبار" کلمه د مقام په لحاظ د سهار د هغه وخت څخه عبارت ده په کوم کې چې ستوري د څرګېدو په ... په تسبيح کې د امر د رڼا په اثر د سترګو څخه پټيږي په دغه وخت کې د الله ﷻ تسبيحات د سبا د سنتو څخه کنايي دي.

د دې وضاحت دپاره لاندې احاديث وړاندې:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کې فرمايلي دي چې: «إِدْبَارُ النُّجُومِ الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ»[1] يعنې د ستورو په شاکېدلو په وخت کې د تسبيحاتو څخه هغه دوه رکعته لمونځ مراد دی کوم چې د سبا د لمانځه څخه مخکې اداء کيږي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا تَدَعُوا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ وَإِنْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ»[2] يعنې تاسو د سبا دوه رکعته (سنت لمونځ) مه پرېږدئ که څه هم تاسو لره په اسونو باندې سواره دښمنان شړي (تعقيبوي).

ج: عائشه رضي الله عنها وايي چې: «إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ لَمْ يَكُنْ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مُعَاهَدَةً مِنْهُ عَلَى الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ»[3] يعنې نبي کريم ﷺ د نوافلو څخه د حفاظت په حيث په هيڅ نفلي لمونځ باندې دومره کلک نه وه څومره چې په هغو دوه رکعتونو باندې کلک وه کوم چې د سبا د لمانځه څخه مخکې اداء کيږي.

د "الطور" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو

اللهم اجعلنا من المسبحين عند القيام ومن الليل وإدبار النجوم

۱۴۲۴/۸/۱۴ هـ ق - ۱۳۸۲/۷/۱۸ هـ ش

---

(۱) جامع الترمذي ج۵ ص۳۹۳

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۰۵

(۳) سنن ابي داؤد ج۱ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

# النجم (٥٣)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت په خپلې لومړۍ کلمې "النّجم" سره نومولی شوی او د نورو سورتونو څخه پرې جدا شوی دی، او دا پکښې مطلب نه دی چې ټول محتویات به یې په همدغې کلمې (النّجم) پورې ځانګړي وي.

۲_ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳_ د دې سورت د ایتونو تعداد دوه شپېتو (۶۲) ته رسېږي[۲].

۴_ د دې سورت د کلماتو شمېره درې سوه او شپېتو (۳۶۰) ته پورته شوې ده[۳].

۵_ د دې سورت د حروفو شمېره څلور سوه او څلورو (۴۰۴) ته اوچتېږي[۴].

۶_ دا اولنی سورت دی چې نبي کریم ﷺ په علني توګه په حرم شریف کښې په هغې لویه اجتماع باندې قرائت کړ کومه چې په مومنانو او مشرکانو باندې مشتمله وه، چې ټولو ورته غوږ ایښی وه[۵].

۷_ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدې په محور باندې څرخېږي خو زیات زور پکښې په نبوت، توحید او د قیامت په قیام باندې اچولی شوی دی.

۸_ دا سورت (النّجم) او وړاندېنی سورت (الطّور) دواړه مکي سورتونه دي او په محتویاتو کښې تشابه لري خو صرف په أسلوب کښې یو د بل څخه جدا دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ (١) مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ (٢) وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ (٣) إِنْ
هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ (٤) عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ (٥) ذُو مِرَّةٍ فَٱسْتَوَىٰ (٦) وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ
ٱلْأَعْلَىٰ (٧) ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ (٨) فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ (٩) فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ
أَوْحَىٰ (١٠) مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ (١١) أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ (١٢) وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً
أُخْرَىٰ (١٣) عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ (١٤) عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ (١٥) إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا
يَغْشَىٰ (١٦) مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ (١٧) لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ (١٨) ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۵۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۳ ص۱۵۴
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۱۵۲
(۴) تفسير الخازن ج۶ ص۹۸
(۵) تفسير القرطبي ج۱۷ ص۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱] په ستورو باندې سوګند دی (البته) کله چې راوځېږي (او یا ولوېږي).

[۲] چې (ای مشرکانو!) ستاسو ملګری (محمد ﷺ) نه سهواً بې لارې شوی دی او نه یې په قصدي توګه (سمه) لاره غلطه کړې ده (بلکې په حقه او سمه لاره باندې روان دی).

[۳] او (همدارنګه) ستاسو ملګری (په قرآن کریم سره) د خپلې نفسي غوښتنې د کبله نُطق نه کوي (لکه چې تاسو ورپورې تهمت تړئ).

[۴] دا (قرآن کریم) نه دی مګر (د الله ﷻ د پلوه) وحې ده چې په دوامداره توګه ورته وحې کېږي.

[۵] ستاسو ملګري ته دا (قرآن کریم د الله ﷻ په امر) د سختو (کلکو) قوتونو درلودونکې پرښتې (جبرائیل ﷺ) ښودلی دی (چې عقل او حواس یې په ډېره لوړه درجه کښې دي).

[۶] (البته همدغه پرښته) د جسماني قوت خاونده هم ده، نو (ای مشرکانو!) ستاسو ملګري نوموړې پرښته (په لومړي ځل په خپله اصلي څېره کښې) ولیده (چې په کرسۍ باندې ناسته وه).

[۷] دغې پرښتې (د کېناستلو په وخت کښې) په اوچت اُفق کښې موجودیت درلود.

[۸] نو بیا (په خپله فرعي څېره کښې نبي کریم ﷺ ته) ورنژدې شوه، نو ورښکته شوه.

[۹] نو (پیغمبر ﷺ ته) د دوه وو لیندو په اندازه (ورنژدې شوه) بلکې لا د دې څخه ډېره نژدې.

[۱۰] نو د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ) ته یې (په دغه وخت کښې) هغه شی وحې کړ کوم یې چې ورته وحې کړ.

[۱۱] (نو) د پیغمبر ﷺ زړه هغه شی دروغ ونه ګاڼه کوم یې چې لیدلي وه (بلکې په پوره باور سره یې تصدیق کړ چې دا همغه پرښته ده کومه چې ما اول ځل لیدلې وه).

[۱۲] ایا نو (ای مشرکانو!) تاسو د پیغمبر ﷺ سره په هغه شي باندې جګړې کوئ کوم یې چې د سر په سترګو لیدلی دی (چې د جبرائیل ﷺ څخه عبارت دی).

[۱۳] حال دا چې یو ځل بیا یې همدغه پرښته (د سر په سترګو) ولیده.

[۱۴] (البته دا ځل یې په اسمانونو کښې) د سدرة المنتهی په نزد (په خپله اصلي څېره کښې ولیده).

[۱۵] چې د سدرة المنتهی په نزد جنة الماوی هم موقعیت لري.

[۱۶] هغه وخت (یې ولیده) چې سدرة المنتهی هغه (عجیبه مخلوق) پټه کړه کومه یې چې پټه کړه.

[۱۷] چې د پیغمبر ﷺ سترګې (د پرښتې د لیدلو څخه) نه کږې شوې او نه (ترې وراندې) تېرې شوې (بلکې په ډېر دقت سره یې ورته مستقیماً کتل).

[۱۸] یقیناً چې (په دغه وخت کښې) پیغمبر ﷺ د خپل رب ﷻ د لویو قدرتي نښو څخه زښتې ډېرې نښې ولیدې.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د دې سورت د لومړنیو ایتونو او د وړاندېنې سورت (الطُّور) د وروستنیو ایتونو لفظي ارتباط

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو پوره څرګند دی، چې هغه د "النُّجُوم" په کلمه باندې ختم شوی وه کومه چې د "النَّجْم" جمعه ده او دا سورت د "النَّجْم" په کلمې سره پیل کېږي کومه چې د "النُّجُوم" دپاره مفرده ده. او معنوي ارتباط یې دا دی چې د هغه سورت په وروستنیو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته واړینه ورکړه شوې وه چې د هیڅا څخه مه واړېږه ستا سره زمونږ حفاظتونه او حراستونه ملګري دي، او په دې ایتونو کښې د همدغې واډګیرنې یوه مثال ته اشاره شوې ده، کوم چې په شان نزول کښې لږ وړاندې واضحه شوی دی.

۲ـ د دې سورت شان نزول د مشرکانو د هغو دروغجنو لقبونه رد ښودلی شوی دی کوم به چې د هغوی د پلوه په نبي کریم ﷺ باندې ورتپل کېده، چې نوموړی جادوګر او ساحر دی او یا شاعر او جوګی دی او داسې نور[1] لکه چې په سریزه کښې ورته اشاره شوې ده، دغه سورت نبي کریم ﷺ په یوه غونډه اجتماع باندې قرائت کړ چې د مشرکانو په غوږونو باندې مشتمله وه مګر هیڅا جرئت ونه کړی شو چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته څه ضرر ورسوي او یا یې د قرائت مخه بنده کړي.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ په ﴿ وَٱلنَّجْمِ ﴾ کښې د "النَّجْم" کلمه څینو علماوو کرامو په خاص ستوري سره تفسیره کړې ده لکه "ثُرَیَّا" ستوری، یا "زُهَرَة" او یا هغه ستوري په کوم باندې شیطان ویشتلی کېږي، او څینو نورو علماوو کرامو ترې د قرآن کریم د نزول وختونه مراد کړي دي کومو چې په درویشتو کلونو کښې اختتام موندلی وه[2].

مګر ظاهره دا ده چې ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې د ستورو معنی ورکړي لکه چې وړاندې د ارتباط په وجه کښې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ دا د یو پلوه، او د بله پلوه باید دغه کلمه دلته اسم جنس وګڼلی شي[3]، ترڅو د اسمان ټولو ستورو ته شمولیت ولري.

۲ـ په ﴿ إِذَا هَوَىٰ ﴾ کښې د ﴿ هَوَىٰ ﴾ کلمه د اشتقاق په لحاظ دوه احتماله درلودلی شي[4]، یو دا چې د "هُوِیًا" څخه د "هـ" په پېښ سره اشتقاقه وګڼله شي چې د پورته کېدلو او طلوع (ختلو) معنی ورکوي بل دا چې مشتق منه یې "هَوِیًا" وګڼو چې د "هـ" توری یې زور لري او د غروب او سقوط دپاره وضعه شوی دی.

خو بهتره دا ده چې دغه کلمه د بدلیت په لحاظ د ذکرو شوو دواړو مصدرونو څخه مشتقه وبلله شي ترڅو د ټولو ستورو غروب او طلوع دواړو ته شامله شي.

۳ـ په ﴿ صَاحِبُكُمْ ﴾ کښې د "صَاحِب" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف ۱۸۴] ایت لاندې ښه پوره څېړلې شوې ده چې ای مشرکانو! نبي کریم ﷺ خو تاسو سره د ښار په استوګنه کښې ملګری

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۹
(۲) زاد المسیر ج۷ ص۲۲۶، أضواء البیان ج۷ ص۷۰۰
(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۵۴
(۴) القاموس المحیط ج۴ ص۵۴۸، روح المعاني ج۲۷ ص۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او انډيوال دی چې ټول عادات او خويونه يې درته ښه پوره څرګند دي، ايا تاسو مناسبه ګڼئ چې د ساحر، کاهن او نور دروغين لقبونه وربانديې وتپئ؟

۴_ په ﴿ مَا ضَلَّ ﴾ الآية- کښې د ﴿ ضَلَّ ﴾ کلمه د "ضَلال" څخه اشتقاقه شوې ده چې د لارې غلطولو معنی ورکوي، برابره خبره ده چې په قصدي توګه صورت ونيسي او که په سهوې توګه[1]. او د ﴿ غَوَىٰ ﴾ کلمې پکښې د "غَوَايَة" _لکه "شَرَافَة" _ څخه اشتقاق موندلی دی، "غَوَايَة" د لارې هغو غلطولو دپاره وضعه شوی دی کوم چې د فاسدې عقيدې څخه سرچينه اخستې وي[2].

شايد چې په دې مقام کښې د "ضَلال" څخه په سهوې سره لاره غلطول مطلب وي او د "غَوَايَة" څخه په قصدي توګه د سمې لارې پرېښودل مراد وي.

نو د ذکرو شوو توضيحاتو په ملحوظ به د ايتونو حاصل داسې راوخېژي چې:

ای مشرکانو! الله ﷻ په ستورو باندې سوګند يادوي البته کله چې ډوبېږي او يا راخېژي، چې ستاسو انډيوال محمد ﷺ نه په سهوه لاره غلطه کړې ده او نه په قصدي توګه، لکه چې تاسو ګومان کوئ. بلکې د سمې لارې پرېښودونکي تاسو ياست چې توحيد ته مو شا کړې ده او د بوتانو په عبادت باندې کلک ياست. اما نوموړی د الله ﷻ پيغمبر دی چې په هغې لارې باندې سم روان دی کومه چې ورته د الله ﷻ د پلوه ټاکلې شوې وه.

يا په بل عبارت: لکه چې ستوری په غروب او طلوع کښې خپلې لارې نه پرېږدي همدارنګه ستاسو انډيوال هم د سمې لارې پرېښودونکی نه دی.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴾ کښې د "هُوَ" ضمير هغه نُطق ته راجع دی په کوم باندې چې په وړاندېنۍ جمله کښې د ﴿ يَنطِقُ ﴾ کلمه دلالت کوي، حال دا چې نبي کريم ﷺ په خينو خايونو کښې په اجتهاد سره هم حکم او نُطق کړی دی، لکه چې د بدر د اسيرانو په هکله يې په فديو اخستلو باندې اجتهادي حکم کړی وه چې پوره بيان يې د [الأنفال:٦٧] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ؟

مونږ وايو چې د ذکر شوي سوال دپاره لاندې جوابونه صورت نيولی شي:

الف: دغه حصر اضافي دی او د مشرکانو هغه اتهام پکښې رد شوی دی کوم ته چې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه اشاره کړې ده[3] چې: ﴿ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ﴾ [الطور:۳۳] يعنې ايا مشرکان وايي چې محمد ﷺ قران کريم د خپله خانه جوړ کړی دی او الهي کتاب نه دی؟

نو په همدې بنياد په خينې خايونو کښې اجتهادي حکم ورسره څه منافات نه لري.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۰٦
(۲) مفردات الراغب ص ۳۸۰
(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۴٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه د نبي كريم ﷺ اجتهادي حكم به تر هغه وخته پورې شرعي حكم وه او د الله ﷻ د پلوه د وحې په مقام كښې به واقع وه ترڅو به چې د همده ﷻ د پلوه نه وه تبديل شوى[۱].

د همدې كبله نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا خَرَجَ مِنِّي إِلَّا حَقٌّ»[۲] يعنې نو زما دې په هغه اقدس ذات ﷻ باندې سوګند وي د كوم په بلاكيفه لاس كښې چې زما ځان دى، چې زما څخه نه راوځي مګر حق (زه چې څه وايم هغه ټول حق دي).

ب: ذكر شوى د "هُوَ" ضمير قرآن كريم ته راجع دى[۳] په كوم باندې چې مقام دلالت كوي، او نُطق ته راجع نه دى ترڅو اعتراض وارد شي.

په دې تقدير به د ايتونه مضمون داسې راوځېږي چې نبي كريم ﷺ په قرآن كريم سره د خپل خواهش د أمله نُطق نه كوي لكه څنګه چې مشركان خيال كوي او اتهام لګوي، بلكې دا قرآن كريم نه دى مګر وحې ده چې د الله ﷻ د پلوه ورته د استمرار په توګه وحې كېږي.

## څو نكات

۶_ په دې مقام كښې لاندې نكاتو ته توجه په كار ده:

الف: په ﴿ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴾ كښې د ﴿ عَلَّمَهُۥ ﴾ مستتر ضمير جبرائيل عليه السلام ته راجع دى او بارز ضمير يې د نبي كريم ﷺ څخه كنايي دى، او بالآخره مفعول يې مقدر دى چې مونږ ترې په "القرآن" سره تعبير كولى شو.

ب: او د ﴿ ٱلْقُوَىٰ ﴾ كلمه پكښې د "قُوت" جمعه ده، چې ټولو قوتونو ته شامله ده، لكه عقلي قوت، حسي قوت او داسې نور.

ج: په ﴿ ذُو مِرَّةٍ ﴾ كښې د ﴿ مِرَّةٍ ﴾ كلمه د جسمي قوت او محكموالي څخه عبارت ده[۴]، لكه د درنو شيانو د اوچتولو توان، په ډېر سرعت سره مطلوب ته رسېدل او داسې نور.

د: لنډه دا چې مونږ څكه د ﴿ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴾ څخه جبرائيل مراد وګڼو چې:

اول: الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ۝ ذِى قُوَّةٍ ﴾ [التكوير:۱۹، ۲۰] يعنې دا قرآن كريم د باكرامته لېږلي شوي او د قوت درلودونكي پرښتې قول دى.

دوهم: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ [البقرة:۹۷] يعنې نو يقينًا دغې پرښتې (جبرائيل عليه السلام) ستا په زړه باندې د الله ﷻ په إذن قرآن كريم نازل كړى دى.

هـ: كه څه هم د قرآن كريم اصلي ښوونكى الله ﷻ دى لكه چې فرمايي: ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ ۝ عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۲۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۵۸
(۳) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۵۶: تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۲۲
(۴) لسان العرب ج۵ ص۱۶۸: القاموس المحيط ج۴ ص۲۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[الرحمن ۲.۱] یعنې د ډېر مهربان الله ﷻ (خپل پیغمبر ﷺ ته) قرآن کریم ورښودلی دی؛ مګر څرنګه چې جبرائیل علیه السلام په وحې کښې د واسطې حیثیت لري نو د مجاز په توګه ورته په ذکر شوي ایت شریف کښې د تعلیم نسبت شوی دی.

و په ﴿ فَاسْتَوَىٰ ﴾ کښې د "استوی" کلمه د "استواء" څخه اشتقاقه شوې ده چې په چوکۍ باندې د کېناستلو معنی ورکوي، په همدې باندې په یوه حدیث کښې صراحت شوی دی چې "فرفعت بصري قبل السّماء فإذا الملك الّذي جاءني بحراء قاعدٌ على كرسيٍّ بين السّماء والأرض"[۱] یعنې زه روان وم چې غیبي اواز مې واورېد، سترګې مې د اسمان لور ته پورته کړې چې ناڅاپه مې هغه پرېښته په داسې حال کښې ولیده چې د اسمان او ځمکې ترمنځ په هوا کښې په کرسۍ باندې ناسته وه کومه چې ماته د حراء په غار کښې راغلې وه (او په اول ځل وحې یې راته راوړې وه).

ز په ﴿ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ﴾ کښې د "الأفق" کلمه د ځمکې د هغې څنډې څخه عبارت ده د کومې څخه چې لمر اول راخېژي او طلوع کوي او د ﴿ الْأَعْلَىٰ ﴾ کلمه دلته د هغه أفق معنی ورکوي کوم چې د ځمکې د څنډو او غرونو د سرونو څخه اوچت وي خو د اسمان نیمایي ته نه وي رسېدلی، د همدغه أفق څخه په بل ایت کښې داسې تعبیر نازل شوی دی چې ﴿ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴾ [التکویر ۲۳] یعنې او نبي کریم ﷺ بې شکه د اسمان په څرګند أفق کښې جبرائیل علیه السلام ولید.

ح په ﴿ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴾ کښې د "تدلی" کلمه اصلاً د "دلو" څخه اشتقاقه شوې ده[۲]، کومه چې کوهي ته ورښکته کولو دپاره جوړېږي، خو په دې مقام کښې ترې محض ښکته کېدل مطلب دی، یعنې بیا جبرائیل علیه السلام نبي کریم ﷺ ته په فرعي څېره کښې ورنژدې شو نو د أفق څخه ورښکته شو.

ط په ﴿ قَابَ قَوْسَيْنِ ﴾ کښې د ﴿ قَابَ ﴾ کلمه د "مقدار" اندازې معنی ورکوي[۳] او د ﴿ قَوْسَيْنِ ﴾ څخه د یوه قوس دوه څنډې مرادې دي، ان شاء الله ﷻ یا په بل عبارت، لکه څنګه چې یوې لیندۍ ته "قوس" وایي همدارنګه د لیندۍ هرې یوې څنډې ته هم "قوس" ویل کېږي چې یوه څنډه یې بلې څنډې ته ورتاوه شوې وي.

د دغه اطلاق نظیر د "زوج" کلمه ده چې په دوه وو متشابه فردینو باندې یې هم اطلاق کېږي او په هر یوه متشابه فرد باندې یې هم لکه چې څه وضاحت د الله ﷻ په توفیق د [الرعد ۱۴۳] ایت لاندې تېر شوی دی.

ي په ﴿ إِلَىٰ عَبْدِهِ ﴾ کښې د "ه" ضمیر الله ﷻ ته راجع دی، که څه هم دلته د ضمائرو انتشار صورت نیسي مګر مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الزمر ۷۵] ایت لاندې لیکلي دي چې د ضمائرو انتشار په هر ځای کښې د فصاحت سره منافات نه لري، او دا مقام د همدې قبیلې څخه دی چې د

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۹؛ صحیح مسلم ج۱ ص۹۰
(۲) مفردات الراغب ص۱۷۳
(۳) لسان العرب ج۱ ص۶۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غلط مفهوم احتمال پکښې تحقق نه شي موندلی

یا: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو(۱)، په ﴿ مَآ أَوۡحَىٰ ﴾ کښې، د "ما" توری د [الضحی: ۶] او د [الشرح: ۴] ایتونو څخه کنایي اخستی دی، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په عموم سره پرېښودل شي چې د تخصیص دپاره یې کوم خاص دلیل شتون نه لري

یب: د ﴿ وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ﴾ ایت په احادیثو کښې ډېر ښه شرحه شوي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ»(۲) یعني نبي کریم ﷺ جبرائيل ؑ په خپله اصلي څېره کښې لیدلی دی چې شپږ سوه وزرې یې درلودې.

دوهم: عائشه رضي الله عنها په یوه حدیث کښې وايي چې: «وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ»(۳) یعني (نبي کریم ﷺ الله ﷻ نه دی لیدلی) مګر جبرائيل یې لیدلی دی، جبرائيل یې هم په خپله اصلي څېره کښې نه دی لیدلی مګر دوه کرته، یو کرت د سدرةُ المنتهی په نزد او بل کرت (د مکې مربوط) په جیاد نومې ځای کښې، چې شپږ سوه وزرې یې درلودې حال دا چې ټول أفق یې بند کړی وه.

یج: په ﴿ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴾ کښې د ﴿ سِدۡرَةِ ﴾ کلمه د بېرې معنی ورکوي چې په لاندې احادیثو کښې ښه پوره شرحه شوې ده:

اول: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «السِّدْرَةُ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ»(۴) یعني د بېرې ذکره شوې ونه په شپږم اسمان کښې موقعیت لري. شاید چې ښاخونه به یې اوم اسمان ته هم رسېدلي وي لکه چې په یوه روایت کښې ورته اشاره شوې ده

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمايي چې: «ثُمَّ رُفِعَتْ لِي سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى فَإِذَا نَبِقُهَا مِثْلُ قِلَالِ هَجَرٍ وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الْفِيَلَةِ»(۵) یعني بیا زه سدرةُ المنتهی ته پورته کړی شوم چې ناڅاپه میوجات یې د هَجَر (د یو وطن نوم دی) د منګوټیو غوندې وه او پاڼې یې د پیلانو د غوږونو په څېر وې.

دریم: که څه هم ذکرې شوې ونې ته د "سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ" د لقب ورکولو په هکله علماوو کرامو ډېرې وجې لیکلې دي(۶)، مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په همدې ارتباط ویلي دي چې: «إِلَيْهَا يَنْتَهِي عِلْمُ كُلِّ عَالِمٍ مَا وَرَاءَهَا لَا يَعْلَمُهُ إِلَّا اللهُ ﷻ»(۷) یعني دغې ونې ته د هر عالم علم منتهي کېږي چې

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۴۹
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۴۵۹، ۷۲۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۳، صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۰
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۳
(۵) سنن النسائي ج۱ ص۷۷
(۶) روح المعاني ج۲۷ ص۵۰
(۷) الدر المنثور ج۷ ص۶۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې ونې ښخه په هغې خوا (حالاتو باندې) نه پوهېږي مګر الله ﷻ او بس.

يد: په ﴿ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴾ کښې ځينو علماوو کړامو د ﴿ جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴾ ځخه خاص جنت اراده کړې دی کوم چې د شهيدانو د ارواګانو مقر دی، خو بهتره دا ده چې دلته د ﴿ جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴾ متبادره معنی اراده کړی شي کومه چې د ابدي جنت څخه عبارت ده او د مؤمنانو دپاره په قيامت کښې وعده کړی شوی دی.

يه: په ﴿ مَا يَغْشَىٰ ﴾ کښې د "مَا" توری عبد الله بن مسعود ﷺ په «فَرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ»[1] سره تفسير کړی دی. يعني سدرة المنتهی د سرو زرو پتنګانو پټوله.

يو: د ﴿ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴾ مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ﴾ [الإسراء: ۱] يعني الله ﷻ د دې دپاره خپل پيغمبر ﷺ د مسجد حرام ځخه مسجد أقصی ته بوته ترڅو ورته مونږ خپل قدرتي دلايل په سترګو وروليد کړو (نور نو الله ﷻ پوهېږي چې هلته به يې نبي کريم ﷺ ته په کومو کيفياتو سره د قدرت مثالونه ښودلي دي).

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ځينو مفسرينو کرامو په قول د ذکرو شوو ايتونو مضمون دا دی چې نبي کريم ﷺ د جبرائيل ﷺ نه. بلکې د الله ﷻ ديدار کړی دی.

نو پوښتنه دا ده چې تاسو په څه وجه د هغوی د قول مطابق تفسير ونه کړ او ايتونو ته مو يوازې په جبرائيل ﷺ پورې ارتباط ورکړ او بس؟

مونږ په جواب کښې وايو چې

اول: د هغوی قول غير متبادر دی چې بدون د تاويله ترې مطلوب نه څرګندېږي، او په کار دي چې حتی الامکان ايتونه په غير متبادرې معنی سره تفسير نه کړی شي.

دوهم: د ﴿ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ۝ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾ کلمات په واګه دلالت کوي چې نبي کريم په سدرة المنتهی کښې په دوهم ځل هغه څوک ليدلی وه کوم يې چې د مکې معظمې په أفق کښې په لومړي ځل ليدلی وه.

حال دا چې د جبرائيل ﷺ دوه کرته (په خپله اصلي څېره کښې) ليدل په احاديثو سره په اثبات رسېدلی دی. لکه چې وړاندې په شپږمه توضيح کښې ورته اشاره شوې ده.

اما که څه هم په سدرة المنتهی کښې د الله ﷻ په ليدلو باندې يو حديث دلالت کوي[2] مګر د مکې معظمې په أفق کښې يې په ليدلو باندې هيڅ مستند قول او دليل نشته[3].

---

[1] مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۲؛ سنن النسائي ج۱ ص۷۸
[2] صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۰
[3] المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د موضوع تحقیق

۸_ په دې موضوع کښې (چې نبي کریم ﷺ د سر په سترګو خپل رب ﷻ لیدلی وه او که نه؟) علماء کرام په لاندې دوه ډلو ویشلي شوي دي:

الف: یوه ډله _چې په سر کښې یې أم المؤمنین عائشه رضي الله عنها واقع ده_ وایي چې: ذکر شوي کار په دنیا کښې صورت نه دی نیولی او د "النَّجْم" ایتونه په جبرائیل پورې ارتباط لري او بس.

ب: بله ډله _چې په سر کښې یې رئیس المفسرین عبد الله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی_ وایي چې: ذکر شوی کار صورت نیولی دی او نبي کریم ﷺ خپل رب ﷻ د سر په سترګو لیدلی دی.

نو ځینو مفسرینو د "النَّجْم" ایتونه په څه تاویلونو سره د همدغه قول مطابق تفسیر کړي دي[1].

که څوک په نوموړې موضوع کښې ښه پوره څېړنه غواړي نو هیله ده چې ځینو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي چې ښه تحقیق یې پکښې کړی دی او د جانبینو دلایل یې ښه په تفصیل سره لیکلي دي[2]، خو مونږ فقط د لاندې دوه وو ټکو په ذکر سره اکتفاء کوو:

اول: راجح خبره دا ده چې ایتونه باید فقط د عائشې رضي الله عنها په قول تفسیر کړی شي او بس.

دوهم: د رئیس المفسرین ؓ قول هم باید رد نه کړی شي، څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ د الله ﷻ دیدار کړی وي او په قرآن کریم کښې یې ذکر نه وي نازل شوی، بلکې یوازې په آحادیثو کښې ورته اشاره شوې وي.

هو! که د رئیس المفسرین ؓ قول په قلبي لیدلو باندې حمل کړی شي، نو بیا خو اختلاف بالکل د منځه ځي او د دواړو قولونو ترمنځ هیڅ منافات صورت نه نیسي.

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په مرسته یوولسم توک پای ته ورسېد.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۰۱؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۲۴۶؛ تفسیر تبصیر الرحمن ج۲ ص۳۰۲

(۲) شرح النووي علی صحیح مسلم ج۱ ص۹۷؛ تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۲۳۲؛ روح المعاني ج۲۷ ص۵۳؛ الدر المنثور ج۷ ص۶۴۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۴۷

Scanned by CamScanner

# د یوولسم ټوک محتویات



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوالونه او جوابونه ........ ۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۵
تبصره ........ ۱۵
"یَوم التَّنَاد" کومه ورځ ده؟ ........ ۱۵
هېر مو نه شي ........ ۱٦
سوال جواب ........ ۱٦
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۷
مونږ ته داسې برېښي ........ ۱۸
څو نکات ........ ۱۸
د "تَبَاب" معنی ........ ۱۹
سوال جواب ........ ۲۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۴
دوه ډوله تفسیر ........ ۲۴
د قبر عذاب حق دی ........ ۲۵
د قبر یا برزخ عذاب په دوه ډوله دی ........ ۲٦
د خپل بدن سره د روح تعلقات ........ ۲۷
د برزخي عذاب یا خوشالۍ نظایر ........ ۲۸
سوال جواب ........ ۳۴
"أَشْهَاد" څوک دي؟ ........ ۳۵
څو نکات ........ ۳٦
سوال جواب ........ ۳٦
ایا دلته دجال ته اشاره ده؟ ........ ۴۱
"دُعَاء" څه معنی؟ ........ ۴۲
تبصره ........ ۴۲
سوال جواب ........ ۴۳
څو نکات ........ ۴۵
د څو لغاتو معناوې ........ ۵۰
دا اعتراف دی انکار نه دی ........ ۵۰
سوال جواب ........ ۵۱
سوال جواب ........ ۵۵

**حم السجدة (۴۱)**

سریزه ........ ۵۷
"تفصیل" څه معنی؟ ........ ٦۱
څو نکات ........ ٦۲
سوالونه او جوابونه ........ ٦۳
"مَنّ" څه معنی؟ ........ ٦۴
څو مطالب ........ ٦۸
د دنیا لومړی ورځ کومه ورځ ده؟ ........ ٦۹
ځمکه مخکښې پیدا شوې که اسمان؟ ........ ۷۰
تبصره ........ ۷۱
کوچنی مناسبت ........ ۷۱
یو نحوي تحلیل ........ ۷۲
سوالونه او جوابونه ........ ۷۲
"صَاعِقَة" څه معنی؟ ........ ۷۷
سوالونه او جوابونه ........ ۷۷
څه قرآني نظایر ........ ۷۸
د دوه وو لغاتو معناوې ........ ۷۹
د دې زمانې عادیان ........ ۷۹
سوال جواب ........ ۸۰
د اندامونو شهادتونه ........ ۸۴
یو نحوي تحلیل ........ ۸۵
څو نکات ........ ۸٦
د "قَیْض" معنی ........ ۸۹
سوال جواب ........ ۹۰
"القَوْل" څه معنی؟ ........ ۹۰
د قران کریم د حقانیت بل دلیل ........ ۹۱
سوال جواب ........ ۹۱
دوه ډوله تفسیر ........ ۹۲
تبصره ........ ۹۲
"اسْتِقَامَة" څه معنی؟ ........ ۹۳
سوال جواب ........ ۹۴
یادونه ........ ۹۴
هېر مو نه شي ........ ۹۵
یو نحوي تحلیل ........ ۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




په دعوت کښې عمل هم د هر اثر لري ... ۹۸
سوال جواب ... ۱۰۳
"نام" څه معنی؟ ... ۱۰۳
"إلحاد" څه معنی؟ ... ۱۰۴
څو ټکي ... ۱۰۸
یو نحوي تحلیل ... ۱۰۹
څو نکات ... ۱۱۱
سوال جواب ... ۱۱۳
مأثور تفسیر ... ۱۱۵
د "یأس" او "قنوط" معناوې ... ۱۱۶
"عَرِیض" څه معنی؟ ... ۱۱۶
سوال جواب ... ۱۱۷
پوښتنه او د هغې جواب ... ۱۱۹
افاقي او أنفسي دلائل ... ۱۱۹
یو نحوي تحلیل ... ۱۲۰

الشوری (۴۲)

سریزه ... ۱۲۲
څو نکات ... ۱۲۵
سوال جواب ... ۱۲۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۱۲۶
څو نکات ... ۱۳۱
سوال جواب ... ۱۳۲
سوال جواب ... ۱۳۶
په یوه ایت کښې لس جملې ... ۱۳۸
دلته د "المیزان" معنی ... ۱۴۱
سوال جواب ... ۱۴۱
د ایت شریف یو نظیر ... ۱۴۲
دلته د "شُرَكَاء" معنی ... ۱۴۵
زه مزدورې نه غواړم ... ۱۴۵
سوال جواب ... ۱۴۶
څو نکات ... ۱۵۰
څو نکات ... ۱۵۱
سوال جواب ... ۱۵۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۱۵۶
همر مو نه شي ... ۱۵۷
غیر مناسب تفسیرونه ... ۱۵۸
سوال جواب ... ۱۵۸
همر مو نه شي ... ۱۵۹
یو نحوي تحلیل ... ۱۵۹
"غَیظ" او "غَضَب" څه فرق لري؟ ... ۱۶۳
د شورې په هکله ... ۱۶۳
انتقام بهتر دی که عفوه؟ ... ۱۶۵
تبصره ... ۱۶۶
سوال جواب ... ۱۶۶
دلته شرعي مماثلت مطلب دی ... ۱۶۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۱۶۸
څو نکات ... ۱۷۱
سوال جواب ... ۱۷۴
څو نکات ... ۱۷۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۱۷۷
سوال جواب ... ۱۷۸
تبصره ... ۱۷۸

الزخرف (۴۳)

سریزه ... ۱۸۱
تحلیلونه ... ۱۸۴
څو نکات ... ۱۸۴
د مشرکانو حماقتونه ... ۱۸۸
یو تفسیري تحلیل ... ۱۸۸
تبصره ... ۱۸۹
"إقران" څه معنی؟ ... ۱۸۹
د سورېدلو د دعاء په هکله ... ۱۸۹
د "جُزْء" معنی ... ۱۹۴
پنځه حماقتونه ... ۱۹۵
"تَنْشِئَة" څه معنی؟ ... ۱۹۵


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




څو ټکي ..... ۲۰۱
"سیخري" څه معنی؟ ..... ۲۰۱
څو نکات ..... ۲۰۲
د څو لغاتو معناوي ..... ۲۰۷
دلته تغلیب مراد دی ..... ۲۰۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۰۸
تبصره ..... ۲۰۹
یوه عجیبه قیصه ..... ۲۰۹
سوال جواب ..... ۲۱۰
تبصره ..... ۲۱۱
دلته د "اُخت" معنی ..... ۲۱۵
سوال جواب ..... ۲۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۱۵
د فرعونیانو حماقتونه ..... ۲۱۶
د فرعونیانو د حماقت یو نظیر ..... ۲۱۷
د "اَم" د توري معنی ..... ۲۱۷
یو بل اتهام ..... ۲۱۷
"آسف" څه معنی؟ ..... ۲۱۸
د "سَلَف" او "مثل" معناوي ..... ۲۱۸
سوال جواب ..... ۲۲۳
جګړه د ضلالت نښه ده ..... ۲۲۳
د پرښتو د خلافت صورتونه ..... ۲۲۳
تبصره ..... ۲۲۴
سوال جواب ..... ۲۲۴
څو وضاحتونه ..... ۲۲۸
د څو لغاتو معناوي ..... ۲۲۹
سوال جواب ..... ۲۳۰
تبصره ..... ۲۳۱
مالک یعني څوک؟ ..... ۲۳۲
"اِبرام" څه معنی؟ ..... ۲۳۶
"سِر" او "نجوی" څه فرق لري؟ ..... ۲۳۷
متعدد تفسیرونه ..... ۲۳۷
تبصره ..... ۲۳۸
دا استثناء منقطعه ده ..... ۲۳۹
یو اعرابي تحلیل ..... ۲۳۹


## الدخان (۴۴)


سریزه ..... ۲۴۲
څو نکات ..... ۲۴۵
د اعراب یو تحلیل ..... ۲۴۶
یادونه ..... ۲۴۶
د لومړۍ ډلې د تفسیر خلاصه ..... ۲۴۸
د دوهمې ډلې د تفسیر خلاصه ..... ۲۵۰
تبصره ..... ۲۵۲
فرعون بې لرظه وه ..... ۲۵۷
"اِعتِزال" څه معنی؟ ..... ۲۵۷
د "رَهوا" معنی ..... ۲۵۷
دلته بل قوم د چا څخه عبارت دی؟ ..... ۲۵۷
یو اعرابي تحلیل ..... ۲۵۸
ایا اسمان او ځمکه ژاړي؟ ..... ۲۵۸
څو نکات ..... ۲۶۱
تبصره ..... ۲۶۲
"تُبع" څوک وه ..... ۲۶۲
"اَثیم" څه معنی؟ ..... ۲۶۶
د "عُتل" معنی ..... ۲۶۶
یو نحوي تحلیل ..... ۲۶۶
د "حُور" او د "عِین" تحلیلونه ..... ۲۶۶
څو ټکي ..... ۲۶۷


## الجاثیة (۴۵)


سریزه ..... ۲۶۹
"رِزق" څه معنی؟ ..... ۲۷۲
د "اِضرار" معنی ..... ۲۷۵
سوال جواب ..... ۲۷۵
"رِجز" څه معنی؟ ..... ۲۷۵
سوال جواب ..... ۲۷۹


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




څو نکات ........................ ۲۷۹
"حُکم" څه معنی؟ ........................ ۲۸۰
د "مِن" د توري معناوي ........................ ۲۸۱
څو ټکي ........................ ۲۸۳
سوال جواب ........................ ۲۸۴
يو نحوي تحليل ........................ ۲۸۴
نفساني غوښتنې او معبوديت ........................ ۲۸۴
څو ټکي ........................ ۲۸۷
د دهريانو د عقيدې ابطال ........................ ۲۸۸
سوال جواب ........................ ۲۸۸
څو ټکي ........................ ۲۹۲
جنت د الله ﷻ رحمت دی ........................ ۲۹۳
ماثور تفسير ........................ ۲۹۳

**الأحقاف (٤٦)**

سريزه ........................ ۲۹۶
څو نکات ........................ ۲۹۹
يادونه ........................ ۳۰۰
څو ټکي ........................ ۳۰۳
سوال جواب ........................ ۳۰۳
څو نکات ........................ ۳۰۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۰۶
څو ټکي ........................ ۳۰۸
څو نکات ........................ ۳۱۴
د حَمل موده ........................ ۳۱۵
د رضاع موده ........................ ۳۱۵
سوالونه او جوابونه ........................ ۳۱۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۱۷
د نبوت عمر ........................ ۳۱۷
تبصره ........................ ۳۱۸
"وَزع" څه معنی؟ ........................ ۳۱۸
د چا تو له کورنۍ صحابه وه؟ ........................ ۳۱۸
يو نحوي تحليل ........................ ۳۱۹
"عَاق" د چا لقب دی؟ ........................ ۳۱۹
څو ټکي ........................ ۳۲۱
"طَيِّبَات" څه معنی؟ ........................ ۳۲۲
سوال جواب ........................ ۳۲۳
څو نکات ........................ ۳۲۷
د "عَارِض" معنی ........................ ۳۲۷
دا څه ډول عذاب دی؟ ........................ ۳۲۸
يو نحوي تحليل ........................ ۳۳۰
يو بل نحوي تحليل ........................ ۳۳۱
سوالونه او جوابونه ........................ ۳۳۴
د "يَعيَ" معنی ........................ ۳۴۹
اولو العزم پيغمبران څوک-څوک دي؟ ........................ ۳۴۰
سوال جواب ........................ ۳۴۱
يو نحوي تحليل ........................ ۳۴۱
د دې ايت خاصيتونه ........................ ۳۴۲

**محمد (٤٧)**

سريزه ........................ ۳۴۴
د "صُدُود" معنی ........................ ۳۴۶
"بَال" څه معنی؟ ........................ ۳۴۶
د "أَمثَال" معنی ........................ ۳۴۷
يو نحوي تحليل ........................ ۳۵۰
د جنګي اسيرانو حکم ........................ ۳۵۰
سوال جواب ........................ ۳۵۳
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۵۴
يو نحوي تحليل ........................ ۳۵۵
د شهيدانو فضائل ........................ ۳۵۵
"تَعس" څه معنی؟ ........................ ۳۵۶
سوال جواب ........................ ۳۵۹
"مولی" څه معنی؟ ........................ ۳۶۰
د خارويو غوندې خوراک او څښاک ........................ ۳۶۱
د نبي کريم ﷺ قريه ........................ ۳۶۱
څو نکات ........................ ۳۶۱
سوال جواب ........................ ۳۶۳


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




ماثور تفسیر ۳۶۳
د "آنِفَ" معنی ۳۶۶
غوره تفسیر ۳۶۶
ښو نکات ۳۶۷
سوالونه او جوابونه ۳۶۸
"أولی" څه معنی؟ ۳۷۳
یو نحوي تحلیل ۳۷۴
هیر مو نه شي ۳۷۴
"قُفل" څه معنی؟ ۳۷۶
د څو لغاتو معناوې ۳۷۸
سوال جواب ۳۷۹
"أضغان" څه معنی؟ ۳۷۹
ښو نکات ۳۸۰
"بُطلان" څه معنی؟ ۳۸۵
تبصره ۳۸۶
سوال جواب ۳۸۶
"وَهن" څه معنی؟ ۳۸۷
د کفارو سره صلحه ۳۸۸
د "وِتر" معنی ۳۸۹
سوال جواب ۳۸۹
یو نحوي تحلیل ۳۹۰
یادونه ۳۹۱
سوال جواب ۳۹۱

**الفتح (۴۸)**

سریزه ۳۹۳
یوه مقدمه ۳۹۴
سوال جواب ۳۹۷
تبصره ۳۹۷
سوال جواب ۳۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۳۹۹
د سکینې نزول ۴۰۲
سوال جواب ۴۰۳
ښو پوښتنې او د هغو جوابونه ۴۰۳
ښو نکات ۴۰۶
"بَیعَة" څه معنی؟ ۴۰۶
د "بائِر" کلمې معنی ۴۱۲
سوالونه او جوابونه ۴۱۲
سوال جواب ۴۱۵
تبصره ۴۱۵
سوال جواب ۴۱۶
"حَرَج" څه معنی؟ ۴۱۶
ښو تکي ۴۲۰
هیر مو نه شي ۴۲۱
سوال جواب ۴۲۲
د "بَطن" د کلمې معنی ۴۲۳
ښو نکات ۴۲۶
"خَفِیَّة" څه معنی؟ ۴۲۸
سوال جواب ۴۲۹
سوال جواب ۴۳۱
د قصر څخه حلق بهتر دی ۴۳۱
هیر مو نه شي ۴۳۲
د صحابه کرامو ﷺ اختصاصي صفات ۴۳۴
د عالي صفاتو وضاحتونه ۴۳۵
"سِیمَا" څه ته وایي؟ ۴۳۵
تبصره ۴۳۶
یو نحوي تحلیل ۴۳۷
هیر مو نه شي ۴۳۷
دوه سوالونه او جوابونه ۴۳۸

**الحجرات (۴۹)**

سریزه ۴۴۰
ښو نکات ۴۴۲
سوال جواب ۴۴۴
د ایت شریف ښه وضاحت ۴۴۵
یوه مسئله ۴۴۵


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د "إمتحان" د کلمې معنی ...... ۴۴۵
څو نکات ...... ۴۴۶
یادونه ...... ۴۴۸
سوال جواب ...... ۴۵۰
څو ارشادات ...... ۴۵۱
سوال جواب ...... ۴۵۲
څو ټکي ...... ۴۵۴
سوال جواب ...... ۴۵۶
یادونه ...... ۴۵۶
اسلامي ورورولي ...... ۴۵۷
د "سُخْرِيَة" معنی ...... ۴۶۰
"قَوْم" څه معنی؟ ...... ۴۶۱
د "لمز" معنی ...... ۴۶۱
"نَبْز" څه معنی؟ ...... ۴۶۲
په یاد ولرئ ...... ۴۶۳
هېر مو نه شي ...... ۴۶۴
د گومان دولونه ...... ۴۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۶۵
د "تَجَسُّس" د کلمې معنی ...... ۴۶۵
ایا "غیبت" پېژنئ؟ ...... ۴۶۶
د غیبت دولونه ...... ۴۶۶
د غیبت تحریم د احادیثو په رڼا کښې ...... ۴۶۷
د مړي غیبت ...... ۴۶۷
د غیبت د گناه چاره ...... ۴۶۸
سوال جواب ...... ۴۶۹
د غیبت د جواز صورتونه ...... ۴۶۹
د "شُعوب" او "قبائل" معنی ...... ۴۷۱
"تَعارُف" څه معنی؟ ...... ۴۷۲
څو نکات ...... ۴۷۲
د "نسب" په ارتباط د احادیثو مجموعه ...... ۴۷۴
د "أعْراب" معنی ...... ۴۷۷
د "ایمان" او "اسلام" کلمې ...... ۴۷۸
تبصره ...... ۴۸۰
د دې مقام وضاحت ...... ۴۸۰
سوال جواب ...... ۴۸۰
"وَلَت" څه معنی؟ ...... ۴۸۱
سوالونه او جوابونه ...... ۴۸۱


## ق (۵۰)


سریزه ...... ۴۸۳
سوال جواب ...... ۴۸۵
"مَرَج" څه معنی؟ ...... ۴۸۶
د "فُرُوج" معنی ...... ۴۸۸
"بَهْجَة" څه معنی؟ ...... ۴۸۸
سوال جواب ...... ۴۸۹
د دریو لغاتو معناوې ...... ۴۸۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۸۹
سوال جواب ...... ۴۹۱
"عَيّ" څه معنی؟ ...... ۴۹۱
څو ټکي ...... ۴۹۳
یو نحوي تحلیل ...... ۴۹۴
څو نکات ...... ۴۹۵
مرگ سختې لري ...... ۴۹۵
"حَيْد" څه معنی؟ ...... ۴۹۶
دوه پرښتې (سائق او شهید) ...... ۴۹۶
مأثور تفسیر ...... ۴۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۹۹
پنځه لمونځونه او پنځوس ثوابونه ...... ۴۹۹
جهنم به څه وایي؟ ...... ۴۹۹
د جنتیانو اشتهاء او مزید نعمت ...... ۵۰۱
د "نَقْب" معنی ...... ۵۰۳
"لُغُوب" څه معنی؟ ...... ۵۰۳
"اَدْبَارَ السُّجُود" څه معنی؟ ...... ۵۰۶
یو اعرابي تحلیل ...... ۵۰۶
لومړی ژوندی کېدونکی څوک دی؟ ...... ۵۰۷
د "جَبّار" معنی ...... ۵۰۷


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## الذاريات (۵۱)


سریزه ........ ۵۰۹
څو مطالب ........ ۵۱۰
سوال جواب ........ ۵۱۲
یادونه ........ ۵۱۲
"حُبُك" څه معنی؟ ........ ۵۱۲
یو نحوي تحلیل ........ ۵۱۳
د څو لغاتو معناوي ........ ۵۱۴
یو نحوي تحلیل ........ ۵۱۷
محروم څوک دی؟ ........ ۵۱۸
هېر مو نه شي ........ ۵۱۸
دوه نُکتې ........ ۵۱۹
د څو لغاتو معناوي ........ ۵۲۲
د "خَطْب" معنی ........ ۵۲۴
سوال جواب ........ ۵۲۴
د څو کلماتو معنی پخوا تېره شوې ده ........ ۵۲۸
د دغه باد ماثور کیفیت ........ ۵۲۹
هېر مو نه شي ........ ۵۲۹
یو نحوي تحلیل ........ ۵۲۹
څو ټکي ........ ۵۳۱
د "زَوْجَيْن" د کلمې معنی ........ ۵۳۲
څو نکات ........ ۵۳۵
سوالونه او جوابونه ........ ۵۳۶
"رِزْق" او "اِطْعَام" څه فرق لري؟ ........ ۵۳۷
د ایت شریف ارشادات ........ ۵۳۸
د "ذَنُوب" معنی ........ ۵۳۹


## الطور (۵۲)


سریزه ........ ۵۴۱
د څو لغاتو معناوي او څو نکات ........ ۵۴۲
"مَوْر" څه معنی؟ ........ ۵۴۵
د "دَعّ" معنی ........ ۵۴۵
یوه عجیبه قیصه ........ ۵۴۵
د "فَكَاهَة" معنی ........ ۵۴۹
"هَنِيئ" څه معنی؟ ........ ۵۴۹
څو نکات ........ ۵۴۹
"تَنَازُع" څه معنی؟ ........ ۵۵۱
جنتي خادمان او نصوص ........ ۵۵۱
د "یر" د کلمې معنی ........ ۵۵۲
د "رَيْبَ الْمَنُون" تحلیل ........ ۵۵۴
"مُصَيْطِر" څه معنی؟ ........ ۵۵۷
د "سُلَّم" معنی ........ ۵۵۸
"مَغْرَم" څه معنی؟ ........ ۵۵۸
د ایت شریف مصداق ........ ۵۵۸
د ایتونو تاثیر ........ ۵۵۹
د "رَكْم" معنی ........ ۵۵۹
څو ټکي ........ ۵۶۰
"عَيْن" څه معنی؟ ........ ۵۶۲
متعدد تفسیرونه ........ ۵۶۲
تبصره ........ ۵۶۳
د مجالسو کفاره ........ ۵۶۳
د سبا دوه رکعته سنت ........ ۵۶۴


## النجم (۵۳)


سریزه ........ ۵۶۶
د "النَّجْم" تفسیر ........ ۵۶۸
سوال جواب ........ ۵۶۹
څو نکات ........ ۵۷۰
سوال جواب ........ ۵۷۳
د موضوع تحقیق ........ ۵۷۴


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

Scanned by CamScanner